بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (متفق عليه)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب: ابو زهير سيف الله غفرله

11

مكتبه محمديه

بيرون كوهاټ گيټ مسگر ماركيټ پېښور

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه فى الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشکوٰة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب ← ابو زهير سيف الله غفرله

١١

الحمد لله پدې جلد کښې د (٢٣٨) احاديثو تشريح او توضيع وشوه

مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ منگل مارکيټ پېښور

د تاليف او طباعت حقوق محفوظ دى

د كتاب نوم ———————— الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح
(يو لسم جلد)
افادات ———————— الشيخ ابى محمد امين الله البشاورى حفظه الله ورعاه
جمع وترتيب ———————— از ابوزهير سيف الله غفرله شيخ آباد پشاور۔
سنۀ طباعت ———————— ربيع الاول ٣٠/ ١٤٤٢ هجرى الموافق :
(٢٠/١١/٢٠٢٠ء)
فن ———————— حديث
ناشر مكتبه محمديه گنج پيښور

د ملاويدو پته

١- مكتبه محمديه

بيرون گنج گيټ پهندو روډ منگل ماركيټ پيښور پاكستان
ولى الله :03118828402/ 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابو زهير : 03075924001
٢- ايوب مكتبه واسلامى كيسټ مركز، عقب قصه خوانى پيښور۔
٣- معراج كتب خانه قصه خوانى بازار محله جنگى پيښور۔
٤- نوروز كتب خانه صوابى اډه پاكستان۔
٥- دار الكتاب والسنة، نيو حاجى كيمپ سلطان آباد كراچى : 03002615402
٦- مسلم كتاب پلورنځى، جلال آباد اسحاق زئى ماركيټ۔
٧- مكتبه محمديه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترځنگ دكان نمبر ٢

بسم الرحمن الرحیم
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ أَجْمَعِيْنَ أَمَّا بَعْد

۱- بَابُ النَّظَرِ إِلَى الْمَخْطُوْبَةِ وَبَيَانُ الْعَوْرَاتِ

مخطوبه (جرګه کړے شوے) ښځے ته د کتلو بیان او د عورتونو (متعلق) بیان۔

مخطوبه نه مراد هغه ښځه ده چه هغے ته د نکاح پیغام لیږلے شوے وی، او د عورات نه مراد هغه اندامونه دی چه د هغے د پټولو او د حفاظت حکم شویدے۔

مناسبت : مخکښے د نکاح فضائل وو اُوس د نکاح مسائل بیانیږی۔ او دا خبره بیانوی چه بنده کومه ښځه په نکاح کول غواړی نو هغے ته کتل جائز دی، پردو زنانو ته کتل خو حرام دی لکه سورة النور کښے دی، لیکن په شریعت کښے د هرے قاعدے کلیے نه استثناء موجوده وی تردے چه په ایمان کښے هم (اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ) استثناء موجوده ده، نو پردو زنانو ته کتل حرام دی لیکن په یو څو ځایونو کښے کتل جائز شویدی :

(۱) کله چه ښځه د قاضی په دربار کښے شهادت ورکوی۔ (۲) د بیع شراء په وخت کښے، که ضرورت وی۔ (۳) د هغے د نکاح کولو په وخت۔ بیا د خِطبے په وخت کښے کتل سنت عمل دے او مخطوبه زنانه لره پکار دی چه ځان خاطب ته ښکاره کړی۔

بیا اختلاف دے چه خاطب به ورله کوم ځائے ته ګوری نو دا اختلاف روستو د حدیث په تشریح کښے راځی۔

اَلْعَوْرَاتِ : دا جمع د عورت ده، په لغت کښے شرم او حیاء ته وائی او د عورت په ښکاره کولو کښے هم انسان ته شرم او حیاء ورځی۔

مسئله : د عورت حد او اقسام

بیا عورت په دوه قسمه دے، په مانځه کښے او بهر د مانځه نه، بهر د مانځه نه په دوه قسمه دے : (۱) یو د سړی عورت دے نو دا د نامهٔ نه واخله تر ګوډے پورے او په فخذ (پتون) کښے اختلاف دے روستو راځی۔ (۲) دویم د زنانه عورت دے، نو ددے ټول بدن

عـورت دے سوئ د مخ او ورغوو او دننه طرف د قدمونو نه۔ او د جمهورو علماؤ په نیز د وینځے عورت د سړي په شان دے سوی د شاه او خیټے نه چه دا به خامخا پټوی، باقی که لاسونه یا متے ئے ښکاره شي نو خیر دے ځکه چه دا خادمه وی لهذا ددے په پټولو کښے حرج دے۔ حافظ ابن حزمؒ فرمائی : دا فرق په احادیثو کښے نشته، بلکه ډیرے آزادے ښځے دی چه بدرنګے وی او اشتهاء ورته نۀ کیږی او ډیرے وینځے ښائسته وی هغے ته اشتهاء کیږی، نو ظاهره خبره دا ده چه د وینځے او د آزادے ښځے دواړو یو شان عورت او ستر دے مګر د آزادے په عورت کښے شدت دے او د وینځے په عورت کښے دومره سختی نشته۔ شیخ البانیؒ هم دا رائے غوره کړے او ابوبکر البیهقیؒ هم داسے خبره کړے لکه روستو د فصل ثانی (١٤) حدیث په تشریح کښے به راشی۔

دویم قسم عورت په مانځه کښے دے : (أ) نو د سړي دپاره په مانځه کښے اُوګے پټول هم ضروری دی ځکه چه نبی ﷺ ددے نه منع فرمائیلے چه یو تن مونځ وکړی او د هغۀ په اُوګو باندے د جامے نه څه شے نۀ وی۔ لکه دا حدیث د مشکاة په باب الستر کښے ذکر شوے۔ [لَا يُصَلِّيْ اَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلٰى عَاتِقَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ] [مسلم : ١١٧٩] ۔

(ب) او د زنانه عورت په مانځه کښے ټول بدن دے برابره ده چه څوك ورسره خوا کښے وی او که ځانله په کوټه کښے وی ځکه چه دا ستر د الله تعالیٰ د حق د وجه نه کیږی۔ البته مخ پټول ورله ضروری نۀ دی او باطن القدمین هم پټول لازم نۀ دی۔ او هرچه ظاهر القدمین دی نو د هغے پټول هم ضروری دی (پوندے به پټوی) لکه په باب اللباس کښے دي : چه ام سلمه ؓ د نبی ﷺ نه پوښتنه وکړه چه په کومو جامو کښے مونځ کول جائز دی ؟ هغۀ وفرمایل : [اِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغًا يُغَطِّيْ ظُهُوْرَ قَدَمَيْهَا]۔

کله چه قمیص دومره کامل وی چه ظاهری قدمونه پټوی نو مونځ پکښے جائز دے۔ دا روایت مرفوعاً ضعیف دے ځکه چه په سند کښے ئے عبد الرحمن بن دینار دے او په هغۀ کښے مقال دے، او ابن حجرؒ وائی : صَدُوْقٌ يُخْطِئُ ۔ آه۔ او اکثرو محدثینو ددے موقوف کیدل صحیح ګرځولی دی۔ نو دا قول د ام سلمه ؓ دے، او دا په حکم د مرفوع کښے دے کما قال شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ۔ شرح العمده : رقم (٢٦٥)

لیکن صحیح دا ده چه دا موقوفاً هم ضعیف دے ځکه چه د مرفوع او موقوف روایاتو مدار په ام محمد بن زید بن قنفذ باندے دے او هغه مجهوله ده۔ نو هرکله چه دا روایت

ضعيف شو نو ددے وجه نه علماؤ پدے کښے هم اختلاف کړے :

(۱) جمهور علماء (مالکیہؒ، شافعیہؒ، حنابلہؒ) وائی چه په ښځه باندے په مانځه کښے قدمونه پټول هم واجب دی او دے قول ته شیخ ابن بازؒ مائل شوے۔

او (۲) **قول** دا دے چه قدمونه پټول لازم نۀ دی او دا قول د احنافو دے، او شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ او ابن عثیمین رحمهما الله دے ته مائل دی۔ دے قول والو **دلیل** دا وئیلے دے چه د زنانه غالباً قدمونه په کور کښے ښکاره کیږی او سره ددے نه چه په هیڅ یو حدیث کښے هم ددے د پټولو وجوب نۀ دے ثابت۔ ابن عثیمینؒ په الشرح الممتع (۲/۱۶۱) کښے لیکی : شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ وئیلی دی : آزاده ښځه عورت دے مګر هغه چه د هغے نه په کور کښے ښکاره کیږی چه هغه مخ او لاسونه او قدمونه دی، ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے به زنانو په کورونو کښے قمیصونه اغوستل او د هرے ښځے دوه جامے نۀ وے، دا وجه ده چه کله به د حیض وینه د هغے کپړے ته ورسیده نو هغه به ئے وینځله او مونځ به ئے پکښے کولو۔ نو قدمونه او لاسونه په مانځه کښے عورت نۀ دے۔ ابن عثیمینؒ فرمائی : بناء پدے، پدے مسئله کښے داسے کوم دلیل نشته چه زړۀ پرے اطمینان وکړی نو ددے وجه نه د شیخ الاسلامؒ قول ظاهر دے، آه۔

د جمهورو علماؤ دپاره په تائید کښے عام حدیثونه ذکر شویدی لکه په مرفوع حدیث د ابن مسعود ﷺ کښے دی (روستو راځی) : [اَلْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ] ښځه عورت دے، نو دا په خپل عموم سره دلالت کوی چه د ښځے قدمونه به هم عورت وی مګر هغه چه ذ هغے استثناء راغلی وی۔ اګرکه ددے نه دا جواب هم شوے چه دا حدیث د پردو سړو د لیدو په باره کښے دے لکه د حدیث روستنی الفاظ پرے دلیل دے : [فَاِذَا خَرَجَتْ مِنْ بَيْتِهَا اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ]۔ (کله چه ښځه بهر شی نو شیطان ئے د خلکو په سترګو کښے راپورته کوی)۔

دارنګه که قدمین پټول لازم وے نو د هغے دپاره به خاص دلیل راغلے وے، ځکه چه که داسے په عموماتو استدلال وکړے شی نو بیا خو به په مانځه کښے د زنانه دپاره د مخ ښکاره کول هم صحیح نشی، حال دا چه د مخ د ښکاره کولو استثناء شته۔

البته هغوی په مانځه کښے د زنانه د قدمونو د عورت کیدو دپاره دا حدیث هم وائی چه : [لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ صَلَاةَ حَائِضٍ اِلَّا بِخِمَارٍ] [ابوداود : ٦٤١، ترمذی : ۳۷۷، ابن ماجه : ٦٥٥:

صحيح]- (الله تعالىٰ د بالغې زنانه مونځ نۀ قبلوي مګر په لوپټه (يعني عورت پټولو سره)- ليکن دا هم يو عام حديث دے، د قدمينو د پټولو وجوب ترے نۀ ښکاره کيږي کله چه زنانه يواځے مونځ کوي-

مګر پدے تولو کښے راجحه داده چه ظاهر القدمين عورت دے يو خو ددغه مخکني روايت د ام سلمه رضي الله عنها نه ئے تائيد کيږي (اګرکه سنداً ضعيف دے) او دويم حديث د ابن عمر رضي الله عنه کښے دي : ام سلمه رضي الله عنها وفرمايل : (سړي خو به جامه د ګټو نه نۀ ښکته کوي)

[فَكَيْفَ تَصْنَعُ النِّسَاءُ بِذُيُولِهِنَّ قَالَ : يُرْخِينَ شِبْرًا، فَقَالَتْ : إِذَنْ تَنْكَشِفَ أَقْدَامُهُنَّ، قَالَ : فَيُرْخِينَهُ ذِرَاعًا لَا يَزِدْنَ عَلَيْهِ] [صحيح : الترمذي : ٤٧/٣، رقم : ١٧٣١، النسائي : ٥٣٣٦]

نو زنانه به په ځپلو لمنو څه کوي؟ وے فرمايل : يو لويشت به ئے زوړندے کړي، هغے عرض وکړو : دغه وخت به د دوئ قدمونه ښکاره کيږي ؟ نبي ﷺ وفرمايل : نو يو ګز به ئے اوږدے کړے، پدے باندے به زيادت نۀ کوي)- او د صحابياتو مسلمانانو زنانو دا مشهور عادت وو، لکه د ام سلمه رضي الله عنها بل روايت دے چه هغے عرض وکړو :

[إِنِّي امْرَأَةٌ أُطِيلُ ذَيْلِي وَأَمْشِي فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ؟ قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ] [صحيح أبي داود : ٤٠٧ و٤٠٨] (زما لمنه اوږده وي او زۀ په يو ګنده ځائے راتيريږم؟ نو نبي ﷺ وفرمايل : ددے نه روستو (په پاکه زمکه) باندے چه راتيره شے نو هغه ګندګي پدے سره پاکيږي)-

د بنو عبد الاشهل نه يوے زنانه ووېل : [يَا رَسُولَ اللَّهِ ! إِنَّ لَنَا طَرِيقًا إِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً فَكَيْفَ نَفْعَلُ إِذَا مُطِرْنَا ؟ قَالَ : أَلَيْسَ بَعْدَهَا طَرِيقٌ هِيَ أَطْيَبُ مِنْهَا؟ قَالَتْ : بَلَى : قَالَ : فَهَذِهِ بِهَذِهِ] [صحيح أبي داود : ٤١٠] اے د الله رسوله ! زمونږ مسجد ته يوه ګنده لاره ده نو مونږ به څه کوو کله چه په مونږ باران وشي؟ (زمونږ لمنے خو ګنده کيږي) نبي ﷺ وفرمايل : آيا ددے نه روستو لاره ددے نه پاکه نۀ راځي ؟ هغے ووېل : ولے نۀ ؟ نبي ﷺ وفرمايل : دا (پاکه زمکه) د دغه (ناپاکه زمکے په بدله کښے پاکونکے) ده- [وانظر جلباب المرأة المسلمة للألبانيؒ : ص ٨١]

باقي د زنانه عورت محارمو ته او غير محارمو ته ددے تفصيل په باب الستر کښے ذکر شوے هغے ته رجوع وکړه-

الفصل الأول

خپلې مخطوبې ته کتل مستحب دي

3098 (1) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ : إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ :" **فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو هریره ﷺ فرمائی : یو سړے نبی کریم ﷺ خوا ته راغلو عرض ئے وکړو : زۀ د انصارو نه د یوې ښځې سره نکاح کوم ؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : هغې ته وګوره ځکه چه د انصارو په سترګو ځه عیب شته۔ (مسلمؒ)

تشریح : [رَجُلٌ] ددے سړی نه مراد مغیره بن شعبه ﷺ دے، لکه په روایت د ترمذیؒ وغیره کښې روستو په فصل ثانی کښې راغلی دے۔ [تَزَوَّجْتُ] یعنی زۀ اراده د تزوج (نکاح کولو) لرم۔ لکه په روایت د نسائی کښې دی : [خَطَبَ رَجُلٌ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ] یو سړی د انصارو د یوې ښځې جرګه وکړه۔

[أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا]۔ د نبی ﷺ رهنمایئ مطلب دا وو چه چونکه د بعض انصارو په سترګو کښې ځه خرابی ده، شینوالے یا زیړ والے یا وړوکوالے یا شب کور والے دے، چه بعض طبیعتونه هغه نۀ خوښوی پدے وجه پکار ده چه تۀ خپله مخطوبه وګورے او اطمینان حاصل کړے چه د هغې په سترګو کښې خو ځه نقصان نشته۔

فوائد : (۱) ددے حدیث نه ثابته شوه چه مخطوبې زنانه ته کتل د سړی دپاره جائز دی او رسول الله ﷺ مغیره ﷺ ته د مخطوبې د کتلو حکم د مصلحت او فائدے دپاره وکړو ځکه چه کله دے هغې ته وګوری نو کیدے شی چه د هغې نه هغه ځه وینی چه ددۀ ورسره د نکاح کولو مینه پیدا شی لکه دا په روستو فصل ثانی کښې اول حدیث کښې راغلی دی۔ (ابو العباس القرطبیؒ) (۲) کله چه یو تن نکاح وغیره کوی نو عالِم او خیر خواه انسان ته دِے د هغې تذکره وکړی دے دپاره چه هغه ښائسته مشوره ورکړی۔

(۳) **سوال** : نبی کریم ﷺ د انصارو عیب ولے بیان کړے، آیا دا به غیبت کښې نۀ وی داخل ؟ **جواب** : غیبت په دوه قسمه دے، یو دا چه د یو تن سپکوالے پکښې غرض وی نو دا ناجائز دے۔ او دویم دا چه کله چه چا نه مشوره طلب کړے شی نو هغۀ له د خیر خواهئ په بنیاد جائز دی چه د یو شی عیب او نقصان بیان کړی او دا په غیبت کښې نۀ

داخلیږی۔ لکه روستو به راشی چه فاطمه بنت قیس رضی الله عنها نبی کریم ﷺ خوا ته راغله چه ما باندې دوه کسانو جرګه کړې یو ابوجهم او بل معاویه رضی الله عنه نو زهٔ کوم یو سره نکاح وکړم؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : (یو سره ئې هم مهٔ کوه) : [اَمَّا اَبُوْجَهْمٍ فَضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ وَاَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوْكٌ لَا مَالَ لَهُ] هرچه ابوجهم رضی الله عنه دې، هغه ښځې وهی او معاویه رضی الله عنه داسې فقیر دې چه هیڅ مال ورسره نشته۔ (ستا نفقه به برداشت نکړی) (دا حدیث روستو راځی)

(٤) **سوال** : نبی کریم ﷺ د کوم ځائې نه وپیژنده چه د انصارو په سترګو کښې فرق دې؟۔ **جواب** : نبی کریم ﷺ هم د مدینې وسیدونکې دې هغه ته به خامخا ددې معلومات وو، د کلی زنانه خلك پیژنی۔ یا به ئې چا نه آوریدلی وی، یا به ئې د زنانو قیاس په سړو باندې کړې وی۔ لیکن اصل جواب دا دې چه نبی علیه السلام د ټول امت د سړو او زنانو د پلار په شان دې، هغه مأمون دې، نو دهٔ لره د هغوی لیدنه کتنه جائز ده نو نبی علیه السلام به لیدلی وی لکه دا جواب حافظ ابن حجرؒ په حدیث د جویریه رضی الله عنها کښې ذکر کړې۔

(٥) د شریعت فضیلت او کمال او حسن معلوم شو چه د بندګانو د مصلحتونو او فائدې لحاظ ئې کړې دې دپاره چه دوئ خپیمانه نشی او په فوت شوی شی افسوس ونکړی، ځکه چه څوك د یوې زنانه سره په نکاح کښې جلتی وکړی او هغې ته ونهٔ ګوری او د هغې په شان او حالت کښې اُورد سوچ او فکر ونکړی نو ډیر کرته د هغې سره به ئې زندګی برابره نشی نو د هغې نه به جدا کیږی او پدې سره به دهٔ ته هم تکلیف ملاؤ شی او زنانه ته هم، نو ددې خطرې د تدارك دپاره شارع حکیم د نکاح نه مخکښې د سړی دپاره ښځې ته نظر جائز کړو اګرکه پردئ ښځه وی، ځکه چه پدې کښې معمولی فساد شته لیکن لوی مفسدت دفع کیږی نو دا د شریعت جمال او کمال او حکمت دې۔ (البحر المحیط)

(٦) **د مخطوبې کوم ځائې ته کتل جائز دی ؟** : پدې کښې د اهل علمو اختلاف دې۔ امام نوویؒ فرمائی : (۱) مالك، ابوحنیفهؒ، کوفیینؒ، شافعیؒ، احمدؒ او جمهورؒ علماء فرمائی : څوك چه د یوې ښځې د نکاح اراده لری نو هغې ته نظر کول مستحب دی، او قاضی عیاضؒ د څه علماؤ نه ددې کراهت نقل کړې لیکن هغه خطاء دې او ددې حدیث صریح مخالف دې، او د امت د اجماع هم خلاف دې، چه د ضرورت په وخت کښې لکه بیع، شراء او ګواهئ وخت کښې زنانه ته کتل جائز دی، (۱) بیا فرمائی : د

مخطوبې صرف مخ او ورغوو ته کتل جائز دي، ځکه چه دا دواړه عورت نۀ دي. بلکه دا چه په مخ سره جمال او بد رنګ والے معلومیږي او په لاسونو سره د بدن نرمائش او زیږ والے. بیا فرمائي : دا د شوافعوؒ او اکثروؒ مذهب دے. (دویٔ وائي : دا قانون دے چه مخطوبه اجنبیه زنانه ده او اجنبیه ته کتل حرام دي مګر د ضرورت په وخت، او ضروري شے به د ضرورت په اندازه جائز وي، او ضرورت په مخ او لاس کتلو سره پوره کیږي نو بل ځائے ته به نۀ ګوري). ځکه مَا اُبِیحَ لِلضَّرُورَةِ فَیُقَدَّرُ بِقَدَرِهَا قانون دے.

(۲) او اوزاعيؒ وئیلي دي چه د غوښې ځایونو ته کتل جائز دي. یعني کوم ځائے باندے چه غوښه وي.

(۳) داودؒ وئیلي دي چه ټول بدن ته ئې کتل جائز دي، لیکن دا قول ښکاره خطاء دے، د سنت او د اجماع د اصولو مخالف دے.

بیا ئې وئیلي : زمونږ او د مالكؒ، احمدؒ او جمهوروؒ په نیز په نظر کښې د هغې رضا شرط نۀ دے، بلکه د هغې د غفلت په حالت کښې او بغیر د خبردارئ د هغې نه هغې ته کتل جائز دي. لیکن مالكؒ وئیلي دي چه زۀ ددے په غفلت کښې نظر کتل مکروه ګڼړم ځکه چه یره ده چه د هغې په عورت به ئې نظر واقع شي، او د امام مالكؒ یو بل ضعیف قول دا دے چه هغې ته به نۀ ګوري مګر د هغې په اجازت سره. او دا قول ضعیف دے ځکه چه پدے حدیث کښې ئې مطلقاً اجازت ورکړے، د ښځې اجازت ئې نۀ دے شرط کړے.

بلکه دا چه زنانه اکثر د اجازت په صورت کښې حیاء کوي. بل پدے کښې هغه په دهوکه کښې اچول دي کیدے شي چه د لیدو نه پس ئې خوښه نشي او پریدی نو د زنانه زړۀ به مات شي او تکلیف به ورته ملاؤ شي، او ددے وجه نه زمونږ علماؤ وئیلي دي چه پکار دا ده چه د جرګے نه مخکښې هغې ته نظر وکړي ځکه که چرته هغه پریدی نو هغې ته به تکلیف نۀ رسیږي، اوکه د جرګے نه روستو ګوري نو بیا به هغې ته تکلیف رسیږي. انتهیٰ.

لیکن حقه دا ده چه مطلقاً نظر جائز دے نو د مخ او لاسونو قید لګول د حدیث د ظاهر مخالف دي، او دا قول د داودؒ او ابن حزمؒ او محققینو علماؤ دے، او دا د امام احمدؒ نه یو روایت دے. حافظ ابن قیمؒ په ((تهذیب السنن)) کښې فرمائي : داودؒ وئیلي دي چه ټول بدن ته کتل جائز دي، او د امام احمدؒ نه درے روایات دي : (أ) د هغې مخ او لاسونو ته به

ګورې. (ب) کوم ځائې چه عادةً ښکاره کیږی هغې ته به ګورې لکه څټ او پنډئ وغیره. (ج) ټول بدن ته ورله کتل جائز دی، عورت وی او که بل ځائې. ځکه چه د احمدؒ نه ښکاره روایت شوې چه ښځې ته په بربنډه کتل جائز دی. [تهذیب السنن٣/٢٥، البحر المحیط الثجاج : ٢٥/٢٦٣]. او دا قول شیخ البانیؒ په صحیحه کښې غوره کړې.

دلائل : ١- ابن حزمؒ په ((محلی)) کښې ذکر کړی چه د ابن عمر ﷺ نه صحیح ثابت دی چه د هغې پنډئ، خیټې او شا ته کتل جائز دی، او د هغې په کُناتو او سینې باندې لاس کیخودلې شی، او داسې قول علی ﷺ ته منسوب دې لیکن د هغهٔ نه صحیح سند سره نهٔ دې ثابت. او د ابو موسی اشعری ﷺ نه صحیح ثابت دی چه مخطوبې ته د نامهٔ نه پورته او د زنګنونو نه خکته نظر جائز دې. انتهی [المحلی : ١٠/٣٠-٣١ رقم المسألة : ١٨٧٣].

(د ابن عمر ﷺ قول اګرکه د وینځې په باره کښې دې لیکن ددې نه حُرې ته د عموم النظر جواز ثابتیږی).

٢- بله دا چه نبی ﷺ دې صحابی ته مطلقاً وویل : (اُنْظُرْ اِلَيْهَا) د نظر دپاره ئې ورته ځائې معین نکړو. داسې ئې ونهٔ وئیل : [فَانْظُرْ اِلٰى وَجْهِهَا] د هغې مخ ته وګوره).

٣- او ددې تائید دا دې چه ددې روایت راوی جابر ﷺ نه په صحیح سند سره ثابت دی چه هغه خپلې مخطوبې ته د کجورو په ستهو کښې پټ شو دې دپاره چه هغې ته د هغې د غفلت په حالت کښې وګوری نو هغې ته ئې وکتل او خوښه ئې شوه او نکاح ئې ورسره وکړه. [السنن الکبری للبیهقی : ٧/٨٤]

٤- حدیث : محمد بن مسلمه ﷺ یوې زنانه (ثُبَيْتَه بنت الضحاك) ته وکتل چه د هغې د نکاح اراده ئې وه نو سهل بن ابی حثمه ﷺ پرې اعتراض وکړو چه : [أَتَفْعَلُ هٰذَا وَأَنْتَ صَاحِبُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ] آیا تهٔ دا کار کوې حال دا چه تهٔ د رسول الله ﷺ صحابی ئې ؟ هغهٔ وفرمایل : [نَعَمْ، اِذَا أَلْقَى اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِیْ قَلْبِ امْرِئٍ خِطْبَةَ امْرَأَةٍ فَلَا بَأْسَ بِالنَّظَرِ اِلَيْهَا] آؤ، هرکله چه الله تعالیٰ د یو تن په زړهٔ کښې د یوې زنانه نکاح واچوی نو هغې ته په نظر کولو کښې هیڅ باك نشته.

[الطحاوی : ٢/٨، مسند احمد : ٤/٢٢٥، سنن سعید بن منصور رقم : ٥١٩]

٥- حدیث : عمر بن خطاب ﷺ د علی بن ابی طالب ﷺ نه د هغهٔ د لور ام کلثوم ﷺ د

نکاح مطالبه وکړه، نو هغهٔ ورته ووېل : زهٔ ئې تا کره درلېږم چه تهٔ ئې وګورې نو هغهٔ ووېل : صحیح ده، نو عمر فاروق ﷺ د هغې د پنډۍ نه کپړه پورته کړه نو هغې ورته ووېل : [لَوْلَا أَنَّكَ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِيْنَ لَلَطَمْتُ عَيْنَيْكَ] [سعید بن منصور : ۱٤۷/۲ رقم : ۵۲۱]

که چرې تهٔ امیر المؤمنین نهٔ وې نو ما به ستا سترګې په څپېړه وهلې وې. (هغهٔ ورته ووېل : زهٔ ستا د نکاح اراده لرم) دې نه دا هم ثابته شوه چه په کتلو کښې د زنانه اجازت ته هم ضرورت نشته.

حاصل دا دې چه د مخ په لیدو کښې خو د اهلِ علمو اتفاق دې چه ددې کتل جائز دي، خو ددې نه علاوه د هغې د نورو اندامونو په لیدلو کښې اختلاف دې. او د **اختلاف** سبب دادې چه په حدیث کښې د هغه اندامونو ذکر نهٔ دې راغلې چه هغې ته خاطب وګوري، البته د دلائلو نه د لیدلو غرض معلوم دې هغه داچه انسان ته د جینۍ د اوصافو په باره کښې اطمینان حاصل شي او ددې په وجه هغې سره په نکاح کولو کښې رغبت وکړي. شیخ ابن عثیمینؒ فرمائي: نبی کریم ﷺ د خاطب نه دا نهٔ غواړي چه هغه دې د دغه جینۍ شرمګاه، خیټې، مُلا او نورو اندامونو ته وګوري، بلکه د نبی ﷺ مطلب داچه د دغه جینۍ هغې اندامونو ته دې وګوري چه کوم غالبًا د هغې د محارمو مخامخ ښکاره کیږي. [شرح بلوغ المرام: ٤/۳۹۷]

شیخ البانیؒ فرمائي : د خاطب د نظر په باره کښې څو مره ډېر احادیث راغلي دي مګر پدې روستنو زمانو کښې ډېرو خلکو پدې باندې عمل پرېخودې دې، دا اجازت نهٔ ورکوي چه خاطب ته خپله جینۍ ورښکاره کړي اګرکه په حدودو کښې وي، او عجیبه ورع لا دا ده چه یو تن به خپلې لورته اجازت ورکوي چه بغیر د شرعي حجاب نه ښکاره سړك ته اُوځي بیا چه کله ئې خاطب په کور کښې لیدل غواړي او په شرعي لباس باندې پټه وي نو ددې نه انکار کوي او دا عیب ګنړي. لیکن بل طرف ته بعض بې غیرته خلك دا هم کوي چه د خپلو لونړو تصویرونه وُباسي او ډېر کرته کافران ئې ورله اُوباسي چه هیڅ شرعي لباس ئې نهٔ وي، بیا د هغوی تصویرونه ځوانانو ته وړاندې کوي پدې ګمان چه دوئ ئې د نکاح اراده لري، بیا خبره بغیر د جرګې نه ختمه شي او دغه هلکانو سره ددې جینکو تصویران پراتهٔ وي چه هغوئ ورته ګوري او د ځوانئ اُور پرې مړ کوي، نو داسې بې غیرته پلاران ډې هلاك شي. انا لله وانا الیه راجعون. انتهی.

دارنګه داسې خلك هم شته چه هغوئ کره څوك د نکاح پیغام ولیږی نو هغوئ ورسره خپله لور خور ښواځې کړی او هغوئ سره اختلاط او ګډون کوی، بلکه ځینې جینکۍ د دغه زلمی سره سفرې هم کوی، که خوښه ئې شی نو بیا ورسره نکاح کوی۔ دا سراسرې غیرتی، بې دینی او د یورپ والو نه متاثر کیدل دی۔ مسلمان له پکار دی چه د افراط او تفریط دواړو نه ځان وساتی او په خپل دین باندې په کلکه عمل وکړی۔

فائده : ددې نظر دپاره (آ) شرط دادې چه هلك به د دغه جینئ سره د نکاح پوخ عزم کړې وی۔ که د نکاح اراده ئې نهٔ وی بلکه هسې جینکۍ کتل غواړی نو دا کار درست نهٔ دې۔ (ب) دا نظر به د ضرورت په اندازه وی، لکه د سهل بن سعد ﷺ په راتلونکی حدیث کښې راغلی : ((رسول الله ﷺ هغې ته ښکته پورته وکتل، بیا ئې خپل سر ټیټ کړو)) (ج) هغې سره به خلوت نهٔ کوی او نهٔ به ورسره مصافحه کوی او نهٔ به ئې بل کوم اندام له ګوتې وروړی، ځکه دا پردئ جینئ ده۔

د پردئ ښځې د جسم حال خپل خاوند ته بیانول حرام دی

3099 (2) – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "لَاتُبَاشِرِ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَتَنْعَتَهَا لِزَوْجِهَا كَأَنَّهُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یوه ښځه دې د بلې ښځې سره نهٔ یو ځائې کیږی چه د هغې صفتونه خپل خاوند ته بیان کړی ګویا کښې خاوند هغې ته ګوری۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [لَا تُبَاشِرُ] دا صیغه د نهی ده۔ لا ناهیه دې، او تباشرُ مجزوم دې، لیکن د روستو المرأة د سکون د وجه نه په زیر سره وئیلې کیږی۔ یا لا نافیه دې په معنیٰ د ناهیه سره دې، او تباشرُ په راء باندې پیش دې۔ دا د مباشرت نه دې، یوه څرمن د بلې څرمنې سره لګیدو ته وائی۔ بیا په معنیٰ د مخالطت (یو ځائې کیدو) او ملاویدو سره استعمالیږی۔ او دلته ترې نظر کول هم مراد دی، [فَتَنْعَتَهَا]۔ دا منصوب دې په اَنْ مقدر سره۔ [أَیْ تَصِفُ نُعُوْمَةَ بَدَنِهَا وَلِيْنَةَ جَسَدِهَا] ۔ چه د هغې د بدن نرمائښ او نازك والې، سپینوالې یا تورواليې، غټ والې یا وروکوالې خپل خاوند ته بیان کړی۔ مطلب د حدیث دا دې چه یوه ښځه دې د بلې ښځې سره داسې نهٔ یو ځائې کیږی او داسې دې ورته نهٔ ګوری

چه د هغې د بدن نرمائش اندازه واخلي او بيا ئې خاوند ته بيانوي چه فلانئ ښځه خو داسې داسې وه ګويا کښې خاوند هغې ته ګوري نو د هغې پورې به ئې زړۀ ونښلي او نفساني هيجان او ګنده خيالات به ئې راپورته شي نو په فتنه کښې به واقع شي- دلته هسې يوځائې کيدل او نظر کول د زنانو منع نۀ دې بلکه ددې خاوند ته بيانول منع دي-

دويم مطلب دا دې چه يوه زنانه دِې د بلې زنانه سره په برېنډه باندې نۀ ښملي او نۀ يوځائې کيږي چه بيا د دغه زنانه حالات خپل خاوند ته بيانوي نو پدې کښې به د دواړو کارونو نه منع کول مقصد وي- روستو حديث کښې نوره تشريح راځي-

[لِزَوْجِهَا] خاوند ئې ذکر کړو ځکه چه ښځه غالباً داسې حال خپل خاوند ته وائي، ورنه تخصيص نشته ځکه که يوه ښځه خپل پلار يا ورور ته د پردئ ښځې د اندامونو صفتونه بيانوي هم صحيح نۀ ده، چه پدې سره هغه په فتنه کښې اخته کيدې شي-

حديث نه معلومه شوه چه په شريعت کښې لکه څنګه چه ګناه کول منع دي نو دغه شان د ګناه او د فتنې ذريعه جوړيدل هم منع دي-

سړو او ښځو ته څو هدايات

3100 (3) – وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" لَا يَنْظُرُ الرَّجُلُ إِلٰى عَوْرَةِ الرَّجُلِ وَلَا الْمَرْأَةُ إِلٰى عَوْرَةِ الْمَرْأَةِ وَلَا يُفْضِي الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ وَلَا تُفْضِي الْمَرْأَةُ إِلَى الْمَرْأَةِ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو سعيد ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : سړې به د سړي عورت ته نۀ ګوري او ښځه به د ښځې عورت ته نۀ ګوري او يو سړې به د بل سړي سره په يوه جامه کښې رسيدل (يو ځائې والې) نۀ کوي او ښځه دِې د ښځې سره په يوه جامه کښې نۀ يو ځائې کيږي- (مسلمٌ)

تشريح : [لَايَنْظُرُ الرَّجُلُ] لا نافيه دې، ځکه چه روستو فعل مرفوع دې، او لا نافيه په فعل کښې عمل نکوي او د نفي نه مراد به نهي وي په طريقه د مبالغې سره، ځکه چه پدې کښې دا دعوه وي چه منهي عنه باندې عمل کړې شوې او داسې ګرځيدلې چه اُوس د هغې نه خبر ورکولې شي په نۀ واقع کيدو- د نهي معنیٰ به داسې وي : نۀ دِې ګوري سړې، او د نفي معنیٰ دا ده چه نۀ ګوري سړې يعني ګويا کښې سړي نۀ دي کتلي، او

سړے چرته داسے کار کوی!!۔ یا لا ناهیه ده او روستو (ینظر) په راء باندے زیر دے۔
[اِلٰی عَوْرَةِ الرَّجُلِ] عورة په اصل کښے خالی ګاه، او غابښونو کښے کنډو ته وائی،
علامه فیومیؒ وائی : هر هغه شے چه انسان ئے د غیرت او حیاء په وجه پټ ساتی نو هغه عورت دے، لهذا زنانه هم عورت دے، ابن الاثیرؒ وائی : هر هغه شے چه د هغے په ښکاره کیدو کښے انسان ته حیاء ورځی۔ او شرمیږی هغه عورت دے۔
دلته ئے د سړو د یوبل عورت ته کتل او دغه شان د زنانو د یوبل عورت ته کتل منع کړل ځکه چه دا ګمان کیدے شو چه د یو جنس خلکو یو بل ته کتل به جائز وی، یعنی که سړے د سړی عورت ته ګوری یا زنانه د زنانه عورت ته ګوری نو دا به جائز وی؟!، نو رسول الله ﷺ دا دواړه منع کړل نو د پردی سړی پردئ زنانه ته او د پردئ زنانه د پردی سړی عورت ته کتل خو به خامخا منع وی۔ دے حدیث نه دا فائده معلومه شوه چه په احادیثو کښے کله تنبیه د ادنیٰ نه په اعلیٰ باندے ورکولے شی۔
[وَلَا یُفْضِیُ]۔ دلته هم لا نافیه ده دا وجه ده چه روستو یاء نهٔ ده حذف شوے ځکه که دا لا ناهیه جازمه وے نو بیا به یاء حذف کیدے۔ یا لا ناهیه ده او سیوطیؒ په ((همع الهوامع)) کښے لیکلی دی چه د عربو په یو لغت کښے د جزم په صورت کښے هم یاء نهٔ حذف کیږی او پدے باندے قراءت د قنبل په (اِنَّهٗ مَنْ یَّتَّقِیْ وَیَصْبِرْ) کښے راغلے دے په یاء سره۔ (البحر المحیط الثجاج) یُفْضِیُ د اِفْضاء نه دے، رسیدلو ته وائی۔
[فِیْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ] ددے دوه صورتونه دی : (۱) یو دا چه دواړه په یوه بستره کښے ننوځی او دواړه بربنډ وی او د یوبل نه ئے بدن لګیږی، او دیته سُحاق وئیلے شی او دا د زنانو زنا ده۔ (۲) دویم دا چه دواړه خو بربنډ نهٔ وی البته په یوه بستره کښے دننه پټ وی او مینځ کښے ئے څه حائل نهٔ وی نو دا هم حرام دی۔ **دلائل** : ۱- حدیث کښے دی : [فَرِّقُوْا بَیْنَهُمْ فِی الْمَضَاجِعِ] ماشومان چه کله لسو کالو ته ورسیږی نو خپل مینځ کښے ئے په بسترو کښے جدا کړئ۔ نو پدے حدیث کښے د بربنډوالی خبره نشته۔
۲- عقلی دلیل دا دے چه که دوه کسان په یوه بستره کښے ننوځی نو یو بل ته به تکلیف ورکړی، د خوب حالت کښے به ئے لاس غلط استعمال شی، دارنګه د انسان بدن کښے ګرمائش وی چه د بل بدن سره په یو ځائے کیدو سره حرکت پیدا کیږی۔
[ثَوْبٍ وَاحِدٍ] دے نه معلومه شوه چه که په یوه بستره پراتهٔ وی خو د دواړو برستنے

جدا جدا وي، يا د دواړو عورتونه پټ وي او مينځ کښې ئے حائل وي نو بيا ممانعت نشته۔

فوائد : (۱) دے حديث نه ښکاره شوه چه يو سړی لره د بل سړی عورت ته کتل حرام دی، او د يوے ښځے د بلے ښځے عورت ته کتل حرام دی، او دغه شان د يو پردی سړی پردئ ښځے ته او برعکس نظر کول هم حرام دی په اجماع سره۔ (۲) دا تحريم په نسبت سره پردو سړو ته دے او هرچه ښځه او خاوند دی نو د دواړو يو بل عورت ته کتل په احاديثو کښے ثابت دی۔ چا چه دے ته مکروه وئيلی نو خبره ئے بے دليله ده۔

(۳) دے حديث نه معلوميږی چه پردی عورت له گوتے وروړل هم حرام دی، که د عورت هره حصه وي او دا خبره اتفاقی ده، امام نوویؒ فرمائی : ليکن ډير خلك پدے کښے تساهل کوی۔

(٤) بيا د سړی عورت د سړی دپاره د نامه نه تر زنگنونو پورے دے چه دا به پټ ساتی او د زنانه عورت د محارمو (چا سره چه نکاح حرامه وي) په نسبت سره دا دے چه کوم ځايونه د زينت نهٔ وي لکه خيټه، شا، سينه، پتون، نو ددے ښکاره کول حرام دی، دا هم عورت دے او هر چه لاسونه، خپے، مخ، سر او مرئ او پونډئ دی نو دا عورت نهٔ دے۔ (محارمو ته) ځکه چه دا مواضع الزينة دی، او غير محارمو ته د زنانه ټول بدن عورت دے سوئ د مخ او لاسونو نه کله چه د فتنے نه امن وي، لکه دا تحقيقی قول وو۔ او ددے مسئلے تفصيل ددے کتاب په اوائلو کښے ذکر شوے۔ او کوم ځايونه چه محارمو ته ښکاره کولے شی نو هغه زنانو ته هم ښکاره کولے شی۔

پردئ ښځے سره خلوت منع دے

3101 (4) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "أَلَا لَا يَبِيتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ ثَيِّبٍ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷺ وفرمايل : رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار يو سړے دِے د کنډے ښځے سره شپه نهٔ تيروی مگر که د هغے سره نکاح کونکے وي، (يعنی دے ئے خاوند وي) يا ئے محرم وي۔ (مسلمؒ)

تشريح : [اَلَا] دا لفظ په هغه ځائے کښے استعماليږی چه کله روستو خبره اَهمه وي۔

[يَبِيْتَنَّ]۔ دا د بَاتَ يَبِيْتُ بَيَاتًا، بَيْتُوْتَةً، مَبِيْتًا مَبَاتًا نـه دے، شپه تيره ول او شپه كښے يو كار كول۔ او كله نا كله د شپے اُوده كيدو دپاره استعماليږي، او كله په معنىٰ د صَارَ (يعني وګرځيدو) سره وي، د شپے وي او كه د ورځے۔ لكه [بَاتَ بِمَوْضِعِ كَذَا اَيْ صَارَ]۔ يعني فلانى ځائے كښے وګرځيدو، واقع شو۔ نو د [بَاتَ عِنْدَ امْرَأَتِهِ لَيْلَةً]۔ مطلب به دا وي چه د ښځے سره ئے شپه تيره كړه برابره ده چه د هغے سره خوب وي او كه نۀ وي۔ (الفيومىّ) او ددے نـه مراد يواځے والے كول دي۔ [ثَيِّب]۔ دا هغـه زنانه ده چه خاوند ئے كړے وي، برابره ده چه مړ وي او كه ژوندے۔ [نَاكِحًا]۔ يعني دے خاوند وي ددے ښځے۔ [ذَا مَحْرَمٍ]۔ يا دے ئے داسے رشته دار وي چه نكاح ئے ورسره حرامه وي۔

پدے روايت كښے دوه قيده ذكر دي (أ) يو شپه تيره ول، نو شپه تيره ول هم حرام دي او لږ ساعت دپاره خلوت هم حرام دے، خو شپه ئے ذكر كړه ځكه چه په دے كښے ډير نقصانات وي۔ بله دا چه د ورځے خلوت ډير كم وي او آسان هم نۀ وي۔ او روستو حديث ذكر كيږي چه د هغے نه د ورځے ذ خلوت حرمت هم معلوميږي۔(ب) دويم قيد : ثيب۔ (وادۀ شوي ښځه)۔ دا ئے ذكر كړه اګركه د باكرے سره هم خلوت حرام دے، نو د تخصيص وجه دا ده چه غالباً دخول په ثيب باندے زيات كيږي ددے حياء كمه وي، او هرچه باكره ده نو هغے كښے حياء زياته وي، څوك ورسره خلوت ډير نشي كولے، د هلكانو نه جدا جدا وي۔ دارنګه د ثيبے يره هم كمه وي كه زنا اُوكړي نو د اولادو نه نۀ يريږي ځكه چه نسبت به ئے خپل خاوند تـه كوي، او باكره خو د بچو د پيدا كيدو نه يريږي۔ نو پدے كښے مبالغه زياته ده، چه هركله يوه زنانه چه په هغې باندے خلك په داخليدو كښے تساهل او آساني كوي نو هغے باندے ورداخليدل حرام دي نو په باكره باندے ورداخليدل خو به خامخا حرام وي۔ بلكه په يو بل حديث كښے مطلق زنانه باندے داخليدل منع شويدي۔ [لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ اِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ] [ترمذى : ۱۱۷۱ صحيح]۔

يـو سړے دِے يوے پردئ زنانه سره خلوت (يواځے والے) نۀ كوي (ورځ وي كه شپه) مګر دريم ئے شيطان وي۔

او دا دواړه قيدونـه احترازي نۀ دي بلكه واقعي او اتفاقي دي، د زياتے مبالغے او قباحت بيانولو دپاره راوړے شويدي۔

بيا محرم په دوه قسمه دے (۱) مؤبد چه هميشه ورسره نكاح حرامه وي۔ لكه پلار،

خوی، ورور، سخر، (۲) مُؤقت چه په وقتی توګه ورسره نکاح حرامه وی لکه ښینه، وغیره۔ دلته اول قسم مراد دے۔

د لیور سره خلوت

3102 (5) – وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " **إِيَّاكُمْ وَالدُّخُوْلَ عَلَى النِّسَاءِ** فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ قَالَ :"**اَلْحَمْوُ الْمَوْتُ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو په (پردو) زنانو باندے د داخلیدو نه ځانونه وساتئ۔ نو یو سړی وویل : اے د الله رسوله ! د لیور په باره کښے خبر راکړه ؟ (آیا د هغۀ دپاره هم دا ممانعت دے؟) نبی کریم ﷺ وفرمایل : لیور خو مرګ دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[إِيَّاكُم]۔ دا تحذیر دے، او مفعول دِے د اِتَّقُوا دپاره او حاصل ئے دا دے : [اِتَّقُوا أَنْفُسَكُمْ أَنْ تَدْخُلُوا عَلَى النِّسَاءِ وَالنِّسَاءَ أَنْ يَدْخُلْنَ عَلَيْكُمْ] ۔ تاسو خپل ځانونه ددے نه وساتئ چه تاسو په زنانو ورداخل شئ او زنانه په تاسو راداخلے شی۔

[وَالدُّخُوْلَ] د دخول نه مراد خلوت کول دی، او پدے کښے زیاته مبالغه ده ځکه چه پردو زنانو ته ورداخلیدل منع دی نو یواځے والے ورسره په طریق اولیٰ منع دے۔ (فتح الباری لابن حجرؒ) بیا د ښځے خاوند جهاد ته تلے وی یا بل سفر ته یا هسے بازار ته تلے وی خو مقصد دا چه په کور کښے موجود نۀ وی۔ [الْحَمْوُ]۔ د خاوند خپلوان سوئ د پلارانو او بچو نه۔ (نوویؒ) لکه د خاوند ورور (لیور) یا د خاوند ورارۀ، یا خورئے، یا د خاوند ترۀ او ماما، یا د ترۀ او ماما ځوی، او داسے نور۔

خلوت څه ته وائی ؟ [أَنْ يَنْتَفِعَ الرَّجُلُ بِامْرَأَةٍ مِنْ غَيْرِ اَنْ يَتَنَبَّهَ لَهَا أَحَدٌ] چه سړے د ښځے نه فائدے واخلی او هیڅوك پرے پو هه نشی۔ که چرته فائده ترے نشی اخستے لکه په لاره کښے ورسره ملاؤ شی یا نور خلك په مجلس او کمره کښے موجود وی نو دے ته خلوت نۀ وائی۔ که زنانه سره داسے ماشوم وی چه هغه په څه نۀ پو هیږی نو د هغے سره یواځے کیدل هم خلوت حسابیږی۔ فون هم خلوت کښے راځی که خوا کښے څوك نۀ وی۔

[أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟] : دا تپوس ئے پدے وجه وکړو چه هرکله دخول (خلوت) منع شو نو په حمو کښے ډیره مجبوری ده نو آیا دا به راتلے شی او که نۀ ؟ او حکمت پکښے دا دے چه د

پردو نه دومره زنا نهٔ واقع کیږی څو مره چه د خپلوانو نه واقع کیږی۔

[اَلْحَمْوُ الْمَوْتُ] - ددې عبارت دوه معانی دی، صحیح او خطاء (۱) صحیح معنیٰ دا ده چه لکه څنګه چه خلك د مرګ نه ځان ساتی نو دغه شان په دوئ واجب دی چه د لیور نه هم ځان وساتی۔ او دا معنیٰ هم ده چه لیور سبب د مرګ او آفت واقع کیدو دے، کله ورسره دین تباه کیږی که زنا ورسره واقع شی، او کله مرګ واقع کیږی که زنا اُوکړی نو ښځه به رجم کولے شی او کله به ښځه تباه کیږی چه خاوند به ئے طلاقه کړی۔ (القرطبیؒ) ابو عبیدؒ معنیٰ کوی : [اَلْمَوْتُ : فَلْیَمُتْ وَلَا یَفْعَلْ هٰذَا] - لیور مرګ دے یعنی مړ دِے شی خو د ورندار سره دِے یواځے والے نهٔ کوی۔ او لیور ته ئے مرګ ووئیلو ځکه چه ددهٔ نه شر زیات خوریږی په نسبت د پردی سړی ځکه چه دهٔ باندے څوك انکار نکوی۔ نو د لیور تشبیه ئے د مرګ سره په استقباح او مفسدت کښے ورکړه۔

(۲) خطاء معنیٰ دا ده چه لکه څنګه چه د مرګ نه خلاصے نشته او راتلل ئے ضروری دی نو دغه شان د لیور هم ضرورت دے۔ دا معنیٰ د حدیث د سیاق خلاف ده ځکه چه نبی علیه السلام د لیور راتللو بدی بیانوی او د مرګ سره ئے مشابه کوی۔ لکه عرب داسے وائی : [اَلْأَسَدُ الْمَوْتُ] زمرے مرګ دے۔ یعنی د زمری سره ملاویدل د مرګ په شان سخت دی۔

بعضو د حَمُوْ نه مراد د خاوند خپلوان اخستی دی نو پلار ئے هم پکښے داخل کړے او مطلب ئے دا بیان کړے چه د ښځے سره د خاوند پلار (یعنی سخر) یواځے کیدل د پردو خلکو په نسبت د مرګ په شان دی ځکه چه ډیر کرته به سخر وغیره ښځے ته هغه څیزونه ښائسته کړی او ښځے ته به شیطانی وکړی چه د هغه کارونو برداشت به خاوند نشی کولے، د هغهٔ په وس کښے به نهٔ وی (لکه د زیاتے خرچے غوښتو مطالبه به ترے کوی) نو پدے سره به د ښځے او د خاوند زندګی خرابه شی نو د دوئ ضرر د پردو په نسبت زیات شو۔ (دا تقی الدین ابن تیمیهؒ په شرح العمده کښے ذکر کړیده- فتح الباری : ۶۸۷/۱۱، کتاب النکاح رقم : ۵۲۳۲) البحر المحیط الثجاج) لیکن دا بعید دے۔

اول قول ډیر ظاهر دے۔

د لیور د راتللو کیفیت او د ستر کیفیت کښے **اختلاف** دے (۱) جمهور اهل علم وائی چه د لیور نه داسے ستر واجب دے لکه څنګه چه د پردی سړی نه پکار دے، هغوی دا

حدیث په ظاهر باندې حمل کړې. (۲) محققین علماء وائي چه پدې حدیث کښې مقصد د لیور سره خلوت منع کول دي، لکه دې عبارت کښې دا تقدیر دې : [اَلْخَلْوَةُ بِالْحَمْوِ الْمَوْتُ] . یعنې د لیور سره خلوتِ کول مرګ دې. او دا د مخکښې (ایاکم والدخول) لفظ نه معلومیږي چه هلته د خلوت خبره شروع ده. او دا معنیٰ منذريؒ په ((ترغیب او ترهیب)) کښې او شیخ عبد الرحمن مبارکفوريؒ په ((تحفة الاحوذي)) کښې ذکر کړیده او دې ته ئې په ((مرقات))کښې اشاره کړې، او امام ترمذيؒ وائي : [وَمَعْنَى "الْحَمْوُ الْمَوْتُ" : أَنَّهُ مَحْمُولٌ عَلَى الْخَلْوَةِ] . (د الحمو الموت معنیٰ دا ده چه دا په خلوت باندې حمل دې. نو ددې نه معلومه شوه چه که خلوت نهٔ وي نو بیا جائز دې.

دلائل المحققین : (۱) د نبي ﷺ په زمانه کښې صحابه کرام ﷺ به ډیر ورونه په یو کور کښې شریك اُوسیدل او په ذخیره د احادیثو کښې د هغوئ په باره کښې دا نهٔ دي نقل چه هغوی داسې ستر کړې وي چه په خپلو کوټوئ پردې رازوړندې کړي وي او ښځې ئې په کوټو کښې ایساري کړي وي چه لیور ته به نهٔ ښکاره کیږئ. لکه دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په خپله فتاوی کښې ذکر کړیده. (۲) دویم پدې کښې حرج دې او د ورونو د جدائي سبب دې. پدې کښې زمونږ بعض مشائخ ډیره سختي کوي، وائي چه مخ او لاسونه عورت دې دا به نهٔ ښکاره کیږي لیکن داسې سختي کول چه انسان پرې بیا عمل نشي کولې نقصان دې، او بل طرفته شرعاً آساني موجوده ده.

بیا د ستر دپاره څلور شرطونه دي : (۱) د لیور سره به خلوت نهٔ کوي. د هغهٔ کمرې ته به په یواځې والي کښې نهٔ ورځي. (۲) لاس به نهٔ ورکوي. (۳) سفر به ورسره نهٔ کوي.

(٤) ښځه او لیور به ذو الریبه (تهمت والا) نهٔ وي. [مجموع الفتاوی: ۱۱/۳۲]

(٥) لیور ته به ډول او سینګار نهٔ ښکاره کوي. [وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ] نه معلومیږي.

(٦) او د هغهٔ مخامخ به تجمیل هم نهٔ کوي، او د مخ په ښکاره کولو کښې دلائل روستو راروان دي.

معالج د پردئ ښځې جسم کتلے شي

3103 (6) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ :أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ اسْتَأْذَنَتْ رَسُولَ اللّٰهِ فِي الْحِجَامَةِ فَأَمَرَ أَبَا طَيْبَةَ أَنْ يَحْجِمَهَا قَالَ : حَسِبْتُ أَنَّهُ كَانَ أَخَاهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ أَوْ غُلَامًا لَمْ يَحْتَلِم . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷛ نه روایت دے چه بیشکه ام سلمے ﷝ د رسول الله ﷺ نه د حجامے په باره کښے اجازت وغوښتو نو هغهٔ ابو طیبه ته حکم وکړو چه دے له حجامه وکړی۔
ابو زبیر راویؒ وائی : زما گمان دا دے چه ابو طیبه (ته ئے د حجامے کولو حکم پدے وجه وکړو چه) هغه د ام سلمے ﷝ رضاعی (د پیوو شریك) ورور وو، یا هلك وو چه بلوغ ته نهٔ وو رسیدلے۔ (مسلمؒ)

تشریح : [الْحِجَامَة] په ښکر، کپ وغیره آلاتو سره وینه ویستل چه کله په انسان کښے وینه زیاته شی، یا خرابه شی یا یوه بیماری راشی۔ [اَبَا طَيْبَةَ]۔ بعض وائی: ددهٔ نوم مَیْسَره وو، او ځینی وائی : نافع وو۔ مگر عسکریؒ وئیلی دی چه صحیح دا ده چه ددهٔ نوم نهٔ دے معلوم۔ او ابن الحذاءؒ په رجال الموطأ کښے ذکر کړی چه دهٔ (۱۴۳) کاله عمر تیر کړے وو۔ او دا د انصارو د یوے قبیلے بنو بیاضه ؤ غلام وو۔ [يَحْجِمَهَا]۔ د یاء زبر او د جیم زیر او پیش دواړه جائز دی۔ د باب د نصر او ضرب نه۔
[قَالَ]۔ ابو الزبیرؒ راوی فرمائی : [حَسِبْتُ]۔ یعنی رسول الله ﷺ چه ابو طیبه ته حکم کولو چه د ام المؤمنین ام سلمه ﷝ لره حِجامه وکړی نو ددے د جواز سبب به رسول الله ﷺ ته معلوم وو او هغه دا چه یا خو ئے رضاعی ورور وو یا دا کچه هلك وو چه بلوغ ته نهٔ وو رسیدلے۔ لیکن پدے گمان باندے ابن حزمؒ اعتراض کړے چه دا گمان صحیح نهٔ دے، وجه دا ده چه ام سلمه ﷝ خو په مکه کښے پیدا شوے او ابو طیبه په مدینه کښے غلام وو نو دا محاله ده چه ابو طیبه د هغے رضاعی ورور شی۔ او دا خو داسے غِلام وو چه تیکس پرے مقرر شوے وو۔ (یعنی ماشوم نهٔ وو) (نو ظاهر دا ده چه دا پردے سړے وو) [المحلی : ۱۰/۳۳]۔ نو ددے نه بیا دا **مسئله** ثابتیږی چه کله زنانه بیماره وی نو اول خو به د هغه چا نه علاج کوی چه ددهٔ سره ئے نکاح نهٔ کیږی، محرم وی لکه رضاعی ورور یا داسے هلك وی چه ماشوم وی نو ددے نه دا مسئله هم ثابته شوه چه د محرم دپاره د زنانه هغه ځایونه کتل جائز دی چه هغه د پردی سړی دپاره جائز نهٔ دی ځکه چه حِجامه غالباً په شټ او سر او پنډئ باندے کیږی۔ او که چرے محرم ډاکټر نهٔ وو موجود نو د ضرورت په وخت د پردی سړی ډاکټر نه علاج کولے شی کله چه زنانه ډاکټره نهٔ وی یا ددے په مرض نهٔ پو هیږی، ځکه چه لوی ضرر به د معمولی ضرر دپاره دفع کولے شی۔ [المفهم شرح مسلم للقرطبی ۵/۵۹۵] خو پدے کښے شرط دا دے چه صرف معیوب او د

علاج ځائے به ورته ښکاره کوی ځکه چه کوم شے د ضرورت په وخت مباح شی نو هغه به د ضرورت په اندازه اختیارولے شی۔ دارنګه دا هم ثابته شوه چه د سرِی دپاره د زنانه ډاکټرے نه علاج جائز دے کله چه سرِے ډاکټر نهٔ ملاویږی۔

3104 (7) – وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ نَظَرِ الْفُجَاءَةِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَصْرِفَ بَصَرِي. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جریر بن عبد الله ﷛ وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه (په پردئ زنانه باندے) د ناڅاپی نظر پریوتو په باره کښے پوښتنه وکړه نو هغهٔ ما ته حکم وکړو چه زهٔ خپل نظر واړوم۔ (مسلمؒ)

تشریح : [الْفُجَاءَةِ] دا په همزه او تاء سره دے او بغیر د الف نه هم صحیح دے یعنی الْفُجْأَة۔ د باب د سمع نه دے۔ اچانك نظر لګیدل بغیر د قصد او ارادے او کسب نه۔ [اِصْرِفْ بَصَرِىْ] دا روایت بالمعنیٰ دے، یعنی ما ته ئے داسے وفرمایل : [اِصْرِفْ بَصَرَكَ]۔ خپل نظر دِے واړه وه۔

فوائد : (۱) دا حدیث دلیل دے چه پردئ زنانه ته قصداً کتل حرام دی، ابن حبانؒ فرمائی : هرکله چه حرام څیز نه د نظر اړولو امر وشو نو ذا دلیل دے چه حرامو ته کتل منع دی۔ (۲) هرکله چه په پردئ ښځه نظر ناڅاپی پریوزی نو د هغے راستنول واجب دی، نو که فی الحال ئے راواپس کړو، ګناهګار به نهٔ وی، او که نظرئے همیشه کړو، او اُوږد ئے کړو نو ګناهګار دے۔

نَظَرُ الْعُيُوْنِ اِلَى الْعُيُوْنِ هُوَ الَّذِىْ	❁	جَعَلَ الْهَلَاكَ اِلَى الْفُؤَادِ سَبِيْلًا

(المناویؒ) د زړهٔ هلاکت خو د سترګو په کتو سره راځی۔

(۳) **مسئله** : ددے حدیث لاندے شراح الحدیث د قاضی عیاضؒ نه نقل کړی چه علماء فرمائی : [فِىْ هٰذَا دَلِيْلٌ عَلٰى اَنَّهُ لَا يَجِبُ عَلَى الْمَرْأَةِ اَنْ تَسْتُرَ وَجْهَهَا فِىْ طَرِيْقِهَا، اِنَّمَا ذٰلِكَ سُنَّةٌ مُسْتَحَبَّةٌ لَهَا]۔ دا حدیث دلیل دے چه په ښځه باندے دا واجب نهٔ دی چه په لاره کښے خپل مخ پټ کړی بلکه دا کار ورله مستحبه طریقه ده، او په سړو باندے واجب دی چه په ټولو احوالو کښے د پردئ ښځے نه نظر خکته کړی مګر که یو صحیح شرعی غرض وی لکه د ګواهئ حالت یا د دوائی او علاج حالت یا د خطبے حالت یا د وینځے د

اخستو حالت، یا د بیع شراء وغیره حالت وی او پدے تولو کښے به د حاجت په اندازه اباحت وی نۀ په زیادت کښے۔ [اکمال المعلم: ۷/۳۷]۔

لیکن ددۓ حدیث نه د زنانه دپاره د مخ نۀ پټولو استدلال دومره صریح نۀ دے۔

(٤) **مسئله**: ستر په درے قسمه دے (۱) [اَنْ تَحْجِبَ شَخْصَهَا] ۔ یو دا چه خپل شخص پټ کړی لکه دلیل پدے باندے روستو حدیث دے: [اَلْمَرْأَةُ تُقْبِلُ فِیْ صُوْرَةِ شَیْطَانٍ الخ]۔ دویم دلیل: حدیث د ابن مسعود ﷺ دے: [اِنَّ الْمَرْأَةَ اِذَا خَرَجَتْ اِسْتَشْرَفَهَا الشَّیْطَانُ] (ښځه چه کله د کور نه بهر شی نو شیطان ئے د خلکو په سترګو کښے پورته کوی۔

لیکن دا واجبه نۀ ده چه زنانه به بهر بیخی نۀ راوځی لکه چه پښتانۀ وائی: ((ښځه یا په کور ده یا په ګور))۔ البته دا اعلیٰ درجه پرده ده چه د زنانه په لوپټه او څادر باندے هم د هیچا نظر ونۀ لګی۔ (۲) [أَنْ تَحْجِبَ جَمِیْعَ بَدَنِهَا مِنَ الرِّجْلِ اِلَی الرَّأْسِ]۔

چه ټول بدن پټ کړی د خپو نه تر سر پورے۔ دا قسم پرده هم مستحب ده خو په وجوب کښے ئے اختلاف دے، دیته بعض مصریانو بدعت وئیلی دی لیکن خبره ئے تیك نۀ ده ځکه چه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښے دا قسم پرده وه۔ عائشه رضی الله عنها فرمائی: زمونږ به په سفر کښے مخ کولاؤ وو خو کله چه به یوه قافله په مونږ راتیریدله نو یو تن زمونږ به خپل څادر په خپل مخ باندے راښکته کړو۔

(۳) [اَنْ تَحْجِبَ جَمِیْعَ بَدَنِهَا اِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّیْهَا] چه ټول بدن پټ کړی سوئ د مخ او لاسونو نه تر (مړوندونو) پورے۔ نو پدے کښے اختلاف دے، دوه قوله دی:

(۱) جمهور علماء وائی: دا قسم پرده صحیح نۀ ده بلکه لاسونه او مخ پټول هم واجب دی ځکه د مخ نه فتنه ولاړیږی۔ **دلائل**: (۱) سورة النور آیت: [وَلَا یُبْدِیْنَ زِیْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا]۔ ددے نه مراد برقع او څادری او پړونے دے چه خپله ښکاره کیږی، او دا تفسیر د ابن مسعود ﷺ دے۔ (۲) **قول**: حسنؒ، مالكؒ، ابن جریرؒ، ابن القطانؒ (فِی الْحِجَاب) احنافوؒ مسلك دا دے چه مخ او لاسونه ښکاره کولے شی پدے شرط چه زینت او ډول به نۀ ښکاره کوی۔ **دلائل**: ۱- آیت اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا نه مراد: بیهقیؒ، ابن المنذرؒ او ابن ابی حاتمؒ د عبد الله بن عباس ﷺ او مسور بن مخرمه ﷺ نه روایت کړے (او دا د انس بن مالك ﷺ نه هم نقل دے) چه هغوی فرمائی: [هِیَ الْكُحْلُ وَالْخَاتِمُ یَعْنِی هُوَ الْوَجْهُ وَالْكَفَّانِ]۔ کوم ډول چه ښکاره کیږی هغه په سترګه کښے رانجۀ او لاسونو کښے ګوتمے

دي، يعـنـي مخ او لاسونه ښكاره كولے شي ځكه چه دا عورت نۀ دے۔ ددے ښكاره كول په احرام كښے عبادت دے او ددے په مانځۀ كښے ښكاره كيدل جائز دي نو بهر د مانځه نه هم جائز دي۔ علامه قرطبيؒ وائي : كه مونږ مخ او لاسونو ته عورت ونۀ وايو نو بيا كله چه يوه زنانه حسن او جمال والا وي نو په هغے باندے واجبه ده چه مخ پټ كړي دے دپاره چه خلك په فتنه كښے واقع نكړي او په هغه زنانو كښے داخله نشي چه سړي ځانونو ته مائله كوي او هغوي سره د اُور وعده شويده۔ [المفهم : ٥/٤٩٧- ٤٩٩]

د علامه قرطبيؒ مقصد هم دا دے چه مخ عورت نۀ دے، صرف جمال والا ښځے له پټول پكار دي۔

علامه قرطبيؒ وائي : ددے نه مراد هغه دے چه عادةً ښكاره كيږي او هغه وجه او كفان دي۔ د احاديثو نه **دلائل** : ۲- دا حديث الباب دليل دے۔ چه اچانك نظر په مخ باندے لګيږي۔ ۲- روستو روايت دے : [إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِيْ صُوْرَةِ شَيْطَانٍ...... إِذَا أَحَدُكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ] ۔ ښځه انسان په تعجب كښے هله غورزوي چه مخ ئے ښكاره وي۔ ۳- روستو حديث د ابن مسعود ﷺ : نبي ﷺ يوه ښځه وليده او هغے په تعجب كښے واچولو۔

٤-كتاب الحج كښے تير شو : فضل بن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ سره په اُوښه باندے شا ته سور وو، يوے ښځے د رسول الله ﷺ نه تپوسونه كول، فضل ورته كتل نو رسول الله ﷺ د فضل مخ بل طرف ته واړه ولو۔ او ښځے ته ئے داسے ونۀ وئيل چه تۀ مخ پټ كړه۔ او دا كار په منىٰ كښے شوےوو۔ او ددے واقعے نه رسول الله ﷺ اتيا ورځے روستو وفات شو۔ داسے نور دلائل به ځائے په ځائے راځي۔

محاكمه : ۳- قول : پدے كښے درميانه قول دا دے چه كه زنانه بهر اُوځي نو بيا د جمهورو علماؤ په قول عمل پكار دے چه مخ او لاسونه دِے پټ ساتي ځكه چه پدے كښے احتياط دے او د سړو زړونه صفا ساتل دي او د فتنے نه بچاؤ دے۔ او كله چه زنانه په كور كښے وي خاصكر د ليورونو سره شريكه اُوسيږي نو بيا د ضرورت په وجه سره مخ او لاسونه ښكاره كول ورله جائز دي خو په هغه شرطونو سره چه مخكښے ذكر شول۔ وبالله التوفيق والله اعلم۔ او ددے مسئلے بعض تفصيل په اضواء البيان د شنقيطيؒ ٥/٥١٩ او سورة الاحزاب) او البحر المحيط الثجاج : ٣٥/٥٧٤ و٢٠٢/٨) كښے وګوره، او ددے كتاب (الحق الصريح ۳ باب الستر) كښے۔

په پردۍ زنانه باندې اچانك نظر پرېوتو مسئله

3105 (8) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " إِنَّ الْمَرْأَةَ تُقْبِلُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ وَتُدْبِرُ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ إِذَا أَحَدُكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ ذٰلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً ښځه د شیطان په شکل کښې مخ راړوی او د شیطان په شکل کښې شا راړه وی، هرکله چه یو تن ستاسو لره یوه ښځه په تعجب کښې وغورزوی او هغه ئې په زړه کښې واقع شی نو خپلې ښځې ته دِې اراده وکړی او هغې سره دِې نزدیکت وکړی نو دا به هغه شې ختم کړی کوم چه ددهٔ په زړه کښې پیدا شویدې۔ (یعنی جنسی خواهش) (مسلمؒ)

تشریح : په صحیح مسلم کښې دا روایت داسې هم راغلې دې : جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ (په یوه لاره کښې) یوه ښځه (په اچانك نظر) سره ولیده نو خپلې بی بی زینب ته راغله چه هغې خپله یوه څرمن رنګ کوله نو (هغه ئې کمرې ته بوتلله) د هغې نه ئې خپل حاجت پوره کړو، بیا خپلو ملګروته رابهر شو او دغه ارشاد ئې وفرمایلو : لکه روستو راروان دې۔

نو مطلب د حدیث دا دې چه کله د یو انسان په یو ځائې کښې په پردۍ زنانه باندې اچانك نظر واقع شی او دِهٔ زړهٔ ته د هغې تصویر راشی نو مستحب دا ده چه خپلې بی بی خوا ته ورشی او د هغې سره نزدیکت وکړی دې دپاره چه شهوت ئې ختم شی او د دماغو نه ئې تصویر بهر شی۔

[تُقْبِلُ] ۔ یعنی چه د مخې نه راروانه وی هم بنده په فتنه کښې غورزوی او که د شانه وی۔ [صُورَةِ شَيْطَانٍ] ۔ دا په تشبیه باندې بناء دې یعنی صورت د شیطان انسان لره په فتنه کښې غورزوی نو دغه شان ښځه هم چه د کور نه بهر اُوځی نو خلك په فتنه کښې غورزوی او شیطان لره د سرو د ښکار کولو دپاره ښائسته ذریعه جوړیږی۔ او پدې کښې اشاره ده چه زنانه په خپل دې کار کښې د شیطان سره مشابه ده چه خلك ګمراه کوی او فتنه کښې غورزوی۔ [فَإِنَّ ذٰلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ] ۔ د (مَا) نه مراد هغه خیال او تصویر دې چه ددهٔ په زړهٔ کښې وی۔ دې نه دا هم معلومیږی چه د عشق علاج به په کومه طریقه

كولے شي؟ نو دلته ئے يوه طريقه ذكر ده۔ **د عشق يو څو علاجونه دي**: (۱) د خپل محبوب خوا له دِے نهٔ ورځي۔ كله نا كله ورتللو سره عشق بيرته تازه كيږي۔
(۲) دعاگانے دِے غواړي او په عباداتو كښے دِے اخلاص كوي، د يوسف عليه السلام په باره كښے راغلي دي: [اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ]۔ (دِے د مُخلَصينو بندگانو نه وو)
(۳) د هغے سره دِے نكاح وكړي۔ يا دِے د بلے زنانه سره نكاح وكړي۔
(٤) د عشق نقصانات دِے په زړهٔ كښے راولي۔
(٥) خپلے زوجے سره دِے نزديكت كوي نو نور خيالات به د ذهن نه بهر كيږي۔
دا حديث هم د جمهورو علماؤ د قول تائيد كوي چه مخ عورت نهٔ دے ځكه چه انسان تعجب هله كوي چه مخ ئے ليدلے وي۔

الفصل الثاني

د مخطوبے زنانه هر ځائے ته كتل جائز دي

3106 (9) - عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم: " **إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَّنْظُرَ إِلٰى مَا يَدْعُوْهُ إِلٰى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ** ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه: جابر رضي الله عنه فرمائي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هركله چه يو تن ستاسو د يوے ښځے جرگه كوي نو كه وس ئے كيږي چه د هغے هغه ځائے ته وگوري چه هغه دهٔ لره د هغے نكاح ته رادعوت كوي نو وِدے كړي۔ (ابوداودٌ)

تشريح: [مَا يَدْعُوْهُ اِلٰى نِكَاحِهَا] دِے روايت نه معلوميږي چه د مخطوبه زنانه هر هغه ځائے ته كتل جائز دي چه انسان لره د هغے نكاح ته رادعوت كوي، لكه د هغے مخ، لاسونو، سينے او شا وغيره۔ لكه دا د محققينو قول وو۔ [فَاِنِ اسْتَطَاعَ]۔ دا ورسره ځكه وائي چه ښځه په هله آسانه ځان نهٔ ښكاره كوي، نو معلومه شوه چه د هغے د اجازت نه بغير هم هغے ته كتل جائز دي۔ نو د امام مالكؒ قول پدے باره كښے ضعيف دے چه د ښځے داجازت نه بغير به نهٔ گوري۔ كما مر۔ [فَلْيَفْعَلْ]۔ امر نه معلوميږي چه دا كتل مستحب دي، ځكه چه ددے نه روستو زندگي برابريږي۔

درجة الحديث: [إسناده حسن] ابوداود: ۲۰۸۲، واحمد: ۱٤٦٢٦، حاكم: ۲٦۹٦، وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي۔ ابن اسحاق مدلس وقد عنعنه لكن قد صرح بالتحديث في

إحدى روايتي أحمد فإسناده حسن۔ وانظر الإرواء (۱۷۹۱) والصحيحة (۹۵-۹۹) وفتح الباري (۹/۱۵۶)

3107 (10) - وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ ﷺ قَالَ خَطَبْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا ؟" قُلْتُ : لَا قَالَ :" فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرٰى أَنْ يُّؤْدَمَ بَيْنَكُمَا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او مغيره بن شعبه ﷺ وفرمايل : ما د يوې ښځې جرګه وکړه نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا تا هغې ته کتلي دي؟ ما وويل : نه، وې فرمايل : هغې ته وګوره ځکه چه دا ډير لائق دی چه ستاسو د دواړو ترمينځ به (پدې سره) موافقت او اُلفت پيدا کړې شي۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشريح : [هَلْ نَظَرْتَ اِلَيْهَا؟] دا تپوس ترې نبي کريم ﷺ پدې وجه وکړو چه په يو روايت کښې راغلي دي چه مغيره ﷺ د اوياؤ نه زياتې ښځې کړې وې ليکن د هغوی سره به ئې کور نۀ برابريدو نو هرکله چه نبي کريم ﷺ ورته دا نسخه وخودله چه هغې ته اُوګوره کيدې شي چه ستاسو د دواړو ترمينځ موافقت راشي نو دا خبره د رسول الله ﷺ په هغۀ باندې رشتينې شوه هغه فرمائي ما سره دا ښځه موافقه شوه۔ (ابن ماجه) او ددې وجه دا ده چه کله ئې په خپلو سترګو وګوري او وې پيژني نو ددې نه روستو به غالباً نۀ خپيمانه کيږي۔ [يُؤْدَمَ]۔ دا د اَدْمٌ او اِيْدَامٌ نه دې، موافقت او الفت او يو ځائې والی ته وائي۔ [اَیْ اَحْرٰی اَنْ يُّؤْدَمَ بَيْنَكُمَا الْمَحَبَّةُ وَالْاِتِّفَاقُ] ۔ يعنی لائق ده چه ستاسو د دواړو ترمينځ به محبت او اتفاق برابر شي۔ (النهايه) دارنګه ادم او ايدام اصلاح او توفيق ته وائي۔ **ترکيب** : ۱- جارمجرور پټ دې او هغه قائمقام د فاعل دې بيا هغه حذف شوې [اَیْ يُؤْدَمَ بِهٖ بَيْنَكُمَا] ۔ يعنی ددې نظر په وجه به ستاسو د دواړو ترمينځ موافقت راشي۔ ۲- يا فعل متعدی نازل شوې په منزله د فعل لازم [اَیْ يُوْقَعُ الْاُدْمُ بَيْنَكُمَا يَعْنِیْ يَكُوْنُ بَيْنَكُمَا الْاُلْفَةُ وَالْمَحَبَّةُ] ۔ يعنی ستاسو د دواړو ترمينځ به موافقت واچولې شي يعنی ستاسو د دواړو ترمينځ به الفت او محبت راشي۔ ۳- يا بَيْنَكُمَا نائب فاعل دې، لکه د [تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ] په شان۔ (مرقات، تحفة الاحوذی)

يوم الخميس : ۲۰۱۹/۵/۲

درجة الحديث : [صحيح] الترمذی : ۱۰۸۷، نسائي کبری : ۶/۶۹-۷۰، ابن ماجه : ۱۸۶۵،

وصححه ابن حبان : ۴۰۴۳، وقد أعل بالانقطاع فاجاب عنه الألبانی فی الصحیحة : ۹۶]۔

پردئ زنانه باندے نظر پریوزی نو فوراً خپلے بی بی په وجه تسکین حاصل کړه

3108 (11) - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: رَأَیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِمْرَأَةً فَأَعْجَبَتْهُ فَأَتٰی سَوْدَةَ وَهِیَ تَصْنَعُ طِیْبًا وَعِنْدَهَا نِسَاءٌ فَأَخْلَیْنَهُ فَقَضٰی حَاجَتَهُ ثُمَّ قَالَ : " **أَیُّمَا رَجُلٍ رَأٰی امْرَأَةً تُعْجِبُهُ فَلْیَقُمْ إِلٰی أَهْلِهِ فَإِنَّ مَعَهَا مِثْلَ الَّذِیْ مَعَهَا** ". رَوَاهُ الدَّارِمِیُّ.

ترجمه : او ابن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ یوه ښځه ولیده نو هغې په تعجب کښے وغورزولو نو هغه (فوراً) ام المؤمنین سودے ﷺ خوا ته راغلو او هغې (پدے وخت کښے) خوشبوئی جوړه وله، او د هغې سره نورے زنانه وے، نو هغوی نبی کریم ﷺ له خالی کړو (یعنی د سودے نه پاڅیدلے او بهر ووتے) نو نبی کریم ﷺ خپل حاجت پوره کړو بیا ئے وفرمایل : هر یو سړے چه یوه ښځه ووینی چه هغه ئے په تعجب کښے واچوی نو هغهٔ له پکار دی چه خپل اهل ته راپاڅیږی (او هغې نه خپل ضرورت پوره کړی) ځکه چه دے ښځے سره هغه شے دے کوم چه د هغې ښځے سره دے۔ (دارمیؒ)

تشریح : [فَأَعْجَبَتْهُ] یعنی په تعجب کښے ئے وغورزولو۔ [فَأَتٰی سَوْدَةَ] دے روایت نه معلومیږی چه سودے ﷺ خواته راغلو او مخکښے روایت کښے زینب ﷺ ذکر وه، نو دا خو یا جدا جدا واقعے دی لکه همدا خبره ظاهره ده ځکه چه د زنانو کارونه هم مختلف خودل شوی، یو کښے خرمن رنګ کول وو او دے کښے خوشبو جوړول ذکر دی۔ یا مخکښے روایت د مسلم وو هغه ډیر صحیح دے او دے روایت کښے د راویانو نه وهم شوے نو د زینب ﷺ په ځائے ئے سوده ﷺ ذکر کړے۔ لیکن اوله خبره غوره ده۔

[تَصْنَعُ طِیْبًا] یعنی خوشبوئی جوړه وله۔ [فَأَخْلَیْنَهُ]۔ نو زنانو هغه یواځے کړو (یعنی زنانه د سودے ﷺ د خوا نه پاڅیدے)۔ [مَعَهَا مِثْلَ الَّذِیْ مَعَهَا] اوّل مَعَهَا ضمیر خپلے ښځے ته راجع دے او دویم پردئ ښځے ته۔

فوائد : (۱) **سوال** : ابن مسعود ﷺ ته څنګه پته ولګیده چه رسول الله ﷺ یوے زنانه په تعجب کښے واچولو؟ جواب : نبی کریم ﷺ په مسجد کښے حال وئیلے دے او بیا ئے تقریر کړے۔ (۲) ددے روایت نه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ هم د عامو انسانانو په شان بشر دے په هغهٔ باندے هم هغه احوال راتللے شی کوم چه په عامو

انسانانو راځی اګرکه د الله تعالیٰ اُوچت نبی دے۔

(۳) **سوال :** نبی کریم ﷺ ولے داسے حال وئیلو چه ما سره داسے داسے کار وشو؟۔

جواب : امام نوویؒ فرمائی : دا ددے دپاره چه اُمت ته په خپل قول او عمل دواړو سره دین بیان کړی چه که په بل چا باندے داسے حالت راغلو نو هغهٔ له هم زما په شان کار پکار دے۔ ځکه چه انسان کمزورے دے۔ داسے کمزورتیا پرے راتللے شی۔

(٤) سړے د خپلے بی بی نه د جماع مطالبه د ورځے هم کولے شی اګرکه هغه په یو کار مشغوله وی چه د هغے پریخودل ممکن وی، دا ځکه چه ډیر کرته په سړی باندے به د هغهٔ شهوت غلبه وکړی چه د هغے په تاخیر سره به د هغهٔ په بدن یا زړهٔ یا نظر کښے تکلیف راځی۔ (٥) دا مستحبه ده چه د چا نظر په پردئ زنانه ولګی نو هغه ډِے زر د خپلے بی بی سره نزدیکت وکړی چه خیالات ئے صفا شی، او زړهٔ ئے په سکون شی۔ (نوویؒ) (٦) -زنانه به خامخا د خپل خاوند تابعداری کوی اګرکه په یو کار باندے مشغوله وی خو د خاوند د تقاضے لحاظ به ساتی۔

درجة الحدیث :[حسن] دارمی : ۲/۱٤٦، رقم: ۲۲۱٥، ورجاله ثقات غیر عبد الله بن حلام وقد رواه عنه ابن ابی شیبة (۱۷٤۸٤) ......موقوفا علی ابن مسعود لکن له شواهد مرفوعة فراجع الصحیحة (۲۳٥) والارواء (۱۷۸۹)

ښځه د پردو خلکو د نظرونو نه د پټیدو شے دے

3109 (12) - وَعَنْهُ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " **اَلْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اِسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ابن مسعود ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل : ښځه عورت دے نو هرکله چه بهر راوځی شیطان ئے د سړو په نظرونو کښے ښائسته ښکاره کولو سره پورته کوی۔ (ترمذیؒ)

تشریح : [عَوْرَةٌ] ښځه ټوله عورت دے۔ ښځے ته ئے عورت ووئیلو ځکه چه کله عورت ښکاره شی نو بنده له د هغے نه حیاء او شرم ورځی نو دغه شان د زنانه ښکاره کیدل هم د شرم او حیاء سبب دے۔ [اِسْتَشْرَفَهَا]۔ ۱-یعنی شیطان ئے د خلکو سترګو ته راپورته کوی۔ ۲- د سړو په سترګو کښے ئے ښائسته ښکاره کوی۔ ۳- شیطان ورته

ګوری دے دپاره چه دا ګمراه کړی یا ددے په سبب نور خلك ګمراه کړی۔ اِستشراف په اصل کښے یو شی ته نظر پورته کول پدے طریقه چه خپل لاس د وروځو دپاسه خور کړی۔ معنیٰ د حدیث دا ده : د ښځے ښکاره کیدل او بهر ته راوتل قبیح او عیب دے نو هرکله چه دا بهر راوځی نو شیطان هغے ته جوخت وګوری دے دپاره چه هغه ګمراه کړی یا د هغے په وجه سړی ګمراه کړی، دواړه په فتنه کښے واقع کړی یا یو د دویٔ نه۔ یا د شیطان نه مراد انسی شیطان دے یعنی فاسق انسان۔ او دے ته ئے د تشبیه په طریقه شیطان وئیلے دے۔ (تحفة الاحوذی) لیکن دا معنیٰ په حدیث کښے داخله ده د شیطان دوه مصداقه شول۔

حدیث نه معلومه شوه چه زنانه له د کور نه بغیر د ضرورت نه وتل نهٔ دی پکار۔ دا د شیطان جال او د فتنے سبب جوړیږی۔

درجة الحدیث :[إسناده صحیح] الترمذی : ۱۱۷۳، وصححه ابن حبان : ۳۲۹، ۳۳۰، وله شاهد من حدیث ابن عمر وهو فی الصحیحة : (۲۶۸۸)

پردیٔ زنانه ته د اول نظر نه روستو دویم نظر کول جائز نهٔ دی

3110 (13) – وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِعَلِيٍّ : " **يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الْأُوْلٰى وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او بریده ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ علی ﷺ ته وفرمایل : اے علی ! د نظر پریوتو نه پس بل نظر مهٔ وریسے کوه (یعنی که په پردیٔ زنانه اچانك نظر پریوزی نو بیا ددے نه روستو دوباره هغے طرف ته مهٔ ګوره) ځکه چه ستا دپاره اول نظر جائز دے (چه هغه غیر اختیاری وو) لیکن ستا دپاره روستنے نظر جائز نهٔ دے۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ)

تشریح :[لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ] ۔ یعنی د اول نظر پسے دویم نظر مهٔ وریسے کوه، یعنی پردیٔ زنانه ته بار بار مهٔ ګوره۔ [فَإِنَّ لَكَ الْأُوْلٰى] ۔ یعنی ستا دپاره اول نظر جائز وو، ځکه چه هغه غیر اختیاری نظر وو نو ګناه پکښے نهٔ وه۔ او دویم نظر ستا په کسب او اختیار سره کیږی او انسان په کسب باندے رانیولے کیږی۔ او ددے نه مخطوبے ته بار بار کتل د مخکنو احادیثو په بناء مستثنیٰ دی۔

درجة الحديث : [حسن لغيره] ابوداود : ۲۱٤۹، احمد : ۲۳۰۲٤، الترمذی : ۲۷۷۷، وقال حسن غريب لا نعرفه الا من حديث شريك آه۔ والصواب : انه حسن لغيره كما قال شعيب والالبانی فی صحيح الجامع (۱۳۹۱۳) لان فيه شريك بن عبد الله سیء الحفظ، ولكن له شواهد بينها الالبانی فی جلباب المرأة المسلمة ص ۷۷ ومحقق المسند]

خپله وينځه په نكاح باندے وركولو نه روستو هغه ځان دپاره حرامه وګنړه

3111 (14) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " إِذَا زَوَّجَ أَحَدُكُمْ عَبْدَهُ أَمَتَهُ فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى عَوْرَتِهَا ". وَفِي رِوَايَةٍ: " فَلَا يَنْظُرَنَّ إِلَى مَا دُونَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او عمرو بن شعيب د خپل پلار او هغه د نيكه نه او هغه د نبی كريم ﷺ نه ارشاد نقل كوی چه هغهٔ فرمائيلی : هركله چه يو تن ستاسو خپل غلام ته خپله وينځه په نكاح وركړی نو هغه دِے د هغے عورت ته نهٔ ګوری۔ او په يو روايت كښے دی : نو هغه دِے هغه ځائے ته نهٔ ګوری چه د نامهٔ نه خكته او زنګون نه پورته وی۔ (ابوداوٗد)

تشريح : [عَنْ اَبِيهِ عَنْ جَدِّهٖ] دا خبره مخكښے ذكر شويده چه په داسے مقام كښے ضمير اول راوی ته راجع وی او پدے سند كښے مخالف قانون دے چه ضمير د شعيب نيكهٔ ته راجع دے چه عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ دے۔ مكمل سلسله د نسب داسے ده : عمرو بن شعيب بن محمد بن عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ۔ او ددے وجه دا ده چه كه عمرو ته ضمير راجع شی نو د هغهٔ نيكهٔ محمد دے او هغه امی دے، د هغهٔ نه روايت نهٔ دے نقل نو بيا خو سند ضعيف جوړيږی د انقطاع په وجه۔ او شعيب د خپل نيكهٔ عبد الله ﷺ سره ملاقات شوے او د هغهٔ نه ورته يوه رساله پاتے وه چه هغه عبد الله ﷺ د نبی ﷺ نه ليكلے وه۔ پدے سند كښے درے اقوال دی :

(۱) ابن حزمؒ او ابن حبانؒ ورته ضعيف سند وئيلے ځكه چه دا منقطع دے۔ هغوی دا خيال كړے چه د عمرو نيكهٔ محمد دے او هغهٔ نه روايت نهٔ دے نقل۔ (۲) دويم قول دا اصح الاسانيد دے ځكه چه عبد الله بن عمرو ﷺ د نبی ﷺ نه ليكلے رساله شعيبؒ ته پريخودے وه۔ (۳) راجح قول دا دے چه دا سند حسن دے، ابن حجرؒ په شرح النخبه كښے

او نورو علماؤ لکه شیخ البانیؒ ورنه حسن وئیلے دے۔
اِذَا زَوَّجَ اَحَدُكُم : ددے روایت مطلب دا دے چه کله یو مالك خپله وینځه خپل غلام ته په نکاح باندے ورکړی یا ئے بل چا ته په نکاح ورکړی نو پدے وخت کښے به مالك د هغے عورت ته نهٔ ګوری او د عورت حد ئے دا وخودو چه د نامه نه تر زنګون پورے۔ لیکن په بل روایت کښے ددے مخالف الفاظ دی : [إِذَا زَوَّجَ اَحَدُكُم عَبْدَهُ : اَمَتَهُ اَوْ أَجِيْرَهُ – فَلَا تَنْظُرِ الْأَمَةُ اِلَى شَيْءٍ مِنْ عَوْرَتِهٖ فَاِنَّ مَا تَحْتَ السُّرَّةِ اِلَى الرُّكْبَةِ مِنَ الْعَوْرَةِ – أخرجه الدارقطنی رقم (۸۸۷) وعنه البیهقی (۳۳۵۹)]
کله چه یو تن ستاسو خپل غلام ته وینځه په نکاح ورکړی (یا خپل مزدور ته وینځه په نکاح ورکړی) نو وینځه دِے د مالك عورت ته نهٔ ګوری او د هغهٔ عورت د نامه نه تر زنګون پورے دے۔ شیخ البانیؒ وائی : دا روایت د دوه وجو نه راجح دے، یو دا چه بل روایت ئے هم تائید کوی او هغه اګرکه ضعیف دے لیکن په شواهدو او متابعاتو کښے چلیږی او هغه دا دے : [اِذَا زَوَّجَ اَحَدُكُم اَمَتَهُ اَوْ عَبْدَهُ اَوْ اَجِيْرَهُ فَلَا تَنْظُرْ اِلٰى عَوْرَتِهٖ وَالْعَوْرَةُ مَا بَيْنَ السُّرَّةِ وَالرُّكْبَةِ [البیهقی : ۲۲۹/۲ رقم : ۳۳۶۱] کله چه یو تن ستاسو خپله وینځه په نکاح ورکړی یا غلام یا مزدور له ښځه وکړی نو ښځه به د مالك عورت ته نهٔ ګوری۔ لیکن بیهقیؒ کښے همداسے بل روایت هم ذکر دے : [اِذَا زَوَّجَ اَحَدُكُم عَبْدَهُ اَوْ اَمَتَهُ (اَوْ اَجِيْرَهُ) فَلَا يَنْظُرَنَّ اِلٰى عَوْرَتِهَا] [البیهقی : ۲۲۶/۲] (کله چه یو تن ستاسو خپل غلام له وادهٔ وکړی یا وینځے له یا مزدور له نو دا (مالك) دِے د هغه ښځے عورت ته نهٔ ګوری۔ (پدے روایت کښے ولید بن مسلم د اوزاعی او د عمرو بن شعیب ترمینځ عنعنه کړیده)۔ ددے اختلاف نه معلومه شوه چه دا روایت مضطرب المتن دے نو پدے کښے ددے خبرے دلیل نشته چه بعض علماؤ وئیلی دی لکه ابوبکر الجصاص په احکام القرآن کښے چه د وینځے عورت د نامه نه تر زنګون پورے دے حالانکه دا خبره د عامو نصوصو خلاف ده۔ ځکه چه وینځه هم د عامو زنانو په شان ده، نو ددے په عورت کښے داسے فراخي ورکولو سره ډیر فساد پیدا کیږی۔ لکه چه شیخ البانیؒ ددے تشریح په (ضعیفه : ۳۷۳/۳) کښے کړیده۔ **ابوبکر** البیهقیؒ ددے روایتونو د نقل کولو نه روستو فرمائی : صحیح دا ده چه وینځه خپل مالك ته – کله ئے چه چا ته په نکاح ورکړه – دارنګه آزاده ښځه خپلو محارمو ته – صرف هغه مواضع ښکاره کولے شی کوم چه د خدمت په

حالت کښې ښکاره کیږي۔ [بیهقی : ۷/ ۹٤/ ۱۳۹۲۱]
[مَادُوْنَ السُّرَّةِ وَفَوْقَ الرُّكْبَةِ]۔ دے حدیث نه ثابتیږي چه د سرې نوم او زنګون عورت نهٔ دے بلکه ددے درمیاني حصه عورت دے۔ **مسئله** : اول خو پدے کښې اتفاق دے چه د نوم او زنګون ښکاره کول بغیر دِ ضرورت نه د مکارم الاخلاق نه نهٔ دی۔ او پدے کښې هم اتفاق دے چه د زنانه نوم او زنګون عورت دے، ښځو او سړو دواړو نه به ئے پټ ساتي۔ لیکن د سړو دپاره پدے کښې اختلاف دے چه آیا نوم او د زنګون سترګه په عورت کښې داخله ده او که نهٔ ؟ پدے کښې درے اقوال دی : (۱) یو **قول** دا دے چه دا دواړه عورت نهٔ دے، دا قول علامه شوکانیؒ او شیخ البانیؒ غوره کړے۔ او د دلیل په اعتبار سره همدا راجح دے۔
دلیل : ۱- یو دا حدیث الباب دے چه دلته ئے درمیاني حصے ته عورت ووئیلو او دے ته د نظر کولو نه ئے منع وفرمائیله۔ معلومه شوه چه نوم او زنګون عورت نهٔ دے۔ (رواه الدارقطنیؒ وحسن اسناده الألبانی فی الارواء کما سیأتی) ۔
۲- دویم :**دلیل** : ابو موسی ﷛ فرمائی :[إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ قَاعِدًا فِيْ مَكَانٍ فِيْهِ مَاءٌ قَدِ انْكَشَفَتْ عَنْ رُكْبَتَيْهِ أَوْ رُكْبَتِهِ فَلَمَّا دَخَلَ عُثْمَانُ غَطَّاهَا] [رواه البخاری فی المناقب : ۳٦۹۵] ۔ (نبی کریم ﷺ په یو داسے ځائے کښې ناست وو چه هلته اُوبهٔ وے، او د هغهٔ زنګنونه یا زنګون ښکاره کیدو، هرکله چه عثمان ﷛ راننوتو نو نبی ﷺ هغه پټ کړو۔
استدلال : که چرته زنګنونه عورت وے نو نبی ﷺ به نهٔ ښکاره کولے او د عثمان ﷛ په راتګ به ئے نهٔ پټولے، لیکن نور علماء ددے نه دا جواب ورکوی چه دا اُوبو ته د داخلیدو په وجه ښکاره شوی وو او د عثمان ﷛ نه د ډیرے حیاء په وجه ئے پټ کړو نهٔ پدے وجه چه دا عورت دے۔ دا وجه ده چه ابو موسیٰ ﷛ نه ئے نهٔ وو پټ کړے۔
حافظ ابن حجرؒ وائی : دا حدیث دلیل دے چه زنګون د عورت نه نهٔ دے۔
۳- **دلیل** : ابوبکر صدیق ﷛ او دغه شان عمرو بن زراره ﷛ دواړو د نبی ﷺ په حضور کښې خپل زنګنونه ښکاره کړی۔ او نبی ﷺ په هغوی باندے رد نهٔ دے کړے، نو که دا عورت وے، نبی ﷺ به پرے خامخا رد کولے لکه څنګه ئے چه په جرهد اسلمی ﷛ باندے د فخذ (پټون) په ښکاره کولو رد کړے وو۔ [الثمر المستطاب للشیخ الألبانی : ۱/ ۲۷٦]۔ د ابوبکر صدیق ﷛ د زنګون ښکاره کول په بخاری (۳٦٦۱) کښې ذکر دی،

[اِذْ اَقْبَلَ اَبُوْبَكْرٍ آخِذًا بِطَرَفِ ثَوْبِهٖ حَتّٰى اَبْدٰى عَنْ رُكْبَتِهٖ] ۔ او روایت د عمرو بن زراره په احمد (۱۷۸۱۷) او طبرانیؒ کښې ذکر دے، واسناده صحیح۔

٤- علي بن ابي طالب رضی الله عنه فرمائی : [ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ اِلٰى سُرَّتِهٖ] ۔ حمزه رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ دواړو زنګنونو ته نظر پورته کړو بیا ئے د هغهٔ نامهٔ ته نظر پورته کړو۔ [بخاری : ۳۰۹۱، مسلم : ٥٢٤٤] ۔ لیکن دا د جامو دپاسه وو کما هو الظاهر ځکه چه په دغه روایت کښې ورسره دا دی چه نبی ﷺ خادر راوغوښتو او هغه ئے واغوستو بیا صحابه کرامو ته راغلو چه په هغوئ کښې حمزه رضی الله عنه هم وو په حالت د نشه کښې۔ او دا د شرابو د حرامو الی نه مخکښې واقعه ده۔

(۲) قول دا دے چه دواړه عورت دے۔ (۳) **قول** دا دے چه رکبه عورت دے او سُرّه عورت نهٔ دے۔ دلیل دا وائی چه ابو هریره رضی الله عنه د حسن بن علی رضی الله عنه نوم ښکل کړے وو هرکله چه ابو هریره رضی الله عنه د هغهٔ مطالبه وکړه چه ما ته نوم ښکاره کړه چه نبی علیه السلام تا له کوم ځائے ښکل کړے زهٔ درلـه هغه ښکلوم، هغهٔ ورته ښکاره کړو۔ [الاستذکار :٥/٤٣٩، التمهید : ٦/٢٨١]۔ نو که نوم عورت وے نو ابو هریره رضی الله عنه بـه مطالبه نهٔ کولے او حسن رضی الله عنه به ورته نهٔ ښکاره کولے، او دا محاله ده چه نوم ښکل کړی او هغے ته ونهٔ ګوری۔ دارنګه که دا عورت وے نو د عورت ښکلول هم بل چا له جائز نهٔ دی۔ او د رکبه د عورت کیدو دپاره دلیل دغه مخکښے حدیث ذکر کوی چه نبی علیه السلام د عثمان رضی الله عنه نه پټ کړو۔ لیکن اول قول غوره دے، او د نبی علیه السلام د عثمان رضی الله عنه نه د حیاء په وجه پټ کړو۔ وبالله التوفیق۔

درجة الحديث :[إسناده حسن] ابو داود : ٤١١٣، انظر صحيح سنن ابی داود : (٥١٠) ولكن فی متنه اضطراب بينه الألبانی فی الضعيفة (٩٥٧) وقد بينا.

ورون/پتون عورت دے

3112 (15) – وَعَنْ جَرْهَدٍ رضی الله عنه : اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :" اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او جرهد رضی الله عنه فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : آیا تا ته پته نشته چه پتون عورت دے۔ (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ)

تشریح : [جَرْهَد] بن خُویلد رضی الله عنه دا د اصحاب صفه ؤ نه دے۔

واقعه دا وه چه جرهد ﷺ په مسجد کښې وو رسول الله ﷺ پرې راتیریدو نو د هغهٔ پتون ښکاره کیدو او په هغهٔ باندې یو څادر وو نو دا ئې ورته وفرمایل : آیا تا ته پته نشته چه پتون عورت دې۔

[اَمَا عَلِمْتَ] دې صحابی ته خو دا مسئله نهٔ وه معلومه چه فخذ عورت دې نو پدې کښې هغهٔ ته تعلیم ورکول مقصد وو۔ یعنی اِعْلَمْ۔ (پوهه شه)۔

درجة الحديث :[صحيح] ابو داود : ٤٠١٤، الترمذى : ٢٧٩٥، وقال حديث حسن، ما ارى ان اسناده بمتصل آه، لكنه حسن او أعلى فان له شواهد كثيرة يرقى بها إلى درجة الصحة بل أطلق عليه الطحاوى أنه حديث متواتر۔ انظر الارواء (١/٢٩٨)

3113 (16) – وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَهُ : " **يَا عَلِيُّ لَا تُبْرِزْ فَخِذَكَ وَلَا تَنْظُرْ إِلٰى فَخِذِ حَيٍّ وَلَا مَيِّتٍ** ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او علی ﷺ نه روایت دې چه بیشکه رسول الله ﷺ هغهٔ ته وفرمایل : اې علی ! خپل پتون (د خلکو مخامخ) مهٔ ښکاره کوه۔ او مهٔ د ژوندی شخص پتون ته ګوره او مهٔ د مړی۔ (ابوداوُدؔ، ابن ماجهؔ)

تشریح : [لَا تُبْرِزْ] دا د ابراز (باب افعال) نه دې، دا حدیث هم دلیل دې چه د پتون پټول لازم دی ځکه چه دا د عورت نه دې۔ او دلیل دې چه مړې او ژوندې د عورت په حکم کښې برابر دی۔ [حَيٍّ]۔ یعنی د پردی سړی مراد دې۔ [وَمَيِّتٍ] دا حدیث دلیل دې چه د مړی د مخ نه ماسوئ ټول بدن عورت دې، پټول ئې واجب دی۔

دلیل : قرآن کریم : [سَوْءَةَ اَخِيْهِ] نه معلومیږی چه د مړی بدن ته ئې سوءه وئیلې او سَوْءَه هغې ته وائی : [مَا يَسُوْءُ صَاحِبُهُ بِكَشْفِهِ] چه بنده د هغې په ښکاره کولو خفه کیږی۔ دا لغوی استدلال دې۔

۲- د صحیحینو په روایت کښې راغلی دی چه مصعب بن عمیر ﷺ چه کله په اُحد کښې شهید شو، څادر وړوکې وو نو نبی ﷺ ورله په خپو باندې سرګړې واچولو۔ نو دا دلیل دې چه د مړی ټول بدن پټول واجب دی او دغه شان واقعهٔ د حمزه ﷺ هم وه۔ او د مخ د ښکاره کولو دلیل د ابوبکر صدیق ﷺ عمل دې چه د نبی کریم ﷺ د وفات په وخت ئې د هغهٔ مخ ښکاره کړو او بیا ئې ښکل کړو۔

ابوداوُدؒ وائي : پدے حدیث کښے نکارت دے۔

درجة الحديث :[إسناده ضَعِيفٌ جِدًّا وَالْحَدِيْثُ صَحِيْحٌ] أبو داود : ۳۱٤۰، فی الحمام وابن ماجه : ۱٤٦۰ فی الجنائز، قال ابوداود : هذا الحديث فيه نكارة، اه۔ وفيه انقطاعان، بين ابن جريج وبين حبيب بن ابى ثابت۔ وكذا لا يثبت لحبيب رواية عن عاصم بن ضمرة (العلل لابن أبى حاتم وقال ابن معين : حبيب لم يسمعه من عاصم بل بينهما رجل ليس بثقة، وهو عمزو بن خالد الواسطى۔ ومسند احمد : ۱۲٤۸، وقال شعيب : إسناده صحيح لغيره وهذا اسناد ضعيف لانقطاعه۔ وللحديث شواهد صحح بعضها الحاكم ووافقه الذهبى وحسن بعضها الترمذى وعلقها البخارى فى صحيحه فى (۱۰۵/۱) باب ما يذكر فى الفخذ۔ وراجع الارواء (۲۹۸/۱)

3114 (17) – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَحْشٍ ﷺ قَالَ : مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى مَعْمَرٍ وَفَخِذَاهُ مَكْشُوْفَتَانِ قَالَ:" **يَا مَعْمَرُ! غَطِّ فَخِذَيْكَ فَإِنَّ الْفَخِذَيْنِ عَوْرَةٌ** ". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : او محمد بن جحش ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ په معمر باندے ورتیر شو او د هغهٔ دواړه پتنونه ښکاره وو، نو وے فرمایل : اے معمره ! خپل پتنونه دِے پټ کړه ځکه چه پتنونه عورت دے۔ (بغویؒ په شرح السنه کښے روایت کړے)

تشریح : محمد بن جحش ﷺ: دا محمد بن عبد الله بن جحش دے۔ دا هم صحابی دے۔ او پلارئے هم۔ او معمر ﷺ هم صحابی دے۔ بل یو معمر دے هغه تابعی دے۔ د امام زهريؒ شاګرد دے، هغه دلته ندے مراد۔ [غَطِّ] مجزوم دے او په جزم سره یاء غورزیدلے ده، دا د غطّٰی یُغَطِّیُ نه دے۔ پتهولو ته وائي۔

مسئله : پدے درے حدیثونو کښے دا مسئله ذکر شوه چه پتون عورت دے لیکن پدے کښے اختلاف دے چه آیا پتون په عورت کښے داخل دے او که نهٔ ؟ دوه قوله دی : (۱) امام ابوحنیفهؒ، شافعيؒ، احمدؒ او جمهور علماءؒ وائي چه فخذ (پتون) عورت دے، دا درے واړه حدیثونه پرے دلیل دے۔ او دا روایتونه په مجموع الطرق سره صحیح دی او قابل د استدلال دی۔ او نور دلائل هم شته لکه په بخاري وغیره کښے موجود دی۔ (۲) قول : امام مالكؒ، بخاريؒ ، عطاءؒ، داودؒ، او ابو سعید اصطخريؒ وائي چه فخذین د عورت نه نهٔ دی۔ او دا د امام احمدؒ نه یو روایت دے۔ او دا قول شیخ ابن عثیمینؒ غوره کړے۔

دلائل : ۱- د انس ﷺ حدیث دے چه رسول الله ﷺ د خیبر په کوڅو کښے په اس

باندے سور وو : [وَاِنَّ رُكْبَتِى لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ اللّٰهِ ﷺ ثُمَّ حَسَرَ الْاِزَارَ عَنْ فَخِذِهٖ حَتّٰى اَنِّىْ اَنْظُرُ اِلٰى بَيَاضِ فَخِذِ نَبِيِّ اللّٰهِ ﷺ] [بخاری رقم: ۳۷۱] - او زما زنګون د رسول الله ﷺ د پتون نه لګیدلو، بیا هغهٔ د خپل پتون نه لنګ لرے کړو تردے چه ما د نبی ﷺ د پتون سپینوالے ولیدو- دوئ وائی چه که پتون عورت وے نو نبی ﷺ به داسے ښکاره نهٔ وے پریخودے، او که دا غیر اختیاری ښکاره شوے وے نو نبی ﷺ به زر پټ کړے وے-

۲- دارنګه حفصه بنت عمر بن خطاب رضی الله عنها فرمائی : چه نبی ﷺ یوه ورځ ناست وو [وَقَدْ وَضَعَ ثَوْبًا بَيْنَ فَخِذَيْهِ] - او هغهٔ جامه د دواړو پتونو په مینځ کښے ایخودے وه (یعنی د هغهٔ دواړه پتونونه ښکاره وو)، ابوبکر او عمر رضی الله عنهما راغلل پټ ئے نکړل تردے چه کله عثمان رضی الله عنه راغلو نو پټ ئے کړل، حفصے رضی الله عنها ترے تپوس وکړو، نبی ﷺ وفرمایل : آیا زهٔ به د هغه چا نه ولے حیاء نکوم چه ملائك د هغهٔ نه حیاء کوی-

[مسند احمد : ۲٦٥۰۹ إسناده صحیح لغیره- شعیب]-

جواب : پدے روایت کښے بعض وائی د شریك راوی وَهم دے، او هغه دا چه رسول الله ﷺ ساقین (پنډئ) ښکاره کړی وو، نهٔ پتون- لکه هغه روایت په بخاری (۳٦۷٤) او مسلم (٦۳٦۷) کښے ذکر دے- نور علماء وائی چه هغه جدا واقعه ده هغه روایت د ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه دے او هغه په یو باغ کښے د اَریس په کوهی کښے راغلے وه- او دا روایت د حفصه رضی الله عنها دے او پدے کښے د کوهی او د باغ خبره نشته (نو دا د کور واقعه ده) پدے وجه ترے حفصے رضی الله عنها تپوس کړے چه تا ولے د عثمان رضی الله عنه په راتللو جامه برابره کړه؟-

او حافظ ابن حجرؒ فرمائی : د کوهی والا روایت کښے هم پتون ښکاره کیدل ذکر دی او هغه روایت په طبرانی کښے راغلے دے او مجمع الزوائد کښے ئے وئیلی چه ددے رجال رجال د صحیح دی او رجال ئے موثقون دی، سویٰ د شیخ الطبرانیؒ علی بن سعیدؒ نه او هغه حسن الحدیث دے- آه- او په مسلم کښے د عائشے رضی الله عنها نه د کور په واقعه کښے په طریقه د شك سره نقل دی : [كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مُضْطَجِعًا فِىْ بَيْتِىْ كَاشِفًا عَنْ فَخِذَيْهِ اَوْ سَاقَيْهِ فَاسْتَأْذَنَ اَبُوْبَكْرٍ] چه یا خو فخذین ئے ښکاره کړی وو یا ساقین- [مسلم : ٦۳٦۲]

پدے کښے امام بخاریؒ وئیلی دی چه : [حَدِيْثُ اَنَسٍ اَسْنَدُ وَحَدِيْثُ جَرْهَدٍ اَحْوَطُ]-

د انس بن مالك رضی الله عنه حدیث د سند په لحاظ ډیر قوی دے چه په هغے کښے د رسول الله ﷺ پتون ښکاره کیدل ذکر دی، او حدیث جرهد کښے چه پتون ته عورت وئیلے شوے

نو دے کښے احتیاط دے۔ [صحیح البخاری فی الصلاة (۱۲) باب ما یکره فی الفخذ]۔

او امام نوویؒ وئیلی دی: چه حدیث د انس ﷺ کښے چه پتون ښکاره کیدل ذکر دی نو دا پدے باندے حمل دی چه لنګ ترے غیر اختیاری اخوا شوے وو، یا د اس په راښکلو سره ښکاره شوے وو، نۀ دا چه نبی ﷺ قصداً ښکاره کړے۔ لکه پدے باندے دلیل دا دے چه د صحیحینو په یو روایت کښے داسے الفاظ دی: [فَانْحَسَرَ الْإِزَارُ]۔ نو لنګ ترے لرے شوے وو۔ (یعنی غیر اختیاری) دغه شان که داسے ووایو چه عورت ئے ښکاره کړے نو ددے نه مراد به دا وی چه بعض جامه ئے لرے کړے نۀ ټول عورت ښکاره کول۔ دارنګه دا د یوے موقعے او محل واقعه ده نو عموم نۀ لری او پدے کښے حجت نشته۔ (نوویؒ)

وجه د ترجیح د اول مذهب دا هم ده چه اولنی روایتونه صریح دی چه فخذ عورت دے او د جواز والا روایتونه صریح نۀ دی بلکه ډیر احتمالات لری، او دا قانون دے چه د تعارض په وخت کښے به صریح مقدم وی په محتمل باندے۔

دارنګه اول قول والو سره قولی احادیث دی، او دا قسم احادیث د امت دپاره قوانین کلیه وی، په خلاف د فعلی احادیثو نه چه په هغے کښے د تخصیص احتمال هم وی نو عند التعارض به قولی احادیثو لره وی په فعلی باندے ترجیح وی۔

لیکن دے کښے تحقیقی قول حافظ ابن قیمؒ ذکر کړے چه عورتونه دوه قسمه دی:

(۱) یو عورت مغلظه دے، چه د هغے په ښکاره کولو کښے ډیر زجر او شدت راغلے دے لکه قبل او دبر ښکاره کول۔ (۲) او بل عورت مخففه دے، او هغه پتونه دی، نو کوم ځائے چه د پتونو د کتو نه د سترګو ښکته کولو امر راغلے نو هغه پدے وجه چه دا عورت دے، او کوم ځائے چه ښکاره شویدی نو هغه پدے وجه چه دا عورت مخففه دے۔ نو د دواړو ترمینځ هیڅ منافات نشته۔

[المجموع شرح المهذب: ۳/۱۵۹-۱۶۰، حاشیة ابن القیم علی سنن أبی داود: ۱۱/۳۶]

نو معلومه شوه چه د عورت مراتب بیړندل ښکاره دی، په عورت غلیظه ښکاره کیدو باندے به سخت زجر وی او په فخذ باندے به متوسط درجه زجر وی۔

درجة الحديث: [حسن] البخاری فی تاریخه: ۱۰/۱۳/۲، وعلقه البخاری فی صحیحه: کتاب الصلاة ۱۲- باب ما یذکر فی الفخذ، مسند احمد: ۲۲۵٤۸، وصححه الحاکم: ۷۳۶۰۔

بغير د ضرورت نه په تنهايئ کښې هم عورت ښکاره کول بهتر نۀ دی

3115 (18) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ :" إِيَّاكُمْ وَالتَّعَرِّيَ فَإِنَّ مَعَكُمْ مَنْ لَا يُفَارِقُكُمْ إِلَّا عِنْدَ الْغَائِطِ وَحِيْنَ يُفْضِي الرَّجُلُ إِلٰى أَهْلِهِ فَاسْتَحْيُوْهُمْ وَأَكْرِمُوْهُمْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د برېنډوالی نه ځان وساتئ، ځکه چه ستاسو سره هغه ملائك دی چه تاسو نه نۀ جدا کیږی، سوئ د بول کولو وخت نه، او په هغه وخت کښې چه سړے خپل اهل ته رسيدل کوی (يعنی نزديکت کوی) نو تاسو د هغوی نه شرم وکړئ او د هغوی عزت وکړئ۔ (ترمذیؒ)

تشريح :[وَحِيْنَ يُفْضِي الرَّجُلُ]۔ او کله چه سړے خپل اهل ته رسيدل کوی۔ يعنی په حالت د نزديکت کښې هم ملائك جدا کیږی۔ نو پدے کښې رد دے په عادت د عربو باندے چه هغوی به بغير د ضرورت نه ځانونه برېنډول۔

[فَإِنَّ مَعَكُمْ] دا ورسره ځکه وائی چه که تۀ ووائے چه د برېنډ والی په حالت کښې خو دلته ما سره څوك نشته نو جواب کوی چه ملائك شته د هغوی لحاظ پکار دے او دا د ملائکو اکرام دے۔ ـدے نه يا کرامًا کاتبين ملائك مراد دی۔ (ب) يا حفظه ملائك دی۔ (ج) دارنګه شيطانان هم دی لکه چه په بل روايت کښې دی۔

درجة الحديث :[ضعيف] الترمذی : ۲۸۰۰، وفيه ليث بن أبي سليم قال فی التقريب : صدوق اختلط أخيرًا ولم يتميز حديثه فترك، وضعفه الالبانی فی الارواء (٦٤).

ښځه پردی سړی ته کتلے شی یا نۀ ؟

3116 (19) – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ :أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَمَيْمُوْنَةُ إِذْ أَقْبَلَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" اِحْتَجِبَا مِنْهُ "فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلَيْسَ هُوَ أَعْمٰى لَا يُبْصِرُنَا ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا ؟ أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ ؟ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او ام سلمه ﷺ نه روايت دے چه هغه او ميمونه ﷺ د رسول الله ﷺ په خوا کښې وے، چه اچانك ابن ام مکتوم ﷺ (چه نابينا صحابی وو) رامخامخ شو او رسول الله

ﷺ ته راننوتو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو دواړه دده نه پرده وکړئ، ما وویل : اے د الله رسولـه ! آیا دے ګنے ړوند نهٔ دے، چه مونږ نهٔ وینی؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا تاسو دواړه ړندے یئ ؟ آیا تاسو دے نهٔ وینئ ؟۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابو داودؒ)

تشریح : [اِحْتَجِبَا] **مسئله** : د پیغمبر د بیبیانو پرده د نورو امت د زنانو نه سخته وه، او دا فرق ابن بطالؒ ذکر کړے چه دا پخوانے شارح د صحیح بخاریؒ دے او حافظ ابن حجرؒ هم دده نه زیات نقل کوئ۔ دلته **سوال** دا دے چه روستو په باب عشرة النساء کښے په حدیث د عائشه ﷞ کښے راغلی دی، هغه وائی : حبشو په مسجد نبوی کښے په نیزو لوبے کولے ما ورته کتل، او ددے حدیث نه معلومه شوه چه زنانو له پردو سړو ته کتل ناروا دی، نو ددے څه تطبیق دے؟

(۱) یو **جواب** دا دے چه دا حدیث د ام سلمه ﷞ ضعیف دے، پدے کښے نبهان د ام سلمه ﷞ مولیٰ ضعیف دے، صرف زهریؒ ترے روایت کړے نو دا مجهول العین دے۔ او حدیث د عائشه ﷞ د صحیحینو روایت دے، دا محدثانه جواب دے۔

(۲) که بالفرض دا روایت صحیح شی نو بیا جواب دا دے چه امهات المؤمنین د نورو زنانو په شان نهٔ دی بلکه په هغوی باندے احتیاط زیات لازم وو، نو دا د باب التشدید فی الورع نه دے ځکه چه د بیبیانو مرتبه اُوچته وه۔ او پدے فرق باندے دلیل دا دے چه رسول الله ﷺ فاطمه بنت قیس ﷞ ته وئیلی وو چه ته د ابن مکتوم ﷛ کره عدت تیر کړه [فَإِنَّهُ رَجُلٌ اَعْمٰى تَضَعِيْنَ ثِيَابَكِ عِنْدَهُ] [مسلم : ۳۷۷۰]۔

ته به د هغهٔ سره جامے اړدے او هغه به تا نهٔ وینی۔ نو دلته وګوره فاطمه بنت قیس ﷞ به ابن مکتوم ﷛ ته ګوری، دا دومره عیب نهٔ دے۔ او امهات المؤمنین ئے منع کړے چه تاسو به ابن مکتوم ته نهٔ ګورئ۔

دارنګه د سړی کتل پردئ زنانه ته ډیره ګناه ده او د زنانه نظر سړی ته دومره ګناه نهٔ ده، دا وجه ده چه سړی ته دا خطاب نهٔ دے شوے چه تاسو د زنانو نه خپل مخونه پټ کړئ وجه دا ده چه د سړی شهوت زیات دے د زنانه نه، نو که سړے پردئ زنانه ته وګوری نو فساد ترے زیات ولاړیږی او که زنانه پردی سړی ته وګوری نو دومره فساد ترے نهٔ پیدا کیږی۔ بله دا چه د سړی شهوت په کتو سره پیدا کیږی او د زنانه شهوت په ګوتے وروړلو سره پیدا کیږی۔

او چا چه دا وئیلی دی چه د زنانه شهوت زیات دے لکه هدایه کتاب الکراهیة کښې لیکلی دی۔ نو دا خبره شرعًا او طِبًّا او تجربةً خطاء ده، شرعاً ځکه چه د یوے زنانه دپاره څلور سړی په نکاح کول جائز نهٔ دی۔ طبی لحاظ سره پدے وجه چه د زنانه په مزاج کښې رطوبت او برودت دے۔ او تجربه هم ددے گواه ده۔

الغرض د زنانه سړی ته کتل دومره غټه گناه نهٔ ده، او قرآن کریم کښې چه دا راغلی دی چه زنانه به هم نظرونه خکته ساتی۔ نو د هغې مطلب دا دے چه د شهوت په نظر به سړو ته نهٔ گوری، او هرچه عائشې ﷺ کتلی دی نو د هغې جواب دا دے چه یو خو هغې لوبو ته کتلي نهٔ سړو ته۔ دویم : په هغه حدیث کښې خپله داسے الفاظ راغلی دی چه زهٔ ماشومه اُوم [فَاقْدُرُوْا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيْثَةِ السِّنِّ الْحَرِيْصَةِ عَلَى اللَّهْوِ] ۔ (تاسو اندازه وکړئ د هغه جینئ چه نوی عمر والا (وړه) وی چه د لوبو سره ئې مینه وی۔ والله اعلم۔

درجة الحدیث :[ضعیف] وَفِی إِسْنَادِهِ نَبْهَان مَوْلی أُمِّ سَلَمَة فیه جَهَالَةٌ، أخرجه أبوداود : ٤١١٢، الترمذی : ٢٧٧٨، وقال حسن صحیح، والنسائی : ٣٥٩، ٣٦٠ فی عشرة النساء، وانظر الارواء (٦ : ٢٠٨)۔

په خلوت کښې هم خپل عورت پټ ساته

3117 (20) - وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيْمٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " اِحْفَظْ عَوْرَتَكَ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِكَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ " فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ الرَّجُلُ خَالِيًا ؟ قَالَ : " فَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيٰى مِنْهُ " . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او بهز بن حکیمؒ د خپل پلار نه او د خپل نیکه نه روایت کوی چه هغهٔ وفرمایل : رسول الله ﷺ وفرمایل : خپل عورت محفوظ وساته سوی د خپلې بی بی نه او د هغې وینځې نه چه ستا ښي لاس ئې مالک دے۔ نو ما ووئیل : اے د الله رسوله ! خبر راکړه که یو تن یواځې خالي کښې وی ؟ هغه وفرمایل : نو الله تعالیٰ دیر لائق دے چه د هغهٔ نه حیاء وکړے شی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : [بَهْزِ بْنِ حَكِيْمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ بْنِ حَيْدَةَ] ددهٔ روایت بعضو ضعیف گڼلے لیکن صحیح دا ده چه ددهٔ سند حسن یا صحیح دے۔ معاویه بن حیده ؓ د رسول الله ﷺ ته تپوس وکړو چه [عَوْرَاتُنَا مَا نَأْتِيْ مِنْهَا وَمَا نَذَرُ] ۔ مونږ کومو عورتونو ته راتلل کولے شو

او كوم به پريدو ؟- نو رسول الله ﷺ دغه ارشاد وفرمائيلو چه الخ-

[اِحۡفَظۡ] - دا د باب د سَمِعَ نه دے، حفاظت ته وائی او كله چه د ضرب نه شی نو بيا د غصے په معنیٰ سره استعماليږی- [اِلَّا مِنۡ زَوۡجَتِكَ] - حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا جمله دليل دے چه ښځے له جائز دی چه د خاوند عورت ته وګوری- نو ددے قياس دا دے چه سړی له هم د خپلے بی بی عورت ته كتل جائز دی- (فتح البارى ۱/۳۸٦) ليكن قياس ته حاجت نشته بلكه ددے د جواز دلائل شته، روستو راځی-

مسئله : آيا د خپلے زنانه عورت ته كتل يا زنانه د خپل خاوند عورت ته ګوری دا جائز دی ؟ (۱) نو پدے كښے بعض متأخرينو احنافو او صاحب هدايه او بعض شافعی فقهاؤ وئيلی دی چه دا كتل جائز نۀ دی- **دليل** : نظر كمزورے كوی او نسيان پيدا كوی- ليكن دا طبی خبره ده- او په يو روايت كښے دا راغلی دی : [فَاِنَّ ذٰلِكَ يُوۡرِثُ الۡعَمٰى] - دا ړوند والے پيدا كوی- نو دا موضوع او دروغجن روايت دے- [السلسلة الضعيفة : ۱/۱۹۷]-

او دے دپاره په دليل كښے حديث د عائشه ﷺ پيش كوی : [مَا نَظَرۡتُ لَوۡ مَا رَأَيۡتُ فَرۡجَ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ قَطُّ] - (ما د رسول الله ﷺ عورت هيڅكله نۀ دے ليدلے) دا هم ضعيف روايت دے، مولی د عائشے ﷺ مجهول دے،

[قال ابن رجب في فتح البارى : ۱/۳۳٦] في إسناده من لا يعرف وقال البوصيرى في مصباح الزجاجة ۲/۹٥ : هذا إسناد ضعيف لجهالة تابعيه]-

او كوم روايت كښے چه دی : [مَا رَأَيۡتُ مِنۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَا رَأَى مِنِّيۡ - اَيِ الۡعَوۡرَةَ] - نو دا موضوع او منكرات روايت دے- دا روايت په ذخيره د احاديثو كښے چرته هم نۀ ښكاره كيږی البته په مختصر المعانی كښے ئے د استهجان الذكر دپاره مثال راوړلے دے-

(۲) قول ثانی : د محققينو علماؤ (لكه داودیؒ، ابن حزمؒ) او الموسوعة الفقهية (۸۹/۳۲) كښے ليكلی : دا مذهب د جمهور الفقهاءؒ دے چه هر يو د ښځے او خاوند د يو بل عورت ته كتلے شی- **دلائل** : ۱- دليل : آيت كښے دی : [وَالَّذِيۡنَ هُمۡ لِفُرُوۡجِهِمۡ حٰفِظُوۡنَ اِلَّا عَلٰى اَزۡوَاجِهِمۡ اَوۡ مَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ] [المؤمنون : ٥] دا دليل دے چه سړی له د ښځے مخامخ عورت ښكاره كول او هغے له دے ته كتل جائز دی-

۲- دا حديث الباب دليل دے : مرقات كښے ليكی : دا دليل دے چه ملك او نكاح دواړه

د جانبينو نه عورتونو ته نظر كول جائز كوي.

۳- صريح دليل : ابن حبانؒ نقل كړي چه د سليمان بن موسىٰ نه د يو سړي په باره كښې پوښتنه وشوه چه د خپلې ښځې عورت ته ګوري دا جائز دي؟ نو هغهٔ ووېل : ما د عطاءؒ نه تپوس وكړو او عطاءؒ ووېل چه ما د عائشې رضي الله عنها نه ددې په باره كښې تپوس وكړو نو هغې دا حديث ذكر كړو : [كُنْتُ اَغْتَسِلُ اَنَا وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنْ اِنَاءٍ بَيْنِيْ وَبَيْنَهٗ وَاحِدٍ فَيُبَادِرُنِيْ حَتّٰى اَقُوْلَ دَعْ لِيْ دَعْ لِيْ قَالَتْ : وَهُمَا جُنُبَانِ] [بخاری : ۲۶۱، مسلم : ۳۲۱ واللفظ له]. حافظ ابن حجرؒ وائي : پدې باندې داوديؒ دليل نيولې چه ښځې او خاوند لره د يو بل عورت ته كتل جائز دي، او دا په مسئله كښې نص او صريح دليل دې. (فتح الباري : ۱/۳۶۴)

٤- عثمان بن مظعون رضي الله عنه نبي عليه السلام ته راغلو وې وئيل : اې د الله رسوله ! زهٔ دا نهٔ خوښوم چه زهٔ د خپلې ښځې عورت ته وګورم او هغه ما ته وګوري، نبي عليه السلام وفرمايل : دا ولې ؟ الله تعالىٰ تهٔ د هغې دپاره او هغه ستا دپاره لباس جوړ كړې، او زهٔ خپل اهل ته ګورم او اهل ماويني، عثمان رضي الله عنه ووېل : د رسول الله ﷺ سره څوك برابريدې شي ! بيا روان شو. (مسند الحارث (زوائد الهيثمي ۱/۵٤۷، رقم : ٤۹۲، اتحاف الخيرة المهرة للبوصيري : ۳۱٦٤) مګر دا روايت ضعيف دې، عبد الرحمن بن زياد الافريقي ضعيف دې. او ابن يحيى بن معين وائي: (هو ضعيف ولا يسقط حديثه) خو معنیٰ ئې د مخكني روايت نه ښكاره شوه.

[فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ يُّسْتَحْيٰ] . مطلب دا دې چه بلا ضرورته عورت ښكاره كول نهٔ دي پكار، او دا د فقهاؤ په نيز په استحباب باندې حمل دې، او د ضرورت په وخت ښكاره كول جائز دي، دليل پدې باندې د بخاري باب دې [بَابُ الْغُسْلِ عُرْيَانًا] (په بربنډه باندې د غسل كولو بيان) بيا ئې د أيوب عليه السلام او د موسىٰ عليه السلام واقعه راوړې چه هغوی په بربنډه لامبلي. اګركه په هغې كښې زمونږ استاذان دا قيد لګوي چه جانګې ئې اغوستې وو، ځكه چه د انبياء عليهم السلام حالت په اعلیٰ درجه حمل كول پكار دي، ليكن حديث كښې ورسره دا قيد نشته، نو خبره به نبي ته سپارو، هغهٔ پكښې قيد نهٔ دې لګولې، لهذا پدې كښې هيڅ عيب نشته. ۲- **دليل** : حديث د عائشې رضي الله عنها مخكښې تير شو چه ما او نبي عليه السلام به د يو لوښي نه لامبل. **سوال** دا دې چه د الله تعالىٰ نه به انسان څنګه پټ

شي هغه خو انسان په خاورو کښې هم ويني ؟ جواب : تهٔ به راتګ کوے په مامور به باندے په اندازه د طاقت خپل، او د الله تعالیٰ لېدل جدا خبره ده۔

درجة الحديث :[حسن] ابوداود : ۴۰۱۷ في الحمام، ترمذی : ۲۷۹۴، وحسنه، نسائی : ۸۹۷۲ في العشرة، ابن ماجه : ۱۹۲۰، وعَلَّقَهُ الْبُخَارِيُّ فِيُ صَحِيُحِهٖ : ۱/۳۸۵ في الطهارة، احمد : ۲۰۰۴۶، الحاكم : ۷۳۵۸ وَصَحَّحَهُ وَوَافَقَهُ الذَّهَبِيُّ.

پردئ ښځے سره يواځے والے منع کوه

3118 (21) - وَعَنُ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" **لَا يَخُلُوَنَّ رَجُلٌ بِامُرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيُطَانُ** ". رَوَاهُ التِّرُمِذِيُّ

ترجمه : او عمر ﷺ د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمايل : يو سړے (پردئ) ښځے سره نهٔ يواځے کيږی مګر دريم د هغوی شيطان وی۔ (ترمذیؒ)

تشريح : [لَا يَخُلُوَنَّ] دا يا جمله خبريه ده يا انشائيه ده۔ اول قول ظاهر دے۔ دا حديث دليل دے چه د مطلق اجنبيه سره خلوت حرام دے، کله چه مَحرم ورسره نهٔ وی يا نورے ثقاتے زنانه ورسره نهٔ وی چه په هغے سره هم خلوت ختميږی۔[الشَّيُطَانُ]۔ يعنی وسوسے او شهوات ورله راپورته کوی تردے چه په زنا کښے واقع شی۔

درجة الحديث :[إسناده صحيح] الترمذی : ۲۱۶۵ في الفتن، وقال صحيح، نسائی کبری : ۹۲۲۴.

شيطان د بنيادم په رګونو کښے ګرځی

3119 (22) - وَعَنُ جَابِرٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" **لَا تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ فَإِنَّ الشَّيُطَانَ يَجُرِيُ مِنُ أَحَدِكُمُ مَجُرَى الدَّمِ** " قُلُنَا : وَمِنُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ؟ قَالَ :" **وَمِنِّيُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ أَعَانَنِيُ عَلَيُهِ فَأَسُلَمَ** ". رَوَاهُ التِّرُمِذِيُّ

ترجمه : او جابر ﷺ د نبی کريم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمايل : تاسو په خاوندانو غائبه ونکو ښځو باندے مهٔ داخليږئ ځکه چه شيطان ستاسو د يو تن نه د وينے په ځائے کښے روان وی۔ مونږ ووېل : او تا نه هم اے د الله رسوله !؟ (شيطان د وينے په ځائے کښے ګرځی) وے فرمايل : او زما نه هم ليکن الله تعالیٰ ما سره د هغهٔ په خلاف

مدد کړے نو هغهٔ اسلام قبول کړے۔ (ترمذیؒ)

تشریح : [لَا تَلِجُوا]۔ دا د وُلُوج نه دے، داخلیدو ته وائی۔ [الْمُغِيبَاتِ] جمع د مُغِيبَةٌ ده۔ هغه زنانه چه خاوند ئے غائب وی، یعنی په پردو ښځو مهٔ ورداخیږئ، او ددے تخصیص ئے وکړو ځکه چه د دوئ خاوند ته شوق پیدا شوے وی، او مانع نهٔ وی، د خاوند یره نهٔ وی۔ [فَإِنَّ الشَّيْطَانَ] یعنی شیطان تاسو سره دے او تاسو ته پته نشته، نو ضرور به دے په فساد کښے واقع کړی۔ ډیر کرته د یو انسان په خپله تقویٰ باندے یقین وی او ګمان ئے دا وی چه ددهٔ نفس هغه زنانه ته نهٔ مائله کیږی چه دے ورکره ورځی ځکه چه تقویٰ ئے زیاته ده، یا د هغے د خاوند او د هغے خپلوانو حقوقو ته ګوری لیکن شیطان ددهٔ په نفس کښے د دغه ښځے محبت اچانك واچوی او په زنا کښے ئے واقع کړی۔

[يَجْرِىْ مِنْ اَحَدِكُمْ] ددے درے معانی ددے کتاب په باب الوسوسة کښے ذکر شوی : (١) [يَجْرِىْ فِي الْعُرُوْقِ]۔ یعنی شیطان په رګونو کښے ګرځی شهوات راپورته کوی۔ (٢) [كَمَجْرَى الدَّمِ]۔ یعنی شیطان د انسان سره داسے روان وی لکه څنګه چه وینه په رګونو کښے روانه وی چه انسان د هغے په روانیدو نهٔ پوهیږی نو دغه شان د شیطان په وسوسه نهٔ پوهیږی۔ دا دواړه احتماله ظاهر دی۔ (٣) [إِلَى وَقْتِ جَرَيَانِ الدَّمِ اَيِ الْمَوْتِ]۔ یعنی د وینے د روانیدو یعنی تر مرګه پورے شیطان د انسان سره روان وی، یعنی اګرکه یو تن بوډا وی بیا به هم خلوت نهٔ کوی۔

[فَأَسْلَمَ] په دے کښے د میم پیش او زبر دواړه مشهور روایتونه دی۔ (١) که پیش شی نو معنیٰ به دا وی : [فَأَسْلَمُ اَنَا مِنْ شَرِّهٖ وَفِتْنَتِهٖ]۔ یعنی زهٔ د هغهٔ د شر او فتنے نه محفوظ یم۔ (٢) او که میم باندے زبر شی نو بیا د اسلام نه دے، یعنی زما قرین (شیطان) اسلام راوړے او مؤمن شوے۔ لکه بل روایت کښے دی : [فَلَا يَأْمُرُنِىْ اِلَّا بِخَيْرٍ]۔ ما ته صرف د خیر حکم کوی۔ او دا احتمال غوره دے ځکه چه په بل روایت کښے : [فَاسْتَسْلَمَ] راغلی دے، یعنی هغه تابع او منقاد شوے او اسلام ئے راوړے۔ (نوویؒ)

او دا احتمال ابن عیینه او ابن حبانؒ هم راجح کړے لکه روښنو الفاظ پرے دلیل دے ځکه چه که دا په کفر باندے پاتے وے نو د خیر امر به ئے ورته نهٔ کولے۔ او دا د نبی کریم ﷺ اکرام او اعزاز او معجزه ده چه الله تعالیٰ ورته دشمن هم تابع کړو۔

او د شیطانانو د ډلے نه د یو تن مسلمان کیدل بعید نهٔ دی۔ او په دے کښے د نبی کریم ﷺ

انتهائي ښائسته معامله ذکر ده تردې چه دشمن هم ورته غاړه ايښې ده او د هغۀ تابع شوې. او که د بچاؤ معنی شي نو دا هم د رسول الله ﷺ ښائسته معامله او د الله تعالیٰ د طرف نه عصمت او حفاظت دې چه خپل نبي ئې د شيطان د شرونو نه ساتلې دې.

فوائد : ١- پدې حديث کښې دا بيان شوې چه د شيطانانو په عامو انسانانو باندې سخت تسلط دې، نيکان وي که بدان نو د هغۀ د شر نه به هغه څوك بچ کيږي چه په الله تعالیٰ باندې توکل وکړي نو الله تعالیٰ به ئې د هغۀ د شرونو نه محفوظ کړي،

(٢) او اشاره ده چه بندګانو له پکار دي چه د الله تعالیٰ نه سوال وکړي چه ددې دشمن نه ئې بچ کړي. (٣) د رسول الله ﷺ اکرام او اعزاز او د الله تعالیٰ د طرف نه د هغۀ معاونت چه شيطان ئې ورله مسلمان کړو. (٤) قاضي عياضؒ وائي : د امت پدې اجماع او اتفاق دې چه نبي کريم ﷺ د شيطان نه محفوظ دې، نۀ د هغۀ بدن ته هيڅ قسم ضرر رسولې شي او نۀ د هغۀ خيالاتو ته په وسوسو سره او نۀ د هغۀ ژبې ته چه د هغۀ په ژبه غلطې خبرې جاري کړي. (البحر المحيط الثجاج)

درجة الحديث : [صحيح] الترمذي : ١١٧٢، وفي إسناده مجالد بن سعيد ضعيف من قبل حفظه، لكن جمع مجالد في هذا المتن ثلاثة أحاديث وهي صحيحة، ابن ماجه : ١٧٧٩، وأحمد : ٣/٣٠٩.

آيا غلام د خپلې مالکې دپاره محرم دې ؟

3120 (23) - وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَتَى فَاطِمَةَ بِعَبْدٍ قَدْ وَهَبَهُ لَهَا وَعَلَى فَاطِمَةَ ثَوْبٌ إِذَا قَنَّعَتْ بِهِ رَأْسَهَا لَمْ يَبْلُغْ رِجْلَيْهَا وَإِذَا غَطَّتْ بِهِ رِجْلَيْهَا لَمْ يَبْلُغْ رَأْسَهَا فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مَا تَلْقَى قَالَ : "**إِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكِ بَأْسٌ إِنَّمَا هُوَ أَبُوكِ وَغُلَامُكِ**". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : بيشکه نبي کريم ﷺ فاطمې ﷺ ته د هغه غلام سره راغلو چه هغې ته ئې بخښلې وو او په فاطمه باندې يوه جامه وه هرکله چه به ئې په هغې سره سر پټ کړو نو د هغې خپو ته به نۀ رسيده او کله چه به ئې په هغې سره خپې پټې کړې نو سر ته به ئې نۀ رسيده، هرکله چه رسول الله ﷺ هغه تکليف وليدو چه هغه ورسره ملاويده نو وې فرمايل : شان دا دې په تا باندې هيڅ ګناه نشته (چه ته دا سې تکلف وکړې) ځکه چه دا (يو) ستا پلار او (بل دې) غلام دې. (ابوداودؒ)

تشريح : [بِعَبْدٍ] ـاَیْ مُصَاحِبًا بِهٖ] يعنې دغه غلام رسول الله ﷺ ځان سره شريك راوستو کوم ئې چه فاطمې ته بخښلې وو۔ او باء په معنىٰ د مَعَ سره هم صحيح ده۔
ابتداء کښې فاطمې ؓ رسول الله ﷺ نه د غلام مطالبه وکړه نو رسول الله ﷺ ورته څه تسبيحات وخودل چه هغه د علماؤ ترمينځ په تسبيحاتِ فاطمه سره مشهور دي۔
چه پدې سره به تا سره مدد کيږي، ليکن په روستو زمانه کښې چه کله غلامان راډير شول نو رسول الله ﷺ فاطمې ؓ ته غلام هم ورکړو۔ [قَنَّعَتْ]۔ د تقنيع نه دے، [اَیْ سَتَرَتْ وَغَطَّتْ] ۔ پټ ئې کړو۔ [مَا تَلْقَیْ] يعنې هغه حياء او مشکلاتو سره چه هغه ملاويږي۔ [اِنَّمَا هُوَ] يعنې دا ليدونکے يو ستا پلار او بل ستا غلام (هلك) دے۔
فوائد : (۱) سخته حياء د فاطمې ؓ ۔ (۲) ښځې لره د اجنبي نه سر او خپې پټول ضروري دي۔ (۳) **مسئله** : آيا غلام د سيّدې محرم دے؟ او آيا سيّده به د خپل غلام نه ستر کوي۔ پدې کښې دوه مذهبه دي : (۱) ابوحنيفةؒ مذهب دا دے چه د غلام نه ستر د سيدې دپاره ضروري دے۔ **دلائل** : ۱- دليل : سعيد بن جبيرؒ وائي : [لَا يَغُرَّنَّكُمْ آيَةُ النُّوْرِ فَاِنَّ الْمُرَادَ بِهَا الْاِمَاءُ] په سورة النور کښې چه (اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ) راغلې، نو د هغې نه مراد وينځې دي، نهٔ غلامان۔ ۲- **دليل** : د دواړو ترمينځ قرابت نشته، نهٔ ئې خاوند دے، او نهٔ ئې بل مَحرم، نو د زنا واقع کيدو احتمال دے۔ (۲) جمهورؒ وائي : غلام د محارمو نه دے، **دلائل** : ۱- دليل : د سورت نور په آيت کښې غلامان مراد دي، ځکه که اماء (وينځې) مراد شي نو تکرار به راشي ځکه چه هلته خو (اَوْ نِسَائِهِنَّ) نه لفظ راغلے دے۔
۲- **دليل**: دا حديث الباب دے۔ ابن رسلانؒ وائي : دا حديث دليل دے چه غلام د خپلې سيدې دپاره مَحرم دے، د هغې سره خلوت کولے شي او د هغې سره سفر کولے شي، او د هغې هغه ځايونو ته کتلے شي کوم ځائے ته چه مَحرم کتلے شي۔
۳- **دليل** : روستو په باب العتق کښې د ام سلمه ؓ روايت راځي : [اِذَا كَانَ عِنْدَ مُكَاتَبِ اِحْدَاكُنَّ وَفَاءٌ فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ] [الترمذي : ۱۲٦۱، ابوداود : ۳۹۳۰ ابن ماجه]۔
کله چه ستاسو د يو مکاتب سره د رقم ادائيگۍ پوره شي نو بيا دې ترې پرده کوي۔ (وسنده ضعيف لاجل نبهان مولى ام سلمة)
٤- ذکوانؒ د عائشې ؓ غلام وو، هغهٔ به عائشې ؓ ته د قرآن کريم نه (په لاس کښې نيولو سره) امامت کولو او خلوت به ئې ورسره کولو (بخاري بَابُ اِمَامَةِ الْعَبْدِ وَالْمَوْلٰى :

۲٦) او همدا قول غوره دے۔ **اول** قول والا وائی چه دلته غلام ذکر دے نو ددے نه مراد ماشوم هلك وو۔ سُبُکیؒ په "حلبیات" کښے وئیلی دی چه ددے تائید دا دے چه په عربیٔ کښے غلام هلك ته وائی۔ او ددهٔ د بلوغ حالت هم نهٔ دے معلوم، نو پدے کښے د جواز هیڅ دلیل نشته۔ بله دا چه دلته خلوت هم نشته او دا هم نهٔ ده معلومه چه کوم ځائے ته ئے کتل، او کله چه احتمال راشی نو استدلال باطل شی۔ (سیوطیؒ : مرقاة الصعود) لیکن دا خبره د نورو دلائلو په وجه ضعیفه ده، او دلته ورته عبد هم وئیلے شویدے۔ او رسول الله ﷺ علت د عبدیت بیان کړے نهٔ د وړوکوالی۔

ابن رسلانؒ وائی چه پدے حدیث کښے دلیل دے چه پلار او غلام ته ویښتهٔ او قدمونه ښکاره کول جائز دی۔ او دغه شان په المفاتیح کښے مظهریؒ هم لیکلی دی، چه دا صریح دلیل دے چه غلام د سیّدے د محارمو نه دے۔

اول رمضان ۲۰۱۹/۵/٦ء

درجة الحدیث :[إسناده جید] أخرجه أبوداود : ٤١٠٦، وقد تکلم علیه الالبانی فی تعقیبه علی کتاب الحجاب للعلامة ابی الأعلی المودودی ثم فی الارواء (۱۷۹۹)

الفصل الثالث

ښځو مینځ کښے د شکی مخنث راتللو ممانعت

3121 (24) - عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ : أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ عِنْدَهَا وَفِي الْبَيْتِ مُخَنَّثٌ فَقَالَ : لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ أَخِي أُمِّ سَلَمَةَ : يَا عَبْدَ اللّٰهِ إِنْ فَتَحَ اللّٰهُ لَكُمْ غَدًا الطَّائِفَ فَإِنِّي أَدُلُّكَ عَلَى ابْنَةِ غَيْلَانَ فَإِنَّهَا تُقْبِلُ بِأَرْبَعٍ وَتُدْبِرُ بِثَمَانٍ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : **" لَا يَدْخُلَنَّ هٰؤُلَاءِ عَلَيْكُمْ "**. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ د هغے سره وو او په کوټه کښے مُخنث (هیجړا) وو، نو هغهٔ د ام سلمے ورور عبد الله بن ابی امیه رضی الله عنه ته ووئیل : اے عبد الله ! که چرے الله تعالیٰ تاسو ته صبا له طائف فتح کړو نو زهٔ به تا ته د غیلان لور درښایم، ځکه چه هغه (د چاق والی په وجه سره) په څلور کندو سره رامخامخ کیږی او په اتو (کندو) سره شا راړه وی (یعنی مخامخ نه چه راروانه وی نو په خیټه کښے ئے څلور کندے جوړیږی او چه شا راواړه وی نو اته کندے ښکاره کیږی) نو نبی کریم ﷺ

وفرمایل : دا کسان دِې په تاسو باندې نهٔ داخلیږی۔ (ځکه چه دا په شهواتو پوهیږی) (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشریح : حدیث کښې اول واقعه بیا مسئله ده۔ واقعه دا وه چه د مکې فتح چه په اتم (۸) کال وشوه نو نبی ﷺ اراده وکړه چه د ثقیف او هوازن مقابله وکړی نو پدې کښې د حنین غزا راغله، الله تعالیٰ خپل نبی ته فتح ورکړه نو ثقیف او هوازن د حنین نه طائف ته وتښتیدل او هلته په یوه لویه قلعه کښې ننوتل، دلته نبی کریم ﷺ او صحابه کرام راغلل او د دویٔ نه ئې محاصره واچوله او بهرئې په انتظار کښې خیمې ولګولې، نبی ﷺ په یوه خیمه کښې وو او د هغهٔ سره ام سلمه ؓ وه او د هغې سره د هغې ورور عبد الله بن ابی امیه ؓ هم موجود وو، پدې کښې یو مُخنث - چه د هغهٔ نوم هِیت وو- دا خبره وکړه چه اے عبد الله ! که صبا له الله تعالیٰ تاسو ته طائف فتح کړو نو زهٔ به تا ته د غیلان ثقفی لور وښایم چه داسې خربه او پهلوانه ده چه د مخې نه راروانه وی نو په خیټه کښې ئې څلور کندې جوړیږی او که د شا نه ورته ګورې نو اتهٔ کندې جوړیږی، نو نبی ﷺ دا خبرې واوریدې نو د خیمې پرده ئې اُوچته کړه او وې فرمایل : چه دا قسم کسان دِې په تاسو نهٔ راننوځی، او نبی ﷺ دا پدې وجه پریخودې وو چه دا په آیت (اَوِ التّٰبِعِیۡنَ غَیۡرِ اُولِی الۡاِرۡبَةِ مِنَ الرِّجَالِ) کښې داخل وو۔ (یعنی هغه خلك چه د زنانو څه ضرورت نهٔ لری، شهواتو سره ئې تعلق نهٔ وی) لیکن هرکله چه دهٔ داسې د شهوت خبرې وکړې نو نبی ﷺ ته پته ولګیده چه دا خو په غیر اولی الاربة کښې نهٔ دې داخل۔

[اَلۡبَیۡتِ]۔ ددې نه مراد خیمه ده۔ [مُخَنَّثٌ]۔ قرطبیؒ وائی : تَخَنُّثٌ : لِین او تَکَسُّر (نرمی او لچکدار کیدو) ته وائی۔ مُخنث (خنثیٰ) هغه شخص ته وائی چه په خبرو کښې ئې نرمائش او په مزل کښې ئې ماتیدل او کوږ ووږ کیدل وی (په ناز او نخرو سره وی) داسې وی لکه د زنانو په شان، دا کله خِلقی (پیدائشی) طریقې سره وی، او کله د فاسقانو خلکو تَصَنُّع (اداکاری) وی، ځان ئې د زنانو په شان جوړ کړې وی۔ (یعنی هیجړا)۔ کوم چه پیدائشی وی نو غالباً د هغهٔ د زنانو شهواتو ته څه ضرورت نهٔ وی، پدې وجه صحابیاتو ددې نه پرده نهٔ کوله چه دا په غیر اولی الاربة کښې داخل وو۔ تردې چه دا خبرې ترې ښکاره شوې نو پرده ئې ترې شروع کړه۔ ددهٔ په نوم کښې اختلاف دې، مشهور قول دا دې چه ددهٔ نوم (هیت) وو، (لکه د ابن جریجؒ نه نقل دی) بعض وائی : صحیح دا ده چه

هنب وو، او هنب کم عقل سړی ته وائی (قاله ابن درستویهٔ) بعض وائی : دا مخنث ماتع مولی ابی فاخته المخزومي وو۔ ځینی وائی : دے او هیت دواړه به د نبی کریم ﷺ کوتو ته راتلل نو هرکله چه دا واقعه راغله نو نبی کریم ﷺ دواړه د اُوښانو د څریدو ځائے (چراګاه) ته وشړل، بعض وائی : یو مخنث په مدینه کښے نبی کریم ﷺ حمراء الاسد ته شړلے وو۔ انتهیٰ۔ (المفهم : ۵۱۲/۵) حافظ ابن حجرؒ وائی : مخنث هغه دے چه په خبرو او حرکاتو کښے د زنانو سره مشابه وی، آه۔

نو مخنث دوه قسمه دے (۱) [اَلَّذِیُ یُتَشَبَّهُ بِالنِّسَاءِ تَصَنُّعًا وَتَکَلُّفًا] ۔یو هغه دے چه زنانو سره مشابهت کوی په طریقه د تصنع (اداکارئ) او تکلف سره۔ ددهٔ حکم دا دے چه دا فاسق دے، شړلے به شی لکه په سنن ابوداود کښے راغلی دی : نبی ﷺ یو تن چه خپے او لاسونه ئے سرهٔ کړی وو د مدینے نه نقیع علاقے ته شړلے وو۔ [فتح الباری ۶۹۰/۱۱ کتاب النکاح رقم : ۵۲۳۵]۔

(۲) [اَلَّذِیُ یَشُبَهُ بِالنِّسَاءِ تَخَلُّقًا] چه پیدائشی د زنانو مشابه وی، نو دا ګناهګار نهٔ دے، ددهٔ نه پرده هم نشی کیدے، او ددهٔ پیژندنه به د خبرو او سترګو نه کیږی، که د شهوت خبرے ئے کولے نو ددهٔ نه به هم ستر کولے شی لکه چه دلته نبی کریم ﷺ وفرمایل۔

[یَا عَبُدَ اللّٰهِ] په یو مرسل روایت د ابن المُنکدرؒ کښے دا راغلی دی چه دا خبره ئے عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه ته وکړه۔ لیکن د تقدیر کار ته وګوره چه دا زنانه یو ته هم حاصله نشوه، ځکه چه عبد الله بن ابی امیه رضی الله عنه په طائف کښے په دغه محاصره کښے شهید شو، یو اچانك غشے راغے او دے پرے ولګیدو۔ او طائف هم فتح نشو۔ روستو زمانه کښے ددهٔ لور عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه په نکاح واخسته۔

عبد الله بن ابی امیه رضی الله عنه د ابو سفیان بن الحارث سره په یو ځائے اسلام قبول کړے وو، هرکله چه رسول الله ﷺ فتح مکے ته روان وو۔ دا د رسول الله ﷺ د ترور (عاتکه بنت عبد المطلب) ځوی وو۔ او د ام سلمه د پلار دطرف نه ورور وو۔

[اِبُنَةِ غَیُلَانَ] ددے جینئ نوم بادیه وو، د **غیلان** بن سلمه ثقفی لور وه : چه دا د بنوثقیف قبیلے سردار وو، خوش آوازه شاعر وو، کسریٰ ته په وفد کښے ورغلے وو او هغهٔ سره د خبرو اترو کولو په وخت هغهٔ ددهٔ په هوښیارتیا تعجب وکړو او په طائف کښے ئے ورله قلعه جوړه کړه، او بیا د مکے د فتح د کال نه پس مسلمان شو او د هغهٔ سره اولاد هم

اسلام قبول کړو، لس ښځې ئې لرلې۔ نبی ﷺ ورته وفرمایل چه پدې کښې صرف څلور غوره کړه باقی پریده، د عمر فاروق رضی الله عنه د دورِ خلافت په آخر کښې وفات شو۔
ابن اسحاق رحمه الله ذکر کړی چه خوله بنت حکیم رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته وفرمایل : که الله تعالیٰ تا ته طائف فتح کړو نو ما ته به د بادیه بنت غیلان کالی (گانړه) راکوې، ځکه چه دا د ثقیف د زنانو نه زیاتې گانړې (زیوراتو) والا وه۔
[تُقْبِلُ] ۔ رامخامخ کیږی۔ مخ راړه وی۔ [وَتُدْبِرُ]۔ او شا راړه وی۔ [بِأَرْبَعٍ]۔ ددې تمییز محذوف دې [اَیْ بِاَرْبَعِ اَعْکَانٍ] ۔ یعنی په څلورو کندو سره۔ (اعکان جمع د عکنة ده، دا د خیټې تاوکخ (راتاو شوی ځائې) ته وائی) دا کنایه ده د چاق والی نه۔ مطلب دا دې چه تا ته مخامخ راروانه وی نو تا ته به د هغې د خیټې څلور کندې ښکاره کیږی، دوه یو طرف ته او دوه بل طرف ته۔ او چه کله شا طرف نه ورته گورې نو اتۀ ښکاره کیږی څلور یو طرف او څلور بل طرف ته، یعنی د هغې د خیټې وازدې او چربی دومره زیاته وی چه هغه په تشو باندې راخوریږی او په مینځ کښې ئې پکښې انقطاع راشی نو څلور څلور ښکاره کیږی۔ یعنی ډک بدن والا ده۔ اربع او ثمان ئې مذکر راوړل ځکه چه مراد ترې (اعکان) دی، او هغه مؤنث ذی۔ قرطبی رحمه الله وائی : دا څلور کندې دی چه د مخې نه ښکاره کیږی او د هغې څلور طرفونه دی د هر جانب نه نو اته جوړیږی۔ (البحر المحیط الثجاج)
[لَا یَدْخُلَنَّ هٰؤُلَاءِ] ۔ یعنی دا کسان چه په شهواتو پو هیږی۔ ځکه چه دوئ به صبا له د ازواج مطهراتو دغه شان صفات بل چا ته وکړی نو د حجاب او پردې هیڅ مقصد به پاتې نۀ شی۔ (مهلب رحمه الله) [عَلَیْکُمْ]۔ سړو ته ئې خطاب وکړو، پدې کښې سړو ته اشاره ده چه تاسو دوئ ته اجازت مۀ ورکوئ چه ستاسو ښځو سره اوړی راوړی۔ او ممکن ده چه زنانو ته خطاب وی، او کله نا کله ښځو ته د سړو په الفاظو سره هم خطاب کیږی۔
فوائد : (۱) پیدائشی مخنث سړی د پردو زنانو خوا ته راتللې شی او دا د محرم په شان حسابیږی، خو پدې شرط چه د شهواتو په خبرو به نۀ پو هیږی او نۀ به پدې کښې دلچسپی اخلی۔ (۲) د چا نه چه د فساد او د فسق یره کیږی نو هغۀ ته د وطن نه د شړلو سزا ورکول جائز دی۔ (۳) د پردئ معینې زنانه محاسن او د هغې خوبیانې ذکر کول حرام دی، ځکه چه پدې کښې غوړونه په پردی عورتونو باندې خبرول دی او نفسونه هغې ته راپارول دی، البته که د یوې غیرې معینې زنانه صفت او محاسن ذکر کړی چه په

هغې کښې فساد نۀ راځي بیا جائز دی۔ (قرطبیؒ) (٤) زنانه به د هغه چا نه هم پرده کوی چه هغه د هغې په محاسنو باندې پوهیږي۔

(٥) دې حدیث نه معلومه شوه چه د چا په باره کښې په یو کار کښې شك وی نو د هغۀ وړاندې کول او لرې کول جائز دی۔ (٦) په باب د بیعه کښې مکمل صفت، د رؤیت (لیدنې) په ځائې قائمیږي۔ (مهلبؒ) (۷) ځوك چه د زنانو سره ځان مشابه کوی نو د هغۀ تعزیر جائز دې چه د کورونو نه اُوویستلې شي او د علاقې نه وشړلې شي، هرکله چه پدې کار سره د هغۀ منع کول راتللې شي۔

(۸) د سړو مشابهت د زنانو سره او د زنانو مشابهت د سړو سره حرام دې او رسول الله ﷺ په داسې خلکو باندې لعنت فرمائیلې دې۔

(۹) ددې هِیت ویستل د درې وجو نه وو: یو خو دا په غیر اولی الاربه کښې داخل نۀ وو۔ او دۀ پکښې ځان پټ کړې وو۔ دویم: د سړو په مخامخ ئې د زنانو د ښائست او عورتونو بیان کولو، حال دا چه ددې نه زنانه منع شویده چه د بلې زنانه صفت خپل خاوند ته وکړي نو بیا سړې څنګه نورو ته د پردئ ښځې داسې محاسن ذکرکړي۔ دریم: نبی ﷺ ته پته ولګیده چه دې د زنانو د بدن نه په هغه اندازه خبر لري چه ډیرې زنانه هم د هغې بیان نشي کولې، تردې چه په بعض روایاتو کښې ئې د هغې د خاص عورت بیان هم وکړو۔ (نوویؒ) (البحر المحیط الثجاج)

(۱۰) حدیث په یوه بله مسئله دلیل دې چه بعض خلك وائی تاسو په قرآن او حدیث کښې دا مسئله وښایئ چه د مخنث جنازه به څنګه کیږي او د هغې غسل به څنګه وی؟ جواب دا دې چه که دغه مخنث د سړو په شان حالات او حرکات کول او د شهواتو خبرې ئې کولې نو دا به سړې حسابیږي، او د سړو معامله به ورسره کیږي لکه دلته ورسره دغه شان وشوه، او که د زنانو صفات پکښې وو، د شهواتو خبرې پرې ښې نۀ لګیدې نو دا به د زنانو نه حساب وی لکه دلته دا هیت اول کښې د زنانو سره حساب شوې وو، پدې وجه ترې د رسول الله ﷺ بیبیانو ستر هم نۀ کولو۔ فتدبر۔

د خلکو مخامخ د بربنډ والی نه منع

3122 (25) — وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ ﷺ قَالَ حَمَلْتُ حَجَرًا ثَقِيلًا فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِيْ سَقَطَ عَنِّيْ ثَوْبِيْ فَلَمْ أَسْتَطِعْ أَخْذَهُ فَرَآنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ لِيْ : " **خُذْ عَلَيْكَ ثَوْبَكَ وَلَا تَمْشُوْا عُرَاةً** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او مسور بن مخرمه ﷺ فرمائی : ما درون کاڼړے پورته کړے وو نو پدے مابین کښے زهٔ روان وو چه زما نه زما جامه پریوته نو ما د هغې د رانیولو طاقت نهٔ لرلو نو رسول الله ﷺ (پدے حالت کښے) ولیدم نو ما ته ئے وفرمایل : خپله جامه دِے راواخله او تاسو په بربنډه مزل مهٔ کوئ۔ (مسلمؒ)

تشریح :[المسور بن مخرمة بن نوفل] ددهٔ مور الشفاء بنت عوف وه، د عبد الرحمن بن عوف ﷺ خور وه۔ [فَلَمْ اَسْتَطِعْ] یعنی ما یو درون ګټ راخستے وو، نو په لاره کښے زما نه لنګ وغورزیدو نو ما د ګټ د درون والی د وجه نه د لنګ راخستو طاقت ونهٔ لرلو نو په تکلیف سره مے ګټ خپل ځائے ته ورسولو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : خپله جامه پسے واپس شه، بیا ئے عامه خبره وکړه چه په بربنډه باندے مهٔ ګرځئ۔

[عُرَاةً]۔ جمع د عاری ده۔ او دا نهی د تحریم دپاره ده۔

د شرم او حیاء انتهائی درجه

3123 (26) — وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : مَا نَظَرْتُ أَوْ مَا رَأَيْتُ فَرْجَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَطُّ . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او عائشه ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ عورت هیڅکله نهٔ دے لیدلے (کتلے) (ابن ماجهؒ)

تشریح : [مَا نَظَرْتُ] ددے روایت درے طرق دی او ټول ضعیف دی، پدے کښے د عائشے مولاة (وینځه) مجهوله ده۔ او دا حدیث منکر دے۔ د صحیح احادیثو خلاف دے کوم چه مخکښے ذکر شو۔ یا جواب دا دے چه دا حدیث محمول دے په شخصی ادب د عائشه ﷺ باندے، د اُمت دپاره حکم نهٔ دے، ځکه چه په شریعت کښے د سړی او د ښځے او د خاوند یو بل عورت ته کتل جائز دی۔ او دلائل ئے مخکښے بیان شول۔

درجة الحديث : [إسناده ضعيف] ابن ماجه : ۱۹۲۲، وقد بيّنه الألباني في التعليق على آداب الزفاف ص (۱۰۹-۱۱۰) ثم في الارواء : (۱۸۱۲)

د ښائسته ښځې ته اچانك نظر كولو نه پس سمدست نظر اړولو اجر

3124 (27) - وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :"مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُ إِلَىٰ مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا أَحْدَثَ اللهُ لَهُ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او ابو امامه ﷺ د نبی كريم ﷺ ارشاد نقل كوی : نشته يو مسلمان چه د يوے ښځے ښائست ته وګوری اول ځل بيا نظر خكته كړی مګر الله تعالىٰ به هغهٔ دپاره داسے عبادت راپيدا كړی چه د هغے خوند به موندهٔ كړی۔ (احمدؒ)

تشريح : [يَغُضُّ بَصَرَهُ] ۔ (غَض معنىٰ ده : خكته كول) نظر خكته كول د سړی د عورت نه هم ضروری دی او پردئ زنانه نه هم ليكن د زنانه فتنه زياته ده پدے وجه په احاديثو كښے ديته د كتلو نه منع ذكر كيږی۔

د غض البصر فوائد: پردئ زنانه ته د كتلو نه نظر خكته ساتلو تقريباً پنځلس فائدے دی چه حافظ ابن قيمؒ په الجواب الكافی كښے دولس ذكر كړی : ۱- د عبادت خوند دے سره ملاويږی۔ (۲) په يو روايت كښے دی : [أَبْدَلْتُهُ إِيمَانًا يَجِدُ حَلَاوَتَهُ فِي قَلْبِهِ] زهٔ به ورله په بدله كښے داسے ايمان وركړم چه د هغے خوند به په زړهٔ كښے مونده كوی۔

(۳) پدے سره بصيرتِ قلبی او فراست زياتيږی۔ (٤) د علم او معرفت لارے كولاويږی۔

(۵) د شيطان لارے بنديږی، ځكه چه د سترګو لاره زړهٔ ته تلے ده۔ (٦) نظر د ابليس زهرجن غشے دے، او د دشمن د غشی نه ځان بچ كول ضروری دی۔ بعض علماؤ وئيلی دی چه د زنانو په حكم كښے اَمرَد (بے ګيری) هلك هم دے چه هغهٔ ته كتل هم حرام دی۔ ليكن دے خبره باندے دليل نشته ځكه چه د رسول الله ﷺ په زمانه كښے ډيرے ګيرے هلكان وو او په يو حديث كښے هم چرته دا نهٔ دی راغلی چه رسول الله ﷺ هغوی ته د نظر نه منع فرمائيلی وو، البته د شهوت په نظر كتل به حرام وی۔

درجة الحديث : [إسناده ضعيف جدًّا] احمد : ۲٦٤/۵- ۲۲۳۳۲، المعجم الكبير : ۷۷٤۸، شعب الايمان : ۵۰٤۸، عبيد الله بن زحر قال ابن حبان [۲/٦۲-٦۳] منكر الحديث جِدًّا۔

ممنوع النظر شی ته قصداً کتونکی دپاره وعید

3125 (28) - وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرِ إِلَيْهِ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ

ترجمه : او حسنؒ نه په طریقه د ارسال سره نقل دی، فرمائی : ما ته رارسیدلی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ پردی عورت ته کتونکی او کتلے شوی باندے لعنت فرمائیلے دے۔ (بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : [النَّاظِرَ]۔ یعنی پردی عورت ته کتونکے۔ [الْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ] ۔ **چا ته چه کتلے شی**، ددے روایت نه معلومه شوه چه **خوك ځان ښکاره کوی نو هم کتل ورته حرام دی** اګرکه دا روایت ضعیف دے، لیکن معنیٰ ئے صحیح ده۔

درجة الحديث : [ضعيف] البيهقى فى شعب الايمان : ۷۷۸۸ من مرسل الحسن البصرى، واورده السيوطى فى ((ذيل الاحاديث الموضوعة)) وَتَكَلَّمَ عَلَيْهِ الشَّيْخُ الْأَلْبَانِيُّ فى الضعيفة (۳۰۶).



۲- بَابُ الْوَلِيّ فِي النِّكَاحِ وَاسْتِئْذَانِ الْمَرْأَةِ

په نکاح کښې د ولی او د زنانه نه د اجازت طلب کولو بیان۔
ولی په لغت کښې کارساز او منتظم (پروګرام کونکی) ته وائی، یعنی هغه شخص چه د یو کار انتظام کونکے وی، دلته د ولی نه مراد د ښځې د نکاح متولی او ذمه وار دے پدے طریقه چه د ښځې د نکاح اختیار هغهٔ ته حاصل وی۔ نو پدے باب کښې به هغه حدیثونه راوړی چه د هغے نه معلومیږی چه د نکاح په باره کښې د ولی اجازت حاصلیدل او د ښځې رضا معلومول ضروری وی۔ لکه په نکاح کښې دا دواړه خبرے ضروری وی، د ولی کیدل او د ښځې رضا۔
بیا ولی به څوك جوړیږی ؟ نو اول عصبه بنفسه ضروری دی، او په هغوی کښې د وراثت په ترتیب سره لکه پلار بیا څوی بیا ورور بیا ترهٔ بیا وراړهٔ بیا د ترهٔ څوی او دغه شان ورځه۔ بیا د نکاح دپاره یو څو شرائط دی چه د هغے بیان په اول د کتاب النکاح کښې ذکر شو۔ چه هغه (۱) ولی (۲) د ښځې رضا (۳) مهر (٤) اعلان د نکاح۔ (۵) ګواهان د نکاح۔ **مسئله : آیا بغیر د ولی نه نکاح کیږی ؟** نو اول خو پدے کښې اتفاق دے چه ماشومه غیر عاقله یا مجنونه (لیونئ) یا معتوهه (نیمه لیونئ) ددے نکاح بغیر د ولی نه جائز نهٔ ده۔ پاتے شوه دا چه زنانه حُرّه عاقله بالغه وی نو آیا د هغے په غیر د ولی نه نکاح جائز ده، چه د خپله سره څان چا ته په نکاح ورکړی او د ولی ورسره رضا نهٔ وی؟ نو پدے کښې د علماؤ اختلاف دے، دوه قوله دی :
(۱) د امام ابوحنیفهؒ یو قول دا دے چه ښځه بغیر د ولی نه هم نکاح کولے شی لیکن ولی مستحب دے۔ دویم قول ئے دا دے چه که کُف (همزولی) لره ئے څان ورکړے وو نو بغیر د ولی نه نکاح جائز ده او که غیر کف سره ئے نکاح کړے وه نو ولی لره اختیار شته چه نکاح فسخ کړی، نو امام ابوحنیفهؒ پدے قول کښې د جمهورو سره ملګرے شویدے۔
دلائل : د دوئ دلیل یو نص دے او بل قیاس دے۔ ۱-دلیل : نص دا آیت کریمه دے : ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ [البقرة : ۲۳۰] او ﴿فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ﴾ [البقرة : ۲۳۲] دلته ئے ښځے ته د نکاح نسبت کړے، معلومیږی چه د ښځے نه هم د نکاح صدور کیدلے شی

نو ولي پکښې ضروري نۀ شو.

جواب : دا آيت مجمل دے او ددے بيان نبي ﷺ په خپل ارشاد سره کړے چه بغير د ولي نه نکاح نۀ کيږي، او نبي ﷺ د بيان دپاره راغلے وو. (لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ) او دا قاعده د احنافو خطاء ده چه خاص بَيِّن بِنَفْسِهٖ دے احتمال د بيان نۀ لري.

دويم جواب دا دے چه زنانه ته نسبت پدے وجه شويدے چه په نکاح کښې د ښځے رضا شرط ده، که رضاء نۀ وي نو نکاح نۀ کيږي نو استدلال صحيح نۀ شو.

دارنګه (فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ) آيت بعينهٖ دليل دے چه په نکاح کښې ولي ضروري دے ځکه چه (فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ) کښې د ښځے اولياؤ ته خطاب دے ځکه چه دا آيت د معقل بن يسار رضي الله عنه په باره کښې نازل شوے وو چه هغۀ خپله خور د نکاح نه منع کړے وه لکه قرطبيؒ ددے آيت لاندے هغه واقعه نقل کړے. او صحيح بخاري کښې راغلے ده. نو دا آيت دليل دے چه په نکاح ورکولو کښې خبره د ښځے اولياؤ ته سپارلے شويده.

۲- **دليل** : حديث د ابن عباس رضي الله عنه کښې دي : لکه روستو راځي : [اَلْاَيِّمُ اَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا]. (بے واده زنانه د خپل ځان ډيره لائقه ده د ولي نه) نو دے نه معلومه شوه چه زنانه خپل ځان بغير د ولي نه هم په نکاح ورکولے شي. **جواب** : ددے حديث دوه معاني دي لکه مرقات د امام نوويؒ نه نقل کړي نو دلته داسے معنیٰ پکار ده چه تطبيق د نورو احاديثو سره راشي، يوه معنیٰ دا ده :[اَلْاَيِّمُ اَحَقُّ بِتَعْبِيْرِهَا مِنْ نَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا]. يعني د کُنډه به د خپل ځان تعبير په خپله کوي، نۀ ولي. نو دا د ثيّبه حکم ذکر دے او هرچه باکره ده نو د هغے تعبير به ولي کوي او دليل پدے باندے روستو عبارت دے : [وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ]. (د باکرے نه به اجازت غوښتلے شي). يعني کنډه به اجازت په خپله خوله باندے ورکوي چه آؤ، زۀ نکاح کوم او هرچه پيغله ده نو د هغے رضا په چپ والي سره ښکاره کيږي. نو ورکونکے به ولي وي او اجازت به ښځه ورکوي. او دلته داسے معنیٰ کول چه زنانه بغير د ولي نه نکاح کولے شي، صحيح نۀ ده ځکه چه دا خو د نورو صحيح احاديثو سره تعارض راوستل دي لکه چه روستو راځي.

۳- **دليل** : د عائشے رضي الله عنها روايت په شرح معاني الآثار کښې طحاويؒ راوړے : ((چه عائشے رضي الله عنها د خپل ورور عبد الرحمن بن ابي بکر لور حفصه بنت عبد الرحمن، منذر بن الزبيرؓ ته ورکړه او عبد الرحمن غائب وو، شام ته تلے وو، هرکله چه عبد الرحمن راغلو نو وے

فرمایل : آیا زما په شان شخص باندې داسې کار کولې شي او زما بې اجازته داسې کار کولې شي نو عائشې رضي الله عنها منذر بن زبیر سره خبره وکړه (چه عبد الرحمن ناراضه دې) نو منذر ووېل : (تیك ده) دا واك د عبد الرحمن په لاس کښې دې (که هغه د نکاح اجازت نهٔ ورکوي، صحیح ده، نهٔ به کوو)۔ بیا عبد الرحمن (خپلې خور عائشې رضي الله عنها ته) ووېل : زهٔ هغه خبره نهٔ رد کوم چه تا د هغې فیصله کړې نو حفصه د منذر سره په نکاح کښې پاتې شوه او دا طلاق حساب نهٔ شو)۔ (الموطأ :۲/۵۵۵ رقم : ۱۱۶۰، وشرح معاني الاثار : ٤٢٥٥)

جواب : دا روایت مختصر او ناقص دې، مکمل روایت امام بیهقيؒ په سنن کبریٰ کښې ذکر کړې : او په هغې کښې دا دي چه عائشې رضي الله عنها به کله د چا نکاح تړله نو خطبه به ئې ووئیله [فَإِذَا بَقِيَتْ عُقْدَةُ النِّكَاحِ قَالَتْ لِبَعْضِ أَهْلِهَا زَوِّجْ، فَإِنَّ الْمَرْأَةَ لَا تَلِي عَقْدَ النِّكَاحِ]۔

هرکله چه به د ایجاب او قبول وخت راغلو نو دې به د جینئ بعض نارینه رشته دار ته ووېل : ته دا په نکاح ورکړه۔ ځکه چه ښځه د نکاح د تړلو ولایت او مشري نهٔ شي کولې۔ امام بغويؒ او امام بیهقيؒ فرمائي : دا حدیث دلیل دې چه عائشې رضي الله عنها د عبد الرحمن د لور جرګه کړې وه او د هغې خبره ئې برابره کړې وه او تمهید ئې ایخودې وو، او اسباب ئې ورله برابر کړي وو، نو پدې وجه دې ته د تزویج نسبت شوې بیا هرکله چه د نکاح د تړون وخت راغلو نو سړي هغه وکړو۔ [السنن الکبری رقم : ۱۳٤۳۱، السنن الصغری : ۲۳۶۳، شرح السنة : ۹/٤۱]۔ او ابن جریجؒ فرمائي :

[كَانَتْ عَائِشَةُ إِذَا أَرَادَتْ نِكَاحَ امْرَأَةٍ مِنْ نِسَائِهَا، دَعَتْ رَهْطًا مِنْ أَهْلِهَا، فَتَشَهَّدَتْ حَتّٰى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا النِّكَاحُ قَالَتْ : يَا فُلَانُ ! أَنْكِحْ فَإِنَّ النِّسَاءَ لَا يَنْكِحْنَ]

[مصنف عبد الرزاق /۱۰۱۶۲ وصححه الحافظ في فتح الباري : ۹/۱۸۶]۔

عائشې رضي الله عنها به چه کله د یوې ښځې د نکاح اراده وکړه نو د هغې د خپلوانو نه به سړي راوغوښتل نو دې به خطبه ووئیله تردې چه کله به صرف د نکاح تړون پاتې شو نو دې به ووېل : اې فلانیه ! تهٔ نکاح وتړه ځکه چه زنانه نکاح نشي تړلې۔ په بل روایت کښې دي : [عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : كَانَ الْفَتٰى مِنْ بَنِيْ أُخْتِهَا إِذَا هَوِيَ الْفَتَاةَ مِنْ بَنِيْ أَخِيْهَا ضَرَبَتْ بَيْنَهُمَا سِتْرًا وَتَكَلَّمَتْ، فَإِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا النِّكَاحُ قَالَتْ : يَا فُلَانُ ! أَنْكِحْ فَإِنَّ النِّسَاءَ لَا يُنْكِحْنَ]

[مصنف ابن ابي شيبة : ۳/۲۷۶]۔

عائشه رضي الله عنها نه نقل دي : کله چه به یو هلك د هغې د خورئیونو نه یوه جینئ د هغې د

وریرو ته خوښه شوه او د هغې سره به ئے نکاح غوښتله نو دے به د دواړو ترمینځ پرده ووهله او خبره اتره به ئے شروع کړه تردے چه کله به د نکاح تړون پاتے شو نو دے به یو تن ته وویل اے فلانیه ! ته نکاح وتړه ځکه چه زنانه نکاح نشی تړلے. په یو بل روایت کښے دی : [لَيْسَ إِلَى النِّسَاءِ النِّكَاحُ] . د نکاح د تړلو واك د زنانو دپاره نشته. [الطحاوی : ۴۲۵۵، البیهقی : ۱۰/۳۳]. او ددے وجه دا هم ده چه د عائشے رضی الله عنها نه لا نکاح الا بولی روایت هم نقل دے نو هغه څنګه د خپل روایت خلاف وکړی. [المنتقی شرح الموطأ للباجی : ۳/۲۵۱، الاستذکار ۶/۳۲].

۴- دلیل : آیت کښے دی : [إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ] . که یوه زنانه خپل نفس نبی ته هبه (تحفه/بخشیش) کوی (نو نبی لره د هغې سره نکاح جائز ده) دلته هم ولی نۀ دے ذکر شوے. **جواب۱** : دلته نبی ﷺ خپله د زنانه ولی دے، پدے وجه یوے زنانه نبی ﷺ ته ځان هبه کړو نو هغۀ یو صحابی ته ورکړه.

جواب ۲: پدے روایت کښے ورسره دا خبره نشته چه ولی ورسره نۀ وو، کیدے شی چه ولی به ورسره وو. یا دا چه دا جرګه کول وو او د خپلے نکاح پیغام وړاندے کول وو او هرچه د نکاح تړل دی هغه به روستو د ولی په ذریعه کیږی.

۵- دلیل : **قیاس** : دوئ وائی : نکاح په بیع او شراء قیاس دے، لکه څنګه چه هوښیاره بالغه جینئ په خپل مال کښے په اخستلو خرڅولو سره د ولی د اجازت نه بغیر تصرف کولے شی، نو دا شان نکاح هم ده، دا په خپل سر خپل ځان د ولی نه بغیر یو هلك له په نکاح ورکولے شی.

جواب ۱ : دا قیاس اولاً د صریح نص خلاف دے. (لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ) . او داسے قیاس فاسد وی. **جواب۲**: ثانیاً تاسو هم وایئ چه ښځه داسے تصرف په خپل نفس کښے نشی کولے چه ځان غیر کف ته ورکړی نو قیاس ستاسو ناقص دے. جواب ۳: ثالثاً : دا قیاس مع الفارق هم دے، نکاح په بیع او شراء قیاس کول صحیح نۀ دی، په دے دواړو کښے ډیر فرق دے، نکاح یو اَهم او تول عُمری شے دے او بیع او شراء معمولی شے دے. نو دا قیاس مع الفارق دے. او قیاس ته هله ضرورت وی چه کله نص نۀ وی او دلته په نکاح کښے نص موجود دے او په بیع او شراء کښے نص نشته. د قیاس د شرائطو هم خلاف دے چه په مقیس کښے به نص نۀ وی او دلته په مقیس کښے شته او په مقیس

علیه کښې نص نشته، نو که قیاس کیږی بیا خو اُلټه قیاس پکار دے، فتدبر۔

(۲) **دویم قول** : دا دے چه ولی نه بغیر نکاح نۀ کیږی، ولی شرط دے د صحت د نکاح دپاره۔ او دا مذهب د جمهورو او صاحبینو (ابویوسفؒ او محمدؒ) دے۔ او دا قول د عمر فاروق، علی، عبد الله بن مسعود، ابو هریره، عبد الله بن عباس او عائشه رضی الله عنهم دے او په تابعینو کښې د سعید بن المسیبؒ، حسن بصریؒ، شریحؒ، ابراهیم نخعیؒ، قتادهؒ، عمر بن عبد العزیزؒ وغیره دے، او دا مذهب د ابن ابی لیلیٰؒ، ابن شبرمهؒ، سفیان الثوریؒ، اوزاعیؒ، عبد الله بن المبارکؒ، شافعیؒ، احمدؒ او اسحاق بن راهویهؒ دے۔

عمر فاروق ﷜ فرمائی : [لَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ إِلَّا بِإِذْنِ وَلِيِّهَا أَوْ ذِي الرَّأْيِ مِنْ أَهْلِهَا أَوِ السُّلْطَانِ] زنانه بغیر د اجازت د ولی نه نکاح نشی کولے یا به د هغې عقلمند خپلوان وی، یا به بادشاه وی۔ [الموطأ : ۱۰۹۳، معرفة السنن والآثار للبيهقي : ۴۰۷۴]

بیا د جمهورو او د صاحبینو د مذهب ترمینځ فرق دے، صاحبین رضا د ولی شرط گنړی او جمهور رضا سره د اجازت نه شرط گنړی۔ ددے قول والو سره آیتونه او احادیث او د صحابه کرامو او تابعینو اقوال دلیل دے۔ تقریباً (۱۷) دلائل دی۔ بعض دا دی :

دلائل : ۱- دلیل : آیت کریمه : ﴿وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ أَنْ يَّنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [البقرة : ۲۳۳] دے آیت کښې اولیاؤ ته خطاب دے چه تاسو طلاقې شوې ښځې د نکاح نه مۀ منع کوئ هر کله چه دوئ دوباره د خپلو خاوندانو سره نکاح کول غواړی او هغوئ ددے مطالبه کړے وی او دوئ ورسره رضا وی۔ نو که چرے ښځې خپل ځان د ولی نه بغیر په نکاح ورکولے شوے، نو بیا د اولیاؤ د منع کولو هیڅ فائده نشته۔ امام ترمذیؒ په خپل سنن (۱۲۷/۲) کتاب التفسیر کښې په حدیث د معقل بن یسار ﷛ کښې لیکی :

[وَفِي هٰذَا الْحَدِيْثِ دَلَالَةٌ عَلٰى أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ النِّكَاحُ بِغَيْرِ وَلِيٍّ لِأَنَّ أُخْتَ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ كَانَتْ ثَيِّبًا فَلَوْ كَانَ الْأَمْرُ إِلَيْهَا دُوْنَ وَلِيِّهَا لَزَوَّجَتْ نَفْسَهَا وَلَمْ تَحْتَجْ إِلَى وَلِيِّهَا مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ] دا حدیث دلیل دے چه د ولی نه بغیر نکاح جائز نۀ ده، ځکه د معقل بن یسار ﷛ خور ثیبه (وادۀ شوی) وه نو که د هغې اختیار وے بغیر د ولی نه نو هغې به خپل ځان ورکولے او د هغې ولی معقل بن یسار﷛ ته به ئې ضرورت نۀ وے۔

بیا فرمائی : پدے آیت کښې د ښځې اولیاؤ ته خطاب دے نو دا دلیل دے چه د ښځو په

ورکولو کښې واك اولياؤ د ښځې ته حواله دے سره د رضا د هغوی نه۔

۲- دليل : [وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا] [البقره : ۲۲۱] (تاسو مشرکانو ته په نکاح مهٔ ورکوئ ترديے چه هغوی ايمان راوړی) قرطبیؒ ليکی :

[فِيْ هٰذِهِ الآيَةِ دَلِيلٌ بِالنَّصِّ عَلٰى اَنْ لَا نِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ اَلنِّكَاحُ بِوَلِيٍّ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ ثُمَّ قَرَأَ هٰذِهِ الآيَةَ وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ الخ]

دا آيت صريح دليل دے چه نکاح به په ولی سره کيږی، محمد بن علی بن الحسينؒ وفرمايل : نکاح په ولی سره د الله تعالیٰ په کتاب کښې راغلے ده بيا ئې دا آيت ولوستلو (وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ)

۳- دليل : ﴿فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ﴾ [النساء : ۲۵] بل آيت : ﴿وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ﴾ [النور: ۳۲] **قرطبیؒ ليکی :** [وَلَمْ يُخَاطِبْ تَعَالٰى بِالنِّكَاحِ غَيْرَ الرِّجَالِ وَلَوْ كَانَ اِلَى النِّسَاءِ لَذَكَرَهُنَّ وَقَالَ تَعَالٰى حِكَايَةً عَنْ شُعَيْبٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ : ﴿اِنِّيْ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ﴾ [قصص: ۲۷] ﴿اَلرِّجَالُ قَوَّامُوْنَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ [نساء : ۳۴]

ددے آيتونو نه ثابتيږی چه نکاح بغير د ولی نه نهٔ کيږی ليکن رضا د ښځې پکښې شرط ده۔ **دلائل د سنت نه : ۱- دليل :** حديث د ابوداود دے روستو راروان دے عائشه رضي الله عنها فرمائی : **رسول الله ﷺ وفرمايل :** [اَيُّمَا امْرَأَةٍ تَزَوَّجَتْ بِغَيْرِ اِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ بَاطِلٌ بَاطِلٌ] [ابوداود ۲۹۱/۱، باب لا نكاح الا بولی، والترمذی : ۲۰۸/۱، والبيهقی (۱۰۵/۷ وابن ماجه والطحاوی واحمد اسناده صحيح- الارواء]۔ **هره ښځه چه د خپل ولی نه بے اجازته نکاح وکړی نو د هغے نکاح باطله ده، باطله ده باطله ده۔**

ابن عدیؒ په الکامل (۱۵۶/۲) کښې فرمائی : [هٰذَا حَدِيْثٌ جَلِيْلٌ فِي الْبَابِ وَعَلٰى هٰذَا الْاِعْتِمَادُ فِيْ اِبْطَالِ نِكَاحٍ بِغَيْرِ وَلِيٍّ]۔ **دا حديث پدے باب کښې ډير اُوچت شان والا دے او په همدے باندے اعتماد دے چه بغير د ولی نه نکاح باطله ده۔**

۲- دليل : روستو فصل ثانی کښې حديث راروان دے : [لَا نِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ] [الترمذی : ۲۰۸/۱، ابوداود : ۲۹۱/۱ وابن ماجه رقم : ۱۸۸۱) حديث صحيح من طريق اِسرائيلَ وصححه القرطبی فی ۱۵۸/۳]۔ **رسول الله ﷺ فرمائی : د ولی نه بغير نکاح نهٔ کيږی۔**

۳- دليل : راروان حديث د ابو هريره رضي الله عنه دے مرفوعاً : [لَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَاِنَّ الزَّانِيَةَ تُزَوِّجُ نَفْسَهَا] ۔ [ابن ماجه رقم : ۱۸۸۲، والدارقطنی : ۲۲۷/۳] ۔ **ښځه**

بلـه ښځه په نکاح نشي ورکولے او نۀ یوه ښځه خپل ځان په نکاح ورکولے شي ځکه چه زناکاره ښځه خپل ځان په نکاح ورکوي۔ (یعني هغه ښځه به زناکاره وي چه خپل ځان په نکاح ورکوي بغیر د اجازت د ولي نه) دے باندے دا اعتراض دے چه ددے په سند کښے محمد بن مروان العُقیليؒ دے، حافظ فرمائي : صدوق له اوهام۔ لیکن پدے کښے هیڅ ضرر نشته ځکه چه ددے متابعت مخلد بن حسین کړے لکه بیهقيؒ او دارقطنيؒ ذکر کړے او کله چه متابع موجود وي نو حدیث صحیح کیږي۔

۴- دلیل : حدیث دا بن عباس رضی الله عنه کښے دي : رسول الله ﷺ وفرمایل :

[لَا نِكَاحَ اِلَّا بِشَاهِدَیْ عَدْلٍ وَوَلِيٍّ مُرْشِدٍ]

[أحمد : ۱/۲۵۰، بیهقي : ۷/۱۰۹، المعجم الأوسط للطبراني ۱/۱٦٤، إرواء الغلیل ٦/۲۵۱، نصب الرایة : ۳/۱۸۸، حدیث صحیح]۔

د دوه عادلانو ګواهانو او هوښیار ولي نه بغیر نکاح (د ښځے) نۀ کیږي۔

۵- امام بخاري باب قائم کړے [بَابٌ لَا نِكَاحَ اِلَّا بِوَلِيٍّ] بیـا ئے حدیث د معقل بن یسار رضی الله عنه راوړے چه دا پدے مسئله کښے صریح نص دے۔

خلاصه : صحیح خبره د جمهورو اهلِ علمو ده چه په نکاح کښے ولي شرط دے، ځکـه د دوئ دلائـل قـوي دي۔ ځکـه ښـځـه (خـصوصًا جینئ) ناقص العقل ده، دا پوره طریقے سره خاطب نۀ پیژني، بلکه د نکاح د پیغام د لیږونکي په احوالو باندے سړی ښۀ پوهیږي چه کوم هلك ددے جینئ دپاره مناسب دے او کوم نۀ دے مناسب۔ بله دا چه : دا خو یواځے د جینئ مسئلـه نـۀ ده بـلـکـه د وادۀ تعلق خو د ټول خاندان سره وي، نو دا فیصله پیغلے جینئ ته سپارل د عقل خبره نۀ ده۔

او ددے حنفي قول نه لوی فساد خوریږي ځکه هلك او جینئ خپلو کښے یو بل سره خبره جوړه کړي او د ولي نه بغیر نکاح وکړي، یا هلك دغه جینئ وتښتوي او بیا ورسره په پټه نکاح وکړي۔ او یا هلك او جینئ دواړه وتښتي او بیا محکمے ته لاړ شي او ((کورټ میرج)) وکړي او ټول عُمر پلار او ورونه په غمونو او لانجو او دشمنیو اخته کړي۔ دیته په پښتو کښے متیزه تښتیدل وائي۔

او دا قِسم واقعات په حنفي مذهب باندے د عمل کولو نه راپیدا کیږي۔ ځکه چه په نکاح کښے ولي شرط نۀ کړے شي نو بیا به همدا مطلب راوځي۔ چه جینکئ دِے

تښتي او د پلار نه اجازت اخستل ضروري نۀ دي. کومې جينکۍ چه وتښتي نو حنفي مُلیان ورله د پلار د اجازت نه بغير نكاح تړي. ددې په خلاف كه دوئ ته پته ولګي چه دا قِسم نکاحونه نۀ کيږي نو بيا هلك او جينۍ داسې جرأت نشي کولې.

لهذا آيت او حديث کښې هيڅ تعارض او تناقض نشته، ځکه د حديث تقاضا داده چه د ولي نه بغير نكاح نۀ کيږي او د آيتِ کريمه تقاضا داده چه کله جينۍ په نكاح ورکول کيږي نو هغې نه به اجازت اخستل ضروري وي، نو قرآن او حديث دواړه موافق شو - والحمد لله - نو د شخصي رائې د وجې آيت او حديث کښې تعارضونه پيدا کول، او بيا دا حديثونه غورزول، د متشابهاتو د وجې محكمات غورزول دي، چه دا د اسلامي فقهې نه لرې خبره ده. د قرآن او حديث، صريح نصوص د امامانوؒ د شخصي رائې تابع ګرځول ډيره خطرناكه خبره ده. **شريعت** څومره ښائسته فيصله کړې، د دواړو فريقينو د حقونو لحاظ ئې ساتلې : ولي ته وائي : تا دا خپله لور خور نشي شرمولې چه په خپل سر د سرې سره نكاح وكړي. او جينۍ ته وائي: ستا پلار تا په زوره نشي ورکولې بلکه ستا رضامندي په نكاح کښې ضروري ده. د هلك انتخاب تۀ وکړه ليکن نكاح به درله پلار کوي. دا څومره د علم او عقل نه ډکه فيصله ده چه د آيت او حديث نه معلومه ده !! ليکن د حنفي، شافعي اختلافاتو د وجې نا مناسبه فيصلې کيږي. لا حول ولا قوة الا بالله.

الفصل الأول

د نكاح نه مخکښې د ښځې اجازت حاصلول پکار دي

3126 (1) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ :"لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ ". قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا ؟ قَالَ : " أَنْ تَسْكُتَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : کُنده به په نكاح نشي ورکولې تردې چه د هغې نه مشوره طلب کړې شي او پيغله به په نكاح نشي ورکولې تردې چه د هغې نه اجازت وغوښتې شي. صحابه کرامو عرض وکړو اې د الله رسوله ! او د هغې اجازت به څنګه وي؟ وې فرمايل : چه غلې شي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : [لَا تُنْكَحُ]. دا صيغه مجهول ده، لا ناهيه دې. تُنْكَحُ مجزوم دې. او لا

نافیه هم صحیح دے۔ [اَلْأَيِّمُ]۔ ددے دوه معانی کیږی : (۱) هغه زنانه چه د هغے نه خاوند په مرګ سره یا په طلاق سره جدا شوے وی، یعنی ثیبه۔ او دا معنیٰ دلته مراد ده ځکه چه روستو (البکر) سره ئے مقابله شویده۔

(۲) کله ایم هغه زنانه ته وائی چه خاوند ئے نهٔ وی برابره ده چه باکره وی او که ثیبه۔ او هر هغه نارینه ته وائی چه زوجه ئے نهٔ وی، برابره ده چه مخکښے ئے واده کړے وی یا ئے د سَره وادهٔ نهٔ وی کړے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ﴾ [النور: ۳۲] (بے وادهٔ هلك او جینئ له ودونه وکړئ)

[تُسْتَأْمَرُ]۔ اِستئمار طلب د امر ته وائی۔ یعنی تردے چه د هغے نه امر وغوښتے شی، دئے نه معلومه شوه چه ولی دا ښځه په نکاح نشی ورکولے تردے چه د هغے نه تپوس وکړی چه تا په نکاح ورکوم۔ د هغے د اجازت نه بغیر نکاح نهٔ کیږی،

او ددے مطلب دا نهٔ دے چه ګنے د هغے په حق کښے ولی شرط نهٔ دے۔ لکه چه بعضو وئیلی دی، بلکه د همدے الفاظونه د ولی اشتراط معلومیږی۔ (فتح الباری ۱۱/۴۵)

او د کنډے نه به پدے وجه اجازت غوښتے شی چه د هغے حیاء کمه وی نو هغه په ژبه خبره کولے شی، چه دا سړے کوم یا نهٔ کوم۔ [الْبِكْرُ] د باء په زیر سره، هغه پیغله چه د هغے د شرمګاه پرده نهٔ وی شلیدلے۔ نهٔ ئے وادهٔ کړے وی او نهٔ ورسره وطی شوے وی۔ دلته مراد د (بکر) نه هغه بالغه (پیغله) جینئ ده چه هغه د نکاح په خبرو پوهیږی او د نیك او بد خاوند صفات پیژنی، ځکه شریعت ددے اجازت له اعتبار ورکړے۔ او د (بکر) نه مراد عامه معنیٰ نهٔ ده چه هغه ماشومے ته هم شامله ده۔

[حَتّٰى تُسْتَأْذَنَ]۔ ددے او د (تُسْتَأْمَرُ) یو مطلب دے۔ یعنی اجازت غوښتل۔ لیکن فرق دا دے چه په ثیبه کښے ئے لفظ د استئمار ذکر کړو، پدے کښے اشاره ده تاکید د مشورے ته چه خبره د هغے امر ته سپارلے شویده۔ او هغه به صریح اجازت ورکوی، او هرچه باکره ده نو د هغے دپاره صرف اجازت کافی دے اګرکه صریح نهٔ وی ددے وجه نه د هغے چپ کیدو ته ئے اجازت ووئیلو۔

تنبیه : په نسائی کښے ئے برعکس راوړے د ثیبه دپاره ئے (تُسْتَأْذَنُ) او د باکرے دپاره (تُسْتَأْمَرُ) ذکر کړے نو ظاهر دا ده چه دا د راویانو تصرف دے، چا په لفظ سره روایت نقل کړے او چا په معنیٰ سره، ځکه چه اصل معنیٰ د دواړو الفاظو یوه ده، لهذا هیڅ تعارض

نشته۔
[قَالُوا] د بل روايت نه معلوميږي چه دا تپوس كونكے عائشه رضي الله عنها خپله وه۔ [وَ كَيْفَ إِذْنُهَا]۔ په حديث د عائشه رضي الله عنها كښې دي: ما ووئيل: باكره خو شرميږي (اے د الله رسوله!) وے فرمايل: چه غلې شي نو دا ئے اجازت شو۔

فوائد : (١)- حديث دليل دے چه د ثيبے او باكرے دواړو نه به په نكاح كښې ولي اجازت غواړي، د هغوي د اجازت نه بغير هغوي په نكاح باندے وركول ناجائز دي، او دا نكاح نۀ كيږي، البته د ثيبه دپاره صراحةً اجازت ضروري دے او د باكرے دپاره دلالةً اجازت كافي دے، هغے ته چه ووئيل شي چه تا فلانی ته په نكاح وركوو او هغه غلے پاتے شوه نو دا د هغے اجازت شو، ځكه هغه د خپل شرم او حيا د وجے په الفاظو كښې اجازت نشي وركولے نو د هغے د شرم او حياء د باقي ساتلو دپاره د هغے په سكوت باندے اكتفاء وكړے شوه۔ البته كه سكوت سره نور داسے قرائن موجود شول چه هغه په رضامندئ باندے دليل نۀ وو، نو بيا به د هغے مطابق عمل كيږي۔ او په اجازت اخستو كښې به د خاوند نوم اخلي او د هغۀ نسب او كار وكسب وغيره به ذكر كولے شي، دے دپاره چه جينئ په پوره بصيرت سره رشته قبوله يا رد كړي۔

(٢) دا حديث دليل دے چه كله يو تن په يو شي باندے پوهه او خبر شي او بيا په هغے باندے سكوت وكړي نو دا دليل د رضا وي، ليكن پدے شرط سره چه دا سكوت به د يرے او بل مانع د وجه نه نۀ وي۔

(٣) دا اجازت خبره صرف د بالغے زنانه په حق كښې دے، او هرچه ماشومه ده چه هغه اجازت نۀ پيژني او نۀ مصلحت او مفسدت پيژني، د هغوي په حق كښې اجازت ضروري نۀ دے، بلكه ولي (پلار) د هغے د اجازت نه بغير هم هغه په نكاح وركولے شي۔ آؤ، بيا ورله خيار بلوغ شته لكه چه روستو راځي۔

(٤) باكرے چه كله ښكاره منع وكړه نو هغه په نكاح وركول جائز نۀ دي۔ او كه د غلي كيدو په ځائے صريح الفاظو سره رضا راښكاره كړه نو په طريق اولىٰ سره جائز ده۔

(٥) د باكرے چپ كيدل د هغے د رضا دليل دے، برابره ده چه پلار يا نيكۀ ترے اجازت غوښتے وي يا بل چا۔ كومو شوافعو علماؤ چه وئيلي چه باكره د پلار او نيكه نه شرميږي نو غلي كيدل ئے دليل د رضا دے او كه بل چا ترے تپوس كولو نو ښكاره به

وائی چه کوم یا نهٔ کوم۔ نو دا خبره بے دلیله ده۔ (البحر المحیط الثجاج)

3127 (2) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :" **اَلْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا** ". وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ :" **اَلثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْمَرُ وَإِذْنُهَا سُكُوْتُهَا** ". وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ :"**اَلثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا أَبُوْهَا فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : کُنډه د خپل ځان د خپل ولی په نسبت زیاته لائقه ده، او پیغله چه ده د هغے نه به اجازت غوښتے شی د هغے د نفس په باره کښے، او د هغے اجازت د هغے غلے کیدل دی، او په یو بل روایت کښے دی : وے فرمایل : کُنډه د خپل ځان د خپل ولی په نسبت ډیره لائقه ده، او پیغلے نه به مشوره طلب کولے شی او د هغے اجازت د هغے غلے کیدل دی، او په یو بل روایت کښے دی : وے فرمایل : کنډه د خپل ځان د خپل ولی په نسبت زیاته لائقه ده او پیغلے نه به د هغے په پلار د هغے د ځان په باره کښے اجازت غواړی او د هغے اجازت د هغے غلے کیدل دی۔ (مسلمؒ)

تشریح : [اَلْأَيِّمُ أَحَقُّ]۔ ددے دوه مطلبه دی (۱) احناف داسے معنیٰ کوی : [اَلْأَيِّمُ اَحَقُّ بِتَزْوِيجِ نَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا]۔ کنډه د خپل ځان په نکاح ورکولو ډیره لائقه ده د ولی نه (یعنی بغیر د ولی نه نکاح کولے شی) (۲) جمهور داسے معنیٰ کوی : [أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا] أَيْ: فِي اخْتِيَارِ الزَّوْجِ، لَا فِي الْعَقْدِ]. کنډه د خپل ولی نه د خاوند په غوره کولو کښے په خپل ځان باندے زیاته حقداره ده۔ **فائده** : احق د اسم تفضیل صیغه ده، په شرکت باندے دلالت کوی، او معنیٰ داده چه : په نکاح کښے د کُنډے خپل حق هم شته، او ددے د ولی حق هم شته، خو ددے خپل حق د هغهٔ د حق نه زیات مضبوط دے۔ هغه داسے چه که ولی دا جینئ کُفو (انډول/ مناسب هلك) له په نکاح ورکوی، او جینئ دغه هلك نهٔ کوی نو جینئ به نشی مجبورولے۔ او بل طرفته که جینئ د کُفو سره وادهٔ کول غواړی او ولی ئے په نکاح نهٔ ورکوی، نو ولی به مجبورولے شی او که بیا هم په خپل انکار کلك پاتے شو نو قاضی به دا جینئ په نکاح ورکړی۔ (نوویؒ)۔

معنیٰ ده ددے الفاظو چه ((کونډه د ولی په نسبت په خپل ځان زیاته حقداره ده)) او

ددې حديث اوله معنیٰ اختتل د مخکنو حديثونو او آيتونو سره ټکراؤ ده، حالانکه آيت او حديث کښې يا د حديثونو خپلو کښې هيڅ تعارض او تناقض نۀ وي.

دارنګه داسې معنیٰ هم کولې شې : [اَلْاَيِّـمُ اَحَـقُّ بِتَعْبِيْرِ نَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا، اَیْ تَنْطِقُ بِنَفْسِهَا وَلَا يَنْطِقُ الْوَلِیُّ عَنْهَا].

کُونډه د خپل ځان په تعبير باندې د ولي نه زياته حقداره ده. يعنې کُنډه به خپله تعبير کوي، چه کوم يا نۀ کوم، او د ولي تعبير ورله کافي نۀ دې. مطلب دا دې چه په کُنډه باندې د ولي امر نۀ نافذ کيږي بغير د اجازت د هغې نه، او ولي ئې نشي مجبوره کولې. خو کله چه هغه د نکاح اراده وکړي نو هغه ئې بغير د ولي د اجازت نه نشي کولې.

ددې د مفهوم مخالف نه چا دا استدلال کړې چه بالغه باکره باندې د ولي امر نافذ کيږي، او ولي بغير د اجازت نه هغه په نکاح ورکولې شي او زور پرې کولې شي. ليکن دا مفهوم د نورو احاديثو د منطوق مخالف دې لهذا دې له اعتبار نۀ وي. او کله چه د مفهوم او منطوق تعارض راشي نو منطوق به مقدم کولې شي.

[اَلثَّـيِّبُ] هغه ښځه چه د هغې د شرمګاه باريکه پرده په وطي (جماع) سره شليدلې وي، (ثيب) د [اَيِّمْ] تفسير دې. [وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا اَبُوْهَا] يعنې د پيغلې نه به پلار اجازت اخلي، او د هغې د اجازت ورکولو دليل د هغې چپ کيدل دي. [صُمَاتُهَا] يعنې ددې غلې کيدل. په روايت د ابوداود کښې ورسره داسې الفاظ هم دي :

[لَيْسَ لِلْوَلِيِّ مَعَ الثَّيِّبِ اَمْرٌ] اَیْ : اِذَا رَفَضَتِ الزَّوَاجَ وَلَمْ تَرْضَ بِمَنْ يُرِيْدُهُ الْوَلِیُّ

(يعنې کله چه ولي کونډه په نکاح ورکول غواړي او ښځه انکار کوي نو بيا د ولي دپاره د ښځې د مجبورولو هيڅ اختيار نشته، او ددې د رضامندئ نه بغير ددې نکاح نۀ کيږي ځکه مخکښې تير شو چه د ښځې رضا له اعتبار دې.

کنډه زنانه د خپلې مرضئ نه بغير شوې نکاح رد کولې شي

3128 (3) – وَعَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ : اَنَّ اَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِیَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذٰلِكَ فَاَتَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ نِكَاحَهَا . رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ وَفِیْ رِوَايَةِ ابْنِ مَاجَهْ : نِكَاحَ اَبِيْهَا.

ترجمه : او خنساء بنت خذام رضي الله عنها نه روايت دې چه يقيناً د هغې پلار هغه په نکاح

ورکړه او هغه کنډه وه نو دې دا کار بد وګنړلو نو رسول الله ﷺ ته راغله (او هغۀ ته ئې شکایت وکړو) نو رسول الله ﷺ د هغې نکاح واپس کړه۔ (بخاریؒ) او په روایتِ د ابن ماجهٔ کښې دی : (رسول الله ﷺ) د هغې دِ پلار (کړې) نکاح (واپس کړه)۔

تشریح : خنساء : دا د انصارو نه یوه صحابیه ده۔ خذام : دا خذام بن ودیعه یا خذام بن خالد دې، ابونعیم وائی: ابو ودیعه ئې لقب دې۔ [فَكَرِهَتْ ذٰلِكَ]۔ یعنی دا نکاح یا خاوند ئې بد وګنړلو۔ [فَرَدَّ نِكَاحَهَا] ۔ یعنی پلار چه ورله کومه نکاح کړې وه هغه رسول الله ﷺ رد کړه۔ او په یو روایت د ابن ماجه کښې دی : ددې نه روستو دې د ابو لبابه بن عبد المنذر انصاری ﷺ سره نکاح وکړه۔ [وَهِيَ ثَيِّبٌ] په بعض روایاتو د نسائیؒ کښې دی : [وَأَنَا بِكْرٌ] ۔ زۀ باکره اُوم۔ لیکن صحیح دا ده چه دا ثیبه وه لکه حافظ ابن حجرؒ دا خبره صحیح کړې ده۔ او دا روایت د بخاریؒ دې۔

فوائد او **مسائل** : (١) دې حدیث نه ثابته شوه چه د مُكْرَهٔ (چا باندې چه زور شوې وی) نکاح جائز نۀ ده، او دا مذهب د مالكؒ دې۔

(٢) د ټولو ښارونو امامان پدې متفق دی چه پلار کله کونډه لور د هغې د رضا نه بغیر په نکاح ورکوی نو دا کار جائز نۀ دې او دا نکاح به مردوده وی، او دلیل ئې دا حدیث د خنساء بنت خذام ﷺ دې، پدې کښې حسن بصریؒ او ابراهیم نخعیؒ شذوذ کړې، حسن بصریؒ وئیلی دی چه پلار لره خپله لور په نکاح باندې ورکول جائز دی، برابره ده چه باکره وی که ثیبه، هغه رضا وی او که ناراضه۔ او نخعیؒ وئیلی دی چه که لور د پلار په عیال (پرورش) کښې وی، نو پلار ئې بغیر د مشورې او اجازت نه ورکولې شی، او که ددۀ په پرورش کښې نۀ وی بلکه ددۀ نه وړاندې وی، بیا به ترې مشوره اخلی، ابن بطالؒ وائی : ددې دواړو قول د سنت خلاف دې، او کوم شې چه د سنت خلاف وی هغه به مردود وی۔ (شرح ابن بطال، وعون المعبود)

(٣) پدې کښې اتفاق دې چه باکره صغیره خپل پلار د هغې د اجازت نه بغیر ورکولې شی، پدې باندې نوویؒ، ابن حجرؒ او ابن بطالؒ او ابن رشدؒ اجماع نقل کړې۔ البته ابن شبرمه، ابوبکر الاصم او عثمان البتیؒ پکښې اختلاف کړې چه نابالغه جینئ په نکاح ورکول صحیح نۀ دی۔ خو کله چه بلوغ ته ورسیږی نو آیا د نکاح فسخ (ماتولو) اختیار ئې شته او که نۀ ؟ دوه قوله دی : (١) جمهور علماءؒ وائی چه اختیار ئې نشته۔

دلائل : (۱) یو دلیل دا وائی چه [لِوُفُورِ شَفَقَةِ الْأَبِ عَلَيْهَا] ـ د پلار شفقت په لور باندے زیات وی، نو هغه ئے صحیح اهل ته ورکوی۔ علامه شوکانیؒ وائی : که صحیح معتبر مصلحت او فائده د ماشومے په نکاح کښے نۀ وه نو دا نکاح د اصل نه نۀ ده شوے، نو حاکم له جائز بلکه واجب دی چه ددے ماشومے او ددے د خاوند ترمینځ جدائی راولی، او ښځے له اختیار دے چه هرچرته ځی۔ برابره ده چه د تکلیف زمانے (یعنی بلوغ) ته رسیدلی وی او که نۀ، البته که دا د بلوغ نه پس راضی شوه نو بیا جائز ده۔ [وَبْلُ الْغَمَامِ عَلٰى شِفَاءِ الْأُوَامِ : ۲/۳۳]

(۲) **دلیل :** ابوبکر صدیق ﷺ عائشه ﷺ د اُوو کالو په عمر نبی کریم ﷺ ته ورکړه، او هغے ته ئے د بلوغ نه روستو اختیار ورنکړو۔ (او دا خبره صرف د پلار پورے خاص ده، نیکۀ یا بل څوك ماشومه جینئ په نکاح نشی ورکولے، کتاب الام للشافعیؒ : ۵/۱۸)

(۲) احمدؒ او اسحاقؒ وائی : کله چه یوه جینئ نهه کالو ته ورسیده او په نکاح ورکړے شوه او هغه راضی شوه نو نکاح جائز ده، او د هغے اختیار نشته هرکله چه بالغه شوه، او دوئ دلیل نیولے په حدیث د عائشه ﷺ چه نبی کریم ﷺ هغے سره په نهم کال وادۀ وکړو۔ (الترمذیؒ) او هغے ته ئے اختیار ورنکړو۔

او دا قول شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ غوره کړے۔ یعنی دوئ وائی د نهو کالو جینئ خپله رضا استعمالولے شی نو ددے اجازت ضروری دے۔

(۳) **قول :** د بعض سلفو (امام ابوحنیفهؒ، او یو روایت د احمدؒ نه) دے چه بیا هم ورله اختیار شته۔ لیکن د بلوغ د اولے ورځے نه به انکار کوی، که هغه خبره شوه چه زۀ پلار ورکړے یم او لا څه نۀ وائی، بیا چه کله ئے کور کښے جګړے او اختلافات راشی، بیا وائی چه زۀ خپله نکاح ماتوم نو دے له به اعتبار نۀ وی۔

دوئ قیاس کوی چه هرکله یوه زنانه بالغه وی او پلار ئے په نکاح ورکوی نو هغے لره اختیار ثابت دے نو دے باکرے لره هم چه اُوس بالغه شوه اختیار شته دے، او دا قول ظاهر دے۔ ځکه چه په مخکنی حدیث کښے هرے بالغے دپاره د اجازت خبره ذکر شوه۔ برابره ده چه پلار ورکوالی، کښے ورکړی وی او که پس د بلوغ نه۔

لیکن امام نوویؒ لیکلی دی چه امام شافعیؒ او د هغۀ ملګری فرمائی : چه بهتره دا ده چه پلار او نیکۀ د بلوغ نه مخکښے خپله لور په نکاح ورنکړی، بلکه کله چه بالغه شی

د هغې نه به اجازت وغواړي دے دپاره چه هغه د نکاح په قید کښې په ناخوښئ سره گرفتاره نۀ کړي. او دا خبره د عائشې رضي الله عنها د نکاح خلاف نۀ ده بلکه د دوئ مقصد دا دے چه په هغه وخت کښې د بلوغ نه مخکښې په نکاح ورکول نۀ دي پکار کله چه په هغې کښې ښکاره مصلحت او فائده نۀ وي چه هغه په تاخیر سره فوت کیږي.

(٤) **مسئله** : شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائي : بالغه کُنډه د هغې د اجازت نه بغیر په اتفاق د علماؤ سره په نکاح ورکول جائز نۀ دي. ځوك ئې په زوره نشي ورکولے او که پلار په زوره ورکړه، نو هغه اختیار لري چه خپله نکاح ماته کړي.لکه پدے حدیث کښې د خنساء رضي الله عنها واقعه همداسې وه.

د باکرې بالغې په نکاح مجبوره ول شته ؟

(٥) اختلافي صورتونه : (أ) کله چه یوه ښځه باکره بالغه وي، یعنې بکرئې نۀ وي زائل شوے، (ب) یا ثیبّه (کنډه) صغیره وي، (یعنې وړوکوالي کښې ترے خاوند وفات شوے وي) نو کله چه زنانه باکره بالغه وي او پلار ئې په نکاح ورکوي، نو آیا ددے دپاره واك شته؟ یعنې پلار ئې په زوره ورکولے شي؟ .

نو پدے کښې دوه قوله دي : (١) مالكؒ، شافعيؒ، اسحاقؒ، او احمدؒ وائي : واك ورله نشته، بلکه پلار ئې په زوره بغیر د اجازت نه په نکاح ورکولے شي. البته د پېغلې جینئ نه اجازت غوښتل صرف مستحب دي، او واجب نۀ دي.

دلائل : (١)- دلیل : عقلي دلیل دا وائي :[لِقِلَّةِ مُمَارَسَتِهَا لَا تَعْرِفُ فَوَائِدَ النِّكَاحِ] . ددے جینئ تجربه دومره نشته نو د نکاح فوائد نۀ پیژني او پلار ئې خیرخواه او تجربه کار دے، نو پلار پرے زور کولے شي. (٢) دلیل : [اَلثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا]. پدے حدیث کښې صرف د ثیبه دپاره حق د اختیار راغلے دے، دارنګه دا حدیث الباب [إِنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا].

نو پدے حدیث کښې د باکرې دپاره اختیار نۀ دے راغلے بلکه د ثیبّه دپاره، او چه کله یوه جینئ ثیبه صغیره وي نو د هغې اختیار د پلار دے. یعنې نبي صلی الله علیه وسلم دلته ښځې دوه قِسمه گرځولي، ثیبه او باکره. یوے (یعنې ثیبې) دپاره ئې حق ثابت کړے نو معلومیږي چه هغه بلې (یعنې باکرې) دپاره دا حق نشته.

(٢) د جمهورو علماؤ مذهب دا دے چه بکارت او ثیوبت لره اعتبار نشته بلکه صغر

او کبر لره اعتبار دے، یعني که یوه جینئ پیغله وه نو پلار به د هغے نه اجازت غواړي او په غیر د اجازت نه به ئے په نکاح نهٔ ورکوي، او که صغیره وه نو پلار ئے حقدار دے، بیا د جینئ اجازت ضروري نهٔ دے، او دا د ابوحنیفة، اوزاعيؒ، ثوريؒ قول، او د احمدؒ نه یو روایت دے، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ، ناصر السعديؒ او شیخ ابن بازؒ راجح گرځولے۔ دا د قیاس سره هم موافق دے او په همدے خبره کښے د جینکو د حقونو زیات حفاظت دے۔ ځکه هر کله چه پلار په خپله لور باندے په زوره بیع او شراء نشی کولے نو بیا هغه په زوره څنګه په نکاح ورکړي؟ او بیا په دے وادهٔ سره به د ښځے او خاوند ترمینځه څنګه رحمت او مودت پیدا شي؟ دا د شرعي قواعدو خلاف خبره ده کومه چه دغه ائمه کرامو کړے۔

دلائل : ۱- دلیل : پدے احادیثو کښے دا الفاظ دي : [وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ] وَفِيْ رِوَايَةٍ : [وَالْبِكْرُ يَسْتَأْذِنُهَا أَبُوهَا] ۔ دلته د باکرے نه هم د اجازت طلب راغلے دے، او تاسو خو دا وایئ چه که باکره صغیره وي او که کبیره خو چه بکرئے نهٔ وي زائل شوے نو واك ورله نشته۔ ۲- **دلیل** : شریعت په داسے احکامو امر نهٔ کوي چه یوه زنانه ډے مشره وي او د خلکو تربیت ډے کوي خو چه باکره وي نو اجازت ډے ورله نهٔ وي، ددے هیڅرته مثال نهٔ موندے کیږي، د کونډے او پیغلے ترمینځه فرق کول چه یوه به نشي مجبورولے او بله به مجبورولے شي، دا تفریق بین المتماثلین دے، او دا د صحیح قیاس خلاف خبره ده۔ او دلته چه د ثیب قیدونه لګول شوي نو دا اتفاقي قیدونه دي نهٔ احترازي، حاصل دا شو چه صغر او کبر لره اعتبار دے نهٔ بکارت او ثیوبت لره۔

۳-**دلیل** : د ابن عباس ﷺ په حدیث کښے روستو فصل ثالث کښے راځي چه : یوه پیغله جینئ نبي ﷺ ته راغله او عرض ئے وکړو چه ددے د رضا نه بغیر ددے پلار دا په نکاح ورکړے، نو نبي ﷺ هغے له (د نکاح ماتولو) اختیار ورکړو۔ (ابوداود)

نو په مخکښے حدیث کښے چه د کونډے او پیغلے ترمینځه کوم فرق ذکر شو نو هغه صرف د اجازت په صفت کښے فرق دے، چه هغه اذن صریح او سکوت دے، نهٔ په اصل اجازت کښے، اجازت د دواړو ضروري دے۔

د نبي ﷺ سره د نكاح په وخت د عائشې ﷺ عمر

3129 (4) – وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِينَ وَزُفَّتْ إِلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ وَلَعِبُهَا مَعَهَا وَمَاتَ عَنْهَا وَهِيَ بِنْتُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عائشه ﷺ نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ ددے سره نكاح وكړه په داسے حال كښې چه دا د اُوو كالو وه او ددۀ سره ئے وادۀ وشو په داسے حال كښې چه هغه د نهو كالو وه او ددے ګوډئ (نينزكے) ددے سره وے، او نبي ﷺ ددے نه وفات شو په داسے حال كښې هغه د اتلسو كالو وه۔ (مسلمؒ)

تشريح :[سَبْعِ سِنِينَ] په اكثرو رواياتو كښې دي : چه عائشه ﷺ سره چه نكاح كيده نو هغه د شپږو كالو وه۔ او دلته وائي چه اُوو كالو وه۔ امام نوويؒ فرمائي : ددے تطبيق دا دے چه د عائشې ﷺ عمر شپږ كاله او څه مياشتے دپاسه وو نو بعض رواياتو كښې ئے صرف كلونه ذكر كړي او كسرئے حذف كړے او په دے روايت كښې ئے ورسره كسر هم مراد كړے يعنى په اوم كال كښې روانه وه، نو ځكه ئے اُووه ذكر كړي۔ والله اعلم۔ يا كوم كښې چه (لِسِتِّ سِنِينَ) لفظ ذكر دے نو د هغے معنىٰ دا ده چه شپږ كلونه ئے شوي وو او دلته وائي چه د اوو كالو وه يعني په اوم كال كښې داخله وه۔ [قرطبيؒ : المفهم : ۴/۱۲۰]

[وَزُفَّتْ] يعني وادۀ شوه، د باب نصر نه دے، هديه كول او رسولو او يوځائے كولو ته وائي۔ عرب وائي : [زَفَّتِ النِّسَاءُ الْعَرُوْسَ إِلَى زَوْجِهَا زَفًّا] ۔ زنانو ناوے خپل خاوند ته ورسوله۔ اسم مصدرئے زِفاف دے لكه د كِتاب په شان۔ [وَلُعَبُهَا] د لام پيش او د عين زبر دے۔ دا جمع د لُعْبَة ده۔ هر هغه شي ته وائي چه په هغے باندے لوبے كيږي، يعنى ګوډيانے، نينزكے، چه ماشومے جينكئ په هغے لوبے كوي۔ او ددے په ذكر كولو كښے مقصد د هغے د عمر كم والے او ماشوموالے ذكر كول دي۔

فوائد : (۱) قاضي عياضؒ وائي : ددے نه معلومه شوه چه ګوډيانے او نينزكے ساتل او پدے باندے د ماشومانو جينكو لوبے كول جائز دي، او په يو بل روايت كښے راغلي دي چه رسول الله ﷺ دا وليدلے او د هغے انكار ئے ونكړو۔ علماء وائي : ددے وجه دا ده چه پدے سره ماشومانے د اولادو تربيت زده كوي، او خپل ځان او د كور د جوړولو طريقه زده كوي۔ انتهىٰ۔ امام نوويؒ وائي : احتمال شته چه دا د احاديثو د اتخاذ الصور نه

مخصوص وي۔ ځکه چه پدے کښے مصلحت دے۔ او دا احتمال هم شته چه صورتونه جوړول منع دي، او قصه د عائشے رضي الله عنها په اول د هجرت کښے وي چه پدے وخت کښے لا تصويران نۀ وو حرام کړے شوي۔ والله اعلم۔ اول راجح دے۔

(۲) د ماشومے جينئ سره نکاح جائز ده ليکن که هغه د نزديکت قابله نۀ وه نو نزديکت به ورسره نشي کيدے۔ (۳) د ماشومے په نکاح کښے يواځے جنسي تعلقات مقصد نۀ وي بلکه کله د خاوند په کور کښے تربيت زده کول وي۔ (٤) نبي کريم ﷺ عائشے رضي الله عنها سره نکاح د خواهشاتو په نيت نۀ وه کړے ځکه چه پدے وخت کښے د رسول الله ﷺ عمر (٥٤) کاله وو او هغه داوو کالو وه۔ که خواهشات مقصد وے نو په مخکښے عمر کښے به نبي کريم ﷺ پيغلے کړے وے حال دا چه تولے ئے کُنډے کړے وے۔ بلکه پدے کښے ډير نيتونه او مقاصد وو (أ) دے دپاره چه عائشه رضي الله عنها د ذهن د قوت په وجه دين زده کړئ او امت ته دعوت وکړي۔ (ب) د ابوبکر صديق رضي الله عنه سره محبت زيات شي۔ لکه مخکښے حديث ذکر شو (لَمْ تَرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مِثْلَ النِّكَاحِ)

(ج) د امت دپاره د ماشومانو جينکو سره د نکاح جواز ثابت شي۔ ځکه چه په امت کښے به هم بعض خلك دغه شان جينکو ته ضرورت لري دے دپاره چه د کور خدمت وکړي۔ نو که نبي عليه السلام نۀ وے کړے نو بيا به جائز نۀ وے او د امت به ورته ضرورت وے نو د جواز د بيان دپاره نبي عليه السلام کړے۔ ددے نکاح دولس حکمتونه په الفوائد (٤) جلد ابتداء کښے ذکر شوي دي۔ (٥) د عائشے رضي الله عنها نکاح په شوال مياشت کښے شوے وه نو پدے کښے د جاهليت په غلط رسم باندے رد وو چه هغوي به وئيل چه په شوال مياشت کښے نکاح کښے برکت نۀ وي، د زوجينو ترمينځ نفرت پيدا کيږي۔ نو پدے وجه عائشے رضي الله عنها به رد کولو چه زما نه د نبي کريم ﷺ سره د چا محبت زيات دے۔ ډير پښتانۀ هم ددے رواج نه متأثر شوي، لهذا په شوال کښے نکاح د رسول الله ﷺ عملي سنت ژوندی کول دي۔ (٦) ددے روايت نه معلومه شوه چه کله ماشومه وادۀ شي نو اختيار ورله نشته نو دا د اکثرو سلفو دليل شو۔ نور اهل علم وائي چه د بلوغ نه پس ورله اختيار شته او دلته کښے عائشے رضي الله عنها لره اختيار وو ليکن هغے نبي عليه السلام غوره کړے او مطالبه د فسخ د نکاح ئے نۀ ده کړے۔

(۷) د ماشومانو جينکو دپاره نينزکو باندے لوبے کول جائز دي خو هله چه پخپله ئے

جوړے کړے وی نۀ بازاری او پدے کښے حکمت دا دے چه د اولادو دپاره تربیت زده کړی۔
دویم قول دا دے چه د بازار نه هم اخستلے شی او همدا قول ظاهر دے لکه ابن حزمؒ په محلی کښے ذکر کړے۔ او د اول قول غرض دا دے چه تصاویر عام نۀ شی۔

(۸) بیا دلته د تصاویرو مسئله زده کړه، خلاصه ئے دا ده چه تصاویر مطلقاً حرام دی، نیمګړی او پوره کښے فرق نشته البته د یو څو قسمه تصاویرو اجازت شته : (۱) مَا لَا رُوْحَ فِيْهِ۔ هغه شیزونه چه په هغے کښے روح نۀ وی لکه د غرونو، د بوټو، ګیاهګانو او کعبے او نورے سیندریانو وغیره تصاویر۔ (۲) د کافرو علامه به نۀ وی لکه په باب التصاویر کښے به راشی۔ (۳) د ماشومانو جینکو ګوډئ او نینزکے۔ لکه پدے حدیث کښے۔ (٤) د ضرورت تصویر لکه د ډاکټرانو د ټریننګ دپاره، یا شناختی کارډ، یا په نوټونو کښے تصاویر شول۔ (۵) هغه تصاویر چه څه قدر ئے نۀ کیږی او په زمکه لوغړیږی او خلك پرے ګرځی راګرځی۔

الفصل الثانی

دَ هیڅ زنانه بغیر د ولی نه نکاح نۀ کیږی

3130 (5) – عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" **لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : ابو موسیٰ ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : بغیر (اجازت) د ولی نه نکاح نۀ کیږی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداوٗدؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : [لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ]۔ دلته نفی د حقیقة النکاح ده، یعنی ددے نکاح هیڅ حقیقت نشته، او دا نۀ صحیح کیږی ځکه چه شرعی الفاظ به په حقیقت باندے حمل کیږی تردے پورے چه د هغے نه دلیل صارف نۀ وی، او پدے باندے روستو حدیث دلیل دے چه بغیر د ولی نه نکاح ته ئے باطله وئیلے ده۔ او چه کله نفی د کمال واخستے شی نو بیا دا مجاز ګرځی او مجاز دپاره قرینه ضروری ده او دلته قرینه نشته۔

علامه خطابیؒ وائی : نفی د کمال دا فاسد تاویل دے، ځکه چه په عقودو کښے نفی د فساد دپاره راځی ځکه چه پدے کښے یو جهت وی، چه صحیح کیدل یا فاسد کیدل دی، او دا د عباداتو په شان نۀ وی چه دوه جهته لری، یو کامل او بل ناقص۔ [مرقاة الصعود:

۲/۵۵۳ للسیوطی]

درجة الحدیث :[صحیح] ابوداود : ۲۰۸۵، ترمذی : ۱۱۰۱ وحسنه، احمد : ۱۹۵۳۶، وابن ماجه : ۱۸۸۱، وابن حبان : ۴۰۷۷، وانظر الارواء : (۱۸۳۹)

3131 (6) – وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ": **أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا، فَإِنِ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : عائشه رضي الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : کومے ښځے چه د خپل ولی د اجازت نه بغیر نکاح وکړه نو ددے نکاح باطله ده، ددے نکاح باطله ده، ددے نکاح باطله ده۔ (بیا ددے ممنوعے نکاح نه پس) که سړی ددے ښځے سره هَم بستری وکړه نو په دهٔ باندے مِهر ورکول واجب دی، په دے وجه چه د هغے شرمګاه ئے حلاله ګرځولے۔ نو که اولیاء خپلو کښے اختلاف وکړی نو بیا بادشاه د هغه ښځے ولی دے چه د هغے بل ولی نهٔ وی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ او دارمیؒ روایت کړے)۔

تشریح :[أَيُّمَا امْرَأَةٍ] دا صیغه د عموم دپاره ده، او مطلب ئے د هر قِسم ښځے نه ولایت او اختیار ختمول دی، برابره خبره ده که هغه وادهٔ کړے وی اوکه بے وادهٔ وی۔ [وَلِيِّهَا] د ښځے ولی (واکدار، اختیارمن) د ټولو نه مخکښے پلار دے، بیا نیکهٔ، بیا ځوی (که ګُنډه وه) بیا ورور، بیا ترهٔ۔ څنګه چه په میراث کښے قانون دے، فرق صرف په پلار او ځوی کښے دے چه په میراث کښے ځوی مخکښے دے او په نکاح کښے پلار۔

[بَاطِلٌ] یعنی ناجائز ده۔ او دا نکاح نهٔ ده شوے۔ او دا ئے درے کرته ذکر کړل دپاره د ډیر تاکید او مبالغے۔ [فَإِنْ دَخَلَ بِهَا] که هغے سره ئے جماع وکړه۔ [بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا] ما مصدریه ده، أَيْ: لِأَجْلِ اسْتِحْلَالِهِ فَرْجَهَا (په دے وجه چه د هغے شرمګاه ئے حلاله ګرځولے او د هغے نه ئے نفع اخستے)۔ [فَإِنِ اشْتَجَرُوا] د شجر نه دے اختلاف ته وائی لکه څنګه چه د وُنے ښاخونه په یو بل کښے ننوتی وی، معنیٰ داده : که دوئ خپلو کښے لانده وتل او په جګړه شو۔ یو وئیل زهٔ ئے فلانی له په نکاح ورکوم، او بل وئیل : زهٔ ئے نهٔ ورکوم۔ یا دوئ اختلاف وکړو د ښځے سره چه هیڅ له ئے نهٔ ورکوی او د هغے رغبت

سر ته نۀ رسوی۔ [فَالسُّلْطَانُ] بادشاه، قاضی یا د هغۀ نائب۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په غیر د ولی نه نکاح نۀ کیږی۔ او دا جمهورو سلفو، خلفو او ائمه ثلاثهٔ : مالکؒ، شافعیؒ او احمدؒ قول دے۔ امام ابن المنذرؒ فرمائی : هیڅ یو صحابی ددے خبرے خلاف نۀ دے۔ [بدایة المجتهد : ۳/ ۲۰، نیل الأوطار: ٤/ ١٩٥]

تردے چه که د اولیاؤ خپل مینځ کښے اختلاف هم راشی بیا هم ښځه خپل ځان نشی ورکولے بیا به په دے وخت کښے بادشاه ددے ولی وی، خو ولی خامخا د هغے دپاره ضروری دے۔ (۲) او حدیث نه معلومه شوه چه کله ښځے سره دخول وکړے شی نو دا د پوره مهر حقداره ده، او کله چه دا کار په باطله نکاح کښے کیږی نو په شرعی نکاح کښے خو به خامخا مهر ورکول ضروری وی۔

(۳) د مشکاة په حاشیه کښے ئے د احادیثو تعارض ثابت کړے، بیا ے دوه تاویله کړی، یو دا چه دا حدیث خاص دے د هغه زنانه پورے چه د غیر کُفُ سره ئے نکاح کړی وی۔ نو دا نکاح باطله ده۔ **جواب** : دا دے چه دا خبره بے دلیله ده، بلکه په دے کښے د احنافو د مشهورے قاعدے مخالفت دے هغه دا چه مطلق به په خپل اطلاق جاری کیږی نو دلته حدیث مطلق دے او دے ئے خاص کوی۔ دویم : تاویل داسے کوی چه د عائشے رضی الله عنها عمل ددے روایت نه خلاف دے چه هغے د عبد الرحمن لور منذر بن زبیر ته په نکاح ورکړے وه (کومه واقعه چه مخکښے مونږ ذکر کړه) او د احنافو په نیز دا قانون دے چه کله یو راوی د خپل روایت خلاف عمل وکړی نو دغه روایت له ئے اعتبار نۀ وی۔

جواب ۱ : په دے کښے د جمهورو مذهب صحیح دے چه که یو راوی د خپل روایت خلاف عمل وکړی نو د هغۀ روایت له به اعتبار وی نۀ عمل لره۔ ځکه چه د راوی په عمل کښے ډیر احتمالات کیدے شی، یو : کیدے شی چه روایت ترے هیر شوے وی او د هغے خلاف عمل ئے د هیرے په وجه کړے وی، لکه سهیل بن ابی صالح یو روایت بیان کړو بیا ئے د هغے خلاف عمل وکړو نو ربیعهؒ ورته وویل چه ما ستا نه داسے آوریدلی او تا د هغے خلاف عمل وکړو نو سهیل انکار وکړو بیا ئے اُومنلو نو بیا به ئے چه روایت بیانولو نو داسے به ئے وئیل : [حَدَّثَنِی رَبِیعَةُ عَنِّی أَنِّی حَدَّثْتُهُ عَنْ أَبِی عَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَضَی بِشَاهِدٍ وَیَمِینٍ] ما ته ربیعه حدیث بیان کړو زما نه چه ما هغۀ ته د خپل پلار نه حدیث بیان کړے هغۀ د ابو هریره نه روایت کوی چه نبی ﷺ په یو ګواه او یو قسم

باندے فیصله وکړه۔ [المنهل الروی ص : ۶۸، الیواقیت والدرر فی شرح نخبة ابن حجر : ۱/ ۲۰۴، لعبد الرؤوف المناویؒ، تدریب الراوی : ۱/ ۳۳۵، للسیوطی]

جواب ۲: احنافو پخپله د دغه قاعدے خلاف کړے، هغه داسے چه عائشه رضی الله عنها روایت کوی چه په سفر کښے دوه رکعاته دی (او همدا صحیح حدیث دے) او خپله د عائشے رضی الله عنها عمل د څلورو رکعاتو وو۔ او احناف روایت اخلی او د عائشے رضی الله عنها عمل ترك کوی۔ (دا کار ټیك دے لیکن د خپلے قاعدے خلاف ئے وکړو) نو دغه شان دلته هم د عائشے رضی الله عنها دے عمل لره به اعتبار نۀ وی چه د عبد الرحمن لورئے ورکړیده۔

دریم ښۀ جواب مخکښے ذکر شو چه دغه روایت ناقص دے او د هغے اتمام په سنن کبریٰ کښے راغلے وو چه عائشے رضی الله عنها صرف د نکاح خبره جوړه کړه، او بیائے خپله نکاح ونۀ تړله ځکه چه هغے ووئیل : زنانه د نکاح د تړون ولایت نشی کولے۔ لهذا په دغه روایت باندے استدلال کول ټیك نشو۔ او عبد الرحمن دغه نکاح ونۀ منله نو هسے موقوفه نکاح وه۔

(٤) [بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا] که یوے زنانه پردے سړے خپل وکیل جوړ کړو چه دا بل چا ته په نکاح ورکړی او ددے ښځے ولی یعنی پلار یا تړۀ یا څوی یا ورور موجود وو نو دا نکاح به هم باطله وی ځکه چه دلته ئے داسے وفرمایل چه اجازت د ولی شرط دے۔ بغیر د اجازت د ولی نه نکاح باطله ده۔ البته که ولی یو بل تن ته ووائی چه ما تا ته اجازه درکړه چه زما دا لور چا ته په نکا ورکړه نو بیا نکاح صحیح ده۔ (فتح ذی الجلال)

(٥) [بَاطِلٌ] د بطلان نه مراد عدم صحت دے، ځکه چه دا قانون دے چه شرع کښے کوم الفاظ استعمال شی نو هغه به په خپلو حقیقی معانیو باندے حملیږی لکه چه مخکښے ذکر شو، نو باطل هغه عمل ته وائی چه الله تعالیٰ او د هغۀ رسول ورله اعتبار نۀ ورکوی نو دا تاویل د صاحب اللمعات صحیح نشو چه وائی : مراد د باطل نه بیکاره او بے فائدے کار دے۔ ځکه چه ددے هیڅ معنیٰ نۀ جوړیږی چه دا بی فائدے کار دے، ځکه چه دلته خو ظاهره کښے دواړو طرفته فائده وشوه، ښځے ته هم او خاوند ته هم۔

(٦) باطل : په شریعت کښے د باطل او فاسد فرق نشته، بلکه فساد، بطلان او خداج په یوه معنیٰ سره دے۔ البته فقهاؤ پکښے اختلاف کړے، د احنافو په نیز باطل هغه دے چه د هغے اصل منع وی، او فاسد هغه دے چه هغه د صفت په اعتبار سره منع وی۔

لکه د خنزیر خرڅول باطل دی او یو صاع غنم په دوه صاعو باندې ورکول فاسد دی۔ او حنابله د باطل او فاسد فرق نۀ کوی مگر صرف په دوه ځایونو کښې یو حج او بل په حج کښې جماع۔ که یو تن د حج په دوران کښې (العیاذ بالله) مرتد شو نو ددۀ حج باطل شو او هغه به سر ته نۀ رسوی، ځکه چه دا برباد شو۔ او که یو تن په حج کښې د تحلل اول نه مخکښې جماع وکړی (مثلًا د اختر په شپه په مزدلفه کښې جماع وکړی) نو دا حج فاسد شو نو دا به سر ته رسوی او آینده کال کښې به قضاء هم راوړی۔ (ابن عثیمینؒ)

(۷) [فَإِنْ دَخَلَ بِهَا] یعنی کوم هلك چه د داسې جینۍ سره نزدیکت وکړو چه هغې بغیر د ولی نه نکاح کړې وه نو دا کارئې حرام وکړو، دا ورله جائز نۀ وه لیکن ددې سزا به دا وی چه دا هلك به هغې ته مهر مثل ورکوی۔ ځکه چه دا نکاح فاسده ده لیکن مهر د نزدیکت په بدله کښې لازم شو۔ دلته ئې داسې ونۀ وئیل : [فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَهِيَ زَوْجَتُهُ] که نزدیکت ئې ورسره وکړو نو دا ددۀ ښځه ده۔ بلکه صرف مهرئې پرې لازم کړو۔ ځکه چه د ښځې نه ئې فائده واخسته۔ (فتح ذی الجلال)

(۸) د کومې ښځې ولی چه نۀ وی نو بادشاه یا د هغۀ قائم مقام قاضی وغیره د هغې ولی دې، هغه به په نکاح ورکوی۔ **قاضی په راتلونکو مسائلو کښې د ښځې نکاح کولې شی** : **(اول)** کله چه د ښځې هیڅ یو رشته دار ولی نۀ وی۔ **(دویم)** کله چه نزدې ولی لکه پلار خپله لور د نکاح نه منع کړی نو بیا ولایت سلطان ته نقل کیږی، او د ځینې علماؤ په نیز لرې ولی ته نقل کیږی۔ **(دریم)** کله چه ټول اولیاء یوه ښځه په نکاح باندې د ورکولو نه منع کړی، نو په دې وخت کښې به خامخا ولایت بادشاه یا نائب ته نقل کیږی۔ لکه د بعضِ پلارانو دا خراب عادت وی چه خپله لور د فاسدو اغراضو دپاره د نکاح نه منع کوی، مثلًا : د خپل خدمت دپاره ئې ساتی، یا ګډې بزې او اوښان پرې څروی، لکه کلیوال او بانډه چیان خلك دا کار کوی۔ یا ئې هغه هلك له ورکوی چه د جینۍ خوښ نۀ دې، لکه ورارۀ یا نزدې خپلوان وغیره له، یا جینۍ تنخواه داره وی نو د هغې لاس ته ناست وی، یا د نکاح دپاره په صفاتو کښې سخت شرطونه لګوی۔ دا کارونه ښځو سره ظلم او زیاتې او د هغوئ حق وهل او د جاهلیت والو سره مشابهت کول دی، کوم چه الله تعالیٰ په دې آیت کښې منع کړیدی : ﴿وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ﴾ [النساء : ۱۹]

(څلورم) : کله چه نزدې ولی غائب وی او بیخی پته ئې نۀ لګی نو بیا به ئې سلطان یا

لرې ولي په نکاح ورکوي. په دې شرط چه د دغه نزدې ولي راتللو ته په انتظار کولو کښې مصلحت فوت کېږي.

(۹) که یوه ښځه په یو داسې ملك کښې وي چه هلته د مسلمانانو سلطان یا قاضي نهٔ وي، او د دغه ښځې یا جینۍ ولي هم نهٔ وي، لکه یوه ښځه په کفري ملکونو امریکه، برطانیه، (لندن) یا روس وغیره کښې وسیږي، نو که هلته اسلامي مؤسسه او مرکز وو، نو هغه به دا ښځه چاله په نکاح ورکړي، او که نهٔ وه نو ښځه به خپل واك یو عادل مسلمان له ورکړي او هغه به دا په نکاح باندې چاله ورکړي.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ [التوبة :۷۱].

(مؤمنان سړي او زنانه د یو بل اولیاء (دوستانِ) دي). والله تعالىٰ اعلم. (المغني لابن قدامة) وفتاوی سوال وجواب للشیخ صالح المنجد.

(۱۰) [فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ] داسې ئې ونهٔ وئیل : [فَالسُّلْطَانُ يُزَوِّجُهَا] چه بادشاه به ئې په نکاح ورکوي. بلکه خبره ئې عامه کړه چه بادشاه د هر هغه چا ولي جوړیږي چه د هغهٔ ولي نهٔ وي، نو د اولیاؤ د اختلاف په صورت کښې داسې ده لکه چه ددې ښځې نزدې اولیاء نشته نو بادشاه به ئې ولي جوړیږي. هغه به ورله ښهٔ ځائې ګوري او په نکاح به ئې ورکوي. یا پلار وائي : زهٔ ئې زید ته ورکوم او نور اولیاء وائي : مونږه ئې نهٔ ورکوو، نو بادشاه به وګوري چه که خاطب کُفو وو، (یعني دینداره او اخلاقي وو) نو د پلار خبرې له به اجازت ورکړي. او که کف نهٔ وو نو بیا به د نورو اولیاؤ خبره مني. او که تولو جینۍ هیچا له نهٔ ورکوله نو بیا به بادشاه خپله واکداري کوي. (فتح ذي الجلال)

(۱۱) که په یوه درجه کښې ډیر اولیاء وو لکه ډیر ورونه وي نو چه یو ورور په نکاح ورکړه او ښځه رضا وه نو اګرکه نور ورونه خبر نهٔ وي نو نکاح صحیح ده، اګرکه هغه کشر ولي نهٔ وي. بعض فقهاؤ وئیلي دي چه کوم افضل او علم والا وي هغه به ئې په نکاح ورکوي. بعض وائي چا ته چه دې جینۍ اجازت ورکړې وي هغه به ئې په نکاح ورکوي. مګر اول قول غوره دې. لعموم الدلیل.

درجة الحديث : [صحیح] أبوداود : ۲۰۸۳، ترمذی : ۱۱۰۲، ابن ماجه : ۱۸۷۹، وانظر الارواء : (۱۸٤۰)

بغیر د ګواهانو نه نکاح نۀ صحیح کیږی

3132 (7) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷛ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "**أَلْبَغَايَا اللَّاتِيْ يُنْكِحْنَ أَنْفُسَهُنَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ**". وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ مَوْقُوفٌ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷛ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : زنا کارے هغه ښځے دی چه د خپل ځانونه بغیر د ګواه (او ولی) نه په نکاح ورکوی۔ او ډیر صحیح دا ده چه دا روایت په ابن عباس ﷛ باندے موقوف دے (یعنی د هغۀ وینا ده)۔ (ترمذیؒ)۔

تشریح :[اَلْبَغَایَا] جمع د بَغِیَّةٌ ده۔ زناکاره ښځه۔ د بَغْیٌ او بِغَاءٌ نه دے، زنا ته وائی۔ دا حدیث دلیل دے چه بغیر د ګواهانو نه نکاح کول فاسد دی۔ او دا د جمهورو علماؤ مذهب دے، چه په نکاح کښے دوه ګواهان واجب دی۔ او دا ئے اَدنیٰ درجه ده۔ او دا مشهور مذهب د مالكؒ او احمدؒ دے۔

دلته بعض وائی : د بیّنه نه مراد ولی دے ځکه چه د ولی په وجه نکاح راښکاره کیږی۔ د هغۀ د اجازت نه بغیر نکاح نۀ ثابتیږی۔ که دا معنیٰ واخستے شی، نو بیا د زنا صفت په خپل حقیقت باندے دے۔ او که ګواهان ترے مراد شی نو بیا بغیر د ګواهانو نه نکاح ته د زنا نسبت د تشدید او تغلیظ په توګه دے۔ (لمعات التنقیح)

درجة الحدیث :[ضعیف] الترمذی : ۱۱۰۳، و۱۱۰٤، وقال والاصح انه موقوف علی ابن عباس۔ والبیهقی : ۱٤۰۹۳، المعجم الکبیر : ۱۲٦٥٦، وذکر الموقوف ابن ابی شیبة ۱٦۲۱٦]

د نکاح په وخت د زنانه خاموشی هم د هغے رضا ده

3133 (8) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "**أَلْيَتِيْمَةُ تُسْتَأْمَرُ فِيْ نَفْسِهَا فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ. 3134 (9) - وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى.

ترجمه : او ابو هریره ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یتیمے جینئ نه به د هغے د نفس په باره کښے (په نکاح کښے) اجازت غوښتے شی، نو که غلے شوه نو دا د هغے اجازت دے، او که انکار ئے وکړو نو په دے باندے هیڅ جواز نشته۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ) او دارمیؒ د ابو موسیٰ ﷛ نه روایت کړے۔

تشريح : [اَلْيَتِيْمَةُ] هغه ماشومه چه پلار ئے مړ وی. دلته مراد بالغه باكره (پيغله جينئ) ده ځكه د بلوغ نه مخكښے ددے د اجازت او انكار هيڅ معنىٰ نشته، ديته ئے د مخكښے حالت په اعتبار سره يتيمه وئيلے يعنى هغه يتيمه جينئ چه اُوس بالغه شوے ده، نو ددے نه به اجازت غوښتل كيږى.

ددے مثال داسے دے لكه : ﴿ وَآتُوا الْيَتَامٰى اَمْوَالَهُمْ﴾ [النساء : ۲] دلته د يتيمانانو نه مراد بالغ هلك دے چه مخكښے يتيم وو، اُوس بالغ شو نو د دوئ اولياؤ ته وائى چه خپل مالونه ورته حواله كړئ. نو دا په اعتبار د مَاكَانَ سره يتيمه وه.

او كه د يتيمے نه خپله ظاهرى معنىٰ واخستے شى چه اُوس يتيمه ده، يعنى نا بالغه يتيمه جينئ (ځكه چه د بلوغ نه روستو يتيم والے نۀ وى) نو ددے حكم د غير يتيمے نه جدا دے، ددے په نكاح كښے د اهل علمو **اختلاف** دے : (۱) احناف وائى : اجازت ته ئے ضرورت نشته، ولى ئے بغير د اجازت نه وركولے شى، او په بلوغ كښے ورله اختيار دے چه نكاح فسخ كوى او كه نۀ. (۲) امام احمدؒ وائى : كه نهه كالو ته رسيدلے وه نو اجازت لره ئے اعتبار دے او كه وړه وه نو نكاح ئے ناجائزه ده.

(۳) امام شافعىؒ وائى : يتيمے لره اختيار شته برابره ده چه وړه وى او كه لويه (مُمَيِّزه). د هغے نه به اجازت غوښتے كيږى. او همدا مذهب غوره دے ځكه چه ظاهر د حديث په همدے باندے دليل دے.

[فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا] ددے په خلاف كه يوه جينئ كُفو سره نكاح كول غواړى، او ولى ئے منع كوى نو ولى به مجبوره كولے شى او كه هغه په منع باندے كلك ولاړ وى نو قاضى به ئے په نكاح وركړى. (فقه الاسلام) لكه چه مخكښے تير شو.

درجة الحديث :[حسن صحيح] ابوداود : ۲۰۹۳، صحيح ابى داود (۱۸۲۵)، الترمذى : ۱۱۰۹، نسائى : ۸۷/۶، وحسنه الترمذى وصححه الحاكم : ۱۶۶/۲]

د غلام نكاح د هغۀ د سيد د اجازت نه بغير نۀ صحيح كيږى

3135 (10) – وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" **أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهٖ فَهُوَ عَاهِرٌ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جابر ؓ د نبى كريم ﷺ نه ارشاد نقل كوى چه كوم يو غلام بغير د

اجازت د خپل مالك نه وادهٔ وكړو هغه زنا كار دے۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ)

تشریح :[فَهُوَ عَاهِرٌ] یعنی زناکار۔ مطلب د حدیث دا دے چه لکه څنګه زنانه دپاره ولی ضروری دے نو دغه شان بعض سړو دپاره لکه غلام دپاره هم د خپل مالك اجازت ضروری دے۔

فوائد : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه د مرئي دپاره د خپل مولیٰ او آقا د اجازت نه بغیر نکاح کول جائز نهٔ دی، که دا کارئے وکړو نو دا به زنا کار حسابیږی۔

(۲) ددے منع وجه داده چه د مرئي څټ (ذات) او منفعت ټول ددهٔ د مولیٰ ملکیتِ دے، او کله چه دے د ښځے په حق باندے متبغوله شي نو د مولیٰ خدمت ته نهٔ وزګاریږی، او د هغهٔ په حق کښے کوتاهي راځي۔ بله دا چه په وادهٔ کښے خو به ښځے له مهر او خرچه ورکول ضروری وی، او مرئیے ددے مالك نهٔ دے۔ خو که مولیٰ ورته اجازت وکړی نو بیا نکاح کولے شي۔

(۳) شوکانیؒ لیکی : دا حدیث دلیل دے چه نکاح د غلام بغیر د اجازت د سیّد نه نهٔ صحیح کیږی ځکه چه دلته ئے په داسے قسم غلام باندے د زناکار حکم ولګولو۔ او زنا خو باطله ده نو نکاح ئے هم باطله شوه۔ او داودؒ وئیلی دی چه د غلام نکاح بغیر د اجازت د سید نه صحیح ده، ځکه چه د هغهٔ په نیز نکاح فرض عین ده او فرض عین د چا اجازت ته ضرورت نهٔ لری، لیکن دا قیاس دے په مقابله د نصِ کښے۔

بیا **اختلاف** دے چه هرکله سیّد اجازتِ وکړی نو نکاح د غلام به نافذ کیږی او که نه؟ نو(۱) یو قول دا دے چه دا نکاح د اجازت د مالك پورے موقوف ده۔ که هغهٔ اجازه وکړه نو نافذه به وی، او که اجازه ئے ونکړه نو نکاح ئے صحیح نهٔ ده۔ (دا قول د ابوحنیفهؒ او مالكؒ دے) (۲) **قول** : په اجازه د مالك باندے نهٔ نافذ کیږی بلکه دا نکاح باطله ده۔ او اجازه باطلو عقدونو سره نهٔ پیوسته کیږی۔ نو که مالك اجازت ورکړو بیا به نوے نکاح تړی، جرګه به کوی، مهر به مقرروی، خطبه به وائی۔ (او دا قول د شافعیؒ او احمدؒ دے او همدا **راجح** دے)۔ (او دا مسئله بناء ده په یوه اصولی مسئله باندے چه نهی د افعال شرعیه ؤ نه تقاضا د بقاء د مشروعیت کوی او که نهٔ؟ نو د احنافو په نیز تقاضا د بقاء د مشروعیت کوی، یعنی هغه منهی عنه شے به مشروع وی لیکن نهی سره به د هغه شي په صفت کښے قباحت راغلے وی او ددے مثال د اختر د ورځے روژه نیولو سره

ورکوی۔ او د جمهورو په نیز تقاضا د بقاء د مشروعیت نکوی او همدا مذهب غوره دے ځکه چه شارع حکیم دے، هرکله چه د یو شی نه نهی وکړی نو په هغه شی کښې به قبح وی او هرکله چه هغه قبیح شو نو مشروعیت ئې باقی پاتے نشو۔ نو دغه شان دلته هم د غلام نکاح بغیر د اجازت د سید نه شارع منع کړه نو دا نکاح به نافذه نهٔ وی، که اجازت ملاؤ شو نو بیرته به د سر نه نکاح تړی)۔ (شوکانیؒ بتصرف وزیادة)

درجة الحدیث :[حسن] أبوداود : ۲۰۷۸، الترمذی : ۱۱۱۱، وحسنه۔ وابن ماجه : ۱۹۵۹، وفیه عبد الله بن محمد بن عقیل وقد تکلم فیه بعض اهل العلم من قبل حفظه۔ وانظر الارواء : (۱۹۳۳) وهو حسن الحدیث قواه أحمد والحمیدی والبخاری کما فی سنن الترمذی، رقم : (۳)

الفصل الثالث

بالغه د خپلے نکاح په معامله کښې خود مختاره ده

3136 (11) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ : **إِنَّ جَارِيَةً بِكْرًا** أَتَتْ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی : یوه پیغله جینئ رسول الله ﷺ ته راغله نو هغهٔ ته ئې ذکر کړل چه ددے پلار دا په نکاح ورکړے په داسے حال کښې چه دا بد ګنړونکے ده (نکاح لره) نو نبی کریم ﷺ هغے ته اختیار ورکړو (چه خاوند سره پاتے کیږی او که آزادی اخلی) (ابوداودؒ)

تشریح : [جَارِيَةً] جاریه وړوکے جینئ ته هم وائی، او وینځے ته هم، او پیغلے جینئ ته هم وائی۔ دلته ئې هم دا معنیٰ مراد ده۔ او دلته [بِكْرًا]۔ عطف بیان دے۔ یعنی دا جینئ پیغله وه۔ او کُنډه نهٔ وه۔

فوائد : (۱) دا حدیث هم د مخکنو حدیثونو پشان په دے خبره دلیل دے چه باکره (پیغله) جینئ خوك په نکاح کولو باندے نشی مجبورولے، نهٔ پلار او نهٔ نور رشته داران۔ بلکه ددے نکاح چه کیږی نو ددے په اجازت او موافقت سره به کیږی۔ که دے په خوشحالئ سره اجازت ورکړو نو ښه ده، که نهٔ وی نو مجبورولے به نشی۔ په دے حدیث کښې د دغه پیغلے جینئ پلار دا په نکاح ورکړے وه، حالانکه دا نکاح ددے خوښه نهٔ وه، نو ځکه نبی ﷺ دیته اختیار ورکړو چه ستا خوښه ده که د پلار دا نکاح برقراره ساتے

اوکه ماتوي ئې۔ په دې حدیث کښې په هغه چا ښکاره رد دې چه هغوئ وائي : پېغله جینئ باندې پلار په نکاح کښې زور کولې شي۔ (لکه امام شافعيؒ وغیره)۔

(۲) او ددې حدیث نه د شریعت کمال معلوم شو چه په دې کښې د ښځو د حقونو پوره پوره حفاظت شوې۔ او د ښځې رائې او رضامندئ له پوره اعتبار ورکړې شوې۔ جینکئ چه دا قِسم حدیثونه واوري نو د خپل دین سره ئې شوق او مینه پیدا کېږي۔ او حقیقت هم داسې دې۔ ○ تاسو به وینئ په معاشره کښې څومره واقعات راځي چه پلار خپله لور یو هلك له په نکاح ورکوي او د جینئ دغه هلك خوښ نهٔ وي لیکن پلار دغه جینئ په دغه نکاح باندې مجبوره کړي، نو بیا دغه جینئ د خپل دین نه د ناخبرئ په وجه ځان ووژني، کله ځان وسیزي، او خپل آخرت تباه کړي ددې وجه څهٔ ده ؟ صرف د پلار جهالت او د خپل دین نه ناخبري۔ والله تعالیٰ اعلم۔

د جاریه نه مراد به بالغه واخلې نو بیا دا حدیث د جمهورو دپاره دلیل دې چه دلته نبي علیه السلام بالغې جینئ له اختیار ورکړو چه د خاوند سره پاتې کېږي او که نهٔ۔ معلومه شوه چه په نکاح کښې د جینئ اجازت ضروري دې۔ او پدې کښې رد دې په مذهب د امام شافعيؒ باندې۔ او که د جاریه نه وړوکې جینئ مراد کړې شي چه هغه ئې په وړوکوالي کښې ورکړې وه نو بیا دا دلیل شو د بعض سلفو د مذهب لکه چه په حدیث د خنساء بنت خذام رضي الله عنها کښې ذکر شو چه جینئ په وړوکوالي کښې ورکړې شي نو د بلوغ نه پس د هغې اختیار دې چه دغه نکاح منسوخ کوي او که باقي ئې پرېدي۔

درجة الحديث :[صحيح بشاهده] أبو داود : ۲۰۹٦، ورجاله ثقات إلا أنه أعل أبو داود بأن جماعة من الثقات رووه مرسلا، ولكن له شاهد بمعناه يقويه من حديث خنساء بنت خذام الأنصارية الذي مر قريبًا۔ وانظر الإرواء (۱۸۳۰)۔

د ولي نه بغیر د یوې زنانه نکاح کول زنا ده

3137 (12) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : " **لَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ وَلَا تُزَوِّجُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَإِنَّ الزَّانِيَةَ هِيَ الَّتِي تُزَوِّجُ نَفْسَهَا** ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او ابو هریره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل : ښځه بله ښځه په نکاح نشي ورکولې او نهٔ ښځه خپل ځان په نکاح ورکولې شي ځکه چه زناکاره هغه ښځه ده

چه خپل ځان په نکاح ورکوی۔ (ابن ماجة)

تشریح :[لَاتُزَوِّجُ]۔ لا نافیه ده په معنیٰ د نهی سره دے۔ دا حدیث د احنافو د مذهب خلاف دے نو پدے وجه د مشکاة حاشیه والا لیکی : زمونږ په نیز دا نهی د تنزیه دپاره ده۔ **جواب** : داسے ښځے ته د زنا نسبت کول دلیل دے چه دا الفاظ د تنزیه دپاره نهٔ دی بلکه دا نهی د تحریم دپاره ده۔ دویم : تاویل ئے دا کړیدے چه دا حمل دے په هغه صورت چه ګواهان پکښے نهٔ وی او کُف سره ئے نکاح نهٔ وی کړی۔

جواب : دا بے دلیله خبره ده، حدیث مطلق دے، په خپل اطلاق به جاری کیږی۔ نو مطلقاً ښځه بغیر د ولی نه نکاح نشی کولے، او که دے قیدونو ته ضرورت وے نو نبی ﷺ به بیان کړی وے، یا به بل ځائے کښے بیان شوی وے او دا قیدونه هیچرته نشته۔

[فَإِنَّ الزَّانِيَةَ تُزَوِّجُ نَفْسَهَا] یعنی زناکاره ښځه خپل ځان په نکاح ورکوی۔ مطلب دا چه کومه زنانه خپل ځان د ولی د اجازت نه بغیر چا ته په نکاح ورکوی نو هغه به زناکاره حسابیږی۔ ځکه چه زناکاره ښځه د ولی نه اجازت نهٔ اخلی بلکه د خپله سَره وی۔

درجة الحديث :[حسن لشواهده أو صحيح لغيره] ابن ماجه : ۱۸۸۲، واخرج الدارقطنی باسناد اصح منه۔ وفیه ان قوله : فان الزانية : انما هو موقوف علیٰ ابی هریرة وهو الارجح، وانظر بیانه فی الارواء (۱۸٦۲)۔

د اولاد په حقله د پلار ذمه واریانے

3138 (13) – وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عَبَّاسٍ قَالَا : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنْ وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ فَلْيُحْسِنْ اسْمَهُ وَأَدَبَهُ فَإِذَا بَلَغَ فَلْيُزَوِّجْهُ فَإِنْ بَلَغَ وَلَمْ يُزَوِّجْهُ فَأَصَابَ إِثْمًا فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلٰى أَبِيهِ ".

ترجمه : او ابو سعید ﷺ او ابن عباس ﷺ دواړو وفرمایل : رسول الله ﷺ فرمایلی : د چا چه ماشوم پیدا شی نو هغه دِے ورله ښائسته نوم کیږدی، او ښهٔ ادب (او تربیت) دِے ورکړی، بیا هرکله چه بلوغ ته ورسیږی نو وادهٔ دِے ورله وکړی، او که هغه بلوغ ته ورسیدو او وادهٔ ئے ورله ونکړو او ګناه ته ئے رسیدل وکړل نو د هغهٔ ګناه به د هغهٔ په پلار باندے وی۔

تشریح :[فَلْيُحْسِنْ] دا په تخفیف (فَلْيُحْسِنْ) او تشدید (فَلْيُحَسِّنْ) دواړو سره صحیح

دے۔ پـدے حـديث كښے د ځوی په پلار باندے حقوق ذكر دی، د بچی يو حق دا دے چه د هغـهٔ دپاره به ښائسته نوم منتخب كوی، ځكه چه ښائسته نوم په بچی باندے په ټوله زندگئ كښے ښه اثرات مرتب كوی۔ او هغهٔ ته په بد نوم باندے شرم ورځی۔
[وَأَدَبَهُ] دا په (اِسْمَهُ) باندے عطف دے۔ **ادب معنیٰ ده :** [إِسْتِعْمَالُ مَا يُحْمَدُ قَوْلًا وَفِعْلًا] بهترين اقوال او افعال استعمالول او په هغے باندے عمل كول۔
يا [اَلْأَخْذُ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ] ښائسته اخلاقو باندے عمل كول۔
يا [هُوَ تَعْظِيمُ مَنْ فَوْقَكَ وَالرِّفْقُ بِمَنْ دُوْنَكَ]۔ (د ځان نه د مشر تعظيم او اكرام كول او د كشرانو سره نرمی كول)۔[فتح الباری : ۱۰/۴۰۰]۔
دا دويـم حـق دے، چه پلار به بچی ته ښكلے شرعی اداب زده كوی، داسے د خپله سَره به ئے نـهٔ پريدی لكه څنګه چه زمونږ معاشره كښے صرف اولاد راوړی او د تربيت هيڅ غم ئے نـهٔ كوی۔ نن صبا دور كښے د فحاشئ او بے حيايئ او جنسی بے لارے توب لوی سبب همـدا دے چه كوم نسل پيدا كيږی هغه د اعمالو او د كردار او ذهن او عقيدے د بنيادی تـربيـت نـه مـحـروم پاتے وی كـوم چـه د والـدينو ذمه واری وه چه بچو ته به ئے وركوی۔ رسول الله ﷺ مـونـږ لـره دے ذمـه واریٔ تـه متوجه كوی چه دا ستاسو فريضه او د بچو حق دے۔ د بچو د تربيت طريقه دا ده چه كله بچے هوش سنبال كړی او په خبره پو هه شی نـو د هـغـهٔ تـعـليـم او تـربيـت طـرف ته به توجه وركړی پدے طريقه چه هغهٔ ته به د دين تـعـليم وركوی، د اسلامی احكامو او آدابو سره به ئے اموخته كوی او هغهٔ ته دِے د ژوند اعلیٰ اصول او ښے طريقے په دماغو كښے واچوی، د خپلوانو سره احسان او ښكلے سلوك كـولـو تـلـقين، د مانځه پابندی، د مانځه طريقه، د وعدے پابندی، چا ته ضرر نهٔ وركولو سبق وركړے شی دے دپاره چه د اول نـه د هـغـهٔ پـه زړهٔ او دماغو كښے د نيكئ او بدئ امتيـاز كينـی تـردے چـه د هـغهٔ كردار پدے باندے پوخ شی چه د ژوند په هره لاره كښے هغه نيكئ او ښيګړے طرفته بوځی۔
دريـم دا چـه كـلـه بـلـوغ تـه ورسيـږی نو وادهٔ به ورله كوی۔ دے دپاره چه هغه د جنسی جـذبـاتـو نـه د مـغـلـوبيت ښكار نشی او په غلطو لارو روان نشی، زمونږ د معاشرے يوه غټه خرابی دا هم ده چه هلك او جينئ له ودونه ډير ناوخته كولے شی، والدين پدے طمع وی چه صبر شه ډيوتی او جاب ملاؤ شی بيا به وادهٔ كوی، او ډيرے جينكئ پدے طريقه

زړې شي۔ دا ډیر غلط ذهن دے، د رزق ذمه وار الله تعالىٰ دے، د واده سره فراخیانے راځي لیکن دا خبره یقین غواړي۔ والله المستعان۔

مسئله : که پلار غریب وو نو بیا پرے واجب نهٔ ده چه ځوی له به واده کوی بلکه ځوی به د خپل ځان غم کوی، او که مالداره وی او ځوی له واده نهٔ کوی او هغهٔ کومه ګناه وکړه نو پدے کښے به د پلار پوره پوره برخه وی، پداسے صورت کښے په پلار باندے واجب ده چه ځوی له به واده کوی ځکه چه دلته (فَلْيُزَوِّجْهُ) امر د وجوب دپاره دے۔ که پلار هم مالداره وی او ځوی هم، نو بیا په پلار باندے ځوی له واده واجب نهٔ دے۔ ځکه چه د وادهٔ تکالیف برداشت کول د هغه واجبے نفقے نه نهٔ دی کومه چه په پلار باندے د بچو دپاره واجبه وی او دا مذهب د جمهورو دے۔ البته که واده ئے ورله وکړو نو بهتره ده۔

درجة الحديث :[إسناده ضعيف] البيهقي في الشعب : ٨٦٦٦، انظر الضعيفة : (٧٣٨) وفيه محمد بن عبد الله العسكري مجهول وشداد بن سعيد الراسبي صدوق يخطئ والجريري ممن اختلط۔

او هلك او جينئ چه بالغ شي نو هغهٔ له نكاح وكړه

3139 (14) – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: "**فِي التَّوْرَاةِ مَكْتُوبٌ : مَنْ بَلَغَتِ ابْنَتُهُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً وَلَمْ يُزَوِّجْهَا فَأَصَابَتْ إِثْمًا فَإِثْمُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ**". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيْمَانِ".

ترجمه : او عمر بن خطاب رضي الله عنه او انس بن مالك رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی: په تورات کښے لیکلے شویدی: د چا لور چه دولسو کالو ته ورسیده او په نکاح ئے ورنکړه او ګناه ته ئے رسیدل وکړل نو ددے ګناه به په هغهٔ باندے وی۔ (بیهقیؒ، شعب الایمان)

تشريح : [فِي التَّوْرَاةِ] رسول الله ﷺ فرمائیلی وو: [حَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا حَرَجَ] [أبوداود : ٣٦٦٤ صحيح] ۔ ((د بنی اسرائیلو نه تاسو حدیثونه او واقعات بیانوئ پدے کښے څه حرج نشته))۔ خو پدے شرط چه د اسلام خلاف نهٔ وی۔ پدے کښے اشاره کوی چه دا مسئله دومره اهمه ده او د معاشرے د اصلاح دپاره ضروری ده چه په تورات کښے هم لیکلے شوے چه خور لور به په جلتئ سره ورکوئ، کله چه د زنانه دپاره کفو (دینداره اخلاقي) مسلمان ملاویږی نو هغهٔ ته ئے ورکول پکار دی، ولے که هغهٔ ته ئے ورنکړی او

هغې د يوې گناه كار ته رسيدل وكړل نو پلار به ئې گناهگار وي۔
[إِثْمًا]۔ يعنى د گناه والا كار۔ [اثْنَتَيْ عَشْرَةَ]۔ ددې نه مراد بلوغ دې، او خاص همدا عمر معيّن نۀ دې، كله به ددې نه روستو بلوغ راځي او كله مخكښې۔
دويم : معلومه شوه چه د پخوانو امتونو شرع زمونږ دپاره هله شريعت دې چه زمونږ په دين كښې د هغې تائيد موجود وي، يا په هغې كښې يوه راغلې مسئله زمونږ د دين خلاف نۀ وي۔
درجة الحديث : [إسناده صحيح والمتن منكر] أورده البيهقي في الشعب من طريق شيخ الحاكم، قال عقبه : قال الحاكم : هذا وجدته في أصل كتابه يعني بكر بن محمد بن غبدان الصدفي- وهذا إسناد صحيح والمتن شاذ بمرة، قال البيهقي : إنما نرويه بالإسناد الأول، وهو بهذا الإسناد منكر۔ وعزاه في الجامع الصغير (۲/۲۰٦) لابن النجار أيضا - والديلمي.



۳- باب إعلان النكاح والخطبة والشرط

د نکاح اعلان او د نکاح د خطبې او شرط بیان۔

د نکاح د شرائطو نه یو شرط د نکاح اعلان او ښکاره کول دی نو اُوس هغه بیانیږی۔
اعـلان نـه مراد د نکاح ښکاره والے دے، او خطبه کښې دلته دوه لغات جائز دی، په زیر د خاء سره جرګے او پیـغام د نکاح ته وائی، دا هم روستو بیانیږی۔ او خُطبه د خاء په پیښ سره هـم جائـز ده ځـکـه چـه روستو د نکاح خطبه هم ذکر کیږی۔ او د شرط نه مراد یا د سرې شرط لګول دی یا د ښځې۔
د نکاح په اعلان کښې د علماءِ کرامو اختلاف دے، دوه قوله دی (۱) د امام مالك په نیز د نـکـاح اعـلان واجب دے، او د اعلان معنیٰ دا ده چه څه نا څه خلك خبر شی چه فلانی شـخـص فـلانـی لـره خـور یـا لـور ورکـړه۔ او دا اعلان په تمبل او چمبو وهلو وغیره سره کیږی۔ (۲) جمهور وائی : دوه ګواهان کافی دی۔ او اعلان فقط مستحب دے۔
دلائل : امام مالك وائی په یو حدیث کښې امر راغلے :
[أَعْلِنُوا هٰذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ] [الترمذی: ۱۰۸۹]۔
دا روایت اګـرکـه متـکـلم فیهِ دے، عیسی بن میمون الانصاری ضعیف الحدیث دے۔
لیکن د اعلان امر پکښې قوی دے۔ کما قال الالبانیؒ۔ وسیأتی۔
۲- **دلیل** : روستـو حدیث په فـصـل ثانی کښې راغلے [فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ الصَّوْتُ وَالدُّفُّ] ۔ (د حـلال او حـرامے نکاح ترمینځ فرق اعلان او تمبل وهل دی)۔ او په تـمـبـل وهلو سره د نکاح اعلان راځی او په احادیثو کښې چه د دف او اشعارو جواز راغلے دے نو هغه هم د اعلان په نیت سره دے۔
جـمهور وائی : ګواهان ضروری دی۔ **دلیل** : ۱- حـدیث د مسند احمدؒ دے : [لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَىْ عَدْلٍ] ۔ نکاح بغیر د ولی نه او د دوه ګواهانو نه نهٔ کیږی۔ دلته احناف د دویـمـے فـقـرے نـه اسـتـدلال کـوی او اولـه فقره پریږدی۔ شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ د امام مالك قول غوره کړے، او دا ئے وئیلی چه د ګواهانو په باره کښې قوی احادیث نشته، او د

اعلان په باره کښې قوی احادیث موجود دی۔ بل طرفته جمهور وائی چه په ګواهانو سره د نکاح اعلان راځی۔

(۳) – قول : محققین علماء وائی چه اعلان او ګواهان دواړه ضروری دی، د نکاح په وخت کښې چه کوم خلك ناست وی دغه کسان ګواهان شو او که جدا ګواهان مقررو هم څه باك نشته۔ د احادیثو په اعتبار سره دا قول قوی ښکاری کما فی نصب الرایه۔ نو صحیح نکاح دا شوه چه په هغې کښې مهر، ولی، اعلان او ګواهان وی، که پدے کښې یو شے نهٔ وو نو نکاح به ناقصه وی۔ نکاح د خطبے نه بغیر هم کیږی لیکن نکاح کښې خطبه مسنون او افضل ده، ۔ او **خطبه** کښې سنت طریقه دا ده چه د نکاح د تړلو په وخت کښې به ئے وائي، یعنی اول به خطبه ووائی بیا به ایجاب او قبول وکړی۔ ډیر خلك ناوے کورته راولی بیا نکاح تړی او خطبه پکښے وائی، دا طریقه د سنت خلاف ده۔ بلکه په اول وخت د ایجاب او قبول کښے پکار ده۔ او د خطبے متعلق پنځه احادیث راغلی دی لکه روستو به راشی۔ ان شاء الله تعالیٰ۔

د نکاح شرطونه : د شرطونو نه مراد هغه شرطونه دی چه په نکاح کښے ذکر کیږی برابره ده چه فاسد وی یا صحیح۔ په نکاح کښے شرطونه په دوه قسمه دی :

(۱) [اَلشُّرُوْطُ الَّتِیْ یَقْتَضِیْهَا الْعَقْدُ] ۔ هغه شرطونه چه عقد ئے تقاضا کوی، د عقد مطابق وی۔ او دا شروط جائز دی او پابندی پرے واجبه ده۔ مثال لکه دا شرط لګول چه ښځے سره به ښائسته ژوند تیره وی، اخلاق به ورسره کوی، نفقه او مهر او د اُوسیدو کوته به ورکوی۔ (۲) [اَلشُّرُوْطُ الَّتِیْ لَا یَقْتَضِیْهَا الْعَقْدُ]۔ هغه شرطونه چه عقد ئے تقاضا نهٔ کوی نو دا بیا په دوه قسمه دی : (أ) هغه چه د شریعت مطابق وی۔ (ب) هغه چه د شرع مخالف وی، نو د شریعت نه په مخالف شرطونو کښے بالاتفاق پابندی کول نشته، مثال لکه ښځه غواړی چه خاوند بله ښځه طلاقه کړی، مور او پلار وشړی، د ګمراهئ سامان کورته راوړی۔ او هرچه د شرع موافق شرطونه دی لکه دلسے ووائی : ما به د کلی نه نهٔ بهر کوے، په ما باندے به بل وادهٔ نهٔ کوے، د خپلوانو زیارت ته به مے پریږدے نو ددے په پوره کولو کښے د علماؤ **اختلاف** دے۔

(۱) مالكؒ، او ابو حنیفهؒ وائی چه پدے باندے پابندی ضروری نهٔ ده۔

(۲) امام شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ نه امام ترمذیؒ نقل کړی او دا قول د عمر فاروق ﷺ

دي چه ددې شرطونو پابندي لازم ده۔ او دا مذهب د امام بخاريؒ او د عامو محدثينو هم دے او همدا حق دے، وجه د حقانيت دا ده چه روستو حديث د عقبه بن عامرؓ کښې راځي : [إِنَّ أَحَقَّ الشُّرُوْطِ أَنْ تُوْفُوْا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُم بِهِ الْفُرُوْجَ]۔
(د پوره والي ډير لائق شرطونه هغه دي چه تاسو په هغې باندې زنانه ځان دپاره جائز کړيدي)۔ نو که ددې نه مراد دا شرطونه نشي نو حديث کښې به څه فائده رانشي۔ دارنګه دا شرطونه وعده ده او وعده چه کله د شريعت خلاف نۀ وه د هغې پابندي لازم ده، او د هغې مخالفت ممنوع دے۔

الفصل الأول

د نکاح او وادۀ په وخت تمبل وهل جائز دي

3140 (1) – عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ : جَاءَ النَّبِيُّ ﷺ فَدَخَلَ حِيْنَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلَى فِرَاشِيْ كَمَجْلِسِكَ مِنِّيْ فَجَعَلَتْ جُوَيْرِيَاتٌ لَنَا يَضْرِبْنَ بِالدُّفِّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِيْ يَوْمَ بَدْرٍ إِذْ قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ: وَفِيْنَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ فَقَالَ :" **دَعِيْ هٰذِهٖ وَقُوْلِيْ بِالَّذِيْ كُنْتِ تَقُوْلِيْنَ** ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ربيع بنت معوذ بن عفراءؓ فرمائي : نبي کريم ﷺ راغلو رانوتو (زمونږ کوټې ته) په هغه وخت کښې چه زما وادۀ شوے وو، نو زما په بستره باندې کيناستو لکه په کوم ځائے چه تۀ زما سره ناست ئې، نو شروع شوے زمونږ څه جينکۍ چه تمبل ئې وهلو او ستاينې ئې کولې د هغه چا چه د بدر په ورځ زمونږ د پلارانو نه وژلے شوي وو، اچانك د دوئ نه يوې وويل : او په مونږ کښې داسې نبي دے چه په هغه خبره پو هيږي چه صبا له کيږي نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : دا خبره پريده (يعني داسې قسمه خبرې مۀ کوه) او وايه هغه خبره چه تا (مخکښې) وئيل۔ (بخاريؒ)

تشريح :[بُنِيَ عَلَيَّ] دا لفظ د عربو د عادت مطابق وئيلے کيږي، ځکه چه عربو به په ناوې باندې يوه خيمه او ډولۍ وهله او په هغې کښې به ئې کينوله بيا کنايه ده د زفاف (وادۀ/ رخصتۍ) نه۔ **سوال** : نبي ﷺ څرنګ پردۍ کوټې ته تلے دے؟ نو حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري کښې ددې جواب کړيدے چه دا د نبي ﷺ د خصوصياتو نه وه ځکه چه هغه په امت باندې مامون وو۔ ليکن صاحب د مرقات په هغۀ باندې رد کړے چه دلته

خو جویریات (جینکۍ) موجودے وے، دلته خلوت نشته۔ انتهیٰ۔

د ابـن حـجـرؒ خبره په نورو ځایونو کښې صحیح ده اګرکه دلته نۀ ده مراد۔ [كَمَجْلِسِكَ مِنِّيَ]۔ دا خـطـاب دے، د ربیع شاګرد خالد بن ذکوانؒ ته۔ [جُوَيْرِيَاتٌ]۔ دا جمع د جُوَيْرِيَةٌ ده، تصغیر د جَارِيَةٌ دے، وړوکے جینکۍ۔ [بِالدُّفِّ]۔ دف جمع ئے دفوف راغلے ده، دا چمبے او تمبل ته وائی چه یو طرف ئے کولاؤ وی، زنانه ئے په ودونو کښې وهی۔ او ددے نه دوکړئ، ډولـکی، ډومبقی، او بېنډ باجے نۀ دی مراد۔ [يَنْدُبْنَ]۔ یـعنی ستاینه ئے کوله د وژلے شوو پلارانو۔ [دَعِيْ هٰذِهٖ] یـعنی دا کلمه پکښې پریده، دا مۀ وایه او مخکښې دِے چه څه وئیل هغه وایه ځکه چه ددے کلمے نه شرکی بوئی راځی۔

فوائد : (۱) – **مسئله** : **د تـمبل په وهلو کښې د علماؤ اختلاف دے**، بعض وائی چه دف وهـل یـا خو حرام دی یا مطلقاً مکروه دی، او بعض علماء وائی چه مطلقاً مباح دی۔ پدے کښې صحیح خبره دا ده چه چمبه وهل جائز دی خو په شرطونو سره :

(۱) په دف کښې به ګونګری نۀ وی، ځکه چه دا شیطانی شے دے۔ (۲) دواړه طرفونه به ئے بـنـد نـۀ وی، یـعـنی ډول او دوکړئ او باجے به نۀ وی۔ ځکه چه د هغے شر زیات دے، او فتـنـه ئے لـویـه ده۔ (۳) زنانه به ئے وهی، نۀ سړی۔ او مشرانے زنانه ئے هم وهلے شی لکه روستو حدیث نه معلومیږی۔ لیکن پدے شرط چه سړی به ئے آواز نۀ آوری۔

(٤) پـدے کښې بـه د پـردو سړو سره اختلاط نۀ وی۔ (٥) پدے کښې به داسے آوازونه او شعرونه نۀ وی چه هغے کښې ګناه وی لکه د شرابو صفت کول، یا عشقی شعرونه وئیل، یا د زنـانـو صـفتـونه کول، دا کار منکر دے اګرکه زنانه ئے هم کوی۔ شیخ ابن بازؒ وئیلی دی چـه چمبے وهـلـو کښې د نـکـاح اعلان وی پدے وجه شریعت جائز کړے او ددے سره جائز شعـرونه وئیل جائز دی چه په هغے کښې د ښځے او د هغے د کورنۍ او د خاوند او د هغـۀ د کـورنۍ مدح او صفتونه وی، که دا چمبه او شعرونه د ناروا کار دپاره وهی لکه د شرابو صفت کوی یا د زنا نو دا کار اګرکه زنانه ئے کوی– حرام دے۔

جائز چمبه وهل او شعرونه وئیل هغه دی چه په هغے کښې ناروا نۀ وی، او غلط الفاظ نـۀ وی، شـرکـی الـفاظ نۀ وی، دا که وړے جینکۍ وهی نو ښه ده او که غټو ښځو پکښې شـرکت وکړو نو هم منع نۀ ده لـیکن د حدودو نه به تجاوز نۀ کوی۔ ډیګونه به نۀ لګوی، او غـلـطے ګـانـے بـه پـکښې نۀ وائی۔ په ودونو یا اخترونو کښې وهل یا کله چه یو عزتمن

میلمه راشي د هغهٔ مخې ته ئې ماشومانې جینکۍ ووهي نو جائز ده۔ [مجموع فتاوی ومقالات الشیخ ابن باز : ۲۱/۱۷۸]۔

په اخترونو کښې د تمبل وهلو د جواز روایت په بخاري او مسلم کښې راغلې چه د عائشې رضي الله عنها خوا ته دوه جینکۍ د مِنیٰ (اختر) په ورځ باندې ناستې وې چه تمبل ئې وهلو او نبي ﷺ په جامه باندې سر پټ کړې وو، نو پدې کښې ابوبکر رضي الله عنه راننوتو نو دواړه ئې ورټلې، نبي ﷺ د مخ نه جامه لرې کړه او وې فرمایل :

[دَعْهُمَا يَا اَبَا بَكْرٍ فَاِنَّهَا أَيَّامُ عِيْدٍ، وَتِلْكَ الْأَيَّامُ أَيَّامُ مِنًى] [بخاري : ۹٤٤، مسلم : ۸۹۲، واللفظ له]۔ دا پریده اې ابوبکر! ځکه چه دا د اختر شپې ورځې دي۔

او په وادهٔ کښې د تمبل وهلو دلیل خو دا حدیث الباب دې۔ او د عزتمن شخص په راتللو باندې دُف وهلو جواز په روایت د ترمذي وغیره کښې دې :

بریده رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ بعض غزواتو ته ووتو بیا چه راواپس شو نو یوه توره جینۍ ورته راغله چه ما نذر کړې چه که الله تعالیٰ تهٔ روغ راواپس کړې زهٔ به ستا مخې ته تمبل وهم او شعرونه به وایم، نو نبي ﷺ ورته وفرمایل : که تا نذر کړې وي نو ووهه او که نهٔ وي نو مهٔ وهه۔ نو هغې په وهلو شروع کړه، پدې کښې ابو بکر صدیق رضي الله عنه راننوتو، بیا علي رضي الله عنه بیا عثمان رضي الله عنه او هغې تمبل وهلو، هرکله چه عمر فاروق رضي الله عنه راننوتو نو هغې تمبل شا ته وغورزولو او په هغې باندې کیناسته نو رسول الله ﷺ وفرمایل : اې عمره! شیطان تا نه خامخا یریږي، زهٔ او ابوبکر او عثمان او علي (رضي الله عنهم) ناست وو دې تمبل وهلو خو هرکله چه تهٔ راننوتې نو دې تمبل وغورزولو۔

[رواه الترمذي : ۳٦۹۰، وصححه الالباني في صحیح الترمذي : ۲۹۱۳]۔

په احادیثو کښې دا درې مقامات راغلي دي، ددې نه علاوه ځایونو کښې به په خپل تحریم باندې پاتې وي، اګرکه بعض علماؤ پکښې توسع کړیده، او وئیلي ئې دي چه د ماشوم د پیدا کیدو، او د ختنې (سنت ګیرۍ) په وخت کښې هم تمبل وهل جائز دي، او ځینو پکښې نوره فراخي پیدا کړې، او وئیلي ئې دي چه هره خوشحالۍ کښې او د مریض په ښهٔ کیدو کښې تمبل وهل جائز دي۔ [الموسوعة الفقهیة : ۳۸/۱٦۹]۔

لیکن غوره دا ده چه د نص سره ودریدل پکار دي، ځکه چه اصل په دف (تمبل) کښې تحریم دې۔ د دغه ځایونو په احادیثو کښې استثناء راغلې ده۔ ځکه حدیث کښې دي :

[لَيَكُونَنَّ فِي أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ (اَيِ الزِّنَا) وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ] [بخاري: ۵۵۹۰]- (خامخا زما په امت کښې به داسې خلك وي چه هغوي به زنا او وريښم او شراب او ټنګ ټکور جائز ګڼړي)- (معازف: د ټنګ ټکور او تماشو آلات او سامان ته وائي، او د ټنګ ټکور آوازونو ته هم، او خپله دُفوف (تمبلونو) ته هم وائي- (فتح الباري: ۱۰/۵۵)
دا حديث دليل دے چه د موسيقي ټول آلات حرام دي، او په هغے کښې دف (تمبل) هم دے- عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي: [اَلدُّفُّ حَرَامٌ، وَالْمَعَازِفُ حَرَامٌ، وَالْكُوبَةُ (اَيِ الطَّبْلُ) حَرَامٌ، وَالْمِزْمَارُ حَرَامٌ] [البيهقي: ۱۰/۲۲۲]-
چمبه حرامه ده، د ټنګ ټکور سامان حرام، تمبل حرام او شپيلۍ او باجے حرامے دي- صرف دغه مذکوره مواضع ترے شريعت مستثنیٰ کړي-
شيخ الاسلام ابن تيميۀ فرمائي: اسلام هيڅکله د امت د نيکانو، عابدانو او زاهدانو دپاره دا نۀ دي جائز کړي چه هغوي راجمع شي دے دپاره چه هغوي غلطو شعرونو او ګانو بجانو ته غوږ کيدي، او ددے سره لاسونه هم پرقوي، يا ورسره چوکے وهي، يا تمبل وهي، ليکن رسول الله ﷺ په وادۀ وغيره کښې د لهو د بعض اقساموا اجازه ورکړيده لکه زنانو ته ئے رخصت ورکړے چه په ودونو او خوشحاليانو کښې دف ووهي، او هرچه سړي دي نو د نبي ﷺ په زمانه کښې د هيڅ سړي نه دا نۀ دي ثابت چه هغۀ تمبل وهلے وي، يا ئے تارپانے وهلي (لاسونه ئے پرقولي) وي، بلکه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:
[اَلتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ وَالتَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ] [مسند احمد: ۱۰۲۱۷ صحيح]- په مانځه کښې د فتح ورکولو دپاره لاسونه پرقول د زنانو دپاره دي او د سړو دپاره سبحان الله وئيل دي- او رسول الله ﷺ په هغه سړو لعنت کړے چه د ښځو سره ځان مشابه کوي لکه څنګه ئے چه په هغه زنانو لعنت وئيلے چه د سړو سره ځان مشابه کوي- او کوم سړي چه به چمبه وهله نو سلفو به هغۀ ته مُخنث (هيجړا) وئيلو-[مجموع الفتاوى: ۱۱/۵٦۵، ٤٦٦]-
حافظ ابن حجرؒ فرمائي: قوي احاديثو کښې اجازت صرف د زنانو دپاره راغلے دے نو د هغوي پورے به پدے حکم کښې سړي نۀ پيوسته کيږي ځکه چه سړو دپاره د ښځو سره د مشابهت نه عمومي نهي راغلے ده- [فتح الباري: ۹/۲۲٦]-
نو کوم پيران او مريدان چه په مساجدو کښې ګډاګانے کوي، او اتنے کوي، او لاسونه ټقوي او ځانونه غورزوي نو دا عبادت نۀ بلکه شيطاني کار دے، او د سامري تابعداري

ده۔ اسلام ډیر عزتمن دین دے لیکن داسے خلکو د هغے شکل بد رنګ ښکاره کړو۔
(۲) [يَنْدُبْنَ] نُدبه : ستائینے او د مړی صفتونو کولو ته وئیلے شی، دے نه معلومه شوه چه داسے شعرونه وئیل جائز دی چه په هغے کښے د یو چا صفت وی، جائز کلمات وی۔
(۳) مهلبؒ وائی : سنت دا ده چه د نکاح اعلان په دف او جائز خوش آوازئ سره وکړے شی، دے دپاره چه دا د نکاح او د زنا ترمینځ فرق شی چه زنا په پټه کولے شی او نکاح په ښکاره۔ (٤) د عالم او امام یو وادهٔ ته حاضریدل جائز دی اګرکه په هغے کښے لعب او لهو وی، کله چه هغه د شریعت په حدودو کښے دننه وی، او د مباحاتو نه لهو بهر شوی نهٔ وی۔ (۵) وَفِيْنَا نَبِيٌّ : د یو تن مخامخ صفت کول جائز دی کله چه په هغهٔ کښے هغه صفت موجود وی، او هغه په تکبر کښے نهٔ واقع کیږي۔ (شرح ابن بطال)
(٦) [يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ]۔ دا لفظ مُوهِم وو، شائبه د شرك پکښے وه پدے وجه نبی ﷺ ددے نه منع وکړه اګرکه پدے کښے دا تاویل کیږی چه نبی د صبائئ ورځے په کار پو هیږی په وحی سره او بغیر د وحی نه نهٔ پو هیږی۔ لیکن ظاهره کښے لفظ صحیح نهٔ وو۔ دے نه معلومهٔ شوه چه نبی ﷺ عالم الغیب نهٔ وو، بلکه دا صفت صرف د الله تعالیٰ دے۔ پدے وجه نبی ﷺ ددے د وینا نه منع وکړه، پدے اتفاقی عقیده کښے هم خلکو اختلاف شروع کړو، والله المستعان۔
ځینو وئیلی دی چه ددے کلماتو نه ئے پدے وجه منع وکړه چه په مراثیو (ستائینو) کښے د نبی ﷺ نوم اخستل بے ادبی ده۔
(۷) دا حدیث دلیل دے چه هغه اشعار وئیل او آوریدل جائز دی چه هغه د شریعت خلاف نهٔ وی او د صحیح عقیدے منافی کومه خبره یا دروغ یا بے حیائی پکښے نهٔ وی۔ او ډیر والے پکښے نهٔ وی، غلبه به په قرآن او حدیث باندے نهٔ ورکوی۔

د نکاح رسومات او بدعات

دا د مسلمانانو بد قسمتی ده چه د نکاح په شان پاکیزه معامله هم د غیر مسلمو د ناپاك او ګنده رسمونو او ملکی رواجونو نه محفوظ پاتے نشوه بلکه د کفارو غیر شرعی رسمونه دومره په کثرت او شدت سره د مسلمانانو د نکاحونو په معاملاتو کښے راننوتل چه هغے د نکاح اسلامی او مسنونے طریقے ختمے کړے او نن صبا چه څومره رسمونه رائج دی یا مخکښے رائج وو د هغوی احاطه کول هم ناممکن شو، لیکن بیا هم

ددې موقعې متعلق بعض رسمونه او بدعتونه ذکر کیږی دې دپاره چه ددې نه د بچ کیدو کوشش وکړې شی، **بعض دا دی**:

حرامې باجې او مزامیر استعمالول۔ د حرامو ګانو بجانو، او رقصونو (ګډاګانو) او قوالئ انتظام کول، سِهرې اچول، کریم بوروډونه، لډوګانې کول، کور او کوڅې د اسراف حد پورې ښائسته کول او په هغې کښې د حد نه زیات بلپونه او رڼاګانې لګول، دیوالونو ته کپړې زوړندول، په اسونو باندې سورلی کول،

بارات (جنج) راخستل او په بازارونو او ښارونو کښې بے ځائې ګرځول، د وادهٔ هلك د ښار په مزاراتو باندې ګرځول، قبرونو ته ورتلل او هلته نذر او منبنته اچول، په جنجونو او ودونو کښې ډزې کول، شور کول چه مسلمانانو او ټولو انسانانو ته ضرر وی،

د آتش بازئ په ذریعه خپل مالونه ضائع کول، او په جنج کښې د سرو مخامخ د ښځو راښکاره کیدل، او بے حیائیانې کول، دارنګه د وادهٔ هلك په وریښمی تکیه او بستره باندې کینول،

د وادهٔ هلك پټکې د ناوې د لوپټې سره ناپ کول او بیا هغه یو جادوګر او فالګر ته ورکول دې دپاره چه پدې سره هغه د دواړو ترمینځ د محبت پیدا کولو دپاره څه نسخه تجویز کړی، د سرو زرو او د سپینو زرو په لوښو کښې خوراك څکاك کول، جواری کول، او د ډیرې مودې نه مخکښې شپې شوګیرول،

تصویران ویستل، او ویډیوګانې جوړول، د ناوې په غیږ کښې قرآن کریم کیخودل، په هغوی باندې خوارهٔ خوړل دې دپاره چه محبت ئے پیدا شی، د جینئ په غیږ کښې هلك اچول، د پردو ښځو د وادهٔ هلك سره کیناستل او هغهٔ سره لاسونه ملاوول، یا د هغهٔ پوزه او غوږ نیول (لکه چه د بعض خلکو رواج دې)

او د هغهٔ سره د بے حیایئ خبرې کول، د وادهٔ هلك ګوتمه په پیوو سره په ښځه باندې وینځل، د نبات (مصری/ چینی) یوه ټکړه د ناوې په بدن کیخودل او بیا هلك ته وئیل چه دا په خپله خوله سره راپورته کړه، او هلك او ناوې چه کله دواړه راجمع شی نو د پردو ښځو د هغوی نه ګیر چاپیر راغونډیدل،

دا ټول کارونه بدعت او حرام دی چه ددې د شریعت او د سنت سره هیڅ تعلق نشته، ددې نه ځان ساتل انتهائی ضروری دی۔ وبالله التوفیق۔

3141 (2) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: زُفَّتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ ﷺ: "مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ ؟ فَإِنَّ الْأَنْصَارَ يُعْجِبُهُمُ اللَّهْوُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او عائشه ﷞ فرمائي : يوه ښځه د انصارو يو سړي ته واده شوه نو نبي كريم ﷺ وفرمايل : آيا تاسو سره تماشه نشته ؟ ځكه چه انصارو له تماشې مزه وركوي۔ (بخاريؒ)

تشريح : [مَا كَانَ مَعَكُمْ لَهْوٌ] يعني تاسو سره څه د لهو (تماشې) سامان نشته۔ دا حديث په دوه خبرو دليل دے، يو دا چه په واده كښې چمبه وهل جائز دي۔ د علماؤ اتفاق دے چه هره لهو باطله ده مگر په وليمه د نكاح كښې چمبه وهل جائز دي۔ دويم پدے خبره دليل دے چه ښځې هم چمبه وهلے شي دے دپاره چه د واده او غير واده پته ولگي۔ ليكن شرطونه ئے مخكښې بيان شو۔ امام مالك وئيلي دي : په وليمه كښې دف او تمبل وهلو باندے څه باك نشته ځكه چه زۀ دا معمولي گڼړم، البته په غير د واده نه مناسب نۀ دے۔ د مالكؒ نه تپوس وشو چه كه ډولكے ووهي نو هغۀ ووېل : كه هغه غټ وي او تيز آواز كوي نو زۀ ئے مكروه وينم، او كه سپك وي نو باك ئے نشته۔ اصبغؒ وئيلي دي : په واده يا بله موقعه كښې صرف هغه غِناء او خوش آوازي جائز ده لكه د انصارو زنانو چه به ټنګه كوله۔ (ابن بطالؒ)

د شوال په مياشت كښې نكاح كول مستحب دي

3142 (3) – وَعَنْهَا قَالَتْ: تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ وَبَنٰى بِي فِي شَوَّالٍ فَأَيُّ نِسَاءِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَحْظٰى عِنْدَهُ مِنِّي ؟. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عائشه ﷞ فرمائي : زۀ رسول الله ﷺ په شوال (وارۀ اختر) مياشت كښې په نكاح واخستم او ما سره ئے په شوال مياشت كښې واده وكړو نو د رسول الله ﷺ د بيبيانو نه كومه يوه بي بي د هغۀ سره زما نه زياته برخوره (خوش نصيبه) ده۔ (مسلمؒ)

تشريح : [أَحْظٰى] يعني ډيره برخوره (برخې والا)۔ شيعه گان دا بده گڼړي او جاهليت والو به هم بده گڼړله چه څوك په شوال (وارۀ اختر) مياشت كښې نكاح وكړي او ددے نه به ئے بد فالي نيوله او دا به ئے وئيل چه شوال كښې معنیٰ د خپے پورته كولو او نفرت

کولو او جدا کیدو ده، نو پدے میاشت کښے نکاح کولو سره کور سم نهٔ جوړیږی، دا سپیره ده۔ نو عائشه رضی الله عنها پرے رد کوی چه ما پدے میاشت کښے نکاح او بیا وادهٔ هم کړے لیکن زهٔ د رسول الله ﷺ نه خومره برخوَره یم، ما سره ئے خومره مینه ده۔ ددے حدیث نه معلومه شوه چه په شوال میاشت کښے نکاح کول د جاهلیت د رواج ختمولو په وجه مستحب دی او د رسول الله ﷺ عملی سنت ژوندی کول دی۔

ددے حدیث د باب سره ظاهره کښے هیڅ مناسبت نهٔ ښکاره کیږی۔ مګر دا چه که څوك شرط ولګوی چه د دوه اخترونو مینځ کښے به نکاح نهٔ کوے۔ (نو ددے شرط پابندی نشته) لیکن دا مناسبت بعید دے۔ البته دا مناسبت غوره دے چه د شریعت د ودونو په باره کښے آزادی ورکړے چه په هره میاشت کښے کول ئے جائز دی او د جاهلیت رواجونه ئے رد کړی۔

د مهر او د نکاح په وخت کښے د کړو شرطونو ادا کولو تاکید

3143 (4) – وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "**أَحَقُّ الشُّرُوْطِ أَنْ تُوْفُوْا بِهِ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوْجَ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ډیر لائق هغه شرطونه چه تاسو پرے وفاداری کوئ هغه دی چه تاسو په هغے سره (ځان دپاره) زنانه حلالے کړی وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: [اَلشُّرُوْطُ]۔ ددے نه مراد جائز شرطونه دی۔ نهٔ هغه چه د شریعت خلاف وی۔ [أَنْ تُوْفُوْا] ۔ دا په تخفیف او [أَنْ تُوَفُّوْا] تشدید دواړو سره (متعدی او لازم) دواړه جائز دے۔ [مَا اسْتَحْلَلْتُمْ] ۔ ما موصوله خبر د مبتداء (احق) دے، یعنی ډیر لائق شرطونه د وفادارئ هغه شرطونه دی چه په هغے باندے عقد د نکاح واقع شوے وی۔ ځکه چه د نکاح کار ډیر احتیاط والا دے، او ددے باب ډیر تنګ دے۔ یعنی په نکاح کښے چه کوم شرط ولګی د هغے د وفادارئ تاکید زیات دے په نسبت د نورو شرطونو۔

امام نوویؒ فرمائی: امام شافعیؒ او اکثر علماء وائی چه دا حدیث محمول دے په هغه شرطونو باندے چه د نکاح د تقاضا منافی نهٔ وی بلکه د نکاح د تقاضا او مقصد موافق وی لکه دا شرط لګول چه ژوند به د عرف مطابق تیروی، په هغے به انفاق کوی، جامے

کپړې به ورکوي، د عرف مطابق د اُوسيدو ځائے به ورکوي، د هغې په حقوقو کښې به هيڅ قسمه کوتاهي نۀ کوي، هغې دپاره به د نورو ښځو په شان نمبر ورکوي، او ښځه به د خاوند د اجازت نه بغير د کور نه نۀ اُوځي، او خاوند سره به بد اخلاقي نۀ کوي، او د خاوند د اجازت نه بغير به نفلي روژې نۀ نيسي، او د هغۀ کور ته به د هغۀ د اجازت نه بغير بل چا ته اجازه نۀ ورکوي، او د هغۀ په سامان کښې به د هغۀ په رضا سره تصرف کوي او داسې نور۔

او هرچه هغه شرطونه دي چه د نکاح د تقاضا خلاف وي لکه داسې شرط ولګوي چه ښځې له به نمبر نۀ مقرروي، او پدې باندې به نفقه نۀ کوي، او هغه به سفر ته نۀ بوځي، او داسې نور نو پدې باندې وفاداري واجب نۀ ده، بلکه دا شرط به لغوه (بيکاره) وي او نکاح به په مهر مثل سره صحيح وي، ځکه حديث کښې دي :

((هر شرط چه د الله تعالىٰ په کتاب (حکم شرعي) کښې نۀ وي هغه باطل دے))۔

او امام احمدؒ او يو جماعت د علماؤ وئيلي دي چه مطلقاً په هر شرط باندې وفاداري واجبه ده، او دا حديث ئې دليل نيولے دے ((چه په نکاح کښې هر شرط ولګولے شي د هغې وفاداري ډيره لائقه ده))۔ (شرح مسلم)

ابن دقيق العيدؒ وئيلي دي چه دا حديث په هغه شرطونو باندې حمل کول چه د نکاح د تقاضا موافق وي بعيد دي ځکه چه دغه شرطونه واجبول هيڅ تاثير نۀ لري، هغه خو هسې هم واجب دي، او په وجوب کښې يو شان دي نو د هغې شرط کولو ته حاجت نشته۔ ځکه چه نفقه او سکنىٰ او داسې نور څيزونه به سرې خامخا ورکوي۔ بلکه دلته (احق الشروط) لفظ تقاضا کوي چه بعض شرطونه د نفس وفادارئ تقاضا کوي او بعض ډيره وفاداري غواړي۔ [احکام الاحکام : ۳/۱۸۹]۔

ابو عبيدؒ وئيلي دي چه په داسې شرطونو پابندي کول واجب نۀ دي البته مستحب دي او مونږ به خاوند ته حکم کوو چه پدې باندې وفاداري وکړي۔

پدې کښې **فيصله** دا ده چه خاوند کوم شرطونه لګوي دے دپاره چه ښځه نکاح ته مائله شي او هغې ته ترغيب ورکړے شي او په هغې کښې د حلال شي حراموالے يا د حرام شي حلال والے نۀ وي نو ددې وفاداري لازمه ده، او که پدې شرط سره د حلال شي حراموالے يا د حرام شي حلالوالے راتللو نو بيا دا شرط غلط او باطل دے، وفاداري ئې

نشته، ځکه چه په باطل باندے وفاداری نۀ وی۔ [البحر المحیط الثجاج ۲۵/۲۱۵]۔

د بل چا په جرګه باندے جرګه کول حرام دی

3144 (5) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: "لَا يَخْطُبِ الرَّجُلُ عَلٰى خِطْبَةِ أَخِيهِ حَتّٰى يَنْكِحَ أَوْ يَتْرُكَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یو سړے به د خپل ورور په جرګه باندے جرګه نۀ کوی تردے چه هغه ورسره نکاح وکړی یا ئے پریدی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[لَایَخْطُبُ]۔ (یَخْطُبُ) مرفوع دے چه لا نافیه شی او مجزوم دے که لا ناهیه شی۔ خطب د باب ۔ نصر نه دے، خِطْبَةٌ ئے مصدر دے۔ د نکاح طلب او درخواست او پیغام ته وائی۔ [اَخِیهِ]۔ دے قید کښے دا فائده ده چه د فاسق او کافر د جرګے دپاسه جرګه کول جائز دی۔ او جمهور علماء وائی چه د (اخ) قید لګول په طریقه د غالب باندے دے، د هر چا په جرګه باندے جرګه کول منع دی اګرکه کافر او فاسق وی۔

اوزاعیؒ او یو جماعت د شوافعوؒ نه وائی چه د کافر په جرګه باندے جرګه جائز ده او همدا خبره راجحه ده۔

د جرګے دپاسه جرګه کولو صورت دا دے چه د هلك او جینۍ معامله تقریباً نزدے شوی وی، دواړه راضی شوی وی او مهر متعین شوے وی، یا په یوه جینۍ باندے زید جرګه وکړی چه دا مونږ له راکړی نو بل یو تن خبر شی چه دا خو ښه جینۍ ده او زید به ئے وکړی نو دے په منده د جینۍ کورته ورشی چه دا جینۍ مونږ ته راکړئ، نو دا کار حرام دے۔ دا هله جائز دے چه زید دا جینۍ پریدی، خوښه ئے نشی، یا د جینۍ کور والا دوئ رخصت کړی چه تاسو ته ئے نۀ درکوو۔ نو بیا تا له جائز دی چه جرګه وکړے۔

که چا د بل چا په خطبه باندے نکاح اُوکړه نو آیا دا نکاح به جائز وی او که نۀ؟ : (۱) جمهور وائی جائز ده لیکن قبح پکښے راغله د وجه د نهی نه، یعنی سړے به ګناهګار وی او عقد صحیح دے۔ (۲) او ابن حزمؒ وائی چه دا نکاح فاسده ده ځکه چه په کوم شی باندے نهی راشی هغه باطل وی۔ او همدا خبره حقه ده، او دا قول بخاریؒ هم غوره کړے، ځکه حدیث دے : مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ۔ [مسلم : ۴۵۹۰]

ښځه دې د خپل خواهش پوره کولو دپاره د بلې ښځې طلاقول نهٔ غواړي

3145 (6) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " لَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا وَلْتَنْكِحْ فَإِنَّ لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه ښځه دې نهٔ غواړي طلاق د خپلې خور (مسلمانې) دې دپاره چه دا د هغې کاسه خالي کړي (يعنې هغې ته طلاق ورکولو په صورت کښې ځان دپاره خاوند يواځې کړي) او د هغې خاوند سره خپله نکاح وکړي ځکه چه ددې دپاره هغه شے دے چه ددې دپاره په تقدير کښې ليکلے شوی وي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : [لَا تَسْأَلُ]۔ دا مرفوع دے يا مجزوم دے د مخکښې په شان۔ ددې دوه معانی دي (۱) مخطوبه زنانه دِې د خاطب نه دا نهٔ غواړي چه زهٔ به تا سره نکاح هله کوم چه تهٔ مخکنۍ ښځه طلاقه کړې۔ (۲) دويم دا چه دواړه ښځې په يوه نکاح کښې وي نو يوه بنه خاوند ته ووائي چه دا بله طلاقه کړه زما او ستا زندګی به ښه شي۔ رسول الله ﷺ فرمائي: دا زنانه دِې د خپلې خور طلاق د خپل خاوند نه نهٔ غواړي ځکه چه هرې يوې ته به هغه څه ملاويږي کوم چه ورله مقرر وي۔ څوك د بل چا برخه نشي اخستې۔ ددې معنى د باب سره مناسبت نشته۔ [أُخْتِهَا]۔ دې نه ديني او اسلامي خور مراد ده۔

پدې کښې ددې زنانه د کار زيات قباحت ته اشاره ده او د نهي تاکيد ته، او پدې کښې هغې ته تيزي ده چه دا کار ځکه مهٔ کوه چه دا ښځه خو ستا خور ده۔

[لِتَسْتَفْرِغَ صَحْفَتَهَا] ۔ استفراغ: راړه ول، او فارغه کولِ دي، او صحفه کاسې ته وائي۔ ددې زنانه مقصد دا وي چه د خپلې بنې ډکه کاسه (نمبر او فوائد د خاوند) ځان ته راواړه وي او ځان دپاره خاوند يواځې فارغ کړي۔ ددې بخل اراده دے نو الله تعالیٰ به ورله ژوند خراب کړي۔ استفراغ الصحفة کنايه ده د حاصلولو د هغه برخې نه چه دے ته د خاوند نه حاصليږي۔ لکه نفقه، احسان، معاشره (ګپ شپ)، نمبر وغيره۔

[وَلِتَنْكِحَ] دا يا منصوب دے په (لِتَسْتَفْرِغَ) باندې عطف دے۔ يعنې دے دپاره چه دا ددې خاوند سره نکاح وکړي۔ او (فَإِنَّ لَهَا مَا قُدِّرَ لَهَا) دا به علت وي د (لَا تَسْأَلُ) نهي دپاره۔ يعنې زنانه دِې د خپلې خور طلاق نهٔ غواړي ځکه چه دے دپاره به هغه څه

ملاویږی چه کوم دے لـه مقرر وی، زیات ورته نشی ملاویدے، او دے به د فوائدو حاصلیدو اراده لری لیکن که الله تعالیٰ دے له فوائد نهٔ وی مقرر کړی نو ملاؤ به ورته نشی او ګناهګاره به شی۔

(۲) یا (وَلْتَنْكِحُ) مجزوم دے، او معنیٰ دا ده چه دا زنانه دِے بل ځائے کښے وادهٔ وکړی او ددے ښځے طلاق دِے نهٔ غواړی ځکه چه دے ته به خپل تقدیر او نصیب ملاویږی، کیدے شی چه بل ځائے کښے ورله الله تعالیٰ فوائد لیکلی وی۔

یا معنیٰ دا ده: وَلْتَنْكِحُ مَعَ هٰذَا الْخَاطِبِ بِلَا اِشْتِرَاطِ طَلَاقِ الضَّرَّةِ۔ ددے جرګه کونکی سره دِے بغیر د شرط د طلاق د بنے نه نکاح وکړی۔

بیا د جمهورو مذهب دا دے چه که زنانه په سړی باندے شرط لګولے وی چه تهٔ به ښځه طلاقوے هله به درسره نکاح کوم او خاوند دغه شرط پوره نکړو نو دا دویمه نکاح به نهٔ فسخ کیږی، او د دویٔ په نیز دا نهی په ندب او استحباب باندے محمول ده۔ یعنی دا شرط پوره کول مستحب دی۔ او که دا شرط ئے پوره نکړو نو دویمه نکاح به نهٔ فسخ کیږی۔ او امام احمدؒ وائی چه کله دا ښځه قاضی ته لاړه چه زما خاوند زما شرط نهٔ ادا کوی نو قاضی به ورله نکاح فسخه کوی ځکه چه په خاوند باندے د شرط پابندی لازمه وه او دهٔ ونکړه نو نکاح به فسخ شی۔

دارنګه ددے دویمے زنانه سره پدے شرط باندے نکاح کول د جمهورو په نیز صحیح دی لیکن سړے او ښځه به ګناهګار وی۔

دارنګه دا شرط فاسد دے نو خاوند باندے دا ضروری نهٔ ده چه ددے پوره والے وکړی، که بیائے هم دا شرط پوره کړو نو دا نکاح به ئے صحیح وی لیکن ګناهګار به وی۔ او همدا خبره غوره ښکاره کیږی، او د امام احمدؒ او ابن حزمؒ په نیز باندے نهی تقاضا د فساد کوی نو دا دویمه نکاح به نهٔ وی شوی، بلکه دا به د دخول نه مخکښے فسخ کولے شی ځکه چه دا شرط فاسد دے۔

او پدے حدیث کښے ددے خبرے بیان دے چه شریعت د بغض او حسد او دشمنیٔ اسباب قطع کولو باندے زور ورکوی او په تقدیر باندے د راضی کیدو دعوت ورکوی۔

د بدل نکاح حرامه ده

3146 (7) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنه : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ : أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلٰى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ ابْنَتَهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِىْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ : لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ.

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د بدل نکاح نه منع فرمائيلے ده او بدلِ نکاح دا ده چه يو سړے خپله لور په نکاح بانديے ورکړى پدے شرط چه بل سړے به دۀ ته خپله لور په نکاح ورکوى او د دواړو ترمينځ مهر نۀ وى۔ (بخارىؒ ومسلمؒ) او د مسلمؒ په روايت کښے دى : په اسلام کښے د بدل نکاح نشته۔

تشريح : [ابْنَتَهُ] دا بطورِ غالب ذکر شوے، د خور يا بلے رشته دارے هم دا حکم دے۔ [اَلشِّغَارُ] ۔شغار د بدل نکاح ته وائى۔ پدے حديث کښے يوه بله نکاح بيانيږى چه هغے ته د بدل او د شرط نکاح وائى۔ ددے مناسبت د شروطو سره دے۔ ځکه چه په بدل نکاح کښے هم شرط وى۔ دا اُوږده مسئله ده ليکن لنډه خلاصه ئے ذکر کوو، اول د شغار درے معانى، يو اصطلاحى او دوه لغوى بيا د علماؤ اختلاف۔

(أ) شغار په لغت کښے خلو (خالى والى) ته وائى، عرب وائى : [شَغَرَ الْبَلَدُ اِذَا خَلَا]۔ شغر البلد يعنى ښار خالى شو د خلکو نه، [بَلْدَةٌ شَاغِرَةٌ]۔ خالى ښار۔ او پدے نکاح کښے هم د مهر او زياتى حقوقو نه خالى والے دے۔ (ب) [شَغَرَ بِمَعْنٰى رَفَعَ، شَغَرَ الْكَلْبُ اِذَا رَفَعَ رِجْلَهٗ عِنْدَ الْبَوْلِ] ۔ د شغار معنىٰ ده پورته کول لکه شغر الكلب معنىٰ دا ده چه سپى د متيازو په وخت خپه پورته کړه، او په بدل نکاح کښے هم يو بل ته خپے پورته کول او آسانى کول وى۔ (المغنى) يا مطلب دا دے چه زما د لور خپے نشى اُوچتولے ترڅو چه ستا د لور خپے اوچتے نکړم يعنى د جماع کولو شرط ولګوى۔

اصطلاحى معنى : د شغار په اصطلاحى معنىٰ کښے دوه تفسيرونه دى : (۱) نافعؒ چه ددے روايت يو راوى دے هغه فرمائى :[وَالشِّغَارُ اَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ......وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ] ۔ (لکه زمونږ پدے روايت کښے) او دا تفسير د انس بن مالك رضی الله عنه او اکثرو اهل لغتو دے۔ يعنى چه يو تن چاله خپله لور خور په دے شرط بانديے په نکاح ورکوى چه هغه به خپله لور خور دۀ له په نکاح ورکوى۔ او مهر به نۀ وى۔

(۲) د شغار دويمه معنیٰ د ابن نميرؒ نه او د عبيد الله نه نقل ده، او څوك وائي چه دا د نبي ﷺ تفسير دے ليکن اصح دا ده چه دا موقوف تفسير دے، ابن نميرؒ د مسلم راوی دے او عبيد الله د نسائیؒ راوی دے : د هغوی الفاظ دی : په مسلم (۳۵۳٤) کښې دی : [زاد ابنُ نُمَيرٍ : وَالشِّغَارُ الخ]۔ او نسائي رقم (۳۳۳۸) کښې دی : [قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ : وَالشِّغَارُ كَانَ الرَّجُلُ يُزَوِّجُ ابْنَتَهُ عَلٰى اَنْ يُزَوِّجَهُ اُخْتَهُ] ۔ (شغار دے ته وائي چه يو سړے خپل لور چا ته په دے شرط ورکړی چه هغه به ورته خپله خور په نکاح ورکوی)۔ يعنی د يوے جينئ نکاح د بلے جينئ د نکاح دپاره شرط کول۔ او په دے کښے د صداق (مهر) خبره نشته۔ يعنی مهر مقرر وی او که نهٔ، په دواړو صورتونو کښے ممنوع دے۔

د شغار صورتونه دا دی : (۱) لکه په دے حديث کښے د نافعؒ تفسير شو۔ چه يو بل ته لور ورکړی او مينځ کښے ئے مهر نهٔ وی۔ دا صورت بالاتفاق حرام دے ليکن لږ اختلاف پکښے دے : (۱) جمهور وائي چه دا نکاح باطله ده۔ دا نکاح نهٔ ده شوے، ځکه نهی تقاضا د فساد کوی۔ (شافعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، مالكؒ) [ترمذی: ۳/٤۲۳، المغنی: ۱۰/٤۲، بداية المجتهد: ۳/۱۰۹] (۲) ابوحنيفهؒ، ليثؒ، ابوثورؒ، طبریؒ وائي : مهر مثل به مقرر شي نو نکاح به صحيح شي او که نهٔ وی نو نکاح صحيح نهٔ ده۔ او مثال ئے د خمر او خنزير دے چه کله په مهر کښے مقرر شي نو په دے صورت کښے به مهر مثل واجبيږی نو دغه شان دلته هم چه کله مهر مقرر نهٔ وی نو مهر مثل به واجبيږی، يعنی احناف ئے ابتداءً ناجائز ګڼړی ليکن انتهاءً ورته جائز وائي۔ د دوئ په نيز نهی د کراهت دپاره ده۔ ليکن دا مذهب ضعيف دے ځکه دے حديث کښے نهی د بطلان دپاره ده، نهٔ د کراهت دپاره۔ د بطلان فيصله عمر فاروق رضی الله عنه او زيد بن ثابت رضی الله عنه صادره کړے ده۔ [المغنی: ۱۰/٤۲] دارنګه روستو راځی دا فيصله معاويه رضی الله عنه صادره کړے۔

(۴) **صورت** : يو شخص يو تن ته لور يا خور ورکړی او هغه ئے دهٔ ته ورکړی او مينځ کښے ئے د مهر شرط هم لګولے وی، يعنی دواړو جينکو له ئے مهر هم مقرر کړے وی نو آيا دا نکاح جائز ده ؟ نو دا اختلافی صورت دے : (۱) امام ابوحنيفهؒ مذهب، او يو روايت د امام شافعیؒ او يو روايت د امام احمدؒ دا دے چه دا نکاح جائز ده۔

دلائل : د دوئ دلائل عمومات دی : ۱- **دليل** : قرآن کريم کښے دی : ﴿ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذٰلِكُمْ ﴾ [النساء : ۲٤]۔ او شغار په (مَا وَرَاءَ ذٰلِكُمْ) کښے داخل دے نو چه مهر مقرر وی

نو نکاح اُوشوه څکه چه دلته ئې (اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ) وئيلے دے۔ **جواب** دا دے چه (ما وراء ذلكم) نه مراد قرآن او احاديث دواړه دی، او دا په احاديثو کښے حرامه ګرځولے شويده. بله وجه دا ده چه احناف د متعے نکاح، او د ښځے او د هغے د ترور جمع والے په نکاح کښے حرام ګنړی او ددے برعکس يعنی نکاح الصغری علی الكبریٰ او نکاح الكبری علی الصغریٰ ته ناجائز وائی او هغه هم په (ما وراء ذلكم) کښے داخله ده نو دوئ چه ددے نه څه جواب کوی، همغه جواب په نکاح الشغار کښے هم وکړه۔

(۴) **قول** : د امام مالكؒ دے، لکه په مدونه كبریٰ کښے او يو روايت د امام شافعیؒ نه دے لکه خرقیؒ او ابن قدامه په خپلو کتابونو (مغنی) کښے غوره کړے، او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښے د امام شافعیؒ نه او زيلعیؒ په «تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق» کښے د احنافو نه ذکر کړے او دا مذهب په صحابه کرامو ﷺ کښے د معاويه ﷺ دے چه که په شغار نکاح کښے مهر مقرر هم شی بيا هم جائز نهٔ ده۔

دلائل : ددے علماؤ سره اُوه (۷) دلائل دی۔ ۱- **دليل** : اطلاق الاحاديث: چه په احاديثو کښے د نکاح الشغار نه منع راغلے ده او دا حديثونه مطلق دی برابره ده چه مهر مقرر وی او که نهٔ. ۲- دليل : خطابیؒ په معالم السنن شرح ابی داودؒ کښے وئيلی دی چه نبی ﷺ د هغه شغار نه منع فرمائيلے ده چه په جاهليتِ کښے د هغے رواج وو: [وَكَانُوْا يُوْقِعُوْنَهُ مَهْرًا وَعَقْدًا] ۔ او هغوی به د بدل په نکاح کښے کله مهر مقررولو او کله به ئے نهٔ مقررولو۔ ۳- **دليل** : په بخاری کښے د عائشے ﷺ په حديث کښے د جاهليت په دور کښے څلور قسمه نکاحونه ذکر دی : يو نکاح الاستبضاع او بل نکاح البدل چه يو تن به بل ته وويل چه ته ما ته ښځه پريده زهٔ به ئے تا ته پريدم۔ بيا فرمائی : هرکله چه اسلام راغلو نو د جاهليت ټول نکاحونه ئے باطل کړل مګر هغه نکاح چه نن صبا کيږی۔ آه۔ او د نبی ﷺ په زمانه کښے د شغار نکاح نهٔ وه نو دا هم باطله شوه۔

٤- **دليل** : عباس بن عبد الله بن عباس او عبد الرحمن يو بل سره بدل وکړو چه يو بل ته ئے خپله خپله لور ورکړه [وَكَانَا جَعَلَا صَدَاقًا فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ (اَیْ مِنَ الشَّامِ) اِلٰی مَرْوَانَ يَأْمُرُهُ بِالتَّفْرِيْقِ بَيْنَهُمَا وَقَالَ فِیْ كِتَابِهٖ هٰذَا هُوَ الشِّغَارُ الَّذِیْ نَهٰی عَنْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]۔

او دواړو مهر مقرر کړے وو نو معاويه ﷺ د شام نه مروان ته خط وليکلو چه د دوئ (ښځے او خاوند) دواړو ترمينځ جدائی راوله (او نکاح ورله ماته کړه) او په هغه خط کښے

ئې دا وئيلي وو چه دا هغه شغار (بدل) دے چه رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائيلے ده۔ [أبوداود: ۲۰۷۷ احمد: ۱٦۹۰۲، ابن حبان: ٤۱٥۳، ابي يعلى: ۷۳۷۰ و إسناده صحيح، وفيه ابن اسحاق وقد صرّح بالتحديث]۔ نو دلته وګوره د مهر مقرر كيدو باوجود د شغار نكاح ته ئې حرامه ووئيله او ددے په ماتولو ئې حكم وكړو۔

اشكال: جعل دوه مفعوله غواړي نو يو حذف دے [وَكَانَا جَعَلَاهُ (اَيِ الْعَقْدَ) صَدَاقًا] لكه داسې په ابن حبان كښې دي، يعني دواړو عقد لره مهر ګرځولے وو۔

جواب: دا دے چه دلته جعل بسيط دے په معنىٰ د قَدَّرَ سره او دا يو مفعول غواړي يعني دوئ مهر مقرر كړے وو۔ او دليل پرے روستو الفاظ دي: [هٰذَا هُوَ الشِّغَارُ الَّذِيْ] چه د مهر مقررولو باوجود هم دا مَنْهِيٌ عَنْهُ دے۔ بله دا چه د مهر مقررول او نۀ مقرول په فسادِ نكاح كښې هيڅ اثر نۀ لري۔ على كل حال فاسده ده۔

[وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقًا] د شغار د منع كيدو علت څه شے دے؟ نو پدے كښې شپږ اقوال دي۔ بعض علماء فرمائي چه د منع علت همدا دے چه مهر مقرر نكړے شي، نو د دوئ په نيز كه مهر مقرر شي نكاح به صحيح وي۔ او نور اهلِ علم فرمائي: د منع علت د يوے جينئ نكاح د بلے جينئ د نكاح دپاره شرط كول او د يوے نكاح د بلے نكاح پورے تړل دي۔ او پدے اشتراط كښې فساد دے، نو علت د منع فساد دے ځكه چه شغار كښې ډير فسادونه او ظلمونه راځي، د خپل ځان دپاره او د دنياوي لالچ دپاره د خور لور زندګي تباه كول دي۔ ښځانۀ بدل ته بد حال وائي۔

خلاصه: د بدل په نكاح كښې كه مهر مقرر شي او كه مقرر نشي، په دواړو صورتونو كښې دا نكاح الشغار ده او ددے نه منع راغلے۔ لكه د مسلم په روايت كښې مطلقًا راغلي: [لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ] (په اسلام كښې د بدل نكاح نشته)۔ [مسلم: ۱٤۱٥، باب تحريم نكاح الشغار وبطلانه]

او دا قول د دوو وجو نه قوي دے: (**اولًا**) دا خبره د رسول الله ﷺ صحابي معاويه رضي الله عنه هم ددے حديث نه فهم كړے۔ امام خطابيؒ فرمائي: د جاهليت والو د شغار په نكاح كښې به كله مهر مقرر وو او كله نه۔

(**ثانيًا**): د بدل نكاح په معاشره كښې په عامه توګه خراب آثار لري، كه چرے په يوے زنانه باندے ظلم او زياتے كيږي نو خاوند ئې په هغه بله ښځه باندے هم كوي۔ كه د

اولنئ ښځې سره خراب سلوك كيږي، نو د دويمې هم دا حال وي. بله دا چه : د بدل نكاح په معاشره كښې په دې وجه كيږي چه يو تن له څوك خور لور نۀ وركوي نو د هغۀ په كور كښې خور يا لور ناسته وي نو ځانله پرې بدل وكړي. اوكله داسې وي چه يو طرف نيك عمله وي او بل طرف بد عمله. كله يو طرف ځوان هلك وي او بل طرف بوډا سړې وي. نو بوډا له څوك پيغله جينئ نۀ وركوي نو هغه په خپلې لور باندې ځانله پيغله جينئ وكړي او د هغې ژوند خراب كړي. د بدل نكاح نور خرابئ هم لري. په جاهليت كښې دا قِسم نكاح موجوده وه نو شريعت ددې نه منع وكړه.

تنبيهات : ۱- : د بدل نكاح دوه قسمونه مخكښې بيان شول چه هغه دواړه ناجائز دي. دلته يو بل صورت دې چه د بدل سره مشابه دې ليكن هغه جائز دې، او هغه دا چه يو تن چاله خپله خور لور وركړه، بيا څۀ موده پس ئې د هغۀ نه د هغۀ د لور خور مطالبه وكړه او هغۀ ورله په نكاح وركړه، نو دا صورت جائز دې، دا په شِغار كښې نۀ دې داخل. ځكه په شِغار كښې علت اشتراط وو، او دلته اشتراط نشته. بلكه دا دويمه نكاح مستقله ده، څنګه چه اولنئ نكاح مستقله وه.

۲- **دويم** : دا خبره ياد لرل پكار دي چه كوم نكاحونه په ناپوهئ سره شوي وي، او دخول په كښې شوې وي، د هغې ماتول ضروري نۀ دي، ځكه رسول الله ﷺ د جاهليت والو د شِغار نكاحونه د هغوئ د اسلام راوړو نه پس نۀ دي مات كړي. اوكه وادۀ په كښې نۀ وي شوې نو د هغې ماتول پكار دي، څنګه چه د معاويه ؓ په حديث كښې ذكر شو. او آينده دپاره ددې قِسم نكاحونو نه ځان ساتل پكار دي. والله تعالىٰ اعلم.

د نكاح متعې او كورنو خرو حراموالے

3147 (8) – وَعَنْ عَلِيٍّ ؓ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ أَكْلِ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او علي ؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د خيبر په ورځ د زنانو د متعې نه منع فرمائيلې ده او د كورنو خرو د غوښو نه ئې (هم منع فرمائيلې). (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : [مُتْعَةِ النِّسَاءِ]. د متعې او تمتع معنىٰ ده فائده حاصلول. متعه په دوه قسمه ده، يوه متعه د حج ده او بله متعه د زنانو ده، او ديته نكاحِ متعه هم وائي. د حج متعې

ته حج تمتع وائي، هغه سنت بلکه فرض عمل دے۔ او متعه د زنانو ناروا ده، نکاح متعه دیته وائي چه یوے ښځے سره په یوه خاصه اندازه مال سره یو معلوم وخته پورے نکاح کول، مثلًا : یوه یا دوه یا درے ورځو پورے، او کله چه دغه وخت تیر شي، نو د دوئ ترمینځه به د طلاق نه بغیر خپله جدائي راشي۔ او د متعے وخت تر پنځه څلویښت ورځو پورے اُوږدیدے شي۔ او په دے نکاح کښے د روافضو (شیعه ګانو) په نیز نهٔ نفقه لازمه وي، نهٔ میراث، نهٔ نسب او نهٔ عدت۔ صرف د یوے متعے نه بلے متعے کولو پورے د حائضے دپاره د یو حیض راتلل او د غیر حائضے دپاره پنځه څلویښت ورځے تیریدل دي۔ دیته مُتعه ځکه وائي چه په دے کښے ښځه د مقرر عوض نه او سړے د ښځے نه خوند او مزه اخلي۔ او په دے کښے غرض نهٔ توالد او تناسل وي او نهٔ د نکاح نور غرضونه وي۔ بلکه یو وقتي او عارضي نکاح وي۔

ابن عبد البرّ په ((تمهید)) کښے لیکي : د علماؤ پدے اجماع ده چه متعه نکاح وه چه ګواهان پکښے نهٔ وو، او دا تر یوے نیتے پورے نکاح وه چه د مودے په پوره کیدو به خپله جدائي راتلله بغیر د طلاق نه، او د ښځے او د خاوند ترمینځ به هیڅ میراث هم نهٔ وو۔ دا موقتي نکاح په ابتداء د اسلام کښے جائز وه چه یو تن به یو کلي ته په سفر لاړو، ضرورت به ئے راغلو، نو هلته به ئے د یوے ښځے سره موقتي نکاح وکړه۔

امام خطابيّ په ((معالم السنن)) کښے لیکي : دا په ابتداء د اسلام کښے مباح وه بیا حرامه شوه نو نن پدے کښے د هیڅ (سُني) عالِم اختلاف نشته سویٰ د بعض روافضو (شیعه ګانو) نه۔ امام قرطبيّ په ((المفهم)) کښے لیکي : د سلف او خلفو د متعے په تحریم باندے اجماع ده مګر هغه چه د ابن عباس ﷺ نه ددے جواز نقل شوے وو، بیا هغهٔ هم ددے نه رجوع وکړه، البته روافضو پکښے اختلاف کړے۔

بیا متعه دوه ځل جائز شوے وه بیا تر قیامته پورے حرامه کړے شوه۔ یو ځل په کال د خیبر باندے چه دا شپږم کال وو۔ بیا په عام اَوطاس کښے اجازت ورکړے شو چه دا د حنین پسے متصل جنګ وو، بیا ددے نه منع راغله او دا د ضرورت د وجه نه جائز شوے وه۔ په عام اَوطاس کښے ضرورت دا وو چه نبي ﷺ او صحابه کرام ﷺ په رمضان کښے وتلي وو او د کلي نه بهر ئے دوه میاشتے تیرے کړے وے او په خیبر کښے یوه میاشت بهر وو نو دلته بیبیانو ته ضرورت پیدا شو، او ددے وجه دا ده چه یو خو دا ګرمے علاقے وے، د

انسان صبر کیدل گران وو، بل د صحابه کرامو ﷺ خوراك په عمومي توگه کهجورے وے او هغه هم گرمے دي۔ بله وجه دا ده چه د تقوئ والو طريقه دا ده چه هغوی بد نظری او بے حيائی نۀ کوی نو د هغوی طاقت نۀ وی خرچ شوے، شهوات ئے برحال وی۔ نو وادۀ ته ئے ضرورت وی،

د صحابه کرامو ﷺ د دور نه د ټول امت په اتفاق سره متعه حرامه وه۔

صاحب الهدايةؒ امام مالكؒ ته ددے د جواز نسبت کړے ليکن عبد الحی اللکهنویؒ په هغۀ باندے رد کړيدے چه امام مالكؒ ته دا نسبت خطاء دے، او هدايه ملا د هغۀ په مذهب باندے خبر شوے نۀ وو۔ رحم الله الجميع۔

د شيعه گانو په نيز متعه په هر مسلمان واجب ده، او وائی چه د متعے نه روستو غسل کولو سره د هر څاڅکی نه يو يو ملائك پيدا کيږی چه دے سړی لره استغفار غواړی (العياذ بالله من هذه الخزعبلات) او هغوی متعے ته صيغه وائی۔

دلته د متعے د حرمت والا روايت د علی بن ابی طالب ﷺ نه نقل شو نو پدے کښے رد دے په روافضو چه تاسو چه چا ته خپل نسبت کوئ هغه ددے د حرمت قائل دے، او تاسو ددے د جواز ؟!۔ بيا روافض متعے ته جائز بلکه عبادت وائی۔ دوئ د اباحت والا حديثونو نه دليل نيسی، حالانکه دا حديثونه په اتفاق د امت سره منسوخ شوی۔ دارنگه په دے آيت سره دليل نيسی : ﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ [النساء: ٢٤] دوئ وائی: د استمتاع (خوند اخستو) او اجور لفظ ذکر کولو نه معلوميږی چه دلته مراد ((متعه)) ده۔ خودا استدلال باطل دے : (أ) ځکه اجور مهرونو ته وائی۔ لکه ارشاد دے : ﴿فَانْكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [النساء: ٢٥]

(ب) په قطعی دلائلو سره ثابته شوے چه د متعے نکاح قيامته پورے حرامه گرځول شوے، او هغه ښکاره نصوص دی۔ (ج) که ومنو چه آيتِ کريمه د ((متعے)) په باره کښے دے، نو بيا دا وايو چه دا منسوخ دے۔ [أضواء البيان: ١/٣٨٤]

رسول الله ﷺ د حجة الوداع په کال باندے د متعے آخری هميشه حرمت بيان کړو۔ لکه سبره الجهنی ﷺ فرمائی: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: إِنِّي كُنْتُ أَذِنْتُ لَكُمْ فِي الْاِسْتِمْتَاعِ مِنَ النِّسَاءِ وَإِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَرَّمَ ذٰلِكَ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، فَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ مِنْهُنَّ شَيْءٌ

فَلْيُخَلِّ سَبِيلَهَا، وَلَا تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا) أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَأَحْمَدُ وَابْنُ حِبَّانَ.

(چه رسول الله ﷺ وفرمايل : ما تاسو له ښځو سره د متعې کولو اجازت درکړے وو، او بيشکه (اوس) الله تعالىٰ دا د قيامت ورځې پورے حرام وګرځولو، نو چا سره چه ددے (متعې والا) ښځو نه يوه ښځه وى نو هغه دِے پريدى او تاسو چه دوئ له څۀ ورکړى وى، د هغې نه هيڅ شے مۀ اخلئ. (مسلمؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، احمدؒ، ابن حبانؒ).

او د ابن عباس ﷺ نه چه ددے اباحت نقل دے، نو ددے جواب دا دے : چه د ابن عباس ﷺ نه د متعې په باره کښے درے اقوال نقل دى :

(۱) يو دا چه مطلقاً ئے حلاله ګڼړله. لکه خالد بن مهاجرؒ وائى چه زۀ د ابن عباس ﷺ په مجلس کښے ناست اُوم نو هغۀ ته يو سړے راغلو او د متعې په باره کښے ئے ترے پوښتنه وکړه نو ابن عباس ﷺ ورته اجازه ورکړه الخ (مستخرج ابى عوانة رقم : ۳۲۸۳) .

(۲) قول : چه هغۀ دا د مردارے پشان د ضرورت په وخت جائز ګرځولے، لکه سعيد بن جبيرؒ يوه ورځ ابن عباس ﷺ ته وفرمايل : ستا دا فتوىٰ قافلو والو خپلو خپلو علاقو ته يوړه (او خبره مشهوره شوه) تردے چه پدے باندے شاعرانو شعرونه وويل : هغۀ وفرمايل : څۀ ئے ويلى : هغه ورته ووېل :

[يَا صَاحِ هَلْ لَكَ فِيْ فُتْيَا ابْنِ عَبَّاسٍ، هَلْ لَكَ فِيْ نَاعِمٍ خَوْدٍ مُبَتَّلَةٍ تَكُوْنُ مَثْوَاكَ حَتَّى مَصْدَرِ النَّاسِ] نو هغۀ ووېل : [مَا هٰذَا أَرَدْتُ وَمَا بِهٰذَا أَفْتَيْتُ فِي الْمُتْعَةِ، إِنَّ الْمُتْعَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِمُضْطَرٍّ، أَلَا إِنَّمَا هِيَ كَالْمَيْتَةِ وَالدَّمِ وَلَحْمِ الْخِنْزِيرِ] [السنن الكبرى للبيهقى : ۱٤٥٥٠، مستخرج ابى عوانة : ۳۲۸۳، مسند ابى عوانة : ٤٠٥٧] زما خو دا اراده نۀ وه او ما په متعه باندے (مطلقاً) اجازه نۀ ده ورکړے بلکه متعه خو صرف د سخت مجبوره دپاره حلاله ده، دا د مردارے او وينے او خنزير په شان ده چه د سختے مجبورتيا په وخت جائز کيږى. او دا قول ئے پس د هغے نه وکړو چه صحابه کرامو ﷺ ورسره بحثونه وکړل.

او دا د هغۀ اجتهاد وو، او بعضِ علماؤ نقل کړى چه هغۀ ددے فتوے نه رجوع کړے، اګرکه د رجوع آثار علامه ابن عبد البرؒ او حافظ ابن حجرؒ د ابن بطالؒ په حواله ضعيف ګرځولى. [الاستذكار: ۱٦/۳۹۹، فتح البارى : ۹/۱۷۳]

البته په مسلمؒ کښے راغلى دى چه على ﷺ په عبد الله بن عباس ﷺ باندے رد وکړو او

دا ئے ورته وفرمایل : [إِنَّكَ رَجُلٌ تَائِهٌ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ] [بخاری : ۵۱۱۵، مسلم : ۳۵۰۱، و۳۴۹۸] (تهٔ حیران سړے ئے آیا تا ته پته نشته چه رسول الله ﷺ د زنانو د متعے نه منع فرمائیلے)۔

نو ابن عباس رضی الله عنه ورته هیڅ جواب ورنکړو، نو دا داسے شوه لکه اجماع د صحابه کرامو رضی الله عنهم په تحریم د متعه باندے۔ امام ترمذیؒ د علی رضی الله عنه دا حدیث نقل کړے بیا ئے فرمایلي : [وَإِنَّمَا رُوِىَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ شَيْءٌ مِنَ الرُّخْصَةِ فِي الْمُتْعَةِ ثُمَّ رَجَعَ عَنْ قَوْلِهِ حَيْثُ أُخْبِرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ] (د ابن عباس رضی الله عنه نه د متعے په باره کښے رخصت نقل دے لیکن بیا هغهٔ ددے نه رجوع وکړه کله چه ورته د نبی علیه السلام حدیث ورسیدو۔ [الترمذی تحت رقم الحدیث : ۱۱۲۱] او بیهقیؒ او ابوعوانهؒ د زهریؒ نه نقل کړی چه هغه وائی : ما د ربیع بن سبرهؒ نه واوریدل : [مَا مَاتَ ابْنُ عَبَّاسٍ حَتّٰى رَجَعَ عَنْ هٰذِهِ الْفُتْيَا]۔ ابن عباس رضی الله عنه د مرګ نه مخکښے ددے فتوے نه رجوع وکړه۔ [مستخرج أبی عوانة : ۳۲۸۴، التلخیص الحبیر : ۳/۳۴۶، رقم :]۔ او ربیع بن سبره ابن عباس رضی الله عنه موندلے دے، نو اسناد صحیح دے۔ (ارشیف ملتقی اهل الحدیث)۔

(۳) که بالفرض د ابن عباس رضی الله عنه نه ددے جواز نقل هم شی۔ نو بیا وایو چه د صحیح مرفوع حدیثونو په مقابله کښے موقوف حدیث دلیل نشی جوړیدے، مجتهد کله خطاء کیږی، نو د هغهٔ په خطایئ کښے تابعداری نهٔ وی۔ او دا خبره اجماعی ده۔

سوال : په مسلم کښے د جابر رضی الله عنه په حدیث کښے دی : [كُنَّا نَسْتَمْتِعُ بِالْقُبْضَةِ مِنَ التَّمْرِ وَالدَّقِيقِ الْأَيَّامَ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ وَأَبِي بَكْرٍ حَتّٰى نَهٰى عَنْهُ عُمَرُ فِي شَأْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ] [مسلم : ۳۴۸۲] مونږ به د رسول الله ﷺ او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښے په یو موټی کهجورو او وړو باندے څو ورځو پورے متعه کوله تردے چه د عمرو بن حریث رضی الله عنه په واقعه کښے عمر فاروق رضی الله عنه ددے نه منع وکړه۔

د عمرو بن حریث واقعه دا وه چه هغهٔ د یوے زنانه سره اوږده موده متعه کړے وه چه د هغے نه زنانه حامله شوے وه او د هغهٔ خبره عمر فاروق رضی الله عنه ته پورته شوه نو هغهٔ تقریر وکړو او د متعے نه ئے په سختئ سره منع وکړه او دا ئے وفرمایل چه ما ته کوم سړے راوستے شو چه هغهٔ متعه کړے وه نو زهٔ ئے رجم کوم۔ ددے حدیث نه خو معلومیږی چه د متعے نه عمر فاروق رضی الله عنه منع کړے او تر هغه وخته پورے جائز وه۔

جواب: دا حدیث پدې خبره دلیل دے چه بعض صحابه کرامو ﷺ ته د رسول الله ﷺ نسخ نهٔ وه رسیدلے لکه عمرو بن حریث ﷺ ته او ابن عباس ﷺ او جابر ﷺ ته۔ نو پدے وجه ئے عمر فاروق ﷺ ته ددے منع نسبت وکړو۔ او عمر فاروق ﷺ د خپل طرف نه دا نهٔ وه حرامه کړے بلکه د هغه تحریم بیان ئے وکړو کوم چه دهٔ ته د رسول الله ﷺ د زمانے نه او د هغهٔ د ارشاد نه معلوم وو۔ دویم دا حدیث پدے خبره هم دلیل دے چه بعض حدیثونه په بعض صحابه کرامو ﷺ باندے پټ پاتے کیدے شی۔ فَمَا ظَنُّكَ بِالْأَئِمَّةِ الْعِظَامِ بَعْدَهُمْ۔

عمر فاروق ﷺ به فرمایل: [فَلَا أَقْدِرُ عَلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ إِلَى أَجَلٍ إِلَّا غَيَّبْتُهُ فِي الْحِجَارَةِ] که زهٔ په یو تن باندے قادر شوم چه هغهٔ متعه نکاح کړے وه نو زهٔ ئے په کاڼړو کښے پټوم۔ (یعنی رجم ورکوم)۔ [السنن الكبرى للبيهقي: ١٤٥٥٤، مستخرج أبي عوانة: ٢٧٠٢]

او دا مذهب د ابن حزمؒ دے، هغه فرمائی: که وادهٔ والا د شغار نکاح وکړه نو رجم کولے به شی ځکه چه دهٔ زنا وکړه او که غیر شادی شده وو نو سل دُرے به ورکولے شی۔ (المحلی: ۵۱٤/۹) دا خبره ئے د شغار په باره کښے کړے۔

تنبیه: ددے حدیثونو د ظاهر نه معلومه ده چه د متعے اجازت چه مسلمانانو ته ورکړے شوے وو نو دا د سفر په حالت کښے وو چه په هغے کښے د نارینه وُ ښځو ته ضرورت وو او هغه نهٔ ملاویدے نو متعه ورله جائز کړے شوه۔ په حضر او اقامت او عام حالت کښے ددے اجازت نهٔ وو، لکه د جابر ﷺ او د سلمه بن اکوع ﷺ په حدیث کښے راغلی: [كُنَّا فِي جَيْشٍ فَأَتَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَقَالَ: إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُمْ أَنْ تَسْتَمْتِعُوا، فَاسْتَمْتِعُوا] (مونږ په یو لښکر کښے وو، رسول الله ﷺ مونږ ته راغے او وے فرمایل: تاسو ته د متعے کولو اجازت ملاؤ شوے، نو تاسو متعه وکړئ) [بخاری: ۵۱۱۷، ۵۱۱۸]

دارنګه د ابن مسعود ﷺ په حدیث کښے راغلی، هغه وائی: ((مونږ د رسول الله ﷺ سره غزا کوله او مونږ سره هیڅ ښځے نهٔ وے، نو مونږ عرض وکړو، آیا مونږ ځانونه نهٔ خصی کوو؟ نو نبی ﷺ مونږ ددے کار نه منع کړو، بیائے مونږ له رخصت راکړو چه مونږ د یوے ښځے سره د یوے جامے په عوض متعه وکړو، بیا ابن مسعود ﷺ مونږ ته دا آیت ولوستهٔ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ﴾ [المائدة: ۸۷] [بخاری: ۵۰۷۵، مسلم: ۱٤۰٤]

علامه حازمیؒ په "الناسخ والمنسوخ" کښے فرمائی: مونږ ته (په هیڅ حدیث کښے

دا نـهٔ دی رارسیـدلی چه نبی ﷺ خـلـکـو دپاره متعه په خپلو وطنونو او کورونو کښې مباح کړې وی۔

د متعې د حرمت حکمتونه : د متـعې د حراموالی **حکمت** دادې چه (أ) پـه دائمی نـکـاح کښې غـرض د ښځې او خـاونـد جـمـع کیـدل او مینه محبت او د یو خاندان بنیاد اینښودل دی۔ او پـه مُتـعـه کښې دا نشتـه، بلکه په دې کښې صرف د شهوت پوره کولو دپاره یـوه ښـځـه پـه کرایه باندې نیول دی۔ لکه څنګه چه په کرایه کښې یو شے کله د یو سره وی اوکـلـه د بـل سره، نـو دغـه شان په متعه کښې هم ښځه کله د یو سړی سره وی اوکله د بل سړی سره۔

(ب) د متـعې پـه نکاح کښې د نسب د اختـلاط او ګډوډۍ خطره وی۔ څکه شیعه ګانو پـه نیـز وادهٔ کـړې ښځه هم د پردی سړی سره متعه کولے شی۔ (ج) د متعې نه منع راتلل په اصل کښې د زنا لاره بندول دی، دې دپاره چه دا قِسم نکاح د زنا ذریعه جوړه نشی۔ [اعلام الموقعين: ۱٦٨/۳] بـلـكـه د رسـول الله ﷺ د حـرامـولـو نه روستـو د متـعې او د زنا فرق نشته۔

[وَعَنْ أَكْلِ لُحُومِ الْحُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ] ۔ یعنی کورنی خرهٔ چه د انسانانو سره اموخته وی او د هـغـوی نه تیښته نهٔ کوی، یعنی صحرائی نهٔ وی څکه چه هغه په اتفاق سره جائز دی۔ انسیه منسوب دے انسی ته، انسان ته وائی۔

کـورنـی خرهٔ په ابتداء د اسلام کښې حلال وو بیا ترې رسول الله ﷺ د خیبر په کال منع وفرمائیله۔ رسول الله ﷺ په خیبر کښې وکتل چه کټوۍ پسے اُورونه بل وو، وے فرمایل : دا څه دی؟ صحابه کرامو ﷺ وویل : کورنی خرهٔ دی : وے فرمایل : دے کښې چه څه دی هـغـه واړه وئ او کټـوۍ مـاتـے کـړئ۔ یو صحابی وویل : که مونږ کټوۍ واړه وو او بیا ئے وینـځـو؟ وے فـرمـایل : صحیح ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او په یو روایت کښې دی چه [فَإِنَّهَا رِجْسٌ] ۔ دا پلیت دی۔ پدے کښې هم د ابن عباس ﷺ دا رایه وه چه کورنی خرهٔ جائز دی، (صحيح البخاری کتاب الاشربة : رقم : ۵۵۲۹)

[قَالَ عَمْرٌو : قُلْتُ لِجَابِرِ بْنِ زَيْدٍ : يَزْعُمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ نَهَى عَنْ حُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ ؟ فَقَالَ : قَدْ كَانَ يَقُولُ ذَاكَ الْحَكَمُ بْنُ عَمْرٍو الْغِفَارِيُّ عِنْدَنَا بِالْبَصْرَةِ، وَلَكِنْ أَبَى ذَاكَ الْبَحْرُ، ابْنُ عَبَّاسٍ وَقَرَأَ : قُلْ لَا أَجِدُ فِيمَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا] (عـمـرو وائـی: مـا جابر بن زید ته وویل :

علماء وائی چه رسول الله ﷺ د کورنو خرو نه منع فرمائیلې ؟ نو هغهٔ وویل : داسې خبره به حکم بن عمرو غفاری هم زمونږ سره په بصره کښې کوله لیکن ددې نه بحر (د علم سمندر) ابن عباس ﷺ انکار کړې وو او دا آیت ئې لوستلو (قل لا اجد) (یعنی چه په آیت کښې ددې تحریم نشته)

لیکن دا رایه د صحیح مرفوع احادیثو خلاف وه پدې وجه امت د هغهٔ خبره پدې باب کښې نهٔ ده اخستې، او دا د هغهٔ اجتهاد وو چه دا به ئې وئیل چه په (قُلْ لَا اَجِدُ) آیت کښې ددې تحریم نهٔ دې راغلې۔ ابن عباس ﷺ بحر العلوم (د علمونو سمندر) او ترجمان القرآن، (د قرآن کریم مفسر) وو لیکن تهول علم الله تعالیٰ لره او بیا روستو دینی تهول علم د الله رسول لره وو۔ امام مالکؒ څه ښهٔ خبره کړې وه :

[كُلُّ اَحَدٍ يُؤْخَذُ مِنْ قَوْلِهٖ وَيُتْرَكُ اِلَّا صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ (فِدَاهُ نَفْسِىْ وَاَبِىْ وَاُمِّىْ)]۔

د هر یو تن بعض خبرې به اخستې شی او بعض پریخودې شی سویٰ ددې قبر والا (نبی ﷺ) نه۔ پدې سره د تقلید ملا ماته شوه۔

3148(9) - وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ ﷺ قَالَ : رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَامَ اَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ، ثُمَّ نَهٰى عَنْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : سلمه بن اکوع ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د اوطاس په کال د درې ورځو دپاره د مُتعې د نکاح اجازت ورکړو، او بیا ئې ددې نه منع وکړه۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : [رَخَّصَ] اجازت ئې ورکړې۔[عَامَ اَوْطَاسٍ] د اوطاس د غزا په کال، اوطاس حُنین ته نزدې د یوې دَرې نوم دې۔ یعنی د حُنین د غزا په کال، او همدا د مکې د فتح کال هم وو، یعنی (۸ هجری)۔ د اوطاس غزا د مکې د فتح نه روستو په شوال کښې شوې وه۔ هر کله چه په حُنین کښې هوازن او د هغوئ ملګری وتښتیدل او د طائف د میدانونو نه په یو میدان کښې خیمه زن شو، نو نبی ﷺ هغوئ پسې د ابو موسیٰ اشعری ﷺ د ترهٔ ابو عامر اشعری ﷺ په قیادت کښې یوه فوجی دسته ولیږله، نو هغهٔ د هغوئ سره جنګ وکړو تردې چه شهید شو، او د هغهٔ نه پس ابو موسیٰ اشعری ﷺ قیادت سنبال کړو، او د هغوئ سره وجنګیدهٔ تردې چه هغوئ ئې تس نس کړل او وې شړل۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

[ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ] درے ورځو پورے په متعه کښې دا رخصت وو. په دے حدیث کښې دا نشته چه مسلمانانو د اَوطاس په دے غزا کښې ښځو سره متعه کړے، په دے کښې صرف دا ذکر دی چه د اَوطاس په غزا کښې د متعے اجازت ملاؤ شوے وو. او د اوطاس غزا د مکے په کال شوے وه. د مکے فتح په رمضان کښې او د اَوطاس غزا په شوال کښې شوے وه. او کال ئے یو وو چه هغه اتم هجری دے.

فائده: د متعے په حرمت باندے خو د تمامو اهلِ علمو اتفاق دے لیکن ددے د حرمت په **وخت** کښې اختلاف واقع شوے ځکه چه په دے باره کښې حدیثونه مختلف راغلی.
د علی ﷛ په حدیث کښې ثابت دی چه دا د خیبر په غزا کښې په اووم کال حرامه شوے.
او د سلمه ﷛ په حدیث کښې راغلی چه دا د اوطاس د غزا په کال کښې وو، یعنی اتم هجری کال. او د سبره ﷛ په حدیث کښې دی چه دا د مکے د فتح په کال وو، چه اتم هجری کال او د رمضان میاشت وه.

نو ددے **تطبیق** داسے دے: (أ) د سلمه ﷛ او سبره ﷛ د حدیثونو ترمینځه خو ځۀ خاص اختلاف نشته، ځکه په یو کښې (عام الفتح) راغلی او په بل کښې (عام اوطاس) او مخکښې تیر شو چه دا دواړه غزاګانے په یو کال کښې شوے وے، د مکے فتح په رمضان کښې او د اوطاس غزا په شوال کښې. په دے کښې راوی عام الفتح ته عام اوطاس وئیلے، او اصل کښې دا یوم الفتح وه. ځکه دا ښنګه کیدے شی چه د مکے د فتح په کال د [إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ] لفظ ذکر کوی چه متعه قیامته پورے حرامه شوه، او بیا یوه میاشت روسته په اوطاس کښې ددے اجازت ورکوی. او د سلمه ﷛ په حدیث کښې دا نشته چه مسلمانانو په اوطاس کښې متعه کړے وه، په هغے کښې خو صرف دا راغلی چه د متعے رخصت د اوطاس په کال راغلے وو.

البته د علی ﷛ او سبره ﷛ په حدیث کښې اختلاف دے، د علی ﷛ په حدیث کښې دی چه دا حرمت د خیبر په کال راغلے وو. او د سبره ﷛ په حدیث کښې دی چه د مکے د فتح په کال راغلے وو. نو ددے (**جواب**) دادے: چه حرمت د خیبر په کال راغلے وو، ښنګه چه د علی ﷛ په حدیث کښې راغلی، بیا د مکے د فتح په کال (چه دا عامِ اَوطاس هم دے) د حاجت د وجے دوباره مباح شوه، او بیا قیامته پورے په مضبوط حرمت سره حرامه وګرځول شوه، نو ددے نه معلومه شوه چه تحریم او اباحت دواړه دوه دوه ځله راغلی. او

دا د امام نوویؒ او علامه شنقیطیؒ رائے ده۔ [شرح مسلم: ۹/۱۹۳، أضواء البیان: ۱/۳۸۶]

وجه داده چه د علی ﷺ په حدیث کښې په ډاګه راغلی چه دا حرمت د خیبر په کال وو، او د سبره ﷺ حدیث کښې په ډاګه راغلی چه دا تحریم د مکې د فتح په کال وو۔ په دې کښې د [إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ] الفاظ هم راغلی چه دا ابدی حرمت ته اشاره ده۔ والله تعالیٰ اعلم۔

تنبیه: په کوم روایت کښې چه د حجة الودع په موقع ددې د حرمت ذکر راغلې، نو هغه په اصل کښې ددې حرمت تاکید او اعاده وه، دې دپاره چه په خلکو کښې ددې حرمت خور شی۔ او په کوم روایت کښې چه د تبوك د غزا په موقع ددې حرمت راغلې نو هغه ضعیف دې۔

الفصل الثانی

3149 (10) - عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: عَلَّمَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةَ وَالتَّشَهُّدَ فِي الْحَاجَةِ قَالَ: اَلتَّشَهُّدُ فِي الصَّلَاةِ: " أَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ أَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ". وَالتَّشَهُّدُ فِي الْحَاجَةِ: (إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهٗ، وَنَسْتَعِيْنُهٗ، وَنَسْتَغْفِرُهٗ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا. مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ، وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ)، وَيَقْرَأُ ثَلَاثَ آيَاتٍ: ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ [آل عمران، آیت: ۱۰۲] ﴿يَآ أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَاءً، وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِيْ تَسَاءَلُوْنَ بِهٖ وَالْأَرْحَامَ، إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا﴾ [النساء، آیة: ۱] ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا يُّصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا﴾ [احزاب، آیت: ۷۱،۷۲]. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ وَفِيْ جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ فَسَّرَ الْآيَاتِ الثَّلَاثَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَزَادَ ابْنُ مَاجَهْ بَعْدَ قَوْلِهٖ: " إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ: نَحْمَدُهٗ" وَبَعْدَ قَوْلِهٖ: " مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا: وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا " وَالدَّارِمِيُّ بَعْدَ قَوْلِهٖ "عَظِيْمًا": ثُمَّ يَتَكَلَّمُ بِحَاجَتِهٖ وَرُوِيَ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ فِيْ خُطْبَةِ الْحَاجَةِ مِنَ النِّكَاحِ وَغَيْرِهٖ.

ترجمه : عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته په مانځه کښے تشهد او د حاجت دپاره تشهد راښودلے : وے فرمایل : په مانځه کښے تشهد دا دے : التحیات الخ (ترجمه) ټولے پیشکشیانے (تحفے) الله تعالیٰ دپاره دی، او مونځونه او پاکے کلمے (او حلالے صدقے د الله تعالیٰ دپاره دی) سلام دِے په تا باندے اے نبی ! او رحمتونه د الله تعالیٰ دِے وی او برکات دِے وی، سلام دِے وی په مونږ او د الله تعالیٰ په نیکانو بندګانو باندے، ګواهی کوم چه نشته حقدار دبندګئ سوئ د الله تعالیٰ نه او ګواهی کوم چه بیشکه محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او د هغهٔ رسول دے، او په حاجت کښے تشهد دا دے : بیشکه تمام صفتونه الله لره دی مونږ د هغهٔ ثنا وایو، هغهٔ نه مدد غواړو، هغهٔ نه بښنه غواړو، او مونږ د خپلو نفسونو د شرونو نه په الله تعالیٰ پورے پناه غواړو، چاته چه الله تعالیٰ هدایت وکړی هغه څوك ګمراه کولے نشی او څوك چه یے لارے کړی هغه څوك سمولے نشی، او زهٔ ګواهی کوم چه الله تعالیٰ نه سوئ بل هیڅوك د عبادت لائق نشته او ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او د هغهٔ رسول دے۔ او بیا به هغوئ درے آیتونه تلاوت کول۔

د اول آیت ترجمه دا ده : اے ایمان والو ! د الله تعالیٰ نه یره وکړئ څنګه چه د هغهٔ نه د یریدو حق دے، او مهٔ مرئ مګر په داسے حال کښے تاسو مسلمانان یئ۔

د دویم آیت ترجمه دا ده : اے خلقو ! ویریږئ د رب خپل نه هغه ذات چه تاسو د هغهٔ په نوم سوالونه کوئ او د رشته داریٔ د (پریکولونه بچ شئ) یقیناً الله تعالیٰ په تاسو باندے نګهبان دے۔ (تاسو وینی) او د دریم آیت ترجمه : اے ایمان والو ! د الله تعالیٰ نه یره وکړئ او وایئ وینا برابره، برابر به کړی عملونه ستاسو او وبه بخښی ګناهونه ستاسو او چا چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول تابعداری وکړه نو دے کامیاب شو په کامیابئ لویه۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او په جامع الترمذی کښے دی : چه دا درے واړه آیتونه سفیان ثوریؒ بیان کړیدی۔ او ابن ماجهؒ د ان الحمد نه روستو نحمدهُ او د من شرور انفسنا نه روستو ومن سیئات اعمالنا الفاظ اضافه کړیدی۔ او دارمیؒ په خپل روایت کښے د (عظیما) نه روستو دا اضافه کړیده : چه (ددے تشهد او آیتونو لوستو نه روستو) به خپل حاجت (یعنی د عقد الفاظ وغیره) بیان کړی۔ او په شرح السنه کښے د ابن مسعود ﷺ دا روایت نقل شویدے چه : دا الفاظ به ئے په خطبه د حاجت کښے

لوستل که هغه به نکاح وه یا بل کار به وو۔
تشریح : [اَلتَّحِيَّاتُ] مشهوره دا ده چه دا د معراج په شپه نبی ﷺ ته ورکړے شو، هرکله چه نبی التحیات لله الخ وویل نو الله تعالیٰ وفرمایل : السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته نو نبی ﷺ وفرمایل : السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین۔ جبریل علیه السلام وفرمایل: اشهد ان لا اله الا الله وأشهد ان محمدا عبده ورسوله الخ۔ (تنبیه الغافلین للسمرقندي ص ۵۰۸) بیا دا مجموعه خبرے نبی ﷺ ته ورکړے شوے چه هغه او د هغهٔ امت ئے په مانځه کښے وائی۔ تقی عثمانی صاحب په شرح د ترمذی کښے ویلی دی چه دا په هیڅ کتاب یا حدیث کښے نشته۔ لیکن هغهٔ دا حواله نهٔ ده کتلے۔ [اَلتَّحِيَّاتُ] جمع د تحیة ده، پیشکشئ، بخشیش، ډالئ او تحفے ته وائی۔ دلته ترے مراد عبادتونه دی۔ یا مراد سلامونه دی۔
ابو سعید الضریرؒ فرمائی : تحیات هغه کلماتو ته وائی چه په هغے سره په بادشاه باندے سلامونه اچولے کیږی او د بادشاه مخے ته وئیلے کیږی۔ نو معنیٰ دا ده چه ډالئ او تحفے او سلامونه چه بادشاهانو ته وړاندے کیږی د هغه ټولو مستحق اصل کښے الله تعالیٰ دے۔ (ابن قُتیبهؒ)۔
دارنګه التحیات معنیٰ ده : اَنْوَاعُ التَّعْظِيمِ لِلّٰهِ ۔ د الله دپاره ټول اقسام د تعظیم او د بړهائی دی۔ (الخطابیؒ) بعض معنیٰ کوی : [اَلْبَقَاءُ لِلّٰهِ]۔ بقاء صرف الله تعالیٰ لره ده، او هرچه کائنات دی نو هغه به فانی کیږی۔ ځینی وائی : [اَلْمُلْكُ لِلّٰهِ]۔ بادشاهی صرف د الله تعالیٰ دپاره ده۔ یا سلامتیا د ټولو آفاتو او نقصان نه د الله تعالیٰ دپاره ده۔ ځکه چه بندګان د مرګ د آفت نه بچ نهٔ دی۔
اول کښے به صحابه کرامو ﷺ په مانځه کښے په الله تعالیٰ باندے سلامونه اچول، بیا به ئے بعض معین ملائك او انسانان په سلام سره خاص کول نو رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمایل : چه په الله تعالیٰ باندے سلام مهٔ اچوئ ځکه چه الله تعالیٰ خپله سلام ذات دے، بلکه داسے ووایئ چه التحیات لله۔ یعنې سلامونه د الله تعالیٰ دپاره دی او د هغهٔ د طرف نه دی۔ (طیبیؒ)
بیا هرکله چه د بندګانو په تحفو او ډالو کښے داسے خاص څه نهٔ وو چه د الله تعالیٰ د ثناء دپاره قابل او صالح وے نو پدے وجه ئے اجمالًا د هغهٔ دپاره داسے الفاظ استعمال کړل

چه په هغې کښې د الله تعالىٰ تعظيم دے. يعنې ټول انواع د تعظيم هغهٔ لره دي. حافظ وائي : دلته د تحيات معنىٰ په سلام سره زيات مناسبه ده. (فتح الباري : ۲/۳٦٤)

[لِلّٰهِ] . لام د مِلك او د تخصيص دپاره دے. يعنې الله تعالىٰ ئې مالك دے او هغهٔ پورے خاص دي. [وَالصَّلَوَاتُ]. ددے نه مراد ټول مونځونه دي. از هريّ وائي : ددے نه مراد عبادات دي. يا ددے نه مراد رحمتونه، يا دعاګانې او تضرع دے. (ذكره ابن الملقن)

يعنې ټول رحمتونه د الله تعالىٰ د طرف نه دي. يا عبادات او دعاء او تضرع به خاص هغهٔ دپاره کولے شي.

[وَالطَّيِّبَاتُ]. دا صفت د کلماتو يا د اقوالو يا د اعمالو يا د اوصافو يا د اموالو دے، يعنې مزيدارے کلمے او ښائسته صفتونه چه د الله تعالىٰ دپاره لائق وي يا پاك اعمال او نيك صفتونه او پاك مالونه خاص هغهٔ دپاره ثابت دي او هغه ددے لائق دے چه د هغهٔ دپاره وکړے شي. نو په التحيات کښې قولي عبادتونو او په الصلوات کښې فعلي (بدني) عبادتونو او په طيبات کښې مالي عبادتونو ته اشاره ده. او الصلوات او والطيبات دا مستقلې مبتداء ګانې دي او د هر يو سره جدا (لله) لفظ خبر دے. [اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ]. سلام په معنىٰ د سلامتيا سره د هر آفت او نقصان او عيب نه. [اَيُّهَا النَّبِيُّ] . دا استحضار د نبي دے دپاره د دعاء کولو، او غائب ته آواز نۀ دے. دويم دا چه دلته غائب ته آواز کړے شوے او نورو ځايونو کښې نبي ته چه کله غائب وي آواز منع کړے شوے. ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾[حجرات : ۳] .او مونږ د دين تابع يو، نۀ د خپل عقل او رائے. دلته ئے نبي ذکر کړو او روستو (رَسُوْلُهٗ) رسول ذکر شو، پدے کښې نبي دپاره دواړه صفتونه جمع کول دي. [وَبَرَكَاتُهٗ]. جمع د برکة ده، نماء او د خير زيادت ته وائي. يا برکت د هر خير خُلاصے ته وائي. يا د هر شي ډير خير ته وائي. [اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا]. د علينا نه مراد امام او مقتديان او حاضرين او ملائك دي. [التَّشَهُّدَ فِي الْحَاجَةِ] د تشهد نه مراد خطبه ويل دي. او د حاجت نه مراد هر اهم او ضروري حاجت دے، که هغه نکاح وي، يا تقرير، يا کتاب ليکل وي يا بل يو غټ مقصد وي. لکه يو روايت کښې داسے الفاظ راغلي: [عَلَّمَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خُطْبَةَ الْحَاجَةِ فِي النِّكَاحِ وَغَيْرِهٖ] (ابوداود)

[الْخُطْبَة] د خاء په پيښ سره، تقرير او بيان کول، داسے کلام کول چه هغه په حمد او ثناء وغيره مشتمل وي. او خِطْبَه : د نکاح پيغام ليږلو ته وائي. دے وجے نه اهلِ علم

فرمائي: د خِطبې په وخت خُطبه وېل مستحب دي. او د دواړو باب نَصَرَ يَنْصُرُ دے، ليکن په مصدر کښې ئې فرق دے. [اَلْحَمْدَ لِلّٰهِ] حمد وېل کيږي په مينې او محبت او تعظيم سره د محمود کمالي صفات ذکر کول. که مينه او محبت په کښې نۀ وي نو بيا مدح ده.
[وَنَسْتَعِيْنُهٗ] مونږ د هغۀ نه مدد غواړو، د هغۀ په حمد کولو او په ټولو ديني او دنيوي کارونو باندې. خصوصًا په هغه کار کښې چه د هغې په سر کښې دا خطبه وېل کيږي.
[وَنَسْتَغْفِرُهٗ] مونږ د هغۀ نه په هغه کوتاهئ کښې ښښنه غواړو چه هغه رانه د هغۀ په حمد او په باقي واجباتو کښې صادريږي. مغفرت وئيل کيږي: په ګناهونو باندې په دنيا او آخرت کښې پرده اچول او په هغې نيوکه نۀ کول بلکه معاف کول.
[مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا] د خپل نفس د شرونو نه چه دا انسان ته په ګناه او په نورو رذيلو خويونو باندې امر کوي. په روايت د ابن ماجه کښې ورسره دا الفاظ هم ذکر دي: [وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا] دا د ګناهونو او د هغې د سزاګانو نه پناه غوښتل دي. چالره چه الله تعالیٰ د نفس د شر او د بد عمل د سزا نه وساتۀ نو هغه مراد ته ورسيدۀ.
[مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ] د ابوداوّد په بعضو نسخو کښې [مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ] د هاء نه بغير راغلې، چاته چه الله سمه لاره وښودله او په هغې ئې روان کړو. [فَلَا مُضِلَّ لَهٗ] هغه هيڅوك د سمې لارې نه اړولے نشي.
[وَمَنْ يُّضْلِلْ] دا په غير د هائے ضمير نه دے. دلته ئې هاء ضمير رانۀ وړو، په دے کښې اشاره ده چه ضمير د مفعول حذف کول جائز دي لکه په روايت د نسائي کښې ورسره هاء ذکر ده يعني [وَمَنْ يُّضْلِلْهُ].
[وَاَشْهَدُ] مخکښې ټولو افعال ئې د جمعې په صيغې سره ذکر کړل، او دا ئې د واحد په صيغې سره. وجه داده چه دغه مذکوره ټولو واړه افعال طلب او انشاء ده، او غوښتونکي دپاره مستحب دي چه دا د خپل ځان او د خپلو مؤمنانو ورونو دپاره وغواړي. او هر چه شهادت دے نو دا د مفرد په لفظ سره ځکه راغلې: چه په شهادت کښې د زړۀ له طرفه اخبار ورکول دي چه دا د ژبې سره موافق دے، او انسان صرف د خپل ځان له طرفته اخبار ورکولے شي ځکه دۀ ته صرف خپل حالت معلوم دے. د بل چا له طرفه ددې اخبار نشي ورکولے چه د هغۀ زړۀ او د ژبې حالت برابر دے. [تهذيب مختصر السنن، لابن القيم: ۵٤۳، نقلًا عن شيخ الاسلام ابن تيميه]

[ثُمَّ يَتَكَلَّمُ بِحَاجَتِهِ] (اما بعد نه پس به خپل حاجت ذکر کړي) دلته مراد دا چه: د جینئ ولي (پلار وغیره) به د ګواهانو په مخکښې ووائی: ما تاله خپله لور په نکاح درکړه، او هلك به ووائی: ما قبوله کړه۔ او مهر به مقرر کړي، بس نکاح وشوه۔ دا هغه حاجت ذکر کول شو۔ یعنی که خطبه ولي ووائی یا ئې خطیب ووائی نو بیا به هغه د نکاح متعلق خبره شروع کړي۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه نکاح تړلو نه مخکښې دا خطبه لوستل مسنون او مستحب دی، نکاح تړونکے به اول دا خطبه ولولي، دے نه پس به د ولي له طرفه ایجاب، او د خاوند له طرفه قبول وشي۔ د جاهلیت والو دا طریقه وه چه هغوئ به د نکاح تړلو نه مخکښې خطبه وئیله چه په هغے کښې به ئې د خپل قام فخریه کارنامے ذکر کړے، او غالباً په اشعارو به ئې شروع کوله۔ او بیا به ئې نکاح تړله۔ په دے خطبه کښې به مصلحت او ښیګړه دا وه چه په دے سره به تشهیر او اعلان حاصلیدۀ، او په نکاح او زنا کښې فرق ښکاره کیدۀ، ځکه چه زنا پټه وی او نکاح ښکاره۔

بله دا چه: خطبه صرف په اهمو او ضروری کارونو کښې وئیل کیده او نکاح هم ددے اهمو کارونو نه یو کار دے۔ دے وجے نه نبی کریم ﷺ اصل خطبه برقراره وساتله او په هغے کښې ئې اصلاح او تعدیل وکړو۔ [حجة الله البالغة : ۲/۱۲۷]

(۲) د نکاح تړلو په وخت خطبه لوستل د جمهورو اهلِ علمو په نیز مسنون دی، واجب نۀ دی۔ ځکه روستو د سهل بن سعد ﷺ په حدیث کښې راځی چه نبی ﷺ یو سړی ته د هغۀ د قرآن په عوض ښځه په نکاح ورکړه، او په دغه حدیث کښې خطبه نۀ ده ذکر۔ دے وجے نه که ولي ووائی: ما تاله په نکاح درکړه، او هغه بل ووائی: ما قبوله کړه۔ نو نکاح وشوه۔ خطبه وئیل په کښې مسنون او مستحب دی، ضروری نۀ دی۔ د ظاهریه ؤ په نیز په نکاح کښې خطبه واجب ده۔ په شوافعو کښې ابوعوانۀ هم د هغوئ سره موافقت کړے۔ (۳) دا خطبه نکاح تړلو پورے خاص نۀ ده بلکه د هر ضروری حاجت نه مخکښې ددے وئیل مسنون او د خیر او برکت نه ډکه خبره ده، لکه مخکښې ذکر شو۔ دا وجه ده، امام نسائی ؒ دا حدیث په [کتاب الجمعة، باب کیفیة الخطبة : ۱/۱۰٤] کښې ذکر کړے۔ دے وجے نه د بیان یا تقریر یا جرګے کولو یا کتاب لیکلو یا بل یو اهم مقصد نه مخکښې ددے لوستل مستحب دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

تنبيه :بعض خلك ددې خطبې په الفاظو كښې : [نَسْتَهْدِيهِ، نَسْتَنْصِرُهُ، نَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، نَتُوبُ إِلَيْهِ] الفاظ زياتوى. نو دا په صحيح حديث كښې نۀ دى راغلى. او په شرعى الفاظو كښې د ځانه اضافه كول درست نۀ دى. دا د بدعتيانو خوئے دے. البته نورے خطبى ويل جائز دى لكه په كتابونو د سنت كښې شته او په روح الخطبه د شيخ عبد العزيز حفظه الله كښې ئے وګوره.

درجة الحديث :[صحيح] اخرجه ابوداود : ۲۱۱۸، الترمذى : ۱۱۰۵، نسائى كبرى : ۸۹/٦، ابن ماجه : ۱۸۹۲، وزيادة : من النكاح وغيره فى شرح السنة للبغوى : ٥١/٩.

د خطبې نه بغير نكاح بے بركته وى

3150 (11) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ :" **كُلُّ خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : هره خطبه چه په هغې كښې تشهد نۀ وى (يعنى د الله تعالىٰ حمد او ثناء نۀ وى) نو هغه د پريكړے شوى لاس په شان دے. (ترمذىؒ روايت كړے او وئيلى ئے دى چه دا حديث حسن غريب دے)

تشريح : [كُلُّ خُطْبَةٍ] دلته د خطبې نه مراد [كُلُّ كَلَامٍ مُهِمٍّ يُرِيدُ اَنْ يُّخَاطِبَ بِهِ النَّاسَ] . هر مُهم كلام دے چه بنده پرے د خلكو سره مخامخ كيږى او هغوى سره پرے خطاب كوى. [تَشَهُّدٌ]. د تشهد نه مراد مسنونه خطبه ده. [كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ]. جذماء مؤنث د اَجْذَم دے، پريكړے شوے، بے بركته او نا تمام ته وائى. ددے يو مطلب –چه ددے باب سره مناسب دے– دا دے : هره خطبه او نكاح به بے بركته وى چه په هغې كښې تشهد (مسنونه خطبه) ونۀ لوستل شى. دويم مطلب دا دے چه هره خطبه چه د حمد او ثناء نه خالى وى نو هغه به بے بركته وى. اول مطلب غوره دے. دريم خطبه په زير د خاء سره جرګے او نكاح ته وائى او مطلب دا دے چه هره نكاح د مسنونے خطبې نه بغير بے بركته ده. (على القارىؒ)

درجة الحديث :[إسناده صحيح] ابوداود : ٤٨٤١، الترمذى : ۱۱۰٦، وحسنه وزاد فى طبعة بولاق ((صحيح)) وفى إسناد الكتاب أبو هشام الرفاعى، قد تكلموا فيه من أجل رواية الحديث عن محمد بن فضيل لكنه لم يتفرد به فقد تابعه عبد الواحد بن زياد عند أبى داود وغيره، وإسناده صحيح،

وقد صححه ابن حبان والبیهقی وانظر الصحیحة : (۱۶۹).

3151 (12) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" كُلُّ أَمْرٍ ذِیْ بَالٍ لَا یُبْدَأُ فِیْهِ بِالْحَمْدِ لِلّٰهِ فَهُوَ أَقْطَعُ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هر هغه کار چه اُوچت شان والا وی په هغې کښې د الله تعالیٰ په حمد سره شروع ونشی نو هغه پریکړے شوے (ناتمام/بے برکته) دے۔ (ابن ماجة)

تشریح :[ذِیْ بَالٍ]۔ یعنی اُوچت شان والا۔ اهم کار۔ [أَقْطَعُ]۔ یعنی پریکړے شوے، ناتمام او نیمګړے وی۔ په یو بل روایت کښې [كُلُّ كَلَامٍ لَا یُبْدَأُ فِیْهِ بِالْحَمْدِ لِلّٰهِ فَهُوَ أَجْذَمُ] دے (ابوداود) او په بل روایت کښې دی : [كُلُّ أَمْرٍ ذِیْ بَالٍ لَا یُبْدَأُ فِیْهِ بِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ فَهُوَ أَبْتَرُ]۔ (رواه الخطیب والحافظ عبد القادر الرهاویؒ فی الاربعین) او په بل کښې دی : [لَا یُبْدَأُ فِیْهِ بِذِكْرِ اللّٰهِ فَهُوَ أَبْتَرُ] ۔ (ابن ابی شیبه) دا ټول روایات ضعیف او مضطرب المتن دی۔ لکه تفصیل ئې په ارواء الغلیل (۱-۲) او الضعیفه رقم (۹۰۲) کښې ذکر دے۔ په سند کښې ئې قُره بن عبد الرحمٰن المعافری دے، ضعفه یحیی وقال احمد : منکر الحدیث جدا، (الذهبی) حافظ ابن حجرؒ وائی : صدوق له مناکیر۔ او اسماعیل بن ابی زیاد الشامی متروك الحدیث دے۔

درجة الحدیث :[إسناده ضعیف] أبوداود : ۴۸۴۰، کبری النسائی : ۱۰۳۲۸، وابن ماجه : ۱۸۹۴۔ وانظر الارواء : رقم :۱-۲ وحسّنه بعضهم.

د نکاح اعلان ضروری دے

3152 (13) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" أَعْلِنُوْا هٰذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوْهُ فِی الْمَسَاجِدِ وَاضْرِبُوْا عَلَیْهِ بِالدُّفُوْفِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِیْثٌ غَرِیْبٌ

ترجمه : او عائشه ﵂ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو نکاح ښکاره کرئ او دا په مساجدو کښې وکړئ او پدے باندے تمبلونه ووهئ۔ (ترمذیؒ روایت کړے او وئیلی ئې دی چه دا حدیث غریب دے)

تشریح : پدے حدیث کښې [أَعْلِنُوْا] الفاظ صحیح دی ځکه چه متابعات ئې شته او

پدے کښے امر د وجوب دپاره دے د امام مالك په نيز او د استحباب دپاره دے د جمهورو په نيز۔ بيا د اعلان نه مراد ښکاره نکاح ترل دی، برابره ده چه په مسجد کښے وی او که بهر وی۔ [وَاجْعَلُوْهُ فِي الْمَسَاجِدِ] ۔په مسجد کښے د نکاح ترلو په باره کښے دوه احاديث راغلی دی، هغه دواړه ضعيف دی، صرف جواز ترے ثابتيږی په خپل عموم اصلی سره او استحباب ترے نهٔ ثابتيږی۔

لهذا دا اهتمام نهٔ دے پکار چه نکاح په مسجد کښے وکړے شی۔ [بِالدُّفُوْفِ]۔ جمع د دف ده، چمبے ته وائی۔ او نبی عليه السلام ډير نکاحونه د مسجد نه بهر کړی دی لکه جونيه سره۔ دارنګه د ميمونه ﷺ سره ئے په سرف علاقه کښے نکاح کړے۔

درجة الحديث :[ضعيف إلا الإعلان] الترمذی : ۱۰۸۹ وقال حسن غريب، لکنه بعيد عن حال إسناده وقد أوضح علته الالبانی فی الضعيفة : ۹۷۸، والارواء (۱۹۹۳) وآداب الزفاف ص (۱۸۳) وقال الترمذی : عيسى بن ميمون ضعيف فی الحديث.

3153 (14) – وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبِ الْجُمَحِيِّ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " **فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ : الصَّوْتُ وَالدُّفُّ فِي النِّكَاحِ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او محمد بن حاطب بن جُمحی ﷺ د نبی کريم ﷺ ارشاد نقل کوی : د حلال او حرامے نکاح ترمينځ فرق : په نکاح کښے آواز او دف وهل دی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

محمد بن حاطب بن حارث الجمحي القرشیؒ دا په حبشو کښے پيدا شوے او دا اولنے هغه صحابی دے چه په اسلام کښے ئے د محمد نوم کيخودے شوے۔ او تولو غزواتو ته حاضر شوے، او د رسول الله ﷺ سره په وړوکوالی کښے ملاؤ شوے، او په مکه يا کوفه کښے وفات شوے، ددهٔ په وړوکوالی کښے لاس اُوسوزيدو نو رسول الله ﷺ ورله لاس باندے دم واچولو او لاړے ئے پرے واچولے۔

تشريح :[اَلصَّوْتُ] امام بيهقیؒ فرمائی : ددے نه مراد ګانے بجانے وئيل نهٔ دی بلکه ددے نه مراد ذکر او په خلکو کښے اعلان او ددے تشهير دے، بيا ئے وئيلی چه دغه شان خبره عمر فاروق ﷺ هم کړيده۔ (بيهقی : ۲۹۰/۷) دارنګه مباح شعرونه دی۔ يعنی د حلالے نکاح او حرامے نکاح (زنا) ترمينځ فرق په صوت او دف سره راځی اُوس که بغير د

دف او صوت نه اعلان او ښکاره والے د نکاح وشی نو بیا هم جائز ده، خو دلته حدیث ددے دپاره راوړے شوے چه په نکاح کښے ضرور اعلان پکار دے، که د دوه ګواهانو مخامخ وشوه هم نکاح صحیح ده۔

او دا مطلب نهٔ دے چه دف او صوت ضروری دے، نو دا حدیث د امام مالكؒ دلیل شو چه هغه وائی: په نکاح کښے اعلان ضروری دے۔ فتفکر۔

درجة الحديث :[إسناده حسن] أحمد :۳/٤۱۸، رقم : ۱٥٤۸۹، الترمذی : ۱۰۸۸، وحسنه والنسائی : ٦/۱۲۷، وابن ماجه : ۱۸۹٦ من أجل أبي بلج.

په وادهٔ کښے د جائزو شعرونو لوستلو جواز

3154 (15) - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ :كَانَتْ عِنْدِیْ جَارِيَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ زَوَّجْتُهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" **يَا عَائِشَةُ ! أَلَا تُغَنِّيْنَ ؟ فَإِنَّ هٰذَا الْحَيَّ مِنَ الْأَنْصَارِ يُحِبُّوْنَ الْغِنَاءَ** ". رَوَاهُ ابْنُ حِبَّانَ فِيْ صَحِيْحِهٖ

ترجمه : او عائشه ﵂ فرمائی : ما سره د انصارو یوه جینئ وه ما په نکاح ورکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل : اے عائشے ! آیا تهٔ د ګانے دپاره چا ته نهٔ وے، ځکه چه د انصارو دا قبیله سرود خوښوی۔ (ابن حبانؒ په خپل صحیح کښے روایت کړے)

تشریح :[جَارِيَةٌ] دا جینئ چه د عائشے ﵂ سره به اُوسیدله او بیا هغے ورله د چا سره نکاح کړے وه یا خو د هغهٔ د رشته دارو نه د چا لور وه لکه روستو حدیث ئے وضاحت کوی، یا به یوه یتیمه پاتے شوی وی چه هغے به ځان سره پاللے وی۔

[زَوَّجْتُهَا]۔ یعنی ما د هغے جرګه کړے وه نو دے کښے دا خبره نشته چه بغیر د ولی نه نکاح کیږی۔ ځکه چه دا خو د عائشے ﵂ د مذهب خلاف ده۔ [أَلَا تُغَنِّيْنَ]۔ تَغَنّٰی او غَنّٰی دواړه په یو معنیٰ دی، او دلته دواړه قسمه لوستل جائز دی، تَغَنِّيْنَ، او تُغَنِّيْنَ۔ یعنی په شعرونو سره خوش آوازی کول۔ یعنی تا په چا باندے سرود نهٔ وهلو۔ او دا معنیٰ د روستو حدیث نه معلومیږی۔ [اَلْغِنَاء] مخکښے تیر شو چه تړنګ ټکور د عام امت په نیز باندے ناجائز دے مګر صرف په وادهٔ کښے اجازت ورکړے شوے، او د ابن حزم ظاهریؒ په نیز مطلقاً جائز دے، او ددے د حرمت او بدئ په باره کښے چه څومره احادیث راغلی دی هغه ټولو باندے ئے کلام ذکر کړے او هغه ئے ضعیف ګڼړلی۔ لیکن مذهب ئے

ضعيف دے۔ وجه دا ده چه په حديث د ابوداود: رقم (۴۹۲۶) كښے دى: ابن عمر ﷺ په لاره روان وو، نافعؒ ورسره وو نو د شپيلئ آواز ئے واوريدو نو په غوږونو كښے ئے گوتے وركړے او لرے لاړو او نافعؒ ته ئے وويل چه آيا ته اُوس آواز آورے؟، هغهٔ ووېل: نه۔ وے فرمايل: زهٔ د نبى ﷺ سره اُوم هغه هم داسے واوريدل او داسے كارئے وكړو (لكه څنگه چه ما وكړل) (صحيح ابى داود: ۴۹۲۴ ومشكاة المصابيح باب البيان والشعر رقم: ۴۸۱۱)

مجاهدؒ فرمائى: زهٔ د ابن عمر سره ووم نو هغهٔ د تمبل آواز واوريدو نو گوتے ئے په خپلو غوږونو كښے وركړے بيا جدا شو تردے چه دا كارئے درے كرته وكړو بيا ئے وفرمايل: داسے كار رسول الله ﷺ كړے وو۔ [مسلم: ۱۸۷۳]۔ نو دلته ابن عمر او رسول الله ﷺ تهنگ تهكور آوريدل بد گنړلى۔ ابن حزمؒ وائى: كه دا كار ناروا وے نو بيا نافع ولے آوريدل او دارنگه رسول الله ﷺ په ابن عمر ﷺ ولے آوريدل۔ جواب دا دے چه هغهٔ غير اختيارى آوريدلى او رسول الله ﷺ او ابن عمر د زيات احتياط په توگهٔ په غوږونو كښے گوتے وركړے څكه چه دا كار ورته ناروا ښكاره كيدو۔ او ددے په باره كښے نور ډير احاديث دى چه شوكانىؒ په نيل الاوطار (۷) او ابن القيمؒ په «اغاثة اللهفان» كښے ذكر كړى، او مخكښے مونږ ذكر كړل۔ او «تحريم آلات الطرب» د البانىؒ مفيد كتاب دے۔

(رواه ابن حبان) دلته د مشكاة په اصل نسخه كښے صرف رَوَاهُ لفظ دے، روستو ځائے خالى دے، مصنف اشاره كوى چه ما ددے حديث اصل مأخذ ونهٔ موندو، روستو نورو علماؤ په حاشيه باندے دا عبارت (ابن حبان فى صحيحه) (يعنى دا روايت ابن حبان په خپل صحيح كښے نقل كړيدے) ليكلے دے۔

درجة الحديث :[ضعيف] ابن حبان فى صحيحه: ۵۸۷۵، فى اسناده اسحاق بن سهل بن ابى حثمة ترجمه ابن ابى حاتم ۲/۲۲۳/۷۷۱، ولم يذكر فيه جرحا ولا تعديلا وذكره ابن حبان فى ثقاته (۴/۲۲) وقال الالبانى فى الضعيفة: ۷۵۴۵) انه منكر واسحاق بن سهل مجهول لم يعرف الا بهذه الرواية۔

3155 (16) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: أَنْكَحَتْ عَائِشَةُ ذَاتَ قَرَابَةٍ لَهَا مِنَ الْأَنْصَارِ فَجَاءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: "**أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ؟**" قَالُوْا: نَعَمْ، قَالَ: "**أَرْسَلْتُمْ مَعَهَا مَنْ تَغَنّٰى؟**" قَالَتْ: لَا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "**إِنَّ الْأَنْصَارَ قَوْمٌ فِيهِمْ غَزَلٌ فَلَوْ بَعَثْتُمْ مَعَهَا مَنْ يَقُوْلُ:**

أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائي: په نکاح باندې ورکړه عائشې ﷺ دې یوه خپلوانه د انصارو نه نو رسول الله ﷺ راغلو وې فرمايل: آيا تاسو جينۍ (خپل خاوند ته) تحفه او هديه کړه؟ خلکو عرض وکړو آؤ، وې فرمايل: آيا تاسو ددې سره هغه څوك وليږل چه خوش آوازي وکړي؟ عائشې ﷺ وويل: نه، رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً انصار داسې قوم دې چه دوئ کښې د (جائز) ګانو شوق دې، نو که تاسو ددې سره هغه څوك وليږئ چه هغه داسې ووائي: اتيناکم الخ- (مونږ تاسو ته راغلو، مونږ تاسو ته راغلو، الله تعالیٰ دې مونږ په سلامتيا کښې وساتي او تاسو دې هم په سلامتيا کښې وساتي- (ابن ماجة)

تشريح: [ذَاتَ قَرَابَةٍ]- يعني يوه خپلوانه د عائشې ﷺ- [أَهْدَيْتُمُ الْفَتَاةَ]: دا د هَدیٰ نه دې، نو معنیٰ به دا وي: آيا تاسو هغه خاوند کره وَرسوله- هدايت په معنیٰ د وصول او ايصال (رسولو) سره دې- په دې صورت کښې همزه د استفهام دپاره ده، [اَیْ اَهَدَیْتُمْ]- يا د اِهداء نه دې، په دې صورت کښې همزه د قطع دپاره ده، او هاء ساکنه ده، او همزه د استفهام به پټه راوخکلې شي، يعني: [أَأَهْدَيْتُمْ] -يعني آيا تاسو خپل خاوند ته هغه جينۍ هديه (تحفه) کړه- حاصل مطلب د دواړو يو راوځي-

[مَنْ تَغَنّٰى] - هغه څوك چه سرود ووهي او ددې په صفت کښې په خوش آوازئ سره شعرونه ووائي- او دا د مخکنی حديث (اَلَا تُغَنِّيْنَ) دپاره تفسير شو- [غَزْلٌ]-

دا د غين په زور او د زاء په سکون سره دې، د مغازلة نه اسم مصدر دې، په معنیٰ د ميلان او محادثة النساء سره يعني د زنانو ګپ شپ او د هغوی تنګ تکور ته ميلان-

يعني انصاري زنانه خبرې اترې او ګپ شپ او خوش طبعي کوی او داسې خلك سرود خوښوی- (حاشية السندی)

[غَزِلَ يَغْزَلُ غَزْلًا، غَزِلَ بِالنِّسَاءِ: حَادَثَهُنَّ بِلُطْفٍ وَرِقَّةٍ وَكَلَامٍ عَذْبٍ وَتَوَدَّدَ اِلَيْهِنَّ]-

عرب وائي: د ښځو سره ئې غزل وکړو يعني د هغوی سره ئې په نرمۍ او نازکۍ او خوږو خبرو سره خبرې اترې وکړې او هغوی ته ئې ځان مائل کړو)

دلته ئې معنیٰ ده: د ښځو خبرو او تنګ تکور او اشعارو ته ميلان-

[أَتَيْنَاكُمْ] يعني اې د خاوند کور والو! مونږ تاسو ته راغلو- [فَحَيَّانَا]- يعني الله تعالیٰ

ډیے مونږ او تاسو د آفاتو نه بچ وساتی او مونږ او تاسو ته ډیے برکت راکړی۔ یا الله تعالیٰ ډیے مونږ او تاسو ژوندی وساتی۔ او ددیے پسیے روستو بیت داسے دیے : [وَلَوْلَا الْحِنْطَةُ السَّمْرَاءُ لَمْ تَسْمَنْ عَذَارَاكُمْ] ۔ یعنی که چرته سرۀ غنم نۀ ویے نو ستاسو پیغلے به نۀ ویے څربے شویے۔

یا وَلَوْلَا الذَّهَبُ الْأَحْمَرُ مَا حَلَّتْ بَوَادِيْكُمْ ۔ (که سرۀ زر نۀ ویے نو دا ناویے به ستاسو دیے علاقے ته نۀ ویے راغلیے)۔ (یا : که سرۀ زر نۀ ویے نو ستاسو علاقے به نۀ ویے ښائسته شویے) [وَحَسَّنَهُ الالبانی فی الارواء : ۱۹۹۵، وآداب الزفاف ص : ۱۰۹]۔

دا حدیث دلیل دیے چه د وادۀ په موقعه کښیے سرود وهل جائز دي او که دا غتیے ښځیے ووائی، هم جائز به وی په مخکنو شرطونو سره ځکه چه دلته (مَنْ تَغَنّٰی) لفظ مطلق ذکر شویے، د ماشومانو څه قید کښیے نشته۔

او دارنګه [اَلْأَنْصَارُ قَوْمٌ فِيهِمْ غَزَلٌ] نه استدلال کیږی۔

درجة الحديث :[حسن لغیره] ابن ماجه : ۱۹۰۰، احمد : ۱۵۲۴۶، وانظر ارواء الغلیل : ۱۹۹۵]۔

په دوه نکاحونو کښیے اوله نکاح صحیح ده

3156 (17) – وَعَنْ سَمُرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ :" **أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ، فَهِيَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا، وَمَنْ بَاعَ بَيْعًا مِنْ رَجُلَيْنِ فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : سمره بن جندب ﷺ نه روایت دیے چه بیشکه نبی ﷺ وفرمایل : هر هغه ښځه چه دوه ولیان ئے په نکاح ورکړی نو دا په دیے دواړو کښیے د اولنی خاوند دپاره ده۔ او چا چه په دوه کسانو سره دا ورخرڅه کړه نو دا ددیے دواړو نه د اولنی دپاره ده۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

تشریح : فوائد : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه کله یوه ښځه دوه ولیان په نکاح ورکړی مثلًا : یو وروړئے یو هلك ته په نکاح ورکړی او بل وروړئے بل هلك ته، نو دا به د اولنی هلك ښځه شمارلے شی، ځکه ددۀ په حق کښیے شرطونه پوره دی، او د دویم ورور نکاح به باطله وی ځکه هر کله چه اولنئ نکاح صحیح شوه نو دا ښځه د خاوند والا

شوه، او د خاوند والا ښځه دوباره چاته په نکاح ورکول درست نهٔ دی.

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَآءِ﴾ [النساء: ۲٤]

(او په تاسو باندې نکاح ښکلې (مړونو والا ښځې) حرامې دی).

برابره خبره ده که په دې صورت کښې دغه دویم خاوند ورسره جماع کړې وی او که نه؟ بهر صورت دا د اولنی خاوند ښځه ده. خو که دویم هلك ورسره په داسې حال کښې جماع کړې وی چه دهٔ ته پته وه چه دا ئې اولنی هلك له ورکړې ده، نو دا په اتفاق د علماؤ سره زنا ده. دارنګه که هغې سره ئې په ناخبرئ کښې جماع کړې وی نو هم دا زنا ده خو په دې صورت کښې به د ناپوهئ د وجې په دهٔ حد نهٔ وی. [المغنی: ۴۲۹/۹، سبل السلام]

(۲) دا حدیث په هغه صورت باندې حمل دې چه دوه ولیانو (مثلًا دوه ورونو) په جدا جدا وختونو کښې دا جینئ یا ښځه جدا جدا هلکانو له په نکاح ورکړې وی.

او که چرې دواړو ورونو په یو وخت کښې ددې جینئ نکاح د دوه هلکانو سره تړلې وی، او یا دا معلومات نهٔ وو چه کوم یو وړور مخکښې ددې جینئ نکاح کړې ده؟ نو په دې دواړو صورتونو کښې به دا دواړه نکاحونه باطل وی. ځکه دویمه نکاح خو به هله منسوخه ګرځی چه دا روسته شوې وی، او هرکله چه مخکښې والې او روستو والې نشته او یا نامعلومه دې نو دواړه به ځکه باطلې وی چه یو په کښې هم مونږ منسوخ کولې نشو.

(۳) د باقی عقدونو هم دا حکم دې لکه بیع، اجاره او داسې نور. که یو تن په دوه کسانو باندې په جدا جدا وختونو کښې یو شې ورخرڅ کړو، نو دا به د اولنی اخستونکی وی. او که په یو وخت کښې ئې دوه کسانو له ورکړو نو دا سودا به باطله وی. والله تعالیٰ اعلم.

درجة الحديث : [إسناد ضعيف] أبو داود: ۲۰۸۸، ترمذی: ۱۱۱۰، نسائی : ۳۱٤/۷، أحمد: ۸/۵، ۱۱، رقم : ۱۷۳۸۷، دارمی: ۲۱۹۳، حاكم: ۱۷٤/۲، بيهقی: ۱۳۹/۷. رجاله ثقات رجال الصحيح لكن فيه عنعنة الحسن البصری عن سمرة ﷺ كما فی الارواء (۱۸۵۳) والحسن مشهور بالمدلس، وقد نقل البيهقی هذه الفتيا عن علی ﷺ بسند منقطع بين الخلاس وعلی، وفی رواية بين ابراهيم النخعی وعلی ﷺ. وقد حَسَّنَ بعض العلماء إسناد الترمذی هذا. قال الشيخ ابن باز: ومهما قيل فی سماع الحسن من سمرة فالحديث جيد من حيث المعنی، ومطابق للأصول والقواعد الشرعية.

الفصل الثالث

متعه د اسلام په ابتداء كښې جائز وه

3157 (18) – عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: كُنَّا نَغْزُوْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَيْسَ مَعَنَا نِسَاءٌ فَقُلْنَا: أَلَا نَخْتَصِيْ ؟ فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ ثُمَّ رَخَّصَ لَنَا أَنْ نَسْتَمْتِعَ فَكَانَ أَحَدُنَا يَنْكِحُ الْمَرْأَةَ بِالثَّوْبِ إِلٰى أَجَلٍ ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللّٰهِ: (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابن مسعود ﷺ فرمائي : مونږ به د رسول الله ﷺ سره غزا ته تللو او مونږ سره به زمونږ بيبيانې نۀ وې نو مونږ ووېل : آيا مونږ خپل شهوات ختم نكړو ؟ نو نبي كريم ﷺ مونږ ددې كار نه منع كړو بيا ئې مونږ ته رخصت راكړو چه مونږ متعه وكړو نو زمونږ يو تن به د يوې ښځې سره د يوې نيتې پورې په جامه باندې نكاح كوله بيا عبد الله ﷺ دا آيت ولوستلو : يا ايها الذين الخ : اے ايمان والو! مۀ حراموئ پاك هغه څيزونه چه الله تعالیٰ تاسو له حلال كړيدي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح :[أَلَا نَخْتَصِيْ]۔ ددې نه د خصي كيدو حرمت معلوم شو ځكه چه پدې كښې تغيير د خَلْقُ الله دې، او پدې كښې قطع د نسل انساني ده، او حيوان ته عذابَ وركول دي۔ او تفصيل د مسئلې مخكښې ذكر شو۔ [بِالثَّوْبِ]۔ د جامې قيد اتفاقي دې، يعني په څه چه به ښځه او خاوند راضي شول۔ [ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللّٰهِ]۔

امام نوويؒ فرمائي : ددې نه معلوميږي چه عبد الله بن مسعود ﷺ د متعې د جواز قائل وو۔ لكه د ابن عباس ﷺ په شان، او دواړو ته د نسخ والا حديث نۀ وو رسيدلے۔ بيا ورته نسخ ورسيده نو رجوع ئې وكړه۔ كما قدمنا قريبًا۔

3158(19) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: إِنَّمَا كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِيْ أَوَّلِ الْإِسْلَامِ كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْبَلْدَةَ لَيْسَ لَهٗ بِهَا مَعْرِفَةٌ فَيَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ بِقَدْرِ مَا يَرٰى أَنَّهٗ يُقِيْمُ فَتَحْفَظُ لَهٗ مَتَاعَهٗ وَتُصْلِحُ لَهٗ شَيَّهٗ حَتّٰى إِذَا نَزَلَتِ الْآيَةُ (إِلَّا عَلٰى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : فَكُلُّ فَرْجٍ سِوَاهُمَا فَهُوَ حَرَامٌ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : يقيناً متعه په اول د اسلام كښې (جائز) وه، يو

سړي به يو ښار ته راغلو چه په هغې کښې به ئې پيژندګلی نۀ وه، نو يوې ښځې سره به ئې نکاح وکړه په هغه اندازه چه دۀ به ليدل چه په هغې کلی کښې پاتې کيږي نو ښځې به د هغۀ دپاره سامان ساتلو او طعام به ئې ورله تيارولو تردې چه دا آيت نازل شو : (إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ) ـ ابن عباس ﷺ وفرمايل: نو هره ښځه چه ددې دواړو نه سوئ ده هغه حرامه ده۔ (ترمذیؒ)

تشريح : [شِيَّهُ] د شين زور او ياء مشدد ده۔ د شواء نه دې، پخکړي طعام ته وائي، مراد ترې نه خوراك څكاك دې۔ مګر ظاهر دا ده چه دا [شَيْءٌ] لفظ دې، د شين زور دې، او ياء مخفف ده، مهموز دې، بيا تخفيف دپاره همزه حذف شوې۔ [اَىُ اَشْيَاءَ هُ]۔ مراد ترې نه څيزونه او د ضرورت مالونه او سامانونه دي۔ پدې روايت کښې د متعې سبب د سامان حفاظت ذکر شو۔ او نورو احاديثو کښې نور علتونه دي او هغه صحيح دي، لهذا دا شاذ روايت دې۔ (فتح الباري) پدې روايت کښې د ابن عباس ﷺ ناسخ قول ذکر شو چه متعه منسوخ ده ليکن دا روايت ضعيف دې، موسى بن عبيده ضعيف دې۔ لهذا د ابن عباس ﷺ نه رجوع په صحيح سند سره نۀ ده ثابته۔ لکه په ارواء الغليل (۱۹۰۳) کښې وګوره۔ شيخ الباني دې روايت ته منکر وئيلې دې۔

درجة الحديث :[ضعيف] الترمذي : ۱۱۲۲۔ وهو عن ابن عباس منكر كما في الارواء.

د وادۀ په موقعه د جائزو شعرونو وئيلو اجازت

3159 (20) — وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى قَرَظَةَ بْنِ كَعْبٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ فِي عُرْسٍ وَإِذَا جَوَارٍ يُغَنِّيْنَ فَقُلْتُ : أَيْ صَاحِبَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَأَهْلَ بَدْرٍ يُفْعَلُ هٰذَا عِنْدَكُمْ ؟ فَقَالَا: **اِجْلِسْ إِنْ شِئْتَ فَاسْمَعْ مَعَنَا وَإِنْ شِئْتَ فَاذْهَبْ فَإِنَّهُ قَدْ رُخِّصَ لَنَا فِي اللَّهْوِ عِنْدَ الْعُرْسِ**. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه : او عامر بن سعد فرمائي : زۀ په قرظه بن كعب (ﷺ) او ابو مسعود انصاري (ﷺ) باندې په يو وادۀ کښې ورداخل شوم او هلته جينکئ وې چه خوش آوازي ئې کوله نو ما ووئيل : اې د رسول الله ﷺ دواړو ملګرو او بدريانو ! ستاسو په خوا کښې داسې کار کيږي (او تاسو ئې نۀ منع کوئ؟) نو دواړو وفرمايل : که ستا خوښه وی کينه او مونږ سره (دا آواز) واوره او که ستا خوښه وي نو لاړ شه، ځکه چه مونږ ته د وادۀ په وخت په تماشه

کښې اجازت راکړے شوے۔ (نسائیؒ)

تشریح : [عامر بن سعد بن ابی وقاص] تابعیؒ دے۔ قَرَظه بن کعب انصاری فاضل صحابی ﷺ دے، اُحد ته او د هغے نه مابعد غزواتو ته او بیا د عراق فتوحاتو ته حاضر شوے، او دے عمر فاروق ﷺ کوفے ته ددے دپاره لیږلے وو چه خلکو ته دین وښائی۔او دا هغه شخص دے چه په کوفه کښې ئے د ابن مسعود ﷺ په ولایت کښې ابن النواحه قتل کړے وو کوم چه د مسیلمه کذاب ملګرے وو۔ (اصابه)

بیا علی ﷺ په کوفه باندے والی جوړ کړے وو، او د صحیح قول مطابق د (۵۰ هجری) کال په حدودو کښې وفات شوے۔

[جَوَارٍ] ۔ د جیم زور او د راء ډېل زیرونه دی۔ په اصل کښې جَوَارِیُ دے، جمع د جاریة ده، جینکۍ۔ [یُغَنِّینَ] ۔یعنی سرودونه ئے وئیل۔ خوش آوازی ئے کوله۔

فوائد : ۱- ددے حدیث نه معلومیږی چه د سلفو په هغه زمانه کښې هم د تماشے حرمت او کراهت مشهور وو، په اخترونو او نکاح وغیره کښې د جواز تخصیص بعض خلکو ته معلوم وو او بعض خلکو ته نۀ وو معلوم،

لهذا عامر بن سعدؒ هم د هغه خلکو نه وو چه هغوی ته دا معلومه نۀ وه چه په عیدینو او ودونو وغیره کښې تماشه جائز ده۔ نو دے دواړو صحابه کرامو ورته دا مسئله وخودله۔

(۲) دا حدیث دلیل دے چه په وادۀ وغیره مناسبتونو کښې تماشه جائز ده۔

(۳) او پدے خبره هم دلیل دے چه کوم شی کښې شریعت اجازه ورکړی وی نو په هغے کښې سختی کول صحیح نۀ دی۔ او دا د بزرګۍ خلاف کار نۀ دے۔

درجة الحدیث :[إسناده صحیح] النسائی : ۶/۱۳۵- رقم : ۳۳۸۳، حاکم : ۳۴۸.



٤- باب المحرمات

د محرماتو (یعنی حرامې کړې شوو ښځو) بیان.

یعنی کومې زنانه چه په سړی باندې حرامې دی د هغې بیان. د نکاح د صحیح کیدو یو شرط دا هم دې چه ښځه به د سړی د محرماتو نه نۀ وی، لهذا پدې باب کښې همدا خبره بیانیږی چه کومې ښځې دی چه د هغوی سره نکاح کول حرام دی.

پدې مقام کښې څو بحثونه دی (۱) مناسبت (۲) اصل په زنانو کښې څه شے دے؟ (۳) انواع المحرمات او تفصیل د محرماتو.

مناسبت ۱- یو مخکښې بیان شو چه د نکاح د صحیح کیدو شرط دا دے چه ښځه به د محرماتو نه نۀ وی. ۲- مخکښې د زنانو نکاح او لیدو کتلو او خطبې او اعلان وغیره بیان وشو نو سوال پیدا شو چه هرې زنانه سره به نکاح جائز وی؟ نو دلته استثناء ات بیانوی چه دا وپیژنه چه کومې زنانه حلالې دی او کومې حرامې؟ نو چه حرامې بیان شوې حلالې خپله معلومیږی. ددې وجه نه مُحللات نۀ بیانوی.

اصل په زنانو کښې حرمت دے، یعنی ټولې زنانه په سړی باندې حرامې دی سوی د هغې نه چه الله تعالیٰ او د هغۀ رسول اجازت ورکړې وی. ددې خبرې فائده دا ده چه هره ښځه تـا لـه نۀ حلالیږی تر څو چه الله تعالیٰ او د هغۀ رسول اجازت نۀ وی ورکړے، او الله تعالیٰ او د هغۀ رسول اجازه صرف په خپله بی بی او وینځه کښې ورکړے نو معلومه شوه چه باقی حرامې دی، لهذا کافراتو زنانو سره نزدیکت جائز نۀ شو.

د محرماتو تفصیل: کومې زنانه چه حرامې دی هغه اولاً په دوه قسمه دی:

(۱) یو هغه چه مُؤبّدې حرامې دی، دا هغه دی چه تر قیامته پورې په سړی باندې حرامې وی په هیڅ وخت کښې دۀ لره نۀ جائز کیږی. (۲) مُؤقت حرامې. دا هغه دی چه د څه وصف (صفت) د وجه نه حرامې وی. بیا مؤبد حرامو کښې یو څو اقسام دی:

(۱) **محرمات من جهة النسب** - (یعنی نسبی رشتې د وجه نه حرامې) دا څلور اقسام دی: (۱) **اصول الرجل** - (د سړی اصول لکه مور، نیا د پلار یا د مور د طرف نه، او داسې

پسې بره ورځه)۔ (٢) **فروع الرجل** : (د سړي خپل اولاد) لکه لونړه، نمسئ، کړوسئ او داسې پسې ښکته ورځه۔ برابره ده چه د ځوی د طرف نه نمسئ وی او که د لور د طرف نه۔ (٣) **فروع الابوين** (د مور او پلار ځانګي- يعني اولاد) لکه درې قسمه خويندې، (عيني، علاتي اخيافي) پلار او مور شريکې خويندې، يا صرف پلار شريکې يا صرف مور شريکې خويندې۔ يا د خويندو لونړه يعني خورزې، يا د ورونو لونړه۔ (وريرې) يا د هغوی لونړه او داسې پسې ښکته ورځه او دا هم درې واړه قسمونه مراد دی۔ يعني عيني وريره، او خورزۀ، علاتي وريره او خورزۀ، اخيافي وريره او خورزۀ۔

(٤) **فروع الجد والجدة** : د نيکۀ او نيا اولاد لکه عَمه (ترور يعني د پلار خور) خاله (د مور خور) برابره ده چه دا دواړه د پلار او مور دواړو نه وی او که صرف د پلار نه يا صرف د مور نه وی۔ دارنګه (عمة الاب) د پلار ترور يا د نيکۀ ترور، عمة الام (د مور ترور يا د نيا ترور)۔ دارنګه خالة الاب او خالة الام هم پدې کښې داخله ده۔

لهذا د ترۀ لور، يا د ترور لور، د ماما لور يا د خالې لور حلاله ده۔ دا شلور اقسام محرمات د نسب په وجه شو۔

دغه شان د مور ترۀ او د مور ماما يا د پلار ترۀ او د پلار ماما د ښځې دپاره مَحرم دی۔ (ابن عثيمين : فتاوی اسلاميه ٣/١٣١)

(٢) **محرمات مُؤبده من جهة المصاهرة** : يعني ابدی محرمات د سخرانې د رشتې په وجه)۔ دا هم شلور جوړيږی : (١) **زوجة الاصول** : (د اصولو زوجه) په بچي باندې د پلار ښځه، د نيکۀ ښځه او داسې بره په نفس عقد سره حرام دی۔ يعني چه پلار يا نيکۀ کومې ښځې سره عقد وکړو نو بچي او نمسي له هغې سره نکاح حرامه ده۔ (ځکه دا د پلار په نوم شوه اګرکه هغۀ ورسره نزديکت نۀ وی کړې) او برابره ده چه دا پلار د رضاعت نه وی او که د نسب نه۔ دا په آيت ﴿وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ﴾ کښې داخليږی۔

(٢) **زوجة الفروع** : د خپلو بچو او نمسو ښځې۔ يعني اينګورياني۔ (٣) **اصول الزوجة** : د ښځې اصول۔ لکه د ښځې مور (خواښې) او د هغې نيا۔ (٤) **فروع الزوجه** : د ښځې لونړه او نمسئ او کړوسئ، برابره ده چه ددۀ نه پيدا وی او که پرکتې وی۔ يعني د ښځې د بل خاوند نه وی۔ او برابره ده چه د رضاع نه وی او که د نسب نه۔ خو پدې کښې دا شرط دې

چه دے خاوند به ددے ښځے سره دخول (نزدیکت کړے وی) که نهٔ وی کړے او هسے په عقد کښے ئے راغله او بیائے ورله طلاق ورکړو نو دا سړے ددے ښځے لونړه یا نمسئ په نکاح اخستے شی۔ آیت کښے دی : ﴿وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم مِن نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ﴾ [النساء : ٢٣]۔

(٣) مُحرمات مؤيده من جهة الرضاع - (د رضاعت په وجه محرمات) نو ددے په وجه هم دغه ذکر شوی اته اقسام حرامیږی۔ نو مجموعه شپاړس اقسام شو۔

(٤) محرمه بسبب اللعان : د شرعی لعان په وجه هم ښځه همیشه دپاره حرامیږی لکه روستو به راشی۔ لعان دا دے چه په ښځه باندے د زنا تهمت ولګوی او بیا ورسره قَسمونه وکړی نو د قسمونو کولو نه روستو دا ښځه او خاوند همیشه دپاره جدا کیږی۔ نو ټول اُولس قِسمه زنانه همیشه دپاره حرامے شوے۔ رضاعت په دوه شرطونو ثابتیږی یو دا چه دوه کالونو کښے به دننه وی، دویم : پنځه رضعاتو نه به کم نهٔ وی۔ او دے کښے اختلاف راروان دے۔ **محرمات مؤقته**: دا ډیر محرمات دی :

(۱) هغه ښځه چه د بل سره ئے تعلق وی یعنی د بل چا په نکاح کښے وی (والمحصنات کښے داخلیږی) یا د بل په عدت یا په حمل کښے وی۔ ﴿وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ﴾ [بقره : ٢٣٥]۔

(۲) هغه زنانه چه هیڅ آسمانی دین نهٔ لری نو ددے سره فی الحال نکاح حرامه ده لکه دهریه یا مرتده شوه نو د صحیح ایمان راوړو نه روستو ددے سره نکاح جائز ده۔ ﴿وَلَا تُنكِحُوا الْمُشْرِكِينَ﴾ او ﴿وَلَا تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ﴾ [بقره : ٢٢١]۔

(٣) المطلقة بالطلقات الثلاث : په درے مغلظو طلاقو باندے طلاقه شوے زنانه، نو دا هم په طلاق ورکونکی باندے حرامه ده لکه سورة البقره (٢٣٠) آیت کښے ئے حکم راغلے : [حَتَّى تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ] ۔تردے چه د بل خاوند سره نکاح وکړی او هغه ئے په خپله خوښه پریدی او عدت تیر شی نو اول خاوند دپاره بیرته روا کیږی۔

(٤) د چا چه څلور زوجات وی نو هغهٔ دپاره بله نکاح حرامه ده۔ یعنی زائده په څلورو۔

(٥) جمع بين المَحْرَمين۔ د دوه محرمو زنانو جمع کول لکه دوه خویندے په یوه نکاح کښے جمع کول [وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ] کښے داخله ده، یا نکاح الصغرىٰ على الكبرىٰ یا نکاح الكبرىٰ على الصغرىٰ، یعنی ترور دپاسه وریره یا خورزهٔ په نکاح کول، یا د

وریرے او خورزے دپاسه ترور یا خاله په نکاح کول۔ دا روستو په اول حدیث کښے راځی۔ نو پدے کښے که هره یو مره شوه نو د بلے نکاح جائز ده۔ مثلًا یوه خور مره شوه نو بله به په نکاح واخلی، خورزهٔ یا وریره مره شوه نو ترور یا خاله ئے په نکاح اخستے شی۔

(٦) نکاح المحرمة : هغه زنانه چه په حالت د احرام کښے وی د هغے سره نکاح حرامه ده لکه چه مخکښے ذکر شو۔ [لَايَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكِحُ] (صحیح مسلم)۔

(۷) [نِكَاحُ الزَّانِيَةِ حَتّٰى تَتُوْبَ] ۔ د زناکارے ښځے سره نکاح حرامه ده تردے چه توبه وباسی د امام احمدؒ په نیز۔ او د جمهور علماؤ په نیز جائز ده د عموم د (وانکحوا الایامی) نه استدلال کوی، لیکن دا قول ضعیف دے۔ ﴿وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ﴾ [النور : ۳]۔ (۸) [نِكَاحُ الْأَمَةِ عَلَى الْحُرَّةِ] په آزاده ښځه باندے وینځه په نکاح کول حرام دی۔ (بلکه وینځه بغیر د نکاح نه همداسے ساتلے شی)۔

(۹) [نِكَاحُ الْأَمَةِ قَبْلَ التَّحْرِيْرِ] ۔ د وینځے د آزادیدو نه مخکښے هغے سره نکاح کول حرام دی، بلکه که هغه آزاده کړی بیا ورسره نکاح کوی جائز ده لکه رسول الله ﷺ صفیه رضی الله عنها سره همداسے وکړل، آزاده ئے کړه بیا ئے ورسره نکاح وکړه۔

(۱۰) [نِكَاحُ الْعَبْدِ سَيِّدَتَهٗ]۔ د غلام نکاح د خپلے مالکے (بالدارے) سره نهٔ کیږی۔ دا لس قسمه محرمات شو او اولس مخکښی نو ټول (۲۷) اقسام د محرماتو شو۔ وبالله التوفیق۔

الفصل الأول

وریره او خورزه یا خاله او ترور په یوه نکاح کښے جمع کول جائز نهٔ دی

3160 (1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "لَايُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا، وَلَا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : وریره او ترور به د یو سړی په نکاح کښے نشی راجمع کولے او نهٔ به خورزهٔ او خاله جمع کولے شی۔ (بخاری، مسلم)۔

تشریح : [لَايُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا] د اولنئ ښځے نه مراد وریره، او د دویمے ښځے نه مراد خورزهٔ ده، یعنی وریره او د هغے د پلار خور (ترور) او خورزهٔ او د هغے خاله (د مور

خور) به د يو سړي په نكاح كښې نشي جمع كيدلې. او [لَايُجْمَعُ] نفي د نهي په معنىٰ كښې ده، او دا مضبوط حكم وي.

فوائد : (١) حديث نه ثابته شوه چه په يو وخت كښې به سړے دوه داسے ښځے په نكاح كښې نهٔ ساتي چه هغه دواړه خپلو كښې وريره او ترور يا خورزهٔ او خاله جوړيږي. او دا نهي د تحريم او د نكاح د بطلان تقاضا كوي. برابره خبره ده كه مخكښې ئې د وريرے سره نكاح كړے وي او بيا ورله ترور كوي او كه ددے برعكس وي. دغه شان په خورزهٔ او خاله كښې هم ووايه. بهر صورت دا نكاح حرامه او باطله ده او ددے په بطلان باندے د اهلِ علمو اجماع ده. [الاجماع، ص: ٢٥، لابن المنذر]

(٢) ددے منع سبب دادے چه فطري لحاظ سره د بنُو خپلو كښې يو د بل سره بغض او كينه وي او په يو بل باندے غيرت كوي، نو شريعت دوه نزدے رشته دارے ښځے په نكاح كښې جمع كول منع وګرځول، دے دپاره چه ددے دواړو ترمينځه خپلولي پرے نهٔ كړے شي. لكه دا علت د ابن عباس رضي الله عنه په حديث كښې صفا راغلے :

[نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَنْ تُزَوَّجَ الْمَرْأَةُ عَلَى الْعَمَّةِ وَالْخَالَةِ، قَالَ: اِنَّكُمْ اِذَا فَعَلْتُمْ ذٰلِكَ قَطَعْتُمْ أَرْحَامَكُمْ] وَفِيْ رِوَايَةٍ : [اِنَّكُنَّ اِذَا فَعَلْتُنَّ ذٰلِكَ قَطَعْتُنَّ أَرْحَامَكُنَّ]

[ابن حبان: ١١/٤١٧، المعجم الكبير: ١١/٢٢٧، وسنده حسن]

(تاسو چه هركله داسے وكړئ نو خپله رشته داري به پريكړئ)

(٣) په دے حكم كښې د ښځے د نسبي ترور او خالے او رضاعي ترور او خالے ترمينځه فرق نشته، دغه شان د رضاعي وريرے او رضاعي خورزے ترمينځه فرق نشته. په دے كښې ضابطه داده چه هر هغه دوه ښځے چه په دوئ كښې يو تن نارينه فرض كړے شي او د دواړو ترمينځه نكاح حرامه وه، نو دا دواړه ښځے په نكاح كښې جمع كول منع دي، او علت د منع قطع رحمي ده.

❁ د دوه خويندو ترمينځه د جمع والي منع خو په قرآن سره ثابت ده : ﴿وَأَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ﴾ [النساء: ٢٣] (او په تاسو باندے دا هم حرام دي چه تاسو دوه خويندے په نكاح كښې جمع كړئ). ❁ نو خپلے ښځے سره صرف درے قِسمه ښځے په نكاح كښې جمع كول منع دي : (أ) د هغے خپله خور. (ب) د هغے د پلار خور. (ج) د هغے د مور خور. دا خو نسبي خويندے شوے، دغسے رضاعي خويندے هم واخله.

(٤) دا حدیث ددې آیتِ کریمه خاص کونکې دې : ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ﴾ [النساء: ۲٤] (او ددې مذکوره حرامو شوو ښځو نه سوئ نورې ټولې ښځې تاسو له حلالې دي) نو ددې آیت د ظاهر نه معلومیږي چه ددې دوه قِسمه ښځو ترمینځه جمع راوستل جائز دي (کوم چه په دې حدیث کښې ذکر دي) ځکه دا په دغه آیت کښې نهٔ دي ذکر شوي۔ لیکن حدیث الباب د دغه آیتِ کریمه تخصیص کوي او دا دوه نورې ښځې هم حرامې ګرځوي۔ ځکه دا یو زیاتي حکم دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې، نو په دې به هم هغه شان عمل کولې شي څنګه چه په آیتِ کریمه عمل کیږي۔

نو ددې نه معلومه شوه چه د احنافو دا قاعده خطاء ده چه زیادت په کتاب الله په خبر واحد سره ناروا دې۔ دلته د سنت زیادت په کتاب الله باندې شویدې۔ په آیت کښې د ښځې او د ترور یا د خالې جمع والي حرمت نهٔ دې ذکر او په دې حدیث کښې ذکر شو۔ او حدیث هم مستقل شرعي دلیل دې۔ کما في الحدیث : (أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ)۔ والله تعالیٰ اعلم۔

د حرمتِ رضاعت ذکر

3161 (2) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يُحَرِّمُ مِنَ الْوِلَادَةِ** ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : د رضاعت په وجه سره هغه رشتې حرامیږي کومې چه په ولادت (یعني نسب) سره حرامیږي۔ (بخاريؒ، مسلمؒ)۔

تشریح : په راتلونکو څو حدیثونو کښې د رضاعت متعلق بیان کیږي، چونکه مصنف مستقل باب نهٔ دې ذکر کړې لهذا هم دلته مناسبه ده چه ددې مسئلې پوره وضاحت وکړو۔ او بیا به ددې حدیث تشریح بیان کړو۔

د رضاعت (تې رودلو) تفصیل

رَضَاعَة په لغت کښې : د راء په زیر او زور دواړو سره لوستې کیږي۔ رَضَعَ الصَّبِيُّ الثَّدْيَ رَضْعًا وَرَضَاعَةً وَرَضَاعًا : تې رودل او چوپل۔ او **شرعًا** : د ماشوم خیتې ته د یوې ښځې پئ راتلل۔ برابره خبره ده که د ښځې په تې خُلهٔ کیدې او وې چوپي او خیتې ته ئې لاړ شي او یا ورله په یو لوښي وغیره کښې ورکړې شي، ځکه مقصد د ماشوم خیتې ته د یوې ښځې

پئ تـلـل دی په هـره ذریعه سره چه وی۔ په دے کښے صرف ابن حزمؒ خلاف کړے، هغه وائی : رضاعت صرف د ښځے په تی باندے خُلۀ کیښودو سره ثابتیږی۔ که چرے په لوښی وغیره کښے ئے راولشل او بیا ئے په ماشوم وڅکل نو دے سره رضاعت نۀ ثابتیږی۔ [المحلی : ۷/۱۰] ابن حزمؒ د (رضاعت) د لفظ لحاظ ساتلے، او نورو علماؤ د رضاعت مقصد له اعتبار ورکړے، چه همدا حق ته نزدے خبره ده۔

❁ اصل داده چه ماشوم له خپله مور پئ ورکړی۔ لیکن کله د څۀ عذر وغیره په وجه د خپلے مور نه سوئ بله ښځه ماشوم له تے ورکړی۔ نو ددے تی ورکولو دپاره په شریعت کښے خیل احکام دی چه په قرآن او حدیث کښے بیان شوی او علماؤ د احکامو د آیتونو په تفسیر او د حدیثو په شروخو کښے بیان کړی۔ ❁ او کله چه رضاعت په خپلو شرطونو سره ثابت شی نو ددینه حرمت خوریږی، هغه دا چه دغه ماشوم د کومے ښځے پئ رودلی دی، هغه ئے په نکاح، نظر، خلوت، په سفر کښے د محرم جوړیدو کښے بچے وګرځیدۀ۔ دارنګه په دغه ښځه کښے چه د کوم خاوند په وجه پئ راغلی وی، هغه ئے پلار وګرځیدۀ۔ او د دغه ښځے او سړی ټول بچی ئے خویندے ورونه وګرځیدل، او د دغه ښځے خویندے ورونه ئے ترورياڼے او ماماګان او د دغه سړی ورونه او خویندے ئے ترونه او ترورياڼے وګرځیدلے۔ ❁ البته رضاعت ددے نه سوئ د نسب په نورو احکامو اثر نۀ غورزوی۔ مثلًا : رضیع (تے رودونکے ماشوم) د مُرضعے (تی ورکونکے ښځے) داسے څوی نۀ دے چه په هغۀ باندے د هغے نفقه او خرچه کول واجب شی، یا ددے دواړو ترمینځه میراث جاری شی، یا په مال او نکاح کښے په رضیع باندے د دوئ ولایت ثابت شی۔ دا او ددے پشان په نورو احکامو کښے رضاعت تاثیر نۀ لری۔ وجه داده چه رضاعت د نسب سره په قوت کښے برابر نۀ دے نو په احکامو کښے به هم ورسره برابر نۀ وی۔ رضاعت صرف په هغه احکامو کښے د نسب سره مشابه دے په کوم باندے چه نص راغلے۔ لکه ددے بیان روستو راځی، ان شاء الله۔

حافظ ابن قیمؒ لیکی : په حدیث کښے رضاعت د نسب سره مشابه شویدے او مشبه د مشبه بهٖ سره په ټولو احکامو کښے شریك نۀ وی۔ نو رضاعت به د نسب بعض احکام اخلیٔ، نۀ ټول احکام۔ (زاد المعاد : ۱۱۳/۵)

❁ د رضاعت حکم په کتاب، سنت او اجماع سره ثابت دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ﴾ [النساء: ۲۳] (او په تاسو باندې ستاسو هغه میندې حرامې دي چه هغوئ تاسو له تې درکړې، او په تاسو باندې ستاسو رضاعي خویندې حرامې دي)۔ او حدیثونه په دې باره کښې مصنفؒ ذکر کړي۔ او په دې باندې د امت اجماع او اتفاق دې چه رضاعت سره حرمت ثابتیږي، اګرکه په ځینې مسائلو کښې ئې اختلاف هم شته۔

د حرمت رضاعت حکمت : رضاعت ولې د حرمت سبب ګرځي ؟ په دې کښې حکمت دادې چه هر کله ښځې د خپل بدن جزء (پئ) رضیع له ورکړل او هغه د هغهٔ دپاره غذاء وګرځیده، نو دا پئ د دغه ښځې دپاره داسې شو لکه په نسب کښې د هغې مني او حیض۔ لکه څنګه چه په مني او حیض سره بچې د ښځې نه جزء ګرځي نو دغه شان په تې ورکولو سره هم بچې د هغې نه جزء ګرځي۔ [الامتاع فی أحکام الرضاع، ص: ۱۲]

❁ او مور له پکار دي چه خپل بچي له خامخا یا خو خپله تې ورکړي اوکه څهٔ عذر وي نو بیا دې ورله دائي ونیسي، ځکه د ماشوم د ودې او ترقئ دپاره د مور تې رودل ډیرضروري دي۔ ددې نه سوئ بل هیڅ قِسم پئ یا بله غذاء د مور د پیو بدیل او متبادل نشي جوړیدې۔ تمام ډاکټران او طبیبان په دې متفق دي چه د ماشوم دپاره چه د مور په پیو کښې کوم طاقت او غذائیت پروت دې هغه د دنیا په هیڅ یوه غذاء کښې نشته۔ پدې وجه علیم او خبیر ذات فرمائي : ﴿وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ [البقرة : ۲۳۳]۔ (میندې به خپل اولاد ته پوره دوه کاله تې ورکوي)

د حدیث شرح : [يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، مَايَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ] یحرم : دا یا صیغه د معلوم ده او (ما) ئې فاعل دې۔ یا یحرم مجهول دې او (ما) ئې نائب فاعل دې۔ یا يُحَرَّمُ مشدد دې، او مجهول دې۔ دلته (مِنْ) سببیه دې، یعنې د رضاعت په سبب نکاح داسې حرامه ده لکه څنګه چه د نسب په سبب حرامه ده۔ دا وجه ده الله تعالیٰ په آیتِ کریمه کښې مُرضعې ته مور او خور ویلي۔ (وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ) (وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ) د ولادت نه مراد دلته نسب دې لکه په بل روایت کښې (مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ) لفظ ذکر دې۔ روستو راځي۔ او دا روایت بالمعنیٰ دې۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه کومې ښځې د نسب (رشته دارئ) په وجه حرامیږي هغه د رضاعت په وجه هم حرامیږي، او الله تعالیٰ په قرآن کښې د نسب او

رشته داریٔ په وجه محرمات ټول اووهٔ (۷) ذکر کړی : میندې، نیاګانې اګرکه هرڅومره پورته لاړې شي، لونړه، د اولاد لونړه اګرکه هر څومره ښکته لاړې شي، او خویندې مطلقًا، او د دویٔ ځامن. د ورور لونړه اګرکه هر څومره ښکته لاړې شي. ترونه او ترینددې. البته د دویٔ اولاد حرام نهٔ دی. نو د (رضاعت) په وجه به هم دا اووهٔ واړه حرامې وی. لکه رضاعي مور، رضاعي لور، رضاعي خور، رضاعي ترور، رضاعي خاله، رضاعي وریرې، رضاعي خورزې.

بیا الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې د رضاعت په وجه حرامې شوې ښځې صرف دوه ذکرکړی : (یو) امهات (میندې) اګرکه هر څومره پورته لاړې شي. (دویم) خویندې. او په احادیثو کښې د باقی محرماتو بیان راغلې لکه روستو راځي. دا خو د محرماتو شماره وه.

د رضاعت قانون : په رضاعت کښې قاعده داده : چه د رضاعت په وجه رضیع او د هغهٔ فروعو (بچو) ته حرمت خوریږی. البته اصولو او اطرافو ته ئې حرمت نهٔ خوریږی. دې وجې نه په رضاعت سره د رضیع لونړو او ځامنو او نسل ته حرمت خوریږی، او دویٔ د مُرضعې او د هغې د خاوند اولاد ګرځي. او هر چه د رَضیع اصول دی (لکه پلار یا مور یا د دویٔ پلاران) یا د هغهٔ اطراف دی (لکه ورونه، خویندې) نو دویٔ پورې تحریم نهٔ متعلق کیږی، ځکه د رضیع د اقرباؤ او د مرضعې او د هغې د خاوند ترمینځه نهٔ نسب شته او نهٔ سبب، نو دویٔ ته به تحریم نهٔ ورخوریږی.

[المفهم : ١٧٨/٤ وفتح الباری : ٣٧٥/١١، البحر المحیط الثجاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج: ٥٧٥/٢٥ لمحمد بن علی الاثیوبی حَفِظَهُ اللّٰهُ وَشَفَاهُ مِنْ مَرَضِهٖ]

❁ او هر چه مرضعه ده : نو د رضاعت په وجه ددې فروعو، اصولو او اطرافو ټولو ته حرمت خوریږی، نو د مرضعې ښځې او د هغې د خاوند اولاد د رضیع ورونه او خویندې دی. او ددې دواړو پلاران د رضیع نیا نیکونه دی. او د مرضعې ورونه او خویندې د رضیع ماماګان او خالې دی. او د پیوو والا (خاوند) ورونه او خویندې د رضیع ترونه او ترینددې دی.

۲- **فائده** : علماؤ وئیلی دی چه ددې [یَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَایَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ] نه څلور قسمه زنانه مستثنیٰ دی، یعنې څلور نسبی زنانه مطلقاً حرامې دی او په رضاعت کښې به کله نهٔ حرامیږی : (۱) [اُمُّ الْاَخِ]. د ورور مور په نسب کښې حرامه ده، ځکه چه دا یا

خپله مور ده یا د پلار ښځه ده، او په رضاعت کښې به کله اجنبي (پردئ) ښځه وی، او ستا ورور له به تے ورکړی نو په تا باندے هغه نۀ حرامیږی۔ (۲) [أُمُّ الحَفِيْدِ] ۔ (د نمسی مور) په نسب کښې حرامه ده، ځکه چه دا یا لور ده یا د څوی ښځه ده۔ او په رضاعت کښې دا کله پردئ ښځه وی چه ستا نمسی ته تے ورکړی نو په تا باندے هغه نۀ حرامیږی۔ (۳) [جَدَّةُ الْوَلَدِ] ۔ د بچی نیا په نسب کښې حرامه ده، ځکه چه دا یا ستا مور ده یا ستا د ښځے مور ده۔ او په رضاعت کښې به کله پردئ ښځه وی، بچی له به تے ورکړی نو د بچی پلار له جائز دی چه د هغے سره نکاح وکړی۔ (٤) [أُخْتُ الْوَلَدِ] ۔ د بچی خور په نسب کښې حرامه ده ځکه چه دا لور ده یا ربیبه (پرکټئ) ده۔ او په رضاعت کښې به کله اجنبی ښځه وی، بچی له به تے ورکړی نو د بچی په پلار باندے هغه نۀ حرامیږی۔ دا څلور صورتونه د علماؤ یوے ډلے مستثنیٰ کړی، او جمهورو ددے استثناء نۀ ده کړے (او په واقع کښې ددے استثناء نۀ ده پکار) ځکه چه دا څلور واړه د نسب په وجه حرامے نۀ دی بلکه دا د مُصاهرت په وجه حرامیږی۔ (البحر المحیط الثجاج)

او بعض متأخرینو ددے نه د ترۀ مور، د ترور مور، د ماما مور، د خالے مور هم مستثنیٰ کړی ځکه چه دا په نسب کښې حرامے دی، نۀ په رضاعت کښې۔ قاله فی (فتح الباری ۳۷٦/۱۱):

(۳) **فائده** : رضاعت چه ثابتیږی نو علماؤ ددے دپاره شرطونه بیان کړی چه بعض په احادیثو کښې راغلی او بعض اجتهادی دی۔ (۱) پئ به د زنانه وی، نۀ د سړی۔

(۲) پئ به وی، وینه وغیره به نۀ وی۔ (۳) دا زنانه به وادۀ شوی وی، دا شرط د حنابلهٔ په نیز دے لیکن ضعیف دے، صحیح قول د جمهورو دے چه زنانه باکره وی که ثیبه خو د هغے نه د پئ څکلو سره رضاعت ثابتیږی۔

(٤) دا پئ به د انسان وی نۀ د حیوان۔ امام بخاریؒ ته چا دا نسبت کړے چه هغۀ به د ګډے پئ سره رضاعت وئیلو لیکن دا نسبت صحیح نۀ دے۔ (٥) دا رضاعت به په موده د رضاعت کښې وی چه هغه دوه کاله دی۔

(٦) یو بل شرط دا هم دے چه سړے به زانی نۀ وی، نو که د زانیه (زناکارے ښځے) پئ کوم ماشوم وڅکل نو د ماشوم تعلق د سړی سره نۀ ثابتیږی، هغه ئے پلار نۀ ګرځی البته د مور سره ئے تعلق شته۔ والله اعلم۔

3162 (3) وَعَنهَا قَالَتْ : جَاءَ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاسْتَأْذَنَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ : "**إِنَّهُ عَمُّكِ فَأْذَنِي لَهُ**" قَالَتْ : فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "**إِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ**". وَذٰلِكَ بَعْدَمَا ضُرِبَ عَلَيْنَا الْحِجَابُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : زما رضاعي ترۀ (زما كور ته) راغلو نو ما نه ئې اجازت وغوښتو، ما انكار وكړو ددې نه چه زۀ هغه ته اجازت وركړم تردې چه د رسول الله ﷺ نه تپوس وكړم، نو رسول الله ﷺ راغلو نو ما ترې پوښتنه وكړه، هغۀ وفرمايل : يقيناً هغه خو ستا ترۀ دے، اجازت ورته وركړه۔ عائشه رضي الله عنها وائي : ما ووېل : اے د الله رسوله ! ما ته خو ښځې تے راكړے او سړي خو ما ته تے نۀ دے راكړے، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً هغه ستا ترۀ دے، هغه دې ستا كور ته راداخليږي۔ او دا د هغه وخت واقعه ده چه مونږ باندې پردۀ وهلے شوې (مقرر شوې) وه۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : [عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ]۔ په بل روايت د صحيحينو كښې د هغۀ نوم افلح خودلے شوے او رضاعي پلار ئې ابو قُعيس وو۔ او افلح او ابو قعيس خپل مينځ كښې ورونه وو۔ او د ابو قُعيس د ښځې پئ عائشې رضي الله عنها رودلې وو۔ د مسلمؒ په يو روايت كښې د [اِسْتَأْذَنَ عَلَيَّ أَفْلَحُ بْنُ قُعَيْسٍ] الفاظ دي، او دا د بعض راويانو وَهم دے، صحيح داده چه افلح د ابو قعيس ورور دے۔ [المفهم: ٤/ ۱۷۸] [فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ] ددې انكار وجه روستو بيان شوے چه هغه وائي : (ابو قعيس خو ماله تے نۀ دے راكړے، ماله خو د هغۀ ښځې تے راكړے) يعني ما خو د هغۀ د ښځې نه پئ رودلې، د هغۀ نه خو مې نۀ دي رودلې۔ نو رسول الله ﷺ وضاحت وفرمايۀ چه ددې ښځې دا پئ د هغې د خاوند د وجې نه دي نو د هغې خاوند ستا رضاعي پلار او د هغۀ ورور (افلح) ستا رضاعي ترۀ شو۔

[بَعْدَ مَا ضُرِبَ عَلَيْنَا الْحِجَابُ] يعني د پردې د حكم نازليدو نه روسته۔ او دا د پنځم هجرى كال آخر وخت وو۔

فوائد : (۱) حديث نه ثابته شوه چه رضاع هم لكه د نسب پشان حكم لري، لكه څنګه چه نسبي ورېرے ته كتل او هغې سره خلوت كول جائز دي، نو دا شان رضاعي

وریرے ته کتل او خلوت کول جائز دی۔

(۲) او حدیث دلیل دے چه د رضاعت حکم د مُرضعے د خاوند او د هغهٔ د نزدے رشته دارو دپاره ثابت دے۔ او لکه څنګه چه رضاع ښځے سره تعلق لری نو دغه شان د هغے خاوند سره هم تعلق لری۔ نو د مرضعے ښځے خاوند د رضیع دپاره رضاعی پلار، د هغهٔ ورور د رضیع دپاره تره۔ دارنګه مرضعه ئے مور، او د مرضعے خور د هغهٔ خاله (ترور) ګرځی، وجه داده چه پئ ددهٔ په وجه پیدا شوی، نو دا پئ چه ماشوم څښبی نو دا د مرضعے او د هغے د خاوند دواړو جزء دے۔ او دے ته مسئله د لبن الفحل وائی۔ چه د جمهورو اهلِ علمو په نیز لبن الفحل په تحریم کښے مؤثر دی۔ فحل سړی ته وائی، او لبن الفحل معنیٰ: هغه پئ چه د هغے په راتلو کښے سړے سبب ګرځیدلے۔ په دے مسئله کښے صرف اهلِ ظاهرؒ، ابراهیم ابن عُلیّهؒ او یوے ډلے خلاف کړے۔ [فتح الباری: ۹/۱۵۱] لیکن یواځے دوئ نهٔ بلکه ابن قدامهؒ وائی: سعید بن المسیبؒ، ابو سلمه بن عبد الرحمنؒ، سلیمان بن یسارؒ، عطاء بن یسارؒ، ابراهیم النخعیؒ، ابو قلابهؒ او ابن الزبیرؒ، او یو جماعت د صحابه کرامو ﷺ د لبن الفحل اجازه ورکړے۔ [المغنی: ۹/۵۲۱]

لیکن ددے علماؤ د قول دلیل ضعیف دے۔ د صحیح قول **دلیل** دادے چه نبی کریم ﷺ افلح د عائشے ؓ تره ګرځولے حالانکه هغے خو د ابو قُعَیس د ښځے تے رودلے، وجه داده چه ابو قعیس د هغے پلار وګرځیدهٔ او دے سره نزدے خپلوانو ته هم تحریم خور شو۔ ابن قدامهؒ وائی: [وَهٰذَا نَصٌّ قَاطِعٌ فِیْ مَحَلِّ النِّزَاعِ فَلَا یُعَوَّلُ عَلٰی مَا خَالَفَهُ] دا حدیث د جګړے په ځائے کښے قطعی فیصله کن نص دے، لهذا ددے مخالف دلیل باندے به اعتماد نشی کولے۔

❁ د لَبَنُ الْفَحل بل **صورت** دادے: چه د یو سړی دوه ښځے وی، یوے یو ماشوم له تے ورکړو، او بلے بل ماشوم له، نو دا دواړه ماشومان یو په بل حرام شو، ځکه دا دواړه پلار شریك ورونه دی۔ اګرکه مور ئے جدا جدا ده۔ اوکه په دے دواړو ښځو کښے یوے ښځے یو ماشوم له تے ورکړو، نو دا به د هغے بچے ګرځی، او ددے سړی چه ددے مرضعے ښځے نه کوم اولاد وی، دا رضیع به د هغوئ ټولو ورور هم وی، او د هغهٔ د بلے ښځے د اولاد ورور به هم وی۔ ځکه دا ټول د پئ رودونکی ماشوم سره په پلار کښے شریك دی۔

[المفهم: ٤/۱۷۹، الشرح الممتع: ۱۳/٤٤۳]

بل صورت دا هم دے چه د سړی دوه ښځے وی، یوه ښځه یو یے ماشومے ته تے ورکړی او بله ښځے یو هلك ته تے ورکړی نو دا ماشومه او دا هلك خپل مینځ کښے یو بل باندے حرام شو۔ دا تفسیر امام احمدؒ کړے او د ابن عباس ﷺ نه ددے د جواز په باره کښے پوښتنه وشوه نو هغهٔ وفرمایل : [لَا، اَللِّقَاحُ وَاحِدٌ] (ابن ابی شیبه) دا نهٔ کیږی ځکه چه د دواړو پلار یو دے۔ امام ترمذیؒ وائی : دا تفسیر د لبن الفحل دے۔ [المغنی : ٩/٥٢٠، البحر المحیط الثجاج : ٢٥/٥٨١]

(٢) او دا حدیث دلیل دے چه څوك د رضاعت دعویٰ وکړی او رضیع د هغهٔ تصدیق وکړی، نو ددے دواړو ترمینځه د رضاعت حکم ثابت شو، او په دے باندے گواهانو قائمولو ته حاجت نشته۔ وجه داده چه افلح د رضاعت دعویٰ وکړه (چه زما د ورور ښځے تاله پیٔ درکړی) او عائشے ﷞ د هغهٔ تصدیق وکړو، او صاحبِ شریعت (ﷺ) هغهٔ ته صرف په همدے خبره د دننه راتلو اجازت ورکړے۔ لیکن امام بخاریؒ وائی چه ددے رضاعت مشهور وو پدے وجه ئے اجازت ورکړو۔

(٣) او حدیث دلیل دے چه د دننه راتلو په وخت اجازت غوښتل پکار دی اگرکه د محرَم په حق کښے هم وی، ځکه ممکنه ده چه ښځه په یوه داسے حالت کښے ووینی چه د محرم دپاره ئے په هغے کښے لیدل حلال نهٔ وی۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه حِجاب او پرده کول واجب دی، او د حجاب نه مراد هغه شرعی حجاب دے چه په هغے کښے ښځه ټول بدن پټوی، سره د مخ، ورغوو، قدمونو او د زینت ځایونو نه، خصوصًا د امهات المؤمنین دپاره چه د دوئ او د عام امت په حجاب کښے فرق دے۔ که چرے حجاب واجب نهٔ وے نو بیا خو ددے ذکر کول فائده نهٔ لری۔

(٥) او حدیث دلیل دے چه څوك په یو حکم کښے شك وکړی نو هغه به تر هغه وخته پورے په دے عمل نهٔ کوی تر څو ئے چه ددے په باره کښے د علماؤ نه پوښتنه کړے نهٔ وی۔ لکه دلته عائشے ﷞ ته د افلح په باره کښے شك وو، نو اجازت ئے ورته ونهٔ کړو تردے چه د نبی کریم ﷺ نه ئے پوښتنه وکړه۔ (٦) مستفتی چه د فتوے آوریدو نه مخکښے علتونه ذکر کوی نو په هغهٔ باندے انکار کول جائز دی، ځکه چه دلته په بعض روایاتو کښے دا دی چه رسول الله ﷺ عائشے ﷞ ته وفرمایل : [تَرِبَتْ يَمِيْنُكَ] ستا لاسونه دِے په خاورو ککړ شی۔ پدے کښے اشاره ده چه پکار وه چه د حکم په باره کښے پوښتنه وکړے

شي، او علتونه او وجوهات بیان نکړے شي۔ [البحر المحیط الثجاج]۔
(۷) پدے کښے د احنافو قاعده ماته شوه چه د یو راوی عمل د خپل روایت خلاف وی هغوی وائی چه د هغهٔ رأی به اخلو۔ نو دلته د عائشے ﷞ روایت دا دے چه لبن الفحل سره حرمت راځی او خپله رائے دا وه چه لبن الفحل سره حرمت نهٔ راځی لکه (موطأ د مالك، او سنن سعید بن منصورؒ او ابو عبیدؒ فی النکاح کښے په اسناد حسن سره د هغے نه نقل کړی۔ او احنافو خپله هم د عائشے ﷞ رایه پدے ځائے کښے پریخودے ده او د جمهورو ملګری شویدی۔ معلومه شوه چه د احنافو دا قاعده غلطه ده۔ [فتح الباری : ۱۱/۳۹۲]

د رضاعی وریرے سره نکاح کول حرام دی

3163 (4) – وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ لَكَ فِيْ بِنْتِ عَمِّكَ حَمْزَةَ ؟ فَإِنَّهَا أَجْمَلُ فَتَاةٍ فِيْ قُرَيْشٍ فَقَالَ لَهُ : " **أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ حَمْزَةَ أَخِيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ ؟ وَإِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا حَرَّمَ مِنَ النَّسَبِ ؟** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او علی ﷛ وفرمایل : اے د الله رسوله ! آیا ستا د خپل ترهٔ حمزه په لور کښے څه مینه شته ((چه دے سره نکاح وکړے؟) ځکه چه دا په قریشو کښے ډیره ښکلے جینئ ده، نو نبی ﷺ وفرمایل : آیا تا ته پته نشته چه حمزه (﷛) زما رضاعی ورور دے (او د هغهٔ لور زما د رضاعی ورور لور ده) او الله تعالیٰ په رضاعت سره هغه رشتے حرامے کړی کومے ئے چه په نسب سره حرامے کړی۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح :په بل روایت د مسلم کښے دی : علی ﷛ وائی : ((ما عرض وکړو: یا رسول الله ! څهٔ وجه ده چه تاسو په قریشو کښے ډیر رغبت لرئ او مونږه (بنو هاشم) پریدئ ؟ نبی ﷺ وفرمایل : آیا تاسو سره څهٔ ښځه شته ؟ ما ویل : هو ! د حمزه لور ده۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: دا خو ما دپاره حلاله نهٔ ده ... تر آخره پورے)) [مسلم : ١٤٤٦] او ددے جینئ په نوم کښے مختلف اقوال دی : اُمامه، سلمیٰ، فاطمه، عائشه، امة الله، عُماره او یعلیٰ۔ [أَخِيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ] حمزه ﷛ د نبی کریم ﷺ نسبی ترهٔ وو او رضاعی ورورئے هم وو، ځکه دے دواړو له د ابو لهب آزادے کړے وینځے ثُویبے تے ورکړے وو۔ [بخاری: ٥١١٠، مسلم: ١٤٤٩] نو نبی کریم ﷺ د حمزه ﷛ د لور ترهٔ کیدهٔ۔ او دے نه معلومه شوه چه

رضاعي وريرے سره نکاح حرامه ده۔

مسئله : د رضاعت او **مصاهرت** (سخرګنۍ) خپل مينځ کښے په تحريم کښے فرق شته او که نۀ؟ : يعني آيا په ښځه باندے د خاوند رضاعي پلار حرام دے، يا په ښځه باندے د خاوند رضاعي ځوی حرام دے؟ دارنګه آيا په خاوند باندے د ښځے رضاعي لور يا د ښځے رضاعي مور (خواښے) حرميږي؟ ددے مثال دا دے چه يو سړی يوه ښځه وکړه او د هغے يوه مور رضاعي وه او بله مورئے نسبي وه، نو په سړی بلندے خو د ښځے نسبي مور (خواښے) حرامه ده خو آيا رضاعي خواښے پرے حراميږي او که نۀ؟

نو پدے مسئله کښے د علماؤ اختلاف دے، دوه قوله دي : (۱) د ائمه اربعةؒ او جمهورو اهلِ علمو قول دادے چه د رضاع په وجه هغه حرمت راځي کوم چه د مصاهرت په وجه راځي۔ دے وجے نه د دوئ په نيز ستا د ښځے رضاعي مور (خواښے) په تا داسے حرامه ده لکه څنګه چه ستا د ښځے نسبي مور (خپله خواښے) په تا حرامه ده۔ او ستا د ښځے رضاعي لور (مثلًا : ستا ښځه وی او هغے د مخکني خاوند نه پيدا شوے لور له تے ورکړے وی) په تا داسے حرامه ده لکه څنګه چه ستا د ښځے نسبي لور په تا حرامه ده۔ ددے علماؤ دليل د : [يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، مَايَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ] عموم دے۔

دارنګه د آيت ﴿ وَأُمَّهَاتُ نِسَاءِ كُمْ ﴾ عموم دے۔ يعني د ښځو ميندے (برابره ده چه د نسب نه وي او که د رضاعت نه) نو تے ورکونکے زنانه ته هم مور وئيلے شي۔

(۲) او د شيخ الاسلام ابن تيميةؒ رائے داده چه رضاعت د مصاهرت په تحريم کښے اثر نۀ لري۔ [القواعد: ۳/ ۱۱٤، لابن رجب، الاختيارات، ص: ۲۱۳] او علامه ابن قيمؒ د هغوئ نه نقل کړی چه هغوئ په دے مسئله کښے توقف کړے۔ [زاد المعاد : ٥/ ٥٥٧] او ددے قول دليل ددے آيتِ کريمه عموم دے : ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ ﴾ [النساء : ۲٤] نو اصل به حِل وی، او رسول الله ﷺ چه کله : [يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، مَايَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ] فرمايل نو ددے سره ئے د مصاهرت تذکره نۀ ده کړے۔ يعني ددے مفهوم مخالف دا دے چه په رضاعت سره هغه زنانه نۀ حراميږي چه د نسب نه علاوه په مصاهرت سره حراميږي۔

او هرچه د (أُمَّهَاتُ نِسَاءِ كُمْ) نه استدلال دے، نو دغه آيت نه خپله ښکاره کيږي چه هغے نه استدلال صحيح نۀ دے ځکه چه که مور مطلقاً نسبي او رضاعي دواړو ته شامليدے نو بيا الله تعالىٰ روستو ولے ﴿ وَأُمَّهَاتُكُم اللَّاتِيْ اَرْضَعْنَكُمْ ﴾ جدا ذکر کولو۔ بيا

خو ددې په ذکر کولو کښې هيڅ فائده نۀ ښکاره کيږي. او دا قول علامه ابن عثيمينؒ غوره ګڼړلے، ځکه چه د (وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ) د عموم نه مُخصص دليل نشته.

بله دا ده چه (وحلال ابنائكم الذين من اصلابكم) کښې (من اصلابكم) قيد احترازي دے، نو د رضاعي بچي د ښځې سره د نکاح جواز په ډيرو دلائلو سره ثابت دے او همدا قول راجح دے.

بيا ابن عثيمينؒ فرمائي : د شيخ الاسلام د قول مطابق د ښځې د رضاعي مور سره نکاح جائز ده ليکن شرط دا دے چه دا ښځه به ترے جدا شوي وي په مرګ يا طلاق سره، او د دواړو جمع والے به نۀ کوي ځکه چه [يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ، مَايَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ] حديث کښې دا دي چه ښځه د نسبي خوانيي سره جمع کول حرام دي، نو د رضاعي خوانيي سره جمع کول هم حرام دي، ددے وجه نه شيخ الاسلام پدے مسئله کښې حق بجانب نۀ دے چه هغۀ وئيلي چه دوه رضاعي خويندے په يوه نکاح کښې جمع کول جائز دي. بيا وائي : د جمهورو او د شيخ الاسلام دواړو دليلونو ته چه وکتل شي نو د احتياط لاره اختيارول پکار دي ځکه چه دواړه دليلونه چه کله متعارض شي نو مسئله کښې شك پيدا شي، او د شك په صورت کښې احتياط پکار وي، نو د جمهورو په قول کښې احتياط داسے دے چه د رضاعي خوانيي سره به نکاح حرامه وي او د شيخ الاسلامؒ د قول مطابق ددے نه به پرده کولے شي. او ددے مسلك په شريعت کښې اصل شته لکه په قصه د سوده بنت زمعه ﵂ کښې (روستو راځي) چه رسول الله ﷺ سودے ﵂ ته ووئيل چه تيك ده هلك خو د عبد بن زمعه ورور حساب شو ليکن په هلك کښې مشابهت د عتبه بن ابي وقاص سره وو نو پدے وجه ئے سودے ﵂ ته ووئيل چه تۀ به ددے هلك نه پرده کوے. والله تعالىٰ اعلم. [الشرح الممتع على زاد المستقنع لابن عثيمين : ۱۲/۱۲٤- ۱۲٦]

ليکن تحريم دليل غواړي او په شکونو او احتمالاتو سره تحريم نۀ راځي.

د رضاعت مقدار

3164 (5) - وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ : إِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ أَوِ الرَّضْعَتَانِ "

3165 (6) - وَفِيْ رِوَايَةِ عَائِشَةَ قَالَ : " لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ "

3166 (7) – وَفِي أُخْرَى لِأُمِّ الْفَضْلِ قَالَ : " لَا تُحَرِّمُ الْإِمْلَاجَةُ وَالْإِمْلَاجَتَانِ ". هٰذِهِ رِوَايَاتٌ لِمُسْلِمٍ

ترجمه : او ام الفضل رضي الله عنها فرمائي : د الله نبي ﷺ وفرمايل : يو ځل تي ښبنکل او دوه ځله تي ښبنکل حرمت نۀ راولي۔ او په روايت د عائشه رضي الله عنها کښې دي چه نبي کريم ﷺ وفرمايل : يو ځل تي رودل او دوه ځل رودل حرمت نۀ راولي۔ او په يو بل روايت د ام الفضل رضي الله عنها کښې دي : وې فرمايل : يو ځل تي (د ماشوم په خوله کښې) داخلول او دوه ځل داخلول حرمت نۀ راولي۔ (دا د مسلمؒ روايتونه دي)۔

تشريح : [اَلرَّضْعَةُ] د رضعه، مصه او املاجه فرق دا دے چه رضعه او رضاع مطلقاً د چا پئ ښبنکل دي برابره ده چه د پيالے نه وي او که د سينے نه۔ او المصه : د ماشوم تے رودل او راښکل دي۔ او املاجه او مَلْج د ماشوم په خوله کښے تے ورکول دي۔ مصة : د باب سمع نه دے، عرب ائي : [مَصِصْتُهُ اَمَصُّهُ] ما تے ورودلو۔ دارنگه د باب نصر نه هم دے، [مَصَصْتُهُ اَمُصُّهُ] دا حديث دليل دے چه په يو ځل او دوه ځل تے رودلو او ښبنکلو سره رضاعت نۀ ثابتيږي۔ دا په لغت کښے رضاع ده ليکن شرعاً ددے دپاره هيڅ اثر نشته۔ (فتح ذي الجلال)

دا حديث دليل دے چه قرآن کريم کښے رضاعت مطلق راغلے دے او پدے حديث سره ئے تقييد شوے، نو معلومه شوه چه تقييد د کتاب الله په خبر واحد سره جائز دے۔ او حديث بيان د قرآن کريم دے۔ تفصيل د مسئلے روستو حديث کښے راځي۔

3167 (8) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ فِيمَا أُنْزِلَ مِنَ الْقُرْآنِ : **عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ يُحَرِّمْنَ، ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُومَاتٍ**، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ وَهِيَ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: عائشے رضي الله عنها نه روايت دے چه مخکښے په قرآن کښے دا حکم نازل شوے وو چه : يقيني لس ځله پئ رودلو سره حرمت ثابتيږي۔ بيا دا منسوخ شو او دا (نازل شو چه) پنځه ځله يقيني پئ رودل د حرمت سبب دے۔ نو رسول الله ﷺ وفات شو او دا به په قرآن کښے لوستلے شول۔ (مسلمؒ)۔

تشريح : [عَشْرُ رَضَعَاتٍ]۔ دا مبتداء ده او [يُحَرِّمْنَ] ئے خبر دے۔ يعني لس ځل تے

رودل حرمت راولی۔ [بِخَمْسٍ مَعْلُوْمَاتٍ] یعنی پنځه ځله تے رودلو سره چه هغه معلومے وی یعنیٰ یقینی وی۔

فوائد : (۱) په رضاع سره حرمت کله ثابتیږی؟ پدے کښے درے اقوال دی : (۱) د ابن مسعود ﷺ، ابن زبیر ﷺ، عطاءؒ، طاووسؒ، شافعیؒ، احمدؒ، ابن حزمؒ، صنعانیؒ او شوکانیؒ قول دے۔ [المحلی: ۹/۱۰، نیل الأوطار: ۳۵۱/٦، سبل السلام: ۳۳۰/٦] چه حرمت په پنځه ځله تے رودلو سره ثابتیږی نۀ په کمو سره۔ او دلیل ئے دا حدیثونه دی۔ ځکه چه د عائشے ﷺ ددے حدیث نه ثابته شوه چه په کومے رضاع سره حرمت ثابتیږی هغه داده چه پنځه ځله ماشوم د ښځے تے ورووی۔ نو ددے نه معلومه شوه چه په یو، دوه، درے او ځلورو ځلو رودلو سره رضاعت نۀ ثابتیږی او نۀ دغه ښځه د دغه رضیع مور ګرځی۔ ددے حرمت دپاره پنځه ځله رودل ضروری دی۔او دا په دے مسئله کښے صریح نص دے۔

د عائشے ﷺ په بل روایت کښے راغلی، هغه فرمائی : [لَايُحَرِّمُ دُوْنَ الْخَمْسِ رَضَعَاتٍ مَعْلُوْمَاتٍ] (د پنځو معلومو رودلو نه کمو رودلو سره حرمت نۀ ثابتیږی) [مصنف عبد الرزاق: ٤٦٦/۷، دارقطنی: ۱۸۳/٤، بیهقی: ٤٥٦/۷، صححه الحافظ : فتح الباری: ۱٤۷/۹]

(**دویم قول**) دادے: چه لږ او ډیر تے رودل دواړه حرمت ثابتوی۔ او دا د علی، ابن عباس، ابن عمر (ﷺ) سعید بن مسیبؒ، عروهؒ، زهریؒ، مالکؒ او ابو حنیفهؒ قول او د احمدؒ نه یو روایت دے۔ د دوئ دلیل : آیتِ کریمه دے : ﴿وَأُمَّهٰتُكُمُ اللَّاتِيْ أَرْضَعْنَكُمْ﴾ [النساء: ۲۳] نو دے آیت کښے په مطلقِ اِرضاع پورے حرمت متعلق شوے او دے سره د هیڅ شیٔ قید نۀ دے لګیدلے، نو چرته چه رضاع ثابته شوه هلته به حرمت ثابتیږی۔

(**دریم قول**) دادے : چه د درے ځلو نه په کمو سره حرمت نۀ ثابتیږی۔ او دا د داود ظاهریؒ، اسحاقؒ، ابوعبیدؒ، ابوثورؒ، ابن منذرؒ او په یو روایت کښے د احمدؒ قول دے۔ د دوئ دلیل مخکنے حدیث دے : [لَاتُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ] ددے نه معلومیږی چه حرمت د دوه ځله تی رودو نه پورته ثابتیږی۔

(**راجح قول**) اولنے دے : هغه دا چه صرف په پنځه ځله رودو سره د رضاعت حکم ثابتیږی (چه تحریم دے) او دلیل ئے د عائشے ﷺ دا حدیث الباب دے چه په دے موضوع کښے ښکاره نص دے۔ او د [لَاتُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ] حدیث هم ددے تائید کوی ځکه چه ددے مقصد دادے چه په یو ځل دوه ځلو سره حرمت نۀ ثابتیږی بلکه ددے دپاره

دومره پۍ څښل ضروري دي چه هغې ته رضاعت وويل شي او د ماشوم هډوکې پرېه غټ شي او غوښه ئې پرېه وده وکړي، لکه روستو راځي. او دا چونکه نامعلومه وو يعنې وويل شو چه يو ځل او دوه ځله تې رودو سره حرمت نۀ راځي، نو بنه اُوس په څو کرتو سره به رضاعت ثابتيږي؟ نو د عائشې رضي الله عنها په دې حديث کښې د هغې بيان وشو چه دا پنځه ځله دي. بله دا چه: علت د تحريم د جزئيت شبهه ده، او دا هله موجوديږي چه په پوره توګه رضاعت موجود شي او دا پنځه ځله دي. نو په دې حديث باندې عمل کولو سره په ټولو دلائلو عمل راځي.

❁ **د نورو اقوالو تجزيه** : (أ) څوك چه وائي چه په درې ځلو سره حرمت ثابتيږي نو مخکښې تير شو چه دا د منطوق په مقابله کښې په مفهوم باندې استدلال کول دي، او دا صحيح نۀ دي. ځکه د پنځو ځلو حديث منطوق دې او د درې ځلو حديث مفهوم دې. يعنې هغه د مفهوم مخالف د (المصتان) نه معلوميږي، او دا اصولي قاعده ده چه منطوق په مفهوم باندې راجح او مقدم وي.

(ب) او څوك چه په قليل او کثير هر قِسم رضاعت باندې تحريم وائي، نو د هغوئ خبره په [لَاتُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ] والا حديث باندې مردود ده. او پاتې شو د آيت نه استدلال کول، نو دا هم صحيح نۀ دي ځکه چه دا آيتِ کريمه د رسول الله ﷺ په دوه صحيح حديثونو سره مقيد شوې. يو [لَاتُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ] او دويم پدې حديث الباب. پاتې شوه دا خبره چه احناف وائي په خبرِ واحد سره د کتاب الله تخصيص او تقييد جائز نۀ دې نو مخکښې بيان شو چه دا نظريه خطا ده، ځکه دا د معتزلو قول دې چه بعض حنفي علماؤ د هغوئ په پيروئ کښې اختيار کړې. دا وجه ده، د معتزلو نه مخکښې دا خبره هيچا نۀ ده کړې. او نۀ دا د امام ابو حنيفةؒ نه نقل ده. بلکه په خبرِ واحد سره تخصيص د څلورو واړو امامانوؒ په نيز جائز دې.

❁ **بله دا چه** : په آيتِ کريمه کښې د دوئ دپاره هيڅ دليل نشته، ځکه په آيت کريمه کښې د [أُمَّهَاتُ] ((ميندو)) لفظ ددې تقاضا کوي چه د تې ورکونکې ښځې حرمت به هله ثابتيږي کله چه هغې په دومره مقدار کښې ماشوم له پۍ ورکړې وي چه هغې سره هغه د ((مور)) ويلو مستحقه ګرځي. او په دې وصف سره هغه ښځه متصفه کيدې شي چه هغې خو يا دا بچې زيګولې وي يا د هغې د بدن جزء (پۍ) د بچي د بدن جزء ګرځيدلې وي،

او دا يـواځې پـه يـو ځـل تـې رودلـو سـره نهٔ ثابتيږي بلكه ددې د ثبوت دپاره دومره اندازه ضروري ده چـه هـغـې سره يې د بچي د بدن جزء وګرځي. او دا معلومه نهٔ ده چه څومره اندازې يې څكلو سره يې د ماشوم د بدن جزء ګرځي ؟ دې وجې نه شارع چه كومه اندازه مقرر كړې، هغې طرفته رجوع كول ضروري دي. دا وجه ده، كه په عميق او ژور نظر سره وكتـل شي نـو دا خبره واضحه كيږي چه د رضاعت په سلسله كښې تمام احاديث د همدې سبب او علت نه ګير چاپيره تاويږي. لكه د رضاعت دپاره د لوړې شرط، د كـولـمـو كهلاويدو شرط، د هډوكو د ودې شرط، د غوښې اخستو او زياتيدو شرط، او په دوه كالو كښې دننه ددې رضاعت حاصليدو شرط : دا ټول **شرطونه** د همدې سبب او علت په وجه راغلي.

لهذا واضحه شوه چه قرآني آيت د جمهورو د مذهب تائيد نهٔ كوي بلكه د هغه مسلك تائيد كوي چه امام احمدؒ، امام شافعيؒ او نورو محققينوؒ اختيار كړې.

او ددې **تحقيق** نه ثابته شوه چه د حديث او د قرآني آيت ترمينځه خپلو كښې هيڅ تعارض نشته، بلكه په دواړو كښې كُلي توافق او مطابقت دې. [توضيح الأحكام : ۱۸/٦]

كه چرې په آيتِ كريمه كښې په غير د عدد نه مطلقِ رضاعت مراد وې نو بيا به الله تعالىٰ داسې وئيلي وې : [وَالنِّسَاءُ اللَّاتِيْ اَرْضَعْنَكُمْ] (او هغه ښځې چه تاسو له ئې تې دركړې (حرامې دي) بيا به دا خبره صحيح وې چه دلته مطلق تې وركول ذكر شوي.

ليكن هر كله چه الله تعالىٰ : [﴿وَاُمَّهَاتُكُمْ﴾ لفظ ذكر كړې نو بيا ددې نه په مذكوره تحقيق سره د دوئ استدلال درست نهٔ دې. نو په هغه چا باندې تعجب دې چه هغوئ قرآن او حديث خپلو كښې په تعارض اچوي او وائي : زمونږ دپاره قرآن دليل دې !!

(۲) په دې حديث كښې [رَضَعَاتٍ] جمع د رَضْعَةٌ ده، لكه اُكْلَةٌ او شَرْبَةٌ : ددې نه مراد يو ځل تې رودل دي، اګركه ددې ترمينځه ماشوم ساه واخلي او يا د يو تې نه بل تې ته نقل شي، او يا يو شئ ته د كتلو په وجه د تې نه خُلهٔ راوباسي. تر څو پورې ئې چه د مريدو په وجه په خپله تې پرينښې نهٔ وي نو تر هغې پورې دا ټول په يو ځل رودلو كښې شمارلې شي. ځكه په شريعت كښې ددې دپاره څهٔ ضابطه نهٔ ده راغلې، نو په دې باب كښې به عربي لغت ته رجوع كيږي او دا د عربي لغت تقاضا ده. لكه اُكْلَةٌ يو ځل خوراك ته وائي اګركه په مينځ كښې انسان د څهٔ شئ دپاره پاڅيږي.

[المغني لابن قدامة: ۱۱/۳۱۲، زاد المعاد: ٥/٥٧٥، المختارات الجلية، ص: ۱۱۱، المجموع شرح المهذب ۱۷/٥٥ نووي]

(۳) ددې حدیث نه معلومه شوه چه په قرآن کریم کښې بعضِ آیتونه داسې دي چه تلاوت ئې منسوخ لیکن حکم ئې باقي دې. او اهلِ علمو د **(نسخ)** درې قِسمونه بیان کړي: **(یو)** هغه آیتونه دي چه د هغې تلاوت او حکم دواړه منسوخ شوي وي لکه د لسو ځلو تې رودلو حکم. **(دویم)** هغه چه د هغې تلاوت منسوخ شوې وي خو حکم ئې باقي وي لکه د پنځو ځلو تې رودلو حکم، دارنګه د رجم په باره کښې دا آیت: [اَلشَّیْخُ وَالشَّیْخَةُ اِذَا زَنَیَا فَارْجُمُوْهُمَا] (وادۀ کړې سړې او وادۀ کړې ښځه چه زنا وکړي نو سنګسارئې کړئ) چه ددې تلاوت منسوخ شوې مګر حکم ئې باقي دې.

(دریم) هغه چه د هغې تلاوت باقي وي لیکن حکم ئې منسوخ شوې وي. په قرآن کریم کښې ددې ګنړ مثالونه دي لکه ارشاد دې: ﴿وَالَّذِیْنَ یُتَوَفَّوْنَ مِنْکُمْ وَیَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا وَّصِیَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ﴾ [البقرة: ۲٤۰] مخکښې د مُتَوَفّٰی عَنْهَا عدت یو کال وو، بیا دا په څلورو میاشتو او لسو ورځو سره منسوخ شو، کوم چه په دې آیت کښې ذکر دې: ﴿وَالَّذِیْنَ یُتَوَفَّوْنَ مِنْکُمْ وَیَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا یَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا﴾ [البقرة: ۲۳٤] (شرح مسلم للنوویؒ)

(٤) او حدیث دلیل دې چه په قرآن کښې (او دارنګه په حدیث کښې) نسخ واقع کیږي. او ددې مطلب دا وي چه کله د یو وخت سره یو حکم مناسب وي او کله بل. لکه څنګه چه ډاکټر یو ځل مریض له یو شان دوائي ورکړي، بیا څۀ وخت پس ورته هغه بدله کړي، ځکه په دې دواړو حالتونو کښې ډاکټر د مریض د حالت مناسب دوائي ورکوي. دغه شان احکامِ شرعیه هم دي چه الله تعالیٰ د بندګانو د حالت مطابق کله یو حکم کوي او کله هغه ختم کړي او د هغې په ځائې بل حکم وکړي، په دې کښې هیڅ قِسم اعتراض او اشتباه نشته. دا وجه ده، اهل سنت په دې متفق دي چه نسخ واقع ده. په دې کښې صرف ابو مسلم اصفهاني (معتزلي) اختلاف کړې، چه ددۀ خبره په عقل او نقل دواړو سره مردود ده.

(٥) **اشکال**: [فَتُوُفِّیَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَهِیَ فِیْمَا یُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ] نه معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د پنځو رضعاتو تلاوت کیدۀ، نو د رسول الله ﷺ د وفات

نه پس خو نسخ نۀ راځي، نو دغه آیت څۀ شو ؟ په بل تعبیر سره داسے هم وئیلے شي چه لس رضعات خو منسوخ شو لیکن خمس رضعات والا آیت هم قرآن کریم کښے نشته نو عائشه ﷺ څنګه وائي چه هغه به د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو هم په قرآن کریم کښے لوستلے کیدۀ ؟

جواب ۱: امام نوويؒ، امام خطابيؒ، طیبيؒ او توربشتيؒ فرمائي : په پنځو رضعاتو سره د لسو رضعاتو منسوخ والے دومره تاخیر سره نازل شوے وو چه د نبي کریم ﷺ د وفات واقعه راپیښه شوه او بعضِ خلکو بیا هم د پنځو رضعاتو شماره قرآن ګڼړله او د هغے تلاوت ئے کولو ځکه د نبي ﷺ وفات ته بیخي نزدے ددے د منسوخ کیدو حکم نازل شوے وو، او بعضِ خلکو ته ددے خبر نۀ وو چه دا منسوخ شوی دی نو ځکه به ئے ددے تلاوت کولو- بیا چه د نبي ﷺ د وفات نه پس دغه خلکو ته ددے د تلاوت منسوخ والے معلوم شو نو هغوئ ددے نه رجوع وکړه او ټول په دے متفق شول چه ددے تلاوت به نۀ کیږي- (اګرکه حکم ئے باقي دے)- [شرح مسلم للنووی:۹/۲۸۱] ځکه چه دلته عائشے ﷺ دا نۀ دی وئیلي چه [كُنَّا نَقْرَأُ - یا- كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْرَأُ] مونږ به لوستلو یا نبي ﷺ به لوستلو، بلکه د خلکو د طرف نه به لوستلے کیدو-

جواب ۲: یا امام سمعانيؒ فرمائي :[وَهِيَ فِيمَا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ] معنیٰ داده : أَيْ يُتْلَى حُكْمُهَا دُونَ لَفْظِهَا (رسول الله ﷺ وفات شو او ددے پنځو رضعاتو حکم لوستل کیدۀ، نۀ الفاظ)-

علامه محمد بن علي بن آدم الاثیوبي حفظه الله فرمائي : حاصل دا شو چه لس رضعات هم منسوخ دی او پنځه رضعات هم منسوخ دی لیکن د اول تلاوت او حکم دواړه منسوخ دی او ددویم تلاوت منسوخ او حکم ئے باقي پاتے دے، لهذا پدے باندے عمل واجب دے- او همدا راجح قول دے- [البحر المحیط الثجاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج : ۲۵/۶۳۹]-

(٤) ددے حدیث نه معلومه شوه چه د صحابه کرامو ﷺ هم په علم او معرفت د نصوصو کښے تفاوت وو، دے بعض صحابه کرامو ﷺ ته د نبي ﷺ د وفات کیدو نه روستو پورے دا معلومه نۀ وه چه دا آیت منسوخ دے، معلومه شوه چه تقلید د هیچا نشته- والله تعالیٰ اعلم-

په مخکنۍ مسئله کښې بعض خلکو اعتراضونه کړي چه تول باطل دي، چا وئيلي دي چه د عدد خبره منسوخ ده. **جواب** دا دې چه دا هسې بې دليله ده چه نا منظوره ده ځکه چه په صحيح احاديثو کښې د عدد تصريح موجوده ده.

چا وئيلي دي چه دا روايت د عائشې رضي الله عنها موقوف روايت دې. **جواب** : دا ښکاره خطائي ده ځکه چه په مسلم وغيره کښې په صحيح سندونو کښې دا مرفوع روايت دې.

بعض وئيلي دي چه دا حديث مضطرب دې. **جواب** : دا هم ښکاره غلطي ده، او په خالص خواهش سره د مذهب د مدد دپاره د نبي سنت رد کول دي، او صحيح احاديث كمزوري كول دي. (البحر المحيط الثجاج)

حافظ ابن قيمؒ د پنځه رضعاتو د تحريم دلائلو باندې تبصره كولو سره فرمائي : (لا تحرم الرضعة) يعني په يو او دوه رضعاتو باندې د تحريم نفي ښكاره دليل دې چه دا حكم په هر لږ او ډير رضاع پورې معلق نۀ دې او هغه درې احاديث دي او صحيح او صريح دي، بعض د سوال په جواب كښې راغلي دي چه تپوس شوې چه آيا يو يا دوه رضعات تحريم راولي ؟ نبي عليه السلام وفرمايل : يو او دوه رضعات تحريم نۀ راولي. او بعض ابتداءً د قاعدې كيخودو په شكل وئيل شوي. او كه مونږ تحريم د پنځو پورې معلق كړو نو پدې كښې د هغه نصوصو هيڅ مخالفت نۀ راځي كوم باندې چه نورو مذاهبو دليلونه نيولي، بلكه پدې كښې به د هغې مطلق مقيد كول راشي، او تقييد د مطلق بيان وي، نسخ او تخصيص نۀ وي. او ځوك چه تحريم په هر لږ او ډير رضاعت پورې معلق كوي نو هغوي د هغه احاديثو مخالفت كښې واقع كيږي چه په هغې كښې نفي د تحريم ده په يو رضعة او دوه رضعاتو. او درې رضعاتو والا اگركه ددې احاديثو مخالف نۀ دې ليكن د پنځه رضعاتو والو مخالف كيږي.

بيا وائي : پدې مسئله كښې دوه مذهبونه نور دي او هغه ضعيف دي، (١) يو دا چه د اُوه رضعاتو نه په كم باندې رضاعت نۀ ثابتيږي. دا بې دليله مذهب دې. (٢) تحريم صرف په لسو باندې راځي نۀ په كمو باندې. او دا روايت شوې د حفصې او عائشې رضي الله عنهما نه. (زاد المعاد : ٥/٥٧٢- ٥٨٥ والبحر المحيط الثجاج)

او ابن حزم په "المحلى" (٩/١٠) رقم المسألة (١٨٦٨) كښې د خمس رضعات مذهب تفصيلي تائيد كړې هغې ته رجوع وكړه.

فائده : د نبی علیه السلام طریقه دا وه چه که سائل به د عدد تپوس وکړو نو د خمس رضعات حـم به ئے پرے لاګو کولو او که مطلق سوال به وو نو بیا به ئے د پنځو تپوس نۀ کولو ځکه غالباً زنانه ته دا نۀ وی یاد چه ما څومره کرته تے ورکړے لکه پدے باندے حدیث د عقبه بن الحارث ﷺ دلیل دے چه په هغے کښے راځی : (کَیۡفَ وَقَدۡ قِیۡلَ) نو د هغے نه ئے تپوس ونکړو چه تا څو کرته تے ورکړے دے۔ روستو راروان دے۔

د رضاعت د مودے نه روستو پئ سکلو سره حرمت نۀ ثابتیږی

3168 (9) – وَعَنۡهَا : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيۡهَا وَعِنۡدَهَا رَجُلٌ فَكَأَنَّهُ كَرِهَ ذٰلِكَ فَقَالَتۡ : إِنَّهُ أَخِي فَقَالَ : " **اُنۡظُرۡنَ مَنۡ إِخۡوَانُكُنَّ، فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الۡمَجَاعَةِ**". مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ.

ترجمه : او عائشه ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ دے کره راغلو په داسے حال کښے چه ددے سره یو سړے وو، نو ګویا کښے (پدے لیدو سره) نبی ﷺ دا کار بد وګڼړلو۔ نو عائشے ﷺ وفرمایل : دا زما (رضاعی) ورور دے۔ نو نبی ﷺ وفرمایل : ښۀ سوچ کوئ چه څوك ستاسو (رضاعی) ورونه دی، ځکه رضاعت هغه معتبر دے چه د لوګے نه وی۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح : [رَجُلٌ] شاید دا سړے افلح وی کوم چه د ابو قعیس ورور دے، د کوم تذکره چه مخکښے وشوه۔ [اُنۡظُرۡنَ] تاسو خیال کوئ، د تثبت (تاکید) او احتیاط نه کار اخلئ۔ [مَنۡ إِخۡوَانُكُنَّ] (چه ستاسو رضاعی ورونه څوك دی؟) یعنی رضاع ته کتل پکار دی چه آیا ددے شرطونه برابر دی چه په دے سره حرمت ثابت شی او که نه ؟ کیدے شی چه په دے کښے د رضاعت په هغه زمانے باندے تنبیه وی چه په هغے سره حرمت ثابتیږی، هسے نۀ چه رضاعت د غټ والی په حالت کښے راغلے وی چه په دے د رضاعت احکام نۀ مرتب کیږی۔ [الاعلام: ۲۲/۹] [فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الۡمَجَاعَةِ] دا د حصر اسلوب دے یعنی رضاعت صرف په مجاعت سره ثابتیږی۔ مجاعت : د ماشوم لوګه۔ یعنی صرف هغه رضاعت لـه اعتبار دے چه په هغے سره د ماشوم لوګه ختمه شی، او دا په هغه وخت کښے وی چه کله ماشوم د وړوکوالی په وجه په پیوو اکتفاء کوی او پئ د هغۀ لوګه ختموی او په پیوو سره هغه غټیږی او غوښه اخلی، نو په دے وخت کښے د ماشوم د پئ

رودلو په وجه هغه د مرضعے نه جزء گرځي۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه مطلقِ رضاعت او تی رودلو سره حرمت نهٔ ثابتیږي۔ حرمت به هغه وخت ثابتیږي چه په داسے زمانه کښے وي چه په پیوو سره د ماشوم لوګه بندیږي او هغه په دے پیوو اکتفاء کوي او د هغهٔ غذاء او خوراکه پیٔ وي۔ نهٔ نور خوراك۔ نو په دے وخت کښے به بیا دا ماشوم د دغه ښځے نه جزء گرځي او ددهٔ حکم به د هغه بچي پشان وي چه هغهٔ ددے ښځے په نس کښے لتے وهلے وي۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه د رضاع په باره کښے تحقیق او تاکید پکار دے چه آیا دا واقعي هغه رضاع ده چه په هغے سره حرمت ثابتیږي او که نه ؟ ددهٔ دا تے رودل په خپل وخت کښے دي او که نه ؟ دارنګه دا تے رودل پنځه ځله دي او که نه ؟ ځکه په هره رضاع سره خو حرمت نهٔ ثابتیږي۔ (۳) او حدیث دلیل دے چه په سړو باندے واجب دي چه د خپل کور په ښځو باندے به غیرت کوي او هغوئ به د پردو سړو د اختلاط او ګډون نه ساتي، او د سړي په زړهٔ کښے چه د ښځے په باره کښے څهٔ اشتباه راشي نو د هغے په حقله به پوښتنه کوي، په دے شرط چه خبره شکونو او وهمونو ته ونهٔ رسیږي۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه څوك دا دعویٰ وکړي چه فلانے زما رضاعي ورور یا پلار دے نو په دے کښے د یوے ښځے خبره هم قبوله ده، خو ډیر احتیاط نه به کار اخلي لکه پدے حدیث کښے ورته دعوت ورکړے شوے۔ (۵) په قرآن کریم کښے رضاعت مطلقًا راغلے، لکه ارشاد دے : ﴿وَاُمَّهَاتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ﴾ [النساء : ۲۳]

ددے د ظاهر نه معلومیږي چه د رضاعت حکم په مطلقِ تی رودلو سره ثابتیږي، لږ وي که زیات، لیکن دے حدیث سره د قرآن په مطلق کښے قید لګیدلے، هغه دا چه په یو ځل دوه ځلو تی رودلو سره رضاعت نهٔ ثابتیږي۔ بلکه هله بهٔ رضاعت ثابتیږي چه لوګه ختمه کړي او په یو ځل او دوه ځلو سره لوګه نهٔ ختمیږي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

(۵) **مسئله** : بیا پدے کښے اختلاف دے چه رضاعت د کبیر لره اعتبار شته او که نهٔ ؟ دوه قوله دي (۱) د داود ظاهريؒ او عائشه رضی الله عنها مذهب دا دے چه غټ والي کښے هم حرمت د رضاع ثابتیږي۔ او دا قول ابن حزمؒ د علي رضی الله عنه نه نقل کړے لیکن ابن عبد البرؒ وئیلي چه علي رضی الله عنه نه ددے ثبوت صحیح نهٔ دے، او دا رائے د عروه بن زبیرؒ، عطاء بن ابي رباحؒ، لیث بن سعدؒ، ابن عُلَیَّهْ ده او دا مذهب د ابن حزم ظاهريؒ هم دے۔

دليل : دوئ د آيت : ﴿ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ ﴾ [النساء: ۲۳]: د عموم نه استدلال کړے۔ چه هره زنانه چا ته خپل پئ ورکړی نو هغه ئے مور جوړيږی۔

۲- **دليل** : عائشے رضی اللہ عنہا به په دليل کښے د سالم رضی اللہ عنہ واقعه ذکر کوله چه سالم د ابوحذيفه رضی اللہ عنہ متبنیٰ وو نو هغهٔ ته به د سالم په راتللو غيرت ورتللو (او دا هغه زمانه وه چه د متبنیٰ په باره کښے آيت نازل شوے وو چه [اُدْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ]: د دوئ نسبت خپلو پلارانو ته کوئ، (يعنی تَبَنِّیَ حرامه شوے وه، ليکن کور تنګ وو، او جدائی نشوه کيدے پدے وجه ابو حذيفه به د سالم راتلل ښهٔ نهٔ ګڼړل) نو د هغهٔ بی بی سهله بنت سهيل رضی اللہ عنہا رسول الله ﷺ ته راغله او خپل دا مشکلات ئے هغهٔ ته ذکر کړل، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : [إِرْضِعِيهِ]۔ چه تهٔ ورته پئ ورکړه،

(په روايت د موطأ کښے دی : [إِرْضِعِيهِ خَمْسَ رَضَعَاتٍ] (پنځه ځل ئے ورکړه) هغے وويل : زۀ به هغهٔ ته څنګه ئے ورکړم حال دا چه هغه خو غټ سړے دے،

او يو بل روايت کښے دی : [إِنَّهُ ذُوْ لِحْيَةٍ] هغه خو د ګيرے خاوند دے۔

رسول الله ﷺ مسکے شو او وے فرمايل : [قَدْ عَلِمْتُ أَنَّهُ رَجُلٌ كَبِيرٌ] ما ته معلومه ده چه هغه غټ سړے دے۔ (يعنی تهٔ بيا هم پئ ورکړه) نو سالم به د ابوحذيفه رضاعی ځوی شی، نو هرکله چه هغوی دا کار وکړو نو د ابوحذيفه د زړهٔ نه دغه وسوسه اُووتله۔ دلته وګوره سالم رضی اللہ عنہ چه بالغ سړے دے بلکه په روايت د مسلم (رقم : ۳۶۷۳) کښے دی : هغه بدری صحابی وو۔ او د هغهٔ رضاعت ثابت شويدے۔ [بخاری ومسلم : ۳۶۷۳]

(دلته د ئے ورکولو نه معنیٰ دا ده چه سهله به خپل پئ په يو لوښی واچوی او سالم ته به ئے وليږی چه هغه ئے وڅښکی او دا کار به پنځه کرته کوی) او د دغه مخکنی آيت نازليدو نه روستو به سالم رضی اللہ عنہ ته (مولی ابی حذيفه وئيلے کيدو)۔

(۲) **قول** : د عام صحابه کرامو، ائمه اربعهٔ او غير اربعه ؤ دے، چه رضاعت صرف د صغر (وړوکوالی) په حالت کښے ثابتيږی۔ او دوئ دلائل هغه دی چه په هغے کښے د وړوکوالی تذکره راغلے لکه ۱- آيت : ﴿ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ﴾ نه معلوميږی۔

۲- دا حديث الباب : [إِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ] ۔ ۳- [لَا رَضَاعَ إِلَّا مَا كَانَ فِي الْحَوْلَيْنِ] [دارقطنی ٤٣٦٤ وهيثم بن جميل ثقة حافظ] : ولی الدين العراقیؒ فرمائی : دا حديث په دے مسئله کښے نص دے۔ [طرح التثريب :۱۳٦/۷]

او دا روایت د ابن عباس ﷺ او ابن مسعود ﷺ دواړو نه موقوف هم نقل دے۔ او سند ئے صحیح دے۔ [السنن الکبری للبیهقی : ۱۶۰۸۲و۱۶۰۸۳، موطأ مالك : ۱۲۷۸] :
دوئ وائی چه دا حدیث د دغه آیت د عموم تخصیص کوی۔
٤- دلیل : روستو مرفوع حدیث د ام سلمه ﷺ رقم (۱٤) کښے راځی : [لَا يُحَرِّمُ مِنَ الرِّضَاعِ اِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ] [ترمذی وابن ماجه : ۱۹٤٦ : باسناد صحیح، الارواء : ۲۱۵۰]۔
صرف هغه رضاع تحریم راولی چه کولمے خیری کړی۔ (یعنی په وړوکوالی کښے وی)
او جمهور د سالم ﷺ د واقعے نه دوه جوابونه کوی : (۱) یو دا چه دا حکم منسوخ دے، او دا د هجرت په اوائلو کښے وو، او د حولین والا روایت د کشرانو صحابه کرامو ﷺ نه ثابت دے۔ لیکن دا جواب ضعیف دے، ځکه چه د کشرانو د روایت نه نسخ د مخکنو واقعاتو نهٔ کیږی۔ دویم دا چه د سالم ﷺ د واقعے نه معلومیږی چه د دوئ په نیز دا خبره معلومه وه چه رضاعت صرف د وړوکی ثابتیږی نهٔ د غټ، ځکه د ابوحذیفه ﷺ بی بی تعجب وکړو چه زهٔ به دهٔ ته څنګه پئ ورکړم حال دا چه دے غټ سړے دے۔ لهذا په نسخ باندے واضح دلیل نشته۔
(۲) جمهور دویم جواب دا کوی چه دا د سالم ﷺ او د ابو حذیفه ﷺ د بی بی خصوصیت وو، لکه دا خبره ام سلمه ﷺ فرمائیلے وه چه مونږ دا یو رخصت وینو چه رسول الله ﷺ سالم او سهلے ته ورکړے وو۔ ځکه چه هرکله حجاب نازل شو او د تبنی نه خلك منع شو نو دا کار په سهله باندے ګران پریوتو نو هغے ته د سالم ﷺ په باره کښے رخصت ورکړے شو، دے دپاره چه دا مشقت ئے ختم شی۔
جواب : اول قول والا جواب کوی چه دے نه خو دا خبره ښکاره کیږی چه د هر هغه چا چه د سالم ﷺ او د سهلے ﷺ په شان ضرورت راشی نو د هغوی دپاره به اجازت وی، نو بیا د خصوصیت څه معنیٰ شوه۔ [فتح الباری : ۱۰/۱۸٦]۔
دویم دا چه دعوه د خصوصیت دلیل غواړی، او د نبی کریم ﷺ بیبیانو د عائشے ﷺ سره بحث وکړو نو د عائشے ﷺ د دلیل په صحت ئے اعتراف وکړو او هغوی سره په انکار باندے هیڅ دلیل نهٔ وو۔ ددے وجه نه ام سلمه ﷺ غلے شوه هرکله چه ورته عائشے ﷺ وفرمایل : [أَمَا لَكِ فِي رَسُولِ اللهِ ﷺ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ؟] آیا ستا دپاره په رسول الله ﷺ کښے ښائسته اقتداء نشته؟۔ نو که دا سنت د سالم ﷺ پورے خاص وے ضرور به نبی کریم

ﷺ ددې بیان کړې وې لکه څنګه ئې چه د اختر په ورځ د یو کال چیلی باندې قربانی کولو رخصت ئې د ابوبرده ﷛ پورې خاص کړې وو، او د خزیمه بن ثابت ﷛ ګواهی ئې د دوه کسانو د ګواهی په شان ګرځولې وه۔ [نیل الاوطار : ٦/۳۳۲-۳۳۳]۔

(۳) قول : پدې مسئله کښې دریم قول چه په هغې سره د دواړو قولینو جمع والې او په ټولو احادیثو عمل راځي۔ دا دې چه رضاعت د کبیر نهٔ ثابتیږی مګر که سخت ضرورت راشی لکه د سالم او د ابوحذیفه د بی بی په شان، یعنی د مشر سړی داخلیدل په یوه زنانه باندې ضروری وی او د هغې پرده د هغهٔ نه مشکله وی نو بیا رضاعت د کبیر هم ثابتیږی، کله چه هغهٔ ته پنځه کرته پیٔ ورکړی۔ لکه مخکښې روایت نه معلومیږی چه سهلې سالم ته د نبی کریم ﷺ په امر سره پنځه کرته پیٔ ورکړل۔ او دا قول د شیخ الاسلام ابن تیمیهٔ دې، او حافظ ابن قیمؒ او شیخ شوکانیؒ غوره کړې۔

وجه دا ده چه قصه د سالم ﷛ د ذکر شوو احادیثو په عموم کښې تخصیص راولی۔ نو کوم خلك چه مطلقاً دا وائی چه رضاعت د کبیر بیخی نهٔ ثابتیږی هغوی نه هم بعض احادیثو باندې عمل پاتې کیږی او کوم خلك چه دا وائی چه مطلقاً د کبیر رضاعت ثابتیږی هغوی نه هم لویه برخه د احادیثو پاتې کیږی۔ [نیل الاوطار، زاد المعاد : ٥/٥٩٣، البحر المحیط الثجاج شرح مسلم بن الحجاج : ٦٦١/٢٥]

(٦)- مسئله : د رضاعت موده : بیا د جمهورو خپل مینځ کښې د رضاعت په موده کښې اختلاف دې چه دا څو مره ده؟ دوه قوله دی : (۱) ائمه ثلاثه سره د صاحبینو (ابویوسفؒ او محمدؒ) نه فرمائی چه د رضاعت موده صرف دوه کاله ده، نهٔ زیات۔

دلائل : ۱- دلیل : دویٔ په درې آیتونو باندې دلیل نیسی، یو ﴿وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ﴾ [لقمان :١٤] (او پریکول د ماشوم (د تی نه) په دوه کالو کښې دی)۔ دویم : ﴿وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا﴾ [احقاف :١٥] (د ماشوم په خیټه کښې پورته کول او هغه د تی نه پریکول په دیرشو میاشتو (یعنی دوه نیم) کالو کښې دی)۔

نو پدې آیت کښې د حمل کمه موده ذکر ده چه هغه شپږ میاشتې دی، او باقی (٢٤) میاشتې (دوه کاله) د رضاعت موده شوه۔ دریم آیت : ﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ﴾ [البقرة : ٢٣٣] : **۲- دلیل :** مرفوع روایت او د صحابه کرامو ﷡ آثارو کښې راغلی دی لکه ابن عباس ﷛ او ابن مسعود ﷛ نه

مخکښې نقل شو چه رضاعت هغه دے چه په دوه کالو کښې دننه وی۔

(۲) **قول** : البته پدے کښې امام مالكؒ وائی چه د دوه کالو نه روستو چه لږه نزدے موده پورے تے ورکوی نو پدے سره هم رضاعت ثابتیږی، او د هغه نزدے مودے په تعیین کښې هم اقوال دی، لږے ورځے، یا یوه میاشت، یا دوه میاشتے، یا درے میاشتے۔ قرطبیؒ وائی : امام مالكؒ دے ته اشاره کوی چه ماشوم د تیوو نه په یو ځل باندے نۀ پریکړے کیږی بلکه په تدریج سره څو ورځے اخلی۔ نو دغه ورځے چه د دوه کالو نه پس دی دا هم د دوه کالو تابع دی او حرمت به پیدا کوی۔ اوکه ددے نه پس وی نو دا تے ورکول عبث دی۔ [الاستذکار: ۱۸/۲۵۸] گویاکه مالكؒ دے مصلحت ته کتلی چه د ماشوم د خوراك بدلولو دپاره دے زیاتی مودے ته ضرورت دے۔

(۳) **قول** : امام ابوحنیفةؒ وائی چه د رضاعت موده دوه نیم کاله ده۔ (٤) امام زفرؒ وائی درے کاله ده۔ لیکن د زفرؒ په قول هیڅ دلیل نشته۔ (۵) **قول** : که د دوه کالو نه مخکښې ئے د تی نه پریکړو نو ددے مودے نه روستو چه کوم تے خوری پدے سره به رضاعت نۀ ثابتیږی او که درے کالو پورے ئے تے ورکولو او مینځ کښې ئے د تیوو نه نۀ وو پریکړے نو دا به رضاعت حسابیږی۔ دا قول ابن عبد البرؒ د امام اوزاعیؒ نه نقل کړے او دارنگه دا د ابن القاسمؒ نه هم نقل دے۔ لیکن دے قول باندے هم دلیل نشته۔

د امام ابوحنیفةؒ دپاره دلیل نیولے شوے په آیت ﴿وَحَمۡلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلٰثُوۡنَ شَهۡرًا﴾ [احقاف: ۱۵] هغه ددے آیت دا معنیٰ کوی چه (د بچی په لاسونو کښې بارول او د تی نه جدا کول دوه نیم کاله دی)۔ جواب په آیتِ کریمه کښې **صحیح** معنیٰ داده چه : (د مور په خیټه د بچی بارول او بیا د تی نه د هغۀ پریکول دا ټول به د دوه نیمو کالو په موده کښې دننه وی) نو د حمل اقله موده شرعًا شپږ میاشتے ده، او د تی ورکولو زیاتره موده دوه کاله ده۔

او صاحب الهدایه ورله داسے استدلال کړے چه په آیت کښې تکرار دے، اصل کښې داسے دے : [وَحَمۡلُهُ ثَلَاثُوۡنَ شَهۡرًا وَفِصَالُهُ ثَلَاثُوۡنَ شَهۡرًا] (حمل ئے هم دیرش میاشتے او د تی نه پریکول هم دیرش میاشتے دی) بیا دلته د حمل دپاره مُنقص موجود دے چه هغه حدیث د عائشه ﷝ دے چه هغه فرمائی : حمل دیرش میاشتے نۀ وی۔ نو (فصاله) په خپل حالت پاتے شو چه دیرش میاشتے دی، نو موده د رضاعت دوه نیم کاله شوه۔ او جمهورو ته ئے داسے جواب ورکړے چه (لِمَنۡ اَرَادَ اَنۡ یُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ) کښې د طلاقے شوے

ښځې د اِنفاق خبره ذکر ده نهٔ د رضاعت موده۔
لیکن جمهور جواب ورکوی چه دا آیت (لِمَنۡ اَرَادَ اَنۡ یُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ) د مودے د رضاعت د پوره والی دپاره ذکر شوے، نهٔ د انفاق دپاره۔ ځکه چه انفاق خو په مخکښې آیت کښې ذکر شوے۔ او دلته اول د آیت کښې دی : [وَالۡوَالِدَاتُ یُرۡضِعۡنَ اَوۡلَادَهُنَّ حَوۡلَیۡنِ کَامِلَیۡنِ] سوچ پرے وکړه۔ او دوئ د **احنافو د استدلال** نه جواب کوی چه دا انتهائی کمزورے استدلال دے، ډیر وجوهات دی : (۱) ځکه چه په امت کښې هیڅ مفسر د آیت داسے تفسیر نهٔ دے کړے چه په آیت کښې تکرار دے۔
(۲) بله دا چه دلته به د حمل موده معلومه نهٔ شی او ټوله خبره به د رضاعت سره متعلق شی حال دا چه الله تعالیٰ دواړه جمع کړی۔ (۳) دریم دا چه د قرآن کریم حکم څرنګه په یو ضعیف روایت د عائشے رضی الله عنها سره پریخودے شی۔
(٤) څلورم دا چه امام ابوحنیفهؒ هم دا نهٔ دی وئیلی چه اکثره موده د حمل دوه نیم کاله ده بلکه دوه کاله ذکر کوی۔ (یعنی که د تکرار معنی وکړے شی بیا خو اکثره موده د حمل هم دوه نیم کاله جوړیږی او ابوحنیفهؒ ددے قائل نهٔ دے)۔
(۵) پنځمه وجه : بالفرض که چرے د عائشے رضی الله عنها روایت صحیح هم شی، نو پدے سره تغییر د کتاب الله راغلو او دا د احنافو په نیز په خبر واحد سره جائز نهٔ دے۔ پاتے لا په موقوف روایت سره۔ کما فی العنایة شرح الهدایة۔
(٦) شپږمه وجه : (حَوۡلَیۡنِ کَامِلَیۡنِ) او (فِصَالُهٗ فِیۡ عَامَیۡنِ) دا صریح دی، او دے بیان کړے د (وَحَمۡلُهٗ وَفِصَالُهٗ ثَلٰثُوۡنَ شَهۡرًا) دپاره، نو صریح پریخودل او محتمل نه استدلال کول ضعیف وی۔
(۷) اومه وجه : احنافو نه چه کله تپوس وشی چه اقله موده د حمل څومره ده نو وائی چه شپږ میاشتے، او دلیل کښې دغه آیت (وحمله وفصاله) پیش کوی، نو وګوره په دے ذکر شوے مسئله کښې د حمل نه حمل فی البطن نهٔ مراد کوی بلکه په لاسونو کښې بارول مراد کوی او بیا بیرته خپله خبره ماتوی او د همدغه آیت نه حمل فی البطن مراد کوی۔ فتدبر فانه عجیب۔ نو هرکله چه دا مذهب ضعیف وو، نو ددے وجه نه صاحبینو د جمهورو مذهب ته رجوع وکړه۔
صاحب د البحر الرائق (ابن نجیمؒ) وائی : [وَلَا یَخۡفٰی قُوَّةُ دَلِیۡلِهِمَا فَاِنَّ قَوۡلَهٗ تَعَالٰی یُرۡضِعۡنَ

أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ- يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ لَا رَضَاعَ بَعْدَ التَّمَامِ]
د صاحبینو دلیل قوی دے ځکه چه (حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ) آیت دلالت کوی چه د دوه کالو پوره کیدو نه پس رضاعت نشته. بیا وائی : صاحب الهدایه په باب د ثبوت النسب کښے بیرته حق ته رجوع کړے چه وئیلی ئے دی چه حمل دپاره شپږ میاشتے شوے او دوه کاله موده د رضاعت شوه. [البحر الرائق شرح کنز الدقائق : ٣/٢٣٩]. کما قلنا.

٧- **مسئله** : د عائشے رضی الله عنها په حدیث باندے یوه بله مسئله تفریع ده، او هغه دا چه یو سړے د خپلے ښځے تے ورئ نو آیا رضاعت به ئے ثابتیږی ؟ (١) نو د عائشے رضی الله عنها او داود ظاهریؒ په نیز رضاعت ثابتیږی، سړے څوی او ښځه ئے مور شوه او نکاح ئے فاسده شوه. (٢) دویم قول : جمهور علماء وائی چه رضاعت د کبیر نهٔ ثابتیږی، لهذا پدے کار سره حرمت د دواړو ترمینځ نهٔ راځی. او همدا خبره حقه ده. ځکه چه شریعت په خاوند باندے دا پابندی نهٔ ده لګولے چه د ښځے د سینو نه به فائده نهٔ اخلی، هسے نهٔ چه ښځه پرے حرامه شی. او دویم پدے کښے د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فتویٰ موجوده ده لکه موطأ کښے راځی چه ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه یو سړی پوښتنه وکړه چه ما د خپلے بی بی د سینے نه پئ رودلی دی او زما خیټے ته تلی دی؟ نو ابوموسی رضی الله عنه ورته وفرمایل : زما خیال دا دے چه ښځه په تا حرامه شوه.

نو عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ورته وفرمایل : وګوره چه ته په کومه خبره دے سړی ته فتوه ورکوے، نو ابوموسیٰ رضی الله عنه وویل : نو ته پکښے څه وائے؟ نو ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : [لَا رَضَاعَةَ إِلَّا مَا كَانَ فِي الْحَوْلَيْنِ]. هغه رضاعت حرمت راولی چه ماشوم ئے په دوه کالو کښے وڅکی. نو ابوموسیٰ رضی الله عنه وویل : تاسو ما نه د هیڅ مسئلے پوښتنه مهٔ کوئ ترڅو چه دا حِبر (لوی عالم) په تاسو کښے موجود وی. [موطأ مالك : ١٢٦٧] وبالله التوفیق.

د رضاعت د ثبوت دپاره د یوے ښځے ګواهی معتبره ده که نهٔ ؟

3169 (10) – وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِأَبِي إِهَابِ بْنِ عَزِيزٍ فَأَتَتِ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ : قَدْ أَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِي تَزَوَّجَ بِهَا فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ : مَا أَعْلَمُ أَنَّكِ قَدْ أَرْضَعْتِنِي وَلَا أَخْبَرْتِنِي فَأَرْسَلَ إِلَى آلِ أَبِي إِهَابٍ فَسَأَلَهُمْ فَقَالُوا : مَا عَلِمْنَا أَرْضَعَتْ صَاحِبَتَنَا فَرَكِبَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

"كَيْفَ وَقَدْ قِيْلَ ؟" فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : عقبه بن حارث ﷺ نه روايت دے چه دهٔ د ام يحيىٰ بنت ابى اهاب سره وادهٔ وكړو، بيا يوه ښځه راغله وے وئيل : ما تاسو دواړو (ښځے او خاوند له) تے دركړے، نو عقبه (ددے مسئلے په باره كښے) نبى ﷺ نه پوښتنه وكړه، نبى ﷺ وفرمايل : اوس دا څنګه ستا ښځه كيدے شى هر كله چه د پئ رودلو خبره شوے۔ نو (دے آوريدو نه پس) عقبه ﷺ دے ښځے نه جدا شو او هغے دهٔ نه سوئ بل سړى سره نكاح وكړه۔ (بخاريؒ)۔

تعارف د عقبة بن حارث ﷺ : ابو سِروعه عقبه بن حارث بن عامر بن نوفل بن عبد مناف مكى۔ مشهور صحابى دے۔ د مكے د فتح په موقعه مسلمان شو۔ (٥٠) هجرى نه روستو پورے ژوندے وو۔

تشريح : [اِبْنَةُ أَبِىْ اِهَابٍ] ددے نوم غنيَه بنت أبى اهاب بن عزيز بن قيس۔ دے، ام يحيىٰ ئے كنيه ده۔ او څينے وائى : ددے نوم زينب وو۔ او دا مخكښے د جُبير بن مطعم ﷺ ښځه وه۔ د هغهٔ نه ئے دوه ځامن نافع او محمد شوى وو۔ [فَاَتَتِ امْرَأَةٌ] د بخاريؒ په روايت كښے دى : [فَجَاءَتْ أَمَةٌ سَوْدَاءُ] (نو يوه توره وينځه راغله) او دائے وويل چه ما تاله او ستا ښځے له تے دركړے۔ نو هغهٔ وويل : ماته معلومه نهٔ ده چه تا ماله پئ راكړى او نهٔ تا ماله (د نكاح نه مخكښے ددے) خبر راكړے۔ د بخاريؒ په يو روايت كښے دى : او دا ښځه دروغژنه ده۔ يعنى په هغے ئے تهمت ولګولو۔ نو هغهٔ د ابو اهاب خاندان ته څوك ولېږهٔ چه د هغوئ نه ئے ددے پوښتنه كوله، نو هغوئ وويل: مونږ ته معلومه نهٔ ده چه دغه ښځے زمونږ د قوم دے ښځے له تے وركړے۔ [بخارى: ٢٦٤٠]

[فَرَكِبَ اِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ] يعنى د مكے نه را روان شو څكه دے هلته وسيدهٔ۔ [كَيْفَ وَقَدْ قِيْلَ] دا استفهام انكارى دے، أَىْ تَجْتَمِعُ بِهَا وَتُبَاشِرُهَا -او- كَيْفَ تَتَزَوَّجُهَا وَقَدْ قِيْلَ ذٰلِكَ (تهٔ به څنګه دے سره يوځائے كيږے او جماع به ورسره كوے، او يا تهٔ به دا څنګه په خپله نكاح كښے ساتے، حالانكه دغه ښځے دا خبره كړے چه هغے تاسو دواړو له تے دركړے۔ د بخارى په يو روايت كښے دى : [دَعْهَا عَنْكَ] (دا پريده) او په بل كښے دى : [فَنَهَاهُ عَنْهَا] (نو نبى ﷺ عقبه ﷺ د دغه ښځے نه منع كړو)۔ د دارقطنىؒ په روايت كښے دى : [لَا خَيْرَ فِىْ ذٰلِكَ] (په دے نكاح كښے هيڅ خير نشته)۔ نو عقبه ﷺ د دغه ښځے نه جدا شو او هغے بل خاوند وكړو۔

فوائد او مسائل : (۱) پدے حدیث کښے یوه اختلافی مسئله دا ده چه په رضاع کښے د ځو کسانو شهادت معتبر دے؟ (۱) نو ددے حدیث نه ثابته شوه چه د رضاعت حکم د یوے ښځے په ګواهئ سره هم ثابتیږی۔ او دا د امام احمدؒ، طاووسؒ، حسنؒ، زهریؒ، اوزاعیؒ، اسحاقؒ او امام بخاریؒ او نورو علماؤ قول دے۔ او دا د عثمان ﷺ او ابن عباس ﷺ نه هم نقل دے۔ او همدا **صحیح** قول دے۔

(۲) **قول** دادے: چه په دے باره کښے د څلورو ښځو ګواهی ضروری ده، ځکه دوه ښځے د یو سړی برابرے دی۔ (شافعیؒ، عطاءؒ)۔

(۳) قول : د دوو ښځو ګواهی قبلیږی۔ (مالكؒ، حکم بن عتیبهؒ، ابن ابی لیلیؒ، ابن شُبرمهؒ او دا د احمدؒ یو روایت دے)۔

(٤) **قول** : د ابن عباس ﷺ رائے دا وه چه کله ښځه نیکه وی، نو په رضاعت کښے د هغے ګواهی جائز ده لیکن هغے له به قسم ورکړے شی۔ [مصنف ابن ابی شیبة : ٤/١٩٦، رقم : ١٦٦٨٥، الترمذی رقم : ١١٥١]، المغنی لابن قدامة)

(۵) **قول** : امام ابوحنیفهؒ فرمائی : صرف د دوه سړو یا یو سړی او دوو ښځو ګواهی قبوله ده، دوئ رضاعت په نورو مسائلو قیاس کوی۔ او دلیل ئے ددے آیتِ کریمه عموم دے : ﴿وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتَانِ﴾ [البقرة : ٢٨٢] خو ددے آیت نه استدلال کول صحیح نهٔ دی، ځکه آیت عام دے او حدیث خاص دے۔ او د نص په مقابله کښے قیاسونه باطل دی۔ نو جمهورو علماؤ په دے حدیث عمل پریښے، دوئ وائی : په رضاعت کښے د یوے ښځے ګواهی نهٔ قبلیږی۔

او دوئ دا حدیث په دے حمل کړے چه نبی کریم ﷺ عقبه بن الحارث ﷺ ته د دغه ښځے نه د فراق امر د تقوئ او ورع د وجے کړے، نهٔ د فتوئ د وجے۔ او په دے کښے نهی د تنزیه دپاره ده۔

خو دا خبره د دوئ **ضعیفه** ده، ځکه دا د حدیث د ظاهر خلاف ده۔ خصوصًا په بعضِ روایاتو کښے راغلی چه دا سوال ئے څلور ځله وکړو او هر ځل به نبی کریم ﷺ هغهٔ ته فرمایل : [دَعْهَا عَنْكَ]، [كَيْفَ وَقَدْ قِيْلَ] [نیل الأوطار: ٦/٣٥٩]

بله داچه : په دے حدیث کښے ددے ښځے د ساتلو نه نهی راغلے او نهی د تحریم تقاضا کوی۔ دارنګه ددے په پریښودو امر راغلے او امر د وجوب تقاضا کوی۔

نو **صحيح** قول اولنے دے، هغه داچه د رضاعت په باب کښے د يوے ښځے ګواهي هم قبوله ده اګر که دا ښځه خپله مرضعه (تے ورکونکے) وی، ځکه دے ښځے رضاعت ثابت کړو او عقبه ﷺ رد کړو، نو نبی ﷺ د ښځے خبرے له اعتبار ورکړو او حرمت ئے ثابت کړو. نو دا حديث الباب په دے اختلافی مسئله کښے ښکاره دليل دے ځکه نبی ﷺ ددے ګواهي قبوله کړے. **بله داچه** : رضاعت د هغه امورو نه دے چه په هغے باندے په عامه توګه ښځے خبريدے شی، په دے باندے د سړو خبريدل کم او نادر دی، نو بيا څنګه د ښځے شهادت په دے باب کښے رد کړے شی ؟ حالانکه ديته حاجت دے ؟

او ددے حديث خلاف کونکو چه کوم دلائل پيش کړی، هغه عمومات دی او حديث الباب خاص دے، نو دا به په هغے مقدم وی. ځکه د عام او خاص ترمينځه تعارض نۀ راځی. قاعده به هم منل کيږی او استثناء به هم منل کيږی، د قاعدے د وجے استثناء پريښودل، په حديث باندے عمل پريښودل دی.

که چرے د عامو دلائلو په وجه خاص دليل رد کړے شی نو په دے کار سره به د حديثو لويه ذخيره وغورځول شی چه دا د ((عمل بالحديث)) خلاف خبره ده. دارنګه د صحيح حديث په مقابله کښے عقلی وجے بيانول د معتزلو کار دے.

❁ امام عبد الرزاقؒ په خپل سند سره د ابن شهابؒ نه نقل کړی دا فرمائی: د عثمان ﷺ په اِمارت کښے يوه توره ښځه درے کورونو ته راغله چه هغوئ خپلو کښے نکاحونه کړی وو، هغے وويل: تاسو زما لونړه او ځامن يئ. نو عثمان ﷺ د دوئ ترمينځه جدائی راوسته. [مصنف عبد الرزاق: ٤٨٢/٧، مرسل، مصنف ابن ابی شيبة : ١٦٦٨٨]

دارنګه د امام شعبیؒ نه ئے نقل کړی چه هغه فرمائی : (قاضيانو به په رضاعت کښے د يوے ښځے په ګواهئ سره جدائی راوستله) [المصنف: ٤٨٤/٧]

بله دا چه : په شريعت کښے د ګواهئ قانون مختلفو طريقو سره راغلے، په باب د بيوعو کښے دوه سړی يا يو سړی او دوه ښځو ګواهي معتبره ده، لکه آيت کښے ذکر ده، او په باب د زنا کښے څلور ګواهان ضروری خودلے شويدی، او په باب د فاقه کښے درے ګواهان ضروری شويدی. يعنی يو تن ته فاقه او فقر ورسيدو، سوال کوی نو درے کسان به ئے ګواهي کوی چه آؤ دے سړی ته فاقه رسيدلے ده. (کما فی الحديث وقد تقدم فی باب الزکاة) او رسول الله ﷺ په يو ګواه او يو قسم سره هم فيصله کړے، او قرآن کريم

سورة المائده کښې دی : کله چه انسان په سفر کښې وی او مرګ ورته راځي نو کافر هم ګواه جوړه ولے شي، دارنګه په بعض مقاماتو کښې د ماشومانو ګواهي هم معتبره شویده۔ لهذا دلته یو صورت د شهادت ذکر دے چه هغه د یوے تے ورکونکے زنانه ګواهي ده، لهذا دا د اصولو او د آیت خلاف نهٔ ده، بلکه دا د اسلام مختلف قوانین دی، په هر قانون باندے به خپل خپل ځائے کښې عمل کولے شي او یو به د بل سره نشي ټکراؤلے، ددے ټکراؤ نه نقصانات پیدا کیږی۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه په دے باره کښې د وینځے او غلام ګواهي هم قبوله ده هر کله چه دوئ عادلان وی۔ او په دے باندے د بخاری روایت دلیل دے : [فَجَائَتْ أَمَةٌ سَوْدَاءُ] که چرے ددے وینځے ګواهي قبوله نهٔ وے، نبی کریم ﷺ به عقبه ﷺ ته د هغے د ګواهئ په وجه د دغه ښځے په جدایئ حکم نهٔ کولے۔ جمهور علماء دلته هم په دے کښې خلاف کوی، خو حقه خبره داده چه د وینځے ګواهي قبوله ده۔ [فتح الباری: ٥/٢٦٧]

(۳) او حدیث نه ددے شرعی قاعدے دپاره دلیل معلوم شو چه : [يَثْبُتُ تَبَعًا مَا لَا يَثْبُتُ اسْتِقْلَالًا] (تبعًا هغه شیان ثابتیدے شی چه هغه په مستقله توګه نشی ثابتیدے) هغه دا چه : د نکاح په فسخ کولو کښې دارنګه په طلاقو کښې د یوے ښځے ګواهي قبوله نهٔ ده، لیکن که د رضاعت ګواهي ورکړی نو ددے حکم ثابتیږی، او په دے باندے تبعًا فسخ د نکاح مرتب کیږی۔ او ددے پشان د ولادت ګواهي هم ده چه په دے سره نسب ثابتیږی، حالانکه په مستقله توګه د ښځے په شهادت سره نسب نهٔ ثابتیږی۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه په هغه چا باندے رد او انکار واجب دے چه هغه په محرماتو باندے د باقی پاتے کیدو اراده لری اګرکه په تاویل سره ولے نهٔ وی، ځکه نبی کریم ﷺ عقبه ﷺ ته وفرمایل: [كَيْفَ وَقَدْ قِيلَ] سره ددے چه هغهٔ ویلی وو : [وَهِيَ كَاذِبَةٌ] دا دروغژنه ده۔

(٥) د چا حالت چه په عدالت یا فسق سره معلوم وی نو د هغوی نه تپوس شرط نهٔ دے، عادل ګواه ته به دا نشی وئیلے چه ته خپل تزکیه کونکے شخص راوله، او دلیل ئے دا حدیث دے، او د فاسق ګواهي به رد کولے شي او هرچه مجهول دے نو د هغهٔ په باره کښې که قاضی مناسب وګنړی تپوس کولے شي۔ یا چا باندے چه ګواهي کوی هغه مطالبه وکړی۔ (فتح ذی الجلال)

(٦) **سوال** : که چرې ددې نکاح نه بچي پیدا شوي وي نو هغه به د چا نه حسابیږي ؟
جواب : هغه به ددې خاوند نه حسابیږي، ځکه دا په شبهې سره وطی ده۔ او دهٔ د ناخبرئ په وجه دا ښځه حلاله ګڼړله لهذا د بچو نسب به ددهٔ نه ثابت وي۔ البته په آینده زمانه کښې ددې ښځې سره - د خور کیدو په وجه- نکاح باقي ساتل حرام دي۔ والله تعالی اعلم۔

دار الحرب نه قید کړې شوې ښځې سره د نزدیکت حکم

3170 (11) - وَعَنْ أَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ بَعَثَ جَيْشًا إِلَى أَوْطَاسٍ فَلَقُوْا عَدُوًّا فَقَاتَلُوْهُمْ فَظَهَرُوْا عَلَيْهِمْ وَأَصَابُوْا لَهُمْ سَبَايَا فَكَأَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّجُوْا مِنْ غِشْيَانِهِنَّ مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى فِيْ ذٰلِكَ **(وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ)** أَيْ فَهُنَّ لَهُمْ حَلَالٌ إِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د حنین په ورځ اوطاس علاقې ته یو لښکر ولیږلو، نو هغوی د دشمن سره ملاو شول او جنګ ئې ورسره وکړو نو په هغوئ باندې غالبه شول او د هغوی نه ئې قید شوې ښځې ونیولې نو ګویا که څه کسانو د رسول الله ﷺ د ملګرو نه هغوی ته د راتللو د ګناه نه ویریدل ځکه چه د هغوی د مشرکانو نه خاوندان موجود دي۔ نو الله تعالیٰ په دې باره کښې (دا آیت) نازل کړو: والمحصنات الخ : یعنی په تاسو هغه زنانه حرامې دي چه خاوندانو والا وي سوئ د هغې نه چه ستاسو ښي لاسونه ئې مالکان شوي وي۔ یعنی دا زنانه سړو له جائز دي هرکله چه د هغوی عدت تیر شي۔ (مسلمؒ)

تشریح : [أَوْطَاسٍ] مخکښې تیر شو چه دا د حنین په خوا کښې یوه وادي ده۔ [سَبَايَا] جمع د سَبِيَّةٌ ده، مؤنث د سَبِيٌّ دې، مصدر ئې سَبْيٌ، قیدي جوړول۔ کله ددې مصدر په معنیٰ د اسم یعنی قیدیانو سره استعمالیږي۔ [تَحَرَّجُوْا : اَیْ خَافُوْا الْحَرَجَ وَالْإِثْمَ] ۔ یعنی د ګناه نه ویریدل۔ [غِشْيَانِهِنَّ]۔ غشیان اصل کښې پتولو ته وائي، دلته ترې مراد نزدیکت دې۔[مِنْ أَجْلِ أَزْوَاجِهِنَّ] ۔ دا علت دې د تَحَرَّجُوْا دپاره، یعنی پدې وجه د ګناه نه ویریدل چه د دوئ خو خاوندان موجود دي۔ او نکاح والا ښځې سره خو نزدیکت حرام

وي، نو په آیت کښې دا خبره نازله شوه چه دا اګرکه نکاح والا دي لیکن ستاسو دپاره الله تعالیٰ حلالې کړیدي چه کله د دوئ عدت په یو حیض سره یا د حمل په راوړو سره تیر شي. **مسئله**: پدې حدیث کښې دا مسئله ده چه د کافرانو نه که یوه ښځه یواځې قیدي کړې شي او د هغې خاوند ژوندې وي، په دار کفر کښې وي، نو د هغې سره بالاتفاق نزدیکت جائز دې، دا د مسلمان دپاره په دې ذکر شوی آیت سره جائز شو.

البته پدې کښې اختلاف دې چه کله ښځه او خاوند دواړه ونیولې شي، نو آیا ددې ښځې سره وطي جائز ده او که نهٔ؟ پس د استبراء د رحم نه په یو حیض تیریدو سره.

(۱) امام شافعیؒ او جمهور علماء وائي چه ښځې سره وطي جائز ده اګرکه خاوند ورسره وي. استدلال کوي پدې حدیث باندې چه دلته خاوندان مطلق ذکر دي، برابره ده چه د دوئ سره ملګرې وي او که د دوئ سره نهٔ وي. نو په نفس قید سره د دوئ خپل مینځ کښې نکاح ماته شوه، او د مسلمان دپاره جائز شوه. او آیت: ﴿إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ هم مطلق دې.

(۲) احناف وائي چه که خاوند ورسره وي نو نکاح نهٔ فسخ کیږي نو ددې سره به جماع جائز نهٔ وي، او که یواځې ونیولې شوه نو بیائې نکاح د خپل خاوند سره فسخ شوه. هغه وائي چه جماع به هله جائز وي چه اختلاف د دارینو راشي، نو جمهور په نفس سبي (قید کیدو) او ملکیت کښې راتللو سره فراق راولي او احناف ئې په اختلاف د دارینو سره. او د امام مالك نه د دواړو مذهبینو په شان دوه قولونه نقل دي.

د احنافو سره دلیل دا دې چه دا آیت د هغه ښځو په باره کښې نازل وو چه هغوی یواځې نیول شوې وې، ځکه چه په بعض طرقو ددې حدیث کښې داسې الفاظ راغلي دي: [وَلَحِقَتِ الرِّجَالُ بِالْجِبَالِ وَأُخِذَتِ النِّسَاءُ]. سړي د غرونو سره پیوسته شول او ښځې ئې ونیولې شوې. او په بعض طرقو کښې دي: [وَلَهُنَّ أَزْوَاجٌ فِي قَوْمِهِنَّ]. د دوئ خاوندان د دوئ په قوم کښې موجود (ژوندي) دي. [ترمذی: ۱۱۳۲، إسناده صحيح].

بله دا چه په غزا د حنین کښې د سړو نه څوك نهٔ وو قیدي شوي، تولې ښځې وې، او سړي ئې څه وژلې شوي او څه تښتیدلي وو، او د جنګ نه روستو د هغوی سړي رسول الله ﷺ ته راغلل. دا قول راجح ښکاره کیږي. [الکوکب الوهاج شرح مسلم بن الحجاج ۱٦/۹٦]. وبالله التوفیق.

الفصل الثاني

هغه دوه ښځې چه په يو وخت کښې د هغوئ په نکاح کښې ساتل منع دي

3171 (12) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى أَنْ تُنْكَحَ الْمَرْأَةُ عَلٰى عَمَّتِهَا أَوِ الْعَمَّةُ عَلٰى بِنْتِ أَخِيهَا وَالْمَرْأَةُ عَلٰى خَالَتِهَا أَوِ الْخَالَةُ عَلٰى بِنْتِ أُخْتِهَا لَا تُنْكَحُ الصُّغْرٰى عَلَى الْكُبْرٰى وَلَا الْكُبْرٰى عَلَى الصُّغْرٰى. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَرِوَايَتُهُ إِلٰى قَوْلِهِ : بِنْتِ أُخْتِهَا.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه بيشکه رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائيلے چه ښځه په ترور يا ترور په وريره باندے، او ښځه د هغے په ترور (خاله) يا ترور د هغے په خورزه باندے په نکاح واخستے شی، وړه به په غټه باندے او غټه به په وړه باندے په نکاح نشی اخستے کيدے۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ، نسائیؒ) او د نسائیؒ روايت دے قول : (بِنْتِ اخيها) پورے دے۔

تشريح : [نَهٰى] يعنی جمع په مابين د ښځه او د هغے د ترور، يا ددے برعکس ترور د وريرے سره جمع کول، دارنګه ښځه د خالے سره يا ددے برعکس خاله د خورزے سره په نکاح کښے جمع کول ناروا دی۔

او پدے کښے علت د صله رحمئ حفاظت دے ځکه چه پدے کار سره قطع رحمی راځی، يوه بنه غالباً بلے بنے ته ضرر رسوی نو صله رحمی به ئے ختمه شی۔ ددے نه معلومه شوه چه په اسلام کښے د صله رحمئ او رشته داریٔ پاللو ډير سخت حکم دے، پدے وجه ئے دا قسم نکاح هم حرامه کړے۔

[لَاتُنْكَحُ الصُّغْرٰى] دا د مخکنی حالت تاکيد او عطف بيان او تفسير دے۔ د صُغریٰ نه مراد وريره او خورزهٔ ده او د کبریٰ نه مراد ترور او خاله ده۔ او دا حکم صرف هم دوئ پورے خاص دے، د دوئ نه علاوه د دوه ترورګانو يا د دوه خالو لونړه جمع کول جائز دی۔

درجة الحديث : [اسناده صحيح] ابوداود : ٢٠٦٥، ترمذی : ١١٢٦، نسائی : ٦/٩٨۔ وقال الترمذی حديث حسن صحيح وهو کما قال علی خلاف فی إسناده، وانظر الارواء (١٨٨٢)

د پلار د ښځې سره نکاح کول حرام دي

3172 (13) - وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ قَالَ : مَرَّ بِي خَالِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ وَمَعَهُ لِوَاءٌ فَقُلْتُ: أَيْنَ تَذْهَبُ ؟ قَالَ : بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ آتِيَهِ بِرَأْسِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ : فَأَمَرَنِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ وَآخُذَ مَالَهُ.

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائي : ما باندې زما ماما ابوبرده بن نيار ﷺ راتير شو او هغهٔ سره جنډه وه، ما ورته وويل : کوم خوا روان ئې ؟ وې فرمايل : نبي کريم ﷺ د هغه سړي پسې ليږلې يم چه د خپل پلار ښځه ئې په نکاح اخستې ده چه هغهٔ ته د هغهٔ سر راوړم۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ) او په روايت د ابو داودؒ کښې دي : ما ته ئې حکم کړې چه زهٔ د هغهٔ څټ ووهم او د هغهٔ مال واخلم۔

تشريح :[لِوَاءٌ] دا جنډه ددې خبرې نخه وه چه دې نبي ﷺ راليږلې دې۔
[بِرَأْسِهِ]۔ بل روايت کښې دي : [وَآخُذُ مَالَهُ]۔ او د هغهٔ مال واخلم۔

فوائد : (۱) دا حديث دليل دې چه چا د خپل پلار د ښځې سره نکاح وکړه نو د هغهٔ قتل او د هغهٔ مال اخستل جائز دي۔ ليکن دې سره دا شرط دې چه دا شخص چه رسول الله ﷺ ددهٔ د قتل حکم وکړو دا په تحريم باندې عالم وو، ځکه چه جاهل دپاره دا حکم نهٔ دې۔ (۲) دې نه معلومه شوه چه په شريعتِ مطهره کښې د پلارانو د حقوقو احترام ډير لحاظ دې، پدې وجه ئې د پلارانو د ښځو سره نکاح حرامه کړه۔

(۳) دا حديث دليل دې چه يو امام او حاکمِ وقت له دا جائز دي چه د يو تن د قتل حکم وکړي کله چه هغه د شريعت د قطعي حکم نه مخالفت وکړي خو پدې شرط چه هغه ددې په تحريم باندې خبر وي۔ لکه ددې مسئلې په شان۔ (٤) دا حديث د امام مالك دپاره دليل دې چه کله ناکله تعزير په قتل سره هم جائز دې۔ (٥) کوم علماء چه د مال په اخستو سره د تعزير قائل دي د هغوی دپاره هم پدې حديث کښې دليل شته۔

(٦) **مسئله** : (أ) ددې حديث مطابق مذهب د امام احمد بن حنبلؒ، اسحاق بن راهويهؒ دې چه ذ پلار د ښځې سره نکاح کونکې به وژلې شي او مال به ترې اخستې کيږي او ددهٔ مال به بيت المال کښې اچولې کيږي۔(او دا قول حافظ ابن قيمؒ راجح کړې)۔

(ب) حسن بصریؒ وائي : په دهٔ باندې به حد جاري کيږي۔ (يعني د زناکار په شان حد

او دا قول د امام مالك او شافعيّ دے۔ (ج) امام ابو حنيفهٌ وائي: تعزير به ورکولے شي او حد به نشي ورکولے۔ او د فقه په کتابونو کښے ورسره دا هم دي: اګرکه دا وائي چه ما ته پته وه چه دا په ما باندے حرام ده (بيا هم د امام ابو حنيفهٌ په نيز په دهٔ باندے حد نشته)۔ [الاختيار لتعليل المختار : ٤/٩٥، الجوهرة النيرة : ٥/١٠٣]۔

البته صاحبينو وئيلي چه کله ئے قصداً دا کار کړے وي نو په هغهٔ باندے حد شته۔ [خطابيٌ : معالم السنن٦/٢٦٩، زاد المعاد] اول مذهب حق دے۔

درجة الحديث :[اسناده صحيح] ابوداود : ٤٤٥٦، والرواية الثانية : (٤٤٥٧) وابن ماجه : ٢٦٠٧، والترمذى : ١٣٦٢، وحسنه، لكن اسناده عند ابى داود صحيح، والنسائى ٦/١٠٩، وصححه ابن حبان ٤١١٢ .

د رضاعت د مودے تيريدو نه روستو پئ سکل حرمت نهٔ ثابتوی

3173 (14) – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : **لَايُحَرِّمُ مِنَ الرِّضَاعِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ، وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ**. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : صرف هغه رضاعت حرمت ثابتوی چه هغه کولمے پرانيزی او هغه د تی پريکولو د مودے (دوه کالو د عمر) نه مخکښے وی۔ (ترمذيّ روايت کړے او ترمذيّ او حاکمٌ ورته صحيح ويلی)۔

تشريح : [لَايُحَرِّمُ] د تحريم سبب نهٔ ګرځی، حرمت نهٔ ثابتوی، حراموالے نهٔ پيدا کوی۔ [فَتَقَ الْأَمْعَاءَ] أَيْ : شَقَّ أَمْعَاءَ الصَّبِيِّ بِأَنْ سَلَكَ فِيْهَا وَوَقَعَ مِنْهَا مَوْقِعَ الْغِذَاءِ (چه د ماشوم کولمے پرانيزی او په هغے کښے ورشي او د خوراك ځائے ونيسی) [أَمْعَاءَ] جمع د مِعًى ده۔ کولمه۔ [فِي الثَّدْيِ]۔ [أَيْ زَمَانَ الْإِرْتِضَاعِ]۔ يعنی ماشومان د تے د رودو په زمانه کښے وی۔ ددے نه معلومه شوه چه رضاعت د کبير نهٔ ثابتيږی۔ دارنګه دا حال مقدره دے، او فائده ئے دا ده چه په داسے حال کښے به وی چه پئ به په سينو کښے ډك وی او د هغے نه به بهيږی، (طيبيٌ) [قَبْلَ الْفِطَامِ] د تی نه پريکولو نه مخکښے۔

مطلب دا چه : کوم پئ د ماشوم کولمے پرانيزی او د هغهٔ د غذاء قائم مقام وی نو صرف په همدے سره حرمت ثابتيږی او هغه پئ د بچی د غذاء قائم مقام ګرځی چه هغه د دوو کالو د عمر نه مخکښے مخکښے په هغهٔ وڅکل شی، ځکه په همدے عمر کښے د بچی

غذاء صرف پئ وی۔ او په همدے سره ئے کولمے فراخه کیږی، نۀ په بل شی سره۔
ددے نه معلومه شوه چه په لږو پیوو سره حرمت نۀ ثابتیږی۔ ځکه چه هغه کولمے نۀ فراخه کوی او لوږه نۀ بندوی او د بدن نه جزء نۀ ګرځی کوم چه سبب د حرمت دے۔
او د [الْفِطَامِ] نه مراد دادے چه په هغه پیوو سره حرمت ثابتیږی چه د تی نه د ماشوم پریکولو د مودے نه مخکښے هغۀ له ورکړے شوے وی، او د تی نه د پریکولو موده د دوو کالو عمر دے لکه څنګه چه د قرآن کریم په آیت (بقره : ۲۳۳) کښے او مخکنو حدیثونو کښے راغلل۔ او دا شرط نۀ دے چه ماشوم به د سینے نه څکلی وی، لکه څنګه چه دا مذهب د ابن حزمؒ دے، هغه وائی : که یوے زنانه د ماشوم دپاره د خپلے سینے نه راولوشل او هغۀ ته ئے ورکړل نو رضاعت نۀ ثابتیږی۔ لیکن دا مذهب ضعیف دے۔
او دا حدیث دلیل دے چه د ماشوم دپاره د دوه کالو نه زیات هم د مور پئ څکل جائز دی البته رضاعت به صرف په دوه کالو کښے ثابتیږی لکه چه دا د جمهورو مذهب وو۔ او راجح وو۔

درجة الحديث :[إسناده صحيح] الترمذی : ۱۱۵۲ وقال حسن صحيح وصححه ايضا ابن حبان فی صحيحه : وانظر الارواء (۲۱۵۰)

پئ ورکونکے مور حق په کومه طریقه ادا کیدے شی؟

3174 (15) – وَعَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجِ الْأَسْلَمِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ قَالَ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرِّضَاعِ ؟ فَقَالَ : " غُرَّةٌ :عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او حجاجؒ بن حجاج اسلمی ﷺ د خپل پلار نه روایت کوی چه هغۀ وفرمایل : اے د الله رسوله ! څه شے دے چه زما نه د تے رودلو حق بوځی (ادا کړی)؟ وے فرمایل : مملوك یعنی غلام وی او که وینځه۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

تشریح :[مَذَمَّةُ]۔ د ذال زیر او زور دواړو سره په معنیٰ د ذمام (حق) سره، او د هغه حق سره چه د هغے د ضائع کونکی بدی وئیلے شی۔ او په زور د ذال سره مصدر میمی دے په معنیٰ د بدئ سره استعمالیږی۔ (نهایه) دلته دواړه معنے صحیح دی۔ په اول صورت کښے مطلب دا دے چه ما ته داسے څه وښایه چه زۀ پرے د خپلے رضاعی مور د رضاعت

حق ادا کړم ځکه چه هغې زما په وړوکوالی کښې خدمت او تربیت کړے؟ نو ورته ئې وفرمایل : چه ته د هغې د خدمت بدله پدې طریقه ورکړه چه وینځه یا غلام ورته ورکړه چه د هغې خدمتونه کوی نو پدې سره به ته د هغې د احسان بدله خلاصه کړې.

په دویم صورت کښې د سوال مطلب دا وو چه په څه شی سره به ما نه د رضاعت بدی زائله کیږی او زۀ به ددے بدئ نه په څه سره خلاص شم چه زنانه راته د تی ورکولو پیغور رانکړی چه تا له ماتې درکړې. اول مطلب واضح دے. ددے حدیث د باب سره څه خاص مناسبت نشته سوئ ددے نه چه لکه څنګه چه د خپلې مور حق شته نو دغه شان د رضاعی مور هم حق شته نو د هغې حق پدے سره ادا کیږی چه غلام یا وینځه ورکړی، او وینځه او غلام ئې خاص ذکر کړل ځکه چه دا خدمت کولے شی نو د هغې د خدمت بدله به خلاصه شی ځکه چه جزاء من جنس العمل وی.

د عربو عادت دا وو چه کله به ئې ماشوم د تی نه پریکولو نو تی ورکونکې ته به ئې د هغې د اجرت نه علاوه څه تحفه هم ورکوله.

[غُرَّةٌ] په اصل کښې د اس په تندی کښې سپینوالی ته وائی، بیا د هر اول شی دپاره استعمالیږی، بیا په سپین او افضل شی کښې استعمالیږی، بیا پکښې نور تعمیم شوے نو د هر اشرف انسان دپاره استعمال دے لکه [فُلَانٌ اَغَرٌّ] بیا مطلق نفس او شخص ته وائی لکه پدے ځائے کښې شو.

درجة الحديث :[إسناده صحيح] ابوداود : ٢٠٦٤، ترمذی : ١١٥٣ وقال حسن صحيح والنسائی : ١٠٨/٦ فی الرضاع وفی اسناده حجاج الاسلمی لم يرو عنه سوی اثنين، ولم يوثقه غير ابن حبان وقال الذهبی : صدوق وقال الحافظ : ((مقبول)) قال الالبانی : وهذا اقرب.

د رسول الله ﷺ د طرف نه د حلیمې مور تعظیم او تکریم

3175 (16) - وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ الْغَنَوِيِّ ﷺ قَالَ : كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ فَبَسَطَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِدَاءَهُ حَتّٰى قَعَدَتْ عَلَيْهِ فَلَمَّا ذَهَبَتْ قِيلَ هٰذِهِ أَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او ابو الطفیل غنوی ﷺ فرمائی : زۀ (یوه ورځ) د نبی کریم ﷺ سره ناست وم چه پدے کښې یوه ښځه مخامخ راغله نو نبی کریم ﷺ خپل څادر (مبارك) خور کړو

تردې چه هغه پرې کيناسته، هرکله چه هغه لاړه، ووئيلے شو چه دا هغه ښځه وه چه نبي کريم ﷺ ته ئې (په وړوکوالي کښې) تے ورکړے وو. (ابوداوّد)

تشريح : [ابو الطفيل] ددهٔ نوم عامر بن واثلة الليثي الكناني الغنوي ﷺ دے، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت ددهٔ عمر اته کاله وو، نو دا صحابي دے او مطلقاً د ټولو صحابه کرامو ﷺ نه آخري وفات شويدے په مکه کښې په (١٠٢ هـ) کښې.

[فَبَسَطَ] : د هغې د اکرام او احترام دپاره. [قِيلَ]. يعني خلکو تعجب وکړو چه نبي ﷺ څنګه يوې زنانه ته خپل څادر خوروي او يوه زنانه په هغې باندې کيني نو چا ووېل چه ددې وجه دا ده چه دا د رسول الله ﷺ رضاعي مور وه. ددې نوم حليمه سعديه ﷺ دے. ددې په اسلام کښې اهل علمو اختلاف کړے، اصح دا ده چه دے او ددې خاوند دواړو اسلام قبول کړے.

دې حديث نه دا معلومه شوه چه د رضاعي مور حقوق به هم ادا کولے شي او د هغې تعظيم او اکرام به کولے شي. او پدې کښې اشاره ده چه د هر چا چه په تا باندې حق ثابت وي د هغهٔ اکرام پکار دے.

درجة الحديث : [ضعيف] ابوداود : ٥١٤٤ ومن هذا الوجه اخرجه الحاكم : ٣/٦١٨-٦١٩، رقم : ٦٥٩٥، وسكت هو والذهبي عليه وكأنه لجهالة تابعيه عمارة بن ثوبان ومثله الراوي عنه جعفر بن يحيى بن ثوبان ومن هذا الوجه اخرجه ابن عساكر (٨/٨٢٤) (الباني في تخريج المشكاة). وذكرهما ابن حبان في الثقات (٧/٢٦٢، ٦/١٣٨).

د څلورو نه زيات نکاحونه په يو وخت کښې ناروا دي

3176 (17) - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ **عَشْرُ** نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **أَمْسِكْ أَرْبَعًا وَفَارِقْ سَائِرَهُنَّ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ نه روايت دے چه غيلان بن سلمه ثقفي اسلام قبول کړو او د هغهٔ په جاهليت کښې لس ښځے وے، نو هغوی هم ورسره اسلام راوړو نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : څلور وساته او د باقيوو نه جدا شه. (احمدّ، ترمذيّ، ابن ماجهّ)

تشريح : [فَارِقْ]. جدا شه. [سَائِرَهُنَّ]. د باقيمانده نه.

فوائد : (۱) دا حديث دليل دے چه چا د كفر په حالت كښے كوم نكاحونه كړى وى نو د اسلام راوړو نه پس هغوى به په همغه نكاح باندے پاتے وى، مگر كه د هغوى په نكاح كښے هغه څوك وى چه د هغوى نكاح جائز نهٔ وى. دا وجه ده رسول الله ﷺ د نوى مسلمانانو نكاحونه نهٔ دى تازه كړى. (۲) دويم پدے حديث او روستو حديث كښے اختلافى مسئله ده چه يو تن اسلام راوړى او د هغهٔ په نكاح كښے د څلورو نه زياتے ښځے وى چه كومه به ساتى او كومه به پريدى ؟

(۱) جمهور علماءَ وائى چه سړى له اختيار دے چه هره يوه پريدى، ښه وى او كه بده، مخكښے په نكاح كښے راغلى وى او كه روسته. دليل دا وائى چه دا احاديث مطلق دى (اَمْسِكْ اَرْبَعًا) دلته ورته نبى عليه السلام تعيين ونكړو چه مخكنۍ پريده يا روستنۍ.

(۲) احناف وائى : كه چرے دا ښځے ئے په يو عقد سره (په يو ځل) په نكاح اخستے وى نو دا نكاح باطله ده. اوكه په جدا جدا وختونو كښے ئے په نكاح اخستے وى، نو بيا اولنۍ څلور ښځے به ساتى او باقى روستنۍ شپږ به پريدى، ليكن په دے تفصيل هيڅ دليل نشته او دا خالص تكلف دے.

دليل : دا وائى چه فساد د روستنۍ نه راغلے دے. ليكن جمهور جواب وركوى چه دا خبره اگرچه عقل اخلى ليكن يو دور د جاهليت دے او بل د اسلام، د جاهليت په دور كښے دا خبره نهٔ وه چه فساد د كومے نه راغلے دے، هلته فساد مضر نهٔ دے، ځكه چه انسان خبر نهٔ دے. او هرچه د اسلام دور دے نو په هغے كښے فساد اگرچه د روستنۍ نه راځى مگر دلته نبى عليه السلام خاوند ته اختيار وركړے چه هره يوه په نكاح اخلى او نورے پريدى، ستا خوښه ده. بل دليل دا دے چه د رسول الله ﷺ نه علاوه بل چا له د څلورو نه زيات نكاحونه حرام دى، څوك چه د جواز قائل دى هغه بے دليله روان دى.

درجة الحديث :[صحيح بطرقه وشواهده] الموطأ لمالك : ۱۲۱۸، ترمذى : ۱۱۲۸، ابن ماجه : ۱۹۵۳، احمد : ٤٦٠٩، ابن حبان : ٤٦٣/٩، رقم : ٤١٥٦، وأعله الترمذى بالإرسال ولكن أجاب عنه الألبانى فى الإرواء : ۱۸۸۳)

3177 (18) – وَعَنْ نَوْفَلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ : أَسْلَمْتُ وَتَحْتِىْ خَمْسُ نِسْوَةٍ فَسَأَلْتُ النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : " فَارِقْ وَاحِدَةً وَأَمْسِكْ أَرْبَعًا " فَعَمَدْتُ إِلَى أَقْدَمِهِنَّ صُحْبَةً

عِنْدِیْ: عَاقِرٍ مُنْذُ سِتِّیْنَ سَنَةً فَفَارَقْتُهَا. رَوَاهُ فِیْ شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه : او نوفل بن معاویه ﷺ نه روایت دے هغه فرمائی : ما اسلام راوړو په داسے حال کښے چه زما په نکاح کښے پنځه ښځے وے، نو ما د نبی کریم ﷺ نه (ددے په باره کښے) پوښتنه وکړه نو هغهٔ وفرمایل : د یو یے نه جدا شه او څلور وساته. نو ما د هغوی نه هغه ښځے ته اراده وکړه چه د هغوی نه مخکښې ملګرتیا والا وه زما سره چه د شپیتو کالو نه شنډه وه نو زهٔ د هغے نه جدا شوم. (بغویؒ : شرح السنه)

تشریح : [نوفل] بن معاویه الدیلی صحابی دے. څینی وائی : په جاهلیت کښے شپیتهٔ کاله تیر کړی او په اسلام کښے هم شپیتهٔ. بعض وائی : سل کاله عمرئے وو، اولنئ غزائے فتح د مکے وه، او د فتح د مکے نه لږ مخکښے مسلمان شوے، او د یزید بن معاویه په زمانه کښے وفات شوے.

دا هغه صحابی دے چه رسول الله ﷺ ترے د طائف په محاصره کښے مشوره اخستے وه چه څه وکړو ؟ دهٔ وویل چه ددے خلکو مثال د کیدړ دے، چه که تهٔ ورته کینے نو راوبه ئے نیسے لیکن که ترے لاړ شے تا ته ضرر نهٔ درکوی، نو رسول الله ﷺ ددهٔ په خبره عمل وکړو او د هغهٔ ځائے نه روان شو، او محاصره ئے ختمه کړه.

[عَاقِرٍ] دا په زیر سره د اَقْدَمِهِنَّ صفت دے. یعنی شنډه وه. ددے نه معلومیږی چه ښځه د شنډ والی یا د بوډئ والی په وجه پریخودل جائز دی. رسول الله ﷺ پدے صحابی باندے رد نهٔ دے کړے.

او معلومه شوه چه پدے کښے هره یوه ښځه غوره کوی نو جائز ده، دلته ئے ورته دا ونهٔ وئیل چه روستنئ پریده. او هغهٔ چه مخکښئ پریخودے ده نو ددے وجه دا وه چه هغه شنډه وه.

درجة الحدیث : [ضعیف] الشافعی (٤٤) والبغوی فی شرح السنة : ۲۲۸۹) ومن طریق الشافعی اخرجه البیهقی فی الکبری : ۱٤٤۳۸، وفی إسناده شیخ الشافعی لم یسمه، انظر فی الارواء (۱۸۸٤)

دوه خویندے په یو وخت کښے په نکاح کښے ساتل منع دی

3178 (19) – وَعَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ فَيْرُوْزٍ الدَّيْلَمِيِّ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّیْ

أَسْلَمْتُ وَتَحْتِيْ أُخْتَانِ قَالَ :" اِخْتَرْ أَيَّتَهَا شِئْتَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او ضحاك بن فیروز دیلمیؒ د خپل پلار (یعني فیروز الدیلمي رضی الله عنه) نه روایت کوي هغه فرمائي : ما وویل : اے د الله رسوله ! ما اسلام قبول کړو او زما په نکاح کښې دوه خویندې دي، وې فرمایل : د دوئ نه چه هره یوه غواړې هغه غوره کړه. (ترمذيؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تعارف د ضحاک رضی الله عنه : په فارس کښې مشهور غرهٔ (دَیلم) طرفته منسوب دے. مشهور تابعي دے. ابن حبانؒ ورته ثقه ویلي. خپل پلار نه روایت کوي او ددهٔ حدیث بصریانو سره موندے کیږي. [عَنْ أَبِيْهِ] ابو عبد الله فیروز دیلمي رضی الله عنه. په حِمیَر کښې د دیرے اچولو په وجه ورته حِمْیَرِي ویل کیږي. دا د اهلِ فارس نه دے او د صنعاء وسیدونکے دے. دا په هغه وفد کښې شامل وو چه هغوئ د نبي ﷺ په خدمت کښې حاضر شول. او دا هغه خوش نصیبه صحابي دے چه د پیغمبرئ د دعوئ کونکي اسود عنسي کذاب قاتل دے. دهٔ اسود عنسي د نبي ﷺ په آخري ورځو کښې ووژهٔ. او نبي ﷺ ته دا خبر د هغوئ په مرض الموت کښې راورسیدهٔ. دے د عثمان رضی الله عنه په دور کښې وفات شو.

تشریح : **فوائد** : (١) دا خو د دوه خویندو حکم وو، او همدا حکم د هغه چا هم دے چه په داسے حال کښې مسلمان شي چه د هغهٔ په نکاح کښې وریره او ترور، یا خورزهٔ او خاله وي، په دے دواړو کښې به یوه ځان سره پریدي (هره یوه چه پریدئ) او د بلے نه به جدا شي ځکه مخکښې تیر شو چه ددے درے واړو ښځو یو حکم دے.

(٢) [إِخْتَرْ أَيَّتُهَا شِئْتَ] . **مسئله** : که یو سړي اسلام راوړو او د هغهٔ په نکاح کښې دوه خویندے وي او دواړو ورسره اسلام قبول کړے وي نو سړي له اختیار دے چه ددے دواړو نه هره یوه غوره کړي او بله پریدي، برابره ده چه یوه ئے مخکښې کړې وي او بله ئے روستو کړې وي یا ئے دواړه په یوه ورځ کړې وي. او دا مذهب د شافعيؒ، مالك او احمدؒ دے. او د امام ابو حنیفهؒ رائے دا ده چه که دواړه ئے په یو ځائے نکاح کړې وي په یو عقد کښې نو دهٔ له جائز نهٔ دي چه یوه غوره کړي او بله پریدي بلکه دواړه به پریدي، او که مخکښې روستو ئے کړې وي، نو بیا به اولنۍ غوره کوي، او روستنۍ به پریدئ. لیکن دے باندے دلیل نشته. دوئ ددے حدیث دا تاویل کوي چه دلته مطلب دا چه : یو ے له

طلاق ورکړه یعنی یوې نه جدا شه او بله په نوې نکاح سره ځان سره وساته۔ حالانکه دا بې دلیله تاویل او تکلف دې، لهذا دا تاویل باطل دې۔ اول مذهب ددې حدیث مطابق دې۔ چه رسول الله ﷺ دلته فیروز الدیلمی ﷺ ته مطلقاً اجازه ورکړه او دا تپوس ئې ترې ونکړو چه تا دواړه په یو ځائې کړې او که بیلا بیل؟۔

(۳) او حدیث دلیل دې چه د مسلمانیدو نه مخکښې چه کومه نکاح کافرانو خپلو کښې په هره طریقه کړې وې نو هغې له اعتبار دې او د اسلام قبلولو نه پس به هم دغه ښځه ددهٔ ښځه وې، ترڅو پورې چه طلاق ورته ورنهٔ کړې، د اسلام راوړو نه پس نکاح تازه کولو ته حاجت نشته۔ او کله چه دوئ اسلام قبول کړو نو اُوس به مونږ په دوئ د مسلمانانو د نکاحونو احکام جاري کوو۔ او همدا دا د ائمه ثلاثه (مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ) قول دې۔

درجة الحديث : [صحيح] ابوداود : ۲۲٤۳، الترمذی : ۱۱۳۰، واللفظ له وحسنه وابن ماجه : ۱۹۵۱، (صحيح ابی داود : ۱۹٤۰)

کافر ښځه او خاوند نه که یو اسلام قبول کړې نو آیا نکاح ماتیږي؟

3179 (20) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : أَسْلَمَتِ امْرَأَةٌ فَتَزَوَّجَتْ فَجَاءَ زَوْجُهَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِي فَانْتَزَعَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَوْجِهَا الآخَرِ وَرَدَّهَا إِلَى زَوْجِهَا الْأَوَّلِ وَفِي رِوَايَةٍ : أَنَّهُ قَالَ : إِنَّهَا أَسْلَمَتْ مَعِيَ فَرَدَّهَا عَلَيْهِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : یوې ښځې اسلام راوړو او هغې نکاح وکړه نو د هغې خاوند نبی کریم ﷺ ته راغلو عرض ئې وکړو اې د الله رسوله ﷺ ما اسلام راوړو او دا ښځه زما په اسلام پوهه وه۔ (او بیا هم دې زما نه بغیر بل چا سره نکاح کړې؟) نو رسول الله ﷺ هغه ښځه د روستنی خاوند نه رابنکله او خپل اول خاوند ته ئې واپس کړه۔ او په یو روایت کښې دی : هغهٔ ووېل : دې ښځې ما سره اسلام راوړې۔ (او بیا ئې د بل سره نکاح کړې) نو نبی کریم ﷺ ښځه هغهٔ ته واپس کړه۔ (ابوداودؒ)

تشریح : [وَعَلِمَتْ بِإِسْلَامِي] دا یا صیغه غائب ده یعنی دا ښځه زما په اسلام باندې خبره وه او بیا ئې هم بل چا سره نکاح کړې۔ یا (عَلِمْتَ) په صیغه د خطاب سره دې، د

تاکید او تحقیق دپاره دا خبره ذکر کوی. یعنی تهٔ پوهه ئے زما په اسلام باندے.

فوائد : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه کله خاوند اسلام قبول کړی او ددهٔ ښځه ددهٔ په اسلام باندے خبره شی نو دا د هغهٔ ښځه ده. که چرے هغے په دے گمان د بل چا سره نکاح کړے وی چه گنے اسلام ددے دواړو ترمینځه جدائی راوستے، نو دا نکاح باطله ده، دے وجے نه دا به د دویم خاوند نه اخستلے کیږی او اولنی خاوند له به ورکولے شی. ځکه ددے ښځے اولنئ نکاح باقی ده نو دویمه نکاح ئے نهٔ ده صحیح شوے. لهذا دا به ماتولے شی. برابره خبره ده که عدت ئے تیر شوے وی او که نهٔ، ځکه په حدیث کښے نبی ﷺ د عدت تیریدو یا نهٔ تیریدو څهٔ شرط نهٔ دے لگولے. دا هله چه ښځه هم مسلمانه شوی وی. امام صنعانیؒ دیته ترجیح ورکړے چه ددے اولنی خاوند په داسے حال کښے اسلام قبول کړے دے چه د ښځے عدت لا نهٔ وو تیر شوے، ځکه که خاوند د ښځے د عدت تیریدو نه پس اسلام قبول کړے وے نو بیا خو د دویم خاوند نکاح صحیح ده. [سبل السلام: ۳/۲۲۸]

(۲) **اختلافی مسئله** : (۱) د امام ابوحنیفهؒ اصول دا دی چه کله سړے او زنانه کافران وی نو د دوئ نکاح به ماتیږی په څو شرطونو سره :

(۱) **اختلاف الدارین**. چه یو په دار اسلام کښے وی او بل په دار کفر کښے.

(۲) **عرض الاسلام** : یعنی ښځے اسلام راوړو نو خاوند باندے به اسلام پیش کړے شی، (او ددے برعکس) که اسلام ئے قبول کړو نو نکاح ئے باقی ده، او که د اسلام نه ئے انکار وکړو نو دا انکار به سبب د فُرقت شی، نهٔ اسلام د احد الزوجین ځکه چه اسلام نعمت دے چه سبب د حرمت او فرقت نهٔ گرځی.

(۳) کله چه انقضاء العدة وشی (یعنی عدت تیر شی) نو نکاح به ماتیږی، نو که سړی د عدت تیریدو نه روستو ایمان راوړو نو جدید (نوے) نکاح به تړی، په زاړهٔ نکاح نشی واپس کیدے. (۲) **مذهب** : امام شافعیؒ بلکه ائمه ثلاثهؒ او ابن شهاب زهریؒ وائی چه اختلاف الدارین سبب د فُرقت نهٔ دے بلکه سبی (قیدی کیدل) د زوجینو ترمینځ د فُرقة سبب دے.

دویمه مسئله : که سبی نهٔ وه شوے خاوند کافر او ښځه مسلمانه وه یا ددے برعکس، نو که عدت تیر شوے نهٔ وو نو په زړهٔ نکاح به واپس کیږی او که عدت تیر شوے وو نو

هم په دغه زړۀ نکاح واپس کیدے شی کله چه دے ښځے بله نکاح نۀ وی کړی اګرکه تر شپږو کالو پورے وی، او دلیل کښے احادیث پیش کوی، یو د هغے نه روستو (وَرُوِيَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ) سره ذکر کیږی نو دلته اختلاف الدین والدارین دواړه راغلی دی، او نبی ﷺ په زړه نکاح واپس کړیدی۔ دارنګه د رسول الله ﷺ لور زینب رضی الله عنها اسلام راوړو او د هغے خاوند ابو العاص بن ربیع شپږ کاله پس ایمان راوړو نو نبی ﷺ ورته زینب په زړه نکاح واپس کړه۔ [مسند احمد : ۲۲٤۰ واسناده حسن] او بعض وائی دوه کاله پس۔ (ابن ماجه) او کوم روایت د ترمذی کښے چه راغلی دی چه زینب رضی الله عنها ئے په نوے نکاح واپس کړه نو هغه روایت کښے امام ترمذیؒ وائی : فِيهِ مَقَال۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ او ابن کثیرؒ دیته ترجیح ورکړے۔ علامه ابن کثیرؒ ددے د تائید دپاره د ابن عباس رضی الله عنه حدیث ذکر کړے، هغه فرمائی : ((کله به چه د حربی کافرانو نه یوے ښځے هجرت وکړو (مسلمانه به شوه) نو ترڅو پورے به چه د هغے حیض نۀ وو راغلے او د حیض نه به پاکه شوے نۀ وه، نو چابه هغے ته د نکاح پیغام نۀ رالیږۀ، او کله به چه پاکه شوه نو هغے دپاره به د بل چا سره نکاح کول حلال شول۔ بیا که ددے خپل خاوند به ددے دویمے نکاح نه مخکښے راغے، نو دا به د هغۀ ښځه شوه)) [بخاری: ٥٢٨٦، فتح الباری: ٦٦٧/٨، ٤١٨/٩] نو دے نه معلومه شوه چه د عدت تیریدو نه پس به هم دا ښځه د اولنی خاوند ښځه وه، په دے شرط چه دے به د بل سړی سره نکاح نۀ وه کړے۔ [البدایة والنهایة : ٢٧١/٥]

او دا قول علامه صنعانیؒ او شوکانیؒ هم غوره ګرځولے، ځکه حدیث د زینب رضی الله عنها واضح دلیل دے چه زینب رضی الله عنها چه خپل خاوند ته بیرته واپس کړے شوه نو په دے کښے عدت له هیڅ اعتبار ورنۀ کړے شو۔ دارنګه په دے کښے نکاح تازه نۀ کړے شوه۔

او ددے تائید دادے چه دا خبره په تواتر سره ثابته ده چه د نبی ﷺ په زمانه کښے بے شماره داسے واقعات راغلی چه په ښځه او خاوند کښے یو تن اسلام راوړے، او بل تن د ښځے د عدت تیریدو نه پس اسلام راوړے، (لکه د عکرمه رضی الله عنه ښځه مسلمانه شوه او خاوند ئے کافر وو بیا هغه هم مسلمان شو او دواړه په خپله زړه نکاح پاتے شول لکه روستو به ئے صاحب المشکاة نقل کړی) او دا چرته نۀ دی نقل چه نبی ﷺ د ښځے د عدت تیریدو پوښتنه کړے وی، او نۀ دا نقل دی چه هغوئ د ښځے او خاوند نکاح تازه

کړې وي۔ ددې بل تائيد دادې چه کله ښځه مسلمانه شي نو خاوند ددې کفو او سيال پاتې نشو، اوکله چه سيالي ختمه شوه نو ښځې له اختيار ورکړې شو۔

(۳) **مسئله** : خاوند دعوه وکړه چه ښځې ما سره شريك اسلام راوړې او ښځه انکار کوي نو د خاوند خبره به منلې شي نۀ د ښځې لکه دلته نبي ﷺ د خاوند خبرې له اعتبار ورکړې۔

درجة الحديث :[صحيح لغيره (شعيب ارناووط)] ابوداود : ۲۲۳۹، وابن ماجه : ۲۰۰۸، والرواية الثانية فى ابى داود : ۲۲۳۸، والترمذى : ۱۱٤٤، وقال صحيح، احمد : ۲۹۷۲، وصححه الحاكم : ۲/۲۰۰، ووافقه الذهبى، وصححه ابن الجارود (۷۵۷) (قاله شعيب الارناووط فى تعليق سنن ابى داود) وضعفه الالبانى بان سماك بن حرب صدوق كما قال الحافظ وروايته عن عكرمة خاصّةً مُضْطَرِبَةٌ وَقَدْ تَغَيَّرَ بِآخِرَة فكان ربما يلقن،آه۔ لكن الرواية صحيحة لشواهدها]

3180 (21) – وَرُوِیَ فِی "شَرْحِ السُّنَّةِ": أَنَّ جَمَاعَةً مِنَ النِّسَاءِ رَدَّهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنِّكَاحِ الْأَوَّلِ عَلٰى أَزْوَاجِهِنَّ عِنْدَ اجْتِمَاعِ الْإِسْلَامَيْنِ بَعْدَ اخْتِلَافِ الدِّيْنِ وَالدَّارِ مِنْهُنَّ **بِنْتُ الْوَلِيْدِ بْنِ الْمُغِيْرَةِ** كَانَتْ تَحْتَ **صَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ** فَأَسْلَمَتْ يَوْمَ الْفَتْحِ وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ فَبَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ ابْنَ عَمِّهٖ وَهْبَ بْنَ عُمَيْرٍ بِرِدَاءِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَانًا لِصَفْوَانَ فَلَمَّا قَدِمَ جَعَلَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْيِيْرَ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ حَتّٰى أَسْلَمَ فَاسْتَقَرَّتْ عِنْدَهٗ **وَأَسْلَمَتْ أُمُّ حَكِيْمٍ بِنْتُ الْحَارِثِ** بْنِ هِشَامٍ اِمْرَأَةُ **عِكْرِمَةَ بْنِ أَبِیْ جَهْلٍ** يَوْمَ الْفَتْحِ بِمَكَّةَ وَهَرَبَ زَوْجُهَا مِنَ الْإِسْلَامِ حَتّٰى قَدِمَ الْيَمَنَ فَارْتَحَلَتْ أُمُّ حَكِيْمٍ حَتّٰى قَدِمَتْ عَلَيْهِ الْيَمَنَ فَدَعَتْهُ إِلَى الْإِسْلَامِ فَأَسْلَمَ فَثَبَتَا عَلٰى نِكَاحِهِمَا. رَوَاهُ مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ مُرْسَلًا

ترجمه : او په شرح السنه کښې روايت شويدې چه د زنانو يوه ډله نبي کريم ﷺ په اوله نکاح سره خپلو خاوندانو ته واپس کړې هرکله چه د دواړو اسلام يو ځائې شو پس د اختلاف د دين او کور نه، چه د هغه زنانو نه (يوه) د وليد بن مغيره لور وه چه دا د صفوان بن اميه په نکاح کښې وه، دې د مکې د فتح په ورځ اسلام راوړو او ددې خاوند د اسلام نه وتښتيدو، نو نبي کريم ﷺ هغۀ پسې د هغۀ تره ځوی وهب بن عمير ؓ د

رسول الله ﷺ د څادر سره ولیږلو چه دا د صفوان دپاره امان وو، نو هر کله چه هغه راغلو نو رسول الله ﷺ د هغهٔ دپاره څلور میاشتے د ګرزیدو موقعه مقرر کړه تردے چه هغهٔ اسلام قبول کړو نو ښځه د هغهٔ سره په نکاح کښے پاتے شوه۔ او (ددے زنانو نه) (بله) ام حکیم بنت حارث بن هشام وه چه دا د عکرمه بن ابی جهل ښځه وه د مکے د فتح په ورځ ئے اسلام قبول کړو او ددے خاوند د اسلام نه وتښتیدو تردے چه یمن ته راغلو نو ام حکیم (د هغهٔ پسے) سفر وکړو تردے چه هغه پسے یمن ته راغله نو هغهٔ ته ئے د اسلام دعوت ورکړو نو هغهٔ اسلام قبول کړو نو دواړه په نکاح باندے پاتے شول۔ (مالك د ابن شهاب الزهریؒ نه په طریقه د ارسال سره نقل کړے)

تشریح : دا واقعات دلیل دے چه رسول الله ﷺ دے سړو ته دا ونهٔ وئیل چه تاسو به نوے نکاح تړئ بلکه د عدت تیریدو نه بعد ئے هم په زړه نکاح سره واپس کړے۔ او دلته دین ئے هم جدا وو او دارین هم جدا۔ [بَعْدَ اخْتِلَاف] ۔ یعنی د دواړو (ښځے او خاوند) د اسلام راجمع کیدو په وخت پس د هغے نه چه مخکښے د دین او د دار په اعتبار سره د یو بل نه مختلف وو او اُوس دواړه په اسلام راجمع شول۔

[أَمَانًا]۔ یعنی دا څادر نښه وه چه اے صفوان ! تا ته رسول الله ﷺ امان درکړے، تا به نهٔ وژنی۔ څکه چه کله مکه فتح شوه نو دے وخت کښے صفوان جدے طرف ته تښتیدلے وو، یمن طرف ته ئے اراده وه۔ لکه ددے واقعے تفصیل زمونږ په کتاب ((سیرت رسول ﷺ)) کښے وګوره۔ ډیره مزیداره قصه ده۔

درجة الحديث :[ضعيف لإرساله وإعضاله] مالك في الموطأ (٤٦٤٤) واخرجه الشافعي عنه باختصار، وانظر الارواء: (١٩١٩) ولكن عامة الروايات ليست ضعيفة بل هي صحيحة ثابتة في السيرة.

الفصل الثالث

کومے کومے رشتے والا ښځے په محرماتو کښے داخلے دی؟

3181 (22) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : حُرِّمَ مِنَ النَّسَبِ سَبْعٌ وَمِنَ الصِّهْرِ سَبْعٌ ثُمَّ قَرَأَ: (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ) الْآيَةَ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : د نسب نه اُوه زنانه حرام کړے شویدی او د

سخرګنۍ نه اُوه بیائے دا آیت ولوستلو : (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ) تر آخر پورے۔ (بخاریؒ)

تشریح :[وَمِنَ الصِّهْرِ]۔ یعنی د مصاهرت (سخرانے) په وجه هم اوه قسمه زنانه حرام کړے شویدی۔ د نسب والا اُوه حرامے زنانه دا دی : (۱) مور، (۲) لور (۳) خور (٤) ترور (٥) خاله (٦) وریره، (۷) خورزهٔ۔ مصاهرة هغه رشتے او قرابت ته وائی چه د نکاح په ذریعه قائم وی چه هغے ته د "سخرګنۍ رشته" هم وائی۔

د مصاهرت په وجه چه کومے اُوه زنانه حرامے دی. د هغوی نه څلور همیشه دپاره حرامے دی او هغه دا دی : (۱) د ښځے مور (خواښے) (۲) د ځوی او نمسی ښځے، یعنی اینګوریانے۔ اګرکه هرڅومره لاندے وی۔ (۳) د پلار او نیکهٔ ښځے اګرکه هرڅومره پورته وی، (٤) د خپلے بی بی لور د کومے سره ئے چه جماع کړی وی۔

او د مصاهرت کومے درے زنانه چه همیشه دپاره حرامے نهٔ دی بلکه عارضی حرامے دی هغه دا دی : (۱) ښینے (د ښځے خور) (۲) د ښځے ترور۔ (۳) د ښځے خاله۔

او ابن عباس ﷺ د خپلے خبرے د دلیل په توګه د قرآن کریم دا آیت ولوستلو چه په دے آیت کښے اُوه رشتے د نسبی زنانو دی او د مصاهرت اکثرے پکښے ذکر دی۔ آیت دا دے : ﴿ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَاَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ، وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَاءِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا ﴾ [نساء : ۲۳]۔

آیا د خپلے ښځے د لور سره نکاح کول منع دی ؟

3182 (23) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" **أَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا وَإِنْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا فَلْيَنْكِحِ ابْنَتَهَا وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَنْكِحَ أُمَّهَا دَخَلَ أَوْ لَمْ يَدْخُلْ** ".

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ لَا يَصِحُّ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ إِنَّمَا رَوَاهُ ابْنُ لَهِيعَةَ وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ وَهُمَا يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه : او عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار نه هغه د خپل نیکهٔ نه روایت کوی چه

بیشکه رسول الله ﷺ وفرمایل : هر سړی چه یوه ښځه په نکاح واخستـه او د هغې سره ئې دخول وکړو نو هغـهٔ دپاره د هغې د لور سره نکاح حلاله نهٔ ده، او که د هغې سره ئې دخول نهٔ وی کړې نو د هغې لور سره نکاح کولې شي او هر یو سړې چه د یوې ښځې سره نکاح وکړی نو د هغهٔ دپاره دا حلال نهٔ دی چه د هغې د مور سره نکاح وکړی برابره ده چه د خپلې ښځې سره ئې دخول کړې وی یا ئې دخول نهٔ وی کړې۔ (ترمذیؒ روایت کړې او وئیلی ئې دی چه دا حدیث د اسناد په لحاظ سره صحیح نهٔ دې، دا ابن لهیعهؒ او مثنی بن صباح د عمرو بن شعیبؒ نه روایت کړې او هغه دواړه په حدیثو کښې ضعیف ګڼړلې شي)۔

تشریح : دا حدیث اګرکه سنداً ضعیف دې لیکن مسئله ئې د نورو احادیثو نه ثابته ده۔ پدې حدیث کښې دوه مسئلې دی، یو صراحةً او بله اشارةً۔

حکم الربیبة : (۱) یوه مسئلـه دا ده چـه پـدې حـدیث کښې دا ذکر شوه چه ربائب (پرکتې) سره نکاح کول حرام دی، (یعنی د ښځې لور چه د بل خاوند نه وی، او ښځې سره راغلې وی) برابره ده چه د خاوند په حِجر (تربیت او پرورش) کښې وی او که نهٔ۔ او دا مذهب د جمهورو علماؤ دې۔

(۲) او یوه ډله د علماؤ وائی چه پرکتې کله د خاوند په تربیت او پرورش کښې نهٔ وی نو د هغې سره نکاح کول جائز دی۔ (کله چه ښځه ئې مړه شي یا طلاق ورکړی)

او د اختلاف سبب دا دې چه په آیت کښې [فِيُ حُجُوُرِكُمُ] لفظ راغلې دې، جمهور وائی چه دا قید غالبی دې، او بعض وائی چه دا قید احترازی دې، او پدې کښې مفهوم مخالف لره اعتبار دې۔ او دا مذهب د عمر فاروق ؓ، علی بن ابی طالب ؓ دې۔ او حافظ ابن حزمؒ په محلی کښې ددې په کلکه تائید کړیدې۔

ابو عبیدؒ د عمر فاروق ؓ نه په صحیح سند سره راوړیدی چه هغهٔ یو سائل ته جواب ورکړو (سائل پوښتنه وکړه) چه یو تن د خپلې پرکتې لور په نکاح اخلی چه د هغې نیا ددهٔ په نکاح کښې وی او دغه لور ددهٔ په پرورش کښې نهٔ وی، نو آیا دا جائز ده؟، عمر فاروق ؓ وفرمایل : آؤ۔ (المحلی : ۹/۵۳۰، تاسیس الأحکام شرح عمدة الأحکام : ٤/١٤٠، البحر)

او عبد الرزاقؒ او ابن المنذرؒ د مالك بن اوسؓ روایت راوړې، هغه فرمائی : زما په نکاح کښې یوه ښځه وه چه زما ترې اولاد هم شوی وو، هغه مړه شوه نو زهٔ هغې پسې سخت

غمژن وم، نو د علی بن ابی طالب ﷺ سره ملاؤ شوم، ما ته ئے وویل : تا لره څه شویدی (چه داسے خفګان کښے ئے) ؟ ما ورته خبر ورکړو. نو هغهٔ وفرمایل : آیا د هغه ښځے لور شته ؟ یعنی ستا نه علاوه د بل خاوند نه. ما وویل : آؤ، وے فرمایل : آیا هغه ستا په تربیت او پرورش کښے وه ؟ ما وویل : نه، هغه په طائف کښے ده. وے فرمایل : هغے سره نکاح وکړه، ما وویل : بیا ددے آیت (وَرَبَائِبُكُمُ) څه مطلب دے؟ وے فرمایل : [إِنَّهَا لَمْ تَكُنْ فِيْ حِجْرِكَ] . هغه خو ستا په پرورش کښے نهٔ ده.[وتفسير ابن أبي حاتم وإسناده صحيح]. د جمهورو دپاره د [فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ]. (تاسو په ما باندے خپلے لونړه مهٔ پیش کوئ) نه دلیل نیولے شوے چه دلته ئے د حِجر (پرورش) خبره نهٔ ذکر کړے. معلومه شوه چه هرے لور سره نکاح حرامه ده.

حافظ ابن حجرؒ وائی : پدے دلیل کښے نظر دے ځکه چه مطلق حملیږی په مقیّد باندے. او که چرته اجماع حادث نهٔ وے او د مخالف نُدرت (کموالے) نهٔ وے نو دا قول د عمل کولو زیات قابل وو، ځکه چه قرآن کریم کښے د تحریم دوه شرطونه ذکر دی، یو دا چه پرکتهٔ به په پرورش د خاوند کښے وی. دویم دا به د هغه ښځے نه وی چه د هغے سره دے خاوند دخول کړے وی. نو د دواړو شرطونو نه د یو شرط په موجود والی باندے به تحریم نهٔ راځی. (د حافظ دا خبره چه اجماع حادث نهٔ وے) دا خبره ضعیف ده، ځکه چه پدے مسئله کښے اجماع نشته، عمر فاروق او علی ﷺ ئے خلاف دی) خلاصه دا چه د ابن حزمؒ مذهب د دلیل په اعتبار سره زیات قوی دے اګرکه احتیاط په قول د جمهورو کښے دے. والله اعلم بالصواب. تفصیل دپاره [البحر المحيط الثجاج شرح مسلم بن الحجاج : ٦٢٢/٢٥، المحلى لابن حزم : ٥٢٧/٩-٥٣٢] ته رجوع پکار ده.

دویمه مسئله : د حرمت مصاهرت : پدے حدیث کښے د حرمتِ مصاهرت مسئله اګرکه صراحةً نشته البته اشارةً شته نو هغه دلته مختصراً بیانیږی : حرمتِ مصاهرت دیته وائی چه په زنا سره حرمت راشی. یعنی یو تن د یوے زنانه سره زنا وکړی نو آیا د هغے مور یا خور یا لور سره نکاح جائز ده او که نهٔ؟ ،

نو ددے په باره کښے دوه قوله دی : (۱) د احنافو او حنابله ؤ مذهب دا دے چه په زنا سره حرمت راځی او دا مذهب ابوحنیفهؒ، اوزاعیؒ، سفیان الثوریؒ او احمد بن حنبلؒ ته منسوب دے. ځکه چه علت پکښے جزئیت دے، او جزء نه نکاحی فائده اخستل حرام

دی۔ او پدې کښې د تابعینو اقوال هم شته لکه سعید بن المسیبؒ، عروهؒ، زهریؒ او شعبیؒ رائې ده چه پدې سره حرمت راځی۔ او دا د عمران بن حصین ﷺ او جابر بن زیدؒ او حسنؒ نه نقل دی۔ (بخاریؒ)

بیا پکښې په فقه حنفی کښې دا خبره هم ذکر شوې ده چه چا د خپلې ښځې د خور (ښینې) فرج ته وکتل یا ئې ښینې ته په شهوت سره لاس ور وړو، یا ئې په شهوت سره په هغې باندې چك ولګولو، یا ئې هغه په شهوت سره ښکل کړه، یا ئې غاړه ورکړه نو په دۀ باندې خپله ښځه حرامه شوه۔ (در مختار، مظاهر حق) دا یې دلیله خبرې دی۔

(۲) قول : مالكؒ، شافعیؒ او ابوثورؒ وغیره وائی چه په زنا سره حرمت نۀ راځی او دا د علی بن ابی طالب ﷺ او ابن عباس ﷺ فتویٰ هم ده چه : [إِذَا زَنَى بِأُخْتِ امْرَأَتِهِ لَمْ تَحْرُمْ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ] کله چه یو تن د خپلې ښځې د خور (ښینې) سره زنا وکړی نو ښځه پرې نۀ حرامیږی۔ نو په زنا سره حرمت نۀ راځی۔ (بخاری ترجمة الباب: [بَابُ مَا يَحِلُّ مِنَ النِّسَاءِ وَمَا يَحْرُمُ رقم : ٢٥] ۔ نو کومې ښځې سره چه زنا وشوه د هغې مور هم او د هغې لور هم په نکاح اخستې شی۔ تردې چه امام شافعیؒ دا هم وئیلی دی چه کومه لور د زنا نه پیدا شوی وی د هغې سره هم نکاح جائز ده (نوویؒ) (فتح المنعم)۔

امام بخاریؒ د ابو هریره ﷺ دا قول ذکر کړې : [لَا تَحْرُمُ حَتَّى يُلْزِقَ بِالْأَرْضِ] ۔ یعنی په سړی باندې نۀ حرامیږی تردې چه زمکې سره ئې پیوسته کړی (یعنی جماع ورسره وکړی) یعنی د جماع نه بغیر په تقبیل وغیره سره حرمت نۀ راځی بلکه په جماع سره به راځی۔ [الکوثر الجاری الی ریاض احادیث البخاری : ٤٥١/٨]

ددې قول والو دپاره **دلیل** : حدیث : [لَا يُحَرِّمُ الْحَرَامُ الْحَلَالَ] ۔ [ابن ماجه: ٢٠١٥] (حرام حلال لره نۀ حراموی)۔ دې روایت ته اکثرو علماؤ ضعیف وئیلی لکه شیخ البانیؒ وغیره، ځکه په سند کښې ئې عبد الله بن عمر العمری المکبرؒ ضعیف دی، لیکن ددې شواهد شته چه هغه دارقطنیؒ رقم (٣٦٧٩) ذکر کړی۔ په هغې کښې (اسحاق بن محمد الفرویؒ صدوق سیء الحفظ) راوی دی، نو ظاهر دا ده چه دا حدیث حسن درجه کښې دی، علامه محمد الامین الارمی الهرری الاثیوبیؒ ورته په شرح د ابن ماجه کښې حسن وئیلی د وجې د شواهدو نه۔ [مرشد ذوی الحجا و الحاجة الی سنن ابن ماجه : ٥٠٢/١١]۔

بل دلیل دا دی چه په تحریم باندې هیڅ دلیل نشته۔ لهذا خبره به په خپل اصل

باندې پاتې وي۔ کـه چرې دا په شریعت کښې حرامه وې نو الله او د هغهٔ رسول به منع کړې وې۔ والله اعلم وعلمه اتم واحکم وفضله عم وجم۔ وبالله التوفیق۔

درجة الحديث :[حسن لشواهده وهذا اسناد ضعيف] الترمذی : ۱۱۱۷، وقال لا يصح مر قبل اسناده وانما رواه ابن لهيعة والمثنى الصباح عن عمرو بن شعيب وهما يضعفان فى الحديث ـ قال الالبانى : ويشبه ان ابن لهيعة اخذه عن المثنى ثم اسقطه ولذلك ضعف الحديث جماعة ذكرتهم فى الارواء (۱۸۷۹).

۵- باب المباشرة

د مباشرت بیان۔

د نکاح د متعلقاتو او د ښځې او خاوند د حقوقو نه یو حق مباشرت دې، هغې په باره کښې احادیث راوړی۔

د مباشرت دوه اطلاقه دی : (۱) بدن د بدن سره یو ځائې کیدل۔ (۲) جماع۔ او دلته هم دا معنیٰ مراد ده۔ او دا ادبی الفاظ دی۔ پدې باب کښې د مباشرت متعلق لږ آداب او ډیر احکام ذکر کوی۔

الفصل الأول

د مباشرت په باره کښې د یهودیانو د یو غلط خیال رد کول

3183 (1) – عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : كَانَتِ الْيَهُوْدُ تَقُوْلُ : إِذَا أَتَى الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ مِنْ دُبُرِهَا فِيْ قُبُلِهَا، كَانَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ . فَنَزَلَتْ : (نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ أَنّٰى شِئْتُمْ ......) الآية (البقرة : ۲۲۳) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : جابر ﷺ نه روایت دې چه یهودو به وئیل : کله چه سړې خپلې ښځې سره د هغې د شا طرف نه د هغې په مخې طرف (د تشې متیازو په ځائې) کښې جماع وکړی۔ نو بچې کوږ سترګې پیدا کیږی، نو (د دوئددې خبرې د رد دپاره) دا آیت نازل شو : ستاسو

ښځې ستاسو پټې دې نو څنګه چه تاسو غواړئ خپل پټې ته راتګ کوئ. (بخاريؒ، مسلمؒ).

تشريح : [مِنۡ دُبُرِهَا] د هغې د شا طرف نه. [أَحۡوَل] کوږ سترګے. د حَوَل نه دے، د سترګے په سپينوالی يا تورروالی کښے ميلان او کږيدو ته وائی. [حَرۡثٌ لَّكُمۡ] حَرَثَ يَحۡرُثُ، د فصل کرلو دپاره زمکے اړول او پټی ته وائی، يعنی ستاسو دپاره د فصل کرلو ځائے دے. او په ښځه کښے د فصل ځائے فطری لحاظ سره الله تعالیٰ مقرر کړے، تردے چه حيوانات، څاروی او ښکارنده وحشی ځناور هم د دغه لارے او سوری نه علاوه بل ځائے نۀ پيژنی، ځکه خو حيوانی خِلقت په زمکه باندے وخت په وخت زياتيږی. ﴿ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡ ﴾ د کوم ځائے نه چه ورته راځئ يعنی د کوم خوا نه چه تاسو د فصل دغه ځائے استعمالوئ نو جائز دی.

فوائد : (۱) حديث نه ثابته شوه چه ښځے سره په هره طريقه جماع کول جائز دی ترڅو چه جماع په مخکنی اندام کښے وی. د مخکښے طرف نه، د شا له طرف نه، ستونے ستاق، په اړخ باندے او د هرے خوا نه راتلل جائز دی. او ددے حديث نه معلومه شوه چه د ﴿ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡ ﴾ معنیٰ داده چه د ښځے مخکنے اندام تاسو په هر ډول استعمالولے شئ. او دا معنیٰ ئے نۀ ده چه د ښځے هر اندام استعمالولے شئ، دے دپاره چه د هغے دُبر استعمالول هم جائز وګرځول شی، ځکه د سبب نزول نه معلومه شوه چه مراد صرف مخکنے اندام دے. او راتلونکی حديثونو کښے د دُبُر د استعمال سخت وعيدونه ذکر دی.

(۲) او حديث نه د يهوديانو د عقيدے بطلان او دروغژن کيدل معلوم شو چه د دوئ دا خيال وو چه کله سړے د خپلے ښځے سره په مخکنی اندام کښے د شا طرف نه جماع وکړی، نو کوم ماشوم چه ددے جماع نه پيدا کيږی هغه به کوږ سترګے وی. نو حديث نه ددے بطلان معلوم شو چه دا کار د ماشوم په شکل او صورت باندے هيڅ اثر نۀ غورزوی، او د سړی دپاره په هره طريقه ښځه استعمالول جائز دی. په دے باب کښے د ځانه پال پرهيز لګول ډوزه او ډکوسله ده.

(۳) د اسلام سماحت او سخاوت او آسانوالے معلوم شو چه داسے بهترين دين دے چه خپلو منونکو ته ئے د جائزو خواهشاتو پوره کولو مختلفے طريقے جائز کړے. او د

ضرري کارونو نه ئې د دوئ دپاره حفاظتي حکمونه کړي. واقعي چه اسلام انسان لره د ژوندگئ نه صحیح انسانیت ته راوباسي.

(٤) او په ﴿حَرْثٌ لَّكُمْ﴾ کښې اشاره ده چه د جماع واك او اختيار د خاوند په لاس کښې دے، لکه څنګه چه د فصل اوبۀ کولو واك او اختيار د زميدار په لاس کښې دے. دا وجه ده چه کله خاوند خپله ښځه د جماع دپاره راوغواړي او هغه رانشي نو تر صبا پورے پرے ملائك لعنت وائي، ليکن که ښځه د خاوند نه مطالبه وکړي، نو بيا دغه مذکوره عذاب نشته البته که په دے وخت کښې ورسره جماع ونۀ کړي او د هغے رغبت پوره نۀ کړي، نو دابه د هغے حق ضائع کول وي، او په دے کښې به د هغے په بد اخلاقئ او فساد کښې د واقع کيدو خطره وي. دے وجے نه زميندار له هم پکار دي چه خپل فصل وخت په وخت اوبۀ کوي او وچيدو ته ئې نۀ پريدي، بلکه سرسبز او شاداب ئې وساتي. دا قرآني اشارات او تشبيهات دي چه لرے دعوت ورکوي. والله تعالیٰ اعلم.

د عزل مسئله

3184 (2) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . وَزادَ مُسْلِمٌ : فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ ﷺ، فَلَمْ يَنْهَنَا.

ترجمه : جابر ﷺ نه روايت دے چه مونږ به د نبي ﷺ په زمانه کښې عزل کولو او قرآن نازليدلو. (بخاري، مسلم)، او په مسلم کښې دي چه دا خبره د الله نبي ﷺ ته ورسيده نو هغوئ مونږه ددے نه منع نۀ کړو.

تشريح : [نَعْزِلُ]. عزل : په عين موقعه کښې خپل اندام بهر کول او نطفه بهر غورزولو ته وئيلے شي. [وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ] يعني دا زمانه د نزول د قرآن وه، نو که چرے عزل حرام وے نو خامخا به قرآن ددے نه منع کړے وے. لکه دا الفاظ ورسره په بل روايت کښې راغلي دي. او مطلب د دواړو روايتونو دا شو چه عزل په قرآن او په حديث دواړو سره جائز دے.

فوائد الحديث : (۱) دے راتلونکو پنځو حديثونو کښې د عزل مسئله بيانيږي. دلته دا خبره زده کول پکار دي چه يو عزل دے او بله منصوبه بندي. بعض علماء دواړه يو شے ګڼري، ليکن حقيقت دا دے چه دواړو ترمينځ ډير فرق دے، عزل سره د بچي پيدا

کیدو احتمال هم وی، او منصوبه بندئ کښې داسې اَدویه (دوائیانې) استعمالوی چه نطفه رَحِم ته نهٔ پریدی نو د بچی د پیدا کیدو احتمال نهٔ وی، نو دا استدلال د اعلیٰ دے په ادنیٰ سره چه صحیح نهٔ دے۔ دارنګه په عزل کښې همیشه دپاره اولاد بندول نهٔ وی او په منصوبه بندئ کښې همیشه دپاره وی۔

(۲) **مسئله : اختلاف دے چه عزل جائز دے او که نهٔ؟** دوه قوله دی : (۱) جمهور اهل علم وائی چه عزل کول جائز دی، ځکه که عزل کول حرام وے او نبی کریم ﷺ په دے خبر شوے هم نهٔ وے نو دا زمانه چونکه د قرآن د نزول زمانه وه نو خامخا به قرآن کریم ددے نه منع فرمائیلے وے۔ او دا روستنی احادیث ئے دلیل دے۔ ددے نه د اصولیانو دا قاعده معلومه شوه چه کوم شے د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې شوے وی او نبی ﷺ په هغے خبر شوے نهٔ وی، نو دا به حجت او دلیل وی۔ او دلته د مسلمؒ په روایت کښې خو د عزل په باره کښې صفا راغلی چه نبی ﷺ په دے خبر شو او هغوئ صحابه کرام ﷺ ددے کار نه منع نهٔ کړل۔ د لسو صحابه کرامو ﷺ نه نقل دی چه هغوئ په عزل کښې اجازه ورکړے او په دے کښې ئے هیڅ باك نهٔ دے ګنړلے، د هغوئ نه د ځینو نومونه دادی : سعد بن ابی وقاص، ابو ایوب انصاری، زید بن ثابت، ابن عباس ﷺ او نور۔ [سنن کبری للبیهقی: ۷/۲۳۰، تهذیب مختصر السنن: ۳/۸۵، زاد المعاد: ۵/۱۴۲]

البته دے علماؤ د عزل د جواز دپاره دا شرط لګولے چه د اصیلے ښځے نه به د هغے د اجازت نه بغیر عزل نهٔ کوی، ځکه چه د بچی په پیدا کیدو کښې د هغے حق هم شته۔ دارنګه جماع هم د هغے حق دے، او په عزل سره هغه د جماع د پوره خوند او مزے نه محرومیږی نو د هغے نه به اجازه غوښتل ضروری وی۔

(۲) د ابن حزمؒ او د علماؤ د یوے ډلے رائے داده چه عزل کول حرام دی، او دوئ د راتلونکی حدیث د جدامه بنت وهب ﷺ نه دلیل نیسی چه نبی ﷺ عزل ته وأد خفی (ماشوم ژوندے خخول) وئیلے دے۔ لیکن جمهورو د هغے نه جوابونه ورکړی : (۱) یو **جواب** دا چه هغه حدیث اګرکه صحیح دے لیکن محمول دے په هغه چا باندے چه د تقدیر په مقابله کښې عزل کوی او دا حقیقی مؤثر ګنړی۔ یا د هغه چا په باره کښې دے چه اولاد بد ګنړی پدے عقیده چه دوئ ته به رزق او نفقه څوك ورکوی او چه کله د ظاهری اسبابو په نیت باندے عزل اُوشی نو جواز لری، خصوصاً چه کله پکښې نیت دا

وی چه د نور اولاد تربیت وشی، د هغوی د صحت لحاظ وساتلے شی، ځکه چه زر زر بچو راوړو سره ښځے او بچو ته تکلیف وی، بچی صحتمند نۀ وی. لهذا د وأد خفی نه صراحةً منع نۀ معلومیږی، ځکه چه عزل حقیقةً ژوندی ښخول نۀ دی، بلکه دیته د عزل کونکی د نیت او قصد په وجه ژوندی ښخول ویل شوی. په خلاف د حقیقی وأد نه چه په هغے کښے نیت او قصد هم وی، او ورسره په عملی توګه وژل هم وی. که چرے عزل حقیقةً قتل وے نو دا خو به بیا کبیره ګناه وے. حالانکه داسے نۀ ده. نو ظاهره داده چه عزل ته په دے وجه وأدِ خفی ویل شوی چه ددے نه خلك نفرت وکړی. او دا مطلب نۀ دے چه ګنے عزل کول حرام دی. بلکه د ضرورت په وجه جائز دے.

(۲) **جواب** : صحیح حدیثونه ددے په خلاف ثابت شوی او هغه ښکاره حدیثونه دی لکه د جابر ﷜ دا حدیث شو. بله دا چه : یو شمیر صحابه کرامو ﷡ په دے کار کښے رخصت ورکړے. (۳) جواب : او یا به داسے ووایو چه په اوله کښے عزل حرام وو، بیا د اباحت په حدیثونو سره ددے حرمت منسوخ شو، لکه د ابو سعید خدری ﷜ او جابر ﷜ حدیثونه. دے وجے نه عزل کول جائز دی.

راجح قول دادے چه عزل کول جائز دی، پاتے شو په دے نیت باندے عزل کول یا حمل منع کونکے دوائی استعمالول چه که ماشومان ډیر شی نو بیا به خوراك ورکول ګران شی او غریبی به زیاته شی او یا د آبادئ د زیاتوالی نه یریږی او یا د بچو د ذمه وارئ نه یا ددے پشان بل یو کمزوری سبب په وجه د ماشومانو د پیدا کیدو نه یریږی : نو بیا دا کار شرعًا جائز نۀ دے، بلکه دا د اسلامی امت د دشمنانو مکر او فریب دے، هغوئ همیشه دا کوشش کوی چه د اسلامی اُمت افرادی قوت ختم کړی او د دوئ په ملکونو او املاکو قبضه واچوی، او د دوئ افراد غلامان جوړ کړی. لکه یوربی ممالك همیشه دپاره د مسلمانانو ملکونو سره دا چل کړے او کوی ئے.

بل په دے کار کښے په الله تعالیٰ بدګمانی هم ده او د جاهلیت والو سره مشابهت دے. حالانکه رسول الله ﷺ خو د ډیر نسل راوړونکے ښځے سره وادهٔ کولو ته ترغیب ورکړے. او کوم قوم چه اجتماعی، فردی، اقتصادی او حربی لحاظ سره مضبوط وی نو د هغے نه دشمن یریږی. والله تعالیٰ اعلم.

3185 (3) – وَعَنْهُ ﷜ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا أَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : " إِنَّ

لِيْ جَارِيَةً هِيَ خَادِمَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ فَقَالَ : " **اِعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا** ". فَلَبِثَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ : إِنَّ الْجَارِيَةَ قَدْ حَبِلَتْ فَقَالَ : " **قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جابر ﷛ فرمائي : يقيناً يو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو : يقيناً زما يوه وينځه ده چه هغه زمونږ خدمتګاره ده او زهٔ د هغے سره نزديکت کوم او بده ګڼړم چه هغه حمل واخلي، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : د هغے نه عزل وکړه که تهٔ غواړے، ځکه چه ديته به ضرور هغه شے راځي کوم چه دے له مقرر شوے وي، نو سړي څه وخت تير کړو بيا ورته راغلو، عرض ئے وکړو : هغه وينځے (خو) حمل اخستے دے، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل : ما تا ته وئيلي وو چه دے ته به خامخا هغه شے راځي کوم چه دے له مقرر وي. (مسلمؒ)

تشريح : [جَارِيَةً] عزل په دوه قسمه دے يو د آزادے ښځے نه دے، او دويم د اَمے نه دے نو د وينځے نه د هغے د اجازت نه بغير عزل جائز دے، د هغے اجازت ضروري نهٔ دے، ځکه د هغے نهٔ په اولاد کښے حق شته او نهٔ په جماع کښے، او هرچه حُرّه ده نو د هغے رضا ضروري ده لکه مخکښے تير شو. [أَطُوفُ عَلَيْهَا] يعني زهٔ هغے ته ورځم راځم دپاره د جماع کولو. [وَأَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ] يعني دا بده ګڼړم چه دا وينځه حمل واخلي ځکه چه بيا به په خپل بچي باندے مشغوله شي او زمونږ خدمت ته به نهٔ وزګارېږي.

[سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا] دا ورته نبي ﷺ پيشنګوئي وکړه چه دے دپاره کومه نطفه مقرره وي، او کوم بچے او کومه برخه چه مقرره وي هغه به ورته راځي. ددے نه معلومېږي چه د عزل سره هم حمل پيدا کيدلے شي. او عزل حقيقي سبب د عدم اولاد نهٔ دے. [حَبِلَتْ] د حاء زور او د باء زير دے، حَبَلٌ په معنیٰ د حمل سره دے.

3186 (4) – وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷛ قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَصَبْنَا سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فَاشْتَهَيْنَا النِّسَاءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَأَحْبَبْنَا الْعَزْلَ فَأَرَدْنَا أَنْ نَعْزِلَ وَقُلْنَا: نَعْزِلُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ ؟ فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ : " **مَا عَلَيْكُمْ أَلَّا تَفْعَلُوْا مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ إِلَّا وَهِيَ كَائِنَةٌ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو سعید خدری ﷛ فرمائی : مونږ د رسول الله ﷺ سره د بنی مُصطلق غزا ته راووتو نو مونږ د عربو د قیدیانو نه څه قیدیان (وینځې او غلامان) ونیول او زمونږ ښځې ته شوق راغلو (ځکه) چه په مونږ باندې بې ښځې کیدل ګران شوی وو او مونږ (د هغوی نه) عزل کول غوښتل نو مونږ اراده وکړه چه عزل وکړو، بیا مو وویل : مونږ به عزل کوو حال دا چه رسول الله ﷺ زمونږ ترمینځ موجود دے او لا تپوس مو ترې نۀ دے کړے؟ نو مونږ د هغۀ نه ددے په باره کښې پوښتنه وکړه نو هغۀ وفرمایل : تاسو باندې هیڅ ضرر نشته که دا کار ونکړئ، (ځکه چه) نشته یو نفس چه تر قیامته پورې پیدا کیدونکے وی مګر هغه به پیدا کیږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [سَبْيًا مِنْ سَبْيِ الْعَرَبِ] امام نوویؒ وائی چه ددے نه دا ثابتیږی چه په عربو کښې هم رق (غلامی) راتللے شی کله چه هغوی مشرکان وی۔ یعنی لکه څنګه چه غیر عرب مشرکان او کافران چه په جنګ کښې ونیولے شی نو د هغې نه روستو د سړی او زنانه غلامان او وینځې جوړیدے شی، دغه شان مشرکان عرب هم غلامان اووینځې کیدے شی۔ امام ابو حنیفهؒ وائی چه عربو ته الله تعالیٰ خاص شرافت ورکړے نو د هغوی غلامی نشی کیدے، آه۔ او دا وائی چه د عربو عذر نشته چه اسلام نۀ راوړی ځکه چه د دوئ په ژبه نبی او قرآن کریم راغلے دے نو د دوئ دپاره اِمَّا الاسلام وَاِمَّا السیف دے۔ یعنی یا به اسلام قبلوی یا به وژلے شی۔ لیکن دا خبره د احادیثو خلاف ده۔ اول قول صحیح دے او دا حدیث ئے دلیل دے۔

دارنګه په حنین کښې رسول الله ﷺ د ثقیف او هوازن قبیلې زنانه وینځې کړے وے لیکن بیا د هغوی اهل په سوال او سفارش باندې هغوی ته پریخودے شول۔

[الْعُزْبَةُ] عُزبة په لغت کښې جدائی او وړاندے والی ته وائی، او په عرف کښې بے نکاحئ او د ښځې نه جدائی ته وائی۔ دلته ئے معنیٰ ده : مجرّد پاتے کیدل، د ښځې نه لرے کیدل۔

[مَا عَلَيْكُمْ اَنْ لَّا تَفْعَلُوْا]۔ د (اَنْ) په زور سره، اَنْ مصدریه دے او (لا) زائد دے، [اَیْ مَا عَلَیْکُمُ الْفِعْلُ اَیْ لَا بَأْسَ عَلَيْكُمْ فِیْ فِعْلِ الْعَزْلِ]۔ په تاسو باندې په (عزل) کولو کښې هیڅ ضرر نشته۔ نو پدے کښې اجازه د عزل شوه۔

(۲) بعض وائی : پدے کښې نهی مقصد ده، یعنی دا کار مۀ کوئ۔ (قاله حسنؒ ومحمدؒ بن المثنی، نقله القرطبیؒ فی المفهم)۔ (۳) دارنګه اَنْ باندے زیر هم جائز دے چه (اِن)

شرطيه شي او (لا) زائد دے۔ [اَیُ مَا عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اِنْ تَفْعَلُوْا هٰذَا الْفِعْلَ]۔ په تاسو هيڅ ګناه نشته که دا كار كوئ۔ نو پدے كښې هم د عزل اباحت شو۔ (٤) يا لا په خپله معنىٰ دے، [اَیُ لَيْسَ عَدَمُ الْفِعْلِ وَاجِبًا عَلَيْكُمْ وَاَمَّا الْفِعْلُ فَهُوَ مُبَاحٌ]۔ يعنى ددے كار نۀ كول لازم نۀ دى او هرچه كول دى نو هغه مباح دى۔ (امكان عام مقيد بجانب العدم دے) يا داسے تعبير دے، امام نوویؒ فرمائی : [لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ (وَضَرَرٌ) فِیْ اَنْ لَّا تَفْعَلُوْا اَیُ فِیْ تَرْكِ الْعَزْلِ] آه۔ يعنى په تاسو باندے په عزل نۀ كولو كښې ګناه نشته او هرچه كول دى نو په هغے كښې هم ګناه نشته، نو دا د امكان خاص په شان دے چه سلب د ضرورت په كښې د جانبينو نه دے۔ او دا احتمال غوره دے ځكه چه روستو الفاظ : (مَا مِنْ نَسَمَةٍ) ئے تائيد كوى۔ يعنى عزل كول او نۀ كول دواړو كښې څه تاثير نشته، الله تعالىٰ چه كوم نفس پيدا كول غواړى نو هغه به پيدا كيږى۔

[وَهِیَ كَائِنَةٌ]۔ يعنى هغه به موجوديږى۔

3187 (5) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ :" مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُوْنُ الْوَلَدُ وَاِذَا اَرَادَ اللّٰهُ خَلْقَ شَیْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَیْءٌ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو سعيد خدرى ﷺ فرمائى : د رسول الله ﷺ نه د عزل په باره كښې پوښتنه وشوه (چه دا جائز دے او كه نه؟) نو وے فرمايل : د ټولو اُوبو (نطفے) نه بچے نۀ پيدا كيږى، او هركله چه الله تعالىٰ د يو شى د پيدا كولو اراده وكړى نو هيڅ شے هغه نشى منع كولے۔ (مسلمؒ)

تشريح : [مَا مِنْ] دا په اصل كښې داسے دے : [مَا يَكُوْنُ الْوَلَدُ مِنْ كُلِّ الْمَاءِ] يعنى بچے د ټولو اُوبو (نطفے) نه نۀ پيدا كيږى بلكه د يو څاڅكى نه پيدا كيږى۔

[كُلِّ الْمَاءِ] دا دليل دے چه د عزل سره كه د منى معمولى قطره رَحِم ته ورسيږى، هم امكان د اولادو شته، نو په عدم ولد كښې عزل حقيقى مؤثر نۀ دے۔

[خَلْقَ شَیْءٍ] يعنى كله چه الله تعالىٰ د يو شى يعنى اولادو اراده وكړى نو هيڅ شے او كارئے نشى منع كولے۔ خو دا خبره هله ده چه كله اسباب موجود شى لكه رَحِم ته منى ورسيږى، او كله چه اسباب نۀ وى نو د الله تعالىٰ عادت جارى دے چه بيا خلق نۀ كوى لكه د باكرے جينئ بغير د وادۀ نه اولاد نۀ پيدا كيږى۔

3188 (6) – وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِیْ وَقَّاصٍ ﷺ : أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : إِنِّیْ أَعْزِلُ عَنِ امْرَأَتِیْ . فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : "**لِمَ تَفْعَلُ ذٰلِكَ؟**" فَقَالَ الرَّجُلُ : أُشْفِقُ عَلٰی وَلَدِهَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : "**لَوْ كَانَ ذٰلِكَ ضَارًّا ضَرَّ فَارِسَ وَالرُّوْمَ**". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سعد بن ابی وقاص ﷺ نه روایت دے چه یو سړی رسول الله ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو : زۀ د خپلے بی بی نه عزل کوم. رسول الله ﷺ هغۀ ته وفرمایل : تۀ ولے دا کار کوے ؟ هغه سړی وویل : زۀ ددے په بچی باندے یریږم. (چه که چرته په موده د رضاعت کښے ددے حمل وشی نو پدے حالت کښے به بچی ته د پیوو خوړل نقصان ورکړی) نو رسول الله ﷺ وفرمایل : که دے کار چرته ضرر ورکولے نو فارس او روم والو ته به ئے ضرر ورکړے وے. (مسلمؒ)

تشریح : [اَعْزِلُ عَنِ امْرَأَتِیْ] مقصد ئے دا وو چه زما ښځه یو بچی له تے ورکوی او پدے حالت کښے زۀ د هغے نه عزل کوم آیا دا کار به جائز وی؟ او دیته په روستو حدیث کښے غیله وئیل شوے. [أُشْفِقُ عَلٰی وَلَدِهَا] ددے درے معانی دی : (۱) زۀ ددے په بچی باندے یریږم ځکه چه په عربو کښے دا مشهوره ده چه دا کار تے رودونکی ماشوم ته ضرر ورکوی او دغه پئ چه کله ماشوم وخوری نو دا بیماری ده چه پدے سره ماشوم کمزورے کیږی او بیماریږی نو په هغۀ باندے د خوار والی او بیماریٔ نه یریدو. (البحر المحیط الثجاج) (۲) صاحب المفهم داسے معنیٰ کوی : یعنی که عزل ونکړم نو اولاد به ئے پیدا شی، بیا به ددے نور اولاد ته ضرر ورسیږی.

(۳) یا دا چه که حمل واخلی نو ددے په وجه به د بچی دپاره پئ خراب شی. (المفهم) ځکه چه عربو کښے دا مشهوره وه چه کله ښځه حمل واخلی نو تی رودونکی ماشوم ته د هغے پئ ضرر ورکوی، هغه کمزورے کیږی او بیماریږی.

[لَوْ كَانَ ذٰلِكَ] [اَیْ لَوْ كَانَ الْجِمَاعُ حَالَ الرِّضَاعِ اَوِ الْاِرْضَاعُ حَالَ الْحَمْلِ]

که چرته جماع په حالت د تی ورکولو کښے یا تے ورکول په حالت د حمل کښے ضرر ورکولے نو د روم او فارس والا خلکو ته به ئے ورکړے وے.

[ضَرَّ فَارِسَ] - یعنی دا کار فارس او روم والا کوی، او هغوی ته پدے کښے هیڅ ضرر نۀ

رسیږی، او هرکله چه دا هغوی ته نقصان نۀ ورکوی نو معلومه شوه چه په موده د رضاعت کښې حمل جوړیدل نقصان نۀ ورکوی۔ لهذا د عزل هیڅ فائده نشته او د حمل د انختو په یره سره عزل مۀ کوه۔ گویا که پدے کښې د عزل کراهت او نا پسندیدگئ ته اشاره کوی۔ خاصکر په دغه مذکوره نیت سره۔

[الرُّوْمِ] یو لوئے جماعت چه په خپله زمانه کښې ډیر زیات قوت او کثرت والا وو۔ دا (رمولوس) ته منسوب دی چه هغه د (روما) بانی دے۔ کله چه اسلامی فتوحات فراخه شول نو د دوئ زیاتره ښارونه ئے ونیول۔ بعض وائی : دوئ روم بن عیصو بن اسحاق علیه السلام ته منسوب دی۔ [وَفَارِسَ] دا یو لوی او قوی امت دے چه د عربو نه ماوراء النهر طرفته واقع دی۔ فارس نۀ پلار دے، نۀ مور، بلکه دا د تَغْلِب قبیلے مختلف خلك دی چه پدے نوم ئے اتفاق کړے۔ (البحر المحیط الثجاج)

ددے باقی مسائل روستو روایت کښې راځی خو دلته صرف دا فائده یاده کړه چه اسباب په یو څو قسمه دی : (١) یقینی اسباب : لکه زهر، تمانچه، توپك، چاړۀ وغیره نو ددے نه ځان ساتل ضروری دی۔ (٢) ظنی اسباب : هغه اسباب چه د ظن په درجه کښې وی چه یا به ورسره بنده ښۀ کیږی یا خرابیږی لکه بعض دوایانو سره ښه کیږی او بعض موادو سره خرابیږی۔ (٣) هغه اسباب چه په هغے باندے مرجوح گمان وی نو د هغے نه ځان ساتل ضروری نۀ وی بلکه دا د وسوسے په درجه کښې وی بلکه په هغه وخت کښې به توکل علی الله کوی لکه وهمی جراثیم وغیره نو پدے حدیث کښې دریم قسم اسباب ذکر دی او د عزل حرمت پکښې نۀ شته۔

3189 (7) – وَعَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ رضي الله عنها قَالَتْ : حَضَرْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فِيْ أُنَاسٍ، وَهُوَ يَقُوْلُ: لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهٰى عَنِ الْغِيْلَةِ، فَنَظَرْتُ فِي الرُّوْمِ وَفَارِسَ، فَإِذَا هُمْ يُغِيْلُوْنَ أَوْلَادَهُمْ، فَلَا يَضُرُّ ذٰلِكَ أَوْلَادَهُمْ شَيْئًا. ثُمَّ سَأَلُوْهُ عَنِ الْعَزْلِ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم : **ذٰلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ وَهِيَ (وَإِذَا الْمَوْؤُدَةُ سُئِلَتْ)**. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : جُدامه بنت وهب رضي الله عنها نه روایت دے چه زۀ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضره شوم، (دا وخت) نبی صلى الله عليه وسلم په خلکو کښې ناست وو او دا ئے فرمایل : یقینًا ما د غیلے نه (ماشوم له د تی ورکولو په موده کښې د جماع کولو نه) د منع کولو اراده کړے

لیکن ما چه روم او فارس والو ته وکتل چه هغوئ اولاد ته د پئ ورکولو په موده کښې جماع کوی او دا کار د هغوئ بچو ته هیڅ نقصان نهٔ ورکوی (دے وجے نه زهٔ ددے نه د منع کولو نه منع شوم) بیا خلکو د نبی ﷺ نه د عزل په باره کښې پوښتنه وکړه نو نبی ﷺ وفرمایل : دا په پټه توګه ژوندی خخول دی۔ (مسلمؒ)۔

تعارف د جُدامهرضي الله عنها : په تقریب کښې دی چه د جدامه بنت وهب رضي الله عنها په باره کښې دا هم ویل شوی چه دا جدامه بنت جندل ده۔ د اَسد قبیلے نه ده نو ځکه ورته اسدیه ویل کیږی۔ د عکاشه بن محصن رضي الله عنه مور شریکه خور ده۔ مشهوره صحابیه ده۔ د سابقینو نه ده۔ د هجرت په شرافت سره مشرفه ده۔ امام دارقطنیؒ فرمائی : څوك چه دا په ذال سره (جذامه) لولی نو دا غلطی ده۔ (تقریب التهذیب) په مکه کښې د اسلام په دائره کښې داخله شوه۔ خپل قوم ئے پریښودهٔ۔ د انس بن قتاده رضي الله عنه بی بی ده۔

تشریح : [هَمَمْتُ] هَمّ د یو شئ اراده کول او بیا هغه نهٔ کول۔ [الْغِيْلَةِ] د عین زیر دے په دے لفظ کښې د ضرر او هلاك معنیٰ پرته ده بیا ئے دلته دوه مطلبه دی : (۱) په داسے حال کښې ښځے سره جماع کول چه ماشوم له تے ورکوی۔ نو د منع وجه به دا وی چه پدے وخت کښې جماع کولو سره د ښځے پئ خرابیږی۔ (۲) یا د حمل په زمانه کښې ماشوم له تے ورکول۔ نو پدے معنیٰ سره د منع وجه ظاهره ده ځکه د حاملے ښځے پئ بیماری ده او په دے سره د ماشوم خیټه خرابیږی۔ او دا د عربو عقیده هم وه او اهل طب هم وائی چه داسے پئ بیماری ده۔ دلته د نبی کریم ﷺ مراد اولنئ معنیٰ ده، او هر چه دویمه معنیٰ ده نو دا خو د عربو په نیز معلومه ده۔ [المفهم : ٤/١٧٤]۔

[يُغِيْلُوْنَ] د ماشوم د مور سره په داسے حال کښې جماع کوی چه هغه ماشوم له پئ ورکوی۔

فائده : باجیؒ وائی : شاید چه غِیله شاذ او نادر ضرر ورکوی، پدے وجه ئے د هغے نه منع ونکړه دے دپاره چه په هغه چا باندے نرمی او شفقت وکړی چه د هغهٔ یوه زوجه وی۔

[سَأَلُوْهُ عن الْعَزْلِ] صحابه کرامو رضي الله عنهم دا سوال په دے وجه وکړو چه دوئ سره دا خطره پیدا شوه چه هسے نهٔ دا (عزل) ناجائز وی ځکه په دے کار سره نسل قطع کیږی۔ [الْوَأْدُ الْخَفِيُّ] وأد ژوندئ جینئ په خاورو کښې خخولو ته وائی۔ د جاهلیت په زمانه کښې د

غربو دا رواج وو چه هغوئ کره به چینئ پیدا شوه نو کله به ئے د لوړے د ویرے په وجه اوکله د شرم او پیغور په وجه ژوندئ خخوله۔ [الْوَأْدُ الْخَفِيُّ] دا پټ ژوندی ښخول دی، یعنی چونکه کومه نطفه چه ضائع کولے شی د هغے نه دیو نفس په وجود کښے د راتلو امکان وو او هغه خپل وجود ته د راتلو نه مخکښے ضائع کړے شوه، دے وجے نه ددے تشبیه د ژوندی ښخولو سره ورکړے شوه۔ دا په حقیقت کښے ژوندی ښخول ځکه نهٔ دی چه په دے کښے کوم حقیقی نفس نهٔ ضائع کیږی۔ په بل تعبیر سره داسے ووایه چه : وأد (ژوندی خخول) په دوه قِسمه دی : یو : حقیقی او ظاهر وأد دے، او هغه دا چه یو انسان خپله لور ژوندئ په خاورو کښے ښخه کړی۔ دویم : وأدی خفی دے، او هغه دا چه : انسان د حمل بندولو قصد وکړی۔ او دیته ئے خفی په دے وجه ووئیلو چه په دے کښے په ظاهره کښے ژوندے انسان نهٔ مری، ځکه عزل نیت او قصد دے۔ او بل طرفته په حقیقی وأد کښے نیت او فعل وی۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه سړی دپاره جائز دی چه خپله پیٔ ورکونکے یا حامله ښځه وطی کړی، او په دے کښے ماشوم ته هیڅ ضرر نهٔ ملاویږی۔ او نبی ﷺ اراده کړے وه چه ددے کار نه خپل امت منع کړی ځکه چه دا کار د عربو په نیز مستکره وو، (یعنی بد گنړلے شو)، دوئ به په دے کار ډیر اعتراض کولو او ددے ضررونه به ئے بیانول، تردے چه دوئ به وئیل : دا کار شهسوار رانیسی او د خپل اس نه ئے راغورزوی۔ لیکن نبی ﷺ خپل امت ددے کار نه منع نکړو، ځکه هغوئ دوه لویو لویو قامونو (روم او فارس) ته وکتل چه هغوئ د خپلو ښځو سره د رضاعت (پیٔ ورکولو) په موده کښے جماع کوی، حالانکه د هغوئ جسمونه هم قوی دی او شماره ئے هم زیاته ده، دا دلیل دے چه دا کار د دوئ اولاد ته ضرر نهٔ ورکوی، نو نبی ﷺ د دوئ نه دا تجربه حاصله کړه او د دوئ او د عربو ترمینځه ئے په دے کار کښے مساوات وکړو۔ او تجربه د طبیعي علمونو پوړئ ده۔ (۲) او حدیث نه معلومه شوه چه د کافرانو په هغه کارونو استدلال کول جائز دی چه هغه د طبیعت او عادت سره تعلق لری۔ دارنګه د کافرو امتونو د تجربو نه په هغه څیزونو کښے استفاده کول جائز دی چه هغه خلکو ته نفع ورکوی او یا د هغه څیزونو نه په ځان ساتلو کښے استفاده کول چه هغه خلکو ته ضرر ورکوی۔ دارنګه د کافرانو نه چه کوم صنعتونه او کسبونه راغلی چه په هغے کښے د

خلکو دپاره عام مصلحتونه وي، نو په دې کښې هم د هغوئ نه استفاده کول باك نۀ لري، او دا به د هغوئ سره مشابهت اختيارول نۀ حسابيږي بلکه دا په نفعمنو اعمالو کښې مشارکت دے چه دوئ سره کيږي.

(۳) **اشکال** : ددې حديث نه ښکاره کيږي چه عزل کول حرام دي، ځکه نبي ﷺ عزل لره وأد خفي وګرځولو، او وأد يو جاهلي عادت وو چه اسلام حرام ګرځولے، نو عزل به هم حرام وي. او دا د ابن حزمؒ او د يو جماعت قول دے. ليکن ددې ۱- **جواب** دا دے چه دا په هغه وخت کښې دے چه عزل د تقدير په مقابله کښې وي، داسې عقيده ئې وي چه که عزل وکړم بچي نۀ پيدا کيږي. او دې باندې دليل يو بل حديث دے چه يهودو وئيلي وو چه عزل مَوْءُوْدَهُ صُغْرىٰ ده، يعني پدې سره بچي نۀ پيدا کيږي نو دا ئې د تقدير په مقابله کښې ګڼړلو او مسلمانان ئې د سبب په ځائې کښې استعمالوي او ددې نتيجه په الله تعالىٰ سپاري يا به ددې سره اولاد وشي يا به ونشي. نو رسول الله ﷺ د هغوی په باره کښې وفرمايل : چه يهوديان دروغ وائي.

[وَإِنَّ الْيَهُوْدَ تُحَدِّثُ : أَنَّ الْعَزْلَ الْمَوْءُوْدَةُ الصُّغْرىٰ. قَالَ : كَذَبَتْ يَهُوْدُ، لَوْ أَرَادَ اللّٰهُ أَنْ يَّخْلُقَهُ مَا اسْتَطَعْتَ أَنْ تَصْرِفَهُ].

[صحيح] أبو داود: ۲۱۷۱، نسائي في الكبرى: ۹۰۷۹، أحمد: ۳۳/۳، طحاوي: ۳۵/۳]

(او بيشکه يهود دا خبره کوي چه عزل کول وړوکې ژوندې خخول دي. نبي ﷺ وفرمايل : يهود دروغ وائي، که چرې الله تعالىٰ دا پيدا کول غواړي نو تۀ ددې د اړولو طاقت نۀ لرې).

۲- **جواب** : عربو به بچي خښول چه رزق به څوك ورکوي نو پدې اعتبار سره ئې دې ته وأد خفي وئيلے دے. دې تشبيه ته فکر وکړه. ۳- **جواب** : دارنګه دلته ئې ښکاره دا ونۀ وئيل چه دا کار حرام او ګناه ده. بلکه داسې ئې ووئيل چه دا وأد خفي دے، يعني د وأد سره مشابه او نزدې دے. ځکه نطفه ضائع کول دي، او حقيقي او ظاهري وأد خو ګناه ده او پدې عزل کښې ګناه نشته. نو دا حديث د عزل د نۀ کولو په افضليت باندې حمل دے او دا چه عزل بهتر کار نۀ دے. بعض علماء داسې تعبير کوي : چه کومو احاديثو کښې د عزل نه نهي راغلې ده نو هغه په کراهتِ تنزيهي باندې محمول دي، او کومو کښې چه اجازه راغلې نو هغه پدې محمول دي چه دا حرام نۀ دے. والله اعلم.

د خپلې بی بی پټې خبرې بیانونکی دپاره سخت وعید

3190 (8) – وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَعْظَمَ الْأَمَانَةِ عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ " وَفِیْ رِوَايَةٍ : إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللّٰهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، اَلرَّجُلُ يُفْضِیْ إِلَى امْرَأَتِهِ، وَتُفْضِیْ إِلَيْهِ، ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : بیشکه د قیامت په ورځ د الله تعالیٰ په نیز د مرتبے په لحاظ د ټولو خلکو نه بدترین سړے هغه دے چه خپلے ښځے ته نزدیکت وکړی او هغه دهٔ سره نزدیکت وکړی او بیا دے د هغے رازونه (خلکو ته) ښکاره کوی۔ (مسلمؒ)۔

تشریح : [أَشَرّ] افعل تفضیل دے، په غیر د همزے نه ددے استعمال زیات دے، البته په دے حدیث کښے سره د همزے نه راتلل د دواړو لغتونو د جواز دلیل دے، اگرکه همزه حذف کول زیات دی۔ [يُفْضِیْ] اِفضاء په اصل کښے اختلاط او ګډون ته وائی، دلته مراد جماع یا خلوت دے، لیکن ظاهره داده چه دلته جماع مراد ده۔ او چونکه غالبه داده چه د جماع خبرے د سړی د طرف نه خوریږی نو ځکه ئے دهٔ تخصیص کړے۔

[سِرَّهَا] یعنی د تنهایئ هغه خبرے او کارونه چه د جماع او اختلاط په وخت ددے دواړو ترمینځه چلیږی۔ لیکن بل حدیث کښے دواړه خبرے ذکر دی، اسماء بنت یزید رضی الله عنها په باره کښے روایت دے چه هغه د نبی ﷺ سره ناسته وه او سړی او زنانه (هم) د هغهٔ سره وے، نو وے فرمایل : شاید چه یو سړے به هغه خبرے کوی چه د اهل سره ئے څه کړی وی، اوشاید چه یوه ښځه به خلکو ته د هغه کار خبر ورکوی چه د خاوند سره ئے کړی وی، نو خلك غلی شول، نو ما وویل : آؤ، اے د الله رسوله ! زنانه خو ضرور داسے وائی، او سړی داسے کار کوی، نبی ﷺ وفرمایل : تاسو دا کار مهٔ کوئ،

[فَإِنَّمَا مَثَلُ ذٰلِكَ مَثَلُ الشَّيْطَانِ لَقِیَ شَيْطَانَةً فِی الطَّرِيْقِ فَغَشِيَهَا وَالنَّاسُ يَنْظُرُوْنَ]

ددے مثال داسے دے لکه شیطان د یوے شیطانے سره ملاؤ شی او د هغے سره نزدیکت وکړی او خلك ورته ګوری)۔

[أحمد : ۲۷۵۸۳، واللفظ له والطبرانی : ۲۴/۱۶۲، (۴۱۴) صحیح أو حسن بشواهده، آداب الزفاف : ۷۱]

فوائد : (١) حدیث نه ثابته شوه چه د ښځې او خاوند ترمینځه د تنهایئ او د جماع په وخت شوې خبرې یا واقعات یارانو دوستانو یا بل چاته بیانول حرام او کبیره ګناه ده۔ او په دې کښې ښځه او خاوند دواړه برابر دي، د دواړو دپاره دا کار کول جائز نهٔ دي۔ او په دې کښې څهٔ فائده هم نشته بلکه دا یو لغوه کار دې،

او حدیث کښې دي : ((څوك چه په الله او په ورځ د قیامت ایمان لري هغه دې ښه خبره کوي او یا دې خاموشي اختیار کړي)) [بخاري: ٦٠١٩، مسلم: ٤٨]

(٢) دا هم معلومه شوه چه ښځې سره د جماع په وخت لوبې توقې کول اهمیت لري، په دې سره په دوئ کښې نشاط او تازګي پیدا کیږي۔

(٣) که جماع ذکر کولو ته ضرورت راشي یا ددې په ذکر کولو کښې فائده وي، لکه د حاکم مخامخ ښځه او خاوند د تنهایئ خبرې ذکر کوي، نو دا به د ضرورت په اندازه جائز وي۔ لکه د عائشې رضي الله عنها په حدیث کښې د رفاعه په قیصه کښې راځي چه کله هغه عبد الرحمن بن زَبیر القرظي په نکاح واخسته، او هغې په هغهٔ باندې په جماع کښې د کمزورئ دعویٰ وکړه، نو د هغې خاوند وویل: (دا دروغ وائي ! قسَم په الله یا رسول الله ! زهٔ دا ښځه داسې څنډم لکه څنګه چه څرمن څنډلې کیږي) (یعنی د جماع په وخت مضبوط حرکت کوم) [بخاري: ٥٨٢٥، مسلم : ١٤٣٣]

دارنګه د ابو طلحه رضي الله عنه او د هغې د ښځې ام سلیم رضي الله عنها په قیصه کښې دي، چه نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: [أَعَرَّسْتُمُ اللَّيْلَةَ؟] آیا تاسو بیګاه ملاؤ شوي وئ؟ هغهٔ وویل : آؤ ! نو نبي صلی الله علیه وسلم هغوئ دپاره دعا وکړه : اې الله ! دوئ له د دوئ پدې شپه کښې برکت واچوه۔ نو د هغې نه یو هلك پیدا شو ...... [بخاري: ٥٤٧٠، مسلم: ٢١٤٤]

د عائشې رضي الله عنها په بل حدیث کښې دي :

یو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چه یو سړې د خپل اهل سره جماع کوي او بیا خپل اندام د خلاصیدو نه بغیر راوباسي، آیا په دې دواړو غسل شته؟ په دې وخت کښې عائشه رضي الله عنها هم ناسته وه، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ((بیشکه مونږ دواړه دا کار کوو، بیا مونږ غسل کوو)) [مسلم : ٣٥٠] والله تعالیٰ اعلم۔

الفصل الثاني

د حیض په ورځو کښې د بي بي خوا ته مهٔ ورځه او مه ورسره بد فعلي کوه

3191 (9) – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : أُوْحِيَ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : (نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ) الآيَةَ : " أَقْبِلْ وَأَدْبِرْ وَاتَّقِ الدُّبُرَ وَالْحِيْضَةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ته (ددې آيت) وحي وشوه : (نِسَاءُكُمْ) ستاسو بيبيانې ستاسو فصل دې نو خپل فصل ته راتلل کوئ) آيت آخر پورې. (يعنى) د مخې نه او د شا نه راتلل وکړئ او د ګندګئ د ځائې او د حيض حالت نه ځان وساته. (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : د روايت اول سر داسې دې چه عمر بن خطاب ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلو، عرض ئې وکړو چه اې د الله رسوله ! هلاك شوم، هغهٔ وفرمايل : ولې څه خبره ده چه تهٔ ئې هلاك کړې؟ هغهٔ ووېل : ما بيګاه شپه خپله سورلي اُلټه کړه، نو رسول الله ﷺ ورته هيڅ جواب ورنکړو، پدې کښې رسول الله ﷺ ته ددې آيت وحي وکړې شوه : (نساء کم) الحديث. يعنې د آيت مطلب دا دې چه مخکښې او روستو دواړو طرفونو نه راتللې شې خو د روستني اندام نه او د حالت د حيض نه ځان ساته.

درجة الحديث :[حسن] الترمذی : ۲۹۸۰، وقال حسن غريب وهو كما قال (حسين سليم اسد والالبانی) ابی يعلى : ۲۷۳۶، وفيه يعقوب بن عبد الله القمی الاشعری قال النسائی : لا بأس به، ووثقه ابن حبان والطبرانی، ولَيَّنَه الدارقطنی. وهو مختلف فيه وهو متماسك. تفسير ابن كثير ۳۵۸/۱، نثل النبال بمعجم الرجال، للشيخ ابی اسحاق الحوينی(۵۸۵/۳). قال علی : صالح الحديث. قال الدارقطنی : ليس بالقوی. (من تكلم فيه وهو موثق. للذهبی : ۲۰۲/۱).

3192(10) – وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِيْ مِنَ الْحَقِّ لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِيْ أَدْبَارِهِنَّ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : خزيمه بن ثابت ﷺ نه روايت دې چه بيشکه نبی کريم ﷺ وفرمايل : يقيناً

الله تعالیٰ د حق بیانولو نه حق نۀ کوی، تاسو خپلو بیبیانو ته د شا طرف نه (په گنده ځائے کښې) راتلل مۀ کوئ۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : [فِيْ أَدْبَارِهِنَّ]۔ یعنی د هغوی په روستنۍ حصه کښې۔

درجة الحديث :[إسناده صحیح] النسائی فی الکبری : ۸۹۸۲، وابن ماجه : ۱۹۲٤، والشافعی والطحاوی وانظر الارواء (۲۰۰۵)

خپلې بی بی سره بد فعلي کونکې لعنت دے

3193 (11) – وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "مَلْعُوْنٌ مَنْ أَتَى امْرَأَتَهُ فِيْ دُبُرِهَا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه څوك لعنتی دے چه ښځے سره د هغے په شا طرف کښې جماع کوی۔ (احمدؒ، ابوداوُدؒ)

تشریح : [مَلْعُوْنٌ] په قیامت کښې به د الله تعالیٰ د رحمت نه لرے وی، دارنگه په دنیا کښې هم۔ مگر که الله تعالیٰ ورته عفو وکړی۔ او دا دلیل دے چه دا کار کول کبیره گناه ده، ځکه لعنت او عقوبت په کبیره گناه راځی۔ [أَتَى امْرَأَتَهُ] د راتگ نه مراد د جماع دپاره راتگ دے۔

فوائد : (۱) دا ذکر شوی حدیثونه دلیل دے چه ښځو سره په شا طرف کښې کورواله کول حرام دی، ځکه لعنت صرف په حرام شئ باندے وئیل کیږی۔ عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی : [اَللُّوْطِيَّةُ الصُّغْرٰی] ۔((دا وړوکے لواطت دے)) یعنی خپلے ښځے سره په دُبر کښې وطی کول۔ [حسن : سنن کبری للنسائی: ۸/۱۹۵، ۱۹۶، أحمد: ۱۱/۳۰۹]

(۲) قرآن کریم، سُنت او صحیح نظر ښځے سره په دُبر کښې وطی کول منع گرځوی۔

❁ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّٰهُ﴾ [البقرة : ۲۲۲] (کله چه دوئ ښے پاکے شي نو د هغه ځائے نه دوئ ته راتگ کوئ چه الله تعالیٰ تاسو ته امر کړے) او الله تعالیٰ په قُبل (مخکني طرف) کښې د راتگ حکم کړے، د دوو وجو نه : (یو) دا آیت کریمه دے : ﴿فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ أَنّٰى شِئْتُمْ﴾ [البقرة : ۲۲۳] (خپل فصل ته چه د کوم طرف نه مو خوښه وی راتگ کوئ) او د ولد د فصل او تخم ځائے فرج دے نۀ دُبر۔ (دویم) دا آیت دے : ﴿فَالْئٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ [البقرة : ۱۸۷] (اُوس د دوئ سره جماع کوئ

او هغه (ولد) تالاش کوئ چه هغه تاسو دپاره الله تعالیٰ لیکلے) او دا معلومه خبره ده چه ولد د مخکنئ لارے نه تالاش کیږی، نهٔ د روستنئ لارے نه۔

سوال : ﴿ اَنّٰى شِئْتُمْ ﴾ کښے (اَنّٰی) د مکان دپاره ده، او معنیٰ ده : د کوم ځائے نه چه ورته راځئ؟ **جواب** : دا خبره د دوو وجو نه صحیح نهٔ ده : (**اول**) ددے آیت د نازلیدو سبب دا خبره رد کوی، لکه د جابر ﷺ په حدیث کښے راغی چه دا آیتِ کریمه د یهودو ددے غلطے نظریئے په رد کښے راغلے چه : څوك چه خپلے ښځے سره د شا له خوا (په مخکنی طرف کښے) جماع وکړی نو بچے کوږ سترګے پیدا کیږی، نو دا آیت کریمه نازل شو : ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ ﴾ معلومه شوه چه د آیت معنیٰ دا شوه چه د هر طرف نه تاسو په مخکنی طرف کښے راتلل غواړئ، راځئ اګرکه د شا له خوا وی۔ او په مصطلح کښے دا قاعده ده چه د صحابی هغه تفسیر چه د سببِ نزول سره تعلق لری، د مرفوع حدیث په حکم کښے وی۔

(**دویم**) که ومنو چه ددے آیتِ کریمه نه په هر طرف کښے راتلل معلومیږی، نو بیا وایو چه ددے آیت تخصیص په هغه حدیثونو سره شوے چه په هغے کښے د ښځو شا طرف استعمالولو نه منع راغلے۔ لکه ددے باب حدیثونه وغیره۔

❁ او په دے باره کښے ګڼړ حدیثونه راغلی، امام قرطبیؒ فرمائی: دا څوارلس حدیثه دی چه د هغے زیاته برخه حافظ ابن کثیرؒ ذکر کړے۔ او حافظ ابن حجرؒ د هغے د عِللو وضاحت کړے۔ [تفسیر ابن کثیر: ۱/۳۸٤، التلخیص الحبیر: ۳/۲۰٤]

حافظ ابن قیمؒ ددے د تحریم ډیر وجوهات ذکر کړی، یو دا چه **عقل** هم تقاضا کوی چه دا کار دِے حرام شی ځکه الله تعالیٰ د حیض په حالت کښے مخکنے اندام په دے وجه حرام ګرځول چه په دے کښے عارضی پلیتی ده، نو چونکه دُبر خو د دائمی نجاست او پلیتئ ځائے دے نو ددے حرامیدل خو په طریقه اولیٰ سره پکار دی۔

(۳) او ابن عمر ﷺ ته چه کوم د اباحت قول منسوب دے نو دا صحیح نهٔ دے۔ اصل حقیقت دادے چه نافعؒ ته ابن عمر ﷺ وفرمایل : آیا تا ته پته شته چه ددے آیت : ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ﴾ معامله څهٔ ده؟ هغه داچه مونږ به ښځے پړمخے اچولے او جماع به مو ورسره کوله۔ او کله چه مونږ مدینے ته هجرت وکړو او د انصارو ښځو سره مو نکاح وکړه او د دوئ نه مو هغه طریقه وغوښتله کومه به چه مونږ د خپلو ښځو نه

غوښتله نو هغوئ دا خبره بده او خطرناکه وګڼړله، وجه دا وه چه د انصارو ښځو سره به خلکو اړخ په اړخ جماع کوله، نو الله تعالیٰ دا آیتِ کریمه نازل کړو: ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ﴾ [سنن کبری: ۱۸۹/۸، قال ابن کثیر: اسناده صحیح: ۳۸٤/۱]۔

نو ددے نه معلومه شوه چه ابن عمر ﷺ ته چه د دُبر اباحت منسوب شوے هغه بے حقیقته دے، بلکه هغه ددے قائل دے چه د شا طرف نه په مخکښے طرف کښے راتګ کول جائز دی۔ حافظ ابن قیمؒ فرمائی: چاچه سلفوؒ ته ددے د اباحت نسبت کړے نو دا ښکاره غلطی ده، بلکه د هغوئ مقصد دادے چه مخکښئ لارے ته د روستنئ لارے له خوا راتلل جائز دی۔[زاد المعاد: ۲٥۷/٤]۔

او د عبد الله بن عمر ﷺ نه په صحیح سند ثابت دی چه هغۀ دا کار بد ګڼړلے۔ سعید بن یسارؒ د عبد الله بن عمر ﷺ نه تپوس وکړو چه مونږ وینځے اخلو بیا ورته د شا طرف نه راتلل وکړو؟ نو وے فرمایل: [أُفٍّ أَوَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ مُسْلِمٌ]۔ [آداب الزفاف رقم: ۲۹: للشیخ الالبانی، إسناده صحیح]۔ اُف، آیا دا کار به یو مسلمان وکړی۔ نو کیدے شی چه اول کښے د ابن عمر ﷺ د جواز قائل وو بیا ئے روستو رجوع کړے۔ یا دا چه مرفوع احادیث د دُبر د استعمال نه منع کوی او د عبد الله بن عمر ﷺ قول د هغۀ اجتهاد دے چه د مرفوع احادیثو خلاف دے، او دے ته زَلَّةُ عَالِمٍ وئیلے شی، پدے خبره کښے ئے تابعداری امت نۀ ده کړے۔ او دے کښے حافظ ابن قیمؒ (۲۷) اضرار ذکر کړی او دا ئے وئیلی دی چه:

[إِنَّ اللّٰهَ لَمْ يُبِحِ الْجِمَاعَ فِي الدُّبُرِ عَلٰى لِسَانِ نَبِيٍّ قَطُّ، وَمَنْ نَسَبَ اِلٰى بَعْضِ السَّلَفِ إِبَاحَةَ وَطْءِ الزَّوْجَةِ فِيْ دُبُرِهَا فَقَدْ غَلَطَ عَلَيْهِ]۔

الله تعالیٰ د هیڅ نبی په ژبه په دبر کښے جماع نۀ ده جائز کړے، او چا چه بعض سلفو ته ددے کار د اِباحت نسبت کړے نو په هغوی باندے ئے غلط وئیلی دی۔

حافظ قاسمیؒ چه د بعض علماؤ نه دا نقل کړی چه د نهی په باره کښے هیڅ صحیح نشته نو دا خبره ئے ضعیفه ده بلکه ډیر روایات صحیح ثابت دی۔ و بالله التوفیق۔

درجة الحديث: [صحيح لشواهده] أبو داود: ۲۱٦۲، ابن ماجه: ۱۹۲۳، أحمد: ۲۷۲/۲، نسائي کبری: ۹۰۱٥. له شواهد ذکرها الألباني في آداب الزفاف ص (۱۰٥).

3194(12) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الَّذِيْ يَأْتِيْ

امْرَأَتَهُ فِيْ دُبُرِهَا لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ إِلَيْهِ ". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً هغه شخص چه د خپلې ښځې سره د هغې په شا طرف كښې راتلل كوي الله تعالىٰ هغهٔ ته (د رحمت په نظر) نهٔ گوري۔ (شرح السنه)

تشريح : [لَايَنْظُرُ اللّٰهُ] ۔ دا په دنيا كښې هم مراد دے چه الله تعالىٰ به ورته د رحمت، محبت او مهربانئ په نظر ونهٔ گوري يا دا چه په دهٔ باندے هيڅ باك نهٔ كوي، هيڅ اعتبار نهٔ وركوي۔ او په آخرت كښې به هم ورته ونهٔ گوري۔ ځكه چه دا كبيره گناه كونكے دے۔

درجة الحديث :[صحيح] شرح السنة للبغوى : ۲۲۹۷، والبيهقى نحوه (۷/۱۹۸) والنسائى فى الكبرى : والبيهقى فى الشعب (٤/۳٥٥، ٥۳۷٦). وهو حديث صحيح، وصححه ابن حبان (۱۳۰۲) عن غير أبى هريرة۔

3195 (13) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَايَنْظُرُ اللّٰهُ إِلٰى رَجُلٍ أَتٰى رَجُلًا أَوِ امْرَأَةً فِي الدُّبُرِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالىٰ هغه سړي ته نهٔ گوري چه هغهٔ يو سړي يا يوے ښځې سره د هغې په شا طرف كښې جماع كړې وي۔ (ترمذیؒ)

تشريح : [أَتٰى رَجُلًا] د رجل نه مراد نارينه دے، سړے وي كه هلك۔

فوائد : (۱) حديث نه معلومه شوه چه نارينه سره بدكاري كول حرام او كبيره گناه ده، او دا د لوط عليه السلام د قوم گناه وه او دا يوه داسے گناه ده چه د دوئ نه مخكښې هيچا ديته راتگ نهٔ وو كړے، دا وجه ده ددے جُرم كونكي سزا بهر صورت وژل دي، برابره خبره ده كه وادهٔ كړے وي او كه بے وادهٔ، او دا د زياتره اهلِ علمو رائے ده، بلكه بعضِ علماؤ په دے اجماع نقل كړے، لكه ددے وضاحت به په [كتاب الحدود] كښې راشي۔ ان شاء الله تعالىٰ۔ والله تعالىٰ اعلم۔ (۲) د حديث د باب سره مناسبت په دے كښې دے چه د ښځو سره يو ښهٔ سلوك دادے چه هغوئ سره دا بدفعلي ونهٔ كړے شي، ځكه په دے كښې د هغوئ حق بربادول او بد اخلاقئ ته د هغوئ رابلل دي۔

درجة الحديث: [حسن] ترمذى: ۱۱٦٥، وقال حسن غريب، نسائى فى الكبرى: ۹۰۰۱،

ابن حبان (الاحسان): ٤١٩١. وصححه ابن حبان فی صحيحه برقم (١٣٠٣)، وحسنه الألبانی فی صحيح الترمذی وصححه فی صحيح الجامع الصغير.

د غيله ممانعت

3196 (14) - وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "**لَا تَقْتُلُوْا أَوْلَادَكُمْ سِرًّا فَإِنَّ الْغَيْلَ يُدْرِكُ الْفَارِسَ فَيُدَعْثِرُهٗ عَنْ فَرَسِهٖ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او اسماء بنت يزيد رضی الله عنها فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : تاسو خپل اولاد په پټه سره مه وژنئ ځکه چه غيل (ماشوم ته تے ورکولو په وخت جماع کول) شاهسوار لره لاندے کوی او د خپل اس نه ئے خکته راغورزوی- (ابوداوٗد)

تشريح : [لَا تَقْتُلُوْا] مطلب دادے چه په حالت د ارضاع کښے جماع کول قتل الاولاد دے- الْغَيْلَ : د غين زور دے، مخکښے تير شو چه غيله معنىٰ دا ده چه سړے د ښځے سره جماع وکړی په داسے حال کښے هغه ماشوم ته تے ورکوی- او ډير کرته هغه حامله شی، نو دغه پئ ئے خراب شی، او دغه پيوو ته غيل وائی- (النهاية وعون المعبود)

[فَيُدَعْثِرُهٗ]- [يُصْرِعُهٗ وَيُسْقِطُهٗ]- راپرزوی او راغورزوی ئے- ځکه چه دماغ ئے بند شی، غوته پرے راشی، سترګو ته ئے تيارهٔ راشی- او مطلب دا دے چه کله د تی ورکونکے ښځے سره نزديکت وکړے شی نو د هغے پئ خراب شی، نو د هغے ماشوم به خراب پئ خوری نو ضرر به ورته رسيږی، او بيا چه کله زنانه ددے جماع په وجه حمل واخلی نو ددے خو به بيا ډير ضرر وی، ځکه چه غوره وينه د خيټے والا بچی غذاء ته واړه ولے شی، او خرابه وينه تی رودونکی ماشوم ته پاتے شی- نو ماشوم چه دا پئ خوری نو هغه به هم کمزورے او خوار کيږی- بيا چه کله لوی شی او په اس باندے سوريږی او اسونه زغلوی، يا په جنګ کښے د خپل مقابل سره مخامخ شی نو ډير کرته به د هغهٔ نه کمزورے کيږی نو د دغه پيوو اثر اګرکه اُوس نهٔ ښکاری مګر کله چه لوی شی نو بيا پکښے دا اثر راښکاره شی چه د مقابلے نهٔ وی او د اس نه راغورزيږی- نو دا کار داسے شو لکه د ماشوم په پټه وژل چه په سترګو نهٔ ښکاری ليکن نتيجه همدے ته رسيږی-

اشکال ۱ : پدے حديث کښے په دوه طريقو اشکال دے : (۱) يو دا چه دے حديث نه

معلومه شوه چه غیله اثر لري او په مخکښې حدیث د جدامه کښې ددې نفي راغله چه روم او فارس والا غیله کوي او د هغوی اولاد ته ضرر نهٔ رسیږي؟- (۲) دویمه طریقه د اشکال : دا حدیث د اسماء رضی الله عنها دلیل دې چه د غیله نه ئې منع کړیده په (لَا تَقْتُلُوْا اَوْلَادَكُمْ سِرًّا) سره- او دا نهي ده- او په حدیث د جدامه رضی الله عنها کښې راغلل چه (لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اَنْهٰى عَنِ الْغِيْلَةِ) ما اراده د نهي کړیده، نو دا دلیل دې چه نهي ئې نهٔ ده کړې- نو ددې دواړو حدیثونو ترمینځ څه تطبیق دې؟

۱- **جواب :** کوم حدیث کښې چه اجازه راغلې ده نو هغه د شفقت د وجې نه څکه چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم هرکله ولیدل چه پدې وخت کښې جماع پریخودل سړي ته ډیر کرته ضرر ورکوي څکه چه په موده د رضاع کښې د جماع نه صبر کول مشقت دې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښې حدیث د جدامه رضی الله عنها (ضَرَّ فَارِسَ وَالرُّوْمَ) سره اجازه ورکړه- [کشف المشکل من حدیث الصحیحین لابن الجوزی:۱/۱۲۹۲]

۲ : **جواب :** دا حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکښې وئیلې وو او بیا چه کله هغهٔ د روم او فارس خلکو ته وکتل چه هغوی داسې کار کوي او د هغوی غالباً اولاد صحیح پیدا کیږي، دارنګه هغوی اکثر طب او حکمت والا دي او هغوی پدې کښې ضرر نهٔ ګڼړي نو امت ته ئې اجازت ورکړو- [المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم : ۳٤/۱۳]

۳- **جواب :** بعض علماء داسې تطبیق کوي چه حدیث د جدامه رضی الله عنها مقدم وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم د عربو عادت او خیالاتو ته وکتل چه غیل ضرر ورکوي، بیا ئې د روم او فارس والو کار ته وکتل نو ګمان ئې وکړو (په خپل اجتهاد سره) چه دا ضرر نهٔ ورکوي نو د عربو د طریقې مطابق ئې اراده وکړه چه ددې نه منع وکړي بیا د روم او فارس طریقې ته په کتلو سره ئې غالب ګمان راغلو چه دا ضرر نهٔ ورکوي نو ددې نه منع شو او بند شو، بیا ددې نه پس د الله تعالیٰ د طرف نه ورته خبر ورکړې شو چه دا کار ضرر ورکوي لیکن دا ضرر ئې غالب او اکثر نهٔ دې، بلکه کم دې او په بعض مزاجونو باندې کله نا کله اثر کوي- نو ددې نه ئې په طریقه د تنزیه سره منع وکړه- نو پدې طریقه دواړه حدیثونه متفق کیږي او هیڅ تعارض نهٔ پاتې کیږي- (بذل المجهود)

حافظ ابن قیّم وائي : نو په حدیث د اسماء رضی الله عنها کښې نهي د ارشاد او احتیاط په توګه شوې د ما شوم په حق کښې- او دې دپاره چه پدې کار سره د ماشوم دپاره پۍ خراب

نکړے شي د حمل په راتللو سره۔ نو دا منع د باب د سد الذرائع د قبیلې نه ده ځکه چه دا کار د ماشوم ضرر ته رسیږي، او په سد الذرائع کښې دا قانون دے چه کله ددے په مقابله کښې مصلحت او فائده راجحه راشي نو هغه به مقدم کولے شي لهذا جواز به مقدم کولے شي ځکه چه دلته ئے فائده زیاته ده۔ زاد المعاد (۵/۱۴۷-۱۴۸)

درجة الحديث : [صحيح أو حسن] ابو داود : ۳۸۸۱، وابن ماجه : ۲۰۱۲، ورجاله ثقات غير المهاجر بن ابی مسلم مولی اسماء بنت يزيد فلم يوثقه غير ابن حبان، لكن روى عنه جماعة من الثقات، -الى جانب كونه تابعيا- فالحديث حسن وقد صححه ابن حبان (۱۳۰۴) واخرجه احمد ايضا : ۶/۴۵۳، ۴۵۷، ۴۵۸).

الفصل الثالث

د عزل مشروط جواز

3197 (15) — عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُّعْزَلَ عَنِ الْحُرَّةِ إِلَّا بِإِذْنِهَا. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ

ترجمه : او عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائیلې ده چه د آزادې ښځې نه د هغې د اجازت نه بغیر عزل وکړے شي۔ (ابن ماجهؒ)

تشریح : یعنې آزادې ښځې نه چه کله عزل کولے شي نو د هغې نه اجازت اخستل ضروري دي، ځکه چه په عزل سره نۀ یواځې دا چه بچي نۀ کیږي بلکه د ښځې جنسي لذت ختمیږي، او پدے دواړو څیزونو کښې د آزادې ښځې حق متعلق دے، که چرته ښځه اولاد غواړي نو خاوند ته دا اختیار نشته چه د هغې دا خواهش پوره نۀ کړي، دارنګه که ښځه د عزل په وجه جنسي لذت کښې کمي محسوس کوي نو دا د هغې سره بے انصافي ده، نو که زنانه د عزل اجازت نۀ ورکوي عزل به نشي کولے، لهذا عزل جائز دے خو پدے شرطونو سره لکه دا مخکښې هم بیان شو۔ او د حرے لفظ سره اشاره شوه چه د وینځې نه عزل جائز دے ځکه چه د هغې دغه ذکر شوي دواړه حقونه نۀ وي۔ والله اعلم۔

درجة الحديث :[ضعيف] ابن ماجه : ۱۹۲۸، وفي اسناده ابن لهيعة وهو ضعيف ومن طريقه رواه احمد : ۱/۳۱).

٦- باب

دا باب د فصل په منزله دے، چه من وجه ئے د ماقبل سره مناسبت دے او من وجه مستقل دے۔ پدے وجه ئے ترجمة الباب ذکر نکړه۔ دلته دوه مسائل بیانیږی (یو) دا چه یوه ماشومه جینئ د پلار نیکهٔ نه علاوه بل ولی په وړوکوالی کښے په نکاح ورکړی وی نو چه کله هغه بالغه شوه نو هغے لره اختیار دے چه خاوند سره پاتے کیږی یا نه، او برابره ده چه خاوند ئے حر وی او که عبد۔ او که چرته پلار یا نیکهٔ ورکړے وه، نو د جمهورو په نیز باندے د جینئ اختیار نشته ځکه دا ولی ورکړیده، او همدا مذهب د احنافو هم دے۔ او امام مالك وائی چه په پلار کښے اختیار نشته او که نیکهٔ ورکړے وه نو اختیار ئے شته۔ لیکن راجح داده چه په ټولو صورتونو کښے د جینئ دپاره اختیار شته، دلیل پرے حدیث د خنساء بنت خذام رضی الله عنها دے کوم چه مخکښے تیرشو۔

دویمه مسئله : ستا یوه وینځه ده چا له دِے په نکاح ورکړه بیا تا آزاده کړه نو آیا دے لره د نکاح د فسخ کولو (ختمولو) اختیار شته او که نهٔ؟ نو دلته دوه صورتونه دی : (۱) اتفاقی صورت دا دے چه کله ئے خاوند غلام وی نو د ښځے دپاره اختیار شته چه د هغے نه لاړه شی۔ او ابن قدامهؒ د ابن المنذرؒ او ابن عبد البرؒ وغیره نه پدے باندے اجماع نقل کړے۔ ددے وجه دا ده چه غلام د آزادے ښځے سره برابر نهٔ دے په اکثرو احکامو کښے نو هرکله چه وینځه آزاده شوه نو دے دپاره اختیار شته چه خاوند سره پاتے کیږی او که جدا کیږی، ځکه چه په وخت د عقد کښے دے کښے د اختیار اهلیت نهٔ وو۔

(۲) اختلافی صورت دا دے چه خاوند آزاد وی او ښځه وینځه ده نو هرکله چه ښځه آزاده شی آیا دا خپله نکاح ماتولے شی او د خاوند نه تللے شی؟ :

(۱) جمهور وائی چه اختیار ورله نشته او دا قول د ابن عمرؓ، ابن عباسؓ، سعید بن المسیبؒ، حسنؒ، عطاءؒ، سلیمان بن یسارؒ، ابو قلابهؒ، ابن ابی لیلیؒ، اوزاعیؒ، مالكؒ، شافعیؒ او اسحاقؒ دے۔ (۲) قول ثانی : احناف وائی چه دے لره اختیار شته برابره ده چه خاوند ئے غلام وی او که آزاد۔ او دا قول د طاووسؒ، ابن سیرینؒ، مجاهدؒ، نخعیؒ، حماد بن ابی سلیمانؒ او ثوریؒ دے۔

دلائل : **د جمهورو دلیل** : ددے باب اول حدیث او باقي حدیثونه دي چه په هغے کښے دا دي : د بریرے رضي الله عنها خاوند (مُغيث) غلام وو، هرکله چه بریره رضي الله عنها آزاده کړے شوه نو رسول الله ﷺ هغے ته اختیار ورکړو چه ستا خوښه ده خاوند سره پاتے کیږے او که جدا کیږے؟ ۔ عروهؒ فرمائي : [وَلَوْ كَانَ حُرًّا مَا خَيَّرَهَا] که چرے ددے خاوند آزاد وے نو رسول الله ﷺ به هغے ته اختیار نهٔ ورکولے۔ احنافو سره دلیل د اَسودؒ راوي دا الفاظ دي : [وَكَانَ زَوْجُهَا حُرًّا] ددے خاوند آزاد وو۔ نو دِ دواړو روایتونو تعارض راغلو۔ او قانون دا دے چه د تعارض په وخت کښے به یا جمع والے کولے شي او که جمع او تطبیق نهٔ کیږي نو بیا به ترجیح ورکولے شي، نو دلته چه روایتونه وکتل شول نو دا خبره قوي ده چه دا غلام وو، ددے تائیدات او د ترجیح وجوهات دي :

(اول) ددے راویان زیات دي، د عائشے رضي الله عنها نه د هغهٔ د غلام کیدو روایتونه قاسمؒ او عروهؒ او د دوئ نه نورو نقل کړي۔ **(دویم)** د هغهٔ د غلام کیدو خبره د عائشے رضي الله عنها نه د هغے دوه نزدے خپلوانو نقل کړے، یو د هغے ورارهٔ (قاسمؒ) او بل د هغے خورئے (عروهؒ) او بل طرفته ددے د آزادیدو روایت د عائشے رضي الله عنها نه اسودؒ نقل کړے، او اسودؒ کوفي دے د عائشے رضي الله عنها هیڅ رشته دار نهٔ دے، نو د کور خلك د انسان په حدیث باندے د پردي سړي نه زیات پوهه وي، خصوصًا قاسمؒ او عروهؒ به په غیر د پردے نه د عائشے رضي الله عنها حدیث آوریدهٔ، او اسودؒ به د پردے نه اخوا۔ او امام احمدؒ فرمائي : ابن عباس او عائشه رضي الله عنهما دواړه د بریرے رضي الله عنها په باره کښے فرمائي چه ددے خاوند غلام وو، دا روایت د مدینے د علماؤ دے، او د هغوی پدے باندے عمل دے، او کله چه مدینے والا یو حدیث روایت کړي او بیا پرے عمل هم وکړي نو هغه ډیر اصح شے وي۔ (ابن قدامهؒ)

(دریم) امام بخاريؒ فرمائي : د اسودؒ روایت منقطع دے۔ ابراهیم بن ابی طالبؒ (چه دا د امام مسلمؒ د اقرانو نه دے) وائي :[خَالَفَ الْأَسْوَدُ النَّاسَ فِيُ قَوْلِهِ : حُرًّا] اسود هغهٔ ته په آزاد وئیلو کښے د ټولو خلکو خلاف کړے۔ پدے وجه حافظ په بلوغ المرام کښے دواړه روایتونه ذکر کړي بیائے وئیلي دي چه (وَالْأَوَّلُ أَثْبَتُ) اولنے روایت چه هغه د عروهؒ روایت دے، زیات قوي روایت دے۔ لهذا هغه به راجح وي۔

(پنځم) د عائشے رضي الله عنها نه علاوه ابن عباس رضي الله عنه نه هم نقل دي چه مغیث غلام وو، نو په غیر د شك شبهے نه دا راجح دے۔ [رَأَيْتُهُ عَبْدًا] (بخاري: ٥٢٨٠)۔ امام بیهقيؒ وائي :

قاسمؒ، عروہؒ، مجاهدؒ او عَمرہؒ د عائشے ﷞ نه نقل کوی چه هغه غلام وو۔

(شپږم) دا چه د اَسودؒ نه هم عروہؒ په شان روایت نقل دے۔ اعمشؒ د ابراهیمؒ نه هغهٔ د اسودؒ نه هغهٔ د عائشے ﷞ نه نقل کړی چه هغه غلام ووؒ۔

[المهذب فی اختصار السنن الکبیر : ٢٧٩٦/٦، رقم : ١١٣٠٨ للحافظ الذهبیؒ]

شیخ البانیؒ هم فرمائی : چه د اسودؒ دا قول چه هغه حر وو، دا شاذ دے۔ امام ابن حبانؒ په خپل صحیح کښے فرمائیلی چه [اِنَّ الْاَسْوَدَ وَاهِمٌ فِیْ قَوْلِهٖ : کَانَ حُرًّا] اسود بن یزیدؒ هغهٔ ته د آزاد په وئیلو کښے خطاء شویدے۔ [صحیح ابن حبان : ٩٣/١٠رقم : ٤٣٧٣]

(اوم) دا چه روستو حدیث کښے راځی چه عائشے ﷞ د غلامانو د آزادو اراده وکړه نو نبی ﷺ ورته وفرمایل چه اول سړے آزاد کړه بیا ښځه۔ د هغے نه معلومیږی چه د بریرے ﷞ خاوند غلام وو۔

(اتم) دا چه په یو حدیث کښے دی : کله چه یو تن غلام یا وینځه آزاده کړی نو د هغے د اندامونو په مقابله کښے الله تعالیٰ د آزادونکی اندامونه د اُور نه آزادوی۔ نو دلته مناسب دا ده چه عائشے ﷞ بریره آزاده کړے۔

(نهم) : دا چه که خاوند آزاد وی او بیا وروسے وینځه هم آزاده شی نو دا د خپل خاوند سره په کمال کښے برابره شوه، ځکه چه وینځه نیمګړے وی او آزاد کامل وی۔ نو ددے دپاره اختیار نشته، ددے مثال داسے ورکوی لکه چه یو مسلمان کتابیه په نکاح کړی وی بیا هغه مسلمانه شی، نو هغه مخکښے ناقصه وه اُوس کامله شوه، نو د خاوند نه رخصتی نشی اخستے نو دغه شان دلته هم نشی اخستے۔

دلائل د احنافو علماؤ : یو روایت د اسودؒ پیش کوی چه هغه وائی ددے خاوند حر وو۔ لیکن ددے تحقیق تا وپیژندو چه دا روایت مرجوح بلکه منقطع او شاذ دے۔ **دویم دلیل** دا وائی چه د اسودؒ روایت په یوه طریقه راغلے بغیر د شك نه او هر چه عروہؒ او قاسمؒ دی نو د هغوی نه دوه دوه روایتونه راغلی، یو کښے دی چه غلام وو او بل کښے دی چه حُر وو۔ نو دا د عروہؒ اجتهاد دے چه مغیث ته ئے غلام وئیلے۔ او مونږ باندے ددے منل لازم نهٔ دی۔ [الکوکب الدری شرح الترمذی، وبذل المجهود] لیکن تا وپیژندل چه د اکثرو روایت د مغیث په عبدیت باندے دے۔ او هغه روایتونه د صحیحینو دی او دا معلومه ده چه د تعارض په وخت به د صحیحینو روایتونه د سننو په روایتونو مقدم وی۔

دارنګه : (كَانَ عَبْدًا) کښې تاویل کوی چه ګانَ ماضی ده، یعنی پخوا زمانه کښې دے غلام وو، روستو آزاد شوے وو. لیکن دا تاویل د سیاق خلاف دے.
بلکه دا چه بریره ﷞ د عائشے ﷞ آزاد کرده وینځه وه هغے ته ئے حال ښۀ معلوم دے، او ګواه د هغے دپاره ابن عباس ﷛ دے چه ما مُغیث ولیدو چه غلام وو. نو دا د هغے دپاره تائید شو. لهذا د مخکنو وجو هاتو او دلائلو په بناء د جمهورو قول قوی دے او همدا د انصاف خبره ده. والله اعلم.

حکمت : وینځه چه آزاده شی نو د هغے ولے اختیار راځی ددے څه حکمت دے؟ نو د احنافو په نیز دا قانون دے چه طلاق بالنساء دے، یعنی طلاق به د ښځے د شان متعلق وی، نو چه کله یوه ښځه وینځه وی نو په هغے دوه طلاقه واقع کیږی او چه کله آزاده شی، بیا به پدے باندے درے طلاقه واقع کیږی، برابره ده چه خاوند ئے غلام وی او که آزاد. نو هرکله چه ښځه آزاده شوه نو دے له جائز دی چه د خاوند زیات ملکیت پرے رانشی لهذا هغه د خپل ځان نه د خاوند زیات ملکیت راتلل په خپل اختیار سره دفع کولے شی چه د هغۀ نه رخصتی واخلی. او جمهور وائی چه طلاق بالرجال دی، یعنی د سړو حالت ته به کتلے شی نۀ د ښځے حالت ته، او سړے خو په ښځه باندے د درے طلاقو ورکولو حق لری، ښځه چه هرڅنګه وی، نو دوئ وائی چه پدے ښځه باندے خو مخکښے هم درے طلاقه واقع کیدل او اُوس به هم درے،
لیکن فرق دا دے چه هرکله دا وینځه وه نو شرعاً ددے شان کم وو، او اُوس چه هرکله آزاده شوه نو شان ئے لوی شو او پوره شوه نو شریعت ورله حق ورکړو او اختیار ئے ورکړو چه خپل قدر کموے نو د غلام خاوند لاندے اُوسیږه او که ځان آزادول غواړے هم ستا اختیار دے.

حاصل دا چه ددے درے وجے دی : (۱) د احنافو په نیز وجه دا ده چه وینځه د زیاتو طلاق ملکیت د ځان نه دفع کوی. (۲) د جمهورو په نیز وینځه پدے وجه د اختیار خاونده ده چه دا د ناقص د لاندے کامله شوه.
(۳) راجح وجه دا ده چه دا د خپل ځان اختیار منده شوه، اُوسه پورے پرے د بل ملکیت وو نو اُوس د خپل ځان مالکه شوه پدے وجه ددے دپاره اختیار ثابت شو.

الفصل الأول

3198 (1) – عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا فِيْ بَرِيْرَةَ : "**خُذِيْهَا فَأَعْتِقِيْهَا** ". وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَيَّرَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : عروة د عائشې رضي الله عنها نه روايت کوي چه رسول الله ﷺ دې ته د بريرې په باره کښې وفرمايل : دا واخله بيا ئې آزاده کړه۔ او ددې خاوند غلام وو نو رسول الله ﷺ دې ته اختيار ورکړو (چه خاوند سره پاتې کيږې او که جدا کيږې) نو دې خپل ځان غوره کړو (او د خاوند نه جدا شوه) او که چرته ددې خاوند آزاد وې نو دې ته به ئې اختيار نۀ وې ورکړې۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: [خُذِيْهَا] دا روايت بالمعنیٰ دې، بل روايت کښې : [اِشْتَرِيْهَا] لفظ دې، د دواړو يو مطلب دې۔ بريره بنت صفوان رضي الله عنها د عائشې رضي الله عنها آزاده کړې وينځه وه او د هغې خدمت به ئې کولو، نو خلکو به پدې باندې صدقې کولے۔ او ددې خاوند مغيث وو چه د ابو احمد بن جحش اسدی رضي الله عنه آزاد کړې غلام وو۔

فوائد : (١) حديث نه ثابته شوه چه کله وينځه آزاده شي، او د هغې خاوند غلام وو، نو هغې دپاره اختيار ثابت دې، که خوښه ئې وي دغه نکاح دې ختمه کړي، اوکه خوښه ئې وي نو باقي دې ئې پريدي، او په دې د اهلِ علمو اجماع ده۔ ځنګه چه امام نوويؒ او ابن المنذرؒ او ابن عبد البرؒ وغيره وئيلي دي۔ [شرح مسلم : ۱۰/۲۹٦]

(٢) او حديث دليل دې چه د ښځې او خاوند ترمينځه په حريت (آزادوالي) کښې سيالي او برابري شرط ده، لهذا غلام به د اصيلې (آزادې) ښځې سيال او انډول نۀ وي، ځکه بريره چه کله آزاده شوه او خاوند ئې غلام وو نو نبي ﷺ هغې له اختيار ورکړو، او کله چه د نکاح په دوام کښې هغې دپاره خيار ثابت شو، نو د نکاح په ابتداء کښې به په طريقه اولیٰ سره ثابت وي۔ بله داچه : غلام نيمائي انسان وي، دې د تصرف کولو نه منع شوې وي، د خپل آقا د حقونو ادا کولو په وجه د خپلې ښځې نه مشغوله وي، په هغې باندې د مالدارو پشان خرچه نشي کولے۔ ځکه دده په لاس کښې چه څۀ دي هغه خو د آقا او مالك وي۔ همدا هغې ته د اختيار ورکولو حکمت دې۔

(۲) دا هم معلومه شوه چه په **حریت** کښې سیالی د نکاح د صحت دپاره شرط نۀ ده، بلکه د نکاح د لزوم دپاره شرط دے، دے وجے نه دا د ښځې پورے تړلے خبره ده که د هغې رضامندی وی او غلام سره نکاح کول غواړی نو کولے ئے شی۔ او دلیل ئے دا قیصه ده چه روستو راځی چه په دے کښې نبی ﷺ هغې ته سفارش کړے وو چه تۀ د دغه غلام (مغیث) سره پاتے شه۔

(٤) د جمهورو اهلِ علمو په نیز چه کله وینځه آزاده شی او د هغې خاوند ((آزاد)) وی نو هغې دپاره د نکاح ماتولو اجازت نشته، ځکه په دے حدیث کښې راغلی چه [وَكَانَ عَبْدًا] ددے نه معلومیږی چه حُر او اصیل به داسے نۀ وی، ځکه که ددۀ حکم هم د غلام پشان شی او ددے دپاره څۀ تاثیر نۀ وی، نو بیا ددے وصف ذکر کولو هیڅ فائده نشته چه هغه غلام وو، حال دا چه غلام کیدل یو مناسب وصف دے چه په دے پورے حکم تړل صحیح دی۔ نو ځکه عروهؒ فرمائی : [وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا] ۔ که هغه آزاد وے نو نبی علیه السلام به بریرے ته اختیار نۀ ورکولے۔

بله دا چه : په نکاح کښې اصل لزوم او دوام دے، دا چه ختمیږی نو صرف په شریعت سره به ختمیږی، او شریعت صرف په غلام کښې راغلے، نو اصیل به په خپل حالت باندے باقی وی (چه ددۀ نه به ښځه ځان نشی آزادولے)۔ بله دا چه : کله خاوند اصیل دے نو ښځې ته ددۀ د طرفه هیڅ ضرر او پیغور نشته، ځکه دا هم آزاده ده، او خاوند ئے هم آزاد دے، کفائت او سیالی موجوده ده۔ پیغور خو به هله وی چه ددے خاوند غلام وی۔

❁ په دے مسئله کښې ابوحنیفهؒ او ثوریؒ خلاف کړے، دوئ وائی: کومه ښځه چه آزاده شی نو هغې له به مطلقًا اختیار وی، برابره خبره ده که خاوند ئے غلام وی یا آزاد، او دلیل کښې د [وَكَانَ حُرًّا] الفاظ ذکر کوی۔ خو دا خبره مخکښې تیره شوه چه دا مرجوح قول دے، او د حریت روایت شاذ دے۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه کله وینځه د خپلے آزادئ نه پس خپل اختیار استعمال کړی نو د هغې خاوند به دغه نکاح سره هغې ته رجوع نشی کولے۔ که رجوع کوی نو نکاح به تازه کوی۔ دغه شان د آزادیدو نه پس چه وینځې ته اختیار حاصل دے نو دا به تر هغه وخته پورے وی تر څو پورے چه ددے غلام خاوند ددے سره جماع نۀ وی کړے، ځکه که یوځل ئے ورسره جماع وکړه نو بیا د وینځې اختیار ساقط شو، ځکه په

راتلونکې روایت کښې دی : [اِنْ قَرُبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ]
(که چرې مغيث تا ته نزدې شو نو ستا اختيار به نۀ وی) او په همدې باندې ابن عمر ﷺ او د هغۀ خور حفصې ﷺ فتویٰ ورکړې، علامه ابن عبد البرّ فرمائی :
په صحابو ﷺ کښې د دوئ خلاف چا نۀ دې کړې۔ او همدا د مدينې د فقهاءِ سبعه ؤ قول دې۔[موطأ : ٢/ ٥٦٢، فتح الباری: ٩/ ٤١٣، الاستذكار: ١٧/ ١٥١]
(٥) او حديث نه معلومه شوه چه وينځه خرڅول د هغې طلاقول نۀ دی، ځکه عائشې ﷺ بريره واخستـه او آزاده ئې کړه او ددې په وجه د هغې نکاح د مغيث سره ماته نشوه، بلکه نبی ﷺ هغې ته د نکاح فسخ کولو يا برقرار ساتلو اختيار ورکړو، نو هغې فسخ غوره کړه۔ که چرې د هغې د خرڅولو په وجه هغه طلاقيدلې نو نبی ﷺ به ورته اختيار نۀ ورکولې، ځکه اختيار ورکول د نکاح د بقاء دليل دې۔ والله تعالىٰ اعلم۔

3199 (2) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ زَوْجُ بَرِيْرَةَ عَبْدًا أَسْوَدَ يُقَالُ لَهُ مُغِيْثٌ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلَيْهِ يَطُوْفُ خَلْفَهَا فِيْ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ يَبْكِيْ وَدُمُوْعُهُ تَسِيْلُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ :" **يَا عَبَّاسُ ! أَلَا تَعْجَبُ مِنْ حُبِّ مُغِيْثٍ بَرِيْرَةَ ؟ وَمِنْ بُغْضِ بَرِيْرَةَ مُغِيْثًا** ؟ " فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **لَوْ رَاجَعْتِهِ** " فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تَأْمُرُنِيْ؟ قَالَ :" **إِنَّمَا أَشْفَعُ** " قَالَتْ : لَا حَاجَةَ لِيْ فِيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : د بريرې خاوند تور غلام وو، چه هغۀ ته مغيث وئيلې شو، ګويا کښې زۀ ګورم هغۀ ته چه د مدينې په کوڅو کښې د هغې پسې شا ته روان دې، ژاړی او د هغۀ اوښکې د هغۀ په ږيره باندې رابهيږی۔ نو نبی کريم ﷺ عباس ﷺ ته وفرمايل : اې عباس ! آيا تۀ تعجب نۀ کوې د محبت د مغيث نه د بريرې سره ؟ او د بغض د بريرې نه د مغيث سره ؟ نو نبی کريم ﷺ (بريرې ته) وفرمايل : که تۀ هغۀ ته واپس شې (نو دا به ډيره ښه وی) هغې ووېل : اې د الله رسوله ! آيا تۀ ما ته حکم کوې؟ (چه زۀ واپس شم بيا خو به منل لازم وی، او که مشوره وی نو بيا منل ضروری نۀ دی) نبی کريم ﷺ وفرمايل : زۀ صرف سفارش کوم (حکم نکوم) وې وئيل : زما دۀ ته هيڅ حاجت نشته۔ (بخاریؒ)

تشريح :[يَطُوْفُ خَلْفَهَا] **سوال** دا دې چه هرکله بريرې خپله خوښه استعمال کړه او

د مغیث نه جدا شوه نو نکاح خو فسخ شوه نو دا زنانه پردئ شوه بیا مغیث ورپسے ځنګه ګرځی؟ **جواب** دا دے چه مغیث اُوس ددے خاطِب (خطبه کونکے) ګرځیدلے او خاطب دپاره داسے کار جائز وی، چه خپله مخطوبه ووینی۔ لکه چه مخکښے تیر شو۔
[اَلَا تَعْجَبُ] ۔ وجه د تعجب دا ده چه دا مشهوره ده چه [اَلْحُبُّ مِنَ الْجَانِبَيْنِ]۔ مینه د دواړو طرفونو نه وی، او دلته مغیث د بریرے سره سخته مینه کوی او هغه ترے اعراض کوی۔ [لَوْ رَاجَعْتِهٖ]۔ [اَیْ لَکَانَ خَیْرًا]۔ یعنی که تهٔ ورته رجوع وکړے نو ذے کښے به خیر وی) د نبی کریم ﷺ په مغیث باندے زړهٔ وسوزیدو او شفقت ئے پرے راغلو نو بریرے ته ئے د هغهٔ سره د نکاح کولو سفارش وکړو۔

فوائد : (۱) دا حدیث دلیل دے چه که دا اصیله ښځه د دغه غلام سره په پاتے کیدو راضی شی نو دا نکاح به صحیح وی۔

(۲) – دا حدیث دلیل دے چه د رسول الله ﷺ امر منل فرض دی، مګر د چا سفارش منل ضروری نهٔ دی، نو د چا سفارش چه قبول نکړے شی هغهٔ له خفګان نهٔ دے پکار۔

(۳) حاکم او قاضی له مستحب دی چه جګړه مار ته ډ نرمئ سفارش وکړی، کله چه پکښے هغه جګړه مار ته ضرر نهٔ وی او په هغهٔ الزام نهٔ وی۔ (٤) په سفارش کښے زور کول مناسب نهٔ دی خاصکر کله چه د هغے په قبلولو کښے په مسؤول باندے مشقت وی، بلکه دا به په طریقه د عرض، درخواست او ترغیب سره وی۔ (۵) که چا سفارش نهٔ وی طلب کړے، نو د سفارش نه مخکښے هم د هغهٔ دپاره سفارش کول مستحب دی۔ دلته مغیث د نبی کریم ﷺ نه د سفارش مطالبه نهٔ وه کړے، او په بعض طرقو ددے حدیث کښے دی چه عباس ؓ نبی کریم ﷺ ته دا خبره کړے وه چه سفارش وکړی۔ (فتح الباری)۔ (٦) د سفارش کونکی اجر کیږی اګر که د هغهٔ خبره ونهٔ منلے شی۔

(۷) د غټ او شریف انسان سفارش خکته انسان ته هم جائز دے۔ (۸) یو ملګرے بل ملګری ته د الله تعالیٰ د احکامو او نبنو نه د عبرت اخستو تنبیه او خبردارے ورکولے شی، لکه دلته نبی علیه السلام عباس ؓ ته د بریرے سره د مغیث د محبت نه تعجب ورکړو۔

(۹) د نبی علیه السلام د هر چا حالت ته کتل ډیر په حاضرذهنئ او فکر سره وو۔

(۱۰) هر شے چه د عادت خلاف وی د هغے نه تعجب کیدے شی او د هغے نه عبرت اخستل پکار دی۔ (۱۱) حُسنِ ادب د بریرے رضی الله عنها معلوم شو ځکه چه هغے د

رسول الله ﷺ د شفاعت تردید په الفاظو سره ونکړو چه ستا سفارش نهٔ منم، بلکه داسے ئے وویل چه زما مغیث ته ضرورت نشته۔ (۱۲) زیات محبت د انسان نه حیاء ختموی، لکه د مُغیث حالت ته وګوره چه د خپل محبت پټوالی باندے قادر نهٔ وو۔ او رسول الله ﷺ د هغهٔ پدے کار باندے انکار ونکړو ددے نه ثابته شوه چه ددهٔ په شان حالت د چا وی نو د هغهٔ عذر قبلول پکار دی چه د هغهٔ د منصب او شان سره نالائقه کار ترے بے اختیاره واقع کیږی نو دا معذور دے۔ (۱۳) کُنده ښځه باندے به په نکاح کښے زور نشی کولے اګرکه هغه وینځه آزاده کړے شوی وی۔ (۱٤) مشر او شریف په ادنیٰ شخص باندے د نکاح جرګه کولے شی۔ (۱۵) غلام له جائز دی چه خپله مُطلقه باندے د خپل سیّد د اجازت نه بغیر د نکاح جرګه وکړی۔ (۱٦) که یوه زنانه په حالت د عدت کښے وی نو د اجنبی (دریمګړی) دپاره جائز دی چه د طلاقونکی دپاره ورته د هغهٔ پیغام د نکاح ولیږی۔ (۱۷) نکاح چه کله فسخ کړے شی نو په هغے کښے رجوع نهٔ کیږی مګر په نوے نکاح سره۔ (۱۸) د ښځے او خاوند ترمینځ محبت او بغض کښے په یو باندے هم ملامتیا نهٔ وی ځکه چه دا غیر اختیاری وی۔ (۱۹) د مُحب د خپل محبوب د فراق پسے او دنیاوی او دینی اُمور فوت کیدو پسے ژړا کول جائز دی۔ (۲۰) که یو تن د خپلے ښځے سره د محبت اظهار وکړی نو پدے کښے هیڅ عار او شرم نشته۔

(۲۱) د سړی هغه ښځے ته میلان جائز دے چه د هغے په نکاح یا رجوع کښے طمع لری۔

(۲۲) طلاقے شوے ښځے سره د خپل خاوند خبرے په لاره کښے جائز دی کله چه د فتنے نه په امن کښے وی، دے دپاره چه خاوند باندے بیرته شفقت وکړی۔ (۲۳) د یو سړی د حال نه چه څه ښکاره کیږی د هغے نه اخبار ورکول جائز دی اګرکه هغهٔ په خپله ژبه سره دا حال نهٔ وی ښکاره کړے۔ لکه دلته نبی ﷺ د مغیث حال عباس رضی الله عنه ته ووئیلو چه ددهٔ د بریرے رضی الله عنها سره مینه ده۔ (۲٤) وینځه چه کله د غلام په نکاح کښے وی بیا آزاده شی نو درے حیضه عدت به تیره وی د آزادے ښځے په شان۔ او دلیل ئے ددے روایت نور الفاظ دی : [أُمِرَتْ بَرِيرَةُ أَنْ تَعْتَدَّ بِثَلَاثِ حِيَضٍ] [صحيح أبي داود : ۱۹۳۷، سنن ابن ماجه : ۱٦۹۰ : صحيح]۔ بریرے ته حکم شوے وو چه درے حیضه عدت تیر کړی۔ لکه د آزادے ښځے په شان۔ ددے حدیث د تولو طرقو نه حافظ ابن حجرؒ وغیره (۱٤٤) فوائد راویستلی دی۔

والله اعلم۔

الفصل الثانی

په غلام او وینځه کښې سرے مخکښې آزادول بهتر دی

3200 (3) – عَنْ عَائِشَةَ : أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تُعْتِقَ مَمْلُوكَيْنِ لَهَا زَوْجٌ فَسَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهَا أَنْ تَبْدَأَ بِالرَّجُلِ قَبْلَ الْمَرْأَةِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ .

ترجمه : عائشه ﷞ نه روایت دے چه دے اراده وکړه چه آزاد کړی خپل دوه مملوکه آزاد کړی چه هغه خپل مینځ کښې خاوند او ښځه وو، نو نبی کریم ﷺ نه ئے پوښتنه وکړه نو هغهٔ ورته حکم وکړو چه د ښځے نه مخکښې د سړی په آزادولو ډے شروع وکړی. (ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح : [زَوْجٌ] دا مرفوع دے، مبتداء ئے پټه ده، یعنی هما زوجان. دا دواړه جوړه وو یعنی یو مذکر وو او بل مؤنث.

[قَبْلَ الْمَرْأَةِ] یعنی که دواړه آزادوی نو اول سړے آزادول پکار دی بیا ښځه، ددے حکمت دا دے چه یو خو سړے بهتر دے په ښځه پدے وجه چه که سړے آزاد شی نو ځانله نفقه پیدا کول ورته آسان وی او زنانه ډیر کرته په غلامئ کښې بهتره وی او چه آزاده شی نو ضائع کیږی. دویم : سړے چه کله اول آزاد شی نو نکاح نهٔ فسخ کیږی (ځکه چه د آزاد خاوند نه وینځه چه کله آزاده شی خپله نکاح نشی فسخ کولے) نو د دواړو کور به وران نشی او په نکاح به باقی پاتے شی. او کله چه وینځه مخکښې آزاده شی او خاوند لا نهٔ وی آزاد شوے، نو ښځے له د نکاح فسخ کولو اختیار حاصلیږی نو سړی باندے په آزادئ کښې ابتداء بهتره شوه.

دا حدیث د ائمه ثلاثه ؒ دلیل دے چه د آزاد سړی په نکاح کښې وینځه وی او آزاده شی نو اختیار ئے نشته او چه د غلام په نکاح کښې ښځه آزاده شی نو بیا ئے اختیار ثابتیږی. او دا ددے خبرے هم دلیل دے چه مغیث د بریرے د آزادیدو په وخت غلام وو، پدے وجه خو رسول الله ﷺ بریرے ﷞ ته د نکاح د ماتولو اختیار ورکړو.

او پدے کښې یوه پټه اشاره هم ملاویږی چه کومو راویانو دا وئیلی چه مغیث د آزادیدو په وخت غلام وو، دا خبره هم صحیح ده، او کومو چه وئیلی چه آزاد وو نو دا خبره ئے پدے وجه کړے چه دا هم وروسته نزدے وخت کښې آزاد شوے وو. والله اعلم.

درجة الحديث :[ضعيف أو حسن] أبوداود : ٢٢٣٧، النسائي : (١٦١/٦) وابن ماجه : ٢٥٣٢، فيه عبيد الله بن عبد الرحمن بن موهب، قال الحافظ : ليس بالقوى، وقال في التقريب : مقبول، واختلف قول ابن معين فيه، وقال ابوحاتم : صالح الحديث، وقال حسين سليم أسد : إسناده حسن : تعليق مسند ابى يعلى : ٤٧٥٦]

كه خاوند وينځي ته د آزاديدو نه روستو نزدې شو نو د هغې اختيار ختم شو

3201 (4) – وَعَنْهَا : أَنَّ بَرِيرَةَ عُتِقَتْ وَهِيَ عِنْدَ مُغِيثٍ فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ لَهَا : " **إِنْ قَرُبَكِ فَلَا خِيَارَ لَكِ** ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه بريره آزاده شوه او هغه د مغيث سره (په نكاح كښې) وه نو رسول الله ﷺ هغې له اختيار وركړو او دا ئے ورته وفرمايل : كه هغه تا ته نزدې شو نو ستا به اختيار نۀ وى. (ابوداودؒ) او دا باب د دريم فصل نه خالي دے.

تشريح :[فَلَا خِيَارَ]. پدې روايت كښې د وينځې د آزاديدو نه پس د اختيار حاصليدو شرط ذكر شو چه سمدست د نزديكت نه مخكښې به خپل اختيار استعمالوى، د نزديكت نه پس ددې اختيار ختميږى، بيا به دا د غلام خاوند په نكاح كښې پاتے وى.

مسئله : آيا د داسې زنانه خيار به فسخ د نكاح وى او كه طلاق؟. نو راجح دا ده چه دا فسخ ده، ځكه چه طلاق هغه دے چه سړے په هغې تكلم او تلفظ وكړى او دلته ښځې خپل اختيار استعمال كړے. نو دا فسخ د نكاح شوه. [البحر المحيط الثجاج : ٥١٨/٢٦، المغنى : ٧٠/١٠].

مسئله : اختيار دپاره موده مقرره شته ؟ امام ابوحنيفهٗ وئيلى دى چه په كوم مجلس كښې خبره شوه چه دا آزده شوه نو دے وخت كښې به اختيار استعمالوى. د امام شافعيؒ نه دريے قوله نقل دى. يو ددې قول په شان. دويم دا چه خيار د شفعه په شان على الفور دے. دريم دا چه دريے ورځو پورے اختيار دے. او د امام احمد بن حنبلؒ، د فقهاءِ سبعه، مالكؒ، اوزاعىؒ وغيره جمهورو علماؤ قول دا دے چه دے اختيار كښې تراخي جائز ده پدې شرط چه نزديكت ئے ورسره نۀ وى كړے او همدا حديث د جمهورو دليل دے. والله

اعلم۔ [المغنی لابن قدامة : ۱۰/۷۱]۔

درجة الحديث :[ضعیف] ابو داود : ۲۲۳۶، فیه عنعنة ابن اسحاق، انظر ارواء الغلیل (۱۹۰۸)

شروع ۱۳ رمضان ۱۸ مئ ۲۰۱۹

۷- باب الصداق

د مهر بیان۔

دلته هم یو څو بحثونه دی، د صداق لغوی معنیٰ، اصطلاحی معنیٰ، نومونه، د مشروعیت حکمت، د مهر مقدار، وغیره۔

صِداق د صاد په زیر او زور دواړو سره استعمال دے، مهر ته وائی، البته زوَر پکښے زیات مشهور دے، او دے ته صداق ځکه وائی چه دا د صِدق نه دے او په مهر سره هم د سړی د ښځے سره په نکاح کښے د رغبت رشتینوالے معلومیږی پدے وجه ورته مال ورکوی۔ د مهر دپاره کله [صَدُقَةٌ] لفظ هم استعمالیږی۔ لکه قرآن کریم کښے راځی :

﴿وَآتُوا النِّسَآءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾ [النساء : ٤]

(ښځو له د هغوئ مهرونه په خوشحالئ سره ورکوئ)۔

صَدَاقٌ (مهر) : هغه مال یا ددے قائم مقام شے چه ښځے سره د نکاح کولو په وخت هغے ته ورکړے کیږی۔ **د مهر ډیر نومونه دی** : (۱) صداق (۲) صَدُقَه (۳) نِحله (٤) فریضه (مقرر شے) (۵) اجر (٦) طَوْل (۷) جَهاز یا جِهاز (۸) حِباء۔ (۹) عُقْر، (۱۰) علائق۔ (اَدُّوا الْعَلَائِقَ الحدیث) ابن مفلحؒ په نظم کښے اته ذکر کړی :

صَدَاقٌ وَمَهْرٌ وَنِحْلَةٌ وَفَرِيضٌ	❁	حِبَاءٌ وَأَجْرٌ عُقْرُ عَلَائِق

او خلوتیؒ پسے دوه بیتونه نور زیات کړی۔

صَدَاقٌ وَمَهْرٌ نِحْلَةٌ وَفَرِيضَةٌ	❁	حِبَاءٌ وَاَجْرٌ صَدُقَةٌ بِلُغَاتِهَا
وَمِنْ جُمْلَةِ الْأَسْمَاءِ عُقْرٌ عَلَائِقُ	❁	فَدَارِكْ ثِمَارَ الْعِلْمِ قَبْلَ فَوَاتِهَا

مهر په قرآن، سنت او اجماع امت سره ثابت دے، په څو آیتونو کښې ددے ذکر راغلے۔ یو آیت پورته ذکر شو۔ بل آیت دادے : ﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾ [النساء:٢٤] (نو په کوم شئ سره چه تاسو ددے ښځو نه فائده واخلئ نو د هغوئ مهرونه ورکوئ په داسے حال کښے چه دا مقرر شے دے) علامه ابن عبد البرؒ فرمائی: د علماء المسلمین په دے اجماع ده چه په نکاح کښے وطی په غیر د مهر نه جائز نۀ ده برابره خبره ده که مقرر مهر نقد وی اوکه نسیه۔ [الأستذکار: ١٦/٦٧]۔

د مهر د مشروعیت حکمت : دادے چه دا د ښځے د شرمګاه حلالولو دپاره عوض دے، او دا د ښځے او خاوند ترمینځه د رحمت او مودت مضبوطولو ذریعه ده۔ او په دے کښے د ښځے اکرام او اِعزاز دے، او په دے کښے غرض ددے خوشحالول دی، او د مور پلار نه د جدایئ په وجه چه کوم وحشت دیته رسیږی د هغے علاج دے۔ او د مهر ورکولو دا مطلب نۀ دے چه ګنے ښځه یوه سودا ده چه د پیسو په عوض خرڅولے شی لکه څنګه چه د بعض خلقو خیال دے چه دوئ ډیر ډیر مهرونه مقرروی او په دے سره خپله لور خور قدروی۔ بلکه دا د ښځے اکرام او عزت دے او په دے سره د هغے خوشحالول دی۔

❁ دا خبره هم پیژندل ضروری دی چه ((مهر)) صرف د ښځے حق دے، په دے کښے د بل چا هیڅ حق نشته، بلکه ښځے له جائز دی چه په دے کښے هر قِسم تصرف وکړی۔ بعضِ اولیاء د ښځے په مهر قبضه کوی او هغه په ولیمه یا دعوتونو کښے خرچ کوی۔ بلکه ډیرے ځوانے جینکئ داسے دی چه هغوئ ته د خپلو مهرونو اندازه هم معلومه نۀ وی او نۀ ورته دا پته ولګی چه زما مهر څۀ شو او په څۀ کښے ولګیدۀ؟ حالانکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾ [النساء : ٤]۔

مسئله : ښځے ته مهر ورکول په امت باندے د واجباتو د نکاح نه دی، او په نبی علیه السلام باندے مهر ورکول واجب نۀ وو، دا وجه ده چه د زینب بنت جحش رضی الله عنها نکاح په آسمانونو کښے شوے وه او په هغے کښے مهر مقرر نۀ وو۔

مسئله : -- د مهر څومره مقدار او اندازه ده ؟

نو اول خو په دے کښے تقریباً اتفاق دے چه شرعًا د ډیر مهر دپاره هیڅ حد مقرر نۀ دے۔ او ددے دلیل دا آیتِ کریمه دے : ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا﴾ [النساء : ٢٠] (او تاسو یوے

ښځے تـه خزانه ورکړے وی) دلته قنطار د کثرت نه کنایه ده، چه ددے نه معلومیږی چه ډیر مهر ورکول هم جائز دی۔ لیکن د مهر په کمه اندازه کښے اختلاف دے، درے قوله دی : (۱) جمهور علماء وائی چه د مهر کمه اندازه معلومه نۀ ده، بلکه هر هغه شے مهر جوړیدے شی چه هغه مال وی او یا په مال سره د هغے قیمت لګیدے شی۔ نوکه یوے ښځے سره ئے په یو داسے شئ نکاح وتړله چه هغه نۀ مال وو، او نۀ په مال سره د هغے قیمت لګولے شو، لکه د غنم دانه یا د کهجورے هډوکے وغیره، نو په دے صورت کښے به دا مهر ذکر کول فاسد وی او مهرِ مثل به واجب وی۔ او دا د حنابلهؒ او شوافعوؒ قول دے۔ **دلائل** : ددے علماؤ سره دلیل کتاب او سنت دے، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَاُحِلَّ لَکُمۡ مَّا وَرَآءَ ذٰلِکُمۡ اَنۡ تَبۡتَغُوۡا بِاَمۡوَالِکُمۡ مُّحۡصِنِیۡنَ غَیۡرَ مُسَافِحِیۡنَ﴾ [النساء : ۲٤]

طریقه د استدلال داده چه دلته (اموال) لفظ مطلق دے، ډیر او لږ دواړو ته شامل دے۔

۲-روستو راځی چه نبی ﷺ صحابی ته وفرمایل : [اِلْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ] دلیل دے چه مهر هر هغه شے جوړیدے شی چه هغه مالیت لری اونفع ترے پورته کیدے شی۔ اګرکه یوه ګوتمه اندازه وی۔ ۳- د نبی ﷺ په زمانـه کښے پـه نعلین (چپړو/ څپلو) بانـدے نکاح شویده۔ ٤- په [مِلْأَ كَفَّيْهِ سَوِيْقًا] (د یوے ډکے لپے ستوانو) سره نـکاح شـویـده۔ (۲) قـول : امام مالكؒ وائی : لږه اندازه د مهر ربع دینار (د یوے اشرفئ څلورمه برخه) یا د چانـدئ درے درهـم (روپئ) د مهر کمه اندازه ده۔ دوئ د سرقے په نـصاب بانـدے قیاس کوی۔ چه ربع دینار چا غلا کړو نو لاس به ترے پریکړے کیږی نو دغـه شان پـه ربع دینار به نکاح هم کیږی۔ **جواب** : قیاس تـه ضرورت نشته او حدیث کښے موجود نۀ دے، بلکه حدیثونه ددے په خلاف دی۔

(۳) قول : ابو حنیفهؒ فرمائی : کمه اندازه ئے لس روپئ یا ددے برابر قیمت دے۔ دوئ دوه دلیله پیش کوی۔ یو د علی رضی الله عنه دا اثر [لَايَكُوْنُ الْمَهْرُ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ] [الدارقطنی] - (مهر د لسو درهمو نه کم نۀ وی) **جواب** : دا اثر ضعیف دے۔ [قَالَ ابْنُ حِبَّانَ هٰذَا الْحَدِيْثُ ضَعِيْفٌ فِيْهِ دَاوٗدُ الْأَوْدِيُّ وَهُوَ ضَعِيْفٌ، كَانَ يَقُوْلُ بِالرَّجْعَةِ وَلَمْ يَسْمَعِ الشَّعْبِيُّ مِنْ عَلِيٍّ، (ابن الجوزی فی التحقیق) وفی اسناد آخر جُویبر وهو ضعیف۔ وفی إسناد آخر : محمد بن مروان قال الذهبی : لَا يَكَادُ يُعْرَفُ بِالْحَدِيْثِ]. لهذا دا روایت ضعیف او منقطع دے، او په مرفوع روایت کښے دی : [لَا صَدَاقَ دُوْنَ عَشَرَةٍ] [دارقطنی : ۳٦۰۲] پدے

روايت كښې مُبشر بن عبيد متروك الحديث راوی دے۔

دارقطنیؒ وائی : [اَحَادِيثُهُ لَا يُتَابَعُ عَلَيهَا] (ددهٔ د حديثونو متابعت نشته)

دويم دا چه (لَا مَهْرَ لِأَقَلَّ مِنْ عَشْرَةِ دَرَاهِمَ) سَره د ضعف نه خبر واحد دے او د احنافو په نيز د خبر واحد زيادت په كتاب الله باندے صحيح نهٔ دے نو دلته څنګه ددے زيادت په كتاب الله باندے وشو چه (اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ) قليل او كثير ټولو ته شامل دے، او دوئ ئے مقيد كوی په لسو دراهمو پورے۔ دا د احنافو د خپلو اصولو خلاف دے چه كوی ئے۔ معلومه شوه چه دا مذهب ضعيف دے۔ او د جمهورو قول قوی دے۔

دريمه وجه دا ده چه دغه حديث معارض دے د هغه صحيح احاديثو سره چه صحيحينو روايت كړی، او دا قانون دے چه كله د صحيحينو روايات د سننو د رواياتو سره تعارض راشی نو په اتفاق سره ترجيح روايت د صحيحينو لره وی۔

نو ثابته شوه چه : د مهر كمه اندازه مقرر نهٔ ده، په همدے قول سره ټول حديثونه راجمع كيږی۔ او دويم قول ضعيف دے۔ د قياس نه سوئ په دے بل دليل نشته، او دا قياس هم د صحيح حديثونو خلاف دے۔

بله مسئله : په تعليم د قرآن باندے نكاح كيږی او كه نهٔ؟ ددے مسئلے تفصيل روستو حديث كښے راځی۔

الفصل الأول

د مهر كم نه كم مقدار څومره كيدل پكار دی؟

3202 (1) — عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ وَهَبْتُ نَفْسِيْ لَكَ فَقَامَتْ طَوِيْلًا فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ زَوِّجْنِيْهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ فِيْهَا حَاجَةٌ فَقَالَ : "**هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا ؟**" قَالَ : مَا عِنْدِيْ إِلَّا إِزَارِيْ هٰذَا . قَالَ : "**فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ**" فَالْتَمَسَ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "**هَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ**" قَالَ : نَعَمْ سُوْرَةُ كَذَا وَسُوْرَةُ كَذَا فَقَالَ : "**زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ**" . وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ : "**اِنْطَلِقْ فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْآنِ**" . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : سهل بن سعد ﷛ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته یوه ښځه راغله عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! ما خپل ځان تا ته وباښلو ، نو هغه ډیر ساعت اُودریده، نو یو سړے راپاڅیدو عرض ئے وکړو اے د الله رسوله ! ما ته ئے په نکاح راکړه که ستا پدے کښے څه حاجت نۀ وی۔ نبی علیه السلام وفرمایل : آیا تا سره څه شے شته چه تۀ ئے دے ته په مهر کښے ورکړے؟ هغۀ ووئیل : نشته ما سره مګر زما دا لنګ دے۔ نبی علیه السلام وفرمایل : (لاړ شه څه شے) ولټوه اګرکه د وسپنے یوه ګوتمه وی۔ (هغه لاړو، څه شے ئے) ولټولو لیکن هیڅ شے ئے ونۀ موندو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : آیا تا سره د قرآن کریم نه څه شے (زده) شته ؟ هغۀ عرض وکړو : آؤ، فلانے فلانے سورت دے، نبی ﷺ وفرمایل : ما تا ته دا په بدله د هغه (سورتونو) کښے درکړه چه تا سره د قرآن کریم نه دی۔ او په یو روایت کښے دی : وے فرمایل : لاړ شه یقیناً ما دا تا ته په نکاح درکړه، نو دے ته د قرآن کریم نه (څه حصه) زده کړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [اِمْرَأَةٌ] ددے ښځے تعیین په هیڅ روایت کښے نۀ دے راغلے۔ عائشه ﷞ فرمائی : ((ماله به په هغه ښځو غیرت راتلو چه هغوئ به رسول الله ﷺ ته خپل ځان وربښلو)) حافظ فرمائی : دے نه معلومیږی چه دا قِسم ښځے د یوے نه زیاتے وے چه هغوئ خپل ځان رسول الله ﷺ ته ښبلے وو۔ [فتح الباری: ۸/۵۲۵]

[وَهَبْتُ نَفْسِيْ اِلَيْكَ] (ما خپل ځان تا ته بغیر د عوض طلب کولو نه وبښلو چه تۀ په ما باندے څه کوے، خپله مے په نکاح کوے او که بل چا ته مے ورکوے)

صَعَّدَ : د صاد او عین په زور او شد سره : او په دے دواړو صیغو کښے دا تشدید د پوره فکر یا د بار بار فکر کولو دپاره دے۔

[وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ] أَيْ وَلَوْ كَانَ الْمَوْجُوْدُ خَاتَمًا (اګرکه یوه ګوتمه درسره وی)

په بل روایت کښے دی : [طَأْطَأَ رَأْسَهٗ] أَيْ خَفَضَ : (سر ئے ښکته کړو) او د حیاء د وجے نه ئے خاموشی اختیار کړه او داسے ئے ورته ونۀ فرمایل : چه زما ضرورت درته نشته، او یا د وحی د انتظار د وجے، او یا د حالاتو مناسب د جواب ورکولو دپاره۔

په بل روایت کښے دی : داسے ئے ورته وفرمایل : (تَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ؟).

دا په یادو لوستلے شے ؟ هغۀ ووئیل : آؤ۔

د ابوداؤدؒ په روایت کښے د ابو هریره ﷛ نه مرفوعاً نقل دی : (مَا تَحْفَظُ؟)۔ قَالَ : سُوْرَةَ

الْبَقَرَةِ، وَالَّتِيْ تَلِيْهَا۔ قَالَ : (قُمْ، فَعَلِّمْهَا عِشْرِيْنَ آيَةً) تا ته كوم سورتونه ياد دي؟ هغهٔ ووئيل : سورة البقره او هغې پسې (سورة آلعمران)، نبي عليه السلام ورته وفرمايل : لاړ شه، دې ته شل آيتونه زده كړه۔ [بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ] په (باء) كښې دوه قوله دي :

(أ) دا د مقابلې دپاره ده او دا په عوضونو داخليږي، لكه : زَوَّجْتُكَ بِكَذَا، وَبِعْتُكَ كَذَا بِكَذَا (ما تاله د دومره مهر په عوض دا فلانۍ ښځه در كړه، او ما په تا دا شے د دومره پيسو په عوض درخرڅ كړو) (ب) يا دا (باء) سببيه ده، ماله تاله دا ښځه په دې وجه په نكاح دركړه چه تاسره قرآن دے۔ خو اولنۍ معنىٰ حق ته نزدے ده، ځكه كه دويمه معنىٰ واخستے شي نو مطلب به داشي چه نبي ﷺ دغه سړي ته د هغهٔ د قرآن په وجه اكرامًا دغه ښځه په نكاح وركړے، نو دا موهوبه شوه او موهوبه صرف د نبي كريم ﷺ خصوصيت وو، ځكه په دې كښې خو ښځے ته هيڅ قِسم عوض ملاؤ نشو، نهٔ عين او نهٔ منفعت۔ اوكه اوله معنىٰ واخستے شي نو بيا د قرآن تعليم د هغې دپاره عوض شو۔ او ددې تائيد د مسلمؒ د روايت نه كيږي چه : [فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْآنِ] (ديته قرآن وروښايه)۔

فوائد : دا ډير عظيم او جليل القدر حديث دے، امام بخاريؒ دا په خپل صحيح كښې مختصرًا او مطولًا ديارلس (۱۳) ځائے ذكر كړے۔ دا د قرآن او د نكاح متعلق په بے شماره احكامو او فوائدو مشتمل دے۔ بعض دا دي :

(۱) حديث نه ثابته شوه چه په نكاح كښې رغبت لرونكے جينۍ او ښځے دپاره جائز دي چه خپل ځان په نيك سړي پيش كړي چه هغهٔ سره د وادهٔ كولو او ملګرے جوړيدو په وجه د خپل ژوند د ښائسته كيدو اميد لرلے شي۔ او كله چه دغه نيك سړے ددے سره د نكاح كولو اراده ولري نو بيا به په خپل شرط سره دا ورته وركړے شي (چه هغه د ولي اذن او اجازت دے)۔ (۲) نبي ﷺ دے زنانه ته دا ونهٔ وئيل چه ستا عدت تير شوے او كه نهٔ ؟ نو دے نه معلومه شوه چه دا تپوس ضروري نهٔ وو۔

(۳) د ښځے بغير د مهر نه د خپل ځان هبه كول نبي كريم ﷺ ته د هغهٔ خصوصيت وو، چه قرآن كريم كښې راغلے، الله تعالىٰ فرمائي : ﴿وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِنْ وَّهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ [احزاب : ۵۰] (او مونږ نبي (ﷺ) دپاره هغه مومنه ښځه حلاله كړے چه هغه خپل ځان نبي (ﷺ) ته وروبښي، كه نبي په نكاح سره ددے د اخستو اراده لري، خو دا به د مؤمنانو نه بغير صرف تا دپاره جائز

وي)۔ (٤) بل روايت كښې راغلي دي : [فَصَعَّدَ النَّظَرَ اليها وَصَوَّبَهُ] هغې ته ئې ښكته بره وكتل او سوچ ئې پكښې وكړو۔ دې نه معلومه شوه چه د زنانه مخ او لاسونه ښكاره وو، نو دا د محققينو دليل شو چه مخ او لاسونه د زنانه عورت نهٔ دي۔ ليكن دې كښې خبرې شته ځكه چه كيدې شي چه دا د حجاب د نازليدو نه مخكښې واقعه وي۔

(٥) احنافو ترې معلومه كړيده چه نكاح بغير د ولي نه جائز ده۔ **جواب :** مخكښې تير شوي چه نبي د ټول امت د زنانو ولي دې، لكه الله تعالىٰ زينب نبي عليه السلام له په آسمانونو كښې په نكاح وركړه ځكه چه نبي د هغې ولي هم وو۔

دارنګه د نبي په نكاح كښې مهر هم ضروري نهٔ دې، او هرچه باقي مسلمانان دي نو د هغوئ په نكاح كښې مهر ضروري دې، مقرر وي كه مهر مثل۔

(٦) دا حديث دليل دې چه نكاح په حالت د غربت او فقيرئ كښې هم جائز ده نو رد شو په يو قول د احنافو باندې۔ (٧) په نكاح كښې ښځې له مهر وركول واجب دي، لكه نبي ﷺ دې سړي نه ددې مطالبه وكړه۔ او حديث نه معلومه شوه چه بهتره داده چه د نكاح ترلو په وخت مهر مقرر كړې شي، ځكه دا د اختلاف نه د بچ كيدو ښه ذريعه ده، او په دې كښې د ښځې نفع هم ده ځكه كه دا د دخول (جماع) نه مخكښې طلاقه شوه نو نيمائي مهر ورله ثابت شو، لكه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ﴾ [البقرة : ۲۳۷] (كه چرې تاسو د كوروالي نه مخكښې ښځې طلاقې كړئ او هغوئ له مو مهر مقرر كړې وو نو بيا هغوئ له د مقرر كړي مهر نيمائي برخه ده)۔ خو كه مهر ئې نهٔ وو مقرر كړې او نكاح ئې ورسره وكړه نو هم نكاح صحيح ده، لكه الله تعالىٰ فرمائي :﴿لَاجُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً﴾ [البقرة :۲۳٦] نو دې آيت نه معلومه شوه چه مهر ذكر كولو نه بغير هم نكاح كيږي، خو چه نكاح وشوه نو په دخول سره به ورله مهرِ مثل وركوي۔ (يعني داسې مهر چه ددې په خپلوانو كښې ددې پشان جينئ له وركولې شي)۔

(٨) حديث دليل دې چه په نكاح كښې خُطبه لوستل واجب نهٔ دي، بلكه مسنون عمل دې، ځكه ددې حديث په هيڅ روايت كښې ددې تذكره نهٔ ده راغلې۔

(٩) او حديث دليل دې چه نكاح دپاره شرعًا څهٔ خاص لفظ مقرر نهٔ دې بلكه دا په هر يو لفظ باندې چه په نكاح باندې عُرفًا دلالت كوي، ترل كيږي۔ كه هغه د تزويج لفظ

وی، کـه د تمليك اوكه بل لفظ وی، ځكه په عقودو (او معاملاتو) كښې مقصد او معنیٰ لـه اعتبـار وی، نهٔ الفاظو لره۔ د بيع، شراء، اجارې، هبې او نكاح الفاظ داسې تَعَبّدی الفاظ نـهٔ دی چـه ددې نـه تـجـاوز كـول او نـور الـفـاظ ويل جائز نهٔ وی، بلكه په دې باره كښې د خلكو عرف او رواج له اعتبار دې اګركه هر قِسم لغت او ژبه لری۔ او دغه مختلف الفاظ د راويانو تـعـبـيـر دې، او ظاهره داده چه نبی ﷺ به د [زَوَّجْتُكَهَا] لـفـظ وئيلی وی ځكه هـغـه سـړی ورنـه په [زَوِّجْنِيهَا] لـفـظ سره مـطـالـبـه كړې وه، او غالبـه داده چـه د دواړو متـعـاقـدينو الفاظ يو شان وی۔ نو چاچه عربيت شرط كړې لكه شوفعو (المجموع) يا ماضی او امر صيغه نو دا يې دليله خبره ده كما مرّ تفصيله فی كتاب النكاح۔

(۱۰) مسئله : آيا قرآن مهر جوړيدې شی ؟

دې حـديـث نـه مـعـلـومه شوه چه د قرآن كريم تعليم په نكاح كښې مهر جوړيدې شی، ځـكه [زَوَّجْتُكَهَا بِـمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ] كښې دا (بـاء) د عـوض او مـقـابلې دپاره ده۔ لكه مخكښې ذكر شو۔ او دا د شوافعوؒ او امام ابن حزمؒ قول او د امام احمدؒ نه يو روايت دې۔

دويم قـول دادې : چـه د قـرآن تعليم په نكاح كښې مهر نشی جوړيدې، او داد جمهورو حـنـفـيـانو، مالكيانو او حنبليانوؒ قول دې۔ د دوئ دليل دا آيت دې : ﴿ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ ﴾ [النساء : ۲٤] نو په دې آيت كښې دا شرط كړې شوې چـه مهر به مال وی، نو كوم شې چه مال نهٔ وی هغه به مهر هم نهٔ جوړيږی، نو په مهر كښې د هغې ذكر كول صحيح نهٔ دی۔

جواب : (أ) مـنـفعت تـه هم مال وئيل كيږی۔ (ب) كـه څوك په مال باندې قادر وی نو هـغـه بـه مـال وركـوی۔ لـكـه دا خبره په آيت كښې ذكر شوه۔ اوكه څوك قادر نهٔ وی نو د قـرآن تـعـلـيـم هم د نكاح عوض (مهر) ګرځيدې شی۔ لكه په دې حديث كښې رسول الله ﷺ اول دغـه سـړی نـه د مـال مطالبه وكړه، او هر كله چه هغهٔ سره مال نهٔ وو نو بيا ئې د قـرآن كـريـم تعليم د هغهٔ مهر وګرځولو۔ او د احنافو په نيز (بِمَا مَعَكَ) كښې باء د سببيت دپاره ده۔ يـعـنـی پـه سبب د قرآن مې دا ښځه په نكاح دركړه او مهر به روستو مقرروی۔

لـكـه احـنـافـو مـهـر پـه دوه قـسـمـه ويشـلـې دې، يو مهر مُعَجَّل او دويم مهر مُؤَجَّل۔ مهر مـعـجـل هـغـه دې چـه د نكاح په وخت ئې وركړی او مؤجل مهر هغه دې چه د نكاح په وخـت نـهٔ وی مقرر، روستو به ئې مقرروی۔ نو دلته مهر معجل ذكر دې او مهر مؤجل به

روستو مقرروی۔ **جواب** : دا اصطلاح فقهاءِ احنافو ایجاد کړې او په احادیثو کښې ددې هیڅ نوم ونښان نشته۔ نو دا اصطلاح په احادیثو کښې چلولو سره د احادیثو رنګ خرابیږي او احادیث خپل مذهب ته راتاوول دي۔ دا خبره په کوم حدیث کښې راغلې چه دوئ روستو مهر مقرر کړو ؟۔

(۱۱) او ددې نه دا هم معلومه شوه تعلیم د قرآن کریم د مال عوض جوړیدې شي، نو په تعلیم د قرآن کریم باندې اجرت اخستل هم جائز دي۔

(۱۲) او حدیث نه دا هم معلومه شوه چه که مال لږ وي اوکه ډیر، دا مهر ګرځیدلے شي، ځکه [خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ] معمولي شے دے۔

سوال : بیا خو یوه وریشه هم یو شے دے نو په دې به هم نکاح کیږي ؟ څنګه چه ابن حزمؒ ذکر کړې۔ **جواب** : د شيئ نه مراد داسے شے دے چه د هغے نه خو څۀ نفع او فائده پورته کیږي او د یوې وُربشے نه هیڅ فائده نۀ پورته کیږي۔ او دا خبره چه ((د لسو روپو نه کم مهر نشته)) [دارقطني: ۲۴٤/۳، بیهقي: ۲۳۳/۷، نصب الراية : ۱۹٦/۳] نو هغه ضعیف روایت دے لکه چه تا ووپیژندل۔

(۱۳) آیا د وسپنې ګوتمه استعمالول جائز دي ؟ [اِلْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيْدٍ] نه بعضِ علماؤ دا دلیل نیولے چه د وُسپنې ګوتمه اچول جائز دي۔ دلیل ئے دا وئیلے چه نبي علیه السلام دے شخص ته وویل چه د وسپنې یوه ګوتمه وګوره او دے ښځے ته ئے ورکړه۔ نو که ددې اغوستل حرام وے نبي علیه السلام به پرے امر نۀ کولے۔ او دا قول د امام شافعيؒ دے او ابن بازؒ، وغیره علماؤ غوره کړے۔

(۲) د جمهورو علماؤ (احناف وغیره) په نیز دا منع دي، ځکه حدیث کښې دي : عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ د سرو زرو ګوتمه وا چوله نو رسول الله ﷺ ورته وکتل ګویا کښې هغه ئے بده وګڼړلو نو هغه لاړو هغه ئے وغورزوله بیا ئے د وسپنې ګوتمه واغوسته نو نبي ﷺ وفرمایل : [هٰذَا أَخْبَثُ وَأَخْبَثُ] دا خو د هغے نه هم بدتره ده، هغه لاړو د چاندئ ګوتمه ئے وا چوله، نو نبي ﷺ پرے خاموشي اختیار کړه))

[مسند احمد : ٦۹۷۷، صحیح الادب المفرد : رقم : ۱۰۲۱، صحیح لغیره : شعیب و حسنه الالباني]

په حدیث د عمرو بن شعیب کښې دي : یو سړے نبي کریم ﷺ خوا ته راغلو او د هغۀ په لاس کښې د سرو زرو ګوتمه وه نو نبي ﷺ د هغۀ نه مخ واړه ولو۔ هرکله چه هغه

سړی د نبی ﷺ دا بد گنړل ولیدل نو هغه لاړ هغه ئې لرې کړه او د وسپنې گوتمه ئې راواخستـه، او وائې غوسته او نبی ﷺ خوا تـه راغلو، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : [هٰذَا شَرٌّ هٰـذَا حِلْيَةُ اَهْلِ النَّارِ] دا خـو ډیره بـده ده، دا د اور والـو زیـور دی، نو هغه لاړو هغه ئې وغـورزولـه او د سپینو گوتمه ئې واغوسته نو نبی ﷺ پـه هـغـهٔ خاموشی اختیار کړه.

[أحمد : ٦٥١٨، والادب المفرد : ١٠٢١ وإسناده صحيح]

شیخ ابـن بـاز او نـورو عـلماؤ تـه یو بل حدیث د بریده ﷺ ضـعیف ښکاره شوی، پدې وجه ئې وئیلی دی چه د وسپنې گوتمه اغوستل جائز دی، چه هغه حدیث داسې دی : ((یو سړی نبی ﷺ تـه راغلو په داسې حال کښې چه د هغهٔ په لاس کښې د وسپنې گوتمه وه نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : [مَالِیْ اَرٰی عَلَیْكَ حِلْیَةَ اَهْلِ النَّارِ] څه وجه ده چه زهٔ په تا باندې د اور والو گانړه وینم)). [ابوداود : ٤٢٢٥]

دا روایت ضعیف دی مگر دغه مخکنی روایتونه صحیح دی. او هر چه حدیث الباب دی نـو ددې نه جواز نهٔ معلومیږی ځکه په کور کښې د گوتمې ساتلو نه د هغې اغوستل لازم نهٔ دی، بلکه دا په درجه د مال کښې دی، انسان ئې کور کښې ساتلې شی لکه سرهٔ زر د سړی دپاره اغـوسـتـل حرام دی لیکن کور کښې ساتل ئې منع نهٔ دی. نو دلته هم کیدې شی چه د کومو کافرانو نه ئې په غنیمت کښې نیولې وی. والله اعلم.

احـنـاف عـلـمـاؤ د وسپـنـې گوتمه مکزوه گنړلې او دلیل ئې ورله دا وئیلې چه پدې کښې مشابهت دی د بت پرستو سره. بیا وائی که د سرو اُوبهٔ ورکړی یا د سپینو اُوبهٔ ورکړی نو بیا جائز ده. (الکوکب الدری شرح الترمذیؒ)

بعض علماؤ وئیلی دی حدید مخلوط بالفضه جائز ده، یعنی هغه گوتمه چه د وسپنې وی لیکن د هغې سره چاندی ملاؤ شوی وی نو بیا جائز ده.

او پدې باره کښې د معیقیب ﷺ حدیث ذکر کوی چه د نبی ﷺ گوتمه داسې وه : [مِنْ حَدِيْدٍ مَلْوِيٍّ عَلَيْهِ فِضَّةٌ] (وسپـنـه وه چه په هغې باندې چاندی تاؤ شوې وه) نو دې روایت کښې کلام دی. [أبوداود : ٤٢٢٤، إياس بن الحارث بن معيقيب مجهول] دی، ددهٔ نه صرف ابو مَکِین نوح بن ربیعه روایت کړې. او حافظ ورته په تقریب کښې صدوق وئیلې لیکن دا خطائی ده. او ابن حبان په ثقاتو کښې ذکر کړې.

دې روایت تـه عـلامـه سیـوطیؒ پـه الجواب الحاتم عن سؤال الخاتم کښې او نوویؒ په

المجموع کښې اسناد جيد وئيلې دے، او شعيب الارناووطؒ په تخريج د سنن ابى داود کښې حسن لغيره وئيلې دے. او شيخ البانيؒ په ضعيف سنن ابى داود کښې او حافظ ابن کثيرؒ په البدايه والنهايه کښې ضعيف وئيلې دے. ليکن بعض علماؤ وئيلى دى چه ددے سره د مکحولؒ مرسل روايت ملګرے دے (چه هغه ابن ابى شيبه رقم: ۲۵۶۴۱ راوړے) نو هغه ئے تائيد کوى چه ددے دپاره صحيح معنىٰ شته. او همدا خبره غوره ده. والله اعلم.

امام بيهقيؒ په شعب الايمان کښې فرمائى: ددے وجه دا ده چه هرکله د وسپنې نه چاندى تاؤ شى نو د وسپنې بد بوئى ختمه کړى نو پدے وجه کراهت ختم شى. (شعب: ۳۵۷/۸)

(۱٤) اِلْتَمِسْ نه معلوميږى چه مستحب دا ده چه ښځے ته مهر په ابتداء د نکاح کښې ورکړے شى. روستو مهر مقررولو کښې اکثر جګړے واقع کيږى.

(۱۵) او حديث دليل دے چه تنګدست له نکاح کول جائز دى، ځکه نبى ﷺ دغه سړى ته وفرمايل: د وُسپنې ګوتمه راوړه، او هغهٔ سره دا هم نهٔ وه، نو معلومه شوه چه که ښځه په مسکين خاوند باندے راضى وه نو په دے کښې څهٔ باك نشته. د الله تعالىٰ ددے ارشاد مبارك نه هم معلوميږى: ﴿ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ﴾ [النور: ۳۲]

(بے وادهٔ هلك او جينئ له او خپلو نيکانو مريانو له ودونه کوئ که چرے دوئ فقيران وى نو الله تعالىٰ به ئے د خپلے مهربانئ نه مالداره کړى).

ابن جريرؒ د ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل کړى دى: ((په نکاح کښې مالدارى تالاش کړئ، ځکه الله تعالىٰ فرمائى: ﴿ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ﴾ [تفسير ابن جرير: ۹۸/۱۸، ونحوه عن عمر فى تفسير البغوى: ۳٤۲/۳]

علامه ابن کثيرؒ فرمائى: د الله تعالىٰ د فضل او مهربانئ نه دا خبره معلومه ده چه هغه به دهٔ له او دهٔ کور والو له د کفايت رزق ورکوى. [تفسير ابن کثير: ۵۵/۱] والله تعالىٰ اعلم.

(۱۶) کفاءت (سيال کيدل) په دين کښې ضرورى دے نهٔ په مال او نسب کښې.

د ازواج مطهراتو د مهر مقدار

3203 (2) – وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ : سَأَلْتُ عَائِشَةَ : كَمْ كَانَ صَدَاقُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ ؟ قَالَتْ : كَانَ صَدَاقُهُ لِأَزْوَاجِهِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً وَنَشٌّ. قَالَتْ : أَتَدْرِي مَا النَّشُّ؟ قَالَ : قُلْتُ : لَا. قَالَتْ : نِصْفُ أُوقِيَّةٍ . فَتِلْكَ خَمْسُمِائَةِ دِرْهَمٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَنَشٌّ بِالرَّفْعِ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَفِي جَمِيعِ الْأُصُولِ .

ترجمه : ابو سلمهؓ بن عبد الرحمنؒ نه روایت دے فرمائي : چه ما د عائشې رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه : د رسول الله ﷺ (د بیبیانو) مهر څومره وو ؟ هغې وفرمایل : د نبي ﷺ د بیبیانو مهر دولس اُوقیئې او یو نش وو، هغې پوښتنه وکړه : آیا ته نش پیژنې ؟ هغه وائي : ما وویل : نه، وې وئیل : نیمائي اوقیه، نو دا پنځه سوه درهمه شو، (مسلمؒ) او نش په پیښن سره شرح السنه او تولو اصول کښې ذکر دے۔

تعارف د ابو سلمه بن عبد الرحمنؒ : د عبد الرحمن بن عوف زهري قریشي رضي الله عنه ځوی دے۔ د یو قول مطابق د مدینې د اُوو مشهورو فقهاؤ نه یو تن دے۔ په مشهورو اونومړو تابعینو کښې شمار دے۔ دده کنیه دده نوم دے۔ کثیر الحدیث (ډیر حدیثونه نقل کونکے) دے۔ د صحابه کرامو رضي الله عنهم د یو لوئې جماعت نه ئې حدیثونه روایت کړي او دده نه هم یو لوئې جماعت علم اخستے۔ په (۹۴) یا (۱۰٤) هجري کښې وفات شو۔ دا وخت دده عمر (۷۰) کاله وو۔

تشریح : [أُوقِيَّةً] په حجاز کښې ددے مقدار څلویښت درهمه دي، نو دولس نیمې اوقیې پنځه سوه درهمه جوړیږي ځکه کله چه دولس نیم په څلویښتو کښې ضرب کړے شي نو دا پنځه سوه جوړیږي۔

فوائد : (۱) د ازواج مطهرات او د نبي عليه السلام د لونړو مهر ؟ د ام المؤمنین ام حبیبه رضي الله عنها نه علاوه د تمامو ازواج مطهرات او د فاطمه رضی الله عنها نه علاوه د تمامو لونړو مهر پنځه سوه درهمه وو۔ **د پنځه سوه درهمه چاندئ مقدار** : (۱۵۷۵) ماشې (ماسې یعنی یو کیلو او پنځه سوه دیرش (۵۳۰) گرامه جوړیږي۔ او ددے د پیژندنې ترتیب داسې دے چه د دوه سوو درهمو نه (۵۲ـ۵) دوه پنځوس نیمې تولې جوړیږي او یوه توله دولس ماشې وي نو د پنځه سوو درهمو نه به (۲۵ـ۱۳۱) تولې جوړیږي اُوس دا په دولس

(۱۲) کښې ضرب کړه نو (۱۵۷۵) به جوړ شي۔ د ام حبیبه رضي الله عنها مهر څلور زره درهم یا څلور سوه دیناره وو، څلور زره درهم : (۱۲۶۰۰) دولس زره شپږ سوه ماشې یعنی دولس کیلو شپږ سوه ماشې چاندي جوړیږي۔

د فاطمه زهراء رضي الله عنها مهر څلور سوه مثقاله چاندي وو، څلور سوه مثقاله اتلس سوه (۱۸۰۰) ماشې یعنی یو کیلو او اته سوه (۸۰۰) ګرامه چاندي جوړیږي۔

(۲) حدیث نه ثابته شوه چه په مهر کښې آسانی کول او زیات مهر نهٔ مقررول مستحب دي، ځکه په دې کښې د ښځې او خاوند او ټولې معاشرې دپاره عظیم مصالح او ښیګړې پرتې دي۔ کم مهر مقررول شرعًا مطلوب شې دې۔ امام شافعيؒ فرمائي : په مهر کښې میانه روي کول مونږ ته ډیر خوښ دي او زما په نیز مستحب داده چه کوم مهر رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو او لونړو دپاره مقرر کړے وو، د هغې نه زیاتے ونهٔ کړے شي چه هغه پنځه سوه درهمه دي)۔ [کتاب الأم : ۱۶۳/۵]

دا خو د هغهٔ زمانې خبره وه، اوس په دې وخت کښې حالت بدل شوې، لیکن بنیادي لحاظ سره د مهر د تخفیف حکم اُوس هم پاتې دې۔ په مهر ورکولو کښې د خلکو د فقیرئ او مالدارئ په لحاظ سره حالات جدا جدا دي، په دې کښې د خاوند د مالي حالت لحاظ ساتل ضروري دي، هغهٔ نه صرف د هغه شئ مطالبه پکار ده چه هغه پرې قادر وي۔ ددې نه د زیات مهر غوښتلو نقصان دادې چه یا به خاوند ددې دپاره قرض کوي او پردې حق به په ځان راړوي، او یا به خلکو ته سوال کوي، او که دا هم ونشي نو بیا به د سره وادهٔ نهٔ کوي۔ د مهر دپاره څهٔ خاص حد نهٔ دې معلوم، لیکن په دې باب کښې زیاتې کول او شرعي حدودو نه تجاوز کول انسان اسراف ته بوځي۔

د زیاتي مهرونو مقررولو ډیر ضررونه او فسادونه دي، ددې په وجه هلکان بې وادهٔ ګرځي او جینکۍ په کورونو کښې معطلې ناستې دي۔ چه ددې لازمي نتیجه په معاشره کښې د فحاشۍ او عُریانۍ خوریدل دي۔ ددې واحد علاج دادې چه د قوم علماء او مشران په عملي توګه په دې کښې مداخلت وکړي او هغه چا سره حساب وکړي چه هغوئ خپلې لونړه خویندې د ډیرو مهرونو د مطالبې په وجه په کورونو کښې ساتلي دي۔

(۳) **اشکال او جواب :** سوال دا دې چه عائشې رضي الله عنها د ازواج مطهراتو د مهر اندازه پنځه سوه درهم وخودل حال دا چه د ام حبیبه رضي الله عنها مهر څلور زره درهم یا څلور سوه دیناره وو او

ام حبیبه رضی الله عنها هم د رسول الله ﷺ بی بی وه؟ ددې جواب دا دې چه عائشه رضی الله عنها هغه مهر یادوی چه رسول الله ﷺ خپله مقرر کړې وو او د ام حبیبه رضی الله عنها مهر خو د حبشو نجاشی بادشاه مقرر کړې وو، د رسول الله ﷺ تکریم او اعزاز ئې کولو۔ او دا ئې هم د زیاتره بیبیانو په اعتبار سره وئیلې دې، ځکه چه د خدیجه رضی الله عنها او د جویریه رضی الله عنها مهر داسې نهٔ وو او د صفیه رضی الله عنها مهر د هغې آزادی وه۔ والله اعلم۔

تنبیه : [وَنَشٌّ]۔ دا لفظ د ترکیب په لحاظ منصوب پکار دې، لیکن دلته د مرفوع په شکل لیکلې شوې، نو کیدې شی چه دا هم منصوب وئیلې شی [نَشًّا]۔لیکن بعض راویانو الف نهٔ دې لیکلې نو په همغه طریقه رانقل شوې۔

الفصل الثانی

په طریقه د فخر د درون مهر مقررولو ممانعت

3204 (3) - عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : أَلَا لَا تُغَالُوْا فِيْ صَدُقَةِ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا وَتَقْوٰى عِنْدَ اللّٰهِ لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَلِمْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَكَحَ شَيْئًا مِنْ نِسَائِهِ وَلَا أَنْكَحَ شَيْئًا مِنْ بَنَاتِهِ عَلٰى أَكْثَرَ مِنِ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوْقِيَّةً . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : عمر بن خطاب رضی الله عنه وفرمایل : خبردار تاسو د زنانو په مهرونو کښې دیو بل نه زیاتې مهٔ کوئ ځکه که دا چرته په دنیا کښې د عزت ذریعه وې او د الله په نیز تقوی وې نو خامخا پدې باندې ستاسو نه زیات لائق به د الله تعالیٰ نبی ﷺ وې، (او) ما ته نهٔ ده معلومه چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه هیڅ بی بی سره نکاح کړې وی او نهٔ ئې د خپلو لونړو نه د کومې لور نکاح کړې په زیات د دولسو اوقیه وُ مهر باندې دې۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداوٗدؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح :[لَا تُغَالُوْا]۔ دا د مغالاة نه، او هغه د غلو نه دې، زیاتی کول۔ دلته مراد دا دې چه په طریقه د فخر سره زیات مهر مقررول مهٔ کوئ۔ ځکه که دا ښهٔ کار وې نو نبی علیه السلام به کړې وې، معلومه شوه چه ترک د نبی علیه السلام هم دلیل دې۔ او ددې په باره کښې په بل روایت کښې قیصه ذکر ده چه عمر فاروق رضی الله عنه کله دا خبره وکړه نو یوه زنانه

ورته راغله چه ته دا خبره کوے او قرآن کریم کښے الله تعالیٰ فرمائی چه تاسو یوے زنانه ته قنطار (خزانه/ډیر مال) په مهر کښے ورکولے شئ، نو عمر فاروق ﷜ د الله د کتاب سره وقاف (ودریدونکے) وو، هیڅ جواب ئے ورنکړو۔ او جواب ئے همدا دے چه د عمر فاروق ﷜ مقصد په طریقه د فخر سره زیات مهر مقررول منع کول دی۔ [مَكْرُمَةً]۔ عزت، شرافت، سرې توب، سبب د عزت۔

[وَتَقْوَى]۔ د تقوىٰ نه مراد زیاته تقوىٰ ده۔ چه په آخرت کښے د الله تعالیٰ په نیز انسان ته فضیلت او بزرګی ورکوی، مطلب دا چه زیات مهر تړلو سره نۀ صرف دا چه په دنیا کښے کوم عظمت او عزت حاصلیږی بلکه ددے په وجه په آخرت کښے هم د الله تعالیٰ په نیز څه امتیازی فضیلت درجه نۀ حاصلیږی، او هرکله چه ددے په وجه نۀ په دنیا کښے کومه فائده شته او نۀ د دین کومه نفع نو بیا دا ولے اختیار کړے شی۔

[اُثْنَتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً] پدے حدیث کښے (نش) لفظ حذف شو څکه چه د عربو عادت دا دے چه کسر حذف کوی، او کله ئے پوره عدد شماری، یا دا خبره عمر فاروق ﷜ د خپل علم مطابق کړے، او عائشے ﷞ ته د نش زیات علم وو۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] أبوداود : ۲۱۰۶، ترمذی : ۱۱۱٤، وقال حديث حسن صحيح، ابن ماجه : ۱۸۸۷، نسائی : ۱۱۷/٦، وانظر الارواء (۱۹۲۷)

په مهر کښے معمولی شے مقررول هم جائز دی

3205 (4) – وَعَنْ جَابِرٍ﷜ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ :"مَنْ أَعْطَى فِي صَدَاقِ امْرَأَتِهِ مِلْءَ كَفَّيْهِ سَوِيقًا أَوْ تَمْرًا فَقَدِ اسْتَحَلَّ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او جابر بن عبد الله ﷜ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : چاچه د یوے ښځے په مهر کښے د دواړو لاسونو د ډکوالی په اندازه ستوان یا کهجورے ورکړے نو دۀ (ښځه) حلاله وګرځوله۔ (ابوداوٗد)

تشریح : [سَوِيقًا] ستوان، سمنك، هغه طعام چه د غنمو یا جوارو یا وریشو نه جوړ شی، په هغے کښے غوړي او خوږه واچوی او خوري ئے۔ [اسْتَحَلَّ] أَيْ جَعَلَهَا حَلَالًا بِهٰذَا الصَّدَاقِ (په دے مهر سره ئے هغه حلاله وګرځوله)۔ دا روایت دلیل دے چه مهر کښے لږ او ډیر برابر دی، دا روایت اګرکه ضعیف دے لیکن د دین اصولو او د نورو احادیثو سره

برابر دے۔ لیکن صحیح داده چه دا حدیث د متعې په باره کښې دے : او الفاظ ئے دادی :
[قَالَ جَابِرٌ : كُنَّا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ نَسْتَمْتِعُ بِالْقَبْضَةِ مِنَ الطَّعَامِ عَلَى مَعْنَى الْمُتْعَةِ]
جابر رضی الله عنه فرمائی : مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې په یو موټی طعام سره متعه کوله۔

درجة الحديث: [ضعيف] أبوداود : ٢١١٠، وفي اسناده (١) ابن رومان مجهول (٢) وابو الزبير مدلس وقد عنعن، (٣) وفيه اختلاف الرفع والوقف.

3206 (5) – وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ : أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ** ؟ " قَالَتْ : نَعَمْ. فَأَجَازَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او عامر بن ربیعه رضی الله عنه فرمائی : د بنی فزاره قبیلے نه یوے ښځے په دوه څپلو (چپلو) باندے نکاح وکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : آیا ته د خپل ځان نه او مال نه په دوه څپلو باندے خوشحاله ئے؟ هغے وویل : آؤ۔ نو رسول الله ﷺ هغه جائز وګرځوله۔ (ترمذیؒ)

تشریح : امام ترمذیؒ دیته صحیح ویلی، خو ددۀ نه نورو علماؤ خلاف کړے، ځکه په دے کښې عاصم بن عبید الله ضعیف، سیء الحفظ او منکر الحدیث راوی دے، او بعضو ورته متروك ویلی۔ او ترمذیؒ او عجلیؒ ورته ثقه وئیلے.او شعبهؒ ترے روایت کړے۔

❁ ددے حدیث په متن کښې هم نکارت دے، او هغه په [وَمَالِكِ] لفظ کښې دے، ځکه د ښځے په مال کښې خو د خاوند څۀ واك نشته، د هغے مال خو د هغے دے۔ که چرے ددے سند صحیح هم شی نو دا به شاذ وی ځکه دا د هغه صحیح احادیثو خلاف دے چه هغه په دے دلالت کوی چه رشیده (هوښیاره) ښځه په خپل مال کښې د شریعت موافق تصرفات کولے شی او په دے باندے د هیچا ولایت نشته۔ او دا د جمهورو مذهب دے، تفصیل ئے دا دے چه پدے کښې اختلاف دے چه آیا ښځه د خپل خاوند د اجازت نه بغیر په خپل مال کښې تصرف کولے شی او که نۀ؟

پدے کښے درے قوله دی : (۱) **قول** : ښځے دپاره مطلقاً جائز نۀ دی چه د خاوند د اجازت نه بغیر په خپل مال کښے تصرف وکړی او دا رائے د لیثؒ او طاووسؒ ده، [فتح الباری

[۲۱۸/۵ :] ۱- **دلیل** ئې دا دې چه د کعب بن مالك ﷺ بی بی چه نوم ئې خِیرَه وه نبی ﷺ ته ئې خپله کانړه راوړه نو هغهٔ ورته وفرمایل : ښځې دپاره جائز نهٔ دی چه د خپل خاوند د اجازت نه بغیر په خپل مال کښې تصرف وکړی نو آیا تا د کعب نه اجازت اغستې؟ هغې وویل : آؤ، نو نبی ﷺ کعب پسې جواب ولیږلو نو هغهٔ وویل : آؤ ما خیره ته اجازت ورکړې نو نبی ﷺ ترې هغه صدقه قبوله کړه. (ابن ماجه : ۲۳۸۰، فی إسناده عبد الله بن یحیی هو وأبوه مجهولان کما فی التقریب)

۲- **دلیل** : حدیث د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده کښې دی : [أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : لَا یَجُوْزُ لِامْرَأَةٍ عَطِیَّةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا] ـ [سنن البیهقی : ٦٦٠ قال فی سبل السلام رواه أحمد وأصحاب السنن إلا الترمذی ووصححه الحاکم، نسائی : ۳۷۵٦، وسنده حسن صحیح، البانی، الصحیحة : ۷۷۵و ۸۲۵] ـ رسول الله ﷺ وفرمایل : ښځې دپاره عطیه ورکول جائز نهٔ دی مګر په اجازت د خاوند سره). دا حدیثونه او ددې په شان معنیٰ والا نور حدیثونه دلالت کوی چه دا حکم صحیح ثابت دې.

شیخ البانیؒ ددې رائې تائید کوی او فرمائی چه دا حدیثونه دلالت کوی چه ښځه په خپل مال کښې بغیر داجازت د خاوند نه تصرف نشي کولې، او دا هغه قوامیت دې چه الله تعالیٰ په ښځو باندې د سړو دپاره ګرځولې دې، لیکن رشتینی مسلمان له دا نهٔ دی پکار چه دا حکم غنیمت وګنړی او په ښځه باندې ظلم شروع کړی او ښځه د هغې په مال کښې د تصرف نه منع کړی په هغه ځائې کښې چه دواړو ته پکښې څه ضرر هم نشته، او دا حق داسې دې لکه ښځه باندې د ولی حق چه د هغهٔ د اجازت نه بغیر خپل ځان په نکاح نشي ورکولې خو کله چه ولی هغه تنګوی او د نکاح نه ئې منع کوی نو قاضی ته خپله مقدمه وړاندې کولې شي او هغه ورله فیصله کولې شي،

نو دغه شان دلته هم کله چه خاوند په ښځه باندې د هغې په مال کښې ظلم کوی او د جائز تصرف نه ئې منع کوی نو قاضی به دې دپاره انصاف اخلی، لهذا پدې حکم باندې هیڅ اشکال نشته، البته اشکال به په هغه صورت کښې وی چه سړې غلط تصرف کوی. [الصحیحة : ۲/۲۷٤ رقم : ۷۷۵]

دویم قول : خاوند له جائز دی چه ښځه د صدقې او هبې نه منع کړی د ثلث نه په زیات مال کښې او ددې نه په کم کښې ئې نشي منع کولې، (مالکیهٓ، حنابلهٓ په یو روایت کښې)

(شرح الخرشی : ۱۰۳/۷، المغنی، ٥١٣/٤، نیل الاوطار (٢٢/٦)

دوئ سره څه خاص دلیل نشته مګر استدلال کوی په عام حدیث چه هغې کښې (اَلثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ) [بخاری :۲۷٤۳ ومسلم : ٤٢٩٦]

ثلث ته ډیر وئیلې شوې، او ددې نه خکته ته کم وئیلې شوې۔ نو ښځه به هم د ثلث نه په زیات مال صدقه کولو کښې د خاوند نه اجازت غواړی۔

دریم قول : ښځې له مطلقاً جائز دی چه د خاوند د اجازت نه بغیر خپل مال صدقه کړی او په هغې کښې تصرف وکړی، او دا د جمهورو علماؤ قول دې۔ د دوئ سره پدې قول باندې د قرآن او سنت نه ډیر دلیلونه دی، ۱- قرآن کریم کښې چه کوم خطابونه سړو ته شویدی په هغې کښې زنانه هم داخلې دی، (فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یره) (الا الذین آمنوا وعملوا الصالحات) او په اکثرو احکامو کښې سړی او زنانه برابرې دی۔ لکه په ایمان او عمل صالح او صدقه کولو وغیره کښې۔ دارنګه ښځې ته د زکاة حکم کیږی کله چه ورسره نصاب وی او کال پرې تیر شی، دا دلیل دې چه ښځه خپله تصرف کولې شی۔ او آیت کښې دی : [وَإِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَّعْفُوْنَ] [البقرة :۲۳۷] نو ښځه خاوند ته خپل مهر معاف کولې شی او د هیڅ نه اجازت غوښتل پکښې ذکر نشو۔ دلیل دې چه ښځه په مال کښې تصرف کولې شی۔ ﴿ وَابْتَلُوا الْيَتَامٰى حَتّٰى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ ﴾ (النساء: ٦). دا دلیل دې چه یوه یتیمه جینۍ چه کله هوښیاره وی نو د هغې دپاره په خپل مال کښې تصرف جائز دې۔

او د احادیثو نه هم ډیر دلیلونه دی : ۲- **دلیل** : میمونې ﷵ خپله وینځه آزاده کړه بغیر د علم او د اجازت د نبی ﷺ نه، او نبی ﷺ ورته هیڅ ونۀ وئیل، صرف دا ئې ورته وفرمایل چه [لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ] [صحیح البخاری : ٩١٥/٢ ومسلم : ٦٩٤/٢] (که تا دا وینځه خپلو ماما ګانو ته ورکړې وې دې کښې به ستا دپاره اجر زیات وې۔ ۳- ام الفضل بنت الحارث ﷵ رسول الله ﷺ ته په عرفات کښې پیۍ ولیږل نو هغۀ وڅکل (بخاری ومسلم) نو دلته ام الفضل بغیر د اجازت د خاوند نه صدقه وکړه او نبی ﷺ منع نکړه۔ او دا ئې ورته ونۀ وئیل چه تا د خاوند نه اجازت اغستې او که نه؟۔

(شرح مسلم للنووی : ٨/٣).

٤- دلیل: رسول الله ﷺ د اختر په ورځ زنانو ته د صدقې ترغیب ورکړو او د هغوئ نه ئې صدقې قبولې کړې او هغوئ خپلې ګانړې په چنده کښې واچولې. [بخاری: ۲/۵۲۵، ومسلم: ۲/۶۰۳]. دا دلیل دې چه دې زنانو د خپلو خاوندانو نه اجازت نهٔ وو غوښتې.

او جمهور علماء د اول قول والو د دلائلو نه څلور جوابونه کوی:

(۱) یو دا چه په منع کښې کوم احادیث راغلی دی هغه ضعیف دی. او کوموا حادیثو کښې چه جواز راغلې د هغې په ثبوت او دلالت کښې هیڅ طعن نشته.

(۲) که بالفرض صحیح شی (لکه غوره دا ده چه صحیح دی) بیا که تعارض ومنو نو د اباحت دلائل په اعتبار د ثبوت او دلالت سره قوی دی او د منع دلائلو په ثبوت کښې اختلاف دې، لهذا د اباحت دلائل به مقدم وی ځکه چه دا قوی الثبوت والدلالة دی.

(۳) احادیث د منع په یو د دوه کارونو باندې محمول دی (أ) یا خو دا په ادب او استحباب باندې محمول دی، چه ښائسته عشرت (ژوند تیرول) او د خاوند زړهٔ خوشحالول بهتر دی، پدې سره به ئې د خاوند سره کور نهٔ ورانیږی.

او دا په طریقه د تحریم سره نهٔ دی وئیلې شوی. او دې خبرې ته امام شافعیؒ او بیهقیؒ اشاره کړې چه یا دا حدیثونه د منع ضعیف دی او که صحیح شی نو دا به په حسن الادب والعشرة باندې حمل وی، لکه حدیث کښې دی چه ښځې له جائز نهٔ دی چه روژه ونیسی چه خاوند ئې حاضر (په کلی کښې) وی، بغیر د اجازت د هغهٔ نه، مګر که هغې دا کار وکړو نو روژه ئې جائز ده، او که د خاوند د اجازت نه بغیر د کور نه ووتله او سودا ئې وکړه نو بیعه ئې جائز ده. [البیهقی: ۶/۶۰، یراجع: کتاب: اتحاف الخلان بحقوق الزوجین فی الاسلام. د/فیحان بن عتیق المطیری ص: ۹۲-۹۶]

(٤) یا دا احادیث المنع د هغه ښځې په باره کښې دی چه هغه بیوقوفه وی، په خپل مال کښې د بیوقوفانو په شان تصرف کوی نو خاوند په هغې باندې د سفیه (بیوقوف) په شان حجر (منع) لګولې شی. او دا معنیٰ امام بخاری په خپل صحیح کښې غوره کړې هغه داسې باب لګوی: [بَابُ هِبَةِ الْمَرْأَةِ لِغَيْرِ زَوْجِهَا وَعِتْقِهَا، إِذَا كَانَ لَهَا زَوْجٌ فَهُوَ جَائِزٌ، إِذَا لَمْ تَكُنْ سَفِيهَةً، فَإِذَا كَانَتْ سَفِيهَةً لَمْ يَجُزْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ] [صحیح البخاری: ۲/۹۱۵، فتح الباری: ۵/۲۱۸] (د ښځې خپل خاوند نه غیر بل چا ته هبه (تحفه) او د هغې د غلام آزادولو بیان، هرکله چه د هغې خاوند وی نو دا کار ورله جائز

دے، خو پدے شرط چه ښځه به کم عقله نۀ وی، خو کله چه بے وقوفه وه نو بیا جائز نۀ ده، الله تعالیٰ فرمائی : بیوقوفانو ته خپل مالونه مۀ ورکوی. بیا ئے هغه مخکنی حدیثونه ذکر کړی).

لهذا که یوه ښځه هوښیاره او عقلمنده وه او په خپل مال کښے داسے تصرف وکړی چه دے او خاوند ته ئے ضرر نۀ وی نو ددے تصرف به صحیح وی، مګر بیا هم اجازت غوښتل بهتر دی، ځکه چه د خاوند هم په ښځه باندے د اجازت حق شته. دواړو طرفونو ته به کتلے شی، او ښځه چه اجازت وغواړی نو دے ته به پدے باندے پوره اجر ملاویږی، او دے ته په حدیث د نسائي کښے غوره ښځه وئیلے شویده : [اَیُّ النِّسَاءِ خَیْرٌ...... وَلَا تُخَالِفُهٗ فِیْ نَفْسِهَا وَمَالِهَا بِمَا یَکْرَهُ]، [رواه النسائی : ۳۱۷۹ وهو فی صحیح الجامع : ۳۲۹۲].

درجة الحدیث: [ضعیف] ترمذی: ۱۱۱۳، ابن ماجه: ۱۸۸۸، أحمد: ۳/٤٤٥ وعاصم بن عمر الجمهور علی تضعیفه وحدیثه ضعیف خاصة اذا کانت روایته عن عبد الله بن عامر بن ربیعة.

د مهر مثل واجبیدو یو صورت

3207 (6) – وَعَنْ عَلْقَمَةَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، اَنَّهٗ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً، وَلَمْ یَفْرِضْ لَهَا شَیْئًا، وَلَمْ یَدْخُلْ بِهَا حَتّٰی مَاتَ، فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ : **لَهَا مِثْلُ صَدَاقِ نِسَائِهَا، لَا وَکْسَ، وَلَا شَطَطَ، وَعَلَیْهَا الْعِدَّةُ، وَلَهَا الْمِیْرَاثُ**، فَقَامَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانِ الْاَشْجَعِیُّ . فَقَالَ : قَضٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ - اِمْرَأَةٍ مِنَّا - مِثْلَ مَاقَضَیْتَ، فَفَرِحَ بِهَا ابْنُ مَسْعُوْدٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَاَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِیُّ وَالدَّارِمِیُّ

ترجمه : علقمهٔ د ابن مسعود ﷺ نه روایت کوی چه دهٔ نه د یو داسے سړی په باره کښے پوښتنه شوه چه هغهٔ یوے ښځے سره وادهٔ کړے وی او مهر ئے ورله نهٔ وی مقرر کړے او هغے سره د کوروالی کولو نه مخکښے مړ شوے وی، نو ابن مسعود ﷺ وفرمایل : دے ښځے ته به ددے د خاندان د ښځو پشان مهر ملاویږی، په دے کښے به نهٔ کمے وی، نهٔ زیاتے، او په دے به عدت تیرول هم لازم وی، او ددے دپاره به میراث هم وی. (دے آوریدو سره په دے مجلس کښے ناست) معقل بن سنان اشجعی ﷺ پاسیدهٔ او وے وئیل : زمونږ د یوے ښځے بروع بنت واشق په باره کښے رسول الله ﷺ (بعینه) ستا ددے فیصلے پشان

فیصله کړې وه. نو ابن مسعود ﷺ په دې (ډیر زیات) خوشحاله شو. (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

تعارف د علقمهؒ: ابن قیس ابو شبل بن مالك. د بنو بکر بن نخع نه دے. د عمر ﷺ او ابن مسعود ﷺ نه روایت کوی. جلیل القدر تابعی دے. د ابن مسعود ﷺ د احادیثو او د هغهٔ د شاګردئ په وجه مشهور وو، دا د اسود نخعی ترهٔ دے. په (۶۱) هـ کښې وفات شو.

تشریح : [لَمْ يَفْرِضْ لَهَا] د هغې دپاره ئې مهر نهٔ وی مقرر کړے. [وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا] هغې سره ئې نهٔ جماع کړې وی اونهٔ خِلوت. [فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ] د ابوداودؒ او نسائیؒ په روایت کښې دی چه په دې مسئله کښې خلك هغهٔ پسې یو میاشتې پورې تلل راتلل.

او په بل روایت کښې دی هغه فرمائی : د رسول الله ﷺ نه چه زهٔ جدا شوے یم د هغې راسې ماته ددې پشان سخته مسئله نهٔ ده راغلې، تاسو بل چاله لاړ شئ، راوی وائی : خلك هغهٔ له میاشت پورې تلل راتلل. [السنن الكبرى: ۷/۲٤۵]

[لَا وَكْسَ] د واؤ زور او د کاف سکون دے : أَيْ لَانَقْصَ (ددے نه به کم نهٔ وی).

[وَلَا شَطَطَ] په شین او طاء زور دے : أَيْ لَازِيَادَةَ . شطط اصل کښې ظلم او زیاتی ته وائی، یعنی نهٔ به ښځې له د مهرِ مثل نه کم ورکړے کیږی، اونهٔ به خاوند سره زیاتے کیږی چه د مهرِ مثل نه زیات ددهٔ نه واخستل شی او ښځې له ورکړے شی.

[وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ] عدت نه مراد د وفات عدت : څلور میاشتې او لس ورځې دی.

[وَلَهَا الْمِيْرَاثُ] او ښځه ددې میراث په یواځې عقد سره مستحقه وګرځیده اګرکه وطی او خلوت هم نهٔ وی راغلی، ځکه ښځې خو خپل ځان خاوند ته حواله کړے دے، او خاوند نه خبره پاتې شوه. د ابوداودؒ په روایت کښې ددے نه پس دا الفاظ هم راغلی : [فَإِنْ يَّكُ صَوَابًا فَمِنَ اللّٰهِ، وَإِنْ يَّكُ خَطأً فَمِنِّيْ وَمِنَ الشَّيْطَانِ، وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ بَرِيْئَانِ] (که زما دا فیصله حق راوختله نو دا به د الله تعالیٰ له خوا وی، او که خطا شوه نو دا به زما او د شیطان له خوا وی، او الله تعالیٰ او رسول (ﷺ) به ددې نه بیزاره وی).

[مَعْقِل] بن سنان الاشجعی، ابو محمد، مشهور صحابی دے، د مکې په فتح کښې شریك وو، په کوفه کښې وسیدهٔ، د حَرّے علاقې سردار وو، او د حَرّے په جنګ کښې د ترلو په حالت کښې قتل کړے شو. [بِرْوَعِ بِنْتِ وَاشِقٍ] د محدثینوؒ په نیز د باء زیر او د اهلِ

لغت په نیز زور دے۔ ددے د خاوند نوم دے هلال بن مره اشجعي ﷺ، ددے نه په داسے حال کښے مړ شو چه ددے دپاره ئے مهر نۀ وو مقرر کړے۔

[فَفَرِحَ بِهَا] د هاء ضمیر واقعے یا د رسول الله ﷺ دے فتوے ته راجع دے، او خوشحالي ئے ځکه وکړه چه ددۀ اجتهاد د نبي کریم ﷺ د فیصلے سره موافق شو۔ د نسائيؒ په روایت کښے دی: ((نو ابن مسعود ﷺ د اسلام د خوشحالئ نه پس په بل هیڅ یو شئ باندے دومره نۀ وو خوشحاله شوے څومره چه په دے خوشحاله شو)) [نسائي : ٦/١٢٣]۔ او صحابه کرام ﷺ به د دین په یوه مسئله هم داسے خوشحالیدل۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه کله خاوند مړ شي نو ښځے دپاره پوره مهر دے، اګر که ددے ښځے دپاره ئے مهر نۀ وي مقرر کړے او نۀ ئے ورسره دخول کړے وي۔ او ددے وجه دا ده چه په دے سره د ښځے زړۀ ساتلے شي ځکه هغې سره نکاح وشوه او د مرګ په وجه ورسره دخول ونشو، حالانکه دے په دے نکاح کښے د خیر اُمید لرلو، نو د خاوند مرګ ددے په حق کښے یو مصیبت دے۔ په خلاف د طلاق نه چه په دے وخت کښے ورکړے شي ځکه چه په هغې کښے دا خبره نشته۔ دا حدیث په درے حکمونو مشتمل دے چه (یو) په کښے دا حکم دے چه ښځه د پوره مهر حقداره ده۔ او ابن مسعود ﷺ دا حکم ددے آیتِ کریمه نه اخستے دے : ﴿ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ ﴾ [النساء: ٢٤] (تاسو به ښځے په مالونو (مهرونو) سره طلب کوئ) او چونکه په مذکوره صورت کښے مال نۀ دے مقرر شوے لهذا مهرِ مثل طرفته به رجوع کولے شي۔

(**دویم حکم**) دادے : چه په دے ښځه باندے د وفات کیدو عدت تیرول واجب دی چه هغه څلور میاشتے او لس ورځے دی، او دا اجماعي مسئله ده، او دا حکم ئے ددے آیتِ کریمه نه اخستے : ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ [البقرة: ٢٣٤] (کوم سړی چه تاسو نه مړۀ شي او ښځے پریدی نو هغوئ به په خپلو ځانونو باندے څلور میاشتے او لس ورځے انتظار وباسی) او دا آیتِ کریمه عام دے، مدخول بها او غیر مدخول بها دواړو ته شامل دے هر کله چه ترے خاوند وفات شي۔

(**دریم حکم**) : د دغه خاوند نه به میراث وړی چه نکاح ئے ورسره تړلے وه او د دخول نه مخکښے مړ شو ځکه دا د هغۀ ښځه ده، او میراث صرف په نکاح تړلو سره راځي، وطی شوے وي که نه، او دا حکم ئے ددے آیتِ کریمه نه راخستے : ﴿وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ

يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ﴾ [النساء : ۱۲] (کـه ستاسو اولاد نۀ وو نو بيا ستاسو په پرینبی مال کښې د ښځو څلورمه برخه (میراث) دے)۔ او دا حکم هم اجماعي دے۔ اختلاف صرف په اولنی حکم کښې دے، لکه روستو راځي۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه په دے صورت کښې ددے مهر په اندازه کښې به ددے ښځے رشته دارو همزولو ته کتلے شي چه دا د هغوئ سره په هر هغه صفت کښې برابره وي چه د هغې په وجه په مهر کښې کمے زیاتے راځي، لکه مال، جمال، عقل، ادب، عمر او پیغله یا کونډه کیدل۔ بس هغوئ له چه کوم مهر ورکړے شوے وو، هغه به دے ښځے له هم ورکړے کیږي۔ (۳) په دے کښې اتفاق دے چه کومے ښځے له د نکاح تړلو په وخت مهر مقرر کړے شي او بیا ترے خاوند مړ شي نو هغه به د پوره مهر مستحقه وي۔

اختلاف په هغه صورت کښې دے چه مهر ئے ورله نۀ وي مقرر کړے او ترے مړ شي، نو په دے کښې دوه قوله دي : (۱) - **قول** : دا ښځه د پوره مهر مستحقه ده، او دا مهر به مهرِ مثل وي۔ (او دا قول د ابوحنیفهؒ، احمدؒ، او یو قول د شافعيؒ دے چه نوويؒ ورته ترجیح ورکړے) او دلیل ئے دا حدیث دے چه د نبي کریم ﷺ فیصلے ددے تائید کړے۔

(۲) **قول** : دے ښځے له صرف میراث دے، دا نۀ د مهر مستحقه ده او نۀ د متعے۔ (او دا قول د علي، زيد بن ثابت، ابن عمر ﷺ او نورو دے، او دا د مالكؒ مذهب او د شافعيؒ يو قول دے)۔ [بداية المجتهد : ۳/ ۵۰] دوئ مرګ لره په طلاق باندے قیاس کوي ځکه د دخول او خلوت نه مخکښې دارنګه د مهر مقرریدو نه مخکښې طلاق ورکولو کښې هیڅ شے نشته۔ ځکه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْتَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً وَّمَتِّعُوْهُنَّ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [البقرة : ۲۳٦] نو دلته الله تعالىٰ د جماع نه مخکښې مطلقے لره متعه لازمه کړے، چه ددے نه مراد د خاوند د وس مطابق ښځے له د یو جوړه جامے وغیره نفع ورکول دي، نو ددے نه معلومه شوه چه ددے ښځے دپاره مهر نشته۔ او د آیت نه ښکاره معلومه ده چه متعه د مطلقے پورے خاص ده۔ د متوفى عنها زوجها دپاره متعه نشته۔ دوئ دا هم وائي چه : مهر خو د وطي عوض دے او دلته خاوند وطي نۀ ده کړے نو ښځه به د مهر مستحقه نۀ وي، او دوئ نکاح په بیع قیاس کوي۔ او دوئ ددے حدیث نه دا جواب ورکوي چه دا حدیث مضطرب دے۔ ددے نه معلومه شوه چه سبب د خلاف

صحت يا ضعف د حديث دے۔

خو **راجح قول** اولنے دے : او دا حديث صحيح دے او په مذكوره مسئله ښكاره دليل دے۔ او دويم قول والو چه څۀ پيش كړى دى هغه ددے دليل سره مقاومت نشى كولے۔ او د بعضِ صحابه كرامو ﷺ نه چه په دے مسئله كښے څۀ نقل شوى دى نو ممكنه ده چه هغوئ ته دا حديث نۀ وى رسيدلے۔ لكه څنګه چه ابن مسعود ﷺ د فقهاؤ صحابو ﷺ نه دے مګر هغۀ ته دا حديث نۀ وو رسيدلے او په دے خبر هم نۀ وو نو ځكه ئے اجتهاد وكړو، تردے چه بيا ورته معقل بن سنان ﷺ د نبى ﷺ فيصله بيان كړه۔ او هر چه د دوئ قياس دے نو دا د نص په مقابله كښے دے، او دا مردود وى۔

(٤) د [لَمْ يَفْرِضْ لَهَا] نه معلومه شوه چه نكاح د مهر ذكر كولو نه بغير هم صحيح ده، او دا مسئله د آيتِ كريمه نه هم معلومه ده : ﴿اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً﴾ (يا تاسو د دوئ دپاره مهر نۀ وى مقرر كړے)۔ شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په دے مسئله د علماؤ اجماع نقل كړے چه نكاح د مهر مقررولو نه بغير هم صحيح ده، او د دخول كولو نه پس به ددے ښځے دپاره مهرِ مثل واجب وى۔ اوكه د دخول نه مخكښے ئے طلاقه كړه، نو بيا به ورله متعه واجبه وى، يعنى د عُرف مطابق به ورله څۀ مال، جوړه جامه وركړى چه مالدار به ئے د خپل حيثيت مطابق او غريب به ئے د خپل وس مطابق وركوى. لكه مخكښے دا خبره په آيت كښے ذكر شوه۔

(٥) آيا اجتهاد جائز دے؟ دے حديث نه معلومه شوه چه په يوه مسئله كښے چا ته نص ملاؤ نشى نو اجتهاد كول جائز دى، لكه دلته ابن مسعود ﷺ اجتهاد كړے، حالانكه بل صحابى معقل بن سنان ﷺ سره د نبى كريم ﷺ ارشاد موجود دے، خو ابن مسعود ﷺ دا نۀ وو آوريدلے۔ دارنګه ډيرو احاديثو كښے اجتهاد راغلے دے، او دا به تر قيامته پورے جارى وى، خو دا به هله كوى چه كله ورته د كتاب او سنت نه څه نۀ وى ملاؤ شوى، بيا يو تن چه اجتهاد وكړى نو دا به په هغۀ باندے حجت وى، نۀ د بل چا دپاره، ددے مثال د قبلے په باره كښے تحرّى ده، چه چا ته قبله ګډه وډه شى نو په خپل اجتهاد به عمل كوى او په بل لازم نۀ ده چه ددۀ تقليد به كوى۔ او په حديث كښے دى : ((كله چه يو حاكم اجتهاد وكړى وكړى او حق ته ورسيږى ددۀ دپاره دوه اجره دى او كه خطاء شى نو يو اجرئے دے))۔(بخارى : ٧٣٥٢)

د اجتهاد دپاره یو څو شرطونه دی : یو دا چه دا د ضرورت شے دے، دا به هر وخت کښې نهٔ کوی، بلکه چه کله یو مجتهد یو مقام کښې راګیر شو او نص ورته نهٔ وو معلوم، نو ددهٔ دپاره اجتهاد پکار دے، او دا پدے باندے مکلف دے، نهٔ بل څوك. ځکه چه مجتهد کښې احتمال د خطائی هم وی. او بیا چه کله یو تن ته نص ورسیږی او بیا هم د هغے په خلاف د یو عالِم د اجتهاد تقلید کوی نو دا به لوی ګمراه وی. دویم دا چه اجتهاد به د نص خلاف نهٔ وی. دریم دا چه قیاس او اجتهاد په عباداتو کښې نهٔ چلیږی. ځکه بناء د عباداتو په توقیف ده. لیکن افسوس دا دے چه عامو خلکو عبادات په خپله رائے باندے بناء کړیدی. دارنګه قیاس او اجتهاد د قرآن او حدیث د تائید دپاره کولے شی نو دا د حکمت په درجه کښې وی. دارنګه کله کله قیاس د عقلی دلیل په درجه کښې وی، د کتاب او سنت حکمت پرے معلومیږی نو هغه جدا شے دے.

(٦) په دے حدیث کښې په تقلید باندے ښکاره رد موجود دے. هغه داسے چه : د رسول الله ﷺ نه پس که یو عالم هرڅو مره فقیهِ اُمت شی خو بیا هم په هغهٔ باندے سنت پټ پاتے کیدے شی، او بل هغه چا ته حدیث رسیدے شی چه هغه ددهٔ نه په علم کښې ښکته وی. نو هر کله چه په ابن مسعود رضی الله عنه غوندته شخصیت باندے حدیث پټ پاتے شو او بل صحابی پرے عالم شو، نو آیا په ابو حنیفهؒ باندے یو حدیث پټ نشی پاتے کیدے چه بل عالم په هغے باندے خبر شی؟ که څوك دا نهٔ منی نو هغه ضدی، متعصب او جاهل دے !!. او خبره هم دے نه خرابه شوه چه د یو عالِم په باره کښې دا ګمان وکړی چه دا په هر څه پوهه دے، او هره مسئله ئے حقه ده او د کتاب الطهارة نه تر کتاب الوصایا پورے یوه مسئله کښې ئے هم خطائی نشته، او توله زندګی د امام صیب دپاره تسکورے وهی لکه د هدایه ملا صیب حال ته فکر وکړه.

(۷) کله چه یو عالِم په یوه مسئله کښې اجتهاد کړے وی او بیا ورته حدیث ملاؤ شی نو په دے باندے ډیره زیاته خوشحالی پکار ده ځکه په دے کښې د حق څرګندوالے او په دے باندے عمل کول دی. د مقلدینو طریقه ددے حدیث خلاف ده، هغوئ ته چه کله یو صفا حدیث ورسی او هغه د یو امام د رائے خلاف وی. نو په ځائے ددے چه په هغے خوشحاله شی، د هغے تاویلونه کوی او اَنے بهانے ګوری. د قیامت ورځے راتلونکے ده، هر سړے به الله تعالیٰ له جواب ورکوی.

(۸) کہ یوہ ښځہ د دخول نہ مخکښې طلاقہ شي او مهر ئې مقرر کړے شوے وي نو نیمائی مهر دے لکہ څنګہ چہ قرآن کریم کښې راغلي دي، ځکہ چہ دلتہ نقصان من وجہ د سړي او من وجہ د ښځې وي۔ او کہ خاوند تړے مړ شي نو بیا د ښځې نقصان نشتہ نو د هغې دپارہ بہ پورہ مهر مثل واجب وي۔

(۹) ښځہ د خاوند د مرګ نہ روستو عدت تیروي ددے ډیر وجوهات دي کلہ د حمل احتمال وي۔ دلتہ د خاوند حق دے۔ د هغۀ سرہ غم رازی کول دي۔ نور حکمتونہ هم پکښې شتہ۔

(۱۰) اهل علمو پدے مقام کښې د باطل او **مذموم رائے اقسام** ذکر کړي :

(۱) یو هغہ رائے دہ چہ د نصوصو خلاف وي۔ (۲) دویم پہ دین کښې بغیر د علم نہ پہ ګمان او اټکل سرہ خبرے کول، چہ د نصوصو پہ فهم کښې کوتاہ وي او خپلہ رائے استعمالوي۔ (۳) هغہ رایہ چہ د الله تعالیٰ د اسماء او صفاتو انکار او تعطیل پکښې راځي لکہ اهل بدعو چہ د شریعت نصوص پہ خپلہ رائے سرہ رد کړي او پہ خپلہ طبع ئے د اسماء او صفاتو باطلې معنې کړي۔ (٤) د اهل بدعو رائے چہ پہ دین کښې ئے پہ خپلہ رائے نوې خبرے ایجاد کړي او هغې تہ دین وائي او سنت طریقې ئے بدلې کړي وي۔ او د محمود او **ممدوح رائے** هم څلور اقسام دي : (۱) رائے د صحابہ کرامو ﷺ چہ د امت لوی فقهاء، صفا زړونو والا، ژور علمونو والا، کم تکلفاتو والا، او صحیح سلیم فطرت والا او پورہ عقل والا۔ چہ هغوی د وحی نازلیدل لیدلی، او د هغې معنې ئے پیژندلی، او د رسول الله ﷺ پہ مقاصدو باندے پوهہ شوي۔ نو د دوئ رائے د نبی ﷺ وحی تہ داسے نزدے دہ لکہ څنګہ چہ دوئ نبی ﷺ تہ پہ صحبت کښې نزدے دي۔ دا خلك بغیر د واسطې نہ د پیغمبر نہ اخستونکی وو۔ نو د دوئ رائے بہ د هر چا پہ رائے باندے مقدم وي، او کہ د یو تن رائے وي او بل صحابی ئے خلاف نۀ وي کړے نو پہ هغې بہ عمل کوو۔ لکہ دا خبرہ امام شافعیؒ پہ (الرسالة البغدادية) کښې کړے۔ لکہ د سعد بن معاذ ﷺ فیصلہ د بنو قریظۀ پہ بارہ کښې، د عمر فاروق ﷺ موافقات، او دلتہ د ابن مسعود ﷺ فیصلہ شوہ۔

(۲) هغہ رائے چہ د نصوصو تفسیر کوي او د هغې طریقہ د دلالت بیانوي، او د هغې محاسن رابښکارہ کوي او د هغې نہ طریقہ دا ستنباط آسانوي۔

عبد الله بن مبارک ؒ به فرمایل : ستا اعتماد او دلیل دِې حدیث وی او د رائے نه هغه اخله چه تا ته حدیث واضحه کوی۔ لکه د میراث په باب کښې د عول حکم، یا لکه د هغوی رائے شوه د محرم په باره کښې چه خپل اهل سره نزدیکت وکړی چه ددهٔ حج فاسد شو او دا حج به جاری ساتی او بیا به قضاء راوړی۔ یا د کلاله په باره کښې د ابوبکر صدیق ﷛ رائے شوه۔

(۳) هغه رائے چه په هغې باندے امت اتفاق کړے وی، او هغوی د سلفو نه تر خلفو پورے قبوله کړی وی، نو داسے اتفاقی رائے خامخا حقه وی، لکه د صحابه کرامو ﷡ د لیلة القدر په باره کښې د خوبونو موافقت چه رسول الله ﷺ ئے تائید وکړو چه زهٔ وینم چه ستاسو خوبونه د یو بل موافق شویدی چه لیلة القدر په آخری اُوه شپو کښې ده۔ ددے وجه نه هغه رائے حق ته نزدے وی چه د اهل شوریٰ د مشورے نه پس وشی، او یو تن په هغې باندے انفراد ونکړی۔ ددے وجه نه عمر فاروق ﷛ ته به چه کله یوه حادثه راغله چه په هغې کښې به هغهٔ ته نص نهٔ وو معلوم نو هغهٔ به د صحابه کرامو ﷡ شوری راوغوښته بیا به ئے په شوری سره فیصله وکړه۔ نو د اهل علمو چه په کومه رائے باندے اتفاق او اجماع شوی وی هغه حق وی۔ اتفاقی مسائل به حق وی۔

(٤) د کتاب او سنت او د صحابه کرامو ﷡ د رائے په رڼرا کښې اجتهادی رائے ورکول۔ او دا به اول په قرآن کریم کښې ګوری، که ورته ملاؤ نشی، نو بیا به ئے په سنت کښې ګوری، که ورته ملاؤ نشی نو بیا به ئے د خلفاءِ راشدینو او نورو صحابه کرامو ﷡ په فیصلو کښې وګوری۔ د دوو یا د یو تن۔ که هغې کښې هم ورته ملاؤ نشی بیا به خپله رائے سره اجتهاد کوی۔ او کوم چه کتاب او سنت ته زیات نزدے وی نو هغه رائے به غوره کړی او دا هغه رائے ده چه صحابه کرامو ددے اجازه ورکړے او خپله ئے استعمال کړے او پدے سره ئے د یو بل اقرار کړے۔ ددے مسئلے د ښکلے تفصیل دپاره البحر المحیط الثجاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج : (٦٧٤/٤١) ته رجوع وکړه هغه دے مقام کښې انتهائی علمی او مزیدار ابحاث راجمع کړی۔

درجة الحديث : [صحيح] أبوداود: ٢١١٤، ترمذی: ١١٤٥، نسائی : ١٢١/٦، ابن ماجه: ١٨٩١، أحمد: ٤٨٠/٣، ابن حبان: ٤١٠٠، بيهقى: ٢٤٥/٧ قال الالبانى وله طرق اخرى ثلاثة. وقال بعض العلماء هذا الحديث مضطرب لان الصحابى المؤيد لرأى ابن مسعود فى بعض الروايات معقل

بن سنان، وفی بعضها معقل بن یسار، وفی بعضها رجل مجهول من اشجع، لکن **الجواب** : ان جهالة اسم الصحابی او الاختلاف فیه لا یضر صحة الحدیث، فالحدیث صحیح.

الفصل الثالث

د ام حبیبه سره د نبی ﷺ د نکاح تفصیل او د هغې د مهر مقدار

3208 (7) - عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ : أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ جَحْشٍ فَمَاتَ بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ النَّبِيَّ ﷺ وَأَمْهَرَهَا عَنْهُ أَرْبَعَةَ آلَافٍ. وَفِي رِوَايَةٍ : أَرْبَعَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ وَبَعَثَ بِهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ مَعَ شَرَحْبِيلَ بْنِ حَسَنَةَ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : ام حبیبه رضی الله عنها نه روایت دے چه هغه د عبید الله بن جحش په نکاح کښے وه بیا هغه ترے د حبشو په زمکه وفات شو نو نجاشی هغه نبی کریم ﷺ ته په نکاح ورکړه او د هغهٔ د طرف نه ئے هغې له څلور زره مهر مقرر کړو او په یو روایت کښے دی : چه څلور زره درهم (یعنی مخکنی روایت کښے درهم لفظ نشته بلکه صرف څلور زره لفظ ذکر دے، او په بل روایت کښے ورسره د درهم لفظ ذکر دے) اونجاشی (د نکاح نه روستو) ام حبیبه د شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه سره رسول الله ﷺ ته راولیږله. (ابوداوَد، نسائیؔ)

تشریح :[ام حبیبة رضی الله عنها] : دا د ابوسفیان رضی الله عنه لور او د معاویه رضی الله عنه خور وه، د عبید الله بن جحش په نکاح کښے وه، دواړو حبشو ته هجرت وکړو، هلته عبید الله بن جحش وفات شو نو دا ډیره بنکلے مسلمانه وه، او په حالت د هجرت کښے ئے زړهٔ اُودردیدو نو رسول الله ﷺ په هغې باندے د شفقت کولو په اراده د هغې جرګه وکړه چه هغې ته فائده ورسوی. نو هغې دا دعوت قبول کړو، نبی علیه السلام عمرو بن امیه الضمری رضی الله عنه نجاشی ته ولیږلو چه ما له په ام حبیبه جرګه وکړه، نجاشی بادشاه د نبی علیه السلام د طرف نه هغه قبوله کړه او خطبه ئے ووئیله او دوباره خطبه خالد بن سعید ووئیله او نجاشی د هغې مهر څلور زره مقرر کړو او بیا ئے ووئیل چه د انبیاء علیهم السلام طریقه دا راروانه ده چه هغوی د نکاح نه پس څه خواړهٔ خوری نو هغه ئے راوغوښتل. بیا ئے ام حبیبه رضی الله عنها د شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه سره په قافله کښے راولیږله.

[فَمَاتَ] تاریخی روایاتو کښے راغلی چه عبید الله بن جحش رضی الله عنه په حبشه کښے

نصرانیت قبول کړو او ام حبیبه ﷺ ته ئې هم د نصرانیت دعوت ورکړو نو هغې په سختئ سره رد کړو۔ لیکن دا تاریخي روایت دے او په احادیثو کښې نشته، ددے وجه نه دلته صرف د هغهٔ د موت خبره ذکر ده۔ فتدبر۔

دے نه پته اشاره ملاویږی چه کله تاریخ کښې یوه خبره ذکر وی او په صحیح احادیثو کښې د هغې خلاف وی، نو تاریخ له به اعتبار نهٔ وی، د عبید الله بن جحش صحابی کیدل صحیح ثابت دی، او نصوص قرآنی ئې هم تائید کوی، او نصرانیت خبره ئې تاریخي ده۔

تنبیه: دلته بعض نسخو کښې (عبد الله بن جحش) ذکر شوے دا خطائی ده، بلکه دا عبید الله بن جحش دے ځکه چه عبد الله بن جحش ﷺ خو په اُحد کښې شهید شوے۔

فوائد: ۱- ددے روایت نه ګوره ماتے (د نکاح په وخت خوله خوږی/شرینی) معلومه شوه چه دا سنت طریقه ده۔

۲- که طعام دوادهٔ نه مخکښې ورکړے شی هم جائز ده، ددے اثر نه معلومیږی۔ یعنی په اوله ورځ دنکاح کولو، او هرچه ولیمه ده نو هغې دپاره دوه وختنه دی، یو د جماع کولو نه، دویم د خاوند کور ته راوستو نه روستو اګرکه جماع نهٔ وی شوی، لکه ددے تفصیل روستو راځی ان شاء الله۔

۳- او مسئله پکښې دا شوه چه مهر لږ هم کیدے شی او ډیر هم۔ څه خاص تحدید او تعیین پکښې نشته۔

۴- مهر خپله هم ورکولے شی او که د خاوند د طرف نه بل څوک ئې ورکوی هم جائز ده۔ ۵- چا له چه نکاح د هغهٔ په غیاب کښې وتړل شی او هغه په هغې باندے رضا شی نو نکاح صحیح ده۔ ۶- کافر ولی نشی جوړیدے او مسلمان اګرکه لرے خپلوان وی هم ولی ګرځیدے شی نو پدے صورت کښې د ښځې اجازت ضروری دے لکه د ام حبیبه ﷺ نزدے ولی نهٔ وو خو د هغې نه اجازت واخستے شو او بیا لرے خپلوان (خالد بن سعید ﷺ) په نکاح ورکړه۔

۷- که خاوند د نکاح په قبولیت کښې بل څوک وکیل مقرر کړی نو هغهٔ ئې هم د خاوند دپاره قبلولے شی۔ لکه مثلاً پلار د ځوی دپاره قبوله کړی، او ځوی پرے راضی وی، نکاح صحیح ده۔

۸- شرحبیل بن حسنه ﷺ د ام حبیبه ﷞ مَحْرَم نهٔ وو لیکن د ضرورت په وجه ئې په قافله کښې د هغهٔ سره راولیږله. او که دا قافله کښې نهٔ وی، یواځې وی هم ضرورت دے، ځکه چه د نبی ﷺ بیبیانے د امت میندے دی. او دا د هجرت سفر دے او هغه یواځې هم جائز دے لکه زینب او ام سلمه رضی الله عنهما سره هم داسے شوی وو. والله اعلم.

درجة الحديث : [اسناده صحيح] ابوداود : ۲۱۰۷، (۲۱۰۸) النسائی : (۳۳۵۰) وزاد : وَلَمْ يَبْعَثْ إِلَيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِشَيْءٍ، وَكَانَ مَهْرُ نِسَائِهِ أَرْبَعَ مِئَةِ دِرْهَمٍ، وإسناده صحيح.

د اسلام قبولیت د مهر قائمقام دے

3209 (8) - وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : تَزَوَّجَ أَبُوْ طَلْحَةَ أُمَّ سُلَيْمٍ فَكَانَ صَدَاقَ مَا بَيْنَهُمَا الْإِسْلَامُ أَسْلَمَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ قَبْلَ أَبِي طَلْحَةَ فَخَطَبَهَا فَقَالَتْ : إِنِّي قَدْ أَسْلَمْتُ فَإِنْ أَسْلَمْتَ نَكَحْتُكَ فَأَسْلَمَ فَكَانَ صَدَاقَ مَا بَيْنَهُمَا . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : ابو طلحه ﷺ ام سلیم ﷞ په نکاح واخسته نو د دواړو ترمینځ مهر د اسلام قبلول مقرر شو. ام سلیم ﷞ د ابو طلحه ﷺ نه مخکښې اسلام قبول کړو نو ابوطلحه د هغې د نکاح جرګه وکړه نو هغې وفرمایل : ما اسلام قبول کړے نو که تهٔ اسلام قبول کړے زهٔ به تا سره نکاح وکړم نو ابوطلحه ﷺ اسلام قبول کړو نو اسلام د دواړو ترمینځ مهر جوړ شو. (نسائیؒ)

تشریح : [ابو طلحة] . ددهٔ نوم زید بن سهل رضی الله عنه دے، نبی ﷺ ددهٔ په باره کښې فرمائیلی وو : [لَصَوْتُ أَبِي طَلْحَةَ فِي الْجَيْشِ خَيْرٌ مِنْ فِئَةٍ] . د ابو طلحه ﷺ په فوج کښې آواز د یوے ډلے نه غوره دے، [أُمُّ سُلَيْمٍ]. دا د انس بن مالک ﷺ مور ده، نوم ئې رُمَيْسَاء دے.

دا حدیث د محققینو دلیل دے او د احنافو د مذهب خلاف دے ځکه چه دلته اسلام د دواړو مهر جوړ شوید ے، او احناف وائی چه مهر به خامخا مال وی، او اسلام خو مال نهٔ دے. او شافعیؒ او جمهور علماءٔ وائی چه اسلام هم په بعض اوقاتو کښې مهر جوړیدل صحیح دی، ځکه چه اسلام هم د مال په شان دے ځکه چه پدے کښې دینی منفعت دے چه خاوند ئې ښځې ته رسوی. او په منفعت باندے نکاح جائز وی. لکه د قرآن کریم تعلیم منفعت دے، په هغې سره نکاح شویده.

او همدا خبره ددے حديث او دغه شان نورو حديثونو موافق ده لکه عتق مهر ګرځيدلے دے. ځکه چه دلته دا کار د نبي ﷺ په زمانه کښے شوے. اګر که دے حديث کښے دا تاويل کيدے شی چه ښځے ورته مهر معاف کړو د اسلام په وجه. ليکن دا معاف کول خو د مقررولو نه پس جائز دی، او دلته خو لا مقرر شوے نۀ وو بلکه عين اسلام ئے مهر جوړ کړو. او دا مذهب د انس بن مالك رضي الله عنه هم دے، پدے وجه ئے دا روايت نقل کړو، امت ته ددے جواز بيانوی.

بيا دلته **اشکال** دا دے چه ابو طلحه رضي الله عنه خو اسلام د ام سليم رضي الله عنها د نکاح دپاره راوړو نو آيا داسے اسلام قبليږی ؟

يو جواب دا دے چه ام سليم رضي الله عنها اول کښے د نکاح نه ځان منع کړو، بيا روستو وخت کښے الله تعالىٰ هغۀ ته اسلام طرفته هدايت وکړو، نو اسلام ئے د الله تعالىٰ دپاره راوړو نو پدے کښے د نکاح شرط هم موجود شو، نو ام سليم رضي الله عنها ورسره وادۀ وکړو.

دويم جواب دا دے چه کله د يو تن اصل مقصد په دين کښے رغبت وی، نو ددے سره دا منع نۀ ده چه هغۀ دپاره نکاح جائز شی او د مسلمان نه ډيے ميراث ويسی، او د غنيمت مستحق ډيے وګرځی. او د اسلام د راوړو په وخت کښے ډير نيتونه کول جائز دی، لکه د جهاد په وخت کښے مقصد اعلاء کلمة الله وی ليکن که څوك ددے سره سره د غنيمت نيت هم وکړی چه د کافر نه ئے ونيسی هم جائز ده. ځکه چه دا تبعي وی، اصل مقصد دين اسلام غالبه کول وی.

درجة الحديث :[حديث صحيح] النسائى ٦/١١٤، وقال الالبانى حديث صحيح وقد خرجته فى كتابى احكام الجنائز وبدعها ص (٣٥-٣٨)



۸- باب الولیمة د ولیمے بیان

په دے باب کښے هغه حدیثونه ذکر کیږی چه په هغے کښے د ولیمے حکم، اندازه، وخت او د هغے د قبولتیا حکم، او د چا د ولیمے اجابت لازم نهٔ دے، او د ولیمے طریقه وغیره ذکر کیږی۔

دلته هم یو څو بحثونه دی، لغوی او اصطلاحی معنیٰ، او د ولیمے متعلق مسائل۔

ولیمه د وَلْم نه ده پوره کیدو او جمع کیدو ته وائی۔ عرب وائی: أَوْلَمَ الرَّجُلُ (د سړی عقل او اخلاق پوره شول) بیا دا د وادهٔ خوراك دپاره نقل شو ځکه دا هم د ښځے او خاوند د راجمع کیدو نه پس تیاریږی، او یا په دے کښے قِسما قِسم خوراکونه تیاریږی او خلك ورته راجمع کیږی، او یا په کښے ښځے راجمع کیږی۔ د ولیمے دوه معنے کیږی: د وادهٔ کولو نه پس خوراك ورکول۔ او دلته هم دا معنیٰ مراد ده۔

دویم: بعضِ فقهاؤ ویلی دی چه ولیمه هر هغه خوراك ته وائی چه د خوشحالئ راتلو نه پس تیاریږی لکه د غائب سړی کورته راتلل، او عقیقه کول شو، البته د وادهٔ په خوراکه کښے زیات استعمالیږی۔

لیکن د اهلِ لغت په نیز ولیمه صرف د وادهٔ خوراکے ته وائی، د دے نه سوئ په بله موقعه خوراك ورکولو ته ولیمه نهٔ وائی۔ او همدا راجحه خبره ده۔

ولیمه د خاوند په حق کښے مشروع ده، ځکه نبی ﷺ عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ته د و لیمے حکم کړے وو، او د هغهٔ سخرګنئ ته ئے د دے حکم نهٔ دے کړے۔ بله دا چه: دا د نعمت شکریه ده او د خاوند په حق کښے نعمت د ښځے په حق کښے د نعمت نه زیات دے، ځکه په عامه توګه سړے د ښځے طلب کوی۔ او که د جینئ کور والا نزدے خپلوان راجمع کړی او هغے له د میلمستیا په شکل طعام تیار کړی نو دا ناروا نهٔ ده۔ البته ولیمه به ترے نهٔ جوړوی۔

په ولیمے سره د نکاح اعلان او اشتهار هم کیږی، د خپلو خپلوانو، یارانو دوستانو، ګاونډیانو، فقیرانو مسکینانو د راجمع کیدو په وجه خپلولی او مینه محبت او تعلقات پالل کیږی۔ دارنګه په دے کښے د ښځے او د هغے د اولیاؤ او خپلوانو خوشحالی هم وی۔

د وليمې بعض نور مسائل : (۱) **مسئله : وليمه به څه وخت كيږي ؟**
نو اصح داده چه وليمه د وادهٔ په صبا باندې اُوكړې شي او دې باره كښې دوه دليله دي :
(أ) يو لغوي معنىٰ نه استدلال دې چه وليمه كښې معنىٰ د ضم پرته ده نو هركله چه زوجين خپلو كښې ملاؤ شي اګركه دخول ئې نهٔ وي كړې، نو بيا پكار ده۔
(ب) د احاديثو نه معلوميږي چه رسول الله ﷺ هميشه دپاره وليمه د وادهٔ نه پس وركړې، اګركه په سفر كښې وي، لكه احاديثو كښې دي چه د زينب او صفيه رضي الله عنهما د وادهٔ نه پس ئې طعام وركړو۔ [بخاري: ٥١٦٦] او صفيه رضي الله عنها سره ئې د خيبر نه په واپسئ كښې په حالت د سفر كښې وادهٔ وكړو چه دې وخت لا نزديكت نهٔ وو شوې او وليمه ئې وركړه۔ خو په تصرف كښې ئې راغلې وه۔
(۲) قول : چا وئيلي دي چه د عقد (نكاح تړلو) نه پس به وليمه وركوي۔ ليكن دې باندې دليل نشته۔ (۳) چا وئيلي دي چه زفاف يعني كور ته راوستل وكړې شي، او دوئ دا شرط ګڼړي، ليكن د احاديثو نه صرف اول قول معلوميږي۔ او كومو كسانو چه ښځې لا كور ته نهٔ وي راوستي او مخكښې طعام وركوي نو دا صحيح نهٔ ده ځكه چه وليمه د شكر ادا كولو دپاره كيږي او دلته دا نعمت كور ته نهٔ دې راغلې يا سړي ته لا نهٔ دې ملاؤ شوې، او شكر مخكښې نه ادا كوي۔
(۲) **مسئله: د وليمې څه حكم دې ؟** آيا واجبه ده كه نه ؟ (۱) احمدؒ، بخاريؒ، او ابن حزمؒ وائي چه وليمه واجب ده۔ د دوئ **دليل** دا دې چه په روستو حديث كښې (اَوْلِمْ) امر راغلې او د وليمې اجابت ئې هم لازم كړې او امر د وجوب دپاره وي كله چه قرينه صارفه د وجوب نه نهٔ وي او همدا خبره صحيح ده۔ (ب) بريدة ﷺ فرمائي : كله چه علي ﷺ فاطمه ﷺ وغوښته، نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: [اِنَّهُ لَابُدَّ لِلْعُرْسِ – وَفِيْ رِوَايَةٍ : لِلْعَرُوْسِ – مِنْ وَلِيْمَةٍ] (په وادهٔ كښې وليمه ضروري ده) [أحمد: ١٤٢/٣٨، وسنده حسن]
(ج) دارنګه دائمي عمل د نبي ﷺ او د صحابه كرامو هم دا وو چه هغوي هيڅكله په وادهٔ كښې وليمه نهٔ ده پريخودې اګركه په حالت د سفر كښې به ولې نهٔ وو۔
(۲) قول : امام شافعيؒ او ابوحنيفهؒ وائي چه وليمه سنت يا مستحب ده۔ د دوئ دليل نشته سوئ د عقلي وجې نه، هغه دا چه وليمه د خوشحالي روتئ ده، او دا قانون دې چه د خوشحالئ په طعام كښې وجوب نهٔ وي۔ دارنګه وائي : ددې اندازه نهٔ ده مقرر شوې۔

راجح قول د وجوب دے، ځکه نبی کریم ﷺ په دے امر کړے، او هیڅ کله ئے نهٔ ده پریښے، لړه وه که ډیره خامخا ئے کړے، په دے کښے ډیر فوائد دی لکه مخکښے تیر شو۔ او پاتے شوه دا خبره چه قانون دے چه د خوشحالیو په طعام کښے وجوب نهٔ وی نو دا خبره بے دلیله ده، ولیمه د خوشحالئ طعام دے او وجوب هم پکښے دے۔ ددے ملازمه نشته۔ او پاتے شوه دا خبره چه ددے اندازه نهٔ ده معلومه : نو دا د عدم وجوب تقاضا نهٔ کوی، ځکه نبی ﷺ په غوښه او په ډوډئ ولیمه کړے او په ګډه بزه باندے ئے امر کړے چه ددے نه معلومیږی چه په دے باب کښے معامله آسانه ده۔

فائده نفیسه : **ظاهره** داده چه د ولیمے اندازه عُرف او د خاوند مالی حیثیت ته سپارل شوے، څهٔ چه هغهٔ ته آسان وی په هغے ولیمه کول مستحب دی، په دے شرط چه اسراف او فضول خرچئ ته ونهٔ رسی، اونهٔ په کښے مباهات او فخر کول غرض وی لکه څنګه چه د نن صبا خلکو رواج دے۔ که خاوند مالداره وی نو دوه ګډانو، درے ګډانو وغیره سره دِے ولیمه وکړی، اوکهٔ غریب وی نو کوم خوراك څکاك چه ورته آسان وی هغه دِے تیار کړی، لکه څنګه چه نبی ﷺ په صفیه ﵂ باندے په غیر د غوښے نه ولیمه کړے وه۔

(۳) **مسئله : ولیمه کښے طعام پخول بهتر دی او که نه؟** نو غوره دا ده چه پخه شی لکه دا قانون په عقیقه کښے هم دے، او علامه ابن القیمؒ په ((تحفة المودود ص : ۷٦)) کښے هغه طعامونه ذکر کړی چه د عربو عادت د هغے د پخلی وو، چه په هغے کښے بعض واجب او بعض مستحب او بعض مکروه دی۔ (۱) القِریٰ : دا د میلمنو طعام دے۔ او دا واجب دے۔ (۲) مَأدُبَه : د دعوت طعام دے او دا مستحب دے او د مؤمن صفت دے چه په خلکو به طعامونه خوری۔ (۳) تحفه : طعام الزائر۔ ملاقات له راتلونکی طعام۔ دا هم مستحب دے۔ (٤) ولیمه : طعام العرس۔ د وادهٔ طعام، او دا واجب دے۔ (۵) الخرس : دا د ولادت طعام دے، دا په دین کښے نهٔ دے ثابت۔ (٦) عقیقه : [ذَبحُ الشَّاةِ فِی السَّابِعِ مِنَ الوِلَادَةِ] ۔ د ماشوم پیدا کیدو نه روستو د یو یا دوه ګډانو په اومه ورځ باندے ذبح کول دی۔ او دا سنت یا واجب دی۔ (۷) الغدیرة : طعام الختان۔ د سنت ګیرئ طعام۔ او دا مکروه دے، ځکه چه دا د نبی کریم ﷺ په زمانه کښے نهٔ وو۔ عمران بن حصین ﵁ به د ختان په طعام کښے شرکت نهٔ کولو او د مجلس نه به پاځیدو۔ لکه ادب مفرد د

بخاري کښې دي۔ (۸) وضیمه : یعنی طعام المأتم : د ماتم روټۍ۔ (دے نه پښتانهٔ د تختې حلواء وائي) دا د جاهلیت رواج وو۔ (۹) نقیعه : [طَعَامُ الْقَادِمِ مِنْ سَفَرِه]۔ د سفر نه د یو تن د راتللو په وخت طعام دے۔ دا مستحب عمل دے لکه په حدیث د بخاري کښې دي چه نبي علیه السلام یو ځل د سفر نه راغلو نو د شکریه په توګه ئې ذبح وکړه۔

(۱۰) الوکیره : [طَعَامُ الْفَرَاغِ مِنَ الْبِنَاءِ]۔ د آبادۍ د پوره کیدو نه پس طعام ورکول۔ دا مباح ده۔ خو کله چه رواج جوړ نشي بیا مستحب ده، شکریه ده۔ نو پدے جائز تهولو ځایونو کښې غوښه د تقسیمولو په ځائې پخول بهتر دي۔ ځکه چه پدے سره میلمانهٔ د مشقت نه خلاصیږي۔

الفصل الأول

د ولیمے کولو حکم

3210 (1) - وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ، قَالَ : «مَا هٰذَا؟»، قَالَ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ. قَالَ : **بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ، أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ.** مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : انس بن مالك ﷺ نه روایت دے چه نبي ﷺ د عبد الرحمن بن عوف ﷺ (په کپړو) باندے د زیړ رنګ نشان ولیدهٔ نو وے فرمایل : دا څهٔ دي ؟ هغهٔ ووئیل : یا رسول الله ! ما د یوے ښځے سره د کهجورے د زړې برابر سرو زرو سره نکاح کړے (یا د نواة په اندازه سرو زرو سره نکاح کړے)، نبي ﷺ وفرمایل : الله دِے تاله برکت درکړي، ولیمه وکړه اګرکه په یو ګډ سره وي۔ (بخاريؔ، مسلمؔ)۔

تشریح: عبد الرحمن بن عوف القرشي ﷺ د عشره مبشره ؤ نه جنتي صحابي دے، هرکله چه دهٔ د مکے نه هجرت وکړو نو دهٔ او سعد بن الربیع ترمینځ رسول الله ﷺ رورولي قائمه کړه، سعد ﷺ ورته خپل مال او خپله یوه بي بي پیش کړه چه تهٔ پکښې یوه خوښه کړه زهٔ به ئې درته طلاقه کړم تهٔ به ورسره نکاح وکړے لیکن دهٔ وویل چه ما ته بازار وښایئ، نو دے د بني قینقاع بازار ته لاړو او د پنیر او غوړو کاروبار ئې شروع کړو لږ وخت کښې مالداره شو او وادهٔ ئې وکړو۔ رضي الله عنه وارضاه۔

[أَثَرَ صُفْرَةٍ] أَيْ صُفْرَةِ الْخَلُوقِ (د خلوق خوشبوئي زیړ والے) او دا یو قِسم خوشبوئے ده

چه د زعفران بوټي په شان بوټي نه جوړولے شي. د بخاري په روایت کښې دي : [رَدْعٌ مِنْ زَعْفِرَانٍ] او رَدْع د خوشبوئے اثر ته وائي. [مَاهٰذَا] بـل روایت کښې دي : [مَهْيَمْ؟] (دا څۀ دي) ظاهره داده چه دا د تعجب پوښتنه ده، ځکه نبي کریم ﷺ نارینه دپاره (د خوشبوئي یا لباس په توګه) زعفراني رنګ استعمالول منع ګرځولي. ځکه دا د ښځو شِعار دے او د نارینه ؤ مشابهت د ښځو سره ناروا دے.

[عَلٰى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ] ددے دوه مطلبه کیدے شي : (أ) د کهجورے د زړي برابر سرۀ زر. (ب) بعض وائي: نواة د عربو په نیز د سرو زرو یو خاص معیار او اندازه ده، او د کهجورے زړے نۀ دے مراد ځکه د کهجورے زړي مختلف دي څۀ غټ او څۀ واړۀ، په دے کښې پوره اندازه نۀ معلومیږي. بیا د (نواة) اندازه پنځه دیناره یا پنځه درهمه دي. که پنځه دیناره شي نو ددے نه (۸،۷۵ـ۱) یو توله او اته ګرامه جوړیږي. ځکه چه شل دیناره شرعي نصاب دے او ددے نه اووه نیمے تولے جوړیږي، او نن صبا وخت کښې یوه توله په (۱۲۰۰۰۰) زره روپئ ده. نو ددے نه تقریباً (۲۱۶۰۰۰) روپئ جوړیږي.

اوکه د نواة اندازه پنځه درهم وي نو بیا د جمهورو مذهب ثابت شو چه مهر د لسو درهمو نه کم هم صحیح کیږي.

[وَلَوْ بِشَاةٍ] اګرکه د ګډے بزے په ذبح کولو سره ولیمه وي. (شاة) ګډے بزے دواړو ته وائي. ددے نه معلومیږي چه ولیمه د ګډے بزے نه بغیر هم کیږي. دارنګه دا ترے معلومیږي چه د یوے ګډے بزے نه په زیاتو سره ولیمه کول بهتر دي او په یوے سره هم جائز دي. خو دا د عبد الرحمن بن عوف ﷺ د شان مطابق کمه اندازه ده ځکه دا مالداره صحابي وو. یعني ستا په حق کښې په یوه ګډه بزه ولیمه کول خو کمه اندازه ده، په دے کمے اندازے سره ئے وکړه خو وے کړه. او دا مطلب نۀ دے چه ګنے په ولیمه کښې ګډه بزه ذبح کول د ولیمے کمه اندازه ده، او ددے نه به ګنے په کم باندے نۀ کیږي، ځکه نبي کریم ﷺ په صفیه ﷺ باندے په کهجورو او ستوانو سره ولیمه کړے وه. [أبو داود: ۳۷٤٤، صحیح ترمذی: ۸۷۵] دارنګه په یوه بي بي باندے ئے په دوه مُده (تقریبًا پاؤ باندے یو کیلو) وریشو سره ولیمه کړے. [بخاری: ۵۱۷۲]. حافظ وائي : دا ام سلمه ﷺ وه.

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د خاوند دپاره ولیمه کول مشروع دي، او هر چه د ښځے کور والو دپاره ولیمه کول دي، نو په دے باندے هیڅ دلیل نشته.

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه نارینه ؤ دپاره زعفران او هر هغه خوشبوئے لګول منع دی چه د هغے اثر په بدن یا جامه ښکاری، ځکه دلته نبی ﷺ د عبد الرحمن ﷺ نه پوښتنه کړے چه دا دِے څهٔ کړی؟ نو هغهٔ عرض وکړو چه دا مے وادهٔ کړے،

ددے جواب مقصد دا چه: هغهٔ دا قصدًا خپله نهٔ وه مرلے بلکه د ناوے نه وریورے لګیدلے وه، نو دا تبعًا ده۔ او په حدیث کښے چه منع راغلے نو دا د قصدًا زعفرانو خوشبوئے لګولو نه راغلے۔ (ب) بعضِ اهلِ علمو (لکه امام نسائیؒ) د زعفرانو خوشبوئی صرف وادهٔ کړی دپاره جائز ګرځولے، نهٔ د بل چا دپاره، او دا ئے د منع د حدیث د عموم نه مستثنیٰ ګرځولے۔ لیکن غوره دا ده چه دلته دا غیر اختیاری لګیدلے ده۔ او پدے سره د احادیث نا هیه او ددے ترمینځ تطبیق راځی۔

سوال : نبی علیه السلام عبد الرحمن ﷺ ته ولے د هغه زعفرانی رنګ په وینځلو حکم ونکړو؟ **جواب** : یو اختیاراً رنګ استعمالول دی بل اضطراراً نو زعفرانی رنګ د سړو دپاره په خپل اختیار استعمالول ګناه ده لیکن کله چه انسان مضطر شی نو بیا جائز ده او دلته عبد الرحمن ﷺ مضطر وو، ځکه چه نوے وادهٔ ئے کړے وو او په وادهٔ کښے خوشبوئی لګول ضروری وی نو دهٔ سره به نوره خوشبوئی نهٔ وه نو د زنانو خوشبوئی لګولے ده، او د زنانو په خوشبوئی کښے غالباً رنګ وی لکه ددے په باره کښے په حدیث کښے راغلی دی چه یو تن جُمعے مانځه ته ځی او خپله خوشبوئی ورسره نهٔ وی نو نبی علیه السلام فرمائی : [وَلْیَمَسَّ مِنْ طِیبِ اَهْلِهٖ] ۔ د خپل کور والو خوشبوئی دِے ولګوی۔ او د زنانو خوشبوئی رنګ والا وی نو ضمناً ثابته شوه چه د مجبورتیا په وخت کښے که داسے رنګ انسان ته ولګی نو معاف دے۔ والله اعلم۔

یا په دهٔ باندے د ښځے د کپړو نه لګیدلے وو۔

(۳) او معلومه شوه چه لږ مهر مقررول مستحب دی، لکه دلته عبد الرحمن بن عوف ﷺ مالداره صحابی دے لیکن خپلے ښځے له ئے صرف پنځه اشرفئ په مهر کښے ورکړی۔ (٤) د وادهٔ زلمی ته د برکت دعا کول مستحب دی۔ او که داسے ووائی نو ډیره بهتره ده : [بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِیْ خَيْرٍ]۔ (اصحاب السنن)

او صرف بَارَكَ اللّٰهُ هم وئیلے شی۔ لکه دلته راغلل۔ او دا دعاء د وادهٔ نه پس هم کیږی او د کویژدن په وخت کښے هم۔ لیکن ظاهره دا ښکاره کیږی چه د نکاح د تړون په وخت به

ورته دغه دعاء وائی، او د وادهٔ نه پس به ورته صرف [بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ] وائی۔
(۵) د [مَاهٰذَا] نه معلومه شوه چه والی او قائد او مشر له پکار دی چه د خپلو ملګرو د حالاتو او اعمالو نه ځان خبروی خاصکر کله چه د هغوی نه ناشنا کار وینی۔
(٦) نفی د علم الغیب ثابت شو، چه کلی کښې وادهٔ کیږی او نبی علیه السلام ترې نهٔ دې خبر۔
(۷) او دې نه دا هم معلومه شوه چه ولیمه کښې دا ضروری نهٔ ده چه د علاقې ټول خلك به راغواړی، او د صحابه کرامو ﷺ د زندګئ سادګی معلومه شوه ځکه چه په دې وړه علاقه کښې ئې رسول الله ﷺ د ولیمې نه نهٔ دې خبر کړې۔ نو دا زمونږ د دې زمانې د ملګرو تکلفات دی چه د ولیمې دپاره خلك د لرې لرې علاقونه راغواړی او که څوك ورته د ضرورت په وجه رانشی بیا ګیلې او شکوې کوی۔
(۸) د [أَثَرَ صُفْرَةٍ] نه معلومه شوه چه په وادهٔ کښې عطرونه او خوشبویانې مړل مستحب دی، په دې سره د ښځې اوخاوند ترمینځه محبت زیاتیږی چه دا شرعًا مطلوبه خبره ده۔ بلکه هر وخت ښځې او خاوند دواړو له پکار دی چه یو بل ته خوشبوئی مړی۔ نبی کریم ﷺ به د خوشبوئی سره ډیره مینه کوله۔ هغه فرمائی: ((په دنیا کښې ماته درې شیان خوښ کړې شوی: ښځې، خوشبوئې او زما د سترګو یخوالې په مونځ کښې اچول شوې)) [حسن: أحمد: ١٤٠٣٧] والله اعلم۔

نبی ﷺ د ټولو نه لویه ولیمه د زینب ﷺ په نکاح کښې کړې وه

3211(2) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: مَا أَوْلَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى أَحَدٍ مِنْ نِسَائِهِ مَا أَوْلَمَ عَلٰى زَيْنَبَ، أَوْلَمَ بِشَاةٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه په هیڅ داسې ولیمه نهٔ ده کړې څنګه ولیمه ئې چه په زینب ﷺ کړې وه، ولیمه ئې په یو ګډ باندې وکړه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [مَا أَوْلَمَ عَلٰى زَيْنَبَ] یعنی په زینب بنت جحش ﷺ باندې ئې لویه ولیمه کړې وه، هغه دا چه یو ګډ ئې ذبح کړې وو، **سوال** : نبی علیه السلام په زینب باندې ولې غټه ولیمه وکړه؟ ۱- جواب : نبی علیه السلام پدې وخت کښې مالداره شوې وو، د ګډ

وس ئے لرلو۔ ۲- جواب : د زینب رضی الله عنها نکاح الله تعالیٰ په عرش کړے وه نو د تبرك او شکریه په طور ئے داسے وکړل۔ ابن بطالؒ وائی چه ددے مطلب دا نۀ وو چه بعض زنانه په بعضو غوره کړی بلکه دا اتفاقی طور سره شوی وو، چه مخکښے ئے د ګڼو وس نۀ کیدو او د زینب رضی الله عنها په وادۀ کښے ئے دا وس وشو، ورنه نبی علیه السلام به د ټولو بیبیانو په ولیمه کښے ګډان ذبح کړی وے۔ او بعض وائی چه پدے کښے د امت دپاره د جواز بیان دے۔ چه لویه ولیمه ورکول هم جائز دی، خپل وس ته به کتلے شی۔

کرمانیؒ وائی : کیدے شی چه زینب رضی الله عنها باندے ئے لویه ولیمه پدے وجه وکړه چه الله تعالیٰ پرے احسان وکړو چه په آسمان کښے ئے ددے نکاح وکړه۔ او وحی ئے پکښے نازله کړه۔ نو ددے شکریه ئے کوله۔

حافظ ابن حجرؒ وائی چه د انس رضی الله عنه دا قول چه په نورو بیبیانو ئے د زینب رضی الله عنها په شان ولیمه نۀ وه کړے، دا د هغۀ د علم مطابق خبره ده ورنه په میمونه رضی الله عنها باندے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کومه ولیمه کړے وه چه په عمرة القضاء کښے ئے مکے والو ته وویل چه زما ولیمے ته حاضر شئ لیکن هغوی انکار وکړو، هغه به د یو ګډ نه خامخا زیاته وه ځکه چه پدے پنځم کال کښے د خیبر په وجه الله تعالیٰ هغۀ ته فراخی ورکړے وه۔

ابن المنیرؒ وئیلی دی چه بعض زنانه په ولیمه کښے په بعضو باندے غوره کولو نه معلومیږی چه په نورو تحفو او مهربانیو کښے هم بعض په بعضو غوره کول جائز دی۔ والله اعلم۔ (فتح الباری ۵۳۱/۱۱، البحر المحیط : ۳۷۰/۲۵)

لیکن دے استدلال کښے څه نظر شته، ځکه چه پدے کښے خو زنانه ته څه ورکول نشته بلکه ولیمه خو کښے د نورو خلکو فائده او اکرام وی۔ آؤ د مهر زیادت، یا په اول د نکاح کښے بنځه څه شرط ولګوی نو د هغے پوره کول بیا صحیح دی۔

3212 (3) – وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ : أَوْلَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَنٰى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَأَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم د زینب بنت جحش رضی الله عنها سره د وادۀ شپے تیره ولو نه پس ولیمه وکړه نو خلك ئے په ډوډئ او غوښه ماړۀ کړل۔ (بخاریؒ)

تشریح : ۱- ددے نه معلومه شوه چه په ولیمه کښے پخلے بهتر دے۔ ۲- د خلکو

مرۀ ول جائز دی۔ ۳- غوښه خوړل جائز دی، نو پدې کښې رد دے په هغه صوفيه ؤ باندے چه خلك د غوښې د خوراك نه منع كوى چه دا خوش عيشى ده، او دے ته بزرگى وائى۔

د ښځې آزادی د هغې دپاره مهر گرزول جواز لرى

3213 (4) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ، وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا، **وَأَوْلَمَ عَلَيْهَا بِحَيْسٍ**. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او انس ﷺ نه روايت دے چه نبى ﷺ **صفيه** ﷺ آزاده كړه او د هغې آزادول ئے د هغې مهر مقرر كړو۔ او په هغې باندے ئے په حلوا سره وليمه وكړه۔ (بخارىؒ، مسلمؒ)۔

تشريح : [أَعْتَقَ صَفِيَّةَ] أم الْمُؤمِنِيْنَ صَفِيه بنت حُيَيِّ بن أَخطَب، د بنو نضيرو د سردار لور وه، او مورئے د بنو قريظه ؤ نه وه، د نبى كريم ﷺ نه مخكښې دا د سَلام بن مِشكم القرظى په نكاح كښې وه، هغه پرېښودہ او بيا كنانة بن الربيع النضيرى په نكاح واخسته، هغه ترے د خيبر په غزا كښې ووژل شو، او دا بى بى قيد كړے شوه او د دحية الكلبى ﷺ په برخه كښې ورسيده، نو يو سړے نبى كريم ﷺ ته راغے، عرض ئے وكړو: تاسو دحية الكلبى ﷺ له د بنو نضير او بنو قريظه ؤ د سردار لور وركړه، دا خو صرف تاسو سره مناسب ده، او دے خوب هم ليدلے وو چه زما په لمن كښې سپوږمئ راپريوته بيا ئے خاوند ته دا خوب وئيلے وو نو هغۀ په مخ باندے په څپيړه ووهله چه تۀ ددے نبى اراده لرے۔ نو نبى ﷺ هغه واخسته او د هغې په بدل كښې ئے دحيه ته بله وينځه وركړه۔ او نبى ﷺ هغې ته اسلام پيش كړو، هغې سمدست اسلام قبول كړو، نو نبى كريم ﷺ خپل ځان دپاره غوره كړه، بيا ئے آزاده كړه او د هغې آزادى ئے د هغې مهر وګرځاوۀ۔ دا بيان په بخارى او مسلم كښې راغلے۔ او دا بى بى ډيره بُردباره، هوښياره، زهد او عبادت والا، د نيكئ او صدقے والا او بهترينه ښځه وه۔ په (۵۰) هجرى كال په رمضان كښې وفات شوه۔ [الاستيعاب: ۱۳/٦۲، الاصابة : ۱۳/۱٤]۔

سوال : نبى عليه السلام په سفر كښې څنګه نكاح وكړه حال دا چه يو څو ورځې مخكښې په خيبر كښې د رسول الله ﷺ (۱۸) يا (۳۸) صحابه كرام ﷺ شهيدان شوى وو ؟۔

جواب : د صحابه كرامو ﷺ ايمان په آخرت زيات وو نو شهادت به ئے غم نۀ ګڼړلو، دا

به ئې وئیل چه هغوی د الله تعالیٰ رحمتونو او جنتونو ته ورسیدل، نو دوئ به په غمونو خپل ژوند نۀ خرابولو، په خلاف د زمونږ زمانې نه چه څوك ورکړه وفات شي یو کال پورې وادۀ نۀ کوی۔ ژوند ئې سخت کړے وی۔

[وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا] یعني د هغې آزادول ئې د هغې د مهر عوض وګرځولو، اګرکه دا مهر نۀ دے، لکه عرب وائي : اَلْجُوْعُ زَادُ مَنْ لَا زَادَ لَهٗ (لوږه د هغه چا توښه ده د چا چه بله توښه نۀ وی)۔ مګر صحیح دا ده چه دلته عتق د مال په حکم کښې دے۔ ځکه چه عتق معنیٰ ده چا ته منافع د آزادئ ورکول۔ او په مال او منافعو سره نکاح کیږی۔

[بِحَيْسٍ] حیس یو قسم حلواء ده چه د کهجورو، پنیر او غوړو نه جوړیږی۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه سړی دپاره جائز دی چه خپله مملوکه وینځه آزاده کړی او بیا ئې په نکاح واخلي، او د هغې آزادی د هغې مهر وګرځوی۔ علامه ابن حزمؒ فرمائي : څوك چه دے دپاره وینځه آزاده کړی چه په نکاح ئې اخلي او د هغې آزادی د هغې مهر ګرځوی چه ددے نه بغیر بل مهر ئې نۀ وی، نو دا صحیح مهر، صحیح نکاح او غوره سنت دے۔ [المحلی: ۹/۵۰۱]

(۲) مستحبه داده چه سړے خپله وینځه آزاده کړی او په نکاح ئې واخلي خاصکر کله چه هغه د ښائسته اخلاقو او ښائسته شکل اوصورت خاونده وی۔ دے دپاره چه پاکدامنه ئې کړی، او د بل چانه ئې بے پرواه کړی۔ لکه دیته امام مسلمؒ اشاره کړے، ځکه هغۀ ددے حدیث نه پس د ابو موسیٰ اشعری ﷛ حدیث ذکر کړے، چه رسول الله ﷺ فرمائي: ((هغه څوك چه خپله وینځه آزاده کړی او بیا ئې په نکاح واخلي، د هغۀ دوچنده اجر دے)) [بخاری: ۹۷، مسلم: ۲/۱٤۰۵]

(۳) او حدیث نه ثابته شوه چه مهر یواځې مال نۀ وی بلکه کله دیني یا دنیوی منفعت هم مهر کیدے شي۔ (٤) نبی کریم ﷺ په دے بی بی رحم او مهربانی وکړه، هغه دا چه ددے بی بی پلار د بنو قریظه په جنګ کښې ووژل شو، او خاوند ئې د خیبر په معرکه کښې قتل شو، او دا دواړه د خپل قوم سرداران وو، او خپله دا بی بی هم په قیدیانو کښې راغله، نو نبی ﷺ دے له په دریے طریقو سره اعزاز ورکړو۔ (أ) دائے د ځان دپاره غوره کړه۔ (ب) دا ئې آزاده کړه۔ (ج) دائے په نکاح واخسته او د امهات المؤمنین په صف کښې ئې راننه ایسته۔ ګویا کښې د جنت ټیکټ ورته ملاؤ شو۔

(۵) اختلافی مسئله ده چه عتق مهر گرځی او که نهٔ ؟ :

(۱) د جمهور او ابو حنیفهؒ مذهب او یو روایت د امام شافعیؒ دا دے چه عتق مهر نشی کیدے ځکه چه عتق مال نهٔ دے بلکه دا اِنشاء الملك دے، او قرآن کریم کښے (اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ) کښے مال راغلے دے، او د هغے په (فَكُلُوْهُ هَنِيْئًا مَرِيْئًا) سره خوراك راغلے دے او عتق خو نشی خوړلے کیدے۔ (۲) امام احمدؒ، بخاریؒ او یو روایت د امام شافعیؒ دا دے چه په عتق سره نکاح کیدے شی او مهر جوړیدے شی، او پدے کښے زیادت د خبر واحد دے په کتاب الله سره او دا جائز دے۔

دارنګه عتق مال هم دے ځکه چه دهٔ دا وینځه خرڅولے هم شوه نو ګویا کښے دهٔ ورله تول نفس خپل ورکړو۔ بعض شروحو او حواشیو والا ذکر کړی چه دا د نبی ﷺ د خصوصیاتو نه وو۔ **جواب** : نبی ﷺ د امت سره په احکامو کښے شریك دے، بلکه هغه خو د امت مُقتدیٰ دے، نبی ﷺ چه کوم عمل کړے وی امت دپاره په هغے عمل پکار دے، سویٰ د هغے نه چه د خصوصیت دلیل راشی۔

دارنګه د انس بن مالك ﷺ ددے حدیث بیانولو نه مقصد هم دا دے چه د اُمت دپاره داسے کار جائز دے۔ والله تعالیٰ اعلم۔

د صفیه رضی الله عنها د ولیمے ذکر

3214 (5) - وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: أَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِيْنَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ يُبْنٰى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِيْنَ إِلٰى وَلِيْمَتِهٖ وَمَا كَانَ فِيْهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا لَحْمٍ وَمَا كَانَ فِيْهَا إِلَّا أَنْ أَمَرَ بِالْأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ فَأُلْقِيَ عَلَيْهَا التَّمْرُ وَالْأَقِطُ وَالسَّمْنُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : انس ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ د خیبر او مدینے ترمینځه درے شپے دیره وو چه په هغهٔ باندے د صفیئے سره د وادهٔ په وجه کوډیٔ وهلے شوه (یا په دے ځائے کښے هغویٔ د صفیئے سره د وادهٔ شپے تیرولے) نو ما مسلمانان د هغهٔ ولیمے ته راوبلل، نو په دغه خوراکه کښے نهٔ ډوډیٔ وه او نهٔ غوښه، په هغے کښے بل څهٔ نهٔ وو سویٰ ددے نه چه هغویٔ د چتهایانو (یا دسترخوانونو) خورولو حکم وکړو نو هغه خوارهٔ کړے شول او په هغے باندے چُوارے، قُرط او غوړی کیښودل شو۔ (بخاریؒ)

تشریح : [بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِيْنَةِ] یعنی په داسے ځائے کښے چه هغے ته ((صهباء)) وئیل

کیـړی، د خیبـر نه جنوب طرفته دولس میله لرې علاقه ده۔ [ثَلَاثَ لَيَالٍ]۔ یعنی د خیبر نـه راستـون شـو او مـدینـې ته نهٔ وو رسیدلی په لاره کښې ئې درې شپې تیرې کړې او پدې کښې ئې وادهٔ وکړو۔ [يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ] بـنـاء وادهٔ تـه وائی، او په اصل کښې د خیمې وهل دی، او د عـربـو عـادت دا وو چه کله به یو سړی وادهٔ وکړو نو په هغې به ئې خیمه ووهله او هغې ته به ورننواتهٔ۔ نو د [يُبْنَى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ] مـعنی داده : په هغهٔ باندې به صفیئې سره د وادهٔ کـولـو په وجه کوډئ وهلې شوه۔ او حاصل معنیٰ ئې دا ده : هـغـهٔ ته صفیه رضی الله عـنـها وادهٔ کولې شوه۔ [الْأَنْطَاعِ] د نِطَـع جمع ده، د نون په زور او زیر دواړو سره، دارنګه د طـاء پـه سـکـون او زور دواړه سره، دا هغه چټائی او دسترخوان ته وائی چه د رنګ شوو څرمنو نه جوړ شوې وی۔ [الْأَقِطُ] قُرط۔ اودا درې واړه شیان (کهجورې، قُرط او غوړی) چه ګډوډ کړې شی نو دیته حیس (حلویٰ) وائی۔

فوائد : (۱)- [ثَلَاثَ لَيَالٍ]۔ نـه معلومه شوه کُنده چه وادهٔ کړې شی نو د هغې سره به درې شپې تیـره وی بـرابـره ده چـه حضر وی او که سفر۔ او دا ضروری سنت دے پدې وجه نبی علیه السلام ورتـه تـول فـوج ایسـار کـړو دے دپاره چـه خلکو ته ددې خبرې علم وشی۔(ابن بـطـالؒ) (۲)- د وادهٔ د ولیـمـې اهـمیت او تاکید معلوم شو چه دا مضبوط سنت دی تردې چـه سـفـر کښې ئې هم نهٔ ده پریخې۔ حالانکه په سفر کښې د انسان سره هغه توښه نهٔ وی څـرنـګـه چه په حضر کښې وی، او پدې کښې ډیرې فائدې وی لکه د الله تـعالیٰ په نعمت شـکـر وی، د نـکـاح اعـلان وی، د فـقیـرانـو او مسـکینانو مړول وی، او د خپلو خپلوانو، یارانو او دوستانو سره مینه محبت پالل وی۔

(۳)- او مـعـلـومـه شـوه چـه نـبی کریم ﷺ به د وادهٔ په ولیمه کښې د تکلف نه کار نهٔ اخستـهٔ بـلـکـه څهٔ چـه بـه تیار وو هغه به ئې په دسترخوان ایښودل، نو کله به ډوډئ او غـوښـه وه لکه د زینب رضی الله عنها پـه وادهٔ کښې۔ او کـلـه نبـی ﷺ د وُریشو په ډوډئ او کله په غوړو، کهجورو او پنیر سره ولیمه کړې یعنی حلویٰ ئې خلکو له پخ کړې وه۔

(٤) او معلومه شوه چه په ولیمه کښې د تولو رشته دارو شرکت ضروری نهٔ دے۔

(٥) ولیمه د وادهٔ والا د طرف نه بل څوك هم کولې شی۔

(٤)- د نکاح اعلان سنت عمل دے۔ (٦) او مـعلومه شوه چه په ولیمه کښې مختلف قِسم خـوراکـونـه راجمع کـول جائـز دی۔ خو نن صبا خلك په ولیمه کښې اسرافونه او

فضول خرچي کوي، د فخر دپاره شادي هالونه په کرايه نيسي او دومره خوراکونه پخوي چه هغه بيا ضائع کيږي او غورزولے شي. مسلمانو له پکار دي چه ددے قِسم فضول خرچيانو نه ځان وساتي، او د ګُذارے نه کار واخلي او ددے په ځائے دا پيسے د خير او ښيګړے په ځايونو کښے خرچ کړي.

(۷)- دسترخوان د هر طعام دپاره سنت عمل دے، اګرکه اُوچ خوراك وي لکه کهجورے.

(۸)- د وادهٔ والا خپلوانو او ملګرو له پکار دي چه د هغهٔ سره مدد وکړي اګرکه د هغوي کارونه په هغے سره خراب شي لکه دلته صحابه کرام ﷺ خپل سفر کښے د نبي الطّيْلا دپاره ايسار شوي دي.

(۹)- امير او بادشاه خپل لښکر د خپل ذاتي مصلحت او فائدے دپاره درے ورځو پورے ايسارولے شي ځکه چه درے ورځے سفر موده ده او زيات ايسارولو کښے د ګناه او ظلم يره ده. (ابن بطالؒ والحافظ مع زيادة)

د ام سلمه رضى الله عنها وليمه

3215 (6) - وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ قَالَتْ: أَوْلَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَعْضِ نِسَائِهِ بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيرٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : د صفيه بنت شيبه ﷺ نه روايت دے فرمائي : نبي کريم ﷺ په خپلو بعض بيبيانو باندے په دوه مده وربشو سره وليمه وکړه. (بخاريؒ)

تعارف د صفية بنت شيبة ﷺ: صفيه بنت شيبه بن عثمان بن ابي طلحه حَجَبی. د بنو عبد الدار قبيلے نه ده. ځينے وائي نبي ﷺ ئے ليدلے وو، او ځينے وائي چه ليدل ئے ثابت نهٔ دي. خو صحيح خبره داده چه صفيه ﷺ صحابيه ده. حافظ ابن حجرؒ په تهذيب التهذيب او تقريب التهذيب دواړو کښے ددے تصريح کړے، دارنګه دا ئے هم وئيلي دي چه امام بخاريؒ په صحيح بخاري کښے د صفيه بنت شيبه ﷺ د سَماع تصريح کړے. کوم اهلِ علمو چه ديته تابعيه ويلي، دا د هغوئ سهو ده.

تشريح : [بَعْضِ نِسَائِهِ] ددے نه مراد ام سلمه ﷺ دے. او دا حديث دليل دے چه د وليمے دپاره څه خاص مقدار نشته بلکه د وادهٔ کونکي د وس او طاقت پورے تعلق لري.

[بِمُدَّيْنِ] د مُد تثنيه ده، د معتدل سړي خوره ډکه لپه. چه دا يو کيلو او تقريباً دوه سوه

ګرامه دی او څلور مده یو صاع دی، او د هغې اندازه پاؤ باندې دوه کیلو یا لږ کم ده.

د ولیمې دعوت قبلول ضروري دي

3216 (7) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" **إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْوَلِيْمَةِ فَلْيَأْتِهَا** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ : **فَلْيُجِبْ عُرْسًا كَانَ أَوْ نَحْوَهُ .**

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷜ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ وفرمایل : هرکله چه یو تن ستاسو ولیمې ته رادعوت کړې شي نو هغې ته دِې راشي. (بخاريؒ ومسلمؒ) او په روایت د مسلم کښې دي : دعوت دِې قبول کړي برابره ده د وادهٔ دعوت وي یا دا قسم بل دعوت وي.

تشریح :

فوائد او مسائل : (۱) د دواړو حدیثونو نه ثابته شوه چه مسلمان له پکار دي چه دعوت قبول کړي او د هغې نه پاتې نشي، برابره خبره ده که د ولیمې دعوت وي اوکه په بل مناسبت سره وي، ځکه په دعوت قبلولو کښې د مسلمان زړهٔ خوشحالول دي، دارنګه په دعوتونو کښې یو د بل سره تعارف، مینه محبت، خپلولي او رشته داري پالل کیږي او یو بل ته د نصیحت او خیر خواهئ کولو موقع ملاویږي چه دا د ایمان والو دعوتونه وي. (۲) **مسئله** : **د ولیمې دعوت قبلولو څه حکم دې** ؟ دوه قوله دي :

(۱) د وادهٔ د ((ولیمې)) دعوت قبلول د جمهورو علماؤ په نیز واجب دي، او وجوب د دوه ځایونو نه اخستل کیږي : (أ) یو خو په دې امر راغلې (فَلْيُجِبْ) چه تقاضا د وجوب کوي. (ب) دویم: په دعوت نهٔ قبلونکي باندې د ګنهګاریدو حکم لګیدلې، لکه په روایت د مسلم کښې دي : [وَمَنْ لَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ]

(چا چه دعوت قبول نکړو نو دهٔ د الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول نافرماني وکړه) او داسې حکم صرف د واجب په پرېښودو سره لګیږي.

(۲) **قول** : د بعضِ شوافعو او حنابلو قول دادې چه د ولیمې دعوت قبلول مستحب دي، واجب نهٔ دي. او په دوئ کښې بعضو ویلي چه دا فرض کفائي دي، که ځینې خلکو قبول کړو نو د ټولو له طرفه کفایت کوي ځکه مقصد د نکاح اظهار دې او دا د بعضو

خلکو په حضور سره هم حاضلیږي.

راجح قول اولنۍ دے ځکه ددے دلائل قوي دي، ولې چه هغه صحیح او صریح دلائل دي چه په وجوب دلالت کوي. [نیل الأوطار: ٦/٢٠٢]

(۳) مسئله : د ولیمے نه سوئ د نورو دعوتونو څه حکم دے ؟ د ولیمے نه سوئ باقي دعوتونه قبلول لکه د عقیقے دعوت یا سفر نه راتلو یا بل یو عام دعوت قبلولو په باره کښے دوه قوله دي : (**اول قول**) دادے چه : ددے قبلول مستحب دي. او دا د جمهورو قول دے. دلیل ئے دادے : (أ) چه عثمان بن ابي العاص ﷛ د ختنې (سنتګرئ) دعوت ته راوبلل شو نو هغهٔ انکار وکړو، چا ترے وجه وپوښتله نو وے فرمایل: ((مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښے د سنتګرئ دعوت ته نهٔ تللو او نهٔ به رابلل کیدلو)) [فَأَبَی أَنْ يَأْكُلَ] [أحمد: ٢٩/٤٣٦، وفیه عنعنة ابن اسحاق وفي إسناد الطبراني الکبیر: ابو حمزة اسحاق بن الربیع وهو حسن الحدیث وبقیة رجاله موثقون (الطبراني في الکبیر: ٧/٤٤٢ رقم: ٨٣٠]

(ب) د ابن عمر ﷛ دا حدیث دے، نبي ﷺ فرمائي: [إِذَا دُعِیَ أَحَدُكُمْ إِلَی الْوَلِیمَةِ فَلْیُجِبْ] نو دلته د ولیمے دعوت قبلولو د امر تخصیص په دے باندے دلالت کوي چه ددے نه سوئ بل دعوت قبلول واجب نهٔ دي.

(ج) انس ﷛ فرمائي : د رسول الله ﷺ یو فارسي ګاونډی وو، هغهٔ به ډیره مزیداره ښوروا پخوله، نو هغهٔ د رسول الله ﷺ دپاره خوراك تیار کړو او دعوت ئے ورته ورکړو، نبي ﷺ وفرمایل: دا (عائشه ﷝) هم درشي؟ هغهٔ وویل: نه. نو رسول الله ﷺ وفرمایل: زهٔ هم نهٔ درځم. هغهٔ ورته بیا دعوت وکړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا به هم راسره وي؟، هغهٔ وویل: نه. رسول الله ﷺ وفرمایل: نهٔ درځم. هغهٔ بیا دعوت وکړو، رسول الله ﷺ په دریم ځل ورته وفرمایل: دا به هم درځي. هغهٔ وویل : هو! نو دواړه پاسیدل او د هغهٔ کور ته لاړل)) [مسلم: ٢٠٣٧]

دے حدیث نه معلومیږي چه د ولیمے نه علاوه دعوت قبلول صرف مستحب دي او لازم نهٔ دي. (**دویم قول**) دادے : چه هر قِسم ((دعوت)) قبلول واجب دي، ولیمه وي اوکه بل دعوت. او دا د عبد الله بن عمر ﷛، بعضِ تابعینوؒ، اهلِ ظاهرؒ او بعضِ شوافعوؒ قول دے. او **دلائل** ئے دادي : (أ) ددے حدیث الباب روایت د مسلم دے، چه په دے کښے دا راغلي چه ((دعوت دے قبول کړي، برابره خبره ده که هغه د وادهٔ دعوت وي اوکه بل

شے)) نو دا مطلق نص دے، دواړو دعوتونو ته شامل دے۔
(ب) او حديث كښې دي : [وَمَنْ لَّمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى ......] كښې الف لام د استغراق دپاره دي، هر قِسم دعوت ته شامل دي، او په روايت د بخاري او مسلم كښې دي : [وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى......]۔ (چا چه دعوت پريخودو نو هغهٔ د الله او د رسول مخالفت وكړو)۔ او همدا ظاهره ده۔
(ج) ابن عمر رضي الله عنه په حديث كښې دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: [أَجِيْبُوا هٰذِهِ الدَّعْوَةَ إِذَا دُعِيْتُمْ لَهَا] (كله چه تاسو دے دعوت ته راوبلل شئ نو قبلوئ ئے) نافعؒ فرمائي: ابن عمر رضي الله عنه به د وادهٔ اوغير وادهٔ دواړو دعوتونه قبلول او هغه به روژه دار وو۔ [بخاري: ۵۱۷۹، مسلم: ۱٤۲۹] دے نه معلومه شوه چه ابن عمر رضي الله عنه هم ددے دعوت نه عموم فهم كړے۔
(د) د يو مسلمان په بل مسلمان شپږ حقونه دي، په هغے كښې يو دادے : [وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ] (كه دعوت دركړي نو قبلوے به ئے)۔ [بخاري: ۱۲٤۰، مسلم: ۲۱٦۲]
همدا **قول راجح** دے، ځكه ددے دلائل قوي دي او ددے راوي په همدے طريقه په دے عمل كړے۔ نو ځوك چه وجوب د وادهٔ د وليمے پورے خاص كوي هغهٔ سره قوي دليل نشته۔ او د استحباب د قائلينو دلائل ددے دلائلو سره مقاومت نشي كولے، نهٔ په صحت كښې او نهٔ د دلالت په قوت كښې۔ ځكه د عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه په حديث كښې مقال دے، ځكه ددهٔ نه د حسن بصريؒ په سماع كښې اختلاف دے۔ [احمد : ۲۰۷/۲٦]
يا د ختنے دعوت مكروه دے ځكه چه د نبي صلى الله عليه وسلم نه ئے نقل نشته پدے وجه عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه بد ګڼړلے دے۔
او د ابن عمر رضي الله عنه په حديث كښې چه دُ وليمے د دعوت تخصيص راغلے، نو په دے كښې د عام دعوت يو فرد ذكر شوے، او دا د تخصيص تقاضا نهٔ كوي۔ او د انس رضي الله عنه په حديث كښې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د فارسي د دعوت نه منع شوے نو دا د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په شرط برابر نهٔ وو چه هغه د عائشے رضي الله عنها حضور دے، او كله چه هغهٔ ددے شرط سره موافقت وكړو، نو نبي صلى الله عليه وسلم دعوت قبول كړو۔ بلكه د هغے نه معلوميږي چه د سړي په حضور كښې د اول نه دعوت رد كول جائز دي، ليكن كله چه غائبانه دعوت راوليږي يا تا منظور كړے وي بيا بغير د عذر نه نهٔ ورځے نو صحيح نهٔ ده۔
(٤) **مسئله** : د وليمے وغيره دعوت اجابت هله ضروري دے چه هلته مانع نهٔ وي او د

مانع نه مراد جنس منکر دے، یعني که یو قسم منکر تا ته په نظر راغلو نو بیا د هغه دعوت قبلول نشته او د هغه منکراتو تفصیل په احادیثو کښې راغلے دے چه ګویا کښې دا شرطونه د دعوت قبلولو دي، او دلته هم په یو څو حدیثونو کښې ذکر کیږي او څه د صحابه کرامو ﷺ د اعمالو نه معلومیږي : لکه هغه شرطونه او موانع دا دي :

(۱) **شرط** : [بِئْسَ الطَّعَامُ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعٰى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ] په کومه ولیمه کښې چه غریبانان شړل کیدل او مالداران رابلل کیدل نو ددے دعوت قبلول ضروري نهٔ دي۔ (۲) **شرط**: د وادهٔ په ځائے کښې دیوالونو ته بے ځائے پردے وهلے شوي وي بغیر د ضرورت نه لکه نبي ﷺ د هغه دعوت نه واپس شوے چه هلته کښې داسے پردے وي البته که لرے کړے شي بیا ورتلل جائز دي۔ لکه روستو راځي۔

او ابن عمر ﷺ ابو ایوب انصاري ﷺ ته دعوت وکړو نو هغه چه راغلو په دیوال ئے پرده ولیده، وے فرمایل دا څه دي؟ ابن عمر ﷺ وویل : ښځے په مونږ غالبه شوي، هغوي دا کار کړے، وے فرمایل : که په بل چا یریږم نو په تا باندے خو نهٔ یریږم (چه په تا به خلک داسے کار وکړي) بیا ئے وفرمایل : قسم په الله ستاسو طعام به اونهٔ خکم۔ نو واپس لاړو۔ (بخاري- البحر المحیط الثجاج)

(۳) **شرط**: طعام الفاسقین : د فاسقانو دعوت د اجابت نه منع راغلے مګر کله چه فائده پرے مرتبه وي لکه دیني دعوت پکښے کولے شے۔ او طعام حلال وي۔

(٤) **شرط**: کوم طعام چه د فخر او ریاء په طریقه تیار شوے وي لکه د مقابلے دپاره ئے پوخ کړے وي، لکه کنز العمال کښے یو روایت دے چه عمر فاروق او عثمان رضي الله عنهما یو دعوت ته لاړل بیا عمر فاروق ﷺ وویل چه زما په زړهٔ کښے راغلل چه دے طعام ته نهٔ وے راغلي نو ښه به وه ځکه چه دا طعام ئے د فخر په طریقه تیار کړے۔ لکه روستو د طعام المتباریین نه نهي راځي۔

(۵) **شرط**: هلته به تصاویر او کیمرے نهٔ وي او داسے تهنګ تکور به نهٔ وي چه شریعت منع کړے وي یا شراب څکلے کیږي۔

(٦) **شرط**: د مدعو دپاره به عذر نهٔ وي، لکه مرض یا باران یا په خپل ځان یا اهل یا مال باندے خطره وغیره۔ ځکه د شریعت تمام واجبات په عذر سره ساقطیږي، ځکه دا قاعده ده چه : [لَاوَاجِبَ مَعَ الْعُذْرِ] (د عذر باوجود یو شے نهٔ واجب کیږي)۔ بعضِ اهلِ

علم وائي : دا هم عذر دے چه مدعوّ داعي ته خپل عذر پيش كړي او داعي ئے قبول كړي نو په دے سره وجوب ساقطيږي۔
(۷) دعوت كونكے به مسلمان وي، نو د كافر دعوت قبلول واجب نهٔ دي۔
(۸) **شرط** : داعي به نيك عمله مسلمان وي۔ كه چرے ښكاره گناه كونكے وي نو بيا به گورو، كه چرے ددهٔ په پريښودو او دعوت نهٔ قبلولو كښے مصلحت او ښيگړه وه نو دعوت قبلول ئے واجب نهٔ دي۔ اوكه پريښودو كښے ئے مصلحت نهٔ وو نو بيا به نشي پريښودلے ځكه اصل داده چه ددهٔ پريښودل د اسلام په وجه حرام دي۔
(۹) مال به حلال وي، د سود خور، او سودي بينك كښے كاركونكي دعوت به نهٔ وي، كه دا وي نو بيا اجابت نشته او خوراك هم نشته۔ فقه حنفي كښے دي چه كشران ورله تلے شي او مشران به نهٔ ځي ځكه چه پدے كښے د دين سپكاوے دے او د گناه دروازه مسلمانانو ته كولاوول دي۔ او يوه ورځ امام ابوحنيفهؒ يو دعوت ته لاړو چه هلته كښے منكرات وو بيا ئے اراده وكړه چه پاڅيږي ليكن دا ورته ښه ښكاره نشوه۔ (هدايه ورد المحتار۲۶/۳۲۹) ليكن هر مسلمان له د داسے خوراكونو نه ځان ساتل پكار دي ځكه چه پدے سره ايمان خرابيږي او د مؤمن په زړهٔ كښے بے نوري او سختي پيدا كيږي۔
(۱۰) **شرط** : دوه كسانو كښے د اول دعوت به قبلولے شي۔ نو اول د دويم دپاره مانع شو۔ كه دواړه په يو ځائے راغلل نو بيا چه كوم رشته كښے زيات نزدے وي۔ بيا چه د چا كور زيات نزدے وي۔ او بعض علماؤ برعكس وئيلي دي چه اول د گاونډي بيا د لرے خپلوان۔
(۱۱) **شرط** : دعوت به په اولني ځل باندے وي۔ ځكه كه څوك چاته دوه يا درے ورځے دعوت وكړي مثلًا درے ورځے وليمه وركوي او په درے واړو ځلو دهٔ ته دعوت شوے وي نو بيا په اول ځل دعوت قبلولو نه پس وجوب ختميږي۔
(۱۲) **شرط** : كه يواځے زنانه دعوت وكړو چه كور كښے څوك نهٔ وو هم نهٔ به ورځي، ځكه چه د فتنے يره ده۔ (۱۳) **شرط**: كه چرته ددهٔ نه يو ديني كار فوت كيدو لكه جماعت وغيره نو بيا هم اجابت ضروري نهٔ دے، لكه په بعض علاقو كښے نيمه شپه دعوت وي، بلكه د نيمے شپے نه هم اخوا وي (لكه سعودي وغيره كښے) چه د سهار مانځهٔ د خرابيدو خطره وي نو دا هم عذر دے۔

(۱٤) **شرط**: دۀ به مدعو ته خصوصي دعوت کړے وي، مثلًا : هغۀ سره به ئے خبره کړے وي او یا به ئے ورته استازے لیږلے وي، په دے شان چه که دا حاضر نشي نو داعي به په حاضرینو کښے ددۀ پوښتنه کوي اوْ چه نۀ وي راغلے نو هغه خفه کیږي. اوکه چرے دعوت عام وو، مثلًا : ځوك چاته ووائي : چاسره چه تۀ ملاؤ شوے هغۀ ته دعوت ورکړه چه په دے کښے ددۀ غرض څۀ خاص خلك نۀ وي، نو په دے صورت کښے دا دعوت قبلول واجب نۀ دي، ځکه په دے صورت کښے که مدعو دعوت قبول نۀ کړي نو داعي نۀ خفه کیږي ځکه داعي مدعوّ د سره پیژندلے هم نۀ دے، او د هغۀ د نۀ راتللو په صورت کښے د هغۀ پوښتنه هم نۀ کوي. البته که مدعو رشته دار یا ملګرے وو او هغۀ ته معلومه وه چه که زۀ ورنشم نو داعي خفه کیږي، اویا ورته پته وه چه که ورشم نو داعي ددۀ په راتلو خوشحالیږي، نو پکار ده چه دعوت قبول کړي. د زینب ﷺ د وادۀ په قیصه کښے دي، انس ﷺ ته نبي ﷺ وفرمایل : ((ما ته دا دا سړي راوغواړه، او چاسره چه تۀ مخامخ شوے هغه هم راوغواړه)) [بخاري: ٥١٦٣]

ولي الدین العراقيؒ ددے دپاره شل شرطونه ذکر کړي چه بعض ډیر بعید اوبے دلیله دي، او اکثر پکښے ددے مذکوره شرائطو نه جدا دي، وانظر البحر المحیط الثجاج : ۲۵/٤۰۰) او هغه شرطونه دا دي : (۱) د داعي د یرے په وجه به نۀ وي حاضر شوے یا د هغۀ د جاه په طمعه وي، یا د هغۀ په باطل کښے تعاون دپاره حاضر شوے وي. (۲) هلته به هغه څوك نۀ وي چه دۀ ته د هغے په حاضریدو کښے ضرر ملاویږي او د هغۀ سره ددۀ ناسته لائقه نۀ وي، که داسے وه نو دے معذور دے، (۳) هغه چا به دعوت نۀ وي کړے چه د هغۀ اکثر مال حرام وي، نو د چا چه اکثر مال حرام وي د هغۀ اجابت هم واجب نۀ دے. (٤) مدعو به قاضي نۀ وي، البته که دعوت د ولیمے وي نو بیا ورله اجابت پکار دے، یا که عمومي دعوت وي نو اجابت کولے شي. (٥) مدعو به آزاد وي، که غلام ته دعوت ورکړي نو د هغۀ اجابت لازم نۀ دے، البته که سید ورته اجازت ورکړي بیا به اجابت لازم وي، (٦) هلته به ډیره ګڼړه نۀ وي، که داسے ګڼړه ګونړه وه چه دۀ ته پرے ضرر رسیدو نو بیا هم اجابت ضروري نۀ دے. (۷) په هغه دعوت کښے به دروازے بندے نۀ وي ځکه چه دۀ ته په دروازه کښے وردیدو سره ذلت رسیږي. (۸) داعي به هغه څوك نۀ وي چه د هغۀ هجران جائز وي، یعنې د هغۀ سره د مسلمانانو خبرے اترے بندے وي، ځکه چه په

وليمه حاضريدو کښې د هغهٔ سره مينه محبت پيدا کيدل دي او هغه ددې لائق نهٔ وي.

[طرح التثريب: ٧/٧٧]

3217 (8) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ إِلٰى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ وَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ**". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هرکله چه يو تن ستاسو (د وليمې يا بل دعوت) طعام ته دعوت کړې شي نو هغه دِې قبول کړي (يعنې دعوت ته دِې لاړ شي) بيا که غواړي خوراك دِې وکړي او که غواړي خوراك دِې پريدي. (مسلمؒ)

تشريح :[فَلْيُجِبْ] دا دليل دې چه طعام که د وليمې وي او که د بل جائز کار نو اجابت ضروري دې، خوراك ضروري نهٔ دې، ځکه چه دعوت ديته وائي چه د هغهٔ کور ته لاړ شې او د هغهٔ سره د محبت اظهار وکړې، د هغهٔ دلجوئي وکړې شي، البته د کور والا نه به اجازت اخلې چه زهٔ خوراك پدې وجه نهٔ کوم چه زهٔ روژه يم يا بل عذر، که هغه اجازت ورکړو صحيح ده او که هغهٔ اجازت ورنکړو نو دعوتِ وليمه به قبلوي او نفلي روژه به ورته ماتوي، بيا به ئې قضاء راوړي که خوښه ئې شوه. او بل روايت د مسلم کښې دي: چه که خوراك نهٔ کوي، روژه وي نو بيا به کور والو ته دعا وکړي. (پس د اجازت د هغهٔ نه). او په روايت د ابن ماجه کښې دې حديث کښې داسې الفاظ دي: [مَنْ دُعِيَ اِلٰى طَعَامٍ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيُجِبْ ......]. څوك چه يو طعام ته رادعوت شو او هغه روژه وو بيا به هم اجابت کوي. خوراك دِې نکوي. او دا حديث دليل دې چه نفلي روژه دار د دعوت د خاطره روژه هم ماتولې شي.

په وليمه کښې صرف مالداران راغوښتل انتهائي بد او بې برکتي ده

3218 (9) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعٰى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُولَهُ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : ناکاره د طعام نه د وليمې طعام دې چه هغې ته مالداره (بې حاجته خلك) رابللې شي او فقراء پريخودلې شي او چا چه دعوت (قبلول) پريخودل نو هغهٔ د الله تعالىٰ او د هغهٔ د رسول نافرماني وکړه.

(بخاريّ ومسلمؒ)

تشريح : [شَرُّ الطَّعَامِ] يعني په هغه طعامونو كښې چه حلال دي او د مسلمان وي نو په هغې كښې شر طعام د هغه وليمې دې چه هغې ته صرف مالداره راغوښتے كيږي. دا ځكه وايو چه شر طعام خو د ربا (سود) دې، نو دلته نِسبِي شر مراد دې. او بيضاويؒ وئيلي دي چه دلته (مِنْ) مقدر دې، يعني بعض د شر طعامونو نه يو دا طعام دې. او ددې شر نه مراد دا دې چه دا كار مكروه دې او د ثواب نه د محروميدو يا د ثواب د كميدو ذريعه ده، او دا مطلب نۀ دې چه ګنې داسې وليمې اجابت به نشي كولے.

بلكه ددې مثال داسې دې لكه حديث كښې دي : [شَرُّ صُفُوْفِ الرِّجَالِ آخِرُهَا] (په مانځه كښې) د سړو آخرى صفونه شر والا دي. [مسلم : ۱۰۲۳] نو دلته هم د شر نه مراد دا چه ثواب ئې كم دې.

[يُدْعٰى لَهَا] دا جمله حال مقيّده دې، مطلب دا دې چه هغه طعام د وليمې شر او ناكاره دې چه په داسې حال كښې وي چه هغې ته مالداره رابللے شي او غريبان پريخودے شي. او پدې كښې د رسول الله ﷺ اخبار بالغيب دې، پيشنګوئي ئې كړې د روستو زمانې دپاره چه خلك به داسې كار كوي چه مالداره او قولو او شملو والا به راغواړي او مسكينان ديندراه خلك به پريدي. وليمه به هم د مخ ملازې دپاره وي. په بل روايت كښې دي :[يُمْنَعُهَا مَنْ يَّأْتِيْهَا وَيُدْعٰى اِلَيْهَا مَنْ يَّأْبَاهَا] (دې نه هغه څوك منع كولے شي چه څوك ورته راتلل غواړي (او دې ته محتاج وي) او هغه څوك ورته رابللے شي چه څوك ترې انكار كوي (موړ وي، په خيټه ئې سپړه مرى) ضرورت ئې نۀ وي.

بيا **اختلاف** دې چه د داسې وليمې اِجابت به كولے شي او كه نه ؟ (۱) ابن مسعود ﷺ فرمائي : د داسې طعام اجابت نشته. او داسې قول د يحيى بن حبيبؒ هم دې.

(۲) د ابو هريره ﷺ د كلام نه معلوميږي چه اجابت واجب دې، (اګركه د سړي ثواب نۀ كيږي ليكن تا لره د هغې اجابت پكار دې) عبد الله بن عمر ﷺ په يوه وليمه كښې مالداره او غريبان دواړه راوغوښتل بيا ئې فقيران جدا كينول او دا ئې ورته ووېل چه تاسو دلته جدا كيني ئ دې دپاره چه د مالدارو كپړې خرابې نۀ كړئ مونږ به درته د هغوى په شان طعام دركوو. نو پدې حديث كښې تيزي وركول دي چه فقيرانو ته په وليمه كښې دعوت وركوئ، يواځې مالدارو ته دعوت مۀ كوئ. (المفهم : ۴/۱۵۵-۱۵۶)

غیر مدعو شخص باندے خوراك کول دکوربه په اجازت باندے موقوف دی

3219 (10) - وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ ﷺ قَالَ : كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ يُكْنٰى أَبَا شُعَيْبٍ كَانَ لَهٗ غُلَامٌ لَحَّامٌ فَقَالَ: اِصْنَعْ لِيْ طَعَامًا يَكْفِيْ خَمْسَةً لَعَلِّيْ أَدْعُوْ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَامِسَ خَمْسَةٍ فَصَنَعَ لَهٗ طُعَيِّمًا ثُمَّ أَتَاهُ فَدَعَاهُ فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"**يَا أَبَا شُعَيْبٍ إِنَّ رَجُلًا تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَذِنْتَ لَهٗ وَإِنْ شِئْتَ تَرَكْتَهٗ** ". قَالَ : لَا بَلْ أَذِنْتُ لَهٗ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو مسعود انصاری ﷺ فرمائی : یو سړے د انصارو نه چه د هغهٔ کنیه ابو شعیب وه، د هغهٔ یو غلام غوښه خرڅونکے وو، نو دهٔ ورته وویل : ما له طعام تیار کړه چه پنځه کسانو له کافی کیږی شاید چه زهٔ نبی کریم ﷺ ته دعوت ورکړم چه هغه به د پنځه کسانو نه یو تن وی، (یعنی یو به نبی کریم ﷺ وی او څلور به د هغهٔ سره ملګری وی) نو هغه غلام هغهٔ دپاره لږ شان طعام تیار کړو بیا هغه (ابوشعیب) نبی کریم ﷺ خوا ته راغلو او هغهٔ ته ئے دعوت ورکړو نو د دوئ پسے یو سړے روان شو نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : اے ابو شعیب ! یو سړے مونږ پسے روان شوے که تهٔ غواړے (د خوراك) اجازت ورته وکړه او که غواړے هغه (په دروازه کښے) پریږده. هغهٔ وویل : نه، بلکه ما هغهٔ ته اجازه ورکړه. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [لَحَّامٌ]. غوښه خرڅونکے. [خَامِسَ خَمْسَةٍ] دا منصوب دے، د النبی نه حال دے، یعنی په داسے حال کښے نبی راغواړم چه د پنځو کسانو نه یو تن وی. یعنی ددهٔ سره پنځه کسان وی. نو ټول پنځه کسان مراد دی.

فوائد : (۱) ددے نه معلومیږی چه خلیفه به د رعیت دعوت قبلوی. (۲) [طُعَيِّمًا]. تصغیر د طعام دے. یعنی لږ شان طِعام. ددے نه معلومیږی چه یو د طعام اباحت دے او بل تملیك، نو د اباحت په صورت کښے کور ته د طعام وړل جائز نهٔ دی، صرف په دسترخوان به ئے خوری. او په صورت د تملیك کښے ځان سره وړل جائزدی. (۳) او ددے نه دا خبره هم معلومه ده چه په کومه پینډه او دسترخوان باندے خلك ناست وی نو هغوی خپل مینځ کښے یو بل ته طعام ورکولے شی خو بل چا ته به ئے بغیر د اجازت د مالك نه نهٔ ورکوی ځکه چه دلته دوئ دپاره صرف اباحت دے، نهٔ تملیك. (قاله

البخاریؒ)

(٤) او معلومه شوه چه چا ته دعوت نۀ وی ورکړے شوے او یوے ولیمے ته تا سره حاضر شی نو د هغۀ دپاره اجازت غوښتل پکار دی، او که هغۀ ته اجازت ملاؤ نشی یا اجازت ونۀ غوښتے شی نو هغه سړی دپاره ددے خوراك حرام دے۔

(٥) د رسول الله ﷺ خوش اخلاقی ثابته شوه چه یو تن ورپسے روان شو نو هغۀ منع نکړو چه مونږ پسے مۀ راځه، ځکه چه دا زمانه د سختئ او فقر او فاقے وه نو نبی ﷺ ته ددۀ حاجت معلوم شو، لیکن بل طرف ته په دعوت کښے حق صرف د مالك دے پدے وجه ئے اجازت وغوښتو۔

(٦) د نبی ﷺ تضرع معلومه شوه چه په ابو شعیب ﷛ باندے زور نۀ کوی بلکه سفارش ورته کوی۔

الفصل الثانی

د صفیه رضی الله عنها ولیمه

3220 (11) – عَنْ أَنَسٍ ﷛ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَمَ عَلٰى صَفِيَّةَ بِسَوِيْقٍ وَتَمْرٍ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهُ

ترجمه : انس ﷛ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ په صفیه ﷞ باندے په ستوانو او کهجورو سره ولیمه وکړه۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح :[بِسَوِيْقٍ] ستوان۔ یعنی د وریشو پخ شوے دانے وړه کړے شی او په هغے کښے خوږه واچولے شی۔ د صحیحینو په روایت کښے مخکښے تیر شو چه حلواء وه چه د پنیر، غوړو او کهجورو نه جوړه وه۔ نو د دواړو خبرو تطبیق دا دے چه پدے ولیمه کښے دا دواړه قسمه څیزونه وو، پدے وجه هر راوی د خپل علم مطابق خبره وکړه او د چا مخے ته به یو شے پروت وو او د چا مخے ته بل شے نو هر یو خپل خپل علم نقل کړو۔

درجة الحدیث : [حدیث صحیح] ابوداود : ٣٧٤٤، ترمذی : ١٠٩٥، وابن ماجه : ١٩٠٩، نسائی کبری : ٦٦٠١، وقد خرجه الالبانی فی مختصر الشمائل المحمدیة : (١٥٠/٩٩).

د دنیاوی زیب وزینت شیانو نه د نبی ﷺ پرهیز

3221 (12) – وَعَنْ سَفِينَةَ ﷺ : أَنَّ رَجُلًا ضَافَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فَقَالَتْ فَاطِمَةُ : لَوْ دَعَوْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكَلَ مَعَنَا فَدَعَوْهُ فَجَاءَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى عِضَادَتَيِ الْبَابِ فَرَأَى الْقِرَامَ قَدْ ضُرِبَ فِي نَاحِيَةِ الْبَيْتِ فَرَجَعَ. قَالَتْ فَاطِمَةُ : فَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا رَدَّكَ ؟ قَالَ : " **إِنَّهُ لَيْسَ لِي أَوْ لِنَبِيٍّ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتًا مُزَوَّقًا** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او سفینه ﷺ نه روایت دے چه (یوه ورځ) یو سړے په علي بن ابی طالب ﷺ باندے میلمه شو نو هغهٔ ورله طعام تیار کړو نو فاطمے ﷺ وویل : که مونږ رسول الله ﷺ ته دعوت ورکړو او مونږ سره خوراك وکړی (نو ډیره به ښه وی) نو هغهٔ ئے راوغوښتو نو هغه راغلو، نو دواړه لاسونه ئے د دروازے په دواړو درشلو کیخودل نو هغهٔ پرده ولیده چه د کوټے په یو اړخ باندے وهلے شوے وه نو واپس شو، فاطمه وائی : زهٔ ورپسے روانه شوم، ما وویل : اے د الله رسوله ! تهٔ کوم شی واپس کړے ؟ هغهٔ وفرمایل : شان دا دے چه ماله یا هیڅ یو نبی له جائز نهٔ دی چه داسے کور ته داخل شی چه ښائسته کړے شوے وی۔ (احمدؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح :[سفینة] دا د ام سلمه ﷺ غلام وو او هغے پرے شرط ولګولو چه زهٔ تا آزادوم خو پدے شرط چه ټول عمر به د نبی ﷺ خدمت کوے۔ دا د بلخ په قیدیانو کښے نیولے شوے وو، دهٔ نوم رومان وو، یا مهران۔ دا یوه ورځ په کشتئ کښے کیناستو نو کشتئ ماته شوه، دے په یوه تخته باندے سور شو نو دریاب غاړے ته راغلو، هلته ورسره یو زمرے ملاؤ شو، دے وائی ما ورته وویل : اے ابو الحارث (دا د زمری کنیه ده) زهٔ سفینه د رسول الله ﷺ غلام یم، دے وائی : نو هغهٔ سر خکته کړو او په لکئ سره یا په اُوګه سره ئے ما ته دیکه راکړه او ما سره روان شو تردے چه زهٔ ئے لارے ته برابر کړم نو بیا ئے ما سره د رخصتئ انداز اختیار کړو۔ رسول الله ﷺ ورته سفینه پدے وجه وئیلو چه دے د رسول الله ﷺ سره په سفر کښے وو نو هرکله چه به په چا باندے سامان درون شو نو دهٔ به ترے توره، ډهال او نیزه واخسته تردے چه ډیر څیزونه ئے په ځان باندے بار کړل نو نبی علیه السلام وفرمایل : تهٔ سفینه (یعنی کشتئ) ئے۔ نو همدا نوم پرے پاتے شو۔ دا په بطن نخله کښے وسیدو، د فارس والو نه وو۔ (اسد الغابة)

[ضَافَ] - يعني ميلمه شو- ددې دوه مطلبه دي، يو دا چه دغه شخص علي بن ابي طالب ﷺ كره راغلو او په هغهٔ باندې ميلمه شو نو علي بن ابي طالب ﷺ ورله طعام تيار كړو او په مينځ كښې ئې رسول الله ﷺ هم راوغوښتو- دويم : يو سړي علي بن ابي طالب ﷺ له ميلمستيا وركړه نو هغهٔ دپاره ئې طعام تيار كړو بيا ئې هغهٔ كره راوليږلو نو علي ﷺ وفرمايل : چه د الله نبي به هم ورته رادعوت كړو- او دا مطلب اكثرو شارحينو ذكر كړې ليكن دا مطلب د بلې نسخې سره زيات مناسب دې چه په هغې كښې (اَضَافَ) لفظ دې، يعني يو سړي ميلمستيا وركړه علي ﷺ ته- دلته اول مطلب غوره دې-

[عِضَادَتَيُ] - دا تثنيه د عِضَادَةٌ ده، د دروازې درشل- [اَلْقِرَامَ] پتې دار څادر او كپړه- يا نرئ كپړه بغير د نقوشو نه (نهايه)- پدې كپړې سره ديوال پټ كړې شوې وو-

[مُزَوَّقًا: اَيْ مُزَيَّنًا بِالنُّقُوْشِ] - په نقشو او ګلكارئ باندې ښائسته كړې شوې- تزويق په اصل كښې تمويه (دهوكے) ته وائي-

فوائد : (١) دا حديث دليل دې چه هغه دعوت له به نهٔ ځي چه په هغې كښې منكر او ناروا كار وي- (٢) دا حديث دليل دې چه انسان له دا نهٔ دي پكار چه ديوالونو ته كپړې او جانمازونه واچوي ځكه چه دې كار ته هيڅ ضرورت نشته، دا كار اسراف دې، او د مال ضائع كول دي، او دا د متكبرانو د فخر سبب دې، نو دا كار به نشي كولے- البته عيب بندول جائز دي، لكه يوې كړكئ ته ئې اچولي وي، يا ئې دروازې ته اچولي وي بيا جائز دي- وضاحت ئې په روستو مسئله كښې دې-

(٣) مسئله : پرده اچول دوه قسمه دي : يو : دروازې ته پرده اچول دي، نو دا سنت طريقه ده، دې دپاره چه د بهر خلكو نظر دفع شي- دويم : ديوالونو ته پردې اچول دي، نو ددې نه منع راغلې ده، يو دا حديث دليل دې، دې كښې بعض علماؤ وئيلي دي چه دا خلاف اولىٰ كار دې او د مكارم الاخلاق خلاف كار دې، او جواز لري- ليكن دا خبره صحيح نهٔ ده ځكه چه د نبي ﷺ د دعوت نه ددې پردې په وجه واپس كيدل دليل د حرمت دې- (٢) دليل : د مشكاة په باب التصاوير (٣٨٥) كښې حديث راځي : [اِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَاْمُرْنَا اَنْ نَّكْسُوَ الْحِجَارَةَ وَالطِّيْنَ] - مونږ ته الله تعالىٰ دا حكم نهٔ دې كړې چه كاڼړي او خټې ته جامې واغونده وو-

(٣) دليل : ابو ايوب انصاري ﷺ او ددهٔ ملګري د سالم بن عبد الله بن عمر د وادهٔ نه

واپس شو لیکن کله چه پردے لرے شوے بیا راغلو۔ [الاستذکار : ٤٧١/٥، والطبرانی وآداب الزفاف للالبانی] ۔ او هر چه په کټ باندے څادر اچول دی نو هغه جائز دی په دے شرط چه د وریښمو نهٔ وی۔ او هغے ته انماط وائی۔

جابر ﷺ ته نبی ﷺ فرمائیلی وو : [أَمَا إِنَّهَا سَتَكُونُ] خبر شه چه ستاسو دپاره به د کټ څادرونه پیدا کیږی، روستو زمانه کښے د جابر ﷺ ښځے دا پیدا کړل نو جابر ﷺ منع کړه هغے ورته په دلیل کښے دغه حدیث پیش کړو۔ [صحیح مسلم : ٥٥٧٠، و ٥٥٧١]

درجة الحديث :[إسناده حسن] أبوداود : ٣٧٥٥، وابن ماجه : ٣٢٦٠، أحمد : ٢٢٠/٥، ٢٢٢، رجاله ثقات رجال الصحيح، غير سعيد بن جمهان فهو صدوق من رجال السنن، وصححه ابن حبان : ١٤/٢٦٧، رقم : ٦٣٥٤].

بغیر د دعوت نه د چا طعام خوړلو بدی

3222 (13) – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "مَنْ دُعِيَ فَلَمْ يُجِبْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَمَنْ دَخَلَ عَلٰى غَيْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِيْرًا ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چه (ولیمے وغیره) ته راووبللے شو او هغهٔ دعوت قبول نکړو نو هغهٔ د الله او د هغهٔ د رسول نافرمانی وکړه او څوك چه په غیر د دعوت نه (ولیمے ته) داخل شو نو دے غل (په شان) داخل شو او لوټ کونکے ووتو۔ (ابوداودؒ)

تشریح : [سَارِقًا]۔ څکه چه د کور والو د اجازت نه بغیر راننوتے دے، گویا کښے دا په پټه راغلے دے د غل په شان۔ [مُغِيْرًا]۔ د اِغَارَةٌ نه دے، لوټ مار۔ او هرکله چه دا بغیر د اجازت نه د هغهٔ طعام خوړونکے دے نو دا داسے دے لکه غصب او لوټ مار کونکے چه په ښکاره ئے د هغوی نه روټئ وخوړه او ترے روان شو۔

دا حدیث دلیل دے چه څوك د طُفیلی په طریقه بغیر د دعوت نه د چا دعوت خوری نو دعوت والا دپاره اختیار شته چه دا محروم کړی، او که بغیر د اجازتِ نه راننوتے وی نو هغه ویستلے شی۔ طفیلی هغه شخص ته وائی چه دعوت ته نهٔ وی بللے شوے او همداسے دعوتونو ته حاضری ورکوی۔ او دا په اصل کښے د بنو عبد الله بن غطفان نه د

يو تن نوم وو (طفيل) دے به د خلكو وليمو ته بغير د دعوت نه ورتللو نو خلكو پرے دا نوم كيخودو (طفيل العرائس) د ودونو طفيل۔ نو بيا چه به څوك بغير د دعوت نه د چا دعوت ته ورتللو نو هغهٔ ته به ئے طفيلي وئيلو، دے شخص ته به ئے منسوب كولو۔ طفيليت ناجائز كار دے مگر پدے شرط چه ددهٔ او د دعوت والا په مينځ كښے آزادي وي، يا د طفيلي سخت ضرورت وي چه د رزق څه درك ئے نهٔ لگي، يا غالب گمان دا وي چه كور والا ئے بد نهٔ گنړي څكه چه طعام ئے بسياره پخ كړے وي، او عمومي دعوت ئے كړے وي۔ (الكوكب الوهاج)

دا روايت اگركه سنداً ضعيف دے۔ ليكن مخكښے تير شو چه نبي عليه السلام سره يو تن د طفيلي په طريقه راروان شو نو هغهٔ ورله اجازت واخستو۔ معلومه شوه چه د اجازت نه بغير د چا طعام خوړل حرام دي۔

درجة الحديث : [ضعيف] ابوداود : ۳۷٤۱، وضعفه بقوله : أبان بن طارق مجهول۔ ومن طريقه رواه ابن عدى (۱۸۲۹)

كه په يو وخت كښے دوه دعوتونه وشي نو كوم يو دعوت به قبلولے شي؟

3223 (14) - وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "**إِذَا اجْتَمَعَ الدَّاعِيَانِ فَأَجِبْ أَقْرَبَهُمَا بَابًا وَإِنْ سَبَقَ أَحَدُهُمَا فَأَجِبِ الَّذِي سَبَقَ**". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ

ترجمه : د رسول الله ﷺ د يو صحابي نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چه دوه دعوت وركونكي راجمع شي نو د چا دروازه چه زياته نزدے وي نو د هغهٔ دعوت قبول كړه، اوكه په دوئ كښے يو تن مخكښے شوے وي، (په دعوت وركولو كښے) نو بيا د مخكني دعوت قبول كړه۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)

فوائد : (۱) حديث نه معلومه شوه چه كله دوه گاونډيان چاته دعوت وكړي او دواړو كښے نشي شريكيدے، نو چاچه مخكښے دعوت كړے وي، د هغهٔ دعوت به قبلوي اگركه لرے هم وي، څكه مخكښے والے د ترجيح سبب دے۔

بله داچه : كله هغهٔ دعوت وكړو نو د هغهٔ دعوت قبلول واجب شو نو د دويم كس په دعوت سره دا وجوب نهٔ ختميږي۔ اوكه دواړو په يو وخت دعوت كړے وي نو د چا

دروازه چه ورته زیاته نزدے وی د هغهٔ دعوت به قبول کړی، ځکه د چا دروازه چه زیاته نزدے وی نو هغه به زیات نزدے ګاونډی وی۔ او ظاهر د حدیث دادے چه په نزدے والی کښے د دروازے اعتبار دے نهٔ د دیوالونو۔

(۲) دا حدیث اګرکه د سند په لحاظ ضعیف دے، لیکن د صحیح بخاری حدیث ددے تائید کوی، لکه عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما عرض وکړو : اے د الله رسوله ! زما دوه ګاونډیان دی نو زهٔ په دے دواړو کښے کوم یو له هدیه تحفه ورکوم؟ نبی ﷺ وفرمایل : ((په دے دواړو کښے چه تاته د هغهٔ دروازه زیاته نزدے وی)) [بخاری : ۶۰۲۰، أحمد : ۶/۱۷۵]

او ددے حدیث نه دوه قاعدے معلومیږی : [اَلْحَقُّ لِلْقَرِيْبِ ثُمَّ لِلْبَعِيْدِ]۔ (حق د نزدے وی بیا د لرے) دویم : [اَلْفَضْلُ لِلْمُتَقَدِّمِ]۔ فضیلت مخکښے انسان لره دے۔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحديث :[إسناده ضعيف ومعناه صحيح] أبوداود : ۳۷۵۶، أحمد : ۲۳۵۱۳، وانظر الارواء : ۱۹۵۱، وقال شعيب : إسناده حسن من أجل أبي خالد الدالاني -وهو يزيد بن عبد الرحمن آه۔ وهو صدوق حسن الحديث، وقال الحافظ في التقريب : صدوق يخطىء كثيرا و كان يدلس، وقال الحافظ في التلخيص : ۳/۱۹۶) إسناده ضعيف وضعفه الألباني في إرواء الغليل : (۱۹۵۲).

د نوم او شهرت دپاره د ډیرو ورځو پورے ولیمه ورکولو وعید

3224 (15) – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : **"طَعَامُ أَوَّلِ يَوْمٍ حَقٌّ، وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّانِيْ سُنَّةٌ، وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّالِثِ سُمْعَةٌ، وَمَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ"**. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : (د ولیمے) د اولنئ ورځے خوراکه حقه (او واجبه) ده، په دویمه ورځ سنت ده او په دریمه ورځ ریاکاری ده، او چاچه ریاکاری وکړه الله تعالیٰ به ئے رسوا کړی۔ (ترمذیؒ)

تشریح : [حَقٌّ] ثابت او واجب۔ [سُنَّةٌ] مروجه طریقه ده چه په خلکو کښے معروفه اومشهوره ده او ناخوښه او بد عمل نهٔ دے۔ [سُمْعَةٌ] ریا او شهرت۔ خپل عمل بل چاته آورول۔ یعنی په دریمه ورځ د ولیمے دعوت کونکے او په خلکو باندے خوراك خورونکے دا کار صرف دے دپاره کوی چه خلکو ته ځان وښائی او خپل دا کار په خلکو کښے مشهور کړی۔ [وَمَنْ سَمَّعَ] یعنی څوك چه د سخاوت وغیره په ذریعه سره خپل شهرت او ریاکاری کوی یا د فخر اظهار کوی نو [سَمَّعَ اللّٰهُ بِهٖ] الله تعالیٰ به ئے د قیامت په کهلاؤ

میدان کښې ددهٔ تشهیر وکړي چه دا دروغژن او شهرت خوښونکے دے. د [سَمَّعَ اللّٰهُ بِهٖ] معنیٰ ده : الله تعالیٰ به ددهٔ عیبونه خلکو ته واوروي، رسوا به ئے کړي.

فوائد : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه څوك په اولنۍ ورځ د ولیمے د دعوت دپاره راوبلل شو نو دا رابلل حق دي او قبلول ئے واجب دي، او که په دویمه ورځ راوبلل شو نو دا یوه مروجه طریقه ده او قبلول ئے جائز دي، اوکه په دریمه ورځ راوبلل شو نو دا رابلل ریاکاري او د خپل سخاوت تشهیر کول دي او دا دعوت قبلول هم جائز نهٔ دي.

(۲) د شوافعو رایه دا ده چه د ولیمے دعوت د دویمے ورځے نه اړول نهٔ دي پکار. او دے علماؤ ته دا حدیث ثابت ښکاره شوے لکه حافظ ابن حجرؒ او علامه شوکانیؒ وئیلي چه اګرکه دا روایتونه څانله څانله ضعیف دي لیکن مجموعي لحاظ سره دا دلالت کوي چه ددے بنیاد شته دے. (۳) ددے برعکس د امام بخاريؒ رائے داده چه ولیمه اوو ورځو پورے هم جائز ده، څکه په حدیثو کښې چه د ولیمے کوم اجابت راغلے نو هغه مطلق دے، هغهٔ داسے باب قائم کړے : [بَابُ حَقِّ اِجَابَةِ الْوَلِیْمَةِ وَالدَّعْوَةِ، وَمَنْ أَوْلَمَ سَبْعَةَ أَیَّامٍ وَنَحْوَهُ، وَلَمْ یُوَقِّتِ النَّبِیُّ ﷺ یَوْمًا وَلَا یَوْمَیْنِ] (د ولیمے او د عام دعوت د قبلولو د حق بیان، او د هغه چا بیان چه اوو، اتو ورځو پورے خلکو ته د ولیمے دعوت وکړي، او نبی کریم ﷺ د ولیمے د دعوت دپاره یوه ورځ دوه ورځے نهٔ دي مقرر کړي) [فتح الباری: ۹/۲٤۰]

او همدا د مالکیانو قول دے، قاضي عیاضؒ فرمائي: زمونږ علماؤ د مالداره خلکو دپاره اوو ورځو پورے دعوت ورکول مستحب ګرځولي. [اکمال المعلم: ٤/۵۸۸ البحر المحیط الثجاج : ۲۵/۳۸٤] حفصه بنت سیرینؒ فرمائي : کله چه زما پلار وادهٔ وکړو نو د رسول الله ﷺ ملګرو ته ئے اووهٔ ورځے دعوت وکړو. [ابن أبی شیبة : ٤/۳۱۳]

او د عبد الرزاق په روایت کښې ((اتهٔ ورځے)) ذکر دي. [۱۰/٤٤۸]

ددے مطلب دا چه دا کسان ئے په اوو یا اتو ورځو باندے ویشلي وو.

(٤) د فقهاؤ د یوے ډلے - لکه بعض مالکیانو او بعض شوافعو - قول دادے چه په دریمه ورځ ولیمه کول جائز دي هر کله چه دیته حاجت وي لکه رابلل شوي خلك ډیر وي اویا په یوه ورځ کښې د هغوئ راجمع کول مناسب نهٔ وي یا خو ځائے تنګ وي یا د داعي دپاره څهٔ خپلوان وي چه هغوئ صرف په دریمه ورځ راجمع کیږي. یا بل څهٔ عذر وي، نو خلك به په درے یا څلورو ورځو باندے تقسیم کړي. او دے قول ته صنعانیؒ، ابن

بازؒ او ابن عثیمینؒ ترجیح ورکړے۔ او په همدے باندے دلائل راجمع کیږی ځکه کله چه په مذکوره عذرونه کښے یو عذر موجود شی نو بیا په دے کښے اسراف او فخر نۀ راځی۔ په دے وخت کښے مناسبه داده چه انسان د سادګئ نه کار واخلی او په ودونو کښے چه کوم اسرافونه او فضول خرچیانے کوی د هغے نه ډډه وکړی۔ او خپلے دغه پیسے په مناسب اِسلامی دعوتی کارونو کښے خرچ کړی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحديث: [ضعیف] ترمذی: ۱۰۹۷، وضعفه بقوله لا نعرفه مرفوعا الا من حديث زياد بن عبد الله وهو كثير الغرائب والمناكير۔ وله شاهد عند ابن ماجه: ۱۹۱۵، من حديث ابى هريرة وأبوداود: ۳۷۴۵، من حديث رجل من ثقيف۔ وأحمد: ۲۸/۵، دارمی: ۲۰۶۵. بیهقی [۲۶۰/۷] وهو ايضا ضعيف، فيه أبو مالك النخعي متفق على تضعيفه۔

د فخر دپاره د مقابله کونکو دوه کسانو دعوت ممنوع دے

3225 (16) – وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ أَنْ يُؤْكَلَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا

ترجمه: او عکرمهؒ د ابن عباس ﷺ نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ د فخر په طریقه د دوه مقابله کونکو د طعام د خوراك نه منع فرمائیلے ده۔ (ابوداودؒ) او امام مُحی السنه بغویؒ وئیلی دی: صحیح دا ده چه دا عکرمهؒ د نبی ﷺ نه په طریقه د ارسال سره نقل کړے۔ (یعنی د ابن عباس ﷺ ذکر پکښے نۀ دے نقل شوے)

تشریح: [الْمُتَبَارِيَيْنِ] یعنی دوه کسان مقابله کونکی د فخر او ریاء په طریقه۔ مبارات (مقابله) په دوه څیزونو کښے، یو په تبرّعاتو کښے وی چه یو تن د طعام دعوت وکړی نو بل ئے د هغۀ نه ښۀ کوی پدے کار سره د هغۀ مقابله کوی او فخر کوی او ځان پورته ګڼړی۔ نو ددے نه منع پدے وجه وشوه چه دا ریاء او فخر دے، او دا باطل مال خوړل دی۔ دویم مبارات په معاوضاتو کښے دے، لکه دوه خرخونکی د یو په مقابله کښے خپله سودا ارزانه خرخوی دے دپاره چه خلك د خپل بل ملګری د سودا د اخستو نه منع کړی۔ امام احمدؒ وئیلی دی چه ددے دوارو کسانو نه سودا اخستل مکروه دی۔ او پدے نهی کښے دوه ذریعے بندول دی، یو دا چه که څوك ددے دوارو نه سودا کوی نو پدے سره به د

دوئ زړونه خوشحاله او مضبوط شي، او پدې ناكاره كار باندې به نور هم راتيز شي۔
دويم : هركله چه د دوئ طعام خوړل منع شي نو پدې كار سره به دوئ ددې بد فعل نه منع شي۔ (البحر المحيط)

درجة الحديث :[صحيح بشاهده] أبوداود : ٣٧٥٤ وأشار إلى إعلاله بالإرسال. وشرح السنة : ١٤٤/٩، وقال : الصحيح عن عكرمة مرسل وقال المنذرى فى الترغيب (١٢٧/٣) وهو الصحيح آه۔ وله شاهد عن أبى هريرة بإسناد صحيح كما فى الصخيحة (٦٢٦) وقال الحاكم : ٧١٧٠ : صحيح الإسناد ووافقه الذهبى.

الفصل الثالث

3226 (17) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **أَلْمُتَبَارِيَانِ لَا يُجَابَانِ وَلَا يُؤْكَلُ طَعَامُهُمَا** ". قَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ : يَعْنِي الْمُتَعَارِضَيْنِ بِالضِّيَافَةِ فَخْرًا وَرِيَاءً

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه دوه كسانو دعوت به نشى قبلولې چه د فخر په طريقه د يو بل (په خوراك وركولو كښې) مقابله كوى، او د هغوى طعام به نشى خوړلې كيدې۔ امام احمدؒ فرمائى : د متباريان نه مراد هغه دوه كسان دى چه په ميلمستيا سره د فخر او رياء په طريقه مقابله كوى۔

تشريح : مخكښې حديث كښې ئې د مقابله كونكو د خوراك نه منع وكړه د هغې نه دا نۀ معلوميده چه د دوئ إجابت مكروه دې نو دلته ئې د هغوى د اجابت په كراهت باندې تصريح وكړه۔ [لَايُجَابَانِ]۔ دا دليل دې چه د فخر والو دعوت اجابت به نشى كيدې، ځكه چه د دوئ بد نيت په طعام كښې اثر كوى او د هغې په وجه د انسان په ايمان كښې خرابې او يې نورې پيدا كيږى۔ [الْمُتَعَارِضَيْنِ] يعنى مقابله كونكى۔

درجة الحديث :[صحيح] شعب الايمان : ٦٠٦٨ صحيح الجامع الصغير (٦٦٧١) الصحيحة (٦٢٦)

د فاسق دعوت مۀ قبلوئ

3227 (18) – وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ﷺ قَالَ : نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ إِجَابَةِ طَعَامِ الْفَاسِقِيْنَ .

ترجمه : عمران بن حصین ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د فاسقانو د طعام د دعوت قبلولو نه منع فرمائیلې ده۔

تشریح : [اَلْفَاسِقِیْنَ]۔ یعنی بنکاره گناه کونکی دعوت اجابت نشته، د فاسقانو نه مراد یا خو دا ده چه انسان ناکاره وی، بدو اعمالو باندې مشهور وی، لکه شراب خور، سود خور، ناپ تول کښې کمې زیاتې کونکې۔ ځکه چه فاسق په خپل طعام کښې احتیاط نۀ کوی۔ او کله به ظالم وی پردی حقونه به ئې وهلی وی۔

دویم : په ولیمه کښې خلاف شرع کارونه کوی نو ددې ولیمې اجابت هم نشته۔

درجة الحدیث :[إسناده ضعیف جدا] البیهقی : ۵۸۰۳، وفیه عنعنة الحسن البصری، وابن أبی سکینة لا ترجمة له، وأبو عبد الرحمن السلمی متهم بوضع أحادیث الصوفیة وبه أعله المناوی۔ وانظر الضعیفة (۵۲۲۹)

د یو متقی انسان د خوراك په باره کښې د جائز او ناجائز تحقیق مۀ کوه

3228 (19) – وَعَنْ أَبِی هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "**إِذَا دَخَلَ أَحَدُکُمْ عَلٰی أَخِیْهِ الْمُسْلِمِ فَلْیَأْکُلْ مِنْ طَعَامِهٖ وَلَا یَسْأَلْ وَیَشْرَبْ مِنْ شَرَابِهٖ وَلَا یَسْأَلْ**".

رَوَی الْأَحَادِیْثَ الثَّلَاثَةَ الْبَیْهَقِیُّ فِی "شُعَبِ الْإِیْمَانِ "وَقَالَ : هٰذَا إِنْ صَحَّ فَلِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ الْمُسْلِمَ لَا یُطْعِمُهٗ وَلَا یَسْقِیْهِ إِلَّا مَا هُوَ حَلَالٌ عِنْدَهٗ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : هرکله چه یو تن ستاسو په یو مسلمان باندې ورداخل شی نو د هغۀ د طعام نه دې خوراك وکړی او تپوس دې نۀ کوی او د هغۀ د اُوبو نه دې څښکل وکړی او تپوس دې نۀ کوی۔ دا درې واړه حدیثونه بیهقیؒ په شعب الایمان کښې نقل کړیدی او وئیلی ئې دی چه دا حدیث که صحیح شی نو ظاهر دا ده چه مسلمان دۀ تۀ خوراك او څکاك نۀ ورکوی مگر د هغه شی نه چه د هغۀ په نیز حلال وی۔

تشریح :[وَلَا یَسْأَلْ]۔ یعنی د هغۀ نه دې دا تپوس نۀ کوی چه ستا دا طعام او اُوبۀ د حلالو نه دی او که د حرامو نه۔ ځکه چه یو خو پدې کښې په مسلمان باندې بدگمانی راځی۔ دویم دا چه د هغۀ زړۀ پدې سره خفه کیږی چه یواځې بزرگ صرف دے دے، او زۀ ورتۀ حرامخور ښکاره شوم۔ خو دا خبره په هغه وخت کښې ده چه د مسلمان ظلم او

فسق او د حدودو نه تجاوز نهٔ وی معلوم، ظاهره کښې صحیح سړے دے۔
البته په نورو طریقو سره حقیقتِ حال معلوم مولے شی۔
بیا که ستا یقین وو یا غالب گمان وو چه دا شخص په طعام کښې احتیاط کونکے دے، نو بیا خو خبره صحیح ده او که دواړه طرفونه برابر وو، نو بیا په ترك کښې احتیاط دے، او که د سړی رزق د مختلفو طرفونو نه وو چه بعض حلال او بعض حرام وو نو د حلالو نیت دِے وکړی بیا ورله جائز ده۔
او که یقینی ورته معلومه شوه چه دے احتیاط نهٔ کوی، یا حرام خور دے، یا ئے تول کارونه د حرامو دی نو بیا به داسے طعام نهٔ استعمالوی۔
[أَخِيْهِ الْمُسْلِمِ] ۔ پدے لفظ ذکر کولو کښې اشاره ده چه په مسلمان به د خپل ځان په شان ښهٔ گمان کوے۔
درجة الحدیث :[إسناده صحیح] البیهقی (۵۸۰۱) وصححه الحاکم والذهبی والالبانی فی الصحیحة (٦٢٧)



۹- باب القسم

د ښځو ترمینځه د نمبر کېښودو بیان

قَسْمٌ : د قَسَمَ یَقْسِمُ (ضَرَبَ یَضْرِبُ) نه دے په معنیٰ د تقسیمولو سره۔ دلته مراد د یو نه زیاتو ښځو ترمینځه نمبر مقررول او د خاوند په شپے تیرولو، نفقے او استوګنے ورکولو کښے عدل او انصاف کول دی۔ دا په کتاب، سنت او اجماع سره ثابت دی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [النساء: ۱۹] (او دوئ سره د عُرف او شرع مطابق ژوند تیروئ) او دا د عُرف او شریعت خلاف کار دے چه انسان د ښځو ترمینځه په شپه تیرولو یا نورو شیانو کښے فرق او بے انصافی کوی۔ او ارشاد دے : ﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ﴾ [النحل: ۹۰] (الله د عدل او ښیګړے حکم کوی) او د ښځو ترمینځه عدل او برابرے کول هم په دے کښے داخل دی۔ او په دے باره کښے ګڼړ حدیثونه راغلی۔ او عقل او نظر هم ددے تقاضا کوی چه د دوه یا زیاتو ښځو ترمینځه دِے په حقونو ورکولو کښے انصاف وکړے شی ځکه دا ټولے د سړی ښځے دی لکه څنګه چه د اولاد ترمینځه عدل او انصاف ضروری دے۔

دا باب د هغه چا پورے خاص دے چه هغهٔ د یو نه زیاتے ښځے ساتلی وی۔ دا وجه ده، علماء دا د [عِشْرَةُ النِّسَاءِ] د باب نه جدا ذکر کوی، او کله دواړه یوځائے ذکر کوی۔ په دے باب کښے راغلی حدیثونه څهٔ قولی او څهٔ فعلی دی یعنی بیبیانو سره د رسول الله ﷺ معامله او سلوك او د دوئ ترمینځه عدل او انصاف۔ څوك چه دوه یا زیاتے ښځے لری هغوئ دپاره دا باب زده کول ډیر ضروری دی، دے دپاره چه هر حقدار ته د هغهٔ حق ملاویږی، د خاوند ذمه فارغه وی او ښځو سره ئے ژوند برابر وی او د جنګ جګړو او اختلافاتو نه بچ شی۔ ډیر خلك پدے احادیثو عمل نهٔ کوی نو پدے وجه عام خلك اکثرو سړو ته دویمه او دریمه ښځه په نکاح نهٔ ورکوی۔

مسئله : په دے کښے خو اتفاق دے چه د امت په افرادو باندے د ښځو ترمینځ قَسم واجب دے مګر پدے کښے اختلاف دے چه په نبی کریم ﷺ باندے د ښځو ترمینځه

قَسَم او نمبر اېښودل واجب وو او كه نه؟ نو په دې كښې دوه قوله دي :

(۱) **قول** : د جمهورو دے، چه واجب وو، او دليل ئې روستو حديث دے چه نبي ﷺ به قَسْم كولو او بيا به ئې وئيل چه اے الله ! دا زما قَسْم دے، نو ما په هغه څه مهٔ رانيسه چه تهٔ ئې اختيار لرې او زهٔ ئې نهٔ لرم. (يعني د زړهٔ محبت) ليكن دا دليل پوره صريح نهٔ دے، وجه داده چه ممكنه ده چه د بيبيانو د زړهٔ ساتلو دپاره ئې قسَم كولو.

(۲) **قول** : نبي ﷺ باندې عدل واجب نهٔ وو خو هغوئ به د خپلو ښائسته اخلاقو په وجه عدل كولو، او احتياط به ئې كولو. د دوئ **دليل** : (أ) آيتِ كريمه دے : ﴿ تُرْجِيْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِيْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ﴾ [احزاب : ٥١]

مفسرينو ذكر كړې چه په دې آيتِ كريمه كښې الله تعالىٰ خپل نبي دپاره د بيبيانو په حقله د نمبر پرېښودو په باره كښې معامله فراخه كړې وه، كه كوى ئې او كه نهٔ، او د آيت معنىٰ داده چه په دې كښې هيڅ باك نشته چه تهٔ د دوئ ترمينځه تقسيم پرېدې، څوك مخكښې كوې، څوك روستو كوې، چاسره كوروالے كوې او څوك پرېدې.

او دا معنىٰ د سلفو د يوې ډلې نه نقل ده لكه ابن عباس ؓ مجاهدؒ او حسنؒ. علامه ابن جريرؒ او علامه ابن جوزيؒ دا آثار ذكر كړي.

علامه شوكانيؒ فرمائي : په دې آيت كښې دا د جمهورو مفسرينو معنىٰ ده، او په همدې باندې صحيح دلائل ثابت دي. [فتح القدير: ٤/٢٩٣]

(ب) د انس ؓ په حديث كښې دي چه نبي ﷺ به په يو غسل سره په ټولو بيبيانو ګرځيدهٔ. نو ددې نه معلوميږي چه په هغوئ باندې نمبر مقررول واجب نهٔ وو.

(ج) بله داچه : كه په هغوئ باندې نمبر مقررول واجب شوى وے نو د رسالت كارونو ته به په پوره توګه فراغت نهٔ وے حاصل شوے.

ليكن تحقيق دا دے چه په نبي ﷺ باندې تقسيم واجب نهٔ وو مګر هغهٔ په ځان باندې واجب ګڼړلو، ډير اهتمام به ئې كولو، بلكه په مستحب عمل به ئې دومره احتياط كولو لكه چه واجب وى، البته په امت باندې ددې تقسيم پابندى واجب ده. وبالله التوفيق.

۲- **مسئله** : د هرې بى بى سره به څومره څومره وخت تيروى؟ (۱) جمهور علماء وائي چه يوه يوه شپه به تيره وى يعنى د شپې نه به كم نهٔ وى، او دوئ استدلال كوى د (يَوْمِيْ) او (بَاتَ) لفظ نه. (۲) او ابن حزمؒ وائي چه نبي ﷺ نه چرته هم په يوه شپه تيره

ولو باندے امر نۀ دے نقل- بلکه دا د سړي صوابديد او خوښے ته حواله شوے، اصل مقصد انصاف کول دي، او همدا خبره صحيح ده،

او پدے سره هغه اعتراض هم دفع کيږي چه نبي ﷺ په يوه شپه کښے تولو بيبيانو ته نزدے شو او د هرے يوے سره به ئے غسل کولو نو سوال پيدا شو چه دلته به د يوے بي بي نمبر وي نو ددے حق نورو بيبيانو ته څنګه ورکړے شو؟ بيا ددے جوابونه کوي، خو اصح دا ده چه خاوند د شپے نه کم نمبر هم تيره ولے شي، چه يوه يوه ګينټه يا نيمه نيمه شپه تيره کړي-

الفصل الأول

د رسول الله ﷺ د ازواج مطهراتو شميره

3229 (1) - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُبِضَ عَنْ تِسْعِ نِسْوَةٍ وَكَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د نهه بيانو نه وفات شو او هغۀ به د دوئ نه د اتو دپاره نمبر مقررولو- (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : [قُبِضَ]- يعني وفات شو، د هغۀ روح واخستے شو- د رسول الله ﷺ خو يولس بيبيانے وے ليکن خديجه او زينب بنت خزيمه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ په ژوند کښے وفات شوے وے، (اصابه) نهه پاتے وے څکه دا ذکر کوي، هغه نهه دا دي :

(۱) عائشه ﵂ (۲) حفصه ﵂ (۳) ام حبيبه ﵂ (٤) سوده ﵂ (٥) ام سلمه ﵂ (٦) صفيه ﵂ (۷) ميمونه ﵂ (۸) زينب بنت جحش ﵂ (۹) جويريه ﵂ - پدے کښے د سوده ﵂ نمبر نۀ وو څکه چه هغے په خپله خوښه خپل نمبر عائشے ﵂ ته ورکړے وو لکه ددے وضاحت په روستو حديث کښے راځي- او د نبي ﷺ تولے بيبيانے په يو شعر کښے په ترتيب سره راجمع دي چه د اولني حروفو نه ئے معلوميږي-

[خَلِيْلِيْ ! سَبَا عَقْلِيْ حُلَا زَيْنِ هَالَةٍ زَهَا جَفْنَهَا رَمْزٌ صَحِيْحٌ مُهَذَّبٌ]

خديجة، سودة، عائشه، حفصه، زينب بنت خزيمة، هند بنت امية (ام سلمه) زينب بنت جحش، جويرية بنت الحارث، رمله بنت ابی سفيان (يعني ام حبيبه) صفيه بنت حُيی، ميمونه بنت الحارث رضی الله عنهن-

یوه ښځه خپل نمبر بلې ښځې ته ورکولې شي

3230 (2) – وَعَنْ عَائِشَةَ ﵂ ،أَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا كَبِرَتْ قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ جَعَلْتُ يَوْمِي مِنْكَ لِعَائِشَةَ فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لِعَائِشَةَ يَوْمَيْنِ يَوْمَهَا وَيَوْمَ سَوْدَةَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشه ﵂ نه روايت دے چه هركله د سودے ﵂ عمر زيات شو نو هغے ووئيل : اے د الله رسوله ! ما خپل نمبر ستا نه عائشے ﵂ دپاره وګرځولو (زما په نمبر کښے هم عائشه ﵂ کره ورځه) نو رسول الله ﷺ به د عائشے ﵂ دپاره دوه ورځے تقسيم کولو، يو د هغے خپله ورځ او بله د سودے ﵂ ورځ۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تعارف د سودة بنت زمعة ﵂ : بن قيس بن لؤى العامرية، دا مخکښے د سکران بن عمرو بن لُؤى العامرى په نکاح کښے وه، دواړو اسلام قبلولو نه پس حبشو ته دويم هجرت وکړو، بيا دواړه مکے ته راغلل او خاوند ئے هلته مړ شو، نو د خديجے ﵂ نه پس نبى کريم ﷺ دا بى بى په نکاح واخسته او په مکه کښے ئے ورسره وادهٔ وکړو او هغے ورسره هجرت وکړو او ډيره موده ورسره وه۔ دا داسے وخت وو چه نبى کريم ﷺ د عائشے ﵂ سره نکاح تړلے وه خو وادهٔ ئے ورسره نهٔ وو کړے۔ دے وجے نه د وادهٔ په اعتبار سره دا د نبى کريم ﷺ دويمه بى بى وه، او د نکاح تړلو په اعتبار سره دريمه، يعنى د عائشے ﵂ نکاح ددے نه مخکښے د نبى کريم ﷺ سره تړل شوے وه۔

دا وجه ده په صحيح مسلم [١٤٦٣] کښے د عائشے ﵂ قول راځى : [وَكَانَتْ أَوَّلَ امْرَأَةٍ تَزَوَّجَهَا بَعْدِيْ] (دا اولنئ ښځه وه چه نبى ﷺ مانه پس په نکاح واخسته) يعنى ددے نکاح د عائشے ﵂ د نکاح نه روستہ شوے وه، خو وادهٔ ئے د هغے د وادهٔ نه مخکښے شوے وو۔ په مدينه کښے په (٥٤) يا (٥٥) هجرى کښے وفات شوه۔ رضى الله عنها۔

تشريح : [جَعَلْتُ يَوْمِي لِعَائِشَةَ] (ما خپل نمبر عائشے ﵂ له ورکړو) د ابوداودؒ په روايت کښے دى : ((هرکله چه سوده بوډئ شوه او دا خطره ورسره پيدا شوه چه هسے نهٔ رسول الله ﷺ ئے پريدى، نو دے عرض کړو : يا رسول الله ! ما د شپے خپل نمبر عائشے ﵂ ته وبښلو، نو رسول الله ﷺ د هغے نه دا کار قبول کړو۔ عائشه ﵂ وائى : مونږ به دا ګمان کولو چه ددے او ددے پشان بيبيانو په باره کښے دا آيت نازل شوے : ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ

خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ﴾ [النساء : ۱۲۸]
(او که چرې یوه ښځه د خپل خاوند له طرفه د نافرمانئ یا مخ اړولو نه یریده، نو په دې دواړو باندې ګناه نشته چه خپلو کښې صلح وکړي ځکه صلح سراسر ښیګړه ده)
[أبو داود: ۲۱۳۵]

د ترمذيؒ په روایت کښې دي چه کله دا بي بي بوډۍ شوه نو نبي ﷺ اراده وکړه چه دې له طلاق ورکړي، هغې عرض وکړو، یا رسول الله ! ما ځان سره وساته او ما خپل نمبر عائشې (رضي الله عنها) له ورکړو۔ او د ابن سعدؒ په روایت کښې دي چه دا کار هغې ددې دپاره وکړو چه د قیامت په ورځ د نبي کریم ﷺ په بیبیانو کښې راپاڅیږي۔ لکه ددې باب په آخر کښې همدا روایت راځي۔

فوائد الحدیث : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د ښځې دپاره جائز دي چه د خاوند د شپې تیرولو حق خپلې بنې له ورکړي او خاوند په دې راضي وي، ځکه په ښځه کښې د خاوند حق شته دې نو که ښځه د شپې تیرولو خپل حق خپلې ملګرې له ورکوي نو په دې کښې د خاوند رضامندي ضروري ده۔ ځکه سودې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ خوشحالولو دپاره خپل نمبر عائشې رضي الله عنها ته وبښلو او نبي ﷺ هغې نه دا کار قبول کړو۔ چه بیا به هغوئ د عائشې رضي الله عنها سره دوه شپې تیرولې، یوه خپله او یوه د سودې رضي الله عنها ښښلې شپه، او سودې رضي الله عنها دا خپل نمبر عائشې رضي الله عنها له ځکه ورکړو چه نبي کریم ﷺ ته دا ډیره ګرانه وه نو په دې سره ئې د نبي کریم ﷺ زړهٔ خوشحالولو۔

او دا د سودې رضي الله عنها هوښیارتیا او فقاهت وو ځکه که رسول الله ﷺ دې له طلاق ورکړې وې نو دا به د امهات المؤمنین د صف نه وتلې وې، او په آخرت کښې به هم د نبي کریم ﷺ بي بي نهٔ وې۔ نو دې د عقل نه کار واخستهٔ او خپل حق ئې عائشې رضي الله عنها ته وبښلو، او خپل ځان ئې د رسول الله ﷺ د نکاح په شرف کښې پاتې کړو، او په نبي ﷺ ئې شفقت وکړو۔ بیا که د ښښونکې ښځې شپه د ښښلې شوې شپې سره جوخته وه نو خاوند به هغې سره پرله پسې دوه شپې تیرې کړي، اوکه جوخته نهٔ وه نو که خاوند د موهوبې سره دوه شپې تیرولې نو د نورو نه به اجازت غواړي۔ که اجازت ئې وکړو، ښه ده، اوکه وئې نهٔ کړو نو د واهبې شپه به په خپل ځائې باندې پاتې وي ځکه ددې په مخکښې والي کښې د بلې بي بي د حق تاخیر راځي او د هغې د رضا نه بغیر د هغې شپه بدلیږي نو دا کار به جائز نهٔ

وی۔ [المغني: ۱۰/ ۲۵۰]

(۲) ښځونکے ښځه خپل نمبر بیرته غوښتلے شی اوکه نه؟ :

نو ډیر علماء فرمائی چه غوښتلے ئے شی ځکه کومے شپے چه تیرے شوے د هغے ښځل وشو اوکومے چه راتلونکی دی نو په هغه هبه کښے قبض نهٔ دے راغلے اوکومه هبه کښے چه قبض نهٔ وی شوے نو په هغے کښے رجوع جائز ده۔ ❁ لیکن علامه ابن قیمؒ فرمائی: که په دے باره کښے د ښځے او د خاوند ترمینځه صلح او معاهده شوے وی، مثلًا: ښځه خاوند ته ووائی: زهٔ تاسره په دے اتفاق کوم چه تهٔ ما د خانه مهٔ جدا کوه او زما چه د شپے کوم نمبر دے هغه مے فلانۍ له ورکړو۔ او خاوند ورسره موافقه وکړی، نو بیا ښځه د رجوع مالکه نهٔ ده، ځکه دا داسے لازمه ده لکه څنګه چه صلح لازمه ده۔

بله داچه: په رجوع کولو کښے یے لوظی هم ده، او دا حرامه او د منافقانو صفت دے۔ دارنګه په دے سره د ښځو ترمینځه عداوت او دشمنی هم پیدا کیږی۔

بله داچه: په هبه قبل القبض کښے هم صحیح خبره داده چه په دے کښے رجوع کول جائز نهٔ دی۔ ❁ دے وجے نه که یوه ښځه خپلے بنے دپاره خپل نمبر هبه کوی نو هغے ته دا وئیل پکار دی چه ښهٔ فکر وکړه د ښنلو نه روستو به تاته به د رجوع حق حاصل نهٔ وی۔ مګر صحیح خبره دا ده چه خاوند په خپله خوښه د واهبے نمبر بیرته بحال کولے شی لکه دلته نبی ﷺ د سوده رضی الله عنها نمبر بیرته شروع کړو۔ دا د نبی ﷺ خوش اخلاقی او احسان وو۔

(۳) د ښځے دپاره دا جائز دی چه خپل خاوند ته د خپلے شپے نمبر وبښی، بیا د هغهٔ خوښه ده چه هغه په کښے هر څنګه تصرف کوی نو کولے ئے شی۔ او دا اختیار هم لری چه خپلے بلے ښځے له ئے ورکړی، ځکه په دے کښے نورو ښځو ته څهٔ ضرر نشته۔ نو که دا شپه ټولو له ورکوی اوکه په هغوئ کښے یوے له ئے ورکوی۔ خو که ټولو له ئے ورکړی دا به عدل ته زیاته نزدے وی او د میلان نه به ډیره لرے خبره وی۔ نوکه د یو سړی څلور ښځے وی، او څلورمے ښځے خپل نمبر خپل خاوند له ورکړو، نو هغه به د درے ښځو دپاره د شپو نمبر ږدی۔ دارنګه که ټولو ښځو له اختیار ورکوی چه دا تاسو ټولو له درکړم اوکه په تاسو کښے په دے باره کښے خسرے واچوم، او د چا خسرے چه راووتهٔ نو دا شپه به د هغے وی۔ [المغني: ۱۰/ ٤٣٦، الشرح الممتع: ۱۲/ ٤٣٦]

(٤) کـه ښـځې سره دا خطره وه چه خاوند به دے له طلاق ورکړی، نو هغې دپاره جائز دی چـه خپـل خاونـد سـره د خپلې شپې د حق یا د نفقې او خرچې وغیره د حق ساقطولو دپاره هـغـهٔ سره صلح وکړی. په دے باندے دا آیتِ کریمه دلیل دے : ﴿وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا﴾ ددے آیتِ کریمه په باره کښے د عائشے رضی الله عنها دا قـول راغـلے چه دا د هغه چا په باره کښے دے چه ((یو سړی سره ښځه وی او هغـه ورسره پوره مینه محبت نهٔ کوی او نهٔ ورسره ژوند تیرول غواړی، د هغهٔ اراده وی چـه د هغې نه جدائی اختیار کړی، نو ښځه ورته ووائی : تهٔ زما د هر څهٔ نه خلاص یې، نو دا آیت ددے په باره کښے دے)) [بخاری: ٤٦٠١، مسلم: ٣٠٢١]. والله تعالیٰ اعلم.

3231 (3) - وَعَنْهَا رضی الله عنها، اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم كَانَ يَسْأَلُ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ : أَيْنَ أَنَا غَدًا؟ - يُرِيْـدُ : يَـوْمَ عَـائِشَةَ - فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ يَكُوْنُ حَيْثُ شَاءَ، فَكَانَ فِيْ بَيْتِ عَائِشَةَ حَتّٰى مَاتَ عِنْدَهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : عائشے رضی الله عنها نـه روایت دے چـه رسـول الله صلی الله علیه وسلم به په هغه بیماریٔ کښے چه په هـغـې کښـے وفـات شـو، دا پوښتنه کوله چه زهٔ به صباله چرته یم؟ نبی صلی الله علیه وسلم به د عائشے رضی الله عنها ورځ غـوښـتـله. نو باقی بیبیانو ورته اجازت وکړو چه کوم ځائے غواړی هلته دِے پاتے شـی. نو نبی صلی الله علیه وسلم د عائشے رضی الله عنها پـه کـوټـه کښـے پاتے شو تردے چه د هغې کره وفات شو. (بخاریؒ).

تشریح : عائشه رضی الله عنها فـرمـائی: ((نـو نـبـی صلی الله علیه وسلم په هغه ورځ ماکره مړ شو چه په هغې کښے به ماته راتللو، نو الله په داسے حال کښے واخستهٔ چه د هغهٔ سر (مبارك) زما د سینے او مریٔ ترمینځه وو، او د هغهٔ لاړے زما د لاړو سره ګډے شوے)) [بخاری].

[أَيْنَ أَنَا غَدًا] د بـخـاریؒ پـه روایت کښـے دا دوه ځله راغلی، او د مسلمؒ په روایت کښـے دا الفاظ دی : [أَيْـنَ أَنَا الْيَوْمَ، أَيْنَ أَنَا غَدًا] (نـن بـه زهٔ چـاکره یم؟ صبا به چاکره یم؟) [يُرِيْدُ يَوْمَ عَائِشَةَ] پـه دے تپوس کولو کښے غرض داوو چه بیبیانے ورته د عائشے رضی الله عنها په کور کښے د پاتے کیـدو اجازه وکـړی، لـکـه ((هغوئ ورتـه اجازه وکړه)) الفاظ په دے دلیل دے. [شرح الطیبی: ۳۰۱/۱] [فَأَذِنَ لَهُ أَزْوَاجُهُ]

د ابن سعدؒ په روایت کښے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم خپلو بیبیانو نه اجازت وغوښتو چه زهٔ به

د بیمارئ ورځې شپې عائشې رضی اللہ عنہا کره تیرے کړم؟، نو هغوئ ورته اجازت وکړو. [طبقات ابن سعد : ۲/ ۲۳۱، إسناده صحيح].

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه بیمار به هم د خپلو ښځو ترمینځه د شپې نمبر ږدی، ددے د پرېښودو په باره کښې مرض او بیماری عذر نۀ دے. ځکه غرض په دے سره شپه تیرول دی، یواځې جماع نۀ وی. بلکه داچه : نبی کریم ﷺ بیمار شو او بیماری ئے سخته هم شوه او ددے باوجود به ئے شپه ویشله، تردے چه د هغوئ نه به (د يو احتمال مطابق) نمبر والا بی بی هیره شوه او پوښتنه به ئے کوله چه : زۀ به صبا له چاکره یم. د ابوداوُدؔ او احمدؔ په روایت کښې دی، عائشه رضی اللہ عنہا فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل: «زۀ وس بیمار شوے یم او زۀ نشم کولے چه په تاسو وګرځم، نو تاسو ماته اجازه وکړئ چه زۀ د عائشې رضی اللہ عنہا کره یم» [ابوداود: ۲٦۳۷، احمد : ۳٤/٤۳، وسنده حسن] او دا کار په نبی ﷺ واجب نۀ وو لیکن هغۀ به ډیر احتیاط کولو او د بیبیانو د زړۀ خیال به ئے ساتلو.

(۲) که د خاوند بیماری سخته شوه او د ګرځیدو نه عاجزه شو، خاوند به ښځو نه یوے کره د دیره کیدو اجازت وغواړی. او که هغوئ اجازت ورنۀ کړو، نو بیا به د هغوئ ترمینځه قرعه اندازی وکړی او د چا قرعه چه راووته، هغے کره به وی، ځکه قرعه د عدل او انصاف نښه ده، او په دے سره د زړونو خیرے ختمیږی. دا هر څۀ د شریعت کمال او د ښځو ترمینځه بهترین ژوند تیرول دی.

(۳) [فَمَاتَ] نه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ مړ شوے دے، او په دے باندے د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم او سلفو رحمہم اللہ اجماع ده. نو څوک چه د «حیاۃ النبی» عقیده ساتی، چه نبی ﷺ په قبر کښې د دنیوی ژوند پشان ژوندے دے، هغه ګمراه او اَجهل دے. والله تعالیٰ اعلم.

سفر ته د بوتلو دپاره د بیبیانو ترمینځ قرعه کول پکار دی

3232 (4) - وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا أَقْرَعَ بَيْنَ نِسَائِهِ، فَأَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا، خَرَجَ بِهَا مَعَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عائشې رضی اللہ عنہا نه روایت دے، رسول الله ﷺ به چه کله د سفر اراده کوله نو خپلو بیبیانو ترمینځه به ئے خسنړے واچولو، نو د کومے بی بی خسنړے چه به راوخاتۀ

هغه به ئے ځان سره ووېستله۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح : فوائد (۱) حدیث نه ثابته شوه چه کله خاوند د سفر اراده وکړی او په خپلو ښځو کښې يوه ښځه د ځان سره بوتلل غواړی نو د هغوئ ترمينځه به قرعه اندازی وکړی (خسنړے به واچوی) او د چا قرعه چه راووتۀ هغه به ځان سره بوځی، ځکه که قرعے نه بغير يوه ښځه بوځی نو په دے کښے د ښځو ترمينځه فرق کول راځی او دا جائز نۀ دی۔ ❀ او هر چه د نبی کریم ﷺ په باره کښے قرعه اندازی ده نو کوم اهلِ علم چه وائی چه په نبی ﷺ بانـدے هم قَسُم کول واجب وو، نو د هغوئ په نيز خو خبره واضحه ده، او څوك چه وائی : په هغوئ قَسُم واجب نۀ وو، نو هغوی وائی: دا قرعه اندازی د نبی کریم ﷺ د ښائسته اخلاقو او ښکلے ژوند تيرولو او د خپل اهل خوشحالولو دپاره وو۔

❀ د قرعه اندازئ د وجوب قول د اکثرو علماؤ دے۔ او دا حديث ئے دليل دے۔ د امام مالكؒ په نيز خاوند په غير د قرعے نه هم ښځه ځان سره سفر ته ويستلے شی ځکه کله به يوه ښځه د سفر دپاره مناسبه وی او هغه بله به د کور دپاره۔

او دوئ ددے حديث نه داسے جواب کوی چه دا فعل د نبی ﷺ دے او فعل کښے وجوب نۀ وی ترڅو چه امر ورسره ملگرے نشی۔ خو حقه خبره داده چه قرعه اچول واجب دی، ځکه چه يو خو په رسول الله ﷺ بانـدے قسم واجب نۀ وو او بيا ئے هم د سفر دپاره د بيبيانو ترمينځ قرعه اندازی کړيده۔

بلـه دا چه د رسول الله ﷺ ددے عمل سره د زنانو ترمينځ د عدل امرونه ددے تائيد کوی۔ نو دا مذهب د دليل په لحاظ قوی دے۔ لهذا په غير د قرعے نه يوه ښځه ځان سره سفر ته بوتلل جائز نۀ دی، البته که نورے ښځے اجازت وکړی نو بيا انسان خپل حق خپله غوره کولے شی۔ مگر دا قرعه په هغه وخت وی چه ټولے ښځے د سفر مستعدے وی او که په بعضو کښے د سفر استعداد نۀ وی بيا قرعه نشته۔ او د سفر دپاره د ښځو ترمينځ قرعه د حنابله او شوافعو او مالکيه ؤ په نيز واجب ده، او د احنافو په نيز مستحب ده۔ مگر قول ئے ددے حديث په وجه ضعيف دے۔

(۳) کومه ښځه ئے چه ځان سره په سفر بوتله او بيا راغله نو د نورو ښځو دپاره د سفر ددے ورځو شپو قضائی راګرځول ضروری نۀ دی، بلکه ددے نه پس به د سَره نمبر ږدی،

ځکه عائشے ﷞ نـه دا نهٔ دی نقل چه نبی ﷺ د سفر نه د راتگ نه پس د نورو دپاره ددے شپو ورځو قضائی راګرځولے وی او هغوئ سره ئے هم دومره شپے تیرے کړے وی څومره ئے چه مسافرے سره تیرے کړے دی۔ بله دا چه : دا مسافره ښځه اګرکه د خاوند سره په سفر کښے ملګرے وه خو بل طرفته د سفر مشقت ئے هم برداشت کړے او هغه راحت ئے د لاسه ورکړے کوم چه په حضر کښے ښځے ته ملاویږی، نو که ددے قضائی راوړل لازم شی نو په دے سره د مسافرے حق وهلے کیږی۔

(٤) **مسئله** : ددے حدیث نه دا مسئله هم ثابتیږی چه په شریعت کښے د حقونو اثبات په قرعه اندازئ سره هم کیږی۔ او په ډیرو احادیثو کښے په قرعے سره فیصله شویده۔ او همدا د جمهورو اهل علمو قول دے۔ په دے باندے کتاب او سنت دواړه دلیلونه دی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ﴾ [آل عمران: ٤٤] او د یونس ﷤ په باره کښے راځی : ﴿فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ﴾ [صافات: ١٤١] (نو خسنړے ئے واچولو نو دے د مغلوبو نه حساب شو)

امام بخاریؒ باب ایښے : [بَابُ الْقُرْعَةِ فِي الْمُشْكِلَاتِ] او په دے باب کښے ئے د پورتنو دوه آیتونو نه علاوه ګڼړ حدیثونه راوړی۔ د هغے نه یو حدیث الباب،

او بل د ابو هریره ﷛ دا حدیث دے : [لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ، ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا] [بخاری: ٦١٥، مسلم: ٤٣٧] (که خلك د اذان او صف اول په فضیلت پوهه شی نو خامخا به پدے باندے خسنړے واچوی)

او قرعه د صحابه کرامو ﷡ نه هم ثابته ده۔ امام بخاریؒ فرمائی : [وَيُذْكَرُ أَنَّ أَقْوَامًا اِخْتَلَفُوا فِي الْأَذَانِ فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمْ سَعْدٌ] ((ذکر شویدی چه څه کسان په اذان کښے مختلف شو (چه څوك به اذان کوی؟) نو سعد ﷛ د دوئ ترمینځه خسنړے واچولو))

[فتح الباری: ٩٦/٢ والبخاری تحت باب ٩- باب الاستهام فی الأذان رقم : ٦١٤]

لهذا کله چه نور دلائل موجود نهٔ وی نو په قرعه باندے به عمل کیږی۔

احنافو د قرعے نه انکار کړے او دائے وئیلی دی چه دے له ځکه اعتبار نشته چه دا د جوارئ صورت دے، او احکام شرعیه پدے باندے نهٔ بناء کیږی لیکن دا خبره د دوئ ددے دلائلو په رُو سره خطاء او د علم نه لرے ده۔ لکه ددے تفصیل په زاد المعاد او اعلام الموقعین د ابن قیمؒ کښے وګوره۔ وانظر[الموسوعة الفقهیة :٤٢٠/٢، والبحر المحیط فی

أصول الفقه : ٦/٢٦٠]

3233 (5) – وَعَنْ أَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : مِنَ السُّنَّةِ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا، وَقَسَمَ، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا، ثُمَّ قَسَمَ . قَالَ أَبُو قِلَابَةَ : وَلَوْ شِئْتُ لَقُلْتُ: إِنَّ أَنَسًا رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو قلابة د انس ﷺ نه روایت کوی چه هغهٔ وفرمایل : سُنت داده چه کله یو سړے پیغله جینئ د ښځے دپاسه راوادهٔ کړی نو دے (نوے ښځے) سره به اووهٔ شپے تیروی او ددے نه پس به نمبر ږدی۔ او کله چه کونډه ښځه وکړی نو هغے سره به درے شپے پاتے کیږی او ددے نه پس به بیا تقسیم کوی۔ ابو قلابة وائی : که زهٔ وغواړم داسے وئیلے شم چه انس ﷺ دا حدیث نبی کریم ﷺ ته پورته کړے۔ (یعنی د نبی ﷺ وینا ده) (بخاریؒ، مسلمؒ)

تشریح : [مِنَ السُّنَّةِ] دا لفظ به یا صحابی استعمالوی یا تابعی، که صحابی ئے استعمال کړی نو دا به د مرفوع حدیث په حکم کښے وی، ځکه سنت نه مراد د نبی کریم ﷺ سنت دے۔ دا وجه ده ابو قلابة – د انس ﷺ شاګرد – فرمائی : که زما خوښه شی نو داسے به ووایم چه انس ﷺ دا حدیث نبی ﷺ ته رسولے۔ اوکه زهٔ دا خبره وکړم نو زهٔ به رشتینے یم۔ دومره خبره ده چه د انس ﷺ نه کوم لفظ ما آوریدلے هغه محفوظ ساتل بهتره خبره ده۔ او د انس ﷺ نه دا حدیث یو جماعت نقل کړے، هغوئ په دے کښے داسے وئیلی : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ. [دارمی: ٢/١٤٤، دارقطنی: ٣/٢٨٣، السنن الکبری: ٧/٣٠١]

او مخکښے په کتاب الحج کښے د سالم ﷺ قول تیر شو : ابن شهاب الزهریؒ سالم ﷺ ته وویل : آیا رسول الله ﷺ په عرفات کښے ماسپښین مونځ وختی کړے؟ نو سالم وفرمایل : [وَهَلْ تَتَّبِعُوْنَ فِيْ ذٰلِكَ إِلَّا سُنَّتَهُ]۔ تاسو خو پدے باره کښے صرف د نبی علیه السلام په تابعداریٔ باندے مکلف یئ۔ یعنی سنت چه مطلق ذکر شی نو د نبی علیه السلام سنت به مراد وی۔ پدے کښے ابن حزمؒ خلاف کړے، هغه وائی چه (من السنة) لفظ به د صحابی خپل قول وی۔ [سَبْعًا] اووهٔ شپے۔ ځکه ورځے د شپو تابع دی۔ [ثُمَّ قَسَمَ] بیا به په خپلو بیبیانو یوه یوه شپه یا ددے نه زیاتے شپے د جوړ تور مطابق ګرځی۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه کله څوك پیغلے جینئ سره وادهٔ وکړی او د هغهٔ

بـله ښځه وي نو پيغلې سره به اووۀ شپې تيروي، اوكه كونډې سره وادۀ وكړي نو هغې سره به درې شپې تيروي، دے نه پس به په دواړو صورتونو كښې د نورو ښځو ترمينځه تقسيم كـوي۔ ځـكـه دا اُووۀ او درې شپې د وادۀ په وجه د نوې ښځه حق دے۔ او دا هغه معروف دے چـه الله تـعالىٰ په دے امر فرمائيلے : ﴿وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [النساء: ۱۹] (او ښځو سره په ښۀ شان ژوند تيروئ)۔ او په دے حديث كښې چه دا راغلي چه د پيغلې سره به اووۀ او د كونډې سرۀ به درې شپې تيروي، دا د جمهورو علماؤ قول دے۔

(۲) په دے كښې **حكمت** دادے چه پيـغـلـه جينۍ ديته حاجت لري چه د هغې وحشت ختـم شي ځـكـه ے تجربے وي او اول ځل ئے وي، نو ددے دپاره د اُوو شپو ضرورت دے چه خاونـد ورسره پاتے شي۔ او د كونډے ښځے د خاوند سره تجربه پاتے شوے وي نو د هغې دومره شپو ته ضرورت نشته۔ بله دا چه : په پيغله كښې د كونډے په نسبت خاوند زيات رغبت لري، نو شارع دۀ له دا موده ددے دپاره وركړه چه خپل رغبت د هغې نه پوره كړي۔ [الشرح الممتع: ۱۲/ ٤۲۸] (۱) او دا د امام مالكؒ، شافعيؒ او احمدؒ قول دے۔

(۲) احناف وائي چه د نوے او زړے ترمينځه په شپه تيرولو كښې هيڅ فرق نشتـه۔ كه خاونـد د نـوے سـره څومره شپے پاتے شي نو د هغې په اندازه به نورو سره هم پاتے كيږي۔ ځـكـه چه دے كښې ے عدلي راځي۔ (۳) **قول**) : سعـيـد بن المسيبؒ، اوزاعيؒ او بعضِ نـورو عـلـماؤ قول دادے چه : د پيغلې سره به درے ورځے او د كونډے سره به دوه ورځے پاتے كيږي۔ او دليل ئے د عائشے ؓ حديث دے، نبي ﷺ فرمائي: ((كله چه د چا نورے ښځے وي او پيـغـلـے سـره نـكـاح وكـړي نـو د هـغـے درے ورځے حق دے، او د كُنډے دوه ورځے)) [دارقطني: ۳/ ۲۸٤، وسنده ضعيف] ليـكـن دا حديث سخت ضعيف دے، ددے په سند كښې محمد بن عمر الواقدي متروك راوي دے۔ [فتح الباري: ۹/ ۳۱۵]

صحيح قول په دے كښے اولـنے دے، ځـكـه د هغې دليل قوي دے۔ او هر چه د احنافو قـول دے نـو دا د نـص په مـقـابـلـه كښې قياس چلول دي۔ ځكه چه نبي ﷺ چه كومه قـاعـده بيـان كـړې وي هغه بعينهٖ عدل وي۔ نو د پيغلې سره اُوه شپے او د كُنډے سره درے شپے په اول كښے پاتے كيـدل عيـن عدل دے، د الله تعالىٰ او د هغۀ د رسول نه به ځان نۀ مخكښے كوو۔ لهذا د احنافو قول مردود دے۔

او مـقـلـدين وائي چه مونږ په منصوصي مسائلو كښې تقليد نۀ كوو، حال دا چه دلته

ئے په منصوصي مسئله کښې تقلید کړے۔
(۳) که کُنډې ښځے دا وغوښتله چه د هغے سره دې اُووهٔ شپے تیرے کړے شي نو خاوند به هغه مني، د هغے د مزاج او شعور لحاظ به ساتي خو بیا د هغے د درے ورځو حق ساقط شو۔ که خاوند هغے سره اووهٔ شپے تیرے کړے نو نورو ښځو سره به هم اُووهٔ شپے تیروي۔ ځکه چه دا هم د نورو ثیباتو په شان شوه۔ او په دے باندے دلیل روستنے راتلونکے حدیث دے۔
او بعض اهل علم (د شوافعوؒ نه) وائي چه درے ورځے ئے خپل حق دے، او باقي څلور ورځے ئے اضافي واخستے نو نورو ښځو له به ددغه باقي ورځو په شان نمبر ورکوي۔ (المجموع شرح المهذب للنوويؒ) لیکن دا قول د حدیث د ظاهر خلاف دے۔
او دا شپے درے وي او که اُوه خو متواترے به ئے تیره وي، که په مینځ کښے ناغه کوی نو دا به درے او اوه نهٔ حسابیږي۔ (فتح الباري)
دارنګه شپو تیره ولو له اعتبار دے نهٔ ورځو له۔
(٤) او حدیث نه معلومه شوه چه پیغلے سره د اوو شپو او کُنډې سره د درے شپو تیرولو نه پس به د سر نه تقسیم شروع کوی، او د نورو ښځو دپاره به د اوو یا درے شپو قضائي نهٔ راوړي ځکه دا ددے نوے ښځے حق دے چه شریعت دے له د نوی وادهٔ په وجه ورکړے۔ (۵) اووهٔ شپے به د پیغلے سره تیروي او درے د کُنډې سره، لیکن په دے اُوو یا درے شپو کښې دننه دننه د نورو ښځو سره د ورځے ملاقات کولے شي او د هغوئ خیریت تپوسلے شي۔ دارنګه د کومے ښځے چه نمبر وی د هغے نه سِوئ بلے ښځے سره د ورځے په اوقاتو کښے ملاقات کولے شي او د هغوئ د تعلیم او د ضرورت حال احوال تپوسلے شي، نبي علیه السلام به غالباً د مازیګر نه روستو په ټولو بیبیانو ګرزیدو۔ صرف دومره ده چه د چا نمبر وی نو د ورځے به هغه بلے سره جماع نهٔ کوی ځکه دا د نمبر والا حق دے۔
❁ او معلومه شوه چه که څوك د شپے څوکیدار وی نو د هغهٔ په حق کښے شپه د ورځے او ورځ د شپے حکم لري۔ والله تعالیٰ اعلم.
3234 (6) – وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تَزَوَّجَ أُمَّ سَلَمَةَ وَأَصْبَحَتْ عِنْدَهُ قَالَ لَهَا : " **لَيْسَ بِكِ عَلَى أَهْلِكِ هَوَانٌ، إِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ**

عِنْدَكِ وَسَبَّعْتُ عِنْدَهُنَّ وَإِنْ شِئْتِ ثَلَّثْتُ عِنْدَكِ وَدُرْتُ ". قَالَتْ : ثَلِّثْ . وَفِي رِوَايَةٍ : أَنَّهُ قَالَ لَهَا :" لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ابو بکر بن عبد الرحمن ﷫ فرمائي : رسول الله ﷺ چه هر کله ام سلمه ﷞ سره واده وکړو او هغې د هغه سره صبا کړو نو ورته ئې وفرمایل : بیشکه ستا د اهل په نیز ستا مقام کم نه دے، که ته غواړې نو اووه شپې به تاسره پاتې شم، او اُوه شپې به د نورو ښځو سره پاتې کیږم او که ته غواړې چه تا سره درې شپې پاتې شم او (بیا به) ګرځم په نورو بیبیانو (درې درې ورځې) نو هغې ووېل : درې شپې تیرې کړه، او په یو بل روایت کښې دي : نبي ﷺ هغې ته وفرمایل : د پیغلې جینۍ دپاره اُوه شپې دي او د کُنډې دپاره درې دي. (مسلمؒ).

تشریح : [لَيْسَ بِكِ] أَيْ: لَايَتَعَلَّقُ بِكِ وَلَايَقَعُ بِكِ (په تا باندې نه واقع کیږي او نه درپورې نښلي). [عَلَى أَهْلِكِ] اهل نه مراد خپله رسول الله ﷺ دے، ځکه خاوند د ښځې اهل وي او ښځه د خاوند اهل وي. [هَوَانٌ] ذلت او سپکوالے. او معنیٰ داده : (أ) چه ما سره به تاته هیڅ ذلت نه در رسي او ستا هیڅ حق به نه ضائع کیږي بلکه ته به ئې پوره پوره حاصلوې. یعنی ما تاله د درې ورځو مختصره موده په دې وجه نه ده درکړې چه ګنې ته زما په نظر کښې سپکه ئې، او ستا په ذات کښې زما دلچسپي او رغبت نشته بلکه وجه صرف داده چه شرعي حکم داسې دے. (ب) یا په [بِكِ] کښې باء سببیه ده او د اهل نه مراد د هغې خپله قبیله ده، او معنیٰ داده : چه ستا په وجه به ستا خاندان ته هیڅ ذلت او سپکاوے نه رسي. په دې خبره کښې غرض هغې له تسلي ورکول دي چه ته به غمه وسیږه که زه تا سره لږې شپې تیرې کړم که ډیرې خو ته ماته ګرانه ئې.

❁ دا خبره ئې ورته ځکه وکړه چه د مسلمؒ په روایت کښې راځي چه : رسول الله ﷺ کله ام سلمه ﷞ په نکاح واخسته او د هغې سره ئې دخول وکړو، او بیا ئې اراده وکړه چه د هغې د خوا نه راووځي، نو هغې د نبي ﷺ جامه ونیوه، نو نبي ﷺ ورته وفرمایل :

[إِنْ شِئْتِ زِدْتُكِ وَحَاسَبْتُكِ بِهِ، لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ]

(که ستا زړه غواړي نو (زیاتې ورځې به درسره تیرې کړم او ددې ورځو حساب به لږوم، ځکه حکم دادے چه د پیغلې دپاره د اوو ورځو میلمستیا ده او د کُنډې دپاره درې ورځې)

نـو کـه کُنډې دپاره اووۀ ورځې ميلمستيا وکړې شي نو بيا به همدا اووۀ ورځې نورو ښځو دپاره هم ورکـړې کـيږي. اوکه صرف درې ورځې ميلمستيائې ورکړه نو بيا د نورو ښځو دپاره ددې قضائي راوړل نشته بلکه دا د هغې ناوې حق دې.

حـنـابـلـهٔ وئيلي دي چه ظاهر د حديث نه معلوميږي چه دا اختيار هرې کنډې ښځې دپاره ورکـول مستحب دي، يعـنـي خـاوند بـه ورتـه وائي چـه ستا حق خو درې شپې ميلمستيا دې ليکن که تهٔ اُوه شپې غواړې هغه به هم تيرې کړم ليکن بيا به زهٔ نورو له هم دغـه شـان اُوه شپې نـمبر ورکـوم. (المغني لابن قدامة : ۳۱۹/۷) او همدا ظاهر د حديث دې.

[سَبَّعْـتُ لَكِ] أَىْ : أَقَـمْتُ عِنْدَكِ سَبْعًا (زهٔ بـه تـا سره اووهٔ شپې تيرې کړم) د مسلمٔ په روايت کښې دي : [ثَـلَّثْـتُ]، ثُمَّ دُرْتُ. قُلْتُ: ثَلِّثْ] نـو درې شپې بـه ايسار شم او بيا به په خپلـو نـورو بيبيانو گرځم. هغه وائي: ما عرض وکړو : درې ورځې ايسار شه). وجه داده چـه کـه اووۀ ورځې ايسار شي نو په دې کښې د پرله پسې والي فضيلت دې او په دې کښې پـوره آمـوختـه کـيـدل راځي ليـکـن همدا اووۀ ورځې به بيا نورو له هم ورکوى نو بيا چه ددې نـمبر راځي نـو ډير وخت بـه وتلې وي. اوکه درې ورځې ورسره پاتې شي نو دا اگرکه کمې دي ليکن د نورو بيبيانو دپاره به ددې ورځو قضائي نهٔ راوړل کيږي او که نبي ﷺ د هغوئ سره دا درې ورځې نهٔ تيروى نو بيا به زر هغې ته نبي ﷺ راواپس شي. دې وجې نه ام سلمې ﷞ دا درې ورځې اختيار کړې چه بيا زر ورته راواپس شي ځکه نبي ﷺ به د نورو بيبيانو سره يوه يوه شپه تيروله.

فوائد : (۱) حديث نه معلومه شوه چه خپلې بى بى سره نرمى کول پکار دي او هغې تـه دا ښـودل پکار دي چه په کوم شئ کښې د هغې حق شته او په کوم کښې ئې حق نشته، دې دپاره چـه پـه زړونو کښې څهٔ خيرې پاتې نشي او خاطر جمع وي. نو څوك چه د يوې نـه زيـاتـې ښـځې لـرى هـغـهٔ لـه پـکار دى چه هغوئ ته د ژوند تيرولو او د نمبر کيښودلو احـکـام وروښائي، دې دپاره چه هغه په دې باره کښې د الله حکم وپيژني او په خپل خاوند دا تور نهٔ لگوى چه گنې هغهٔ زما حق وهلې او په مينځ کښې به هغه ددې نه برى وى.

(۲) او حـديـث نـه مـعلومه شوه چه خاوند به درې ورځې تيرولو نه پس کُنډې ناوې له اختيار ورکـوى، چـه تـا سـره اووۀ شپې پـوره تيـرې کړم اوکه صرف همدا درې؟ که هغې

همدا درې شپې غوره کړې نو خاوند به د معمول مطابق نورو ښځو سره یوه یوه شپه تیره کړي او بیا به دیته راواپس شي او دې سره به هم یوه شپه تیروي. اوکه هغې وویل چه ما سره اووهٔ شپې پوره کړه، نو بیا د درې ورځو چه کومه میلمستیا وه هغه ساقطه شوه، او همدغه اووهٔ ورځې به نورو ښځو سره هم تیروي. ځکه هر کله چه دې زیاتی برخه طلب کړه نو د درې شپو میلمستیا ئې خپله ختمه کړه.

(۳) او حدیث نه د نبی کریم ﷺ ښائسته اخلاق معلوم شو چه خپلو بیبیانو سره ئې څومره په نرمو خبرو سره سلوك کولو، هغې ته ئې د شرعی حکم بیانولو نه مخکښې د ښائسته تمهید په توګه وفرمایل چه : ددې مختصرو (درې) شپو تیرولو نه دِې په ذهن کښې دا مقصد رانشي چه ګنې تهٔ ماته سپکه ښکارې. واللّٰه تعالیٰ اعلم.

الفصل الثانی

خاوند د خپلو ټولو بیبیانو سره په یو شان محبت کولو مجبور نهٔ دې

3235 (7) — عَنْ عَائِشَةَ رضی اللہ عنہا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهٖ فَيَعْدِلُ وَيَقُوْلُ :"**اَللّٰهُمَّ هٰذَا قَسْمِيْ فِيْمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِيْ فِيْمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : عائشه رضی اللہ عنہا نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به د خپلو بیبیانو دپاره نمبرونه تقسیمول او انصاف نه به ئې کار اخستهٔ او فرمایل به ئې : اې الله ! دا زما تقسیم دې په هغه شئ کښې چه هغه زما په وس کښې دې، نو تهٔ ما په هغه شئ مهٔ ملامته کوه چه هغه ستا په اختیار کښې دې او زما په وس کښې نهٔ دې. (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : [يَقْسِمُ] ویش به ئې کولو، نمبر به ئې کېښودهٔ. [فَيَعْدِلُ] په نمبر کېښودو کښې به ئې برابری کوله. [هٰذَا] ضمیر عدل ته راجع دې کوم چه د (يَعْدِلُ) نه معلوم دې.

[فِيْمَا أَمْلِكُ] په هغه څهٔ کښې چه زهٔ د هغې وس لرم چه هغه شپه تیرول او استوګنه او نفقه ورکول دی. [فَلَا تَلُمْنِيْ] تهٔ ما مهٔ رانیسه، ما مهٔ ملامته کوه. [وَلَا أَمْلِكُ] او زهٔ د هغې اختیارمن نهٔ یم، چه هغه مینه محبت دې. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ﴾ [النساء : ۱۲۹] (او تاسو که هر څومره وغواړئ خو هیڅ

کله د ښځو ترمینځه برابرئ نشئ کولے) ابن عباس ﷺ فرمائی : (په محبت او جماع کښے) [تفسیر طبری : ۲۵٦/۹] مطلب دا چه : د زړهٔ محبت د ټولو ښځو ترمینځه نهٔ تقسیمیږی، د هغے ځانله اسباب وی لکه یوه ښځه د ښهٔ خوئی خاونده وی، ښائسته وی، ځوانه وی، خاوند ښهٔ سنبالوی او د هغهٔ د جذباتو قدر کوی او داسے نور صفات چه ددے په وجه خاوند هغے سره زیاته مینه کوی۔ نو په دے انسان نهٔ رانیول کیږی۔

خلاصه دا چه : دلته دوه قِسمه شیان دی : (أ) اختیاری : لکه شپه تیرول، خرچه او استوګنه ورکول۔ (ب) غیر اختیاری : لکه د زړهٔ مینه محبت۔ نو قسَم (برابری، نمبر اېښودل) په اولنی قِسم کښے واجب دے نهٔ په روستنی کښے ځکه دا د انسان په وس کښے نهٔ وی۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے : ﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ [البقرة : ۲۸۵]

فوائد الحدیث : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه د نبی کریم ﷺ په اختیار کښے چه کوم شے وو، په هغے کښے به ئے د خپلو بیبیانو ترمینځه عدل او برابرے کولو او د هغوئ نمبر به ئے مقررولو۔ او د نبی کریم ﷺ په ذات کښے د امت دپاره بهترینه نمونه پرته ده، لهذا د خاوند دپاره د خپلو ښځو ترمینځه نمبر اېښودل او د هغوئ ترمینځه د برابرئ سلوك كول واجب او یوے ښځے ته مائله کیدل ناجائز دی، او دا د ژوند تیرولو، زړونو ساتلو او د جګړو او لانجو ختمولو بهترین حل دے۔

(۲) او حدیث دلیل دے چه په مینه محبت کښے د ښځو ترمینځه برابروالے کول واجب نهٔ دی ځکه دا غیر اختیاری شے دے۔ د نبی کریم ﷺ په بیبیانو کښے هغوئ ته د ټولو نه زیات محبوبه بی بی، عائشه ؓ وه۔

❁ ددے نه دا هم معلومه شوه چه د ښځو ترمینځه په «جماع» کښے برابری واجب نهٔ ده، ځکه دا د مینے محبت او د زړهٔ د میلان نتیجه ده او دا د الله تعالیٰ په اختیار کښے دے۔ او دا د جمهورو قول دے۔ [المغنی: ۲٤٥/۱۰، زاد المعاد : ۱۵۱/۵]

دویم قول دا دے چه پدے کښے تفصیل دے، هغه دا چه : که خاوند جماع په دے وجه پریښے وه چه یوے ښځے سره ئے د زړهٔ مینه نهٔ وه او ددے په وجه ئے انتشار نهٔ کیدهٔ، زړهٔ ئے نهٔ راوچتیدهٔ نو دا بیا معذور دے۔ اوکه دغه ښځے ته ئے د کوروالی زړهٔ کیدهٔ خو د هغے بنے ته ئے میلان وکړو او د هغے دپاره ئے ځان ډك ساتهٔ نو دا بیا معذور نهٔ دے بلکه په دهٔ واجب دی چه په دے کښے هم د عدل نه کار اخلی۔

(۳) او حديث نه معلومه شوه چه په دوه ښځو کښې په اختياري شئ کښې يو ے ښځے ته مائله کيدل حرام دي، لکه شپه تيرول، خوراك څکاك او جامه ورکول. الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ ﴾ [النساء : ۱۲۹] يعني که تاسو يو ے ښځے ته په هغه څه کښې ځينے ميلان وکړو چه هغه ستاسو په اختيار کښې نۀ دے لکه د زړۀ مينه محبت، نو تاسو پوره ميلان په هغه څه کښې مۀ کوئ چه هغه ستاسو په اختيار کښې وي چه هغه نمبر اينبودل او نفقه او استوګنه ورکول دي : ﴿ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ﴾ [النساء: ۱۲۹] چه هغه بله تاسو د زوړندے پشان پريدئ چه هغه نۀ د خاوند والا پشان ښځه وي او نۀ طلاقه شو ے وي بلکه ددے دواړو ترمينځه پريشانه وسي. [تفسير طبری: ۹/ ۲۸٤]

درجة الحديث :[إسناده جيد رجاله ثقات إلا انه اختلف فى وصله وإرساله والمرسل هو الصواب] أبوداود : ۲۱۳٤، ترمذی : ۱۱٤۰، واعله بالإرسال، ابن ماجه : ۱۹۷۱، نسائی : ٦۳/۷، ويشهد للقسم الأول منه حديث عائشة عند أبي داود : ۲۱۳۵، والحاكم (۲/۱۸٦ والبيهقی : ۷/۷٤ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يُفَضِّلُ بَعْضَنَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْقَسْمِ ...... وَسَنَدُهُ حَسَنٌ وَصَحَّحَهُ الْحَاكِمُ وَالذَّهَبِيُّ.

د خپلو بيبيانو ترمينځ د عدل او انصاف نۀ کولو په باره کښے وعيد

3236 (8) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: " **إِذَا كَانَتْ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهُ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : او ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه نبي ﷺ وفرمايل : کله چه د يو سړی سره دوه ښځے وي او هغه ددے دواړو نه يو ے ته مائله شو نو د قيامت په ورځ به په داسے حال کښے راشي چه يو اړخ به ئے پريوتے (يعني فالج وهلے) وي. (ترمذيؒ، ابوداوُدؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : [شِقُّهُ] د شين په زير سره : طرف او نيمائي برخه. [وَشِقُّهُ سَاقِطٌ] ددۀ اړخ به پريوتے وي، يعني د قيامت په ورځ به ئے خلك داسے ويني چه کوږ به روان وي او نيم طرف به ئے پريوتے وي. او دا به ددۀ زياتي عذاب وي.

فوائد : (۱) حديث نه ثابته شوه چه د ښځو ترمينځه عدل او برابرے کول واجب دي

او يوے ښځے ته مائله كيدل حرام دي، او څوك چه دا كار وكړي نو د قيامت په ورځ به ئے دا حشر وي. او ظاهره خبره ده چه وعيد په هغه كار باندے راځي چه هغه حرام وي يا په هغے كښے واجب پريښودل شوے وي، نو دے نه معلومه شوه چه ښځو ترمينځه - په هغه شئ كښے چه په هغے انسان قادر وي- عدل واجب دے.

(۲) حديث نه معلومه شوه چه ښځو ترمينځه په نفقه او جامو كښے عدل او برابرے كول واجب دي، او دا د امام ابوحنيفهؒ او شيخ الاسلام ابن تيميهؒ قول دے. ځكه په دے حديث كښے او په آيت كښے ﴿فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ﴾ ميلان مطلق دے، هر شئ ته شامل دے، برابره خبره ده كه په نفقه كښے وي او كه په جامو يا استوګنه يا بل هغه شئ كښے وي چه په هغے باندے د خاوند وس رسي. لكه دا تفسير ددے آيت امام مجاهدؒ كړے. [جامع البيان للطبرى (تفسير الطبرى : ٥٦٦/٧)]

دويم قول دادے : چه په خاوند باندے په نفقه او جامو كښے برابرے واجب نهٔ دے، هر كله چه هغوئ تهٔ لو ته ئے خپل واجب حق رسولے وي. او دا د حنابلهؒ، شافعيهؒ او مالكيهؒ قول دے. ځكه د دوئ ترمينځه په نفقه كښے برابرے كول ګران دي.

خو اول قول **حق** دے. چه په خاوند باندے د ښځو ترمينځه په هر شئ كښے عدل واجب دے كوم چه ددهٔ په وس او اختيار كښے وي. په دے كښے ډير مصالح او فوائد دي. په دے كښے د نبي كريم ﷺ تابعداري ده، په دے كښے ښائسته ژوند تيرول دي، د سينے سلامتيا او راحت دے. او بل طرفته په عدل نهٔ كولو كښے د ښځو ترمينځه حسد او كينه پيدا كيدل او وادهٔ نه عذاب جوړول دي.

(۳) بيا په نفقه كښے د برابرئ معنىٰ داده چه په هره يوه ښځه باندے د هغے او د هغے د اولاد د حاجت او ضرورت مطابق خرچه وكړے شي. دا وجه ده نبي كريم ﷺ د حجة الوداع په خطبه كښے فرمايلي : [وَلَهُنَّ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ] (دوئ دپاره خوراك څكاك او جامه وركول به د عرف مطابق وي) او همديته عدل وائي. مثلًا : كه يوه ښځه يو شئ ته ضرورت لري، او بله ئے نهٔ لري نو د چا چه ضرورت وي هغے له هغه شے اخستل او د چا چه ورته ضرورت نهٔ وي هغے له نهٔ اخستل دا هم عدل دے. لكه د يوے ښځے د جامو مشين ته ضرورت دے او د بلے ښځے سره دا مشين موجود دے، نو د چا چه ضرورت وي هغے له مشين اخستل عدل دے. او كه هغه بلے له وانهٔ خستل شي نو دا

زیاتے نۀ دے ځکه هغه ورته ضرورت نلری۔
(٤) علامه قرطبیؒ وائی : که یوے زنانه ته بیماری یا حیض راغلو نو دا د هغے حق نۀ ساقطوی، بلکه خاوند به بیا هم د هغے نمبر -شپه وی که ورځ- بحال ساتی۔
درجة الحدیث: [إسناده صحیح] أبو داود: ۲۱۳۳، ترمذی: ۱۱٤۱، نسائی: ٦۳/۷، ابن ماجه: ۱۹٦۹، أحمد: ٤۷۱/۲، دارمی: ۲۲۰٦، ابن حبان: ٤۲۰۷، حاکم: ۱۸٦/۲، بیهقی: ۲۹۷/۷.

الفصل الثالث

د نبی ﷺ د ازواج مطهراتو نه د اتو دپاره نمبر مقرر وو

3237 (9) – عَنْ عَطَاءٍ قَالَ: حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ جَنَازَةَ مَيْمُوْنَةَ بِسَرِفَ فَقَالَ: هٰذِهٖ زَوْجَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوْهَا وَلَا تُزَلْزِلُوْهَا وَارْفُقُوْا بِهَا فَإِنَّهٗ كَانَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعُ نِسْوَةٍ كَانَ يَقْسِمُ مِنْهُنَّ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ قَالَ عَطَاءٌ: اَلَّتِيْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْسِمُ لَهَا بَلَغَنَا أَنَّهَا صَفِيَّةُ وَكَانَتْ آخِرَهُنَّ مَوْتًا مَاتَتْ بِالْمَدِيْنَةِ وَقَالَ رَزِيْنٌ: قَالَ غَيْرُ عَطَاءٍ: هِيَ سَوْدَةُ وَهُوَ أَصَحُّ وَهَبَتْ يَوْمَهَا لِعَائِشَةَ حِيْنَ أَرَادَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَاقَهَا فَقَالَتْ لَهٗ: أَمْسِكْنِيْ قَدْ وَهَبْتُ يَوْمِيْ لِعَائِشَةَ لَعَلِّيْ أَكُوْنُ مِنْ نِسَائِكَ فِي الْجَنَّةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : عطاءؒ وائی : مونږ د ابن عباس رضی الله عنه سره په سَرِف مقام کښے د ام المؤمنین میمونے رضی الله عنها جنازے ته حاضر شولو نو هغۀ وفرمایل : دا د رسول الله ﷺ بی بی ده، هر کله چه تاسو ددے د جنازے کټ پورته کړئ نو دا مۀ خوزوئ او دے ته ډیر حرکت مۀ ورکوئ بلکه دا په نرمئ سره پورته کړئ۔ ځکه چه د رسول الله ﷺ سره نهه بیبیانے وے چه هغۀ به د هغوی نه د اتو دپاره نمبر تقیسمولو او یوے دپاره به ئے نمبر نۀ تقیسمولو، عطاءؒ وائی : هغه بی بی چه رسول الله ﷺ به هغے دپاره تقسیم نۀ کولو، مونږ ته رارسیدلی دی چه هغه صفیه رضی الله عنها وه او دا د هغوی نه آخری وفات والا وه، په مدینه کښے وفات شوه۔ او رزین وئیلی دی چه د عطاء نه علاوه نورو وئیلی دی چه دا سوده رضی الله عنها وه او همدا خبره زیاته صحیح ده، دے خپل نمبر عائشے رضی الله عنها ته ورکړو په هغه وخت چه رسول الله ﷺ ددے د طلاق اراده وکړه نو دے هغۀ ته وویل : ما ځان سره په نکاح

کښې وساته ما خپل نمبر عائشے رضی اللہ عنہا تـه ورکړو، کیدے شی چه زۀ به په جنت کښې ستا د بیبیانو نه شم. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[بِسَرِفَ] عـجيبه اتفاق دا وو چه د میمونه رضی اللہ عنہا نکاح په سرف کښې شوے وه بیا وادۀ ئے هم په سرف کښې شوے وو او بیا وفات ئے هم دلته وشو.

[نَعْشَهَا]. نـعـش د مړی کټ تـه وائـی پـه کوم کښې چـه مړے کیخودے شی. [فَلَا تُزَعْزِعُوْهَا]. دا د زَعْزَعَة نه دے، تحريك او خوزولو ته وائی. [وَلَا تُزَلْزِلُوْهَا]. یعنی دا مۀ ګډوډ کوئ. زلزله اضطراب او ګډوډئ ته وائی.

[وَارْفِقُوْا بِهَا]. دا د بـاب نصر، (اِرْفُقُوْا) او بـاب کرم (اُرْفُقُوْا) او بـاب سمع (اِرْفَقُوْا) درے وارو نـه استعمال دے، (قاله ابن دریدؒ : المخصص لابن سیده : ۳۷/٤) یعنی دا په نرمئ سره ویسئ، ددے نـه درمیانه مزل مراد دے. یعنی ددے احترام او وقار وکړئ. دا حدیث دلیـل دے چه د مؤمن احترام د مرګ نه روستو داسے باقی پاتے دے لکه چه په ژوند کښے ئے چه څنګه وو.

[تِسْعُ نِسْوَةٍ]. یـعـنـی د رسـول الله ﷺ د وفـات پـه وخـت کښـے نـهـه بيبيانے پاتے وے.[صفية]. د عـطاءؒ نـه ابـن جـریجؒ نقل کړی چه دا بی بی چه نبی علیہ السلام ورلـه نـمبر نۀ ورکـولـو، صفیه بنت حُیَی بن اخطب رضی اللہ عنہا وه، لیـکـن ابن جریجؒ ته پدے روایت کښے وَهم لګیدلے. اصل دا ده چه دا سوده رضی اللہ عنہا وه. لکه قاضی عیاضؒ دا خبره کړے.

او دا ئے هم وئیـلی چه کیدے شی چه د ابن جریجؒ دا روایت صحیح وی او دا د آخری وخت خبره وی یعنی په آخری وخت کښے رسول الله ﷺ ټولو بیبیانو ته نمبر ورکړے وی سوئ د صفیه رضی اللہ عنہا نه. (فتح الباری)

[وَكَانَتْ آخِرَهُنَّ مَوْتًا] . ظـاهـره دا ده چـه ضمیر میمونه رضی اللہ عنہا تـه راجع دے، یعنی دا د ټولو بیبیانو نه روستو وفات ده څکه ددے وفات په (٦١) کښے وو، لکه دا خبره ابن سعدؒ وغیره کړے.

او بـعـضـو وئیلی دی چه په (٥٦) او بعض وائی چه په (٥٩) کښے وفات ده. لیکن اول قـول غـوره دے، کـمـا قـال الحافظ. لیکن دے باندے سوال دے چه ام سلمه رضی اللہ عنہا د حسین رضی اللہ عنہ شهادت پورے ژوندئ وه یعنی تر (٦١) هـ کال پورے،

نـو بیا جواب دا دے چه کیدے شی چه دواړه په یو کال کښے وفات وی، او میمونه رضی اللہ عنہا د

هغې نه لږه روستو وفات وې.

بعضو وئيلي چه ميمونه رضي الله عنها په (۶۳) يا (۶۶) كښې وفات ده. بناء پدې روايت بيا ددې په روستو وفات كيدو كښې هيڅ اشكال نشته. (فتح الباري)

[بِالْمَدِيْنَةِ] : **سوال** دادې چه ميمونه رضي الله عنها خو په سرف كښې وفات ده، او هغه په اتفاق سره د مكې نه دې، نۀ د مدينې نه. **جواب** دا دې چه قاضي عياضؒ وئيلي چه دا وَهُم د راوي دې. ليكن حافظ ابن حجرؒ فرمائي : دا احتمال شته چه د مدينې نه مراد كلې او علاقه وي، نۀ مدينة الرسول صلى الله عليه وسلم. او د دغه مدينې (ښاريه) نه مراد مكه ده. او ابن سعدؒ وئيلي چه دا په مكه كښې وفات وه ليكن د هغې په وصيت سره ابن عباس رضي الله عنه په سرف كښې دفن كړه. (فتح الباري : ۱۱/۳۲۹)

مګر ظاهر دا دې چه دا په سرف كښې وفات ده ځكه چه د مړي نقل كول جائز نۀ دي او د سرف او د مكې ترمينځ (۱۲) كيلو ميټره فاصله ده. اُوس ورته ((نواريه)) وائي. (مكة المكرمة، المعالم التاريخية)

۲۰ رمضان المبارك ۲۵ مئ ۲۰۱۹.



۱۰- باب عشرة النساء
وما لكل واحد من الحقوق

ښځو سره د ژوند تيرولو او د هر يو (ښځې او خاوند) د حقوقو بيان

مناسبت : د مخکښې او روستو سره دا دے چه کله انسان ښځه اُوکړی نو د هغې سره ژوند تيرولو طريقه زده کول پکار دی دے دپاره چه طلاق او خلع واقع نشي۔
عِشْرَةٌ : د عين په زير سره، ژوند تيرول، عَشِير ملګری ته وائی، عَشِيْرُ الْمَرْأَةِ : د ښځې خاوند ته وائی ځکه هغه ددے سره او دے د هغې سره شريك ژوند تيروی۔ په عِشْرَةُ النِّسَاءِ کښې اضافت د مصدر دے خپل مفعول ته، يعنی : عِشْرَةُ الْأَزْوَاجِ الزَّوْجَاتِ. يعنی د خاوندانو د خپلو ښځو سره ژوند تيرول۔ دارنګه اضافت د مصدر دے فاعل ته۔ [عِشْرَةُ النِّسَاءِ لِأَزْوَاجِهِنَّ] د ښځو د خپلو خاوندانو سره ژوندل تيرول۔ دلته د عِشرة نه مراد د ښځې او خاوند خپلو کښې يو د بل سره په مينه محبت سره ژوند تيرولو ته وائی۔
دا باب الله تعالیٰ د يو آيت په يوه جمله کښې راګير کړے، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [النساء: ۱۹] (او دوئ سره په ښه طريقه ژوند تيروئ) نو الله تعالیٰ پدے امر کړے او دا ئے لازم ګرځولے يعنی داسے طريقے سره چه عُرف او شريعت هغے ته ښهٔ وائی، لکه هغې سره ښائسته ملګرتيا کول، تکليف نهٔ ورکول، په نرمئ او محبت هغې سره چليدل او د ظلم، زياتی، سختئ او جهالت نه ځان ساتل او بغير د څهٔ جرم نه هغه نهٔ پريښودل، د هغے د خوئی بوئی او فطرت خيال ساتل، د هغے د فطری شوق او رغبت خيال ساتل، او په هغے داسے کارونه نهٔ اچول چه وس ئے نهٔ لری، د هغے حق ادا کول او هغې سره د هغې په غم او خفګان کښې برخه اخستل، په هغې خرچه کول او هغه چه څهٔ غواړی په هغې کښې کنجوسی نهٔ کول، په کور کښې د هغې سره شريك وسيدل او يواځې نهٔ پريښودل، که ناپوهه وی نو هغے له تعليم ورکول، که غصه شی نو هغه زغمل او د هغې د خپلوانو او رشته دارو قدر او احترام کول۔
او د باب دويمه برخه الله تعالیٰ په يوه بله جمله کښې راګيره کړے، الله تعالیٰ فرمائی :

﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِیْ عَلَیْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَیْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ [البقرة : ۲۲۸] (او ددے ښځو دپاره هم په خاوندانو باندے هغه شان حق دے کوم چه ددے ښځو په ذمه دے)۔

دا آیت دلیل دے چه ښځه او خاوند په یو بل حقونه لری، لکه څنګه چه په خپله ښځه باندے د خاوند حق شته دے نو دغسے ښځه هم په خپل خاوند حق لری، دومره ده چه د خاوند حق لوئے دے، ځکه د هغهٔ په ذمه رعایت، حفاظت او کفایت دے، لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰی بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ﴾ [النساء: ۳٤] (نارینه په زنانو حاکمان دی ځکه چه الله تعالیٰ د دوئ ځینے خلک په ځینو نورو غوره کړی دی او په دے وجه چه دوئ خرچ کوی)

دے وجے نه په ښځه واجب دی چه د ګناه د کار نه سِویٰ په نورو ټولو کارونو کښے د خاوند خبره منی، د هغهٔ غوښتنے او مطالبو ته جواب ورکوی، او د هغهٔ د شوق او رغبت لحاظ ساتی، د هغهٔ په ځان او مال کښے د هغهٔ حفاظت کوی، د هغهٔ د اولاد تربیت کوی او د هغهٔ د خاندان او خپلوانو احترام کوی۔

❁ په مومن باندے واجب دی چه د ښځو په باره کښے د الله تعالیٰ نه یریږی، ولے چه دوئ د خاوندانو سره قیدیانے دی، او په عامه توګه دوئ کمزورے وی، نبی کریم ﷺ فرمائی : [أَلَا وَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّهُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ، لَيْسَ تَمْلِكُوْنَ مِنْهُنَّ شَيْئًا غَيْرَ ذٰلِكَ] [حسن : أبوداود:۳۳۳٤، ترمذی: ۱۱٦۳، نسائی کبری: ۸/۲٦٤، ابن ماجه: ۱۸۵۱، ارواء : ۲۰۳۰] (خبردار! تاسو د ښځو په باره کښے زما د خیر وصیت قبول کړئ، ولے چه دوئ تاسو سره قیدیانے دی، تاسو د دوئ نه ددے نه سِویٰ د بل شئ مالکان نهٔ یئ)۔ لکه باقی حدیثونه راروان دی۔

فائده : د ښځے حقوق هغه دی چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول بیان کړی، دا چه په احادیثو کښے وکتلے شی نو د دیرشو (۳۰) نه زیات مونده کیږی، اتهه (۸) پکښے علامه ابوبکر محمد بن عباس الخوارزمیؒ په مفید العلوم ومبید الغموم ص (۳۲۳) کښے ذکر کړی۔ او د خاوند حقوق ئے نهه (۹) بیان کړی۔

(۱) [لَا تَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهٖ إِلَّا بِإِذْنِهٖ] د کور نه به بغیر د اجازت د خاوند نه نهٔ وځی۔

(۲) [لَا تَمْنَعُ نَفْسَهَا مِنْهُ إِذَا كَانَتْ طَاهِرَةً] کله چه پاکه وی نو د خاوند نه به ځان نهٔ منع کوی۔ (۳) [لَا تَخُوْنُهٗ فِيْ مَالِهٖ] د خاوند په مال کښے به خیانت نهٔ کوی۔ (٤) [تُشَارِكُهٗ فِيْ

الدُّعَاءِ] د هغهٔ سره به په دعاء کښې شرکت کوی۔
(۵) [وَتُكْرِمُ أَقْرِبَاءَهُ] د خاوند د خپلوانو رشته دارو اکرام به کوی۔
(٦) [لَا تُؤْذِيهِ بِلِسَانِهَا] په خپله ژبې سره به هغهٔ ته ضرر نهٔ ورکوی۔
(۷) [وَتُعِينُهُ فِيمَا أَمْكَنَ] څومره چه کیدې شي د هغهٔ سره به تعاون کوی۔
(۸) [وَأَنْ لَّا تَمُنَّ بِمَالِهَا عَلَيْهِ] په خپل مال سره به په هغهٔ باندې زباتنه نهٔ کوی۔
(۹) [وَلَا تَمْنَعُ مَالَهَا مِنْهُ] خپل مال به د خاوند نه نهٔ منع کوی۔ مفيد العلوم ص [۳۲۲]
(۱۰) بغیرد څه باك نه به د خاوند نه خلع او طلاق نهٔ غواړی ورنه په منافقاتو کښې به شمار شي۔
(۱۱) د خاوند رازونه به نهٔ ښکاره کيږی۔ (۱۲) خاوند ته به شيطاني نهٔ کوی۔
(۱۳) د خاوند بې اجازته به د هغهٔ کور ته څوك نهٔ راپریدی۔ كما في الحديث۔ (۱٤) زنانه به نفلي روژې بغير د اجازت د خاوند نه نهٔ نيسى کله چه خاوند د هغې په کور کښې وی۔ (الحديث) (فقه الاسرة : ص ۱۷۹، احمد علی طه ريان)
په سړی باندې د زنانه **حقوق** دا دی : (۱) [أَنْ يُنفِقَ عَلَيْهَا] په ښځه به نفقه او خرچه کوی۔ لکه آیت کښې دی : ﴿فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ﴾ [الطلاق : ٦] دا په اجماع سره واجب ده کله چه ښځه ناشزه نهٔ وی۔ (يعني د خاوند نافرمانه نهٔ وی) (۲) [لَا يَغِيبُ عَنْهَا أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ] د څلور مياشتو نه زيات به ترې نهٔ غائبيږی۔ او پدې باندې عمر فاروق ﷺ فيصله کړې وه۔ اوبل آيت : ﴿لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ﴾ [بقره : ۲۲٦] (کوم خلك چه د خپلو ښځو نه قسم وکړی نو څلور مياشتې انتظار به کوی)۔ ددې نه هم معلوميږی۔ مګر کله چه ديني يا دنياوى ضرورت يا د هغې اجازت وی نو څلورو مياشتو نه زيات وخت هم تيرولې شي ځکه چه دا داسې واجب نهٔ دی چه متعين وی۔
(۳) [وَلَا يَضْرِبُهَا إِلَّا فِي شَأْنِ الْمَضَاجِعِ] هغه به صرف د بسترې د حقوقو د نهٔ ادا کولو په صورت کښې وهلې شي۔ (٤) [وَلَا يُجَامِعُهَا فِي دُبُرِهَا] د هغې سره به په روستنۍ حصه کښې نزديکت نهٔ کوی۔ (۵) [وَلَا يَظْلِمُهَا فِي صَدَاقِهَا] په مهر کښې به د هغې سره ظلم او زياتې نهٔ کوی۔ (٦) [وَلَا يَمْنَعُهَا مِنْ زِيَارَةِ أَبَوَيْهَا وَأَقَارِبِهَا] هغهٔ به د مور او پلار او خپلوانو د ملاقات نه نهٔ منع کوی۔ (۷) [وَأَنْ يُوَسِّعَ عَلَيْهَا فِي النَّفَقَةِ] په نفقه کښې به په هغې باندې فراخي کوی۔ لکه حديث کښې دی : [أَعْظَمُ الدِّينَارِ أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ] د

اجر په لحاظ سره بهترینه روپئ هغه ده چه ته ئې په خپل اهل خرچ کړې.

(۸) [وَيُعَلِّمُهَا أَمْرَ دِينِهَا] هغې ته به دیني کارونه ښائي. لکه مونځ روژې او احکام د حیض وغیره. لکه حدیث کښې دي : [فَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا] یو تن خپلې ښځې ته ښائسته تعلیم ورکړي. (نو دوه اجرونه ئې کیږي) او آیت دے : ﴿قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا﴾ [التحریم :٦] خپل ځانونه او اهل د اُور نه بچ کړئ.

علي ﷺ فرمائي : [عَلِّمُوهُمُ الْخَيْرَ] دوئ ته خیر او دین وښایئ.

(۹) [نَفَقَتُهَا مِنْ طَعَامٍ وَكِسْوَتُهَا وَسُكْنُهَا بِالْمَعْرُوفِ]. هغې ته د عرف مطابق طعام او کپړې او استوګنه ورکول. لکه حدیث کښې دي : [تُطْعِمُهَا إِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ]. (کله چه ته خوراك کوے، هغې له به خوراك ورکوے او چه ته جامې کوے نو هغې له به هم جامې ورکوے) د الله تعالیٰ ارشاد دے : ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ﴾ [الطلاق : ٦]. (دوئ ته استوګنه ورکړئ د هغه ځائے نه چه تاسو استوګنه کوئ).

(۱۰) [لَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ] . (مخ به ورله نۀ وهې). (۱۱) [لَا تُقَبِّحْ] . ښیرې او کنځلې به ورته نۀ کوے. داسې به ورته نۀ وائے چه الله دې ستا مخ قبیح او ناکاره کړي، او د مخ بے ادبي به ئې نۀ کوے چه ستا مخ ته وګوره. (۱۲) [لَا تَهْجُرْهَا إِلَّا فِي الْبَيْتِ] . هغې سره به هجران (ترك تعلق) صرف په کور کښې کوے. (۱۳) [الْإِسْتِمْتَاعُ]. (هغې له متعه (فائده) ورکول، یعني خلورو میاشتو کښې یو کرت نزدیکت واجب دے، لکه د ایلاء مسئلې نه معلومه ده. او د عمر فاروق ﷺ فیصله. امام قرطبیؒ وائي : د زنانه عفاف (عفت) په سړي باندې واجب دے، دے دپاره چه پردو سړو ته ئې توجه پیدا نشي، نو کومو فقهاؤ چه وئیلي دي چه په عمر کښې یو کرت نزدیکت واجب دے، دا خبره خطاء ده، صحیح دا ده چه د خپلې بي بي حالت ته به کتلې شي.

(۱٤) [الْمَبِيتُ عِنْدَهَا فِي كُلِّ أَرْبَعِ لَيَالٍ] . د زنانه سره یوائې په کمره کښې په هر خلورو شپو کښې شپه تیرول. ځکه چه سړي له خلور ښځې جائز دي، نو د زنانه نمبر په خلورمه راځي. (۱۵) [الْقَسْمُ لَهَا] . که ډیرې ښځې ئې وي نو د هغوئ دپاره نمبر مقررول. (۱٦) [أَنْ يُقِيمَ عِنْدَهَا سَبْعًا إِنْ كَانَتْ بِكْرًا وَثَلَاثًا إِنْ كَانَتْ ثَيِّبًا]. که پیغله جینئ واده کړي نو اول کښې به د هغې سره اُوه شپې او د کُنډې سره درې شپې اُوسیدل لکه مخکښې د ابو قلابهٔ حدیث تیر شو.

(۱۷) [إِسْتِحْبَابُ الْإِذْنِ لَهَا فِي عِيَادَةِ مَرْضَى مَحَارِمِهَا وَشَهَادَةِ جَنَازَتِهَا وَزِيَارَةِ أَقَارِبِهَا بِحَيْثُ لَا تَضُرُّ بِمَصَالِحِ الزَّوْجِ] - بهتره ده چه هغې ته د هغوی د خپلوانو په بیمار پُرسئ کښې او د هغوی جنازې ته حاضریدو او د هغوی ملاقات ته ورپریدی. (منهاج المسلم د ابوبکر الجزائريّ). (۱۸) [مُعَاشَرَتُهَا بِالْمَعْرُوفِ] - د هغې سره د شریعت مطابق زندګی تیرول. (۱۹) [اَللُّطْفُ بِهِنَّ] - د هغوی سره نرمي کول او په هغوی شفقت او مهرباني کول. روستو حدیث راځی : [أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيْمَانًا.......... أَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ] - کامل مؤمن هغه دے چه خوش اخلاقه او د خپل اهل سره نرمي کونکے وی.

(۲۰) [يَأْمُرُهَا بِالصَّلَاةِ] - هغې ته به د مانځه حکم کوی. [وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ] خپل اهل ته په مانځه حکم کوه.

(۲۱) [اَلتَّزَيُّنُ لَهَا] - ښځې ته ځان ښائسته کول لکه څنګه چه تهٔ غواړے چه ښځه تا ته ډول وکړی. (وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ) ددے په تفسیر کښې ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : زهٔ خپلے بی بی ته ځان داسے ښائسته کوم لکه څنګه چه زهٔ خوښوم چه ښځه ما ته ځان ښائسته کړی ددے آیت د وجه نه.

بیا قرطبيّ د ډول طریقه دا خودلے ده چه خوشبوئی لګول، مسواك وهل او غاښونه صفا کول، خیری صفا کول، فضول ویښتهٔ وهل او نوکونه قلم کول، دغه شان هغه زینت چه د ځوان او د بوډا سره مناسب زینت.

(۲۲) [أَنْ لَّا يَجْلِدَهَا كَمَا يُجْلَدُ الْعَبْدُ] - (د وینځے او غلام په شان وهل به ورله نهٔ ورکوی). حدیث کښے دی : خپله ښځه د وینځے په شان مهٔ وهه.

(۲۳) [اَلاسْتِيْصَاءُ بِهِنَّ] هغوی ته به خیر ورکوی څومره ئے چه وس وی.

(۲٤) [أَنْ لَّا يُبْغِضَهَا] - د هغې سره به بے ځائے بُغض او نفرت نهٔ کوی. [لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً] - یو مؤمن دِے یوے مؤمنے زنانه سره بغض نهٔ کوی. (روستو راځی).

(۲۵) [أَنْ يُّطْعِمَهَا الْحَلَالَ] - حلال خوراك به ورکوی.

(۲٦) [أَنْ لَّا يَظْلِمَهَا فَإِنَّهَا أَمَانَةٌ عِنْدَهُ] ظلم ورسره نهٔ کوی ځکه چه دا ددهٔ سره امانت دے.

(۲۷) د هغے د بد خوئی سره به نرمي کوی، د هغے د تکبر سره به په ځان کښے غیرت نهٔ راولی. (تنبیه الغافلین للسمرقندی ص (۵۲۸).

(۲۸) د طاقت نه زیات کارونه به پرے نهٔ اچوی.

(۲۹) د ښځې رازونه او عيبونه به چا ته نهٔ ښکاره کوي.
(۳۰) د هغې د رشته دارو سره به ښائسته سلوك كوي.
(۳۱) د تربيت او ادب وهل كوي نو داسې وهل به نهٔ وي چه د هغې هډوكې مات كړي.
او داسې نور. لكه په فتاوى الدين الخالص (۱۲) لابي محمد حفظه الله كښې ئې وګوره.
وبالله التوفيق.

الفصل الأول

د ښځې د کوږوالي علاج ډېر په سخت مزاجئ سره ونکړې شي

3238 (1) – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "وَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّهُنَّ خُلِقْنَ مِنْ ضِلَعٍ، وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ، فَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهُ كَسَرْتَهُ، وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ، فَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : د ښځو په باره كښې د نيكى كولو وصيت قبول كړئ، ځكه چه دوئ د پښتئ نه پيدا كړے شويدى، او يقيناً ډير كوږ شے په پښتئ كښې د هغې پورتنئ برخه وى، نو كه تا اراده وكړه چه دا نيغه كړے نو ماته به ئے كړے، او كه پريے ډے ښودله نو هميشه به كږه پاتے وى، دے وجے نه تاسو د ښځو په باره كښې د خير او ښيګړے وصيت قبول كړئ. (بخاريؒ، مسلمؒ)

تشريح : [وَاسْتَوْصُوْا] : (أ) أَيْ لِيُوْصِ بَعْضُكُمْ بَعْضًا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا : (په تاسو كښې ډے ځينے ځينو نورو ته د ښځو په باره كښې د خير وصيت وكړى) (ب) يا : أُوْصِيْكُمْ بِهِنَّ خَيْرًا فَاقْبَلُوْا وَصِيَّتِيْ فِيْهِنَّ : (زهٔ تاسو ته د دوئ په باره كښې د خير وصيت كوم نو تاسو زما وصيت قبول كړئ) (ج) يا : اُطْلُبُوا الْوَصِيَّةَ مِنْ أَنْفُسِكُمْ فِيْ حَقِّهِنَّ بِخَيْرٍ : (تاسو د خپل ځان نه د دوئ په باره كښې د خير وصيت وغواړئ) [شرح الطيبي: ٦/٣٠] [مِنْ ضِلَعٍ] د ضاد زير او د لام زور دے او سكون ئے هم جائز دے : پښتئ، د سينے د پنجرے هډوكے، او مراد زمونږ د نيا (حواء رضى الله عنها) پيدائش دے د آدم ﷺ نه. الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا ﴾ [النساء : ١]

دلته د نفس نه مراد آدم ﷺ او د (زوج) نه مراد حواء (عليها السلام) ده چه د هغهٔ د كسے پښتئ نه پيدا شوے. بعض وائي : چه دا مثال دے، يعنى ښځه داسے كږه ده لكه

کړه پښتئ۔
[وَإِنَّ أَعْوَجَ شَيْءٍ فِي الضِّلَعِ أَعْلَاهُ] مطلب دا چه ښځه د کږے پښتئ نه پیدا شوے نو د هغې د کوږوالی نه به انکار نشي کیدے، یا هغه نیغول نهٔ قبلوی لکه څنګه چه پښتئ نیغول نهٔ قبلوی۔ خاصکر بره پښتئ ځکه چه هغه ډیره کږه وی نو ښځه هم ډیره کږه بلا ده۔ او (أَعْلَاهُ) کښے اشاره ده چه د زنانه بره طرف د هغې سر دے او په سر کښے د هغې ژبه ډیره کږه ده چه د هغې نه ډیر ضرر پیدا کیږی۔ [فَإِنْ ذَهَبْتَ] که تهٔ ارم شوے، تا اراده وکړه۔ [تُقِيْمُهُ] چه سمه ئے کړے او خپل نیغوالی ته ئے بیرته راولے۔
[كَسَرْتَهُ] نو تهٔ به ئے ماته کړے او د هغې ترکیب به خراب کړے ځکه چه دا ددے کار قابله نهٔ ده۔ په دے الفاظو کښے ضمیرونه پښتئ ته راجع دی۔ او هغهٔ مذکر هم استعمالیږی او مؤنث هم۔ [وَإِنْ تَرَكْتَهُ لَمْ يَزَلْ أَعْوَجَ] یعنی که تهٔ ئے پریدے او سمول ئے ونهٔ غواړے نو هغه د خپل خوئے او طبیعت نه جدا کیږی نهٔ، بلکه په خپل کوږوالی باندے پاتے وی ځکه چه دا ددے صفت او حالت دے۔ نو دغسے ښځه هم ده، که تهٔ ددے نه نفع اخستل غواړے او د هغې په بدحالئ او د عقل په کمزورئ او نور کوږوالی صبر کوے نو ژوند به ډیر تیریږی، اوکه سمول ئے غواړے اوکوږ والے ئے ختمول غواړے نو په خپله اراده کښے به کامیاب نشے، بلکه دا کار به ستا په فراق باندے تمام شی چه هغه ددے ماتول یعنی طلاقول دی۔ فوائد ئے روستو حدیث کښے وګوره۔
3239 (2) - وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الْمَرْأَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيْمَ لَكَ عَلٰى طَرِيْقَةٍ فَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ وَبِهَا عَوَجٌ، وَإِنْ ذَهَبْتَ تُقِيْمُهَا كَسَرْتَهَا، وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ
ترجمه : ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : ښځه د (ګسے / کینې) پوښتئ نه پیدا شوے، دا ستا دپاره په هیڅ طریقه نیغه نشي برابریدے، نو که چرے تهٔ دے نه فائده اخستل غواړے نو په داسے حال کښے به ترے فائده اخلے چه په هغې کښے به کوږ والے وی، اوکه تهٔ ددے د نیغولو کوشش کوے نو ماته به ئے کړے او ددے ماتوالے ددے طلاق دی۔ (مسلمؒ)
تشریح : [لَنْ تَسْتَقِيْمَ لَكَ عَلٰى طَرِيْقَةٍ] : یعنی په هیڅ شان او په هیڅ طریقه ستا دپاره

هيچرې نشي نيغې دې۔ [وَبِهَا عَوَجٌ] : دا حال دې د اِسْتَمْتَعْتَ نه۔ يعنې داسې حال کښې ترې فائدې اخله چه په هغې به کوږوالې وي، هغه به کږه وي، يعنې ټول خويونه ئې نشي برابريدې، څه خويونه به ئې کاږۀ وي خو تۀ به ورسره ګوزاره کوې، ژوند به تيروې که نۀ وي بيا بـه خبره طلاق تـه رسيږي۔ عوج : د عين په زور سره په ولاړ شي کښې کوږوالې دې، لکه ديوال، لرګې وغيره او عوج په زير د عين سره په بستره، زمکه، يا معاش يا دين کښې کـوږوالې دې۔ صاحب "المطالع" وائي : په زور سره په اشخاصو کښې کوږوالې دې او پـه زيـر د عيـن سره په رائې او خبرو او عقيده کښې او په هغه شي کښې- چه په سترګو نۀ ښکاري- کوږ والي ته وائي۔ (شرح النووي، البحر المحيط الثجاج)

فوائد : (۱) حـديث نه ثابته شوه چه اسلام د ښځې د حقونو ډير اهتمام کړې، نبي کريم ﷺ پـه ګـڼـړو موقعو او مناسبتونو کښې د ښځو د حقونو په باره کښې سړو ته تاکيد کړې، دا ځکه چه زنانه کمزورې دي او هغه ځاته ضرورت لري چه هغه د دوئ کارونه سنبالوي او په دوئ پام کوي۔ او دا کار اسلام ځکه کړې چه په دې سره خاندان او معاشره جوړيږي۔

(۲) پـه دې حـديثونو کښې خاوندانو ته د ښځو په حقله نبوي تربيت ورکړې شوې چه تـاسو دوئ سره د صبر او چشم پوشۍ معامله اختيار کړئ او دوئ سره ښۀ ژوند تيروئ او د دوئ کـمـې کـوتـاهـي بـرداشت کوئ کله چه په دې کښې دين، شرافت او پاکدامنۍ ته نـقـصـان نـۀ رسي۔ او سړو ته د ښځو په کوږوالي باندې د چشم پوشۍ حکم ځکه شوې چه سړي په برداشت او صبر کولو باندې د ښځو په نسبت زيات قادر دي۔

دې وجې نـه سـړو لـه پکار دي چه د ښځو په اصلاح او تربيت کښې کوشش کوي، او د هـغـوي پـه کـمـزوري عـقـل صبر کوي، دې دپاره چه حالت سم وي او ژوند په ښه طريقه تيـريـږي او مينـه مـحبت بـاقـي وي، او د هـغوي طلاق دِې بغير د څه سبب نه نۀ غوره کـوي۔ ځکه د نبي ﷺ په دې ارشاد : [فَـاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا] کښې اشاره ده چه ښځه په نرمۍ او تربيت سره نيغول پکار دي، په دې شان سره چه ددې په نيغولو کښې د زياتي نـه کـار وانـۀ خـسـتـل شي هسې نۀ چه ماته شي، او نۀ دِې بيخي کږه پريدي چه په خپل کـوږوالـي روانـه وي۔ پاتې شو هغه خاوند چه هغه په هر شي ښځې سره حساب کوي، ښيګړو نه انکار کوي او نقصانونه راښکاره کوي: نو دا د مومن سړي خوئي نۀ دې او نۀ شـرعًـا دا کـار ښـۀ دې۔ څـوك چـه دا كار كوي نو هغوئ غالبًا په عذاب او تنګسيا کښې

وي۔ حالانکه روستو راځي، نبي ﷺ فرمائي: ((هيڅ يو مومن سړے دِ يے مومنے ښځے سره بغض نهٔ کوي، که د هغے يو خوئے ئے بد يے شي نو بل به ئے خوښ شي)) [مسلم:۱٤۷۰] يعنې داسے سخت بُغض دِ يے ورسره نهٔ ساتي چه هغه ددے په فراق تمام شي، ځکه که په هغے کښے يو خوئے ددهٔ خوښ نهٔ وي نو بل يو داسے خوئے به په کښے بيامومي چه هغه به ئے خوښ وي، لکه هغه بدخويه ده، ليکن بل طرفته ديندار ه يا ډولۍ، يا ملګرے ده۔ [شرح النووي: ۱۰/۳۱۱]

ډير خاوندان داسے دي چه هغوئ په خپلو ښځو کښے کمال غواړي، حالانکه دا د نهٔ کيدو خبره ده، نو ځکه دوئ ددے په وجه په عذاب کښے وي او د هغے نه د نفع حاصلولو نه محرومه وي، او کله نا کله دا کار طلاقو ته هم ورسي۔

(۳) دا حديث دليل دے چه حواء رضی الله عنها د آدم علیه السلام د پښتئ نه پيدا ده۔ (نوويؒ) حافظ ابن کثيرؒ فرمائي: ددے وجه نه د زنانه توجه خاوند ته وي او د سړو توجه جائيدادونو وغيره ته وي۔ بيا حواء رضی الله عنها د آدم علیه السلام د پښتئ نه کوم وخت پيدا شوه؟ نو بعض وائي چه جنت ته د داخليدو نه مخکښے، بيا روستو دواړه جنت ته داخل شول۔ بعض وائي: په جنت کښے ترے پيدا شوه۔ (طرح التثريب: ۷/٦٤).

(٤) د زنانو په کوږ والي باندے صبر کول په مباحو کارونو کښے مراد دے، او دا مطلب نهٔ دے چه زنانه کږه ده نو بس همداسے کږه ئے پريده چه هر قسم گناهونه او فسادونه کوي۔ (فتح الباري)

د ښځو سره ښائسته ژوند تير کړئ

3240 (3) - وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ابو هريره رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مؤمن سړے دِ يے مؤمنے ښځے نه نفرت نهٔ کوي، که د هغے نه يو خوئي بد ګنړي نو بل به د هغے نه ښهٔ ګنړي۔ (مسلمؒ)

تشريح: [لَايَفْرَكْ]۔ دا نهي ده د باب د سمع نه، مصدرئے فَرْكًا: د فاء په زور او زير دواړو سره استعمال دے۔ د راء سکون دے۔ فِرْكًا وَفُرُوْكًا بغض او کينے او نفرت ته

وائي۔ او مطلب دا دے چه خاوند دِے خپله ښځه په کلي توگه سره بده نهٔ گنړي چه ددے په وجه د هغے نه جدا شي، بلکه د هغے بعض صفات دِے مخے ته کړي لکه حُسن، یا د بچو تربیت، یا د هغے مال، یا نسب وغیره، او د هغے سره دِے ژوند تیروی۔

کوړوالے هرے زنانه ته په میراث کښے رسیدلے

3241 (4) – وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَوْلَا بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ لَمْ يَخْنَزِ اللَّحْمُ وَلَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثٰى زَوْجَهَا الدَّهْرَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : که چرته بني اسرائیل نهٔ وے نو غوښه به نهٔ خرابیدے، او که حواء ﷺ نهٔ وے نو هیڅ زنانه به د خپل خاوند په توله زمانه کښے خیانت نهٔ وے کړے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[لَوْلَا] لَوْلَا کلمه استعمال نه حدیث کښے منع راغلے لیکن دلته نبی ﷺ استعمال کړیده، نو دا د تقدیر په مقابله کښے نهٔ ده بلکه مونږ ته صرف اخبار راکول مقصد دے۔ [يَخْنَزْ]۔ دا د ضرب او سمع دواړو نه استعمال دے، په نون باندے زور او زیر دواړه صحیح دی، متغیّر کیدو او خرابیدو ته وائی۔

قتادهؒ وائی چه په بني اسرائیلو به د صبا راختو نه تر نمر ختو پورے من او سلویٰ د واورے په شان راپریوتل نو هغوی به د ورځے د خپل ضرورت په اندازه د هغے نه اخستل سِوئ د جُمعے ورځے نه چه دوئ به د خالي دپاره هم ددے برخه اخستنه نو که دوئ به ددے اندازے نه زیات واخستل نو دغه ساتلے شوے شے به خراب شو نو په دوئ دا عذاب راغلو چه ددے ذخیرے په وجه به په دوئ او نورو باندے طعامونه خرابیدل۔

بعض وائی : چه مائدے (دسترخوان) والو ته حکم شوے وو چه ددے نه به څه نهٔ ساتئ نو هغوی ذخیره اندوزی شروع کړه۔

بعض وائی : دا کار د دوئ سره د خالي د تعظیم د نهٔ کولو په سلسله کښے شوے وو۔

ځیني وائی : ددے سبب دا وو چه دوئ ته حکم شوے وو چه مرزان به نهٔ ساتی نو دوئ ساتل شروع کړل نو هغه به بدبویه شول نو د همغه وخت نه د غوښو بد بویه کیدل شروع شول۔ عمدة القاری (۲۱۱/۱۵) [حَوَّاء]۔ حواء ﷺ د آدم ﷺ بی بی ده، حواء ورته ځکه وائی چه دا د هر حَيّ (ژوندی) دپاره مور ده۔ (ابن عباس ﷺ)

[لَمْ تَخُنْ] پدے کښے اشاره ده هغه خبرے ته چه حواء آدم ته د ونے خوراك ښائسته کړو تردے چه دواړو د هغے نه خوراك وکړو، او د تزيين معنیٰ دا ده چه اول کښے ابليس هغے ته د ونے خوراك ښائسته ښکاره کړو تردے چه بيا هغے آدم ته ښهٔ ښکاره کړو (چه ددے خوراك څکه پکار دے چه جنت کښے به هميشه پاتے شو)

نو مطلب دا دے چه زنانه سړی لره کله نا کله په خبره يا عمل سره خطاء کوی لهذا سړو له د زنانو سره ډير په احتياط باندے ژوند تيرول پکار دی، او د خيانت نه مراد فواحش او بے حيائی نهٔ ده. بلکه خواهشاتو ته زر ميلان مراد دے، زنانه باندے د دنيا د څيزونو زر اثر کيږی. او د حواء نه روستو زنانه د شيطان زيات ښکار کيږی پدے وجه هغوی کښے هره يوه د خپلے مرتبے په اندازه خيانتونه کوی، څوك لږ او څوك ډير، بعض زنانهٔ کښے زنا، بعضو کښے غلا، بعضو کښے د خاوند خبره نهٔ منل او نور فسادونه وی. نو دلته ئے دے تزيين ته خيانت وئيلے دے.

د ښځو د وهلو نه منع

3242 (5) — وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ : " **لَا يَجْلِدُ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِيْ آخِرِ الْيَوْمِ**" وَفِيْ رِوَايَةٍ :" **يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا فِيْ آخِرِ يَوْمِهِ** ". ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِيْ ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ : "**لِمَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ ؟**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : عبد الله بن زمعه نه روايت دے چه رسول الله وفرمايل : هيڅوك دِے په تاسو کښے خپلے بی بی له د غلام د کوړو پشان کوړے نهٔ ورکوی. بيا به د هغے سره د ورځے په آخر کښے نزديکت کوی. او په يو روايت کښے دی : يو تن ستاسو اراده کوی نو خپلے ښځے له د غلام د کوړو په شان کوړے ورکوی نو شايد چه د ورځے په آخر کښے به ورسره ډډه اچوی. بيا نبی د هواء خارجيدو نه د هغوی د خندا په باره کښے هغوئ ته نصيحت وکړو وے فرمايل : په تاسو کښے يو تن ولے د هغه کار نه خندا کوی چه خپله ئے کوی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح [لَايَجْلِدُ] دا نهی صيغه ده او لفظ مجزوم دے، او رفع هم جائز ده، بيا به صيغه د نفی شی. په معتمدو نسخو کښے دا دواړه شته دے. جَلْد وئيل کيږی په چابك

باندې وهل۔ د جِلد نه ماخوذ دې څرمنې ته وائي۔ [جَلْدَ الْعَبْدِ] أَىْ: كَجَلْدِ الْعَبْدِ (د غلام د وهلو پشان) د مسلم په روایت کښې [جَلْدَ الْأَمَةِ] لفظ دې (د وینځې د وهلو پشان)۔ یعنی لکه څنګه چه عادةً خلك وینځه او غلام وهي۔ دا خبره څکه وایو چه د حد نه زیات د وینځې او غلام وهل هم جائز نهٔ دي۔

[ثُمَّ يُجَامِعُهَا آخِرَ الْيَوْمِ] بل روایت کښې داسې الفاظ دي : [وَلَعَلَّهُ يُجَامِعُهَا مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ] (او کیدې شي چه د ورځې په آخر کښې ورسره کوروالې وکړي)۔

ددې جملې نه غرض د وهلو نه نفرت ورکول دي، څکه عاقل انسان دا دواړه نهٔ راجمع کوي، څکه شریك څملاستل او صحبت کول هله خوند کوي چه د دواړو شوق او رغبت او یو بل ته میلان وي، او کله چه وهل تېکول راشي نو بیا به څملاستل څهٔ خوند وکړي۔ یعنی دومره ئې مهٔ وهه چه ماښام ورته بیرته محتاج کیږې نو بیا به صُحبت څه خوند وکړي۔

[اَلضَّرْطَةُ] دا د فَعْلَةٌ په وزن د یو کرت دپاره راځي د ضَرِط نه دې، د باب سمع نه مصدرئې د كَتِفٌ او فَخِذٌ په وزن راځي، یعنی ضَرِطٌ دارنګه ضَرْطٌ هم راغلې دې۔ اسم ئې ضراط راځي۔ هغه هواء چه آواز ورسره وي۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه خاوند د خپلې ښځې د سخت وهلو نه منع شوې چه هغه د حیواناتو او وینځې غلامانو پشان وهل دي، څکه ښځه د خاوند د آرام ذریعه او د بچو مور ده، نو ددې وهل تېکول ښه خبره نهٔ ده، بلکه هغې سره ښهٔ اخلاق کول او نرمي کول او د هغې د وهلو نه خومره چه کیدې شي ځان ساتل پکار دي، څکه الله تعالیٰ د ښځې وهل د هغې د نافرمانۍ آخرنۍ مرحله ګرځولې۔ لکه ارشاد دې :

﴿وَالّٰتِیْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِی الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ﴾ [النساء : ۳۴]

((او د کومو ښځو د بد اخلاقۍ نه چه تاسو یریږئ نو هغوئ ته نصیحت وکړئ او (که په دې ونشي نو) په بسترو کښې ئې پریدئ او (که په دې هم ونشي نو) ویې وهئ)) نو وهل ئې د ټولو نه په آخر کښې ذکر کړي. هرکله چه مخکنۍ دوه طریقې فائده ورنهٔ کړي۔

بله داچه : عائشه رضي الله عنها فرمائي : ((رسول الله ﷺ هیڅوك په خپل لاس نهٔ دې وهلې، نهٔ ښځه او نهٔ خادم، البته په جهاد فی سبیل الله کښې به ئې وهل کول)) [مسلم: ۲۳۲۸]

امام نوویؒ فرمائي : دې نه معلومه شوه چه ښځه، خادم او څارویې وهل اګرکه د ادب د

وچے مباح دی، لیکن بهتره داده چه وهل پریږدی۔ [شرح مسلم : ۱۵/۹۲]

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه د ادب دپاره ښځه وهل جائز دی خو په وهلو کښے به زیاتے نهٔ کوی چه د ښاروو او وینځو غلامانو پشان ئے ووهی، بلکه که ضرورت پیښ شی نو معمولی شان وهل دِے کوی۔ والله اعلم۔

(۳) که د یو مسلمان نه غیر اختیاری باد اُوځی نو بل مسلمان له د هغهٔ پورے خندا کول منع دی، بلکه مناسب دی چه د هغے نه ځان داسے غافل کړی لکه چه دهٔ د سره آوریدلی نهٔ وی، ځکه چه هر انسان کمزورے دے، صبا له داسے کار ستا نه هم کیدے شی۔ نو د مسلمان د عزت خیال ساتل پکار دی۔

خپلے بی بی سره ښائسته سلوك كوه

3243 (6) وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ لِيْ صَوَاحِبُ يَلْعَبْنَ مَعِيَ فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **إِذَا دَخَلَ يَنْقَمِعْنَ فَيُسَرِّبُهُنَّ إِلَيَّ فَيَلْعَبْنَ مَعِيَ**. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خوا کښے په لوبړو (نینزکو/ګوډیانو) لوبے کولے او زما څه ملګرے وے چه ما سره به ئے لوبے کولے، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه هر کله رانوتو نو هغوی به په پټه ووتلے، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هغوی زما خوا ته رالیږلے، نو ما سره به ئے لوبے کولے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[بِالْبَنَاتِ]۔ یعنی په نیزکو او ګوډیانو کوم چه ماشومانے جینکۍ د کپړو نه جوړه وی۔ یا باء په معنیٰ د (مَعَ) سره ده، یعنی د جینکو سره به مے لوبے کولے۔ لیکن اول مطلب ظاهر دے۔ [يَنْقَمِعْنَ]۔اَیْ يَنْقَبِضْنَ، وَيَسْتَتِرْنَ حَيَاءً وَيَذْهَبْنَ]۔ یعنی راغونډے به شوے او پټے به شوے او لا به ړے د نبی علیه السلام د خوا نه۔ دا د اِنقماع نه دے، پټیدو او داخلیدو ته وائی۔ یعنی کوټه کښے به ننوتے او پټے به شوے۔

[فَيُسَرِّبُهُنَّ]۔ دا د تسریب نه دے، ارسال (رالیږلو) ته وئیلے شی۔

فوائد : (۱) دے کښے د عائشے رضی الله عنها فضیلت ته اشاره ده چه نبی علیه السلام ورسره ډیر محبت کولو، د هغے د عمر خیال ئے ساتلو۔

(۲) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل اهل سره نرم خوئی او د هغوی سره ښائسته ژوند تیرول

معلوم شو۔ تیز او بد ژبانه نهٔ وو۔ خلکو ته به ئے محبت او مینه ورکوله۔

(۳) په ګوډیانو، نینزکو باندے د جینکو او ماشومانو دپاره لوبے جائز دی، او دا د منع شوو تصویرانو نه مستثنیٰ دی لکه چه دا خبره مخکښے بیان شوه۔ او ددے اخستل خرڅول هم جائز دی، صرف امام مالكؒ نه ددے د اخستو کراهت نقل دے۔ یعنی ددے نه کاروبار جوړول د اعلیٰ اخلاقو سره مناسب نهٔ دی۔ (قاضی عیاضؒ)۔

د ښځے د مزاج خیال ساتل

3244 (7) – وَعَنْهَا قَالَتْ : وَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْمُ عَلٰى بَابِ حُجْرَتِيْ وَالْحَبَشَةُ يَلْعَبُوْنَ بِالْحِرَابِ فِي الْمَسْجِدِ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتُرُنِيْ بِرِدَائِهٖ لِأَنْظُرَ إِلٰى لَعِبِهِمْ بَيْنَ أُذُنِهٖ وَعَاتِقِهٖ ثُمَّ يَقُوْمُ مِنْ أَجْلِيْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَنَا الَّتِيْ أَنْصَرِفُ فَاقْدُرُوْا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيْثَةِ السِّنِّ الْحَرِيْصَةِ عَلَى اللَّهْوِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : قسم په الله ما نبی کریم ﷺ لیدلے چه زما د کمرے په دروازه کښے به ودریدو او حبشو په مسجد نبوی کښے په نیزو باندے لوبے کولے او رسول الله ﷺ به زهٔ په خپل څادر باندے پټه کړے وم، دے دپاره چه زهٔ د نبی کریم ﷺ د غوږ او اُوګے ترمینځ د حبشو لوبو ته وګورم، بیا به نبی کریم ﷺ زما د وجه نه ودریدو تردے چه زهٔ به هغه اُوم چه واپس به شوم، نو تاسو د هغه جینئ اندازه ولګوئ چه هغه نوی عمر والا لوبو سره شوق لرونکی وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [بِالْحِرَابِ]۔ دا جمع د حَرْبَةٌ ده۔ وړے نیزے ته وائی۔ [فَاقْدُرُوْا قَدْرَ] ۔ یعنی تاسو خپله اندازه وکړئ د هغه جینئ اندازه چه هغه کم عمره وی او د لوبو سره ئے شوق وی، نو زما هم دغه شان حال وو، د لوبو سره مے مینه وه نو رسول الله ﷺ به زما دا ارمان پوره کولو۔ او په بل روایت کښے دی چه کله به ما د رسول الله ﷺ نه مطالبه کوله چه زهٔ ګورم او کله به هغهٔ راته وئیل چه آیا تهٔ ګورے؟۔ دلته وګوره د رسول الله ﷺ اخلاقو ته، داسے نهٔ وائی چه زما وخت به خراب شی، هسے وخت راله مهٔ ضائع کوه۔

سوال دا دے چه عائشے رضی الله عنها څرنګ پردو سړو ته کتلی؟ ۔

جواب ۱: څا وئیلی دی چه دا هغه وخت وو چه لا د پردے حکم نازل نهٔ وو، لیکن دا قول ضعیف دے ځکه چه د پردے حکم په پنځم کال نازل شوے وو، او په روایت د ابن

حبانؒ کښې دی : چه دا کار په هغه وخت شوې وو چه د حبشو وفد راغلي وو، او معلومه خبره ده چه د حبشو وفد په اُوم کال د هجرت باندې راغلي وو۔

دویم دا چه دلته (يَسْتُرُنِيْ بِرِدَائِهٖ) لفظ دلیل دې چه دې وخت کښې حجاب نازل وو، پدې وجه رسول الله ﷺ دا په څادر سره پټه کړې وه۔ **۲جواب** دا دې چه لوبو ته ئې کتلی نهٔ سړو ته، او داسې کتل جائز دی۔ **جواب ۳:** بعضو وئیلی دی چه دا پدې وخت کښې نابالغه وه لکه دا الفاظ [فَاقْدُرُوْا قَدْرَ الْجَارِيَةِ الْحَدِيْثَةِ السِّنِّ الْحَرِيْصَةِ عَلَى اللَّهْوِ]۔ دلیل دې چه دا دې وخت کښې جینۍ وه۔ لیکن حافظ ابن حجرؒ پدې باندې رد کړې چه په روایت د ابن حبان کښې دی چه دا د اوم کال واقعه ده او پدې وخت کښې د عائشې ؓ عمر (۱۵) کاله وو۔ (فتح الباری : ۲۶۷/۳)

جواب ٤ : غوره جواب دا دې چه د زنانه کتل سړو ته بغیر د شهوت نه جائز دی لیکن د سړو دپاره زنانو ته کتلو کښې سختي زیاته ده۔ لکه دا خبره مخکښې ذکر شوه۔ او خاصکر دلته ئې دا لفظ هم وئیلې چه (اَنْظُرُ اِلٰى لَعِبِهِمْ) نو سړو ته کتل تبعاً راغلی۔ څکه چه د سړو شهوت په ګوتو وروړو سره پیدا کیږي او د سړو شهوت په نظر سره پیدا کیږي، او دا حکمت دې۔

عائشې ؓ به د نبی ﷺ خوښی او ناخوښی څنګه پیژندله

3245 (8) – وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **إِنِّيْ لَأَعْلَمُ إِذَا كُنْتِ عَنِّيْ رَاضِيَةً وَإِذَا كُنْتِ عَنِّيْ غَضْبٰى** " فَقُلْتُ: مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذٰلِكَ ؟ فَقَالَ :" **إِذَا كُنْتِ عَنِّيْ رَاضِيَةً فَإِنَّكِ تَقُوْلِيْنَ : لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ وَإِذَا كُنْتِ عَلَيَّ غَضْبٰى قُلْتِ : لَا وَرَبِّ إِبْرَاهِيْمَ** ". قَالَتْ : قُلْتُ : أَجَلْ وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ.

ترجمه : او عائشه ؓ فرمائی : ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل : زهٔ ښهٔ پو هیږم هرکله چه تهٔ ما نه خوشحاله ئې، او هرکله چه ما نه خفه ئې ؟ ما وویل : د کوم ځائې نه تهٔ دا پیژنې؟ وې فرمایل : هرکله چه تهٔ زما نه خوشحاله ئې نو تهٔ داسې وائې : داسې نهٔ ده قسم دې په رب د محمد (ﷺ)، او هرکله چه ما باندې غصه ئې نو داسې وائې : داسې نهٔ ده، قسم دې په رب د ابراهیم (علیه السلام) هغه وائی : ما وویل : آؤ قسم په الله اے د الله رسوله ! زهٔ صرف ستا نوم پریږدم (او زړهٔ کښې ستا محبت پوره باقي وی)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[لَأَعْلَمُ]۔ یعنی زهٔ ستا د شان او ستا د خبرو نه دا معلوموم چه تهٔ خفه ئې او که خوشحاله۔ [رَاضِيَةً]۔ رضاء او غضب دوه قسمه دے : (۱) ظاهری رضاء او غضب چه په خوله ووائی او دا ښکاره دے۔ دلته دا مراد نهٔ دے۔ (۲) باطنی : چه په ظاهره کښے جوړ وی لیکن په زړهٔ کښے خفه وی، او دلته دا مراد دے پدے وجه (مِنْ أَيْنَ تَعْرِفُ ذٰلِكَ؟) وئیلی دی۔ [فَإِنَّكِ تَقُوْلِيْنَ] ۔ یعنی کله چه تهٔ راضی ئې او د قَسم کوم حالت راشی نو تهٔ په قسم کښے زما نوم ذکر کوے او کله چه تهٔ خفګان کښے ئې نو زما نوم نهٔ ذکر کوے۔

[مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ] ۔ یعنی اے د الله رسوله ! زړهٔ کښے دا رانهٔ ولے چه زما زړهٔ به بدل شوے وی، او ستا د محبت نه به اوړیدلے وی، بلکه زما خفګان صرف ستا د نوم پریخودو پورے وی، ددے نه ستا ذات ته نهٔ متعدی کیږی، زړهٔ مے همغه شان ستا د محبت نه ډك وی۔

فوائد : (۱) ددے حدیث نه نفی د علم الغیب معلوم شو۔

(۲) نبی ﷺ نه خفه کیدل او په هغهٔ باندے غصه کیدل خو کفر دے لیکن د نبی ﷺ د بیبیانو دپاره دا حکم نهٔ دے، د هغوی دپاره خفګان جائز دے، او پدے باندے هغوی نهٔ ګناهګاریږی او دا ځکه چه دا غضب په دنیاوی امورو کښے د بشری طبیعت په وجه کیږی، او دینی امورو کښے د هغوی غضب نهٔ وی۔

(۳) زنانه دپاره د خاوند نوم اخستل جائز دی۔

(٤) رسول الله ﷺ د زنانو د هفواتو او د هغوی د لغزشاتو سره ډیر ناکام کونکے وو۔

(۵) د عائشے ؓ کامله هوښیارتیا معلومه شوه چه د رسول الله ﷺ د نوم نهٔ ذکر کولو په وخت کښے د ابراهیم ؑ نوم ذکر کوی ځکه چه نبی ﷺ ابراهیم ؑ ته زیات نزدے دے، اشاره ده چه زهٔ د دائرے د تعلق نه په حالت د غصه کښے هم نهٔ یم بهر شوے۔

(٦) په قرائنو باندے فیصله کول جائز دی۔

(۷) اسم کله عین مُسَمّیٰ وی او کله غیر مُسَمّیٰ، د الله تعالیٰ نوم چه کله په مقام د دعاء کښے استعمال شی نو بیا اسم عین مسمیٰ وی او کله چه په مقام د تعداد یا اختلاف د دلالت کښے وی نو بیا اسم غیر د مسمیٰ نه دے. لکه حدیث کښے دی : [إِنَّ لِلّٰهِ تِسْعًا وَتِسْعِيْنَ اسْمًا]۔ (البحر المحیط الثجاج، فتح الباری)

رمضان ۲۱۔

د سړي د خواهش په وخت به ښځه د خاوند د همبسترئ نه انکار نهٔ کوي

3246 (9) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا قَالَ :" **وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلَّا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ابو هریره ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چه سړے خپله ښځه خپلے بسترے ته د (حاجت دپاره) راوبلي او هغه د راتلو نه انکار وکړي نو سهاره پورے ملائك په دے ښځه لعنت وائي. (بخاريؒ، مسلمؒ). او په روایت د بخاريؒ او مسلمؒ کښے دي : وے فرمایل : قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ په لاس کښے دے، نشته يو سړے چه خپله ښځه خپلے بسترے ته راوغواړي او هغه ترے انکار وکړي مګر هغه الله چه په آسمان کښے دے (بره طرف کښے دے) هغه به پدے باندے غصه وي تردے چه خاوند ددے نه راضي شي.

تشریح : [إِلَى فِرَاشِهِ] ظاهره داده چه فراش د جماع نه کنایه ده. لکه بل حدیث کښے دي: [اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ] (ماشوم د هغه چا رسیږي چه د چا په بستره جماع کړے وي) [سَيَأْتِي فِي آخِرِ بَابِ الْعِدَّةِ، إِنْ شَاءَ اللّٰه] او د شرم والا خبرے په کتاب او سنت کښے په کنایه سره ذکر کول ډیر دي، لکه ﴿ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ﴾ [البقرة : ۱۸۷] او فراش غوړولو او خملولو ته او ښځے ته مُسْتَفْرِشَه (غوړول شوے) وائي. او یا بسترے ته راغوښتل عام دي که د جماع دپاره وي او که هسے د مینے محبت او سکون حاصلولو دپاره وي. په دواړو صورتونو کښے به زنانه انکار نکوي. [فَأَبَتْ] انکار وکړي، برابره خبره ده که په ژبه ووائي چه نهٔ درځم، او یا بے ځایه شرطونه لګوي او بهانے لټوي. او یا صبر وکړه، صبر وکړه وائي او موقع ضائع کړي. [فَبَاتَ غَضْبَانَ] سړے شپه تیره کړي په داسے حال کښے چه په هغے باندے غصه وي او د هغے نه ناراضه وي. ددے جملے فائده دا ده چه که خاوند هغه را اُوبلي او هغه رانشي او خاوند هغه معذوره وګڼړي او یا خپل حق پریدي نو بیا په ښځه لعنت نشته. دا قید د مطلق روایتونو دپاره د قید په شان حیثیت لري. [لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ] د ملائکو لعنت دادے چه هغوی ورته ښیرے کوي چه الله تعالیٰ

ډېـ پـه دې ښځـه لعنت وکړي، دا ډې د خپل رحمت يا جنت نه لرې کړي او يا ډې ورله سخت عذاب ورکړي۔ او دا ملائك خو يا حَفَظَه (انسان ساتونکي) ملائك دي او يا نور دي، ځکه ملائك په ګنړو کارونو مقرر دي نو ممکنه ده چه د هغې نه يو په دې کار بانـدې هم مقرر وي۔ د بخاريؒ او مسلمؒ پـه بل روايت کښې ورسره دا الفاظ هم شته : [فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا] (او خاوند ديته د غصه کيدو په حالت کښې شپه تيره کړي)

[حَتّٰى تُصْبِحَ] دلتـه په بخاريؒ او مسلمؒ کښې درې الفاظ راغلي : (١) [حَتّٰى تُصْبِحَ] (٢) [حَتّٰى يَرْضٰى] (٣) [حَتّٰى تَرْجِعَ] اولنـې پـه غالـب بانـدې محمول دې ځکه عام طور سره ښځـه خـاوند د شپې رابلي، او کله نا کله د ورځې۔ نو دا په اغلبيت باندې حمل دې۔ او دا مطلب نۀ دې چه د ورځې ئې راوبلي او هغه انکار وکړي نو دا سزا به ئې نۀ وي، ځکه کله بـه د ورځې انکار د شپې د انکار نه هم زيات ناروا وي، لکه مخکښې حديث تير شو : (کله چه پـه تاسو کښې يو تن يوه ښځه ووينې (او هغه ئې خوښه شي) نو خپل کوروالا سره ډې کوروالې وکړي ځکه په دې سره به هغه شې ختم شي کوم چه ددۀ په زړۀ کښې راغلې) نو په دې وخت کښې د فتنې نه د بچ کيدو دپاره ښځه رابلل کيږي۔

يا [حَتّٰى تُصْبِحَ] پـه هغـه وخت بـانـدې حـمـل دې چـه د رابللو نه پس رضا او رجوع حـاصـلـه نشـي بـلـکه ښځه دغسې په انکار باندې کلکه پاتې شي نو تر صبا پورې په دې لعنت جاري وي۔ او هرچه [حَتّٰى يَرْضٰى] او [حَتّٰى تَرْجِعَ] دې نو په دې کښې به لعنت هله بـنـديـږي چـه کـلـه خاوند راضي شي يا ښځه انکار پريدي او د خاوند ومني۔ نو بيا چه د څۀ وخت نـه خـاونـد راضـي شي يا ښځه انکار پريدي نو د همدغه وخت نه به په ښځه باندې د ملائکو لعنت بند شي۔

[اَلَّذِيْ فِي السَّمَاءِ] هـغـه ذات (الله) چه د آسمانونو دپاسه دې۔ (فِيْ) په معنیٰ د (عَلٰى) سره دې، او دا پـه عربيئ او په قرآن او حديث کښې د يو بل په معنیٰ سره ذکر کيږي۔ لکه ﴿لَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ﴾ [طٰه : ٧١] (زۀ بـه تـاسـو د کهـجـورو پـه تنو باندې په دار وخيژوم) يا لکه : ﴿قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ﴾ [النمل: ٦٩] (ورتـه ووايـه په زمکه باندې چکر ولګوئ) نو دلته (فِيْ) په معنیٰ د (عَلٰى) سره دې۔

دارنـګـه حديث کښې دي : [اِرْحَمُوْا مَنْ فِي الْاَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ] نـو دلته دواړه ذکر شوي، انسان د زمکې دپاسه دې او الله تعالىٰ د آسمانونو دپاسه۔

او يا د [اَلَّذِيُ فِي السَّمَاءِ] معنیٰ ده هغه ذات چه په جهت د عُلو کښې دے۔ او د الله تعالیٰ سره دلته بل هيڅ شے نشته۔ [سَاخِطًا] غصه، ناراضه۔

فوائد : (۱) حديث نه ثابته شوه چه ښځې دپاره د خاوند طاعت كول او خبره منل واجب دی هر كله ئے چه بسترے ته راوبلي او شرعی عذرئے نۀ وی نو ددے نه انكار كول حرام دی۔ او په نۀ راتلو کښے حيض شرعی عذر نشي جوړيدے، ځكه خاوند دپاره دا اجازت شته چه د نامۀ دپاسه ددے نه فائده واخلي۔ او د ښځے دا انكار كول ځكه حرام دی چه په دے باندے لعنت راغلے او لعنت يا په حرام كار كولو او يا د واجب كار په پريښودلو راځي۔ او ښځے له دا دومره لويه ويره او دهمكي ځكه وركړے شوے چه د خاوند د دعوت په نۀ قبلولو کښے ډير اضرار او خرابئ دی۔ مثلًا: په دے كار سره په حرامو کښے د خاوند د غورزيدو خطره ده۔ يا په هغۀ باندے په جسماني بيمارئ کښے د پريوتو ويره ده۔ دارنګه د غصے په وجه د هغۀ په نفس کښے د بدلون راتللو خطره ده۔ اوكه دا كار ښځه هروخت كوي نو كيدے شي چه دا ددے دواړو د فراق اوجدايئ سبب هم وګرځي۔

او دا هم ممكنه ده چه ښځه د خاوند د جذباتو قدر نۀ كوي بلكه دا ورته يو بے فائدے كار ښكاري، نو د دويمے ښځے كولو دپاره سبب جوړيدے شي۔ لكه ډيرے كم عقله ښځے په خپل ځان باندے بنه په خپله راولي۔ هر وخت نۀ كړي نۀ كړي كوي، نو خاوند دا سوچ وكړي چه دا ځۀ عذاب سره زۀ مخامخ يم۔ نو خيالات ئے بدل شي۔

هوښياره ښځه هغه ده چه هر وخت خپل خاوند ته ځان جوړوي او هغه په جنسي خواهشاتو پوره كولو باندے پُر معمور ساتي، نو بيا به د هغۀ بلے ښځے ته نۀ فكر كيږي۔ ښځو او جينكو له پكار دی چه دا نُكته په ذهن کښے خامخا وساتي، او خپل خاوند سره داسے ژوند تيروي، لكه دوه ياران دوستان چه څنګه تعلق ساتي۔

(۲) دا مذكوره عذاب ښځے ته هله رسي چه كله خاوند د خپلے ښځے حق ادا كوي، خوراك څكاك، لباس، او استوګنه ورته وركوي۔ پاتے شو هغه خاوند چه هغه په هغے ظلم او زياتے كوي او هغے ته د هغے حق نۀ وركوي او يائے ترے مهر ايسار كړے دے نو بيا په هغے باندے د خپل خاوند خبره منل او فرمانبرداری كول لازم نۀ دی۔

(۳) او حديث نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ د خپل بنده څومره لحاظ ساتي او څوك چه د هغۀ د شهوت پوره كولو په لار کښے خنډ واقع كيږی نو په هغۀ لعنت كوي ! دے

وجے نه په بنده باندے هم واجب دی چه د خپل رب هغه حقونه ادا کوی چه هغهٔ ورته په دے حکم کړے او د هغهٔ د نافرمانئ نه ځان ساتی، د هغهٔ ذکر او شکر او ښائسته عبادت کوی. که دا نهٔ وی نو دا څومره بے وفائی ده چه يو سپک او حقير غلام دِے د يو عظيم بادشاه خلاف کوی ! (٤) او حديث نه معلومه شوه چه د انسانانو په حق کښے د ملائکو ښيرے او دعاګانے قبليږی. که چرے دا نهٔ قبليدے نو نبی کريم ﷺ به د خاوند نافرمانی کونکے ښځے په دے سره نهٔ ويرولے. قرآن کريم نه هم دا مسئله معلومه ده : ﴿وَالْمَلَائِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ﴾ [الشورى: ٥]

(٥) د [اِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ] الفاظ د خپل عموم په وجه دليل دے چه خاوند د خپلے ښځے نه هر وخت د جماع مطالبه کولے شی، اګرکه زيات ولے نهٔ وی. په دے باره کښے څهٔ مقرر حد نهٔ دے معلوم، څهٔ وخت چه د خاوند رغبت پيدا شی، ښځه به ورته لبّيك وائی. دغه شان څهٔ وخت چه د ښځے رغبت پيدا شی نو خاوند به د هغے دا شوق پوره کوی.

(٦) پدے حديث کښے د لعنت وئيلو مسئله ده چه دا په اول جلد کښے ذکر شوے مختصر دا چه دا حديث دليل دے چه په هغه معلوم تن باندے لعنت وئيل جائز دی چه هغه په يوه ګناه باندے متصف وی. د علماؤ په دے کښے اتفاق دے چه په ټولو کافرانو لعنت وئيل جائز دی، دارنګه په ټولو مجرمانو لکه شراب خوارهٔ، سود خوارهٔ، زناکار، او هغه ښځے چه سړو سره مشابهت کوی او هغه سړی چه ښځو سره مشابهت کوی. [تفسير القرطبي: ٢/١٨٨]

البته په معلوم ګنهګار باندے لعنت وئيلو کښے اختلاف دے :

(أ) بعضِ اهل علم دا جائز ګڼړی (نوویؒ) او دليل کښے دا حديث پيش کوی.

دارنګه د جابر ؓ په حديث کښے دی : ((نبی ﷺ په يو خرهٔ باندے تير شو چه هغهٔ په مخ داغل شوے وو، نو وے فرمايل: الله دے په هغه چا لعنت وکړی چه دائے داغلے دے)) [مسلم: ٢١١٧] (ب) او نورو اهلِ علم فرمائی : په معلوم شخص لعنت وئيل جائز نهٔ دی، ځکه لعنت خو د الله تعالىٰ د رحمت نه لرے کولو ته وائی او مونږ ته معلومه نهٔ ده چه ددے معلوم فاسق يا معلوم کافر آخره خاتمه به په څهٔ سره کيږی ؟ (شيخ الاسلام ابن تيميهؒ) [رفع الملام، ص: ٢٢] او ددے دليل دادے چه نبی کريم ﷺ په هغه صحابی

باندې د لعنت وئيلو نه منع وفرمايله چه هغهٔ شراب څښلي وو او د سزا ورکولو دپاره راوستل شو، او په څپلو او ډبليو باندې ووهل شو، او يوتن په کښې ووېل: الله دې تا رسوا کړي. نو نبي ﷺ وفرمايل: داسې مهٔ وايئ، ددهٔ په مقابله کښې شيطان سره مدد مهٔ کوئ. [بخاري: ۶۷۷۷، فتح الباري: ۱۲/۷۵] او همدا دويم **قول راجح** دې، ځکه ددې دليل قوي دې، بله دا چه: د توبې وېښکلو امکان شته دې.

❁ او هر چه د جابر ﷺ د خر د داغلو حديث دې، نو د هغې نه مراد په جنس فاعل باندې لعنت دې، نهٔ په يو معلوم فاعل. ددې تائيد دادې چه هر کله نبي کريم ﷺ د اُحُد د غزا نه پس په بعضِ معلومو کافرانو لعنت ووايهٔ (ښيرې ئې ورته وکړې) او د هغوئ نومونه ئې واخستل، نو دا آيتِ کريمه نازل شو: ﴿ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ ﴾ [آل عمران: ۱۲۸] او ددې نه منع کړې شو.

❁ پاتې شو حديث الباب: نو په دې کښې د ملائکو د لعنت تذکره ده، او زمونږ او د هغوئ حکم جدا جدا دې، مونږ په دې کښې د هغوئ پيروي نشو کولې مگر په دليل سره او هغه موجود نهٔ دې.

(۷) او حديث کښې د الله تعالیٰ دوه کمالي صفتونه ذکر شوي: يو دا چه الله تعالیٰ د آسمانونو دپاسه دې. او بل الله تعالیٰ د غصه کيدو صفت لري. بدعتيان خلک دا دواړه صفتونه نهٔ مني بلکه په دې کښې تحريف کوي. دا انکار او تحريف د اهل السنة والجماعت د منهج خلاف دې.

(۸) (فَتَأْبٰى عَلَيْهِ) نه معلومه شوه چه زنانه د سړي نه په خواهشاتو کښې کمزورې ده، پدې وجه انکار کوي. والله تعالیٰ اعلم.

هيڅ ښځه دِې خامخا د خپلې بنې د سوزولو کار نهٔ کوي

3247 (10) – وَعَنْ أَسْمَاءَ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ لِيْ ضَرَّةً فَهَلْ عَلَيَّ جُنَاحٌ إِنْ تَشَبَّعْتُ مِنْ زَوْجِيْ غَيْرَ الَّذِيْ يُعْطِيْنِيْ ؟ فَقَالَ : " **اَلْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ** ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او اسماء ﷺ نه روايت دې چه يوې ښځې ووېل: اې د الله رسوله! زما يوه بنه ده، نو آيا ما باندې گناه شته چه زهٔ د خپل خاوند نه ځان موړ ښکاره کړم په غير د هغه

شی باندے چه هغهٔ ئے ماله راکوی۔ (یعنی ما ته چه خاوند څه راکوی که زهٔ د خپلے بنے د سوزولو دپاره هغه شے زیات ښکاره کړم چه ما ته خاوند ستا نه زیات راکوی، زهٔ ورته ډیره ګرانه یم نو آیا په دے کښے څه بدی شته ؟) نبی کریم ﷺ وفرمایل : (آؤ دا ډیره بده خبره ده ځکه) هغه شخص چه ځان موړ ښکاره کوی په هغه شی باندے چه دهٔ ته نهٔ وی ورکړے شوے نو هغه د دروغو دوه جامے اغوستونکی په شان دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : ددے حدیث د باب سره څه خاص مناسبت نشته مګر دا چه خاوند له پکار دی چه د دوه ښځو ترمینځ اعتدال وکړی۔ [اِنُ تَشَبَّعُتُ]۔ یعنی ځان موړ ښکاره کړم چه ما ته خو خاوند دومره دومره مالونه او حقونه راکوی، او په دے کښے ئے مقصد د خپلے بلنے غصه کول وی۔ او خپل ځان اُوچت ګنړل وی۔ [اَلُمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمُ یُعُطَ کَلَابِسِ ثَوُبَیُ زُوُرٍ]۔ ځان موړ ښکاره کونکے، یعنی ځان ښائسته ښکاره کونکے په هغه څه سره چه دهٔ سره په حقیقت کښے نهٔ وی، او په ناروا طریقه ځان ښائسته ښکاره کوی، لکه دلته زنانه د خاوند د طرف نه د ډیر خیز د ورکړے دعوه کوی او په مینځ کښے ورله خاوند دومره څه نهٔ ورکوی۔ نو دا داسے مذموم او ناکاره دے لکه څنګه چه یو تن د دروغو دوه جامے اچولی وی۔ ددے ډیر مطلبونه دی : (۱) لکه یو تن د زاهدانو او عبادت ګذارو بزرګانو جامے اغوستی وی مقصد ئے دا وی چه ځان خلکو ته ښکاره کړی چه دے پدے کارونو متصف دے او په مینځ کښے دهٔ کښے دا صفات نهٔ وی نو دا د دروغو او د ریاء جامے دی۔

(۲) د دروغو جامو مطلب دا هم دے چه یو تن پردئ جامے اغوستی وی او ځان داسے ښکاره کوی چه دا زما خپلے دی، پدے کار سره فخر کوی۔

(۳) بعض وائی : ددے نه مراد هغه شخص دے چه یو قمیص ئے اغوستے وی او د هغهٔ د لوستونړو سره ئے دوه لوستونړی یو ځائے کړی وی دے دپاره چه خلکو ته ښکاره کړی چه دهٔ دوه قمیصونه اغوستی دی۔ (از هریؒ)

(٤) اسحاق بن راهویهؒ د ابو الغمر الاعرابیؒ نه نقل کوی وائی چه : دا د عربو په عادت بناء دے، چه هغوی به په مجلس کښے کیناستل او یو تن به دوه ښکلے کپړے اغوستے وے نو کله چه به دوئ د دروغو ګواهئ ته مجبوره شول نو دغه یو تن به ورله د دروغو ګواهی وکړه نو هغوی به دهٔ ګواهی قبلوله او دا به ئے وئیل چه دا څومره ښائسته هیئت او لباس والا دے۔ او مینځ کښے به هغه دروغجن وو۔

(۵) غوره دا ده چه د حدیث مطلب داسے بیان شی چه یو تن ته څه صفات نهٔ وی ورکړے شوی، او دے وائی چه ما ته الله تعالیٰ دا صفات او کمالات راکړی، یا وائی چه ما ته فلانی بادشاه او فلانی شخص دا دا شیان خصوصی راکړل او مینځ کښے ئے ورله نهٔ وی ورکړی، نو پدے کار سره دے انسان دوه دروغه راجمع کړل، یو دا چه ځان ئے متصف کړو په هغه څهٔ سره چه دهٔ کښے نهٔ وو، یا ئے د هغه شی د اخستو دعوه وکړه چه دهٔ نهٔ وو اخستے، او دویم : په الله تعالیٰ باندے ئے دروغ وویل او دغه شان په انسانانو هم۔ نو د دوه جامو د دروغو نه مراد دا دوه حالتونه شول چه دهٔ پرے ځان متصف کړو، او ثوب په عربئ کښے ښائسته صفت ته هم وئیلے شی۔

[مرقاة الصعود شرح سنن أبی داود ۱۲۶۶/۳ سیوطیؒ، والبحر المحیط]

ددے مثال دا هم دے چه د یو سړی د سرکاری حکامو سره تعلق نهٔ وی لیکن دعوی کوی چه زما د فلانی وزیر سره تعلق دے، کله د خلکو مخامخ ددروغو فون ملاؤ کړی، دا ښکاره کوی چه زهٔ ددے فلانی سره خبرے کوم۔

نو نبی ﷺ دا زنانه په سختو الفاظو سره ددے کار نه منع کړه یو خو پدے کار سره د ښځے په خپل خاوند باندے بدگمانی پیدا کیږی، چه دا دے محبتئ سبب جوړیږی، دارنګه بُغض او کینه او جنګ جګړے پیدا کیږی، او دارنګه د بنے سره ئے کینه پیدا کیږی نو (کَلَابِسِ ثَوْبَیْ زُوْرٍ) مطلب دا شو چه دا کار د سر نه تر خپو دروغ دی چه ښځه ئے کوی۔

د ایلاء مطلب

3248 (11) – وَعَنْ أَنَسٍ ؓ قَالَ : آلَی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنْ نِسَائِهٖ شَهْرًا وَكَانَتِ انْفَكَّتْ رِجْلُهٗ فَأَقَامَ فِیْ مَشْرُبَةٍ تِسْعًا وَّعِشْرِیْنَ لَیْلَةً ثُمَّ نَزَلَ فَقَالُوْا : یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ آلَیْتَ شَهْرًا فَقَالَ :"**إِنَّ الشَّهْرَ یَكُوْنُ تِسْعًا وَعِشْرِیْنَ**". رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

ترجمه : او انس ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه یوه میاشت قسم وکړو او د هغهٔ خفه ختلے وه، نو په بالاخانه کښے نهه ویشت شپے وسیدو بیا راکوز شو نو کور والو ورته وویل : اے د الله رسوله ! تا یوه میاشت قسم کړے وو (او تهٔ یوه ورځ کم باندے راکوز شوے) نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : میاشت (کله) د نهه ویشتو شپو هم وی۔

(بخاریؒ)

تشریح : [آلی] ایلاء (د ښځې نه قسم کول) په دوه قسمه دی : (۱) **لغوی ایلاء** : چه د ښځې نه خفه شی او قسم وکړی چه دے به نۀ نزدے کیږی خو دا موده د څلورو میاشتو نه کمه وی۔ نو ددے حکم دا دے چه که موده ئے نۀ وه ذکر کړے او نزدے شی نو کفاره د قسم به ورکړی، او خپلے ښځے ته په هر وخت کښے رجوع کولے شی۔ او که د یوے میاشتے تعیین ئے کړے وو، نو که په مینځ کښے نزدے شو کفاره د قسم به ورکړی او که میاشت ئے پوره کړه نو خپل قسم ئے سر ته ورسولو بیا پرے کفاره هم نشته۔

(۲) دویم **شرعی ایلاء** ده، دیته وائی چه د خپلے ښځے نه قسم وکړی چه زۀ به دے ته څلور میاشتے نۀ نزدے کیږم نو که مینځ کښے نزدے شو نو د قسم کفاره به ورکوی، او نکاح ئے ماته نۀ ده او که څلور میاشتے پوره شوے : (۱) نو جمهور علماء وائی چه سمدستي نکاح نۀ ماتیږی بلکه (یُوْقَفُ الْمُوْلِيْ عِنْدَ الْقَاضِيْ) ایلاء کونکے به د قاضی مخے ته ودرولے شی نو یا به رجوع کوی او یا به طلاق ورکوی۔

(۲) احناف وائی چه د څلورو میاشتو په تیریدو سمدست طلاق واقع شو لکه دا به په خپل باب کښے راشی او دلته لغوی ایلاء مراد ده، او نبی ﷺ دا ایلاء پدے وجه کړے چه بیبیانو د زیاتے نفقے مطالبه کړے وه دے دپاره چه نبی ﷺ نور نکاحونه ونکړی۔ نو نبی ﷺ هغوی ته ادب ورکولو دپاره ایلاء وکړه۔

[اِنْفَكَّتْ رِجْلُهُ] - (ختلے وه خپه د رسول الله ﷺ)۔ د رسول الله ﷺ دوه کرته خپه ختلے وه، یو ځل په مکه کښے چه کله د یو کافر دعوت له تلے وو او د اس نه راوغورزیدو۔ او دویم ځل په مدینه کښے په پنځم کال۔

دا دلیل دے چه نبی ﷺ بشر دے، د غورزیدو نه محفوظ نۀ دے، رد شو په مشرکانو چه د هغوی د اولیاؤ نه مددونه غواړی حال دا چه نبی ﷺ خپل ځان د مصیبت نه نشی بچ کولے۔ [مَشْرُبَة]۔ د میم زور، د راء پیښ او زور دواړه صحیح دی، بالاخانه۔ کمره۔ [فَقَالُوْا]۔ بل روایت کښے دی چه دا ویونکے عائشه رضی الله عنها وه۔ او نورے زنانه هم ورسره وے۔ [اِنَّ الشَّهْرَ] یعنی کله میاشت د نهه ویشتو وی، نو دا میاشت هم د نهه ویشتو ورځو ده۔

د رسول الله ﷺ د ایلاء واقعه

3249 (12) - وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : دَخَلَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ يَسْتَأْذِنُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَوَجَدَ النَّاسَ جُلُوسًا بِبَابِهِ لَمْ يُؤْذَنْ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ قَالَ : فَأُذِنَ لِأَبِي بَكْرٍ فَدَخَلَ ثُمَّ أَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَأْذَنَ فَأُذِنَ لَهُ فَوَجَدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا حَوْلَهُ نِسَاؤُهُ وَاجِمًا سَاكِتًا قَالَ فَقُلْتُ : لَأَقُولَنَّ شَيْئًا أُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوْ رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ سَأَلَتْنِي النَّفَقَةَ فَقُمْتُ إِلَيْهَا فَوَجَأْتُ عُنُقَهَا فَضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ : " **هُنَّ حَوْلِي كَمَا تَرَى يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ** ". فَقَامَ أَبُو بَكْرٍ إِلَى عَائِشَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا وَقَامَ عُمَرُ إِلَى حَفْصَةَ يَجَأُ عُنُقَهَا كِلَاهُمَا يَقُولُ : تَسْأَلِينَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَيْسَ عِنْدَهُ ؟ فَقُلْنَ : وَاللَّهِ لَا نَسْأَلُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا أَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهُ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا أَوْ تِسْعًا وَعِشْرِينَ ثُمَّ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ : (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ) حَتَّى بَلَغَ (لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا) قَالَ : فَبَدَأَ بِعَائِشَةَ فَقَالَ : " **يَا عَائِشَةُ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَعْرِضَ عَلَيْكِ أَمْرًا أُحِبُّ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَشِيرِي أَبَوَيْكِ** ". قَالَتْ : وَمَا هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَتَلَا عَلَيْهَا الْآيَةَ قَالَتْ : أَفِيكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْتَشِيرُ أَبَوَيَّ ؟ بَلْ أَخْتَارُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ وَأَسْأَلُكَ أَنْ لَا تُخْبِرَ امْرَأَةً مِنْ نِسَائِكَ بِالَّذِي قُلْتُ : قَالَ : " **لَا تَسْأَلُنِي امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ إِلَّا أَخْبَرْتُهَا إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَبْعَثْنِي مُعَنِّتًا وَلَا مُتَعَنِّتًا وَلٰكِنْ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُيَسِّرًا** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : د جابر ﷺ نه روایت دے چه هغهٔ وفرمایل : (په هغه ورځ چه رسول الله ﷺ د بیبیانو نه یوه میاشت جدائی اختیار کړے وه نو) ابوبکر صدیق ﷺ راغلو چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښے د حاضریدو اجازت ئے طلب کولو، نو خلك ئے د هغهٔ په دروازه کښے ناست ومونډل چه د هغوی نه هیچا ته اجازت نهٔ وو ورکړے شوے، جابر ﷺ فرمائی : نو ابوبکر صدیق ﷺ ته ئے اجازت ورکړو هغه ننوتو، بیا عمر فاروق ﷺ راغلو هغهٔ هم اجازت وغوښتو نو هغهٔ ته ئے هم اجازت ورکړو نو هغهٔ نبی کریم ﷺ ولیدو چه ګیر چاپیره د هغهٔ بیبیانے ناستے وے او هغه خفه غلے ناست وو۔

عمر فاروق ﷺ وفرمایل : ما (ځان سره) وویل : خامخا زهٔ به داسے خبره کوم چه نبی

كريم ﷺ به خندوم، نو هغهٔ وويل : اے د الله رسوله ! كه تا د خارجه لور ليدلے وے چه (كله ئے) ما نه نفقه غوښتله نو زهٔ ورپسے ورپاڅيدم او د هغے څټ مے زخمي كړو نو رسول الله ﷺ وخندل او ويے فرمايل : (چه زما) دا ښځے (هم) تهٔ گورے چه زما نه گير چاپيره ناستے دي، دوئ ما نه (زياته) نفقه غواړي۔

(پدے آوريدو سره) ابوبكر صديق (خپلے لور) عائشه ؓ پسے راپاڅيدو چه د هغے څټ باندے ئے گوزارونه كول، دغه شان عمر ؓ هم راپاڅيدو او د خپلے لور حفصے ؓ څټ باندے ئے گوزارونه كول، دواړو وئيل : آيا تاسو د رسول الله ﷺ نه هغه شے غواړئ چه د هغهٔ سره نشته ؟ نو هغوئ وويل : قسم په الله مونږ به د رسول الله ﷺ نه هيڅكله هيڅ شے نهٔ غواړو چه د هغهٔ سره نهٔ وي، بيا رسول الله ﷺ د بيبيانو نه يوه مياشت يا نهه ويشت شپے جدا شو بيا (د تخيير) دا آيت نازل شو :(يَا اَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِاَزْوَاجِكَ) (اے نبي ! خپلو بيبيانو ته ووايه) تردے (لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا) ته ورسيدو۔

جابر ؓ وائي : نو رسول الله ﷺ په عائشه ؓ باندے (د آيت په لوستلو) شروع وكړه، نو ويے فرمايل : اے عائشے! زهٔ غواړم چه تا باندے يوه خبره پيش كړم، او دا غواړم چه تهٔ په هغے كښے جلتي مهٔ كوه تردے چه د خپل مور او پلار نه مشوره واخلے، هغے وويل : اے د الله رسوله ! هغه كومه خبره ده ؟ نو په هغے باندے ئے دغه آيت ولوستلو، هغے وويل : اے د الله رسوله ! آيا زهٔ به ستا په باره كښے د خپل مور او پلار نه مشوره اخلم؟ بلكه زهٔ الله تعالىٰ او د هغهٔ رسول او د آخرت كور غوره كوم، (چه دا ستا په ملگرتيا كښے ملاويږي) (ليكن) تا نه دا غواړم چه تهٔ د خپلو بيبيانو نه هيڅ يوے ښځے ته د هغه خبرے خبر مهٔ وركوه كومه چه ما (تا ته) ووئيله۔ نبي ﷺ وفرمايل : ما نه به ددے بيبيانو نه هيڅ يوه بي بي تپوس نهٔ كوي مگر زهٔ به ورته خبر وركوم، (ځكه چه) بيشكه زهٔ الله تعالىٰ تكليف كښے اچونكے او سختي كونكے نهٔ يم راليږلے ليكن زهٔ ئے تعليم وركونكے آساني كونكے راليږلے يم۔ (مسلمٌ)

تشريح : [حَوْلَهٗ نِسَاؤُهٗ] د ابوبكر صديق ؓ او عمر فاروق ؓ راتلل او د رسول الله ﷺ د بيبيانے گير چاپيره كيناستو په باره كښے بعض اهل علمو وئيلي دي چه كيدے شي چه دا د نزول الحجاب نه مخكښے واقع وي، ليكن دا خبره ضعيفه ده، وجه دا ده چه دا تخيير په نهم كال وو او نزول د حجاب خو ددے نه ډير مخكښے وو۔ نو بيا جواب دا دے

چه د ابوبکر ﷛ او عمر فاروق ﷛ په امهات المؤمنين باندے راتللو نه دا نهٔ لازميږي چه هغوی بے پردے ناستے وے، ډير امکان دے چه هغوی خپلو پرونو او څادرونو کښے پټے ناستے وی. دارنګه په شرطونو سره د محرم يا د خاوند په موجودګئ کښے داخليدل جائز دی. [وَاجِمًا]. يعنی غمجن، واجم هغه شخص ته وائی چه غم ئے دومره زيات شوے وی چه د خبرو نه ئے بند کړے وی. او ساکِتاً ئے تاکيد دے. [وَجَمَ مِنَ الْأَمْرِ يَجِمُ وُجُوْمًا، أَمْسَكَ عَنْهُ وَهُوَ كَارِهٌ] . وجم من الامر معنیٰ ده: د يو کار نه سره د بد ګڼړلو نه بند شو. [قَالَ فَقُلْتُ]. يعنی ما خپل ځان سره وويل. او ددے نه معلومه شوه چه په مسلمان باندے خوشحالی داخلول او د هغهٔ طبيعت تازه کول بهتر عمل دے. [لَوْ رَأَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ]. مطلب دا دے چه که چرته ما نه زما بی بی د معمول نه زياته خرچه وغواړی نو زهٔ ئے څټ نه نيسم او زخمی کوم ئے. نو نبی ﷺ وفرمايل: ما نه هم دا ګير چاپيره چه بيبيانے ناستے دی دوئ هم زياته خرچه غواړی، نو پدے کښے دواړه ملګری د خپلو خپلو لونړو پسے ورپاځيدل، بيا رسول الله ﷺ دواړه منع کړل لکه په بل روايت کښے دی. [بِنْتَ خَارِجَةَ]. صاحب التنبيه وئيلی دی چه د خارجه لور خو د ابوبکر صديق ﷛ بی بی وه، نهٔ د عمر فاروق ﷛، پدے وجه دا وَهم دے، او په مسند احمد کښے [اِبْنَةَ زَيْدٍ]. د زيد لور - چه د عمر فاروق ﷛ بی بی ده - ذکر ده. [فَوَجَأْتُ]. دا د [وَجَأَ يَجَأُ وِجَاءً] نه دے، يعنی په لاس يا په چاړهٔ باندے وهل او سيخول او زخمی کول. [يَسْأَلْنَنِي النَّفَقَةَ] يعنی د عادت او معمول نه زياته نفقه غواړی. دا ځکه وايو چه رسول الله ﷺ خو به خپلو بيبيانو ته د هغوئ مناسبه د يو کال خرچه مخکښے جدا کوله.

صاحب العمده ليکی: يوه ورځ بيبيانے راجمع شوے، وے وئيل چه مونږ د نبی ﷺ نه هغه کالی او زيورات غواړو څنګه چه عامے زنانه ئے د خاوندانو نه غواړی، تردے چه بعضو پکښے ووئيل که مونږ ددے نبی نه علاوه د بل چا په نکاح کښے وے نو زمونږ به ډير شان، کپړے او ګانړے وے، او څينی وائی چه هرے يوے داسے مطالبه وکړه چه د نبی ﷺ په هغے باندے وس نهٔ وو. ام سلمه ﵄ پتيدارے کپړے، او ميمونے ﵄ يمانی جوړه، او زينب ﵄ کرخو والا جوړه، يمنی څادر، ام حبيبے ﵄ سحولی جامه، او حفصے ﵄ د مصر جامے او جويره ﵄ معجر (سرتړونے، سربيچلك) او سودے ﵄ د خيبر شړئ وغوښتل سوئ د عائشے رضی الله عنها چه هغے هيڅ ونهٔ غوښتل. (عمدة القاری

١١٧/١٩) ليکن ددې خبرې سند نشته.

[تَسْأَلْنَ] دلته همزه استفهاميه حذف شوې. [اَیْ أَتَسْأَلْنَ] : آيا تاسو غواړئ. نو پدې کښې ئې خپلو لونړو ته په تاکيد سره ادب ورکړو. لکه څنګه چه رسول الله ﷺ خپلو بيبيانو ته ادب ورکولو دې دپاره چه د دنيا په سامانونو کښې رغبت ونکړي او دنيا ته ئې سترګې اوږدې نشي، پدې وجه رسول الله ﷺ اختيار ورکړو چه که د دنيا سامانونه مو پکار وي نو زۀ به طلاق درکړم بل چا سره به وادۀ وکړئ، دنيا به درته ملاؤ شي او که الله تعالىٰ او د هغۀ رسول غوره کوئ نو دنيا کښې به په معمولي باندې ګوزاره او صبر کوئ، د آخرت اجرونه بې حده دي، ليکن هغه هم د کمال ښځې وې، غوره بيبيانې الله تعالىٰ د غوره نبي دپاره منتخب کړې وې نو هغوی هيڅ قسم اختيار استعمال نکړو او نۀ ئې تردد وکړو بلکه سمدست ټولو الله تعالىٰ او د هغۀ رسول غوره کړو.

[ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ]. يعنې رسول الله ﷺ د بيبيانو نه د هغوی د ادب ورکولو دپاره خفه شو او قسم ئې وکړو چه زۀ به دوئ ته يوه مياشت نۀ نزدې کيږم. نو پدې موقعه کښې الله تعالىٰ د تخيير آيت نازل کړو. [يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ] دې ته آيت التخيير وائي،

مکمل آيت داسې دې : ﴿ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا وَإِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ فَإِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾.

[لَا تَعْجَلِيْ]. دا ورته رسول الله ﷺ ولې وفرمايل چه د مور او پلار د مشورې نه مخکښې د هغه کار فيصله مۀ کوه کوم چه درباندې زۀ پيش کوم؟ وجه دا وه چه کيدې شي دا د خپلې کم عمرئ په وجه دنيا غوره کړي، او هرچه مور او پلار دي هغه خو به ددې دپاره د آخرت سوچ زيات کوي. او د رسول الله ﷺ عائشې رضي الله عنها سره مينه وه پدې وجه ئې ورته دا ووېل چه په فيصله کښې جلتي مۀ کوه. ليکن هغه هم څه کمه هوښياره نۀ وه، سمدست ئې ووېل چه پدې کښې مشورې ته ضرورت نشته، زۀ الله تعالىٰ او د هغۀ رسول او آخرت غواړم. [وَأَسْأَلُكَ]. يعنې ما چه کوم جواب درکړو دا نورو بيبيانو ته مۀ وايه ! د عائشې رضي الله عنها مقصد دا وو چه زما د جواب نه په ناخبرئ کښې کيدې شي چه يوه بې بې دنيا غوره کړي او د رسول الله ﷺ د نکاح نه اوځي نو مونږ به رسول الله ﷺ ته نورې هم نزدې شو، دا ئې په نبي غيرت کولو. مقصد ئې دا وو چه د

رسول الله ﷺ محبت نور هم ځان ته راخکاري، ليکن د رسول الله ﷺ په نظر کښې تولو بيبيانو په خير او ښيګړه کښې يو شان حيثيت لرلو، هغۀ د تولو بيبيانو دپاره آخرت غوښتلو، هغه دا چرته برداشت کوله چه يوه بي بي دِې د آخرت د سعادتونو او مزونه بهر شي او د فاني دنيا ځيزونه غوره کړي. [مُعْنِتًا]. يعني بل چا لره په تکليف او مصيبت او غم کښې اخته کونکے. يعني په خلکو باندې سختي کونکے، او هغه ځه پرې لازمونکے چه په هغوی باندې ګرانيږي. [مُتَعَنِّتًا]. او تکلفاتو کونکے. ځان په مشقت کښې اچونکے، يا د خلکو لغزش او خوئيدنه طلب کونکے، متعنت هغه انسان ته وائي چه د بل چا زلات او لغزشونه لټوي او هغه غواړي.

او مطلب د دواړو دا دے چه دا نۀ غواړم چه په خپلو بيبيانو سختي راولم او د هغوی لغزش او خوئيدنه طلب کړم او هغوی ته ستا د جواب خبر ورنکړم. ❁يا مُعْنِت هغه ته وائي چه خلکو لره په مشقت کښې اچول ئې خوئي او عادت وي او متعنت هغه دے چه خلك په مشقت کښې اچوي اګرکه دا ئې عادت نۀ وي. (المفهم للقرطبي : ۲۵۶/٤)

[مُيَسِّرًا] پدے کښې آساني داسے ده چه يوه بي بي ترے تپوس وکړي چه عائشے رضي الله عنها کوم جواب کړے؟ او نبي ﷺ خبر ورکړي نو هغے ته به هم د الله او د رسول غوره کول آسان شي، ځکه چه بنه چه کوم کار کوي نو بله بَنه هم هغه غواړي. (المفهم، البحر المحيط الثجاج)

فوائد : (۱) نبي ﷺ د خلکو نه احتجاب کړے، د هغوی نه يو طرف ته شوے، نو خليفه او بادشاه وغيره له جائز دی چه د خلکو نه ځه وخت دپاره يو طرف ته شي چه عبادت او د الله تعالیٰ تعلق ته وزګار شي خو دا به لږ وخت دپاره وي. (۲) اجازت غوښتل واجب دی. (۳) د ابوبکر صديق ﷛ او عمر فاروق ﷛ فضيلت معلوم شو. (٤) دوستانو باندې د ورداخليدو په وخت کښې هم اجازت غوښتل لازم دی.

(۵) د خلکو خندول دوه قسمه دی، يو دا چه عادت جوړ نکړي بلکه عارضي د خندا په وجه د خلکو طبيعت تازه کړي نو دا کله کله جائز دی، او دويم دا چه عادت ئې جوړ کړے وي نو بيا دا کار صحيح نۀ دے. (٦) ضحك جائز دے او د نبي ﷺ نه تبسّم زيات نقل دے، او نبي ﷺ نه قهقهه بيخي نۀ ده نقل، دا دے غمه او بے وقاره خلکو طريقه ده. (۷) [فَقَامَ اَبُوْبَكْرٍ]. دے نه معلومه شوه چه پلار له پکار دی چه خپلے بالغے او وادۀ

شوې لورته ادب ورکړي اګرکه خاوند ئې هم حاضر وي.

(۸) [فَخَيَّرَهَا]. اختلاف دې چه په تخيير ورکولو سره طلاق واقع کيږي او که نهٔ؟ :

(۱) جمهور وائي چه په تخيير سره طلاق نهٔ واقع کيږي او همدا خبره صحيح ده،

(۲) علي بن ابي طالب ﷺ، زيد بن ثابت ﷺ، ليث بن سعدؒ او حسن بصريؒ وائي چه طلاق واقع کيږي ليکن ددې مذهب دليل نشته، او اول قول صحيح دې ځکه چه نبي ﷺ خپلو بيبيانو ته تخيير ورکړو او هغوي باندې طلاق واقع نشو.

3250 (13) — وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كُنْتُ أَغَارُ مِنَ اللَّاتِيْ وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ : أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا ؟ فَلَمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى : ﴿ تُرْجِىْ مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُـؤْوِىْ إِلَيْكَ مَـنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَـلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ﴾ قُلْتُ: مَا أَرٰى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِيْ هَوَاكَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَ ذُكِـرَ حَدِيْثُ جَابِرٍ ﷺ : " اِتَّـقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ " فِيْ "قِصَّةِ حَجَّةِ الْوَدَاعِ ".

ترجمه : عائشه ﷺ فرمائي : ما به د هغه ښځو نه غيرت کولو (يعني ما به هغوي ښه نهٔ ګڼړلے) چه هغوي به خپل ځانونه رسول الله ﷺ ته بخښل، ما به وئيل : آيا ښځه خپل ځان بخښلے شي؟ (دا څومره د عيب خبره ده) نو هرکله چه الله تعالیٰ دا آيت نازل کړو : (تُرْجِىْ مَنْ تَشَاءُ) (ترجمه : تهٔ روستو کوے د بيبيانو نه هغه چا لره چه تهٔ ئې غواړے او تهٔ خپل ځان سره ځائے ورکوے چا له چه تهٔ غواړے او هغه څوك چه تهٔ ئې غواړے (يو ځائے کول) د هغه زنانو نه چه تا جدا کړيدی، نو په تا باندې (پدې کښې) هيڅ ګناه نشته). ما وويل : (اے د الله رسوله!) زهٔ نهٔ وينم ستا رب مګر ستا په خواهش پوره کولو کښې جلتي کوي. (او تا ته اجازت درکوي) (بخاريؒ ومسلمؒ) او حديث د جابر ﷺ : (اِتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ) د حجة الوداع په قصه کښې ذکر شويدې.

تشريح : [كُنْتُ أَغَارُ]. يعني ماله به غيرت راتللو. مطلب دا دې چه نبي عليه السلام ته به چه کومې زنانه ځان هبه کولو، بخښلو، نو عائشې رضي الله عنها به هغې ته په ښهٔ نظر نهٔ کتل، دا ګمان ئې وو چه د يوې زنانه خپل نفس يو سړي ته هبه کول ګويا که د ښځې د عزت او شرافت منافي کار دې، او د هغې په حرص او قلتِ حياء باندې دلالت کوي، اګرکه هغه زنانه چه نبي ﷺ ته به ئې ځان هبه کولو د هغوي په نظر کښې

او په واقع کښې هم د هغوی یو نبی ته ځان هبه کول د عزت او شرافت کار وو، او د هغوی خوش قسمتی به وه، ځکه چه د نبی په نکاح کښې د یوې زنانه راتلل داسې دی لکه د جنت ټیکټ اخستل. [أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ] یعنی آیا ښځه خپل نفس هبه کولې شی؟ دا خبره به ئې د هغه ښځو د هیې په مخالفت کښې کوله. او په یو بل روایت کښې دی: ((آیا ښځه چه خپل ځان هبه کوی نو حیاء او شرم نۀ محسوس کوی؟)).

[تُرْجِيْ مَنْ تَشَاءُ] د آیت یو مطلب دا دے چه تۀ کومه بی بی غواړې خپل ځان سره ئې یو ځائې کولې شې، خپله همبستره ئې جوړه ولې شې، او څوك چه غواړې نو د ځان نه ئې جدا کولې شې، یعنی چه طلاق ورکړې. دویم مطلب دا دے چه تۀ د امت د زنانو نه چه کومه ښځه غواړې نکاح ورسره کولې شې او کومه چه نۀ غواړې نکاح ورسره مۀ کوه. مشهور مفسر امام بغویؒ فرمائی چه ددے آیت په باره کښې د ټولو نه زیات صحیح قول دادے چه دا آیت د رسول الله ﷺ د قَسْم (د بیبیانو د نمبر واریٔ) په باره کښې نازل شوے وو، یعنی په نبی علیه السلام باندے اول کښې قَسم واجب وو لیکن کله چه دا آیت نازل شو نو دا وجوب د هغۀ په حق کښې ساقط شو او نبی علیه السلام ته اختیار ورکړے شو چه ستا خوښه ده چه کومه زنانه د ځان نه جدا کوې، او نمبر کښې برخه نۀ ورکوې، یا کومه خپل ځان ته رابللے نو دا کولے شے، پدے کښې په تا باندے هیڅ گناه نشته، گویا کښې الله تعالیٰ خپل نبی ته د نور امت په سرو باندے دا فضیلت ورکړو چه په تا باندے نمبر واری کول لازم نۀ دی. [وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ] یعنی کومه بی بی چه تا د نمبر نه بهر کړی وی او بیا غواړې چه هغه بیرته نمبر کښې راولې نو تا لره دا کار جائز دے.

[مَا أُرَى رَبَّكَ] أُرىٰ چه صیغه مجهول وی په معنیٰ د گمان سره استعمالیږی. مطلب دا دے چه زما گمان دا دے چه تۀ د کوم شی خواهش کوے نو ستا رب ئې په جلتیٔ باندے پوره کوی. امام نوویؒ فرمائی: د عائشے رضی الله عنها مقصد دا وو چه الله تعالیٰ د بعض احکامو پابندی ستا په حق کښې نرموی او تا لره په هغې باندے عمل نۀ کولو کښې آسانی درکوی، پدے وجه پدے ذکر شوے معاملهٔ کښې ئې هم ستا د مرضیٔ او خواهش مطابق د عمل کولو اختیار درکړے دے.

فائده: کومو زنانو چه رسول الله ﷺ ته خپل ځان هبه کړے وو نو په روایاتو کښې مختلفے زنانه ذکر شوی چه د هغوی نومونه پنځو ته رسیږی لکه ابن العربیؒ په احکام

القرآن کښې ليکلی : (۱) يو ميمونه بنت الحارث رضي الله عنها (قاله الزهريؒ، وعکرمه ومحمد بن کعبؒ وقتادهؒ) (۲) ام شريك الازديه يا عامريه رضي الله عنها. نوم ئې غزيه وو. (علي بن الحسينؒ، عروهؒ، شعبيؒ) (۳) زينب بنت خزيمه ام المساکين رضي الله عنها.
(٤) خوله بنت حکيم السُلميه رضي الله عنها. (۵) ام کلثوم بنت عقبه بن ابی معيط رضي الله عنها.
ابوبکر ابن العربيؒ وائی : په هيڅ صحيح سند سره دا نهٔ دی ثابت چه دا آيت ددې زنانو په باره کښې نازل دے، او ابن عباس رضي الله عنه او مجاهدؒ فرمائی : د رسول الله ﷺ په نکاح کښې هبه شوې يوه زنانه هم نهٔ وه. (يعنی دے کښې بعض زنانو نبی عليه السلام ته ځان بخښلے وو) ليکن رسول الله ﷺ بل چا ته په نکاح ورکړے. لکه مخکښې حديث د بخاري او مسلم تير شو چه يوې زنانه نبی عليه السلام ته ځان وبخښلو نو هغهٔ بل يو صحابی ته ورکړه. الغرض داسې زنانه زياتې وې چه هغې به خپل ځان رسول الله ﷺ ته بخښلو او د هغهٔ خوښه وه چه په نکاح ئې اخلی او که نه. خو الله ورله دا کار جائز کړو. [احکام القرآن للقاضی ابن العربی : ۳۸۹/٦].

الفصل الثانی

د خپلې بی بی سره د نبی ﷺ ښائسته ژوند

3251 (14) – عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ قَالَتْ : فَسَابَقْتُهٗ فَسَبَقْتُهٗ عَلٰى رِجْلَيَّ فَلَمَّا حَمَلْتُ اللَّحْمَ سَابَقْتُهٗ فَسَبَقَنِيْ قَالَ :" هٰذِهٖ بِتِلْكَ السَّبْقَةِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه (په يوه موقعه کښې) هغه د رسول الله ﷺ سره په يو سفر کښې وه، هغه وائی : نو ما د منډې مقابله وکړه د رسول الله ﷺ سره نو د هغهٔ نه په خپلو سره مخکښې شوم، بيا هرکله چه ما غوښته واخسته (او بدن مې غټ شو) نو ما ورسره منډه ووهله نو هغه نه رانه مخکښې شو، (نو) وې فرمايل : دا (زما مخکښې والے) د دغه (ستا) د مخکښې والی په بدله کښې شو. (يعنی اول تا ګټلې وم او دا ځل درنه ما وګټله، لهذا مونږ دواړه برابر شولو) (ابوداؤدؒ)

تشريح : [فَسَابَقْتُهٗ] د منډې مقابله مې ورسره وکړه. [فَسَبَقْتُهٗ]. نو زهٔ ترې په منډه کښې مخکښې شوم. [عَلٰى رِجْلَيَّ] يعنی په حيوان باندې نهٔ بلکه په خپلو خپو سره.

[حَمَلْتُ اللَّحْمَ] یعني غوښه مې واخسته، چاقه شوم. [هٰذِهٖ بِتِلْكَ] یعنی دا زما مخکښې والې ستا د مخکښې والې په مقابله کښې شو.

فوائد : (۱) دې حدیث نه هم د رسول الله ﷺ د خپلې بي بي سره آزادي او د هغوئ د طبیعت خیال ساتل معلوم شو. او معلومه شوه چه منډه وهل بهترین ورزش دې.

(۲) او زنانو سره یو ځائې منډه وهل څه عیب نهٔ دې لکه ډیر خلك دا کار عیب ګڼړي. خو پدې شرط چه په ځانله ځائې کښې به وي، د خلکو مخامخ به نهٔ وي لکه دا واقعه په سفر کښې په یوه کنده کښې شوې وه، د زنانو د منډې مقابله د خلکو مخامخ حرامه ده.

(۳) او دې حدیث نه معلومه شوه چه مسابقه کول جائز دي، لیکن پدې شرط چه دواړو به مال نهٔ وي شرط کړې، البته که یو دریمګړې انسان پکښې انعام ورکوي، نو جائز ده. لکه تفصیل به ئې روستو په کتاب الجهاد کښې راشي.

درجة الحدیث :[وسنده صحیح] أبو داود: ۲۵۷۸، نسائي کبری : ۸۹۴۵، وأحمد : کما في الإرواء (۱۵۰۲) والصحیحة (۱۳۱) وآداب الزفاف ص (۲۷۶).

د خپل اهل وعیال سره ښائسته سلوك کونکې بهترین شخص دې

3252 (15) - وَعَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "**خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهٖ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِيْ وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوْهُ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

3253 (16) - وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه إِلٰى قَوْلِهٖ : "**لِأَهْلِيْ**"

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کښې بهترین انسان هغه دې چه د خپل اهل دپاره بهترین وي، او زهٔ ستاسو نه د خپل اهل دپاره غوره یم او هرکله چه ستاسو ملګرې وفات شي نو هغه پریدئ (یعنی د هغهٔ عیبونه مهٔ بیانوئ) (ترمذيؒ، دارميؒ) او ابن ماجهؒ د ابن عباس رضي الله عنه نه تر (لِأَهْلِيْ) پورې روایت کړیدې.

تشریح : [خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهٖ]. یعني په تاسو کښې بهترین هغه څوك دې چه د خپل اهل وعیال او د خپلوانو دپاره غوره وي، یا د خپلو بیبیانو او خپلوانو رشته دارو دپاره بهتر وي ځکه چه دا د ښائسته اخلاقو نښه ده، چه خپل اهل وعیال او بیبیانو او خپلوانو ته فائده رسوي. [صَاحِبُكُمْ فَدَعُوْهُ] ۱- یعني ستاسو د اهل نه او د مسلمانانو نه څوك مړ شي نو هغه پریدئ یعني د هغهٔ بدیانې مهٔ ذکر کوئ، او همدا نیك اخلاق دي چه د ځا

عيب نۀ بيانوي. لكه په روايت د ابوداودؒ كښې د (فَدَعُوْهُ) نه روستو (لَا تَقَعُوْا فِيْهِ) الفاظ دي. يعنې د هغۀ په عيبونو كښې مۀ واقع كيږئ. پدې حديث كښې رسول الله ﷺ د مړو او ژوندو دواړو سره د ښائسته معاملې او نيكو اخلاقو ترغيب وركړو.

۲- بعض وائي : ددې مطلب دا دې چه كله ستاسو څوك خپلوان مړ شي نو د هغۀ محبت پريدئ او په هغۀ پسې ژړا مۀ كوئ. او د الله تعالىٰ رحمت ته ئې پريدئ د الله تعالىٰ سره چه ددۀ دپاره څه دي هغه ډير غوره دي.

۳- بعض وائي : د صاحب نه مراد نبي ﷺ خپله دې، يعني كله چه زۀ وفات شوم نو ما باندې افسوس نه مۀ كوئ ځكه چه د الله تعالىٰ دپاره د هر فوت شوي شي بدله ضرور وي. ٤- يا مطلب دا دې چه كله زۀ مړ شم نو ما پريدئ ما ته ضرر مۀ راكوئ، او زما اهل بيت او صحابه كرامو او تابعدارو ته ضرر مۀ رسوئ. [تحفة الاحوذي : ۹/۳۳۸].
او مطلب اظهر دې ځكه چه (لَا تَقَعُوْا فِيْهِ) الفاظ پرې دليل دې.

درجة الحديث :[صحيح] ابوداود : ۳۸۹۵، ترمذي : ۳۸۹۵، دارمي : ۲۲٦۰ وصححه ابن حبان (٤۱۷۷) ورواية ابن ماجه (۱۹۷۷) ايضاً صحيحة.

فرمانبردارې ښځې ته د جنت بشارت

3254 (17) - وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" اَلْمَرْأَةُ إِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَأَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ ". رَوَاهُ أَبُوْ نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : ښځه چه كله پنځه مونځونه وكړي او د رمضان مياشتې روژې ونيسي او د خپل عورت حفاظت وكړي او د خپل خاوند تابعداري وكړي نو د جنت د هرې دروازې نه چه داخليدل غواړي داخله دې شي.
(حلية الاولياء د ابونعيمؒ)

تشريح : [وَأَحْصَنَتْ فَرْجَهَا] يعني د خپل عورت حفاظت ئې وكړو، د زنا او د بې ځائې ښكاره كولو نه. دا څلور كارونه د زنانه ؤ دپاره د ايمان نه پس د جنت ټيكټ دې.

درجة الحديث :[حَسَنٌ اَوْ صَحِيْحٌ] ابن حبان (٤۱٦۳) عن انس واحمد (۱/۱۹۱) عن عبد الرحمن بن عوف، وَلَهُ شَوَاهِدُ يَرْتَقِيْ بِهَا اِلَى دَرَجَةِ الْحَسَنِ اَوِ الصَّحِيْحِ وَهُوَ مُخَرَّجٌ فِي آداب

الزفاف ص (۲۸۶)۔

که غیر الله ته سجده کول جائز وے نو خاوند به ښځے ته کولے

3255 (18) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"**لَوْ كُنْتُ آمِرُ أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : که ما یو تن ته دا حکم کولے چه یو تن ته دِے سجده وکړی نو ما به ښځے ته حکم کړے وے چه خپل خاوند ته سجده وکړی۔ (ترمذیؒ)

تشریح :[لَأَمَرْتُ]۔ یعنی که غیر الله ته سجده جائز وے نو ما به ښځے ته حکم کولے چه خپل خاوند ته سجده وکړی ځکه چه د خاوند په هغے باندے ډیر زیات حقوق دی، لیکن سجده صرف د الله تعالیٰ حق دے۔ ددے حدیث نه ثابته شوه چه په ښځه باندے د خاوند اطاعت واجب دے۔ دارنګه دے حدیث نه معلومه شوه چه کوم خلك چه ښځه خپل خاوند ته په خپو کښے غورزوی او هغهٔ ته سجده کوی نو دا یو ناکاره او ناروا عمل دے۔ د الله تعالیٰ حق بنده ته ورکول دی، داسے اکرام او اعزاز په شریعت کښے ناروا دے۔

علامه قرطبیؒ وائی : دا منع شوے سجده جاهلانو صوفیانو خپل عادت جوړ کړے چه کله د سماع محفل ولګوی یا په خپلو بزرګانو مشائخو ورداخلیږی، یا چه کله د هغوی نه بخنه غواړی نو یو تن راولګی خپل مشر ته سجده وکړی برابره ده چه قبلے طرفته وی او که نه، دا د دویٔ جهالت دے، او کوشش ئے برباد دے، او عملونه ئے ضائع دی۔ [الجامع لاحکام القرآن : ۱/۲۹۳]۔

درجة الحدیث :[صحیح لشواهده] الترمذی : ۱۱۵۹، ابن ماجه : ۱۸۵۲) وانظر الارواء : (۱۹۹۸)

د خاوند د خوشحالولو اهمیت

3256 (19) - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او ام سلمه ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هره یوه ښځه چه مړه شی

او خاوند د هغې نه راضي وي نو جنت ته به داخليږي۔ (ترمذیؒ)

تشريح : [مَاتَتْ]۔ دا قيد ئې ولګولو اشاره ده چه خاوند ترې تر مرګه پورې راضي وي۔ [وَزَوْجُهَا]۔ يعني مؤمن او نيك عمله خاوند وي او هغه ترې راضي وي۔ د فاسق او جاهل خاوند د رضامندئ او خوشحالئ هيڅ اعتبار نشته۔ ځکه چه فاسق خاوند په ګناهونو راضي کيږي۔ [دَخَلَتِ الْجَنَّةُ] ۔ يعني بغير د عذاب نه به اول کښې جنت ته داخله شي۔ ځکه چه دې د الله تعالیٰ حقوق هم ادا کړي او د خاوند هم۔ نو ددې سره نور شرعي شرطونه مراد دي چه ښځه به مسلمانه وي، د الله تعالیٰ حقوق به ئې ادا کړي وي او د خاوند هم۔ او مسلمان او نيك عمله خاوند پدې باندې راضي کيږي چه ښځه د الله تعالیٰ بندګي کوي او په نيکو کارونو کښې مشغوله وي نو ښځه نيکه ده پدې وجه پدې يو عمل باندې جنت ته داخليږي۔

درجة الحديث :[منكر] الترمذي : ۱۱۶۱، ابن ماجه : ۱۸۵۴ وحسنه الترمذي ولكنه منكر كما قال الذهبي و بيانه في الضعيفة (۱۴۲۶)

د خاوند اطاعت وکړئ

3257(20) – وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهٗ لِحَاجَتِهٖ فَلْتَأْتِهٖ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّوْرِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او طلق بن علي ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هرکله چه سړې خپله ښځه د خپل حاجت دپاره راوغواړي نو هغې له پکار دي چه ورته راشي اګرکه په تنور دپاسه وي۔ (روټئ پخوي)۔ (ترمذیؒ)

تشريح :[عَلَى التَّنُّوْرِ]۔ (اګرکه هغه د تنور سره ولاړه وي او روټئ پخوي) مطلب دا دې چه که ښځه په يو ضروري کار کښې مشغوله وي او د يو شي د نقصان احتمال هم وي، روټئ ترې سوزي بيا به هم د خاوند خبره مني او د هغهٔ په راغوښتو باندې به زر ور رسيږي، ځکه چه خاوند د خپل مال په ضائع کيدو راضي دې او ښځه به هم د روټئ په سوزيدو ورپې پاتې کيږي يا به نوره پخوي، يعني په سخت تکليف کښې به هم خبره مني۔ دارنګه دا مطلب هم دې اګرکه په سخت او تنګ ځائے کښې وي چه هلته قضاءِ حاجت هم ممکن نهٔ وي بيا به هم راځي نو دا تعليق بالمحال دې دپاره د زياتې مبالغې۔

بیا دلته دا قاعده ده چه کله انسان د دوه ګناهونو په مینځ کښې راګیر شي نو ایسر (آسان) به اختیاروي، لکه دلته مال ضائع کول او د خاوند نافرماني دواړه ګناهونه دي لیکن روټۍ دې ضائع شي مګر د خاوند نافرماني به نهٔ کوي۔

درجة الحدیث: [إسناده صحیح] الترمذی : ۱۱۶۰، وحسّنه، والنسائی فی الکبری : ۸۹۷۱، وصححه ابن حبان (۹/۴۷۳/۴۱۶۵-المؤسسة- وهو کما قال.

خاوند ته تکلیف مهٔ ورکوه

3258 (21) - وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : **"لَا تُؤْذِيْ امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ : لَا تُؤْذِيْهِ قَاتَلَكِ اللّٰهُ فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيْلٌ يُوْشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا "**. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او معاذ ﷛ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی : په دنیا کښې هیڅ یوه ښځه خپل خاوند ته ضرر نهٔ ورکوی مګر د غټو سترګو والا حورو نه ددهٔ ښځه وائی : (اې ښځې) دې سړی ته ضرر مهٔ ورکوه، الله تعالیٰ دې تا هلاکه کړی، ځکه چه دا خو تا سره عارضی میلمه دې، نزدې ده چه تا نه به مونږ طرف ته راجدا شی۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دې۔

تشریح :[مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ] ـ **سوال** دا دې چه حور عین څه خبرېږی چه فلانئ ښځې د خپل خاوند خلاف وکړو او (قَاتَلَكِ الله) د دنیا ښځې دا آوری ؟ **جواب** : الله تعالیٰ پدې وخت کښې حورو ته خبر ورکوی چه فلانئ ښځې د خاوند نافرمانی وکړه، او د حورو خبرې د دنیا زنانو ته نبی ﷺ خبر ورکړې۔ نو هرکله چه ښځه د خپل خاوند نافرمانی کوی نو دا یقین دې کوی چه ما ته به حورې ښیرې کوی۔ نو پدې روایت کښې خاوند ته تسلی ده چه د دنیا ښځې ګډې وډې دی، اصلی ښځې خو د جنت دی، لږ صبر کولو نه روستو به خاوند هغې ته ورنقل شی۔

[قَاتَلَكِ اللّٰهُ] ـ یعنی الله دې تا هلاکه کړی، او په تا دې لعنت وکړی۔ [دَخِيْلٌ]۔ یعنی عارضی میلمه دې، او مسافر دې، او تهٔ ددهٔ اهل نهٔ یې، مونږه یې اهل یو، مونږ طرف ته به راځی۔ دخیل هغه چا ته وائی چه د یو قوم نه نهٔ وی او په هغوی کښې عارضی

ورننوتے وی۔ [یُفَارِقُكِ اَیْ وَاصِلًا اِلَیْنَا]۔ تا نه به جدا شی او مونږ ته به راورسیږی۔

درجة الحديث :[صحیح] الترمذی : ۱۱۷۴، وابن ماجة : ۱۸۵۴، اسناد الترمذی صحیح واسناد ابن ماجه فیه عبد الوهاب بن الضحاك متروك، مُتَّفَقٌ عَلٰی ضُعْفِهٖ، وَفِیْ اِسْنَادِ التِّرْمِذِیِّ اِسْمَاعِیْلُ بْنُ عَیَّاشٍ وَرِوَایَتُهٗ فِی الشَّامِیِّیْنَ مَقْبُوْلَةٌ]۔

په خاوند باندے د ښځے حق

3259 (22) - وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قَالَ : (أَنْ) **تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ، وَلَا تَهْجُرْ إِلَّا فِي الْبَيْتِ**. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه: حکیم بن معاویه ﷺ د خپل پلار نه روایت کوی چه ما عرض وکړو : اے د الله رسوله ! په مونږ کښے د یوتن د ښځے په هغهٔ څهٔ حق دے ؟ وے فرمایل : کله چه تهٔ خپله خوراك کوے نو په هغے ئے هم خوروه، اوکله چه خپله آغوندے نو هغے ته ئے هم آغوندوه، او په مخ ئے مهٔ وهه، مهٔ ورته کنځل کوه (اوکه چرے د هغے نه جدا کیدل وی نو) د خپل کور نه سوئ هغه په بل ځائے کښے مهٔ پریده۔ (احمدؒ، ابوداوَدؒ، ابن ماجهؒ)

حکیم بن معاویه بن حیده رضی الله عنهما۔ بعض وائی چه دا صحابی دے، او په شام کښے وسیدلے۔ (ثقات ابن حبان)

تشریح : [زَوْجِ أَحَدِنَا] زوج په غیر د تاء نه د ښځے او خاوند دواړو دپاره استعمالیږی او دا فصیح لغت دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اُسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ﴾ [البقرة : ۳۵] او زوجة په تاء سره هم راغلے، لکه : [لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، يُرٰی مُخُّ سُوْقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ][بخاری: ۳۲۴۵، مسلم: ۲۸۳۴] لیکن زیاتره استعمال په غیر د تاء نه دے۔ البته په علمِ میراث کښے به د خاوند دپاره (زوج) او د ښځے دپاره (زوجة) استعمالیږی، دے دپاره چه فرق راشی، ځکه د ښځے او خاوند د میراث ترمینځه فرق دے۔ [وَلَا تُقَبِّحْ] کنځل مهٔ کوه، لکه داسے مهٔ وایه چه الله تعالیٰ دِے مخ بدرنګ کړه، او مهٔ د هغے په خبرو کښے عیب راوباسه۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په خاوند باندے د ښځے دپاره د خپل حالت مناسب نفقه، خوراك څکاك او لباس ورکول واجب دی، که مالدار وی نو د مالدارئ اوکه

غریب وی نو د غریبئ مطابق۔ (۲) او معلومه شوه چه ښځه په مخ وهل منع دی ځکه مخ د حُسن او خوبئ ځائے دے او ددے سره سره دا ډیر باریکه اندام هم دے چه وهل پرے ډیر زیات اثر کوی او کله ددے په وجه بدرنګ هم شی۔ جابر ﷺ فرمائی : ((رسول الله ﷺ د مخ وهلو او د مخ داغلو نه منع فرمایلے)) [مسلم : ۲۱۱٦]

دے نه معلومه شوه چه په مخ باندے د وهلو نه منع راتلل عام دی، د ښځے، بچی، شاګرد وغیره وهلو ته شامل دی۔ دارنګه حیوان لکه خرو، اسونو قچرو، ګډو بزو او نورو تهولو ته شامل دی، او په انسان کښے د تهولو نه زیات جرم دے۔ ددے زیاتی بیان په کتاب الحدود کښے راځی۔ان شاء الله تعالیٰ۔

(۳) او ثابته شوه چه د ضرورت په وخت د ادب ورکولو دپاره ښځه وهل جائز دی، په دے شرط چه وهل معمولی وی او د مخ او هر هغه اندام وهلو نه ډډه وکړے شی چه د هغے د وهلو په وجه د ضرر خطره وی؛ ځکه د وهلو نه مقصد اصلاح او ادب ورکول دی، نهٔ خرابول او بدرنګوالے۔ او مخکښے آیت ذکر شوے چه په هغے کښے وهل د علاج آخرنئ مرحله ذکر ده۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه د ادب ورکولو دپاره په مناسب اندازے سره د ښځے پریښودل جائز دی، په دے شرط چه دا به د کور نه بهر یواځے پریښودل نهٔ وی ځکه ددے انجام ښهٔ نهٔ دے، بلکه په کور کښے دننه به ئے پریدی، خبرے به ورسره نهٔ کوی یا به ورسره سختے خبرے کولے شی، او یا به ئے بستره پریدی او جدا به ترے اودهٔ کیږی او جماع به ورسره نهٔ کوی او ددے څهٔ خاصه موده نهٔ ده معلومه۔

بیا که یوه ښځه ئے وه نو په کور کښے به ئے پریدی، اوکه د یوے نه زیاتے وے نو د خپل کور نه بهر په بل کور کښے ئے پریښودل هم جائز دی، څنګه چه نبی کریم ﷺ دا کار کړے وو۔ نو معلومیږی چه دا دواړه جدا جدا حالتونه دی۔

دارنګه که یوه ښځه وی د هغے حالت ته کتل پکار دی، کله به ښځے ته په کوټه کښے هجران باندے تکلیف رسیږی نو بیا بهر کول نهٔ دی پکار، او کله به په کوټه کښے په هجران باندے ورته ضرر نهٔ رسیږی نو بیا ترے بلے کوټے ته اوړیدل جائز دی۔

(۵) او حدیث نه معلومه شوه چه خاوند له مناسب نهٔ دی چه ښځے ته بدے ردے ووائی یا داسے الفاظ استعمال کړی چه د نفرت او بد اخلاقئ سبب جوړیږی، لکه الله دِے

تباه کړه، الله ډې دریاندې لعنت وکړي، الله دې غرقه کړه او داسې نور، بلکه پکار ده چه هغې ته په مینه محبت او نرمئ سره خطاب کوی چه هغه د هغې په حق کښې د فرمانبرداریٔ او میلان باعث ګرځي. خو د نقصان خبره داده چه ډیر خلك د خپلو ښځو سره خرابه وضع کوی، ددې سبب د ایمان کمزوري او د علم، بصیرت او دیني پوهې کمې دې، ځکه خو د ډیرو ښځو اخلاق په همدې وجه خرابیږي. او کله چه ایمان قوي شي او په علم سره زړهٔ روښانه شي نو یو د بل حقونه ادا کوی او خپلو کښې مزیدار ژوند تیروی. والله تعالیٰ اعلم.

درجة الحديث: [حسن صحيح] ابوداود: ۲۱٤۲، ۲۱٤٤، نسائي في الكبرى: ۹۱۷۱، ابن ماجه: ۱۸٥۰، أحمد: ٤/٤٤٧، ابن حبان: ٤۱۷٥، حاكم: ۲/۱۸۷، بيهقي: ۷/۳۰٥.

بد ژبانه ښځې ته طلاق ورکړه

3260 (23) – وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ ﷺ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي امْرَأَةً فِي لِسَانِهَا شَيْءٌ يَعْنِي الْبَذَاءَ قَالَ : " **طَلِّقْهَا**". قُلْتُ : إِنَّ لِي مِنْهَا وَلَدًا وَلَهَا صُحْبَةٌ قَالَ :" **فَمُرْهَا**" يَقُولُ عِظْهَا " **فَإِنْ يَكُ فِيهَا خَيْرٌ فَسَتَقْبَلُ وَلَا تَضْرِبَنَّ ظَعِينَتَكَ ضَرْبَكَ أُمَيَّتَكَ**". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: او لقيط بن صبره ﷺ فرمائي: ما عرض وکړو: اې د الله رسوله! زما يوه ښځه ده چه په ژبه کښې ئې څه شي دې يعنې بد ژباني. نبي ﷺ وفرمايل: دې ته طلاق ورکړه. ما ووېل: زما ددې نه اولاد دی او ددې (زما سره پخوانه) ملګرتيا ده. (پدې وجه دې ته طلاق ورکول ما ته مشکل دي) وې فرمايل: دې ته حکم وکړه (راوي وائي: يعنې د ژبې د برابرولو او د عاداتو د تيك كولو) نصيحت ورته وکړه، که پدې کښې خير وي نو ضرور به ئې قبول کړي، او خپله ښځه د خپلې وينځې په شان مهٔ وهه. (ابوداوٗد)

تشريح: [الْبَذَاءَ]. يعني فحش ګوئي، ژبان درازي. [صُحْبَةٌ]. يعني زما ورسره ډيره موده ژوند شوې دې. [فَمُرْهَا]. يعني هغې ته د الله تعالىٰ حکمونه بيان کړه. راوي ددې تفسير په (عِظْهَا) سره کړې يعني نصيحت ورته وکړه.

[وَلَا تَضْرِبَنَّ]. يعني که نصيحت فائده ورنکړه نو بيا ئې ووهه، ليکن بې رحمئ سره به وهل نهٔ کوې بلکه معمولي شان وهل به وي چه هډوکې مات نکړي. [ظَعِينَتَكَ]. ظعينه هغه زنانه ته وائي چه په کجاوه کښې وي، د ظعن نه دې په معنیٰ د کوچ او سفر

کولو سره. بيا ظعينه هرې زنانه ته وائي اګر که په کجاوه کښې نهٔ وي. دلته ترې د سفر او د ژوند ملګرې مراد ده. او پدې کښې اشاره ده چه دا خو ستا د ژوند ملګرې ده نو بې رحمه وهل به نهٔ کوې. [أُمَيَّتَكَ]. دا تصغير د اَمَةٌ دې. وينځه. يعنې لکه څنګه چه عام طور سره خلك وينځه وهي نو داسې وهل به د خپلې ښځې نهٔ کوې، دا به ظلم وي.

فائده : دلته په تاديب کښې طلاق مخکښې ذکر شو او وعظ او نصيحت روستو، او قرآن کريم کښې وعظ مخکښې بيا هجران بيا ضرب بيا طلاق. نو پدې حديث سره اشاره وشوه چه قرآني ترتيب واجب نهٔ دې بلکه د ښځې په حق کښې زيات فائده مند ته کتل پکار دي چه په هر کار باندې اصلاح ښه کيده نو هغه به مخکښې کوي. وبالله التوفيق.

درجة الحديث : [صحيح] ابوداود : ۱۴۲، رجاله ثقات غير ان يحيى بن سليم –وَهُوَ الطَّائِفِيُّ– مَعَ كَوْنِهِ مِنْ رِجَالِ الشَّيْخَيْنِ فَقَدْ قَالَ الْحَافِظُ : صَدُوْقٌ سَيِّءُ الْحِفْظِ! لكن تابعه ابن جريج عند ابى داود : ۱۴۳، واحمد فصح الحديث والحمد لله. وانظر صحيح ابى داود (۱۳۲-۱۳۳)

د ښځو بې ځايه وهل منع دي

3261 (24) – وَعَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **لَا تَضْرِبُوْا إِمَاءَ اللهِ** " فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ فَقَالَ : ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ فَرَخَّصَ فِيْ ضَرْبِهِنَّ فَأَطَافَ بِآلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءٌ كَثِيْرٌ يَشْكُوْنَ أَزْوَاجَهُنَّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيْرٌ يَشْكُوْنَ أَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ أُولٰئِكَ بِخِيَارِكُمْ** ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او اياس بن عبد الله ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د الله تعالىٰ وينځې (يعنې ښځې) مهٔ وهئ، نو عمر فاروق ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلو عرض ئې وکړو : (اې د الله رسوله !) زنانه په خپلو خاوندانو باندې زړه ورې شوې، نو رسول الله ﷺ د هغوئ په وهلو کښې اجازه ورکړه، نو د رسول الله ﷺ په بيبيانو باندې ډيرې ښځې جمع شوې چه د خپلو خاوندانو شکايت ئې کولو، نو رسول الله ﷺ (ته چه پته ولګيده نو) وې فرمايل : يقيناً د محمد (ﷺ) بيبيانو ته ډيرې ښځې راغلې چه د خپلو خاوندانو شکايتونه ئې کول، (خبر شئ) دا خلك ستاسو نه غوره خلك نهٔ دې. (ابوداؤد، ابن

ماجة، دارمیؒ)

تشريح : [إِمَاءَ اللّٰهِ] ـ جمع د اَمَةٌ ده، يعنى خپلے ښځے، ځکه چه دا د الله تعالىٰ وينځے دى لکه څنګه چه سړى د الله تعالىٰ غلام دى۔ [ذَئِرْنَ النِّسَاءُ] ـ دے کښے د (اَكَلُوْنِي الْبَرَاغِيْثُ) په شان ترکيب دے، د فاعل د جمع کيدو سره فعل هم جمع استعمال شوے۔ اصل کښے ذَئِرَتِ النِّسَاءُ دے۔ ليکن دا هم د اخفش او ابن جنى په مذهب جائز دے۔ [اَىْ نَشَزَتْ وَاجْتَرَأَتْ] ـ يعنى بد اخلاقه او زړه ورے شوے۔ [بِآلِ مُحَمَّدٍ]۔ دے نه معلومه شوه چه بيبيانے د رسول الله ﷺ په اهل کښے داخلے دى۔ [كَثِيْرٌ]۔ په بل روايت کښے اويا زنانه ذکر دى۔ [يَشْكُوْنَ]۔ شکايت : اِظهارِ غم ته وائى۔

[بِخِيَارِكُمْ] ـ يعنى کوم خلك چه خپلے ښځے ډيرے وهى يا مطلق وهى ئے نو هغه په تاسو کښے بهتر خلك نهٔ دے، بلکه بهتر هغه دى چه خپلے ښځے نهٔ وهى بلکه د هغوى په تکليفونو صبر او برداشت کوى يا هغوى دومره زيات نهٔ وهى چه د هغوى شکايت ته مجبوره شى بلکه د ادب په طريقه ئے معمولى شان وهى۔ شرح السنه کښے ليکى : ددے حديث نه معلومه شوه چه که يوه ښځه د خپل خاوند د نکاحى حقوقو نه انکار کوى نو د هغے وهل مباح دى ليکن ډير وهل به نهٔ ورکوى۔

اشكال : مخکښے د حکيم بن معاويه ﷺ روايت او د هغے په تشريح کښے آيت کښے راغلل چه د زنانو د ادب په طريقه وهل جائز دى او ددے روايت نه د وهلو ممانعت معلوميږى نو دا خو په ظاهره کښے تضاد او تعارض ښکاريږى؟ ددے تطبيق امام شافعیؒ داسے کړے چه رسول الله ﷺ ددے آيت د نازليدو نه مخکښے د ښځو د وهلو نه منع فرمائيلے وه، بيا هرکله چه ښځے په خاوندانو باندے غالبه شوے او د هغوى زړه ورى زياته شوه، نو نبى ﷺ د هغوى د وهلو اجازت ورکړه، او ددے حکم په تائيد کښے آيت نازل شو ليکن ددے نه روستو چه هرکله د زنانو د طرف نه شکايتونه کيدل چه د هغوئ خاوندانو هغوى لره وهى نو نبى ﷺ اعلان وکړو چه اګرکه ښځه د هغے په بد اخلاقئ باندے وهل جائز دى ليکن د هغے په بد اخلاقئ باندے صبر کول او هغوى نهٔ وهل بهتر او افضل دى۔ (عون المعبود، ومرشد ذوى الحجا والحاجة) او سرو زياتے شروع کړو نو ځکه ووئيل شو چه (ليسوا بخياركم)۔

درجة الحديث : [إسناده صحيح] أبوداود : ۲۱۴۶، وابن ماجه : ۱۹۸۵ والنسائى الكبرى :

۹۱٦۷)، ابن حبان (۱۳۱٦) والحاكم : ۲/۱۸۸) وقال صحيح الإسناد ووافقه الذهبي۔ واخرجه البزار : ۱٤۹٦ كشف)

ښځه د هغې د خاوند په خلاف راپارول منع دي

3262 (25) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَبَّبَ امْرَأَةً عَلٰى زَوْجِهَا أَوْ عَبْدًا عَلٰى سَيِّدِهٖ ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : زمونږ نه هغه څوك نۀ دے چه ښځے ته د هغې په خاوند باندے تيزي او دهوكه وركوي يا غلام د خپل مالك په خلاف (راتيزوي)۔ (ابوداوٗد)

تشريح :[لَيْسَ مِنَّا]۔ يعني زمونږ د تابعدارو او زمونږ د جماعت نه نۀ دے۔ يعني دۀ كښے د كافرانو صفت راغلے دے اګركه كافر نۀ دے۔ او دا ماخوذ دے ددے آيت نه ﴿ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّيْ بَرِيْءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴾ ۔ (يعني كه دوئ ستا نافرماني وكړي نو تۀ ووايه چه زۀ ستاسو د عملونو نه بيزاره يم) [خَبَّبَ]۔ [اَيْ أَفْسَدَ وَخَدَعَ وَأَغْرٰى]۔ يعني خرابه كړي، او دهوكه ئے كړي او راتيزه ئے كړه۔ مطلب دا دے چه يو تن د ښځے په زړۀ كښے د خاوند سره دشمني واچوي، پدے طريقه چه د هغۀ بديانے ورته ذكر كړي چه تا سره ئے داسے داسے كړيدي، يا ئے پدے خبره راپورته كړي چه خاوند ته ضرر وركړي او د هغۀ نه طلاق وغواړي، يا ورته ووائي چه تا سره خو خاوند هيڅ احسان نۀ كوي، او ظلمونه درسره كوي۔ يا ورته ووائي چه د خاوند نه زيات مال او اسباب غواړه، د خاوند خبره مۀ منه۔ او غلام ته د خپل سيد بدي بيانه كړي، او د هغۀ د خدمت نه ئے په څه طريقه منع كړي يا ترے مطالبه وكړي چه هغه دِے خرڅ كړي، يا دِے ترے وتښتي۔

درجة الحديث :[اسناده صحيح] ابوداود : ۵۱۷۰، النسائي الكبرى : ۹۲۱٤، وصححه الحاكم : ۲/۱۹٦، (صحيحه : ۳۲٤)

د خپل اهل وعيال په حق كښے كمال مهرباني، د كامل ايمان دليل دے

3263 (26) – وَعَنْ عَائِشَةَ ﷺ قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ أَكْمَلَ الْمُؤْمِنِيْنَ إِيْمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَأَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهٖ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او عائشه ﷞ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً د ايمان په لحاظ سره د مؤمنانو نه ډير کامل ايمان والا هغه څوك دي چه د هغوی نه ښائسته اخلاقو والا وي او د خپل اهل سره ډيره نرمي کونکے وي. (ترمذیؒ)

تشريح : [وَأَلْطَفُهُمْ]. يعنی ډيره مهرباني کونکے، نرمي کونکے. خوش اخلاق او خپل اهل وعيال باندے ډير مهربان مسلمان ته ئے کامل مؤمن پدے وجه ووئيلو چه د چا ايمان څومره مضبوط وي نو هغه به خوش اخلاقه او د خپل اهل وعيال او مخلوق سره زيات احسان او نرمي کونکے وي. دا حديث د ايمان ترماميتر معلومونکے دے، بس د چا چه څومره اخلاق وي هغومره ئے ايمان وي. او دا حديث د محققينو او ائمه ثلاثهؒ دپاره دليل دے چه ايمان په طاعت سره زياتيږي او په معصيت سره کميږي. نو ايمان کښې زيادت او نقصان راځي.

درجة الحديث :[صحيح لغيره] الترمذی : ۲٦۱۲، والنسائی الکبری : ۹۱٥٤، وحسّنه الترمذی، وهذا اسناد ضعيف لانقطاعه، ابو قلابة -هو عبد الله بن زيد الجرمی- لم يدرك عائشة وبقية رجاله رجال الشيخين، وله شاهد من حديث ابی هريرة اخرجه احمد برقم : (۷٤۰۲) وابن بطة فی الابانة : ۸٤۰ ولكن زيادة (أَلْطَفُهُمْ بِأَهْلِهِ) ضعيفة، ووَرَدَتْ احاديث كثيرة فی الرفق واللطف بالناس، إِنَّ اللّٰهَ يُعطِى بِالرِّفْقِ مَا لَا يُعطِى عَلَى الْعُنُفِ - وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ.

3264(27) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "**أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ إِيْمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ وَرَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ إِلَى قَوْلِهِ "**خُلُقًا**".

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د ايمان په لحاظ سره د مؤمنانو نه کامل هغه څوك دے چه د هغوی نه د اخلاقو په اعتبار سره ښائسته وي او ستاسو نه غوره هغه څوك دے چه ستاسو نه د خپلو بيبيانو دپاره غوره وي. (ترمذیؒ) او ترمذیؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن صحيح دے، او دا ابوداودؒ تر (خُلُقًا) پورے روايت کړيدے.

تشريح : [خِيَارُكُمْ] جمع د خير ده. زنانو سره احسان کونکے ئے غوره مؤمن وشميرلو، وجه دا ده چه دا دلالت کوي چه دده په طبيعت کښې خير او صلاحيت دے

پدې وجه ئې د ضعيفانو سره د عدل او احسان معامله وکړه، تکبر پکښې نشته۔ ځکه چه بهر خلکو سره خو دومره زندګی نهٔ تيريږی، بهر خو انسان هر چا سره ښهٔ ملاويږی۔

درجة الحديث : [صحيح لغيره] الترمذى : ۱۱۶۲، وقال حسن صحيح۔ وانظر صحيح موارد الظمآن : ۱۰۹۳-۱۳۱۱) والصحيحة (۲۸۴)۔

د عائشې رضی الله عنها سره د نبی ﷺ يوه خوندوره واقعه او سلوك

3265 (28) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكٍ أَوْ حُنَيْنٍ وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ فَقَالَ : " **مَا هٰذَا يَا عَائِشَةُ** ؟" قَالَتْ : بَنَاتِي وَرَأَىٰ بَيْنَهُنَّ فَرَسًا لَهُ جَنَاحَانِ مِنْ رِقَاعٍ فَقَالَ : " **مَا هٰذَا الَّذِي أَرَىٰ وَسْطَهُنَّ** ؟ " قَالَتْ : فَرَسٌ قَالَ : " **وَمَا الَّذِي عَلَيْهِ** ؟ " قَالَتْ : جَنَاحَانِ قَالَ : " **فَرَسٌ لَهُ جَنَاحَانِ** ؟" قَالَتْ : أَمَا سَمِعْتَ أَنَّ لِسُلَيْمَانَ خَيْلًا لَهَا أَجْنِحَةٌ ؟ قَالَتْ : فَضَحِكَ حَتّٰى رَأَيْتُ نَوَاجِذَهُ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ د تبوك يا د حنين د غزا نه راغلو او ددې په طاقچه باندې يوه پرده وه، نو هوا راولوته او د پردې يو طرف ئې د عائشې رضی الله عنها د نينزكو نه لرې كړو (هغه راښكاره شوې) نو نبی كريم ﷺ وفرمايل : دا څه دی؟ اې عائشې ! هغې ووبل : دا زما لونړه (ګوډيانې/نينزكې) دی، او نبی كريم ﷺ ددې ګوډيانو په مينځ كښې يو اس وليدو چه هغه له د توتو (ټكړو) نه دوه وزرې وې، نو وې فرمايل : دا څه دی چه زهٔ ئې ددې ګوډيانو په مينځ كښې وينم ؟ وې وئيل : اس دې، وې فرمايل : ددې دپاسه دا څه دی ؟ وې وئيل : دوه وزرې دی، وې فرمايل : اس او د هغهٔ دپاره دوه وزرې؟ وې وئيل : آيا تا نهٔ دی آوريدلی چه د سليمان عليه السلام دپاره داسې اسونه وو چه د هغو وزرې وې؟ هغه وائی : نو رسول الله ﷺ وخندل تردې چه ما د هغهٔ د جامې غاښونه وليدل۔ (ابو داوٗد)

تشريح : [تَبُوك أَوْ خَيْبَر]۔ دا د راوی شك دې، راوی ته په يقين سره ياد نهٔ دی چه عائشې رضی الله عنها تبوك ذكر كړې يا غزا د حنين۔ [سَهْوَتِهَا] سهوه طاقچه چه په

هغې کښې ځېزونه کېخودې شي- یا وره کوټنۍ-
دې حدیث نه دا ثابتیږي چه د ماشومانو دپاره په ګوډیانو او نینزکو سره لوبې جائز دي اګرکه د حیواناتو تصاویر وي پکښې- بعض علماؤ وئیلي دي چه دا د تصاویرو د ساتلو نه منع راغلې نو دا کار د تحریم نه مخکښې وو، (قاله البیهقیؒ، وابن الجوزیؒ، والمنذریؒ) لیکن اصح دا ده چه د ماشومانو جینکو دپاره دا جائز دي او دا مستثنیٰ دي د اتخاذ الصور د نهي نه- (قاله عیاضؒ ونقله عن الجمهورؒ)
لَهُ جَنَاحَانِ : رسول الله ﷺ د تعجب په طریقه وفرمایل چه د اس چرته دوه وزرې وي- ځکه چه داسې په دنیا کښې نۀ دي موجود- نو عائشې ؓ ورته وفرمایل : آیا تا نۀ دي آوریدلې، مطلب دا چه دا خبره په جاهلیت والو کښې مشهوره وه چه د سلیمان ؑ د اسونو وزرې وې، دا یوه خُرافه (باطله خبره) وه، چه عربو ته رارسیدلې وه، پدې وجه نبي ؑ د تعجب په طریقه وخاندل چه دا باطله خبره دومره مشهوره شویده چه زما کورنۍ ته هم رارسیدلې- او مینځ کښې ئې هیڅ حقیقت نشته- او پدې کښې د عائشې ؓ د خبرې اقرار نۀ دې چه ګنې واقع کښې د سلیمان ؑ د اسونو وزرې وې- بعض علماؤ دا هم وئیلي دي چه کیدې شي چه د سلیمان ؑ د اسونو وزرې وې، او دا خبره څه بعیده نۀ ده، د الله تعالیٰ قدرت کښې شته- او شریعت کښې هم ددې نه څه استحاله نۀ ده ذکر-

درجة الحدیث :[إسناده صحیح] ابوداود : ۴۹۳۲، نسائي کبری : ۸۹۵۰.

الفصل الثالث

غیر الله ته سجده کول جائز نۀ دي

3266 (29) – عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ ؓ قَالَ : أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَقُلْتُ : لَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَقُّ أَنْ يُسْجَدَ لَهُ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ : إِنِّي أَتَيْتُ الْحِيرَةَ فَرَأَيْتُهُمْ يَسْجُدُونَ لِمَرْزُبَانٍ لَهُمْ فَأَنْتَ أَحَقُّ بِأَنْ يُسْجَدَ لَكَ فَقَالَ لِي :" **أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِي أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ ؟**" فَقُلْتُ : لَا، فَقَالَ :" **لَا تَفْعَلُوا لَوْ كُنْتُ آمِرُ أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَاءَ أَنْ يَسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ حَقٍّ**". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

3267 (30) – وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ .

ترجمه : قيس بن سعد ﷺ نه روايت دے فرمائي : چه زۀ حيره (عراق) ته راغلم نو ما خلك وليدل چه خپلو مشرانو ته ئے سجدے كولے، نو ما ووېل : خامخا رسول الله ﷺ ددے ډير لائق دے چه هغۀ ته سجده وكړے شي، نو زۀ رسول الله ﷺ خوا ته راغلم ما ووېل : زۀ حيرے ته راغلے وم (هلته) ما خلك وليدل چه خپلو مشرانو ته ئے سجدے لګولے، نو تۀ ډير لائق ئے چه تا ته سجده وكړے شي، نو هغۀ ما ته وفرمايل : خبر راكړه ! كه تۀ زما په قبر باندے راتيرېږے آيا تۀ به ورته سجده كوے؟ ما ووېل : نه، وے فرمايل : دا كار مۀ كوئ كه چرته زۀ يو تن ته حكم كونكے وے چه بل يو تن ته سجده وكړي نو ما به ښځو ته حكم كړے وے چه خپلو خاوندانو ته سجدے وكړي پدے وجه چه الله تعالىٰ د خاوندانو دپاره په ښځو باندے حق مقرر كړيدے۔ (ابوداودؒ) او امام احمدؒ دا د معاذ بن جبل ﷺ نه روايت كړيدے۔

تشريح : ددے حديث مقصد دا دے چه ښځے ته دا نصيحت كيږي چه د خپل خاوند دا عظيم حقوق وپيژنه او د هغے د ادائيګئ كوشش كوه۔ [اَلْحِيَرَة]۔ دا د فارس والو يوه ښاريه وه چه په عراق كښے يو ښار دے۔ دا د نجف او كوفے نه په جنوب مشرقي طرف كښے أوه (۷) كيلو ميټره وړاندے علاقه ده، چه أوس د آبادئ د كنړوالي په وجه دواړه يو شويدي، دا د منـاذره ؤ دار الحكـومت وو، د (۱۳۲ ميلادي) كال نه آباده شوے، ليكن پوره آبادي ئے د مناذره ؤ نه شويده، خاصكر نعمان بن امرئ القيس آباده كړه۔ د اسلام د راتللو نه زوستو دا په صلح سره فتح شوه چه ددے تفصيل زمونږ په كتاب (سيرت رسول ﷺ) كښے وګورئ، ډير خوندور تاريخ دے۔ [لَرَسُوْلُ اللّٰهِ] ۔ لام ابتدائيه تاكيديه دے، دا مبتداء ده او احق ئے خبر دے۔ يعني ما ووېل چه رسول الله ﷺ خامخا ددے لائق دے چه د هغۀ تعظيم او اكرام په سجدے سره وشي۔ [لِمَرْزُبَانٍ]۔ د ميم زور او د زاء پيش دے، د ايرانيانو سردار، / هغه شهسوار بهادر چه د قوم سردار وي د بادشاه نه خكته وي۔ (د ايراني باشاه نائب) مراد ترے نـه د قـوم مشران، قائدين او ګونران دي۔ [لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِيْ] ۔ پدے كښے دوه فائدے دي : يو دا چه په ما باندے مرګ راځي، قبر كښے به ښخيږم او په چا باندے چه مرګ راځي هغه د سجدے لائق نۀ وي۔ دويم دا چه لكه څنګه چه قبر ته او مړي ته سجده جائز نۀ ده، نو دغه شان ژوندي ته هم جائز نۀ ده۔

يعنې ژوندي ته سجده لګول داسې حرام دي لکه مړي ته سجده لګول، او مړي ته سجده لګول خو د هر صحيح فطرت والا په نيز غلط کار دے نو رسول الله ﷺ د هغے نه استدلال وکړو چه دغه شان ژوندے هم د سجدے لائق نهٔ دے اګرکه نبي ولے نهٔ وي۔

فوائد : (۱) دا حديث بيانوي چه د ښځے په خاوند باندے د الله او د رسول نه روستو ډير زيات حقوق دي چه ښځے له د هغے خيال ساتل پکار دي۔

(۲) مخلوق که هرڅومره لوي شان والا وي ليکن د سجدے لائق نهٔ دے، سجده صرف د الله تعالیٰ حق دے، چه بندګانو او مخلوق ته ددے کول حرام دي۔

(۳) دليل دے چه رسول الله ﷺ يو انسان دے د انسانانو په شان، په هغهٔ باندے مرګ راځي او په چا باندے چه مرګ راځي هغه د سجدے او د عبادت لائق نهٔ وي، عبادت به صرف د هميشه ژوندي ذات کولے شي۔

(٤) دا حديث دليل دے چه صحابه کرامو ﷺ به په باب د عبادت کښے انتهائي احتياط کولو، دلته قيس ﷺ د رسول الله ﷺ نه تپوس کوي چه تا ته سجده لګوم دا کار صحيح دے او که نه ؟، معلومه شوه چه عبادت به د خپل خواهش تابع نهٔ وي، چه په دماغو کښے ئے يوه خبره راشي بس د هغے نه عبادت جوړ کړي بلکه عبادت به د الله او د رسول نه زده کولے شي، نو کوم خلك چه يو عمل يا يوه خبره کوي او هغے ته دين وائي او هغه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول نه نهٔ وي ثابته نو هغه به عبادت نهٔ وي۔

(۵) ددے نه ثابته شوه چه کوم جاهلان د رسول الله ﷺ د قبر په خوا کښے رمباړے وهي او د هغهٔ نه د محبت او د تعظيم په نوم مددونه غواړي نو دا ناروا عمل دے۔ د رسول الله ﷺ تعظيم او اکرام د هغهٔ تابعداري او د هغهٔ محبت دے۔ بعض خلك د اولياؤ مزاراتو ته سجدے لګوي او نذرونه او منښتے وړي، دا ټول شرکي کارونه دي۔

درجة الحديث :[حَسَنٌ لِغَيْرِهٖ] ابو داود : ۲۱٤۰ وفي اسناده شريك بن عبد الله القاضي وهو سيء الحفظ۔ واما الحاكم فقال (۲/۱۸۷) حديث صحيح الاسناد ووافقه الذهبي، ورواه احمد (۵/۲۲۷، ۲۲۸) بمعناه عن معاذ واسناده منقطع كما في الارواء (۷/۵۷) وللحديث شاهد رواه البيهقي في الكبرى ۷/۲۹۱، من طريق ابي بكر النخعي عن حصين به ولقوله : لَوْ كُنْتُ آمِرًا اَحَدًا اَنْ يَّسْجُدَ لِاَحَدٍ...... شَاهِد من حديث ابي هريرة عند الترمذي : ۱۱۹۳، واسناده حسن وصححه ابن حبان (٤۱٦۲) شعيب الارناووط، وقال الالباني : صَحِيْحٌ دُوْنَ جُمْلَةِ الْقَبْرِ.

د نافرمانه ښځې په وهلو کښې ګناه نشته

3268 (31) - وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "**لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَا ضَرَبَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ**". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه: او عمر ﷛ د نبي کريم ﷺ نه ارشاد نقل کوی: د سړی نه به تپوس نشی کيدے چه په څه وجه سره ئے خپله ښځه ووهله. (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح: [لَا يُسْأَلُ]. يعني الله تعالىٰ به د قيامت په ورځ باندے د سړی نه تپوس نهٔ کوی چه دهٔ ولے ښځه وهلے ده، ځکه چه خاوند خپلے بی بی ته ادب او تربيت ورکوی، د تربيت په وهلو باندے تپوس نهٔ وی ګله چه د حدودو نه تجاوز ونکړی. دويم مطلب دا هم دے چه خپلوان، مور او پلار او ورونه به د خاوند نه تپوس نهٔ کوی چه ولے ئے خپله ښځه ووهله، ځکه چه کيدے شی چه په داسے اسبابو او خبرو سره ئے وهلې وی چه هغه د بيانولو نهٔ وی. او په بعض رواياتو کښے راغلی دی چه يوه ورځ عمر فاروق ﷛ خپله بی بی ووهله نو خلکو د هغے په وهلو ملامته کړو نو رسول الله ﷺ دا ارشاد وفرمايهٔ.

دارنګه ثابت بن قيس بن شماس ﷛ خپله بی بی جميله بنت عبد الله بن اُبی ووهله نو ورونه ئے رسول الله ﷺ ته راغلل ددے شکايت ئے کاوهٔ، نبي ﷺ اراده وکړه چه د هغے بدله واخلی، نو الله تعالىٰ دا آيت: ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ نازل کړو چه سړو نه به بدلے نشی اخستل کيدے، سړی په ښځو باندے مشران دی، د هغوی تربيت کوی. رسول الله ﷺ وفرمايل: ما د يو څهٔ اراده کړے وه او الله تعالىٰ بل څه اراده کړے وه. (ابن جرير، ابن المنذر، ابن ابی حاتم - الدر المنثور)

او بعض رواياتو کښے دی چه دا آيت د سعد بن الربيع ﷛ په باره کښے نازل وو چه هغهٔ خپله بی بی حبيبه بنت زيد بن خارجه په څپيړه وهلے وه نو پلار ئے شکايت وکړو، نبی ﷺ وفرمايل: د خاوند نه به قصاص واخلی نو هرکله چه پلار او لور روان شو. نبی ﷺ وفرمايل: راواپس شئ دا جبريل ﷺ راغے بيا الله تعالىٰ دا آيت نازل کړو. (الرجال قوامون). (القرطبی)

درجة الحديث: [إسناده ضعيف] أبو داود: ۲۱٤۷، وابن ماجه: ۱۹۸٦)، نسائي كبرى: ۹۱۲۳، مسند احمد: ۱۲۲، وفيه جهالة عبد الرحمن المسلي فانه لم يرو عنه سوى داود الاودى

وذکره ابو الفتح فی الضعفاء. وداود الاودی ثقة. ووهم الحاکم والذهبی فقالا صحیح الاسناد۔ وانظر الارواء: (۲۰۳٤) وتعلیق المسند لشعیب.

ښځه به د خاوند د اجازت نه بغیر نفل روژے نهٔ نیسی

3269 (32) – وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدٍ ﷺ قَالَ : جَاءَتِ **امْرَأَةٌ** إِلَی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ عِنْدَهٗ فَقَالَتْ: زَوْجِیْ صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ یَضْرِبُنِیْ إِذَا صَلَّیْتُ وَیُفَطِّرُنِیْ إِذَا صُمْتُ وَلَا یُصَلِّی الْفَجْرَ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ : وَصَفْوَانُ عِنْدَهٗ قَالَ : فَسَأَلَهٗ عَمَّا قَالَتْ فَقَالَ : یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ **أَمَّا قَوْلُهَا** : یَضْرِبُنِیْ إِذَا صَلَّیْتُ فَإِنَّهَا تَقْرَأُ بِسُوْرَتَیْنِ وَقَدْ نَهَیْتُهَا قَالَ: **فَقَالَ** رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : " **لَوْ كَانَتْ سُوْرَةٌ وَاحِدَةٌ لَكَفَتِ النَّاسَ** ". قَالَ : وَأَمَّا قَوْلُهَا یُفَطِّرُنِیْ إِذَا صُمْتُ فَإِنَّهَا تَنْطَلِقُ تَصُوْمُ وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَا أَصْبِرُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : " **لَا تَصُوْمُ امْرَأَةٌ إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا** " وَأَمَّا قَوْلُهَا : إِنِّیْ لَا أُصَلِّیْ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَإِنَّا أَهْلُ بَیْتٍ قَدْ عُرِفَ لَنَا ذَاكَ لَا نَكَادُ نَسْتَیْقِظُ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ قَالَ : " **فَإِذَا اسْتَیْقَظْتَ یَا صَفْوَانُ فَصَلِّ** ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او ابو سعید خدری ﷺ فرمائی : یوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله او مونږ د هغهٔ سره (ناست) وو، نو عرض ئے وکړو : زما خاوند صفوان بن معطل (سهمی) ما وهی هرکله چه زهٔ مونځ کوم او روژه راباندے ماتوی هرکله چه زهٔ روژه نیسم، او هغه د سهار مونځ نهٔ کوی تردے چه نمر راوخیژی، ابوسعید ﷺ وائی : (پدے موقعه) صفوان ﷺ د رسول الله ﷺ سره (ناست) وو، راوی وائی : نو رسول الله ﷺ د هغهٔ نه د هغه خبرو په باره کښے پوښتنه وکړه کومے چه (د هغهٔ) ښځے ویلی۔ نو هغهٔ ویل : اے د الله رسوله ! هرچه ددے دا خبره : ما وهی هرکله چه زهٔ مونځ کوم۔ (نو ددے وجه دا ده چه) دا (په مانځه کښے) دوه سورتونه لولی۔ او ما ددئ نه منع کړیده۔ راوی وائی : نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : که دا یو سورت شی نو ټولو خلکو له کافی کیږی۔

هغهٔ وویل : هرچه ددے دا خبره : چه ما باندے روژه ماتوی هرکله چه زهٔ روژه نیسم (نو ددے وجه دا ده چه) دا شروع شی چه (متواترے) روژے نیسی او زهٔ یو ځوان سړے یم، نو زهٔ صبر نشم کولے، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ښځه به روژه نهٔ نیسی مگر د خاوند په

اجازت سره۔ او هر چه ددې دا خبره چه : زۀ مونځ نۀ کوم تردې چه نمر راوخیژي (نو دا صحیح ده) ځکه چه مونږ داسې کورنۍ یو چه زمونږ نه دا مشهوره ده چه مونږ نزدې نۀ یو چه (د خوب نه) رابیدار شو تردې چه نمر راوخیژي۔ (یعنی مونږ په خپل اختیار د خوب نه نشو رابیداریدې) نبی علیه السلام وفرمایل : اې صفوان ! هرکله چه تۀ رابیدار شې نو مونځ کوه۔ (ابوداوٌد، ابن ماجهٌ)

تشریح :[بِسُوْرَتَيْنِ]۔ یعنی دوه اُوږدۀ سورتونه وائي او په نفلي مانځه کښې وخت ډیر تیره وي او زما ورته ضرورت وي۔ [لَوْ كَانَتْ سُوْرَةً]۔ ای [لَوْ كَانَتِ الْقِرَاءَةُ سُوْرَةً وَاحِدَةً]۔ که دا قرائت د یو سورت وشي۔ [لَكَفَتِ النَّاسَ] ۔ یعنی که یو سورت ولولې ټولو خلکو دپاره کافي کیږي، که ټول خلك په مانځه کښې یو سورت ولولي چه هغه سورت فاتحه ده هم مونځ ئې کافي کیږي لیکن یو سورت ورسره یو ځائې کول مستحب دي، او بیا چه اُوږد سورت لولي یا دوه اُوږده سورتونه لولي نو پدې سره خاوند ته تکلیف جوړیدو پدې وجه صفوان ﷺ به وهله۔ دې کښې ډیر واضح مطلب دا دې چه دا د اجر په لحاظ سره مراد دې، یعنی د یو سورت دومره اجر دې چه ټول خلك به پرې معاف شي پاتې لا یو شخص۔ [تَنْطَلِقُ تَصُوْمُ]۔ یعنی دا په روژو کښې روانه وي، یعنی همیشه روژې نیسي۔

فوائد الحدیث : (۱) زنانه دپاره د خپل خاوند شکایت د قاضي وغیره مخې ته جائز دې، (۲) د ښځې نه چه کومې فائدې ولاړیږي خاوند د هغې مالك دې، کله چه هغه خپل خاوند ته پوره فائدې نۀ ورکوي، خاوند دپاره ئې وهل جائز دي۔ (۳) ښځه چه کله اُوږد مونځ کوي، یا نفلي روژې نیسي، د خاوند نه به اجازه غواړي۔ (٤) د مانځه په یو رکعت کښې مختلف سورتونه لوستل جائز دي، اګرکه بغیر د ترتیب نه وي۔

(۵) د ښځې سره جماع شپه او ورځ دواړو کښې جائز ده۔

(٦) که ښځه نفلي حج دپاره احرام وتړي خاوند له جائز دي چه هغه منع کړي او پدې باندې اجماع ده۔ ځکه چه د خاوند حق مقدم دې۔ (الخطابی فی معالم السنن)

(۷) نبی علیه السلام په خبره کښې تحقیق وکړو او په جلتۍ سره ئې فیصله ونکړه، دغسې قاضي له پکار دي۔

(۸) [فَإِذَا اسْتَيْقَظْتَ فَصَلِّ]۔ رسول الله ﷺ رتنه او توبیخ ورنکړو ځکه چه دا د الله تعالیٰ مهربانی ده او د نبی علیه السلام شفقت دې په خپل امت باندې چه الله تعالیٰ بنده پدې

بانديے نۀ راګيروي چه هغه په خپل اختيار سره د خوب نه نشي راپاڅيدے، لکه بعض انسانان د آلارم (ګهړئ) په آواز هم نشي راپاڅيدے ليکن دے سره دا شرط دے چه وختي به اُودۀ شويے وي، او دا مطلب نۀ دے چه يو تن به ناوخته پورے هسے ويخ وي او نيمه شپه به اُودۀ شي بيا به وائي چه ما ته اجازه ده چه هر وخت راپاڅيږم مونځ به کوم. دا خو عبادتونه تباه کول دي، او په صحابي بانديے داسے ګمان چرته کيدے شي؟!.

بلـه دا چه دا هميشه دپاره نۀ وو بلکه په بعض اوقاتو کښے مراد دے، چه کله ئے خوا کښے څوك نۀ وي چه رابيدار ئے کړي نو خوب ئے تر نمرخاتۀ پورے اُوږد شي. ځکه چه دا نشي کيدے چه يو تن ډيے هميشه د نمرخاتۀ پورے پروت وي او خوا کښے ډيے ښځه يا نور څوك وي او هغه ډيے ئے راپا نۀ ځوي.

(۹) خاوند چه کله غائب وي بيا ښځے دپاره د خاوند د اِجازت نه بغير هم نفلي روژے نيول جائز بلکه بهتر دي.

درجة الحديث :[اسناده صحيح] ابوداود : ۲۴۵۹، وصححه الحاكم : ۱/۴۳۶، واحمد : ۱۱۷۵۹، وابن حبان : ۱۴۸۸، وصححه الالباني في الارواء (۲۰۰۴) والصحيحة (۲۱۷۲)

سخت نه سخت حکم کښے هم د خاوند اطاعت کوه

3270 (33) – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِيْ نَفَرٍ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ فَجَاءَ بَعِيْرٌ فَسَجَدَ لَهُ فَقَالَ أَصْحَابُهُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تَسْجُدُ لَكَ الْبَهَائِمُ وَالشَّجَرُ فَنَحْنُ أَحَقُّ أَنْ نَسْجُدَ لَكَ . فَقَالَ :"**أُعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَأَكْرِمُوْا أَخَاكُمْ وَلَوْ كُنْتُ آمُرُ أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا وَلَوْ أَمَرَهَا أَنْ تَنْقُلَ مِنْ جَبَلٍ أَصْفَرَ إِلٰى جَبَلٍ أَسْوَدَ وَمِنْ جَبَلٍ أَسْوَدَ إِلٰى جَبَلٍ أَبْيَضَ كَانَ يَنْبَغِيْ لَهَا أَنْ تَفْعَلَهُ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د مهاجرينو او انصارو په څه کسانو کښے وو نو (پدے کښے) يو اُوښ راغلو او هغۀ ته ئے سجده وکړه نو د نبي کريم ﷺ ملګرو عرض وکړے اے د الله رسوله ! تا ته حيوانات او ونے سجده لګوي نو مونږ ډير لائق يو چه تا ته سجده ولګوو، نبي ﷺ وفرمايل : د خپل رب بندګي

کوئ او د خپل ورور (یعنی زما) اکرام کوئ، او که ما یو تن ته حکم کولے چه بل تن ته سجده وکړی نو ما به ضرور ښځے ته حکم کړے وے چه خپل خاوند ته سجده ولګوی، او که خاوند هغے ته حکم وکړی چه د زیړ غرنه تور غر ته او د تور غر نه سپین غر ته (کاڼړی) نقل کړی نو هغے له مناسب دی چه دا به کوی. (احمدؒ)

تشریح : په مسند احمد کښے په صحیح سند سره ددے حدیث په شان بل حدیث هم دے : انس بن مالك ﷺ فرمائی : د انصارو د یوے کورنئ یو اُوښ وو چه په هغے به ئے اُوبۀ راوړلے، هغۀ په کور والو مشکلات راوستل نو سورلی ته به ئے دوئ نۀ پریخودل، نو انصار رسول الله ﷺ ته راغلل چه زمونږ یو اُوښ وو مونږ به پرے اُوبۀ راوړلے اُوس ځان نۀ ورکوی او فصلونه او کهجورے تږی دی، رسول الله ﷺ وفرمایل : پاڅیږئ (ځئ چه ځو) نو باغ ته راغلو او اُوښ د هغے په یو ګوټ کښے وو، نبی ﷺ چه هغۀ طرف ته روان شو انصارو ووېل : اے د الله رسوله ! دا د چیچونکی سپی په شان ګرځیدلے، مونږ یریږو چه په تا به حمله وکړی، نبی ﷺ وفرمایل : زما د هغۀ نه څه خطره نشته، هرکله چه اُوښ رسول الله ﷺ ته وکتل نو د هغۀ خوا ته راروان شو تردے چه د هغۀ مخے ته په سجده پریوتو، رسول الله ﷺ د هغۀ تندے په ډیر ذلت سره ونیوو تردے چه کار ته ئے ورننویستو. (ددے حالت په ولیدو سره) ملګرو ورته ووېل : اے د الله رسوله ! دا یو ځاروے دے، عقل نۀ لری او تا ته سجده کوی او مونږ خو عقل لرو نو مونږ ډیر لائق یو چه تا ته سجده وکړو، نبی ﷺ وفرمایل : د هیڅ یو انسان دپاره جائز نۀ دی چه بل انسان ته سجده ولګوی، او که یو انسان ته سجده لګول جائز وے نو ما به ښځے ته حکم کړے وے چه خپل خاوند ته سجده وکړی ځکه چه د هغۀ په هغے باندے ډیر لوی حق دے. الحدیث...... [أحمد : ۳/۱۵۹، وقال ابن کثیر : ۶/۱۴۹ إسناده جید].

د ونو او کاڼړو سجده : ابن عباس ﷺ فرمائی : یو تن د بنو عامرو رسول الله ﷺ ته راغے ګویا کښے هغۀ دوائی او علاج کولو. نو وے وئیل : اے محمد (ﷺ) ! تۀ څه خبرے کوے؟ آیا ستا مینه شته چه زۀ تا له علاج وکړم؟ راوی وائی : رسول الله ﷺ هغۀ له الله طرف ته دعوت ورکړو بیا ئے ورته ووېل : ((آیا ستا مینه شته چه زۀ تا ته یوه نښه (معجزه) وښایم؟)) او د هغۀ په خوا کښے د کهجورو او نورے ونے وے، نو رسول الله ﷺ د هغے نه یو (عذق) غونچك راوغوښتو، هغه راروان شو چه په لاره ئے سجده کوله او سر

به ئې پورته کولو، بیا به ئې سجده کوله او سر به ئې پورته کولو تردې چه نبی ﷺ ته راورسیدو او د هغهٔ مخې ته ودریدو، بیا ورته رسول الله ﷺ وفرمایل : خپل ځائې ته واپس لاړ شه۔ نو عامری ووېل : قسم په الله ددې نه پس به زهٔ تا هیڅکله په هیڅ شی کښې دروغجن نهٔ ګڼړم، بیا ئې خپل قوم ته ووېل : اې د عامر بن صعصعه خلکو ! قسم په الله زهٔ ددې نبی په هیڅ خبره کښې تکذیب نهٔ کوم۔ [ابن حبان، إسناده صحیح، ارناووط والترمذی : ۳٦۲۸، وصححه الألبانی]۔

او ترمذیؒ نقل کړی چه کله رسول الله ﷺ شام ته سفر کولو نو بحیرا راهب ووېل : دا سید العالمین دې چه الله تعالیٰ د کائناتو دپاره رحمت رالیږلې دې۔ د قریشو مشرانو ورته ووېل : تا ته څه پته ولګیده ؟ هغهٔ ووېل : هرکله چه تاسو ددې کنډوو نه راپورته شوئ نو هیڅ ونه او کانړې پاتې نشو مګر په سجده پریوتل او هغوی صرف نبی ته سجده کوی او زهٔ ددهٔ خاتم النبوة ددهٔ په شا کښې پیژنم۔ [الترمذی : ۳٦۲۰وصححه الألبانی]۔

[اَلْبَهَائِم] - یعنی څاروی او ونې تا ته سجده لګوی۔ دا د نبی ﷺ معجزه وه۔ [أَكْرِمُوا أَخَاكُمْ] - یعنی د خپل وزور چه نبی ﷺ دې، ددهٔ اکرام کوئ او عبادت به صرف د الله کوئ۔ معلومه شوه چه هغه اکرام او تعظیم ناروا دې چه په هغې کښې عبادت د غیر الله دپاره وشی، لکه چا ته په خپو کښې پریوتل او سر خکته کول، سجده کول وغیره۔ دا دلیل دې چه رسول الله ﷺ د امت ورور دې، بعض غلطې عقیدې والا خلك دا خبره بده ګڼړی چه څوك نبی ته ورور ووائی۔

د ښځې د خدمت مسئله :

[وَلَوْ أَمَرَهَا أَنْ تَنْقُلَ] دا حدیث دلیل دې چه په ښځه باندې د خاوند خدمت واجب دې، په هغه شی کښې چه هیڅ فائده ئې نشته نو د معاش په کارونو کښې به پرې خامخا لازم وی۔ (قاله الجوزجانیؒ) لکه دا مسئله مخکښې ذکر شوه، مختصر دا چه (۱) امام ابوحنیفهؒ، شافعیؒ، مالك، اهل ظواهرؒ وائی (کما قال ابن القیمؒ) چه په ښځه باندې د جماع نه علاوه نور خدمتونه واجب نهٔ دی او دا قول د عمر فاروق ﷺ نه هم منقول دې، دوئ وائی : نکاح صرف د استمتاع (د اندام نه فائدې اخستو) تقاضا کوی نهٔ د خدمت

اخستو۔ دارنګه ښځه حُرّه (آزاده) ده، د الله تعالیٰ عبادت به کوی، دا وجه ده چه د حریے خدمت دپاره به وینځه نیولے شی۔ او وائی چه کومو احادیثو کښے خدمت ذکر دے نو دا د مکارم الاخلاق او استحباب په طریقه دے، وجوب پکښے نشته۔

(۲) **قول ثانی** : امام احمدؒ او عام محدثین وائی چه د خپل وس مطابق په هغے باندے د کور داخلی خدمت واجب دے، او همدا قول حق دے، په وجوب باندے ډیر دلائل دی :

(۱) یو دا حدیث الباب دے۔ (۲) مخکښے حدیث کښے تیر شو : [لِمَا جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيۡهِنَّ مِنۡ حَقٍّ]۔ الله تعالیٰ په ښځو باندے د خاوند ډیر حقوق لازم کړی۔ (۳) مخکښے ذکر شوی چه اسماء رضی الله عنها به د زبیر ﷛ د اس دپاره د لرے نه د کهجورو اډوکی راوړل او د هغۀ اس به ئے سنبالولو۔ نبی علیه السلام په لاره کښے ولیدله او دا ئے ورته ونۀ وئیل چه په تا باندے د خاوند خدمت لازم نۀ دے۔ او هغه فرمائی : ما به د اس دپاره اُوبه راوړے او بوقه به مے ګنډله او وړۀ به مے اغږل، او اس له به ئے ګیاه ورکوله۔

(٤) زید بن ثابت ﷛ فرمائی : [اَلزَّوۡجُ سَيِّدٌ فِيۡ كِتَابِ اللّٰهِ ﴿وَأَلۡفَيَا سَيِّدَهَا لَدَى الۡبَابِ﴾] (یوسف : ۲۵)۔ خاوند ته د الله تعالیٰ په کتاب کښے سید (سردار) وئیلے شوے لکه د یوسف ﷷ په واقعه کښے۔ او په وینځه باندے د خپل سیّد خدمت واجب دے۔

(۵) ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوۡنَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ (نساء : ۳٤)۔ سړے مشر دے په زنانه نو زنانه باندے د هغۀ خبره منل لازم دی۔ ځکه چه هرکله سړے خپله خدمت کوی نو بیا خو پړے ښځه قوّامه شوه۔ (٦) [وَلَهُنَّ مِثۡلُ الَّذِيۡ عَلَيۡهِنَّ بِالۡمَعۡرُوۡفِ] [بقره : ۲۲۸]۔ د عرف مطابق کارونه به کوی، او دا هم په عرف کښے معلومه ده چه ښځه د خاوند خدمت کوی، او ښځے ته داسے مزے ورکول چه خاوند ئے خدمت کوی، کور جارو کوی، میچنے کوی، وړۀ اغږی، جامے وینځی او بسترے غوړه وی، او د کور خدمتونه کوی نو دا منکر کار دے۔ معروف نۀ دے۔ (۷) رسول الله ﷺ به عائشے رضی الله عنها ته حکم کولو چه چاړۀ راوړه ۔ چاړۀ په کاڼړی تیره کړه۔ اے عائشے ! مونږ ته طعام راوړه۔

(۸) **دلیل** : رسول الله ﷺ ته فاطمے ﵂ شکایت وکړو [مَا تَلۡقَى مِنَ الۡخِدۡمَةِ]۔ چه د کور خدمتونه (میچنے کول) وغیره راباندے ډیر ګران شویدی، نو هغۀ ورته تسبیحات وخودل او روستو زمانه کښے ئے خادم ورکړو۔ او علی ﷛ ته ئے دا ونۀ وئیل چه پدے باندے خدمت نشته۔ بلکه په تا باندے خدمت دے۔ یا دا کار ظلم دے، بلکه هغه ئے پدے

خدمت باندې باقي وساتله. او د خپلو صحابه كرامو بيبيانې ئې د خپلو خاوندانو په خدمتونو باندې باقي ساتلې وې سره ددې نه چه په هغوى كښې به هغه زنانه هم وې چه په دې خدمت به راضي نهٔ وې او بعض به راضي وې. او دا يقيني خبره ده. نو دا حديث په دوه خبرو دليل شو، يو دا چه فاطمه رضي الله عنها او اسماء رضي الله عنها دا كار د تبرع او احسان په طريقه نهٔ كولو بلكه خدمت پرې واجب وو. دويم ددې نه معلومه شوه چه كومو علماؤ چه د شريفې او ادنىٰ مرتبې والا ښځې ترمينځ فرق كړې چه شريفه به خدمت نهٔ كوي او ادنىٰ ئې كولې شي نو دا فرق صحيح نهٔ دې، وجه دا ده چه د فاطمې رضي الله عنها او اسماء رضي الله عنها نه بله كومه شريفه كيدې شي.

(۹) بله دا چه په حديث كښې ئې ښځې ته قيديانې وئيلې دي :

[اِتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّهُنَّ عَوَانٌ عِنْدَكُمْ ﴿ [ترمذى : ۱۱۶۳ صحيح].

عانيه قيدئ ته وائي او د قيدى مرتبه دا ده چه هغه د چا د لاس د لاندې وى د هغهٔ خدمت كوى. او نكاح هم يو قسم رقيّت (غلامى) ده.

(۱۰) دارنګه نكاح كښې مهر د بُضع په مقابله كښې وى او ښځه او خاوند دواړه د يو بل نه حاجت پوره كوى نو الله تعالىٰ په سړى باندې د ښځې نفقه او استوګنه او جامې پدې وجه واجب كړى چه هغه به خدمت كوى. ليكن دا خبره ياد ساتل پكار دى چه د ټولو ښځو يو شان خدمت نهٔ وى، شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائي : د باندېٔ چېٔ خدمت د ښاريه والا په شان نهٔ وى، او د قوى خدمت د ضعيفې په شان نهٔ وى. [الاختيارات ص : ۴۵۲، زاد المعاد : ۵/۱۸۶]

شيخ ابن عثيمينؒ وائي : دا خبره عرف ته سپارل شوې كه په يو عرف كښې خلك په ښځو خدمت كوى نو بيا پرې خدمت واجب دې او كه يو عرف كښې ښځو باندې خدمت نهٔ كوى نو بيا پرې واجب نهٔ دې. او سړى دپاره دا جائز نهٔ دى چه ښځه باندې د خپل مور او پلار خدمت په زوره وكړى، يا هغې ته غصه شى، بلكه د الله تعالىٰ نه ډېره وكړى چه خپل طاقت او قوت په ښځه استعمالوى. (فتاوى نور على الدرب)

نو دومره خدمت به پرې نهٔ اچوى چه د هغې د طاقت نه بهر وى. څوك چه د جمهورو مذهب اخلى چه په ښځه خدمت واجب نهٔ دې نو هغهٔ ته به وئيلې شى چه جمهور خو دا هم وائي چه په خاوند باندې د ښځې علاج هم نشته كله چه بيماره شى. دليل دا وائي

چه علاج بنیادي حاجت نهٔ دے، او نفقه خو د منفعت په مقابله کښې وي او دوائي خو د اصل جسم د حفاظت دپاره ده۔ لهذا دا مذهب حق دے چه په ښځه باندے د خاوند خدمت واجب دے۔

درجة الحديث :[ضعيف لكن الشطر الأول منه صحيح] احمد : ١٧٦/٦، رقم : ٢٤٥١٥، ابن ماجه : ١٨٥٢، إرواء الغليل : ٥٨/٧، وإسناده ضعيف لضعف علي بن زيد بن جدعان.

د کومے ښځے نه چه خاوند ناراضه وي د هغهٔ پوره مونځ نهٔ قبلیږي

3271 (34) – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ لَهُمْ صَلَاةٌ وَلَا تَصْعَدُ لَهُمْ حَسَنَةٌ : الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلٰى مَوَالِيْهِ فَيَضَعُ يَدَهُ فِيْ أَيْدِيْهِمْ وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ عَلَيْهَا زَوْجُهَا وَالسَّكْرَانُ حَتّٰى يَصْحُوَ** ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : درے کسان دي چه د دوئ مونځ نهٔ قبلیږي او نهٔ د دوئ نیکی پورته خیژي : هغه غلام چه (د مالك نه) تښتیدونکے وي تردے چه خپلو مالکانو ته واپس شي او خپل لاس د هغوئ په لاسونو کښے کیږدي، (دویم) هغه ښځه چه په هغے باندے د هغے خاوند غصه وي، (دریم) نشائي تردے چه نشه ترے لاړه شي۔ (بیهقيؒ : شعب الایمان)

تشریح : [لَا تُقْبَلُ لَهُمْ صَلَاةٌ] ۔ عدم قبول دوه قسمه دے : (١) یو ثواب نهٔ ورکول۔ (٢) نهٔ صحیح کیدل، نو عملونه هم دوه قسمه دي (١) یو هغه چه شرائط د عمل صحیح وي، پوره وي لیکن د بهر نه پکښے یو عیب راغلے وي، د هغے په وجه ورته اجر نهٔ ملاویږي، (٢) دویم هغه عملونه چه شرائط پکښے پوره نهٔ وي نو پدے کښے بیا نفي د صحت مراد وي لکه [لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ صَلَاةً بِغَيْرِ طَهُوْرٍ] ۔ مونځ بغیر د اودس نه نهٔ قبلیږي یعني نهٔ صحیح کیږي۔ نو دلته پدے حدیث کښے که د مونځ شرائط پوره وي نو مونځ به صحیح وي، اعاده پرے نشته لیکن پدے کارونو سره ددے کسانو د مانځه اجر نشته۔

علامه سنديؒ لیکي : قبول اخص دے د اِجزاء نه، نو د عدم قبول نه عدم اجزاء نهٔ لازمیږي۔ صاحب المرقاة وائي : دلته نفي د قبول کامل ده۔

[لَا تَصْعَدُ لَهُمْ] ۔ یعني الله تعالیٰ ته د دوئ یوه نیکئ هم نهٔ پورته کیږي۔ [مَوَالِيْهِ] ۔ دا

ئې جمع راوړه، دا په هغه صورت کښې چه غلام د ډېرو ترمينځ شريك وي، يا العبد کښې الف لام جنسي دے، چه دا په معنیٰ کښې جمع وي، نو بيا قانون دے چه جمع مقابل د جمعې راشي نو انقسام ئې په احادو کيږي.

[فَيَضَعُ يَدَهُ]۔ دا کنايه ده د طاعت او تابعدارئ نه۔ [وَالْمَرْأَةُ السَّاخِطُ]۔ يعنې تردې چه خاوند ترې راضي شي، دا شپې او ورځې دواړو ته شامل دے۔ [يَصْحُوَ] يعنې صحي شي او نشه ترې لاړه شي، د غفلت او ګناه نه په توبه سره راواپس شي۔

درجة الحديث : [إسناده ضعيف] شعب الايمان : ۸۷۲۷ ورواه ابن حبان (۱۲۹۷) وغيره باسناد ضعيف وقع الاضطراب فيه من زهير بن محمد وهو ثقة فيه لين قاله الذهبي في الضعفاء۔ فعلة الحديث لين زهير واضطرابه في سنده كما في الضعيفة (۱۰۷۵)

د غوره ښځې نښه

3272 (35) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ ؟ قَالَ : " **أَلَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ** ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ته ووئيل شو : کومه يوه د ښځو نه بهتره ده ؟ وې فرمايل : هغه زنانه چه خاوند خوشحاله کوي کله چه ورته خاوند وګوري او د هغهٔ خبره مني هرکله چه ورته حکم وکړي او د هغهٔ نه په خپل نفس او په خپل مال کښې مخالفت نهٔ کوي په هغه کار سره چه خاوند ئې بد ګنړي۔ (نسائيؒ، شعب الايمان)

تشريح : [خَيْرٌ]۔ يعنې کومه ښځه د خير او برکت والا ده؟، او کومه ښځه کښې خير دے او په نورو ښځو باندے غوره ده؟۔ [تَسُرُّهُ]۔ چه خاوند خوشحالوي۔ کله چه خاوند ورته وګوري ځکه چه دا خاوند سره په مينه او کولاؤ تندی ملاويږي، او نرمه او د خوش اخلاقئ زندګی ورسره تيره وي۔ [مَالِهَا]۔ يعنې ددے په خپل مال کښې هم د خاوند په مشوره چليږي۔ يا د خاوند مال چه ددے په لاس کښې دے لکه روستو حديث کښې هغه ذکر دے۔ [بِمَا يَكْرَهُ]۔ يعنې خاوند چه ددے نفس او مال کښې جنايت او خيانت بد ګنړي نو ښځه دا کار نهٔ کوي۔

درجة الحديث :[إسناده حسن او صحيح] النسائي : ٦٨/٦، شعب الايمان : ۸۳٦۳ : الحاكم

: ۲/۱٦۱، احمد : (۲/۲۵۱ و ۴۳۲، و ۴۳۸، الصحیحة : ۱۸۳۸)

د امانتدارې ښځې فضیلت

3273 (36) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :" **أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ فَقَدْ أُعْطِيَ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ : قَلْبٌ شَاكِرٌ وَلِسَانٌ ذَاكِرٌ وَبَدَنٌ عَلَى الْبَلَاءِ صَابِرٌ وَزَوْجَةٌ لَا تَبْغِيهِ خَوْنًا فِيْ نَفْسِهَا وَلَا مَالِهِ** ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ وفرمایل : **خلور خویونه دی چه چا ته ورکړې شول نو هغهٔ ته د دنیا او د آخرت خیر ورکړې شو : زړهٔ شکر کونکې. او ژبه ذکر کونکې، او په مصیبتونو باندې صبر کونکې بدن، او هغه ښځه چه په خپل نفس او د خاوند په مال کښې د هغهٔ دپاره خیانت نهٔ لټوی.** (بیهقیؒ : شعب الایمان)

تشریح : [أَرْبَعٌ]- یعنی خلور خصلتونه دی. اَیْ اَرْبَعُ خِصَالٍ - [قَلْبٌ شَاكِرٌ] - د الله د نعمتونو شکر ګذار زړهٔ. [لِسَانٌ ذَاكِرٌ] - یعنی په خوشحالئ او تکلیف ټولو حالاتو کښې د الله تعالیٰ ذکر کوی. [الْبَلَاءِ]- دینی او دنیاوی تکلیفونو باندې صبرناك وی. [لَا تَبْغِيهِ]- یعنی نهٔ طلب کوی خاوند لره. [خَوْنًا]- یعنی خیانت. یعنی خپل نفس کښې هم خیانت نکوی او نهٔ د خاوند په مال کښې.

درجة الحديث :[إسناده ضعيف] شعب الايمان : ۴۴۲۹، والطبرانی فی الکبیر والاوسط بإسناد واحد ضعيف، وانظر الضعيفة : ۱۰٦٦]



۱۱- باب الخلع والطلاق

د خلع او طلاقو بیان۔

مناسبت : (۱) مناسبت واضح دے چه کله ښځه او خاوند د یو بل حقونه نۀ ادا کوی نو خلع او طلاق ته به ضرورت راځی نو عشرة النساء (د ښځے او خاوند خپل مینځ کښے ښکلے ژوند تیرول) د طلاق او خلع دپاره مانع او فاصل دے۔

(۲) یا مخکښے نکاح ذکر شوه نو اُوس رفع او فسخ د نکاح بیانوی۔ د ښځے نکاح په دوه ځیزونو سره ماتیږی : (۱) په طلاقو سره (۲) په فسخ سره۔ فسخ دیته وائی چه د قاضی په لاس وشی او قاضی فیصله وکړی چه ما ددے دواړو ترمینځ نکاح ختمه کړه، او طلاق د خاوند په لاس کښے وی۔

د فسخ او طلاق فرق : کله خو فسخ ذکر کیږی او طلاق ترے مراد وی لیکن عامو حالاتو کښے دواړو ترمینځ فرق دے : (۱) په فسخ باندے د طلاق احکام نۀ جاری کیږی یعنی که خاوند ورته الفاظ د طلاق ووائی او که نه، نکاح ختمیږی او په طلاقو کښے به خاص الفاظو ته ضرورت وی، هغه به استعمالوی بیا به نکاح ختمیږی۔ په بل تعبیر سره : [أَلطَّلَاقُ : هُوَ حَلُّ الْعِصْمَةِ الْمُنْعَقِدَةِ بَيْنَ الْأَزْوَاجِ بِأَلْفَاظٍ مَخْصُوصَةٍ]۔ طلاق نکاح ختمول دی په خاصو الفاظو سره۔ [وَالْفَسْخُ هُوَ إِزَالَةُ مَا يُتَوَهَّمُ انْعِقَادُهُ لِمُوجَبٍ يَمْنَعُ الْعَقْدَ]۔ د یو مانع په وجه د عقد ختمول دی۔ (المفهم)

(۲) فسخ د نکاح کښے عدت نۀ وی بلکه چه یو حیض تیر شو نو ښځه به ځی او درے حیضو ته ضرورت نۀ وی او هرچه طلاق دی نو په هغے کښے په درے حیضو سره عدت تیرول وی۔ (۳) په طلاق کښے د خاوند رجوع صحیح کیږی، برابره ده چه د ښځے رضا وی او که نه۔ او په فسخ کښے رجوع نۀ صحیح کیږی مگر په رضاء د ښځه باندے۔

(٤) د طلاق نه روستو که دوباره نکاح وکړی نو که یو طلاق ئے ورکړے وی نو د دوه طلاقو مالك دے او که دوه ئے ورکړی وو نو د یو طلاق مالك دے، او په فسخ کښے که

دواړه يو بل سره نکاح کوی نو خاوند بيرته د دريے طلاقو مالك جوړيږی۔ (المفاتيح شرح المصابيح) دے فرقونو ته روستو د خلع په صورت کښے ضرورت راځی۔
(۵) که فسخ د دخول نه مخکښے وشوه نو د ښځے دپاره مهر نشته، ځکه چه نقصان د ښځے د طرف نه دے، که پدے کښے عيب وی او که په خاوند کښے۔ او که د دخول نه پس وی نو بيا کوم مهر چه ئے د عقد په وخت مقرر کړے وی هغه به ورکوی۔
او د **طلاق** په صورت کښے که طلاق قبل الدخول ورکړی نو که مهر مقرر شوے وی نو نيمائی به ورکوی۔ او که نۀ وی مقرر کړے نو متعه به ورکوی په اندازه د خالت د خاوند، د مالداره سړی متعه به ښه او ډيره وی او د غريب متعه د هغۀ د شان مناسب۔ لکه قرآن کريم کښے دی: [وَمَتِّعُوْهُنَّ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ] (بقرة: ۲۳٦)۔ او که دا مفارقه (جدائی) او فسخ په مرګ د يو د دواړو سره وشوه نو هغے ته به مهر مثل ورکوی کله چه مهر نۀ وی مقرر شوے، او يو بل نه به ميراث هم وړی۔ (الملخص الفقهی وغيره)
د فسخ صورتونه: فسخ په کومو صورتونو کښں راځی؟ نو دا يو څو دی: (۱) [اِرْتِدَادُ الْمَرْأَةِ اَوِ الزَّوْجِ وَالْعِيَاذُ بِاللّٰهِ]۔ د ښځے يا د خاوند د دين نه اسلام نه مرتد کيدل۔
(۲) کله راځی په صورت د عنين کښے، يعنی چه خاوند نامرده شی نو قاضی به د دواړو ترمينځ نکاح فسخ کړی۔ د عمر فاروق رضی الله عنه دا فيصله ده چه نامرد ته به يو کال پورے صبر کولے شی که صحيح نۀ شو نو قاضی به فسخ راولی۔ او کال نيتهه ئے پدے وجه مقرر کړه چه په کال کښے څلور موسمونه وی، نو اميد دے چه د موسمی دباؤ په وجه دده نامردی راغلی وی۔ (۳) امراض مُنفره: لکه برګی بيماری، جنون (ليونتوب)، جذام، سر ګنجے کيدل، د خولے ګنده بوئی، ځکه چه پدے کارونو سره نفرت پيدا کيږی، حافظ ابن قيم وائی: هر هغه عيب چه په هغے سره ښځه او خاوند د يو بل نه نفرت کوی او د نکاح مقصد پکښے نۀ حاصليږی نو پدے کښے به ښځے ته اختيار ورکولے شی چه خاوند سره پاتے کيږی او که نکاح فسخ کوی۔ (الملخص الفقهی ۲/۳۵۰) مګر پدے کښے اختلاف دے چه پدے سره فسخ راځی او که نۀ۔
(٤) يو تن د يوے ښځے سره نکاح وکړه پدے شرط چه دا مسلمانه ده، بيا هغه کتابيه اُوختله نو نکاح صحيح ده ليکن سړی ته اختيار د فسخ شته۔
(۵) سړے دا شرط ولګوی چه ښځه باکره ده، يا ښائسته ده، يا نسب داره ده، بيا ددے

خلاف راووته، نو سړي دپاره اختيار د فسخ شته ځکه چه د شرط مخالفت وشو۔
(٦) دغه شان يو سړي يوه ښځه پدې شرط وکړه چه دا حُرّه ده بيا هغه وينځه راووته نو دهٔ له اختيار دے، دغه شان که يوې ښځې يو سړي سره پدے شرط نکاح وکړه چه دا آزاد دے، بيا هغه غلام راووتو نو هغې له اختيار شته۔ دارنګه يوه وينځه د غلام په نکاح کښې ده بيا هغه آزاده شوه نو هغې له هم اختيار شته لکه قصه د بريره رضی الله عنها پرے دليل دے۔ وتقدم۔
(٧) [تَرْكُ النَّفَقَةِ]۔ مثلاً خاوند وتښتي، د ښځې نه پټ شي خرچه نهٔ راليږي، يا کلي کښې دے ليکن قصداً نفقه نهٔ ورکوي نو قاضي به نکاح فسخ کړي۔ يا خاوند غريب شو چه د ښځې خرچه نشي برداشت کولے نو ښځې له اختيار شته چه د خاوند نه لاړه شي۔ (المغني لابن قدامةؒ)
(٨) د مفقود په صورت کښې: مثلاً يو تن ورك شي نو د راجح قول مطابق به څلور کاله څلور مياشتے پس فسخ واقع کيږي۔ که ښځه غواړي۔
(٩) خاوند متعنت شي، په ښځه ظلم کوي۔
(١٠) [إِعْسَارُ الزَّوْجِ]۔ د خاوند غريب کيدل۔ بعض علماؤ دا هم ذکر کړے ليکن صحيح خبره دا ده چه دے سره فسخ نهٔ ده صحيح، ځکه چه بعض صحابه کرامو سره صرف يو لنګ وو او نبي عليه السلام ورله نکاح نهٔ ده فسخ کړے، بلکه دا هله دے چه کله زوج قادر وي په کارو بار باندے او کار نهٔ کوي او کور کښې قلارے ناست وي، ځان ئے په زوره غريب کړے وي، نو بيا ښځې له اختيار شته چه ددهٔ نه لاړه شي په فيصله د قاضي سره۔
(١١) بل صورت د فسخ هغه خلع دے، خلع اګر که د قاضي په لاس سره نهٔ وي بلکه د ښځې او د خاوند په رضا سره وي او په طلاق کښې د ښځې رضا ته ضرورت نهٔ وي۔
د خلع او طلاق فرق: (١) خلع کښې رضاء د ښځې وي او په طلاق کښې د ښځې رضا ضروري نهٔ ده۔ (٢) طلاق بغير د مال نه وي، او خلع په مال باندے وي۔
(٣) خلع کښې پوره عدت نهٔ وي او طلاق کښې پوره عدت وي۔ نو مسئله دا شوه چه خلع کښې د زوجينو رضاء شرط ده ځکه د خلع مثال داسے دے لکه بيع۔ او په بيع کښې رضاء المتبايعين ضروري وي۔ خو دا هله چه خاوند ظلم نهٔ کوي، او که خاوند ظالم وو نو بيا د هغهٔ د رضا نه بغير هم د قاضي په فيصله سره خلع واقع کيدے شي۔ لکه همدا

خبره راجحه ده. وانظر فتاوى الدين الخالص (۱۲).

د خلع تعریف: خُلْعٌ: د خاء په پیښ سره، د خَلْعٌ نه وتے دے (د خاء په زور سره) **معنیٰ ئے** ده: ویستل او ختمول، لکه عرب وائي: خَلَعَ الثَّوْبَ خَلْعًا (جامه ئے وښکله)، وَخَلَعَ امْرَأَتَهُ خُلْعًا (ښځے سره ئے خُلع وکړه) په دے دویم کښے خاء له پیښ ځکه ورکړے شو چه د ظاهري او معنوي خلع ترمینځه فرق راشي. ظاهري خلع: یو شے ویستلو ته وائي. او معنوي خلع ښځے سره خُلعے کولو ته وائي. او خُلع په شریعت کښے: فِرَاقُ الزَّوْجَةِ عَلَى عِوَضٍ مِنْهَا أَوْ مِنْ غَيْرِهَا (ښځے نه په مال سره جدا کیدل، برابره خبره ده که دا مال ښځه په خپله ورکړي یائے د هغے له خوا بل څوك ورکړي).

د خُلع د مشروعیت دلیل: قرآن او سنت دواړه دي. د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ تِلْكَ حُدُودُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا﴾ [البقرة: ۲۲۹] (نو که تاسو سره خطره وه چه ښځه او خاوند دواړه به د الله پولے ونۀ دروی نو په دے دواړو باندے په هغه څۀ کښے ګناه نشته چه په هغے سره ښځه (د خاوند نه) خپل ځان خلاص کړي، دا د الله پولے دي نو تاسو ددے نه مۀ ورتیریږئ) په دے آیتِ کریمه کښے خطاب د مسلمانانو مشرانو یا رشته دارو سره دے. او د ﴿فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ معنیٰ داده: په هغه مال کښے چه ښځه هغه خاوند له ورکړي او د هغے په وجه د هغۀ د پنجے نه ځان خلاص کړي.

د خلع د مشروعیت حکمت: دادے چه په دے کښے ښځه د خپل خاوند نه په داسے طریقه خپل ځان خلاصوی چه خاوند ورته - د هغے د رضامندئ او نوے نکاح نه بغیر - رجوع نشي کولے. کله چه د ښځے او خاوند کور سمے ونۀ خوری او ښځه خپل خاوند، د هغۀ د شکل او صورت یا د هغۀ د خوئے بوئي یا د هغۀ د دینداریٔ یا بوډا والي یا کمزوریٔ وغیره په وجه بدے وګنړي، او هغے سره خطره پیدا شي چه د الله هغه حق به ادا نۀ کړے شي کوم چه د خاوند په طاعت او فرمانبرداریٔ کښے دے: نو په دے وخت کښے ښځے له جائز دي چه خپل خاوند سره خلع وکړي یعنی د هغۀ نه د څۀ عوض ورکولو په وجه خپل ځان خلاص کړي. الله تعالیٰ خُلع ته افتداء (فدیه ورکول) ویلی ځکه په دے سره ښځه د خپل خاوند د قید نه ځان خلاصوی لکه څنګه چه یو قیدی په فدیے ورکولو سره خپل ځان د قید نه خلاصوی.

او خُلع شريعت د ښځې دپاره د طلاقو په مقابل کښې گرځولې، ځکه طلاق د خاوند په لاس کښې وي او خُلع د ښځې د طرفه وي. که چرې خاوند خپله ښځه بدې وګڼړي نو د هغې نه خپل ځان په طلاقو سره خلاصولې شي. اوکه ښځه خپل خاوند بدې وګڼړي نو د هغهٔ نه خپل ځان په خُلع سره خلاصولې شي.

د خلع الفاظ : د خُلع په الفاظو کښې دوه قوله دي : **(يو)** دا چه ددې دپاره مخصوص الفاظ دي لکه : د خُلع لفظ، يا د فداء يا د فسخ يا ددې پشان نور الفاظ. نو که چرې خُلع د طلاقو په الفاظو سره واقع شوه نو دا بيا طلاق دي. **(دويم داچه)** : د خُلع دپاره مخصوص الفاظ نشته، بلکه هر هغه فراق او جدائي چه په عوض سره وي نو دا خلع ده اګرکه د طلاقو په الفاظو سره ولې نهٔ وي. لکه ددې بيان را روان دې. ان شاء الله تعالىٰ. او همدا قول حق دې دليل پرې روستو حديث د ثابت بن قيس بن شماس ﷺ دې.

خلع طلاق دى او که فسخ د نکاح ؟ : پدې کښې دوه قوله دي (۱) امام ابوحنيفهٔ، مالك او يو روايت د احمدٓ دا دې چه خلع سره طلاق واقع کيږي برابره ده چه په هر يو لفظ سره خلع شوې وي، د خلع په لفظ سره وي اوکه د طلاقو په لفظ سره. او دا طلاق به طلاقِ بائن وي، ځکه که رجعي واقع شي نو بيا به خاوند هغې ته رجوع کولې شي نو بيا د عوض ورکولو هيڅ فائده پاتې نشوه. نو ځکه دا طلاق بائن دې.

او دا د عمر فاروق، عثمان، علي، ابن مسعود رضي الله عنهم قول دې، او دا مذهب د حسن بصريٓ، نخعيٓ، عطاءٓ، سعيد بن المسيبٓ، شريحٓ، شعبيٓ، مجاهدٓ، مکحولٓ، زهريٓ، او دا مذهب د مالك، سفيان الثوريٓ، اوزاعيٓ او اصح قول د شافعيٓ او اصحاب الرأى دې. (شرح السنه)

دلائل : ۱- الله تعالى خلع د طلاقو په باب کښې ذکر کړې نو سياق د آيتونو دليل دې ليکن دا بعيد استدلال دې. ۲- دليل : روستو حديث د ابن عباس ﷺ کښې دي چه رسول الله ﷺ ثابت بن قيس ﷺ ته وفرمايل : [اِقْبَلِ الْحَدِيْقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيْقَةً] الفاظ دي چه باغ واخله او طلاق ورکړه. که خلع فسخ د نکاح شي نو بيا د طلاق په اچولو باندې امر ته ضرورت څه دې. ۳- دليل : عائشه ﷺ فرمائي : [اُمِرَتْ بَرِيْرَةُ اَنْ تَعْتَدَّ بِثَلَاثِ حِيَضٍ]. [صحيح ابن ماجه : ۱۶۹۰] (چه بريرې رضي الله عنها ته حکم شوې وو چه هغه درې حيضونه تير کړي). او د درې حيضونو عدت د مطلقې دپاره وي. نو دا د مخکښې

حديث د ابن عباس ﷺ دپاره شاهد شو، او معلومه شوه چه خلع طلاق دے۔
نو ددے قول والا په نيز دلته باب الخلع والطلاق کښې به عطف د عام وي په خاص باندے۔ طلاق عام دی او خلع پکښې يو قسم طلاق دی۔

(۲) **قول** : خلع فسخ ده اګرکه د طلاقو په لفظ سره وي۔ ځکه هر کله چه د طلاقو سره عوض راغے نو دا خُلع ده۔ ابن عباس ﷺ فرمائی : [كُلُّ شَيْءٍ أَجَازَهُ الْمَالُ فَلَيْسَ بِطَلَاقٍ] [ابن أبی شيبة: ۱۱۲/۵] او دا قول د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، ابن قيمؒ، ابن كثيرؒ، صنعانیؒ، شوكانیؒ، شيخ ناصر السعدیؒ او شيخ ابن عثيمينؒ دے۔ او دا قول د عبد الله بن عمر، عبد الله بن عباس رضی الله عنهما دے او دا مسلك د عكرمهؒ، طاووسؒ او يو قول د شافعیؒ او مذهب د احمد بن حنبلؒ او اسحاقؒ او ابو ثورؒ دے۔ (شرح السنه : ۱۹۶/۹)

دلائل : ۱- دليل : الله تعالىٰ فرمايلی دی : ﴿الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ﴾ [البقرة : ۲۲۹] بيائے دے نه پس په : ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ كښې د خلع مسئله ذكر كړے۔ بيائے فرمايلی دی : ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ﴾ [البقرة: ۲۳۰] او دا دريم طلاق دے، نو كه چرے خلع هم طلاق شی نو [فَإِنْ طَلَّقَهَا] سره به دا څلورم طلاق شی حالانكه طلاقونه صرف دريے دی، نو معلومه شوه چه خلع طلاق نهٔ دے بلكه فسخ ده۔ دا استدلال ابن عباس ﷺ كړے لكه په معالم السنن د خطابیؒ كښې ذكر دے۔ **۲- دليل** : په نسائیؒ كښې د رُبيع بنت معوذ ﷺ نه نقل دی : ثابت بن قيس بن شماس ﷺ خپله ښځه ووهله او په هغے كښې دا دی.......... نو نبی ﷺ هغهٔ ته ووېل : [خُذِ الَّذِى لَهَا عَلَيْكَ (اَىِ الْمَهْرَ) وَخَلِّ سَبِيلَهَا قَالَ نَعَمْ : فَأَمَرَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَنْ تَتَرَبَّصَ حَيْضَةً وَاحِدَةً فَتَلْحَقَ بِأَهْلِهَا]۔

[النسائی : ۲۰۹/۲.رقم : ۳۴۹۷: صحيح على شرط البخاری، الترمذی : ۱۱۸۵، ابوداود : ۲۲۲۹]

(د هغے چه په تا كوم مهر دے هغه واخله او دا پريده، هغهٔ ووېل : صحيح ده، نو رسول الله ﷺ هغے ته د يو حيض تيريدو حكم وكړو او بيا به خپل پلار كره ځی)۔

۳- دليل : ابن عباس ﷺ فرمائی : [إِنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ إِخْتَلَعَتْ مِنْهُ فَجَعَلَ النَّبِىُّ ﷺ عِدَّتَهَا حَيْضَةً] ۔ [حديث صحيح، ابوداود : ۱۹۳۱] ۔ (د ثابت بن قيس ﷺ ښځے د هغهٔ سره خلع وكړه نو نبی عليه السلام د هغے عدت يو حيض وګرځولو)۔

او په بل روايت د ابوداود او ابن ماجه او نسائی او موطأ كښې دی : هر كله چه ثابت بن

قیس ﷺ راغلو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: [هٰذِهِ حَبِيْبَةُ بِنْتُ سَهْلٍ قَدْ ذَكَرَتْ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ تَذْكُرَ، وَقَالَتْ حَبِيْبَةُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! كُلُّ مَا أَعْطَانِيْ عِنْدِيْ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ: خُذْ مِنْهَا، فَأَخَذَ مِنْهَا وَجَلَسَتْ هِيَ فِيْ أَهْلِهَا]. [حديث صحيح: الموطأ: ۱۱۷٤، أبوداود: ۲۲۲۹، نسائي: ۳٤٦۲، وصححه ابن الجارود وابن حبان].

دا حبیبه بنت سهل ده، دې ما ته شکایت وکړو، حبیبې ووېل: اې د الله رسوله! ثابت چه ما ته څه راکړي هغه ټول ما سره دي (زۀ د هغې ورکولو ته تیاره یم) نو رسول الله ﷺ ثابت بن قیس ته ووېل: ددې نه دا واخله، نو هغۀ ترې واخسته، او حبیبه په خپل اهل کښې کیناسته. ددې نه معلومېږي چه په کور کښې کیناستل خو په طلاق کښې نۀ وي بلکه مطلقه به د خاوند په کور کښې عدت تېروي نو معلومه شوه چه خلع فسخ ده او طلاق نۀ دې.

٤- دلیل: عثمان بن عفان ﷺ، ابن عباس ﷺ فرمائي:

[اَلْخُلْعُ فُرْقَةٌ وَلَيْسَ بِطَلَاقٍ]. [عبد الرزاق: رقم: ۳۸٦۹، و مجموعة الفتاوى ۳۲/۳۲۲].

(خلع تفریق (جدائي) ده او طلاق نۀ دې.

۵- عقلي دلیل: خلع نۀ طلاق بائن صحیح کېږي او نۀ طلاق رجعي. بائن ځکه نۀ صحیح کېږي چه بائن خو د ظاهر خلاف وي او دلته تطلیقة واحدة راغلې او یو طلاق بائن نۀ وي. او رجعي هم نۀ صحیح کېږي ځکه چه د فُرقة حاصلولو دپاره چه ښځې کوم مال ورکړې هغه ضائع کېږي، د مال د ورکولو فائده څه شوه چه خاوند بیرته رجوع کولې شي؟!!. او **کوم حدیث** د عائشه ﷺ کښې چه دا راغلل چه بریرې ته حکم شوې وو چه درې حیضونه تیر کړي نو د هغې (۱) یو **جواب** دا دې چه هغه حدیث د خلع په باره کښې نۀ دې بلکه د وینځې په باره کښې دې او هغه جدا مسئله ده چه کله یوه وینځه آزاده شي او خاوند ئې غلام وي نو ښځه ځان د خاوند نه خلاصولې شي، بیا به ښځه درې حیضونه تیر کړي، او د هغې نه پس بل چا سره نکاح کولې شي.

(۲) جواب: هغه روایت شاذ دې، ځکه چه عامو احادیثو کښې (حَيْضَةٌ وَاحِدَةٌ) الفاظ ذکر کېږي. او دغه یو روایت کښې درې حیضونه ذکر دي. دارنګه د عقل تقاضا هم دا ده چه د مختلعه زنانه عدت دې یو حیض شي ځکه چه مقصد پکښې د رحم حالت معلومول دي چه اولاد ئې شته او که نه. او درې حیضونه خو د هغه چا دپاره وي چه

خاوند ورته بیرته رجوع کوی، هغهٔ ته په انتظار کښې ناسته وی۔ [زاد المعاد: ۵/۱۹۶]۔
او صریح روایتونه د ابن عباس ﷺ او رُبیع دلیل دے چه د حبیبه بنت سهل ﷺ عدت یو حیض وو۔
دے کښې دریم قول دا دے: چه خلع که د خلع یا افتداء پشان لفظ سره وی نو دا خلع ده، اوکه د طلاقو په لفظ سره وی نو دا طلاق دے۔ لیکن دے فرق باندے دلیل نشته۔
ثمره د اختلاف: (۱) ددے اختلاف ثمره او نتیجه داده چه څوك خلع طلاق ګڼړی نو د هغوئ په نیز که چا ښځے سره خلع وکړه او بیا ئے په نکاح واخسته نو ددهٔ به یو طلاق حساب شی او دوه طلاقه به ئے پاتے وی۔ دغه شان که په دریم ځل ئے خلع وکړه نو ښځه به د بل خاوند سره د نکاح نه بغیر ددهٔ دپاره نهٔ حلالیږی۔ او څوك چه خلع فسخ ګڼړی نو د هغوئ په نیز که هر څو ځله خلع وشی نو دا طلاق نهٔ دے او خاوند د درے طلاقو مالك دے۔ (۲)- دارنګه که خلع فسخ شی نو دا په هر وخت کښې کولے شی طهر وی او که حیض۔ او طلاق صرف په طهر کښے ورکول کیږی۔ نو راجح دا ده چه خلع فسخ د نکاح ده او طلاق نهٔ دی۔ او هر چه د (تَطْلِیْقَةٌ وَاحِدَةٌ) لفظ راغلے نو ددے جواب روستو حدیث کښې راروان دے۔
طلاق: د نکاح قید ختمولو ته وئیلے شی۔ **د طلاقو تقسیم**: په فقه حنفی کښې طلاق په درے قسمه ذکر شویدی: (۱) احسن: دا هغه طلاق دی چه یو طلاق ورکړی تردے چه عدت تیر شی، فائده پکښې دا ده چه بیرته ښځے ته د نکاح په تجدید سره رجوع کولے شی۔ (۲) حسن: چه په درے بیلابیل طهرونو کښې یو یو طلاق ورکړی۔
(۳) بدعی: (أ) چه حیض کښې طلاق ورکړی۔ (ب) یا درے طلاقه په یو ځل ورکول، بیا آیا درے واړه په یو بدلیږی او که درے حسابیږی؟ دا اختلاف به روستو راشی۔
بل تقسیم: طلاق د ظروفو او احوالو د اختلاف په اعتبار سره په پنځه قسمه دی:
(۱) مباح: طلاق په هغه وخت کښې مباح دی چه خاوند ورته محتاج شی، پدے وجه چه د ښځے بد اخلاقی وی، د هغے نه ورته ضرر رسیږی، او د نکاح په باقی پاتے کیدو کښې د وادهٔ چه کوم فوائد او اغراض وی هغه نهٔ حاصلیږی۔
(۲) مکروه: کله چه ضرورت نهٔ وی لکه ښځه او خاوند ښهٔ برابر وی، بیا طلاق مکروه دی، او پدے حال کښې د بعض علماؤ په نیز مکروه دی ځکه چه حدیث کښې ورته ابغض

الحلال الی الله الطلاق وئيلے شوی۔ (ابوداود، ابن ماجه)

(۳) مستحب: طلاق په هغه وخت کښې مستحب دی چه کله ورته ضرورت راشی پدے طریقه چه په نکاح باقی پاتے کیدو کښې ښځے ته ضرر وی، لکه د ښځے او خاوند اختلاف راشی، او ښځه خاوند لره بد ګنړی، نو پدے وخت کښې ښځے ته ضرر دے، او نبیﷺ فرمائی: [لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ]. بل ته به هم ضرر نهٔ ورکوی او نهٔ ځان ته۔

(٤) واجب: (أ) طلاق په هغه وخت کښې واجبیږی چه ښځه کښې دینی نقصان وی لکه مونځونه نهٔ کوی، یا ئے د خپل وخت نه اړوی، او خاوند د هغے په لاره راوستو نه عاجز شی، یا بے حیائی کوی، عزت ئے محفوظ نهٔ وی، نو پدے حال کښې طلاق ورکول واجب دی۔ شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ وائی: که ښځه ئے زنا کوی نو دے وخت کښې د ښځے ساتونکی ته دیوث وائی چه الله تعالیٰ ئے نهٔ بخښی۔ او یو حدیث کښې دی چه د داسے سړی دعاء نهٔ قبلیږی چه ښځه ئے بی حیائی کوی او دے ورته څه نهٔ وائی۔ او طلاق نهٔ ورکوی۔ ددے برعکس که د خاوند دین برابر نهٔ وی، مونځونه نهٔ کوی، نو په ښځه واجب دی چه د خاوند نه به طلاق اخلی، یا به ترے په خلع او فدیه سره جدا کیږی۔ (ب) طلاق په هغه وخت کښې هم واجب دی چه سړے د ښځے نه ایلاء وکړی او څلور میاشتے تیرے شی او د رجوع نه انکار کوی نو دے وخت کښې به پرے په زوره طلاق اچولے شی۔

(۵) حرام: طلاق په هغه وخت کښې حرام دی چه ښځه په حالت د بیمارئ (حیض یا نفاس) کښې وی، یا په هغه طهر کښې طلاق ورکړی چه په هغے کښې ئے نزدیکت ورسره کړے وی، یا درے طلاقه په یو ځائے ورکړی۔

شروط الطلاق : ۱- سړے به عاقل بالغ وی په خپل اختیار به طلاق واقع کوی، اِکراه به پرے نهٔ وی شوی۔ عاقل به وی ځکه چه د مجنون طلاق نهٔ واقع کیږی۔

۲- په هغه طهر کښې به وی چه جماع ئے پکښې نهٔ وی کړی۔ دا ځکه چه دغه وخت کښې د سړی توجه ښځے ته زیاته وی۔ او دغه طهر کښې به ئے نزدیکت نهٔ وی کړی، وجه دا ده چه که نزدیکت وکړی بیا طلاق ورکړی نو دغه وخت کښې د انسان مینه کمیږی نو کیدے شی چه د بے محبتئ په وجه طلاق واقع کړی بیا به روستو خپیمانه وی۔ خو هرکله چه په داسے طهر کښې وی چه په هغے کښې ئے جماع ته ضرورت دے او بیا هم جماع نه مخکښې طلاق ورکوی معلومیږی چه دا سړے ددے ښځے اراده نهٔ لری،

مجبوره دے، تنګ شوے دے۔

۳-یو یو طلاق به بیلا بیل ورکوی، په یو ځل به دوه او درے نهٔ ورکوی۔

دویم بحث: اقسام الطلاق: د عامو علماؤ په نیز طلاق په درے قسمه دی:

(۱) **طلاق رجعی**: دا هغه دے چه په صریحې الفاظو سره وی، یعنی خاوند صریح الفاظ د طلاقو استعمال کړی لکه [أَنْتِ طَالِقٌ]۔ حکم ئے دا دے چه د عدت په دوران کښے رجوع کولے شی چه هغه درے حیضه یا درے میاشتے دی۔ برابره ده چه د ښځے خوښه وی او که نه۔ لیکن دا حق د سړی دے، هغه کولے شی چه په عدت کښے ښځه بیرته راواپس کړی۔ دا وجه ده چه ښځه به د عدت په دوران کښے د خاوند په کور کښے وی، هغهٔ ته به ډول او سینګار هم کوی، او خاوند به نفقه او استوګنه ورکوی۔

(۲) **طلاق بائن**: (جدائی راوستونکے طلاق) پدے کښے اختلاف دے (أ) احناف وائی چه په کنائی الفاظو سره طلاق ورکړی یعنی داسے الفاظ استعمال کړی چه د هغے مراد او مطلب پټ وی، په لفظ کښے د ډیرو معنو احتمال وی لکه داسے ووائی: [أَنْتِ خَلِيَّةٌ، بَرِيَّةٌ، بَتَّلَةٌ، بَائِنٌ]۔ (تهٔ یواځے ئے، تهٔ بیزاره ئے، تهٔ جدا ئے) دے کښے دا احتمال هم شته چه د ښځے صفت کوی چه د ټولو خلکو نه جدا حسن او اخلاقو والا ده، او دا هم چه تهٔ زما نه جدا او یواځے او بیزاره ئے یعنی طلاقه ئے۔ نو په داسے الفاظو کښے به نیت ضروری وی، که د طلاق نیت ئے وی نو طلاق به پرے واقع شی او که د طلاقو اراده ئے نهٔ وی نو بیا پرے طلاق نهٔ واقع کیږی۔ او هرچه طلاق رجعی دی نو په هغے کښے نیت ضروری نهٔ وی بلکه ظاهری الفاظو چه کومه معنیٰ وی هغه به پرے واقع کیږی لکه حدیث کښے دی (درے څیزونه دی چه د هغے رشتیا هم رشتیا دی او ټوقے ئے هم رشتیا دی یو په کښے طلاق دے)۔

که خاوند د سبحان الله وئیلو په ځائے د خولے نه انت طالق ووتل او ښځے خاوند لره قاضی ته راښکلو چه دهٔ ما ته طلاق راکړل او خاوند منکر وی، نو قاضی به ورته وائی چه نیت لره اعتبار نشته، شرع ظاهر ګوری، البته ددهٔ او د الله ترمینځ به دے رشتینی شمارلے کیږی نو که ښځے قاضی ته رانهٔ ښکلو نو طلاق به پرے نهٔ وی واقع شوی۔ (ځکه چه الطلاق عن وطر) طلاق د حاجت د پوره کیدو نه واقع کیږی۔ او اصول الشاشی کښے لیکی چه که ښځے قاضی ته رانښکلو بیا هم طلاق واقع شو، آه۔ (بحث

الصریح والکنایة ص : ٦٤) او په بائن کښې ښځه قاضی ته نشی تللے ځکه چه خاوند به وائی زما د طلاقو نیت نهٔ وو، لیکن د اصول الشاشی خبره غلطه ده۔
(ب) او د **جمهورو** په نیز طلاق بائن پدے معنیٰ باندے -کوم چه احنافو ذکر کړه- په قرآن او حدیث کښې نشته او د هغوی په نیز د طلاق بائن دوه صورتونه دی :
(۱) چه ښځه د دخول (نزدیکت) نه مخکښې طلاقه شی لکه سورة الاحزاب (٤٩) آیت کښې دی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ﴾۔
(۲) صورت : د طلاق بائن دا دے چه یو طلاق رجعی ورکړی بیا درے میاشتے تیرے شی نو دا بائن شو، که رجوع کول غواړی نو تجدید د نکاح به وکړی۔
(۳) **طلاق مغلظ** دی : او ددے دوه صورتونه دی (۱) یو طلاق په یو طهر کښې او بل طلاق په بل طهر کښې او دریم طلاق په دریم طهر کښې ورکړی نو ددے نه روستو ښځه مغلظه طلاقه شوه چه بیرته د رجوع حق نهٔ لری ترڅو چه بل چا په نکاح نهٔ وی اخستی او هغه په خپله خوښه په خپل ژوند کښې پریدی نو دا اول خاوند ئے بیرته په نکاح اخستے شی۔ (۲) صورت : درے طلاقه په یو ځل ورکړی نو د جمهورو علماؤ په نیز دا ښځه هم مغلظه طلاقه شوه۔ دے کښې بعض خلك نکاح التحلیل یعنی حلاله کوی دا حرام کار او زنا ده۔ چه تفصیل به ئے روستو راشی۔ ان شاء الله۔
د طلاقو پابندیانے : اسلام د حاجت په وخت طلاق جائز ګرځولی لیکن ددے سره ئے پدے کښې تنګی او پابندی هم وئیلے ده لکه د وخت په لحاظ سره تنګی داسے ده چه طلاق صرف په هغه طهر کښې جائز دی چه په هغے کښې خاوند ښځے سره جماع نهٔ وی کړے، او یا د حمل په حالت کښې ورکول جائز دی۔ پاتے شو د حیض او نفاس په حالت کښې او یا په هغه طهر کښې طلاق ورکول چه په هغے کښې خاوند جماع کړے وی : نو په دے کښې اسلام د طلاق ورکولو نه منع فرمایلے۔
او د **شمار** په لحاظ سره تنګی او پابندی داده : چه طلاق به هم یو ورکوی، دوه او درے طلاقه په یو ځل ورکول جائز نهٔ دی۔ ❁ بیا چه کله ورله یو طلاق ورکړی نو د کور نه به ئے وباسی هم نهٔ او نهٔ به ښځه خپله اُوځی، لکه ارشاد دے : ﴿ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ ﴾ [الطلاق: ۱] (تاسو دا ښځے د دوئ د کورونو نه مهٔ

وياسئ او نهٔ دِے دوئ په خپله وخې مگر كه دوئ ښكاره بے حيايئ (زنا وغيره) ته راتگ وكړى۔ په دے نهٔ ويستلو كښے حكمت دادے چه په دے حالت كښے ممكنه ده خاوند هغے ته رجوع وكړى۔

❁ دارنگه ښځه باندے تر درے حيضو راتللو پورے د خاوند په كور كښے عدت لازم دے۔ چه خاوند به ورته استوگنه او نفقه وركوى۔ چه ددے تفصيلات روستو راځى۔

الفصل الأول

د ناخوښه خاوند نه طلاق اخستل جواز لرى

3274(1) -عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ، فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ مَا أَعِيبُ عَلَيْهِ فِيْ خُلُقٍ وَلَا دِيْنٍ، وَلٰكِنِّيْ أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "**أَتَرُدِّيْنَ عَلَيْهِ حَدِيْقَتَهُ؟**". قَالَتْ : نَعَمْ . قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "**اِقْبَلِ الْحَدِيْقَةَ، وَطَلِّقْهَا تَطْلِيْقَةً**". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روايت دے چه د ثابت بن قيس ﷺ ښځه د نبى ﷺ په خدمت كښے حاضره شوه او عرض ئے وكړو : اے د الله رسوله ! زهٔ ثابت بن قيس باندے د هغهٔ د اخلاقو او ديندارئ په باره كښے ملامتيا نهٔ وايم، ليكن زهٔ په اسلام كښے كفر نهٔ خوښوم (ځكه زهٔ ددهٔ سره په وسيدو ددهٔ حق نشم ادا كولے) نو رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا تهٔ ددهٔ باغ (كوم چه دهٔ تاله په مهر كښے دركړے) دهٔ ته واپس كولے شے ؟ هغے ويل : هو! نو رسول الله ﷺ (ثابت ته) وفرمايل : باغ قبول كړه او دے له يو طلاق وركړه۔ (بخارىؒ)

تعارف د ثابت بن قيس ﷺ : د انصارو د خزرج قبيلے سره تعلق لرى نو ځكه ورته انصارى خزرجى وائى۔ په لويو صحابو كښے شمار دے۔ د انصارو او د رسول الله ﷺ خطيب وو۔ اُحد او روستنو تولو جنگونو كښے شريك شوے وو۔ نبى ﷺ ورته د جنت زيرے وركړے وو۔ په (۱۲) هجرى كښے د يمامے په معركه كښے شهيد شو۔ زمونږ په كتاب ((سيرت الرسول ﷺ)) كښے ددهٔ پوره واقعه او تاريخ ذكر دے۔

تشريح : [امْرَأَةَ ثَابِتٍ] په بخارى كښے راځى چه ددے نوم جميله بنت أبى ابن سلول دے چه دا د عبد الله بن أبى خور وه۔ او ابوداود كښے دى چه دا حبيبه بنت سهل وه۔ نو بعضِ اهل علم فرمائى: دا دوه واقعے دى، په يو كښے جميله او په بله كښے حبيبه ده۔ په

یو کښې دي چه یو باغ ئې ورته ورکړے وو، او په بل کښې دي چه دوه باغونه ئې ورته ورکړي، خو ظاهره داده چه دا یوه واقعه ده، او په دے کښې یو روایت له ترجیح ده. حافظ دے ته ترجیح ورکړے چه دا دوه واقعې دي.

[مَا أَعِيبُ] د بخاري په روایت کښې : [مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ] د عِتاب نه دے ملامته کولو ته وائي. [فِيْ خُلُقٍ] د خاء او لام په پيښ سره، خوئے ته وائي يعني په نفس کښې داسے مضبوط صفت چه د هغې په وجه په غير د تکلف نه د انسان نه کارونه صادريږي. مطلب دا چه : زهٔ ددے خاوند جدائي په دے وجه نهٔ غواړم چه ګنې ددهٔ خوئي يا دين خراب دے، بلکه زهٔ طبعًا دا بدے ګنړم. [أَكْرَهُ الْكُفْرَ فِي الْإِسْلَامِ] ددے دوه معنے دي : (أ) دا ښځه د هغهٔ سره دومره بغض لري چه هغې سره دا خطره پيدا شوه چه د هغهٔ بغض به دے لره د کفر په ښکاره کولو مجبوره کړي، دے دپاره چه ددے نکاح د هغهٔ سره ماته شي.

لکه بل روایت کښې دي :[إِنِّيْ أَخَافُ الْكُفْرَ] ليکن دا تفسير د صحابيه د شان نه ډير بعيد دے. (ب) صحيح دا ده چه د کفر نه مراد کفران العشير (د خاوند ناشکري) او د سختے ناخوښئ په وجه د هغهٔ په واجب حق کښې کوتاهي کول دي، نو د ډيرے مبالغے د وجے نه ئے د نافرمانئ او بغض نه په کفر سره تعبير وکړو، ځکه دا تصرفات د اسلامي خوئي سره منافي دي. او معنیٰ دا چه : زهٔ په اسلام کښې په خپل ځان باندے د هغه شئ نه يريږم چه هغه د ديني تقاضا خلاف دي. او همدا معنیٰ زياته ظاهره ده، ځکه هغے د [أَكْرَهُ] او د [فِي الْإِسْلَامِ] الفاظ ذکر کړي.

بيا د ثابت ﷺ ښځے ولے هغهٔ لره بد وګڼړلو ؟ نو ددے وجه په ابن ماجه کښې د عمرو بن شعيبؒ عن ابيه عن جده روايت کښې راغلے چه ثابت بن قيس ﷺ د شکل نه ډير ښائسته نهٔ وو او د هغهٔ ښځے ووبل : که د الله نه ويره نهٔ وے نو کله چه دے زما خواته رانزدے کيدلو نو مابه د هغهٔ په مخ لاړے تهوکلے وے. او دا د الله تعالیٰ کار وي چه کله طبيعتونه سمے ونهٔ خوري. او په مسند احمد کښې د سهل بن ابی حثمة ﷺ په حديث کښې دي چه : دا په اسلام کښې اولنئ (واقع کيدونکے) خلع وه.

[حَدِيقَتَهُ] د بزارؒ په روایت کښې د عمر ﷺ نه نقل دي چه ثابت ﷺ دا ښځه د کهجورو د باغ په عوض په نکاح اخستے وه. [۱/ ٤٢٢] او د ابوداوُدؒ په روایت کښې دي چه هغے ته ئے دوه باغونه ورکړي وو، ممکنه ده چه ددے نه مراد دوه برخے باغونه وي. او کله چه دوه

قصے شی نو بیا اشکال نشته۔ [اِقْبَلِ الْحَدِيقَةَ، وَطَلِّقْهَا] دا امر د ایجاب دپاره دے۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ [البقرة: ۲۲۹] (یا خو په ښهٔ شان ساتل دی او یا په ښهٔ شان سره پریښودل دی) یعنی په خاوند باندے په دے دوه کارونو کښے یو کار واجب دے، نو کله چه په ښهٔ شان ساتل گران شی څکه چه ښځه فراق غواړی نو بیا په خاوند واجب دی چه په ښهٔ شان سره ئے پریدی۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: په دے حدیث کښے دا دواړه امرونه د ارشاد او اصلاح دپاره دی نهٔ د ایجاب دپاره۔ خو ظاهر قول اولنے دے چه دا دواړه د ایجاب دپاره دی، او همدا قول علامه صنعانیؒ، علامه شوکانیؒ او شیخ ابن بازؒ غوره کړے، څکه حافظؒ چه امر د ایجاب نه استحباب ته اړولے نو په دے ئے څهٔ دلیل نهٔ دے پیش کړے حالانکه د حدیث سیاق په وجوب دلالت کوی۔ [تَطْلِيقَةً] أَيْ: طَلْقَةً وَاحِدَةً بَائِنَةً (دے له یو بائن طلاق ورکړه) او دا طلاق رجعی نهٔ دے، څکه که دا بائن نشی نو بیا خو د ښځے مقصد نهٔ پوره کیږی څکه خاوند دا کولے شی چه مال ترے واخلی او رجوع ورته وکړی۔ نو د ښځے نه مال هم لاړ او مقصد ئے هم پوره نشو۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه ښځے سره خلع کول مشروع او جائز دی کله چه ددے سبب او باعث موجود شی۔ او دا په اجماع د علماؤ سره ده۔

علامه قرطبیؒ فرمائی: دا حدیث د خُلع په باره کښے بنیادی دلیل دے او په دے جمهور فقهاء ولاړ دی۔ [تفسیر القرطبی: ۳/۱۳۹]

(۲) او حدیث نه ثابته شوه چه کله ښځه خپل خاوند بدے وگنړی او دا خطره ورسره پیدا شی چه د هغهٔ حقونه به ادا نهٔ کړے شی، نو هغے له جائز دی چه د خپل خاوند نه د خلع مطالبه وکړی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ [البقرة: ۲۲۹]۔

لیکن که د ښځے او خاوند کور برابر وو نو بیا خُلع د راتلونکو وجو نه حرامه یا مکروه ده: (أ) د پورتنی آیتِ کریمه نه معلومه ده چه کله ښځے او خاوند د الله حدود قائمولے شو (یعنی یو د بل حقونه ئے ادا کولے شول) نو بیا په خلع کښے جُناح (گناه) شته دے۔

(ب) د ثوبان ﷺ په حدیث کښے دی، نبی کریم ﷺ وفرمایل: ((کومے ښځے چه په غیر د څهٔ وجے د خپل خاوند نه طلاق وغوښتل نو په هغے باندے د جنت خوشبوئی حرامه

ده)) [أبو داود: ۲۲۲٦، ترمذی: ۱۱۸۷، ابن ماجه: ۲۰۵۵، أحمد: ٦۲/۳۷، ۱۱۲، حديث حسن]

په دې حديث كښې سخت وعيد راغلې نو ددې نه حرمت معلوميږي. (ج) بله دا چه: په دې حالت كښې خلع كول دواړو ته نقصان دې، په غير د حاجت نه د نكاح فوائد ختمول، او كه اولاد ئې وي نو هغه تس نس كول دي.

آيا د كور د برابروالى په حالت كښې خلع جائز ده؟

(۱) **قول**: د **جمهورو** علماؤ په نيز كه د ښځې او خاوند كور جوړ وي نو بيا هم خلع جائز ده. دليل ئې دا آيتِ كريمه دې: ﴿فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِيْٓـًٔا مَّرِيْٓـًٔا﴾ [النساء: ٤] (كه چرې دې ښځو تاسو له څۀ شئ د خپل طرفه په خوشحالئ دركړو نو هغه خورئ په داسې حال كښې چه ښۀ تيريدونكې او ښۀ انجام والا دې) او هر كله چه عوض اخستل جائز شو نو خلع واقع شوه. او دوئ د مخكنى آيت نه دا جواب كوى چه هغه بنا بر غالب دې، يعنى زياتره دا وى چه خلع د نالگئ او ناچاقئ په وجه كيږي.

(**دويم قول**) دادې چه: كله د ښځې او خاوند حالت برابر وي نو بيا خلع كول حرام دي او واقع كيږي هم نۀ. كه چرې په خُلع يا ددې په شان لفظ سره ئې خلع وكړه نو دا نۀ واقع كيږي، او كه د طلاقو په لفظ سره ئې خلع وكړه نو دا طلاق دى. دا د امام احمدؒ يو روايت دې. شيخ الاسلام ابن تيميةؒ فرمائى: كتاب او سنت كښې چه كومه خلع راغلې دا هغه خلع ده چه په دې كښې ښځه خپل خاوند بدې گڼري او د هغۀ نه جدائى اختيارول غواړي، چه خاوند هغې ته تول يا څينې مهر وركړي او ښځه د هغۀ د قيد نه ځان خلاص كړي. پاتې شو هغه صورت چه په هغې كښې هريو د بل غوښتونكې وي نو دا په اسلام كښې څۀ نوې خلع ده. [الفتاوى: ۲۸۲/۳۲، المغني: ۲۷۲/۱۰]

(۳) ظاهر د حديث دادې چه يوائې د ښځې د طرفه كه ناخوښى راغله نو خلع جائز ده، برابره خبره ده كه د خاوند د طرفه راغلې وي او كه نۀ. او په آيت كريمه: ﴿اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ﴾ [البقرة: ۲۲۹] كښې ئې چه دواړو ته د ويرې نسبت كړې، نو ددې وجه داده چه هر كله ښځه د خاوند حقونه نۀ ادا كوى نو د خاوند ورسره هم بغض پيدا كيږي نو ځكه خوف دواړو ته منسوب كړې شو.

نو د داود ظاهريؒ دا استدلال صحيح نۀ دې چه ددې آيتِ كريمه نه معلوميږي چه

خلع به هله جائزه وي چه شِقاق او ناخوښي د دواړو د طرفه راشي، اوکه صرف د ښځې د طرفه راغله نو بيا به خلع جائز نهٔ وي. نو دا دليل نيول صحيح نهٔ دی.
د خلع په جواز کښې د ښځې او خاوند د دواړو طرفه نفرت راتلل په دې وجه هم ضروري نهٔ دي چه هر کله د ثابت ﷺ ښځې د نفرت اظهار وکړو نو رسول الله ﷺ د ثابت نه دا پوښتنه ونهٔ کړه چه آيا دا ښځه ستا هم بدې شي اوکه صرف تهٔ ئې بدې شې؟ او دا ښکاره دليل دې. بلـه دا چه په اولنى قول کښې د ښځې دپاره آساني او په دويم کښې ددې دپاره سختي ده، ځکه د ښځې به خاوند بدې شي او د خاوند به ښځه خوښه وي او خلع به نهٔ کيږي او ښځه به په عذاب کښې وي.
(٤) [أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ] نه معلومه شوه چه په خلع کښې عوض اخستل ضروري دي. او په دې عوض اخستو کښې عدل او انصاف هم دې ځکه خاوند ښځې ته مهر ورکړې او د وادهٔ خرڇې ئې پرې کړي او ددې نه پس ښځه د جدائي غوښتنه کوي نو د انصاف تقاضا داده چه ښځه خاوند ته بيرته خپل مهر ورکړي.
او د ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ نه هم معلوميږي چه خلع په عوض سره وي. او دا د ائمـه ثلاثوؒ قول دې. البته امام مالكؒ، علامه خرقيؒ، ابن عقيلؒ او شيخ الاسلام ابن تيميةؒ فرمائي: په غير د عوض نه هم خلع صحيح ده، ځکه خلع نکاح ختمول دي نو دا د طلاقو پشان په غير د عوض نه هم صحيح ده.
بله دا چه: په خلع کښې مقصد خاوند نه ځان خلاصول دي او دا په غير د عوض نه هم کيږي. دارنګه عوض د خاوند حق دې نو هر کله چه دې د هغې نه تيريږي نو په دې کښې څهٔ حرج نشته، لکه د باقي حقونو پشان. او د آيتِ کريمه نه دا جواب کوي چه دا بنا بر غالب راغلې يعنې په عامه توګه چه خلع کيږي نو هغه په عوض سره وي، خاوند د عوض نه بغير خلع نهٔ کوي. او دا مطلب نهٔ دې چه ګنې په خلع کښې خامخا عوض اخستل ضروري دي.

(۵) - آيا په خلع کښې د مهر نه زيات مال اخستل جواز لري؟

ظاهر د حديث دادې چه په خلع کښې به خاوند صرف هغه مهر اخلي کوم ئې چه ښځې ته ورکړې، ددې نه به زيات نهٔ اخلي، لکه دا د [أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ] نه معلومه ده. دارنګه د ابن عباس ﷺ په روايت کښې دي، ((نبي ﷺ هغهٔ ته حکم وکړو چه خپل باغ

واخلي او ډېر نه زياتي وانهٔ خلي)) [صحيح أبي داود: ۱۹۰۲۹]
او دا د عطاءَ، زهريٓ او نورو قول او د امام احمدٓ نه يو روايت دے۔ ددے قول مطابق که زياتي ئے واخستۀ نو هغه به بيرته واپس کوي۔
(**دويم قول**): جمهور وائي: د ورکړي مهر نه زياتي اخستل هم جائز دي۔ او دليل کښې دا آيت پيش کوي: ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ دا آيت عام دے قليل او کثير دواړو ته شامل دے۔ امام بخاريٓ د عثمان ﷺ نه نقل کړي چه ((هغۀ د ښځے سره خلع د هغے د کوڅۍ تړلو د تارونو نه سوئ په بل هر يو شئ سره جائز کړے)) يعني دا جائزه ده چه د ښځے نه لږ او ډير هر څۀ واخستل شي او هغے ته صرف د کوڅۍ تړلو تارونه پاتے کړے شي۔ (**دريم قول**) دادے: چه زياتي اخستل مکروه دي خو خلع به صحيح وي دا د بعض سلفو قول دے۔ ميمون بن مهرانٓ فرمائي: چاچه د مهر نه زيات واخستل هغۀ په ښه طريقه ښځه پرے نۀ خوده۔ سعيد بن مسيبٓ فرمائي: زۀ دا نۀ خوښوم چه ښځے نه دے ټول مهر واخستے شي، بلکه هغے ته دے څۀ پرے ښودے شي۔ [عبد الرزاق: ٦/٥٠٣، بسند صحيح، فتح الباري: ٩/٤٠٢]
ظاهره داده: که ښځه، خاوند له ابتداءً زياتي ورکړي نو بيا خاوند له ددے اخستل سره د کراهته جائز دي، ځکه دا د ځوانمردئ خلاف ده، اوکه خاوند زياتي شے طلب کوي نو ظاهره داده چه دابه د دوو وجو نه د زياتي اخستو نه منع کولے شي: (يو) خو د زياتي څۀ حد نشته۔ (دويم): که زياتي اخستل جائز کړے شي نو خاوندان به ښځے منع کوي او زورندے به ئے ساتي۔ (٦) او حديث نه معلومه شوه چه د حيض په زمانه يا په هغه طهر کښې هم خلع جائز ده چه په هغے کښے ئے ښځے سره جماع کړے وي، ځکه رسول الله ﷺ د ثابت ﷺ د ښځے نه دا پوښتنه ونۀ کړه چه د هغے حيض راغلے اوکه نه۔
(۷) او د [اِقْبَلِ الْحَدِيقَةَ، وَطَلِّقْهَا] نه معلومه شوه چه خاوند باندے د خلع د قبلولو زور راوړل جائز دي هر کله چه هغه ددے نه منع شي، خو دا په هغه حالت کښے چه کله ښځه د هغۀ سره په پاتے کيدو کښے ضَرَر مومي او يا د سړي په پاکدامنئ کښے خلل وي۔
نو په خاوند باندے په دے حالت کښے د خلع سره موافقه کول واجب دي ځکه که موافقه ونۀ کړي نو کيدے شي چه ښځه د خاوند سره د تنګوالي په وجه خپل ځان ووژني او يا وسيزي۔

(۸) د خُلع کوونکې ښځې د **عدت** په باره کښې دوه قوله دی: **(اول قول)** دادے: چه ددے عدت د مطلقې پشان درے حیضه دی که چرے ښځه حیض والا وه۔ اوکه نهٔ وه نو بیا درے میاشتے دی، اوکه حامله وه نو په وضع د حمل سره به ئے عدت تیریږی۔ او دا د ائمه اربعهؒ قول دے۔ **دلیل** ئے د ابن عباس ﷺ دا حدیث دے، په دے کښې دی: [وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً] ځکه هر کله چه خلع طلاق شو نو بیا به عدت هم د مطلقې تیروی۔ لکه ارشاد دے: ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ﴾ [البقرة: ۲۲۸]

(دویم قول) دادے: چه دا به عدت نهٔ تیروی بلکه اِسْتِبْرَاء بِحَيْضَةٍ به کوی، یعنی خپل رحم به په یو حیض راتلو سره د مخکنی خاوند د اوبو نه پاك کړی، او کله ئے چه یو حیض راغے نو ددے عدت ختم شو۔ او دا د عثمان او ابن عمر ﷺ قول دے۔ [نسائی: ۱۸۶/۶، ابن ماجه: ۲۰۵۸، أبوداود: ۲۲۳۰، وسندهما صحیح] او همدا د ابن عباس ﷺ، اسحق بن راهویهؒ قول او د احمدؒ یو روایت دے، او دا شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ او شیخ ابن بازؒ مختار گرځولے۔ او دلیل ئے د ابوداود مذکوره روایت دے چه: [فَجَعَلَ النَّبِيُّ ﷺ عِدَّتَهَا حَيْضَةً] او همدا قول د دلیل د قوت په وجه **راجح** دے ځکه دا په دے مقصد کښې صریح دے۔ پاتے شو مخکنی قول والا نو هغوئ سره دا واضحه خبره نشته چه ګنې مختلعه به درے حیضه عدت تیروی، هغوئ صرف د [وَطَلِّقْهَا] نه استدلال کړے چه دا مجمل دے۔ مخکښې مونږ ووئیل چه کوم طلاق په عوض سره وی نو دا اګرکه د طلاقو په الفاظو سره وی خو دا خلع ده۔ د خلع دپاره په شریعت کښې مقرر الفاظ نشته، کله به د خالعة په لفظ سره وی، کله د افتداء او فداء په لفظ سره، او کله د طلاق په لفظ سره لکه داسے ووائی: [طَلَّقْتُكِ عَلَى مَالِ كَذَا وَكَذَا] تا ته مے د دومره دومره مال په عوض کښې طلاق درکړو۔ او کله به د فسخ په لفظ سره وی۔

بله داچه: مختلعه ښځه په بازار کښې د اخستل شوے وینځې سره مشابه ده، ځکه په دے دواړو کښې عوض راغلے، او دغه وینځه به استبراء بالحیض کوی نو دا شان مختلعه به هم اِسْتِبْرَاء بِحَيْضَة کوی۔ لهذا د (طلقها) نه دا نهٔ معلومیږی چه خلع طلاق دے۔ نو د طلقها الفاظو نه پدے خبره باندے دلیل نیول چه خلع طلاق دے، صحیح نشو ځکه چه دلته ذکر د طلاق دے او مراد ترینه خلع ده، خلع د طلاق په الفاظو سره وکړے شوه۔

(۹) فائده: [مَا أَعِيبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَدِينٍ] دے نه معلومه شوه چه ښځې له جائز دی

چه د خاوند نه طلاق وغواړی کله چه د خاوند دین ئے خوښ نۀ شی لکه پدے نیت ورسره نکاح وکړی چه سړے دیندار دے، بیا پته ولګیده چه بے نمازه او غلط سړے دے، شراب څکی، نشے تماشے کوی۔ نو دلته د سړی د دین د خرابئ په وجه ښځے له طلاق غوښتل جائز دی۔ (۱۰) دارنګه که د خاوند اخلاق خراب وو نو بیا هم ښځه د طلاقو مطالبه کولے شی او د خاوند نه ځان په خلع سره خلاصولے شی۔

(۱۱) [وَلَـكِنِّيٓ أَكْرَهُ الْكُفْرَ] نه معلومه شوه چه انسان د کوم ناکاره کار نه یریږی نو د هغے دپاره مخکښے نه احتیاط پکار دے، دے دپاره چه د شر رسیدو نه محفوظ شی او مخکښے نه ورته تیارے وکړی۔

(۱۲) د صحابه کرامو سړو او زنانو کښے انتهائی درجه خشیت او تقویٰ وه پدے وجه کله چه به ئے دین ته نقصان رسیدو نو سمدست به ئے د هغے دپاره تدبیر کولو، دلته دے زنانه ته دا خطره وه چه د خاوند نافرمانی به تر ے وشی نو پدے وجه ئے دا نۀ برداشت کوله نو خلع ئے وغوښته۔ ایمان هغوی ته د هر څه نه ډیر قیمتی وو۔

(۱۳) [تَرُدِّيْنَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ] د رسول الله ﷺ د خپل امت سره ډیره خواهی وه، ثابت ؓ ته ئے داسے ونۀ وئیل چه تۀ دے ښځے ته بغیر د عوض نه طلاق ورکړه، ځکه چه دلته په سړی باندے مشقت راځی، او ښځه چونکه د ځان د خلاصولو په تکل کښے ده پدے وجه هغه مهر واپس کولو ته په خوشحالئ سره منده وهی نو د دواړو طرفونو لحاظ ئے وساتلو۔ (۱٤) [طَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً] نه معلومه شوه چه د طلاق ورکولو صحیح طریقه دا ده چه یو طلاق ورکړی او بس۔ او دوه طلاقه ورکول یا درے ورکول دا حرام دی۔ ځکه چه دا بدعت او ګمراهی ده، دین کښے نشته۔ البته په درے طلاقو باندے د جمهورو په نیز بائنه ګرځی (اګرکه صحیح دا ده چه دا درے واړه په یو بدلیږی، کله ئے چه مینځ کښے رجوع نۀ وی کړی لکه روستو به دا اختلاف راشی) او په دوو باندے بائنه نۀ ګرځی بلکه رجوع کولے شی۔ (فتح ذی الجلال : ٤/٦٥٥)

په حالت د حیض کښے طلاق ورکول منع دی

3275 (2) - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ؓ: أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَةً لَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَغَيَّظَ فِيهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ:

"لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِي أَمَرَ اللهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِي رِوَايَةٍ: " مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا، ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے چه هغهٔ خپلے ښځے ته طلاق ورکړو په داسے حال کښے چه هغه حائضه وه، نو عمر فاروق ﷺ دا رسول الله ﷺ ته ذکر کړه نو رسول الله ﷺ پدے باره کښے غصه شو بیائے وفرمایل: هغه دِے ورته رجوع وکړی بیا دِے ئے وساتی تردے چه پاکه شی بیائے حیض راشی بیا پاکه شی نو که ورته ښکاره شوه (خوښه ئے شوه) چه طلاق ورته ورکړی نو طلاق دِے ورکړی په داسے حال کښے چه هغه پاکه وی، مخکښے د هغے د مسه کولو نه، نو دا هغه عدت دے چه الله تعالیٰ حکم کړے چه د هغے دپاره دِے زنانه طلاقے کړے شی۔ (بخاریؒ او مسلمؒ) او په یو روایت کښے دی: هغهٔ ته حکم وکړه، چه هغه دِے ورته رجوع وکړی بیا دِے ئے طلاقه کړی په داسے حال کښے چه پاکه وی یا په حالت د حمل کښے وی۔

تشریح: دا حدیث ډیر عظیم الشان حدیث دے، دا په مختلفو الفاظو سره نقل دے، په دے کښے د طلاق وغیره ډیر مسائل ذکر دی۔ دا وجه ده، حافظ ابن حجر رحمه الله ددے مختلف روایتونه ذکر کړی، دے دپاره چه ددے نه ګڼړے فائدے راوویستل شی۔

فوائد: (۱) ابن عمر ﷺ ته خپل پلار حکم کړے وو چه خپله ښځه طلاقه کړی۔ دا ولے؟ نو کیدے شی چه څه عیب ئے پکښے لیدلے وی، یا پدے وجه چه د ابن عمر دا ډیره خوښه وه، او عمر فاروق ﷺ معلومه کړی وی چه ددے په وجه په فتنه کښے واقع نشی۔ والله اعلم، نو ابن عمر ﷺ د خپل پلار خبره اُومنله او هغے ته ئے طلاق ورکړو لیکن په حالت د حیض کښے ئے طلاق ورکړو۔ (۲) د حیض په حالت کښے طلاق ورکول صحیح نهٔ دی بلکه ګناه ده، البته که د مسیس (نزدیکت) نه مخکښے ئے ورکوی نو په حالت د حیض کښے هم طلاق صحیح دی، ځکه چه د هغه ښځے دپاره عدت نهٔ وی لکه آیت کښے ارشاد دے: ﴿لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ﴾ (البقره: ۲۳۶)

که تاسو د ښځو د مسه کولو نه مخکښے هغوی ته طلاق ورکوئ نو هیڅ ګناه نشته) یعنی اګرکه په حالت د حیض کښے ولے نهٔ وی۔

دارنګه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ﴾ (دوئ له د عدت په وخت کښې طلاق ورکړئ) او غیر مدخول بهَا دپاره عدت نشته۔ [زاد المعاد : ۵/۲۲۰]

(۳) حدیث دلیل دے چه طلاق ورکول مباح دی ځکه نبی کریم ﷺ په عبد الله بن عمر رضی الله عنه باندے په اصل طلاق ورکولو کښے رد او انکار نهٔ دے کړے، په هغهٔ باندے ئے د حیض په حالت کښے په طلاق ورکولو باندے رد کړے۔ دا وجه ده، هغهٔ ته ئے په داسے طهر کښے د طلاق ورکولو حکم وکړو چه په هغے کښے هغهٔ جماع نهٔ وی کړے۔

(٤) او حدیث دلیل دے چه د حیض په حالت کښے طلاق ورکول حرام دی او دا کار کونکے ګنهګار دے خو په دے شرط چه دهٔ ته نهی او منع د مخکښے نه معلومه وی۔ ځکه یو خو په دے کار سره نبی کریم ﷺ غصه شوے دے او هغوئ به په حرام کار باندے غصه کیدل۔ بله داچه : هغهٔ ته ئے د رجوع کولو حکم کړے او بیا د رجوع نه پس په طهر کښے د طلاق ورکولو حکم ئے ورته کړے۔ امام ابن المنذرؒ، ابن قدامهؒ او نوویؒ د حیض په حالت کښے د طلاق په حرام والی باندے اجماع نقل کړے۔ [الاجماع، ص: ۷۹، شرح مسلم : ۹/۳۱۵، المغنی : ۱۰/۲۳٤] دارنګه ددے نه د خلع صورت هم مستثنیٰ دے، لکه مخکښے تیر شو چه خلع د حیض په حالت کښے هم کیږی۔

❁ دارنګه ددے نه د حمل حالت هم مستثنیٰ دے، د حمل په دوران کښے اګرکه د عامو ښځو حیض نهٔ راځی مګر که د کومے ښځے حیض راغلے وی، نو په دے کښے طلاق ورکول صحیح دی، ځکه د حاملے ښځے عدت وضع د حمل ده۔ او دارنګه هغه شرعاً حیض هم نهٔ حسابیږی۔

(٤) د حیض په حالت کښے د طلاق ورکولو نه ځکه منع راغلے چه په ښځه باندے عدت اُورد نشی ځکه په کوم حیض کښے ئے چه طلاق ورکړے هغه د عدت نه حساب نهٔ دے، نو ښځه به په دے موده کښے زوړنده وی، نهٔ به معتده وی اونهٔ خاوند والا او نهٔ د خاوند نه فارغه۔ بعضِ وائی : وجه داده چه په طهر کښے طلاق ورکړی نو د شهوت په وجه به ورته بیرته رجوع وکړی، ځکه د حیض په زمانه کښے هغے ته شوق نهٔ کیږی۔ دواړه حکمتونه ممکن دی۔ (۵) د حیض په حالت کښے طلاق ورکول بدعی طلاق دے، دارنګه ذات الحیض ښځے له په هغه طهر کښے طلاق ورکول چه په هغے کښے ئے ورسره جماع کړے وی دا هم بدعی طلاق دی، او دیته بِدَعِی فی الزمن وائی۔ او یو بل قِسم دے

هغې ته بدعي في العدد وائي، یعنې په یو طهر کښې درې طلاقه ورکول. ❁ د بدعي طلاق په مقابله کښې سُني طلاق دادی چه په کوم طهر کښې ئے چه ورسره جماع نۀ وی کړې، په هغې کښې ورله یو طلاق ورکړی، او یا د حمل په دوران کښې ورله طلاق ورکړی، نو په دې صورت کښې د طلاق ورکولو نه پس د راتلونکے حیض نه د ښځې عدت شروع شي او په دې آیت عمل راځی: ﴿ یَآاَیُّها النَّبِیُّ اِذا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ ﴾ [الطلاق: ۱] یعنې په داسې حال کښې ورله طلاق ورکړئ چه دوئ د خپل عدت استقبال کونکی وی. ددې برعکس که د حیض په حالت کښې ورله طلاق ورکړې شي نو دغه حیض خو د عدت نه حساب نۀ دې بلکه هغه به ددې د تیریدو او د راتلونکی طهر د تیریدو انتظار کوی او بیا به په عدت کښې شروع کیږی. او کله ئے چه د حمل په حالت کښې طلاقه کړی نو بیا معامله واضحه ده هغه دا چه ددې عدت به فوراً شروع شي او کله ئے چه وضع د حمل وشوه نو عدت به ختم شي.

(٦) [مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا] --- **آیا په حالت د حیض کښې طلاق واقع کیږی؟**

دوه قوله دی: (۱) جمهور علماء وائي چه دا واقع شو او سړے گناهگار دے او کله یو شے بدعت او گناه وی لیکن حکم به پرې مرتب کیږی. او شیخ البانیؒ او شیخ ابن عثیمینؒ وغیره هم دیته ترجیح ورکړې. (۲) **دویم قول** دادې چه بدعي طلاق نۀ واقع کیږی، او دا قول د شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ، ابن قیمؒ، ابن حزمؒ، علامه صنعانیؒ، علامه شوکانیؒ وغیره دے. **دلائل**: ۱- د اول قول دپاره دلیل همدا حدیث الباب دے چه دلته (فَلْيُرَاجِعْهَا) کښې د رجوع د امر نه معلومه شوه چه د حیض په حالت کښې که څوك طلاق ورکړی نو دا طلاق سره د بدعي کیدو نه واقع کیږی، ځکه د رجوع لفظ نه معلومیږی چه طلاق واقع شوی. ۲- **دلیل**: ددې حدیث د یو روایت نه معلومیږی چه [وَحُسِبَتْ تَطْلِيقَةً] یعنې دلته یو طلاق استعمال شوے او د دوو اختیار پاتې دے.

۳- **دلیل**: د ابن عمر رضي الله عنهما خپل مذهب هم دادے چه د حیض په موده کښې ورکړے بدعي طلاق واقع کیږی، لکه په مسلم کښې راځی، انس بن سیرینؒ وائی: ما ابن عمرؓ ته عرض وکړو: تا چه د حیض په حالت کښې کوم طلاق ورکړے وو هغې له تا اعتبار ورکړو او که نه؟ هغۀ وفرمایل: څۀ وجه ده چه زۀ به هغې له اعتبار نۀ ورکوم.

بل روایت کښې دي : ما هغې ته رجوع وکړه او کوم طلاق چه مې ورکړې وو هغه مې هغې دپاره حساب کړو. [مسلم : ۱٤۷۱] او ددې حدیث الباب دپاره دیارلس طریقې دي چه رجع ئې نهو ته کیږي، شپږو طریقو کښې دا خبره ده چه عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي چه دا طلاق په ما حساب شو، یا راباندې نبي ﷺ حساب کړل موقوفاً او مرفوعاً دواړه نقل دي-درې مرفوع او درې موقوف دي. درې مرفوعو کښې دوه صحیح دي. او یو ضعیف دې، ۱- اول سند : [عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ جَعَلَهَا وَاحِدَةً]
۲- [سَالِم عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهَا حُسِبَتْ عَلَيْهِ] ۳- [یُونس بن جُبَیْرٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهَا حُسِبَتْ عَلَيْهِ]. ٤- [أَنَسُ بْنُ سِيرِيْنَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أُعْتُدَّ بِهَا]. دا روایت مرفوعاً ضعیف دې.
۵- [سعید بن جبیر عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهَا حُسِبَتْ عَلَيْهِ]. ٦- [الشَّعْبِيُّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ : وَتُحْتَسَبُ التَّطْلِيقَةُ الَّتِي طَلَّقَ أَوَّلَ مَرَّةٍ] (دارقطني والبیهقي) . نو دا طرق د جمهورو د مذهب دلیل شو.

د دویم **قول دلائل** : د دوئ دپاره هم ددې حدیث الباب نورې طریقې دلیل دې لکه د ابوداود دا روایت دې : [فَرَدَّهَا عَلَيَّ وَلَمْ يَرَهَا شَيْئًا] (یعنې ماته ئې ښځه واپس کړه او دا طلاق ئې حساب نۀ کړو). **جواب ۱:** د حدیث د اماماڼو په نیز دا جمله منکر ده. علامه ابن عبد البرؒ فرمائي: دا جمله [وَلَمْ يَرَهَا شَيْئًا] منکر ده ځکه دا د ابو الزبیر نه سوئ بل هیچا نۀ ده ذکر کړې او په دې کښې دۀ د خپل ځان نه د زیاتو ثقه او مضبوط راویانو خلاف کړې. امام شافعيؒ فرمائي : نافعؒ د ابن عمر نه په روایت کښې د ابو الزبیرؒ نه زیات مضبوط دې او هغۀ دا جمله نۀ ده وئیلې. امام ابوداودؒ فرمائي: ټول احادیث د ابو الزبیرؒ خلاف دي.امام خطابيؒ فرمائي: د اهلِ حدیثو قول دې چه ابو الزبیرؒ ددې حدیث نه زیات بل هیڅ منکر حدیث نۀ دې روایت کړې.

جواب ۲ : که دا صحیح هم شي نو ددې معنی به دا وي چه دا ئې څۀ مستقیم او درست شې نۀ دې ګڼړلې چه په سنت کښې جائز وي او د خوښ شوې طریقې موافق وي، اګر که د کراهت باوجود ددې واقع کیدل لازمي خبره ده. مطلب دا چه په حالت د حیض کښې طلاق ورکول ئې جائز ونۀ ګڼړل. لکه دا تاویل امام شافعيؒ کړې.
یا مطلب دا دې چه [وَلَمْ يَرَهَا شَيْئًا تَحْرُمُ مَعَهُ الْمُرَاجَعَةُ] یعنې دا ئې داسې شې ونۀ ګڼړلو چه ددې سره رجوع حرامه وي، بلکه رجوع ورسره صحیح کیږي.

۲- دلیل : دارنګه دوئ وائی : دا بدعی طلاق دے او بدعت مردود او باطل وی. نبی ﷺ فرمائی : [مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ] او باطل هیڅ اثر نۀ لری.
جواب : مخکښې ذکر شو چه کله یو شے بدعت وی لیکن اثر ئے باقی پاتے کیږی. دارنګه دا یو عام حدیث دے او مخکښې د ابن عمر ﷺ روایت خاص دے، او خاص په عام باندے مقدم وی. **ترجیح** : اول قول د دلائلو په اعتبار سره راجح دے، ځکه چه یو خو د هغے روایات زیات، او زیات صریح دی او د محققینو روایات کم (درے دی) او ضعیف او غیرصریح دی، او کوم چه صحیح دی نو هغه غیر صریح دی. لکه شیخ البانیؒ دا خبره په ارواء الغلیل کښې تفصیلًا کړے.
او حافظ ابن القیمؒ پدے مسئله کښې شك کړے فرمائی : ((قسم په الله که دا لفظ (فَجَعَلَهُ وَاحِدَةً) د رسول الله ﷺ کلام وے نو مونږ به پدے باندے هیڅ شے نۀ مقدم کولے او مونږ به دا په اول ځل اخستلے وے، لیکن مونږ نۀ پوهیږو چه دا عبد الله بن وهب د خپل طرف نه وئیلے او که ابن ابی ذئب یا نافع. نو دا جائز نۀ دی چه رسول الله ﷺ ته د هغے شی نسبت وشی چه په هغے یقین نۀ وی چه دا د هغۀ کلام دے)). (زاد المعاد)
لیکن شیخ البانیؒ په ارواء الغلیل (۱۳٤ تا ۱۳۸) کښې وائی : د ابن القیمؒ ددے روایاتو په صحیح کیدو کښې شك صحیح نۀ دے بلکه دا روایات صحیح دی، ځکه چه ابن وهب ثقه راوی دے او د ثقه روایت په اتفاق سره مقبول وی، او په احتمال او شك سره د هغے رد صحیح نۀ دے. **بل** : د ابن وهبؒ متابع هم شته چه هغه یزید بن هارون عن ابن ابی ذئب دے. بیا ئے ډیر روایات ذکر کړی چه هغه صحیح دی لیکن حافظ ابن قیمؒ نه پاتے شویدی. وبالله التوفیق.
(۷) د حیض په حالت کښې چه څوك طلاق ورکړی نو رجوع کول واجب دی او په حدیث کښې د [فَلْيُرَاجِعْهَا] امر د وجوب دپاره دے.
(۸) او په دے رجوع کښې **حکمت** دادے : چه طلاق د اباحت په زمانه کښې واقع شی او دا هر هغه طهر دے چه په هغے کښې ئے ورسره جماع نۀ وی کړے. **(یا)** په دے کښې د حیض په زمانه کښې د ورکړی طلاق سزا ده، دے دپاره چه د هغۀ د مقصد خلاف کار وشی. **(یا)** رجوع ددے دپاره کیږی چه په حیض کښې طلاق ورکولو سره په ښځه باندے عدت اُوږدیږی نو په دے سره ددے لنډول غرض دے.

(۹) او د [مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا] نه دا هم معلومه شوه چه په رجوع كښې نهٔ د ښځې رضامندئ له او نهٔ د هغې د ولي رضامندئ له اعتبار شته اونهٔ نكاح تازه كولو ته حاجت شته، ځكه رسول الله ﷺ هغهٔ ته مطلقًا د رجوع كولو حكم كړے او دے سره ئے بل هيڅ شے شرط كړے نهٔ دے۔

(۱۰) او حديث نه معلومه شوه چه كله څوك ښځے له په حيض كښې طلاق وركړى او بيا ورته رجوع وكړى نو خاوند به دويم طهر ته انتظار كوى۔ ځكه ارشاد دے: [لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا] او د دے روايت سره نورو رواياتو نه معلوميږى چه د حيض نه پس په اولنى طهر كښې هم طلاق وركولے شى او دويم طهر ته انتظار كول لازم نهٔ دى۔

آيا سړے به دويم طهر ته انتظار كوى ؟

په دے كښې دوه قوله دى: (**اول قول**) دادے چه دويم طهر ته انتظار كول واجب دى۔ د مخكنى روايت په وجه۔ او په روايت د عبد الحميد بن جعفرؒ كښې داسے الفاظ دى : [مُرْهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا فَإِذَا طَهُرَتْ أَمْسَكَهَا، حَتَّى إِذَا طَهُرَتْ أُخْرَى فَإِنْ شَاءَ طَلَّقَهَا وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا] نو دلته ئے ورته حكم كړے چه دا دِے ځان سره وساتى په دغه نزدے طهر كښې نو بيا دهٔ له څنګه دا جائز شو چه دے دِے په همدغه طهر كښې طلاق وركړى۔ حال دا چه په هغه طهر كښې د طلاق وركولو نه منع راغلے په كوم كښې چه جماع كړى وى۔ (فتح البارى : ۱۰/۱۲) او دا د جمهورو مذهب دے۔

حافظ ابن تيميهٔ په المحرر كښې وئيلى دى چه په نزدے راتلونكى طهر كښې طلاق وركول بدعت دے۔ او دا مذهب د ابويوسفؒ او محمدؒ هم دے۔ (**دويم قول**) دادے چه دويم طهر ته انتظار كول مستحب دى واجب نهٔ دى۔ او په راتلونكى نزدے طهر كښې طلاق وركول جائز دى۔ او دا مذهب د ابوحنيفهٔ او يو روايت د احمدؒ دے۔ او **دليل** ئے دا دے چه په دے واقعه كښې په روايت كښې داسے الفاظ راغلى دى : [إِذَا طَهُرَتْ فَلْيُطَلِّقْ ، أَوْ لِيُمْسِكْ] (كله چه ښځه پاكه شوه نو طلاق دِے وركړى يا دِے ئے ځان سره وساتى)

او د دے روايت الفاظ داسے دى : [مُرْهَا فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا] (حكم ورته وكړه چه رجوع ورته وكړى، بيا دِے طلاق وركړى كله چه پاكه شوه)۔ اول قول راجح دے۔

او دویم طهر ته انتظار کول ځکه واجب دی چه په دے سره ښځه د خاوند سره ډیره موده پاتے کیږی نو کیدے شی چه خاوند ورسره پدے مینځ کښے جماع وکړی او د طلاق ورکولو اراده پریدی۔

دارنګه پدے کښے حکمت دا هم دے چه په دویم طهر کښے طلاق ورکول ددۀ دپاره سزا او ددۀ د نافرمانئ توبه ده ځکه چه پدے سره ددۀ د مقصد په ضد معامله کیږی، دۀ په هغه شی کښے جلتی کړے چه د هغے حق دا وو چه روستو ډے کړے شی۔ نو شریعت په دۀ باندے دا پابندی ولګوله چه په نزدے طهر کښے به طلاق نۀ ورکوی۔

علامه ابو العباس القرطبیؒ وائی : دا غوره وجه ده۔

دویمه وجه دا ده چه که نزدے طهر کښے طلاق ورکول جائز شی نو بیا به دا رجوع د طلاق دپاره شی حال دا چه په دے حدیث کښے د رجوع حکمت امساك ذکر شوے، یعنی دے دپاره چه ښځه ځان سره وساتی، او کیدے شی چه په مینځ کښے خپیمانه شی او د طلاقو اراده پریدی۔ (البحر المحیط)

(۱۱) د [ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا] کښے د طهر نه مراد حیض بندیدل دی او که غسل کول دی؟ نو په دے کښے دوه قوله دی، یو دا چه ددے نه مراد حیض بندیدل دی اګر که غسل ئے نۀ وی کړے خو طلاق ورکول ورله جائز دی، ځکه دا ښځه د طاهراتو په حکم کښے ده ولے چه په دے باندے مونځ واجب شوے، روژه ورله صحیح شوے۔ **دویم** قول دادے : چه د طهارت نه مراد غسل کول دی، د نسائی په روایت کښے داسے الفاظ دی : [فَإِذَا اغْتَسَلَتْ مِنْ حَيْضَتِهَا الْأُخْرٰى فَلَا يَمَسَّهَا حَتّٰى يُطَلِّقَهَا] او دا د طهارت تفسیر دے، یعنی طهارت دیته وائی چه غسل وکړی۔ او همدا قول **راجح** دے۔

(۱۲) د [فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا] نه معلومه شوه چه په کوم طهر کښے چه خاوند ښځے سره جماع کړے وی نو په هغے کښے ورله طلاق ورکول حرام دی۔ وجه د تحریم داده چه که په دے طهر کښے طلاق ورکړی نو ممکنه ده چه ددے نه حمل پیدا شی او بیا ښځه او خاوند دواړه یا په دوئ کښے یو تن خپیمانه وی۔ او که چرے دے دواړو ته د حمل معلومات شوے وے نو خپل ژوند به ئے برابر کړے وے او طلاقو ته به ئے خبره نۀ وے رسولے۔ خو که د ښځے حمل ظاهر شو نو بیا ددے نه پس طلاق ورکول حرام نۀ دی، ځکه د مسلمؒ په روایت کښے دی : [ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا] ځکه کله چه د

هغې حمل ښکاره شو او طلاق ئې ورله ورکړو نو بيا دۀ ښۀ په بصيرت ښځې له طلاق ورکړے، نو بيا دا نۀ خپيمانه کيږي۔ **(۲) بله داچه** : د حمل زمانه د وطی د رغبت زمانه ده ځکه دا حمل ددے سړی نه دے نو ددے باوجود چه خاوند دے له طلاق ورکوی نو معلوميږي چه ددے سړی طلاقو ته حاجت دے۔

(۱۲) په کوم طهر کښې ئې چه ښځې سره د جماع کولو نه پس طلاق ورکړے، نو ددے د رجوع هم هغه حکم دے کوم حکم چه په حيض کښې د طلاق ورکولو په باره کښې وو۔

(۱۳) **مسئله** : (فَلْيُرَاجِعْهَا) رجوع به په قول سره کيږي او که قول او عمل دواړو سره جائز ده ؟۔ اول قول د جمهورو دے او دويم قول د احنافو دے، اول قول راجح دے ځکه چه شريعت د رجوع په وخت ګواهان ضروري کړيدی او دا په قول کښې کيږي۔ دويم قول مرجوح دے ځکه چه په عملي رجوع کښې ګواهان نۀ راځي۔ دلته خو طلاق په حالت د حيض کښې ورکړے شوے نو ښځې ته عملي رجوع نشي کيدے۔ فتدبر۔ والله تعالیٰ اعلم.

ښځې ته د اختيار ورکولو مسئله

3276 (3) – وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: خَيَّرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **فَاخْتَرْنَا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَلَمْ يَعُدَّ** ذٰلِكَ عَلَيْنَا شَيْئًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : مونږ ته رسول الله ﷺ اختيار راکړو (چه که تاسو دنيا او د دنيا زينت او سامانونه طلب کوئ نو راشئ چه زۀ تاسو ته څه مال درکړم او آزادے مو کړم او که تاسو الله او د هغۀ رسول او آخرت طلب کوئ نو پوهه شئ چه ستاسو دپاره الله تعالیٰ بيشماره لوی اجرونه تيار کړيدی) نو مونږ الله او د هغۀ رسول غوره کړو نو رسول الله ﷺ دا اختيار زمونږ دپاره (د طلاق د اقسامو نه هيڅ قسم لکه يو يا دوه يا رجعي يا بائن) هيڅ شے ونۀ ګڼړلو۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : يعني د آيت التخيير (يعني د [يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا] د نازليدو نه روستو نبي عليه السلام بيبيانو ته اختيار ورکړو چه ما غوره کوئ او که دنيا، نو هغوی الله او رسول غوره کړو نو رسول الله ﷺ دا اختيار هيڅ شے شمار نۀ کړو يعني پدے سره هيڅ طلاق واقع نشو۔ نۀ طلاق رجعي او نۀ بائن، او نۀ يو او نۀ درے۔ او همدا د فقهاؤ مذهب دے چه کله يو تن خپلے ښځے ته ووائي چه [اِخْتَارِيْ

نَفۡسَكِ]۔ خپل ځان غوره کړه، یعنی ستا اختیار دے چه ما غوره کوے او که جدائی، نو ښځے خاوند غوره کړو نو پدے سره هیڅ طلاق نهٔ واقع کیږی او دا مذهب د ابوحنیفهؒ، شافعیؒ وغیره دے۔ او دا د صحابه کرامو ﷺ د یو جماعت نه نقل دے۔

او علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی: پدے کار سره یو طلاق رجعی واقع کیږی اګر که ښځے خاوند هم غوره کړے وی۔ او د زید بن ثابت ﷺ په نیز یو طلاق بائن واقع کیږی۔ مګر د عائشے رضی الله عنها پدے قول سره ددے دواړو خبرو ضعف معلومیږی۔ ځکه چه رسول الله ﷺ بیبیانو ته اختیار ورکړو او هیڅ طلاق واقع نشو۔ البته په مذکوره صورت کښے که ښځے ځان غوره کړو نو د امام شافعیؒ او احمدؒ په نیز یو طلاق رجعی واقع کیږی۔ او همدا خبره حقه ده۔ او د ابوحنیفهؒ په نیز طلاق بائن واقع کیږی۔ او د مالك په نیز درے طلاقه واقع کیږی۔

یو شے په ځان باندے حرامولو سره کفاره لازمیږی

3277 (4) – وَعَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: فِي الۡحَرَامِ يُكَفِّرُ لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ اللّٰهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی: د یو شی په حرامولو (او یو شی ته په حرام وئیلو کښے) به کفاره ورکولے شی (او پدے باره کښے) تاسو دپاره د رسول الله ﷺ بهتره تابعداری شته۔ (یعنی تاسو له پدے باره کښے د رسول الله ﷺ پیروی بهتره ده)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: [فِي الۡحَرَامِ]۔ دیته د ظهار مسئله وائی چه ددے تفصیل به روستو په باب الظهار کښے راشی۔ دلته د حدیث مطلب دا دے چه یو تن په خپل ځان باندے یو شے حرام کړی برابره ده چه هغه بی بی وی یا بل شے وی، داسے ووائی چه په ما باندے خپله ښځه حرامه ده، یا بل شی باره کښے داسے ووائی نو په دهٔ باندے به د قسم کفاره لازمیږی او هغه شے به نهٔ حرامیږی۔ البته که ښځے ته داسے ووائی چه تهٔ په ما باندے حرامه ئے، او د طلاقو نیت ئے کړے وی نو بیا به طلاق واقع کیږی۔ او همدا مذهب د ابن عباس ﷺ دے، او د احنافو هم دا مسلك دے چه یو تن یو شے په ځان باندے حرام کړی اګر که هغه شے بذاتِ خود حرام ولے نهٔ وی یا د بل چا ملکیت ولے نهٔ وی، مثلاً داسے ووائی چه په ما

بانـدے شراب حرام دی، یا د فلانی مال او خوراك په ما باندے حرام دے نو دا به د قسم په منـزله وی پدے شرط چه ددهٔ مقصد د هغه شی د حراموالی خبر ورکول نهٔ وی، بلکه په ځان باندے ئے حراموی او بندوی، لهذا هرکله چه دے هغه شے - چه کوم ئے په ځان باندے حرام کـړے کـه - اُوخـوری یـا ئے استعمال کړی نو دا به حانثیږی او په دهٔ به د قسم کفاره لازمیږی کومه چه د قسم د ماتیدو په صورت کښے لازمیږی۔

او ابن عباس رضی الله عنه د خپلے خبرے تائید په آیت سره پیش کړو : [لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللّٰهِ]۔ پدے کښے ئے دے ته اشاره وکړه چه هرکله رسول الله ﷺ په خپل ځان باندے شات حرام کړل دارنگه ماریه قبطیه نو دا آیت نازل شو : ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ﴾ (التحریم : ۱) - (اے نبی ! ولے هغـه څه حراموے چه الله تعالیٰ تا له جائز کړی) او بیا ئے روستـو دے تـه قسـم ووئیـلو او د قسم د ماتیدو په صورت کښے د کفارے حکم ئے وکړو۔ (قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ)۔

حـافـظ ابن قیمؒ په زاد المعاد (۳۰۲/۵) کښے فرمائی : پدے مسئله کښے شل قوله دی بیـا ئے هغـه تـفـصیلًا ذکـر کـړی، بـعـض دا دی : (۱) تحریم لغوه دے، هیڅ پرے نهٔ واقع کیـږی نـهٔ طـلاق، نهٔ ایلاء، نهٔ ظهار، او نهٔ قسم، او نهٔ پرے کفاره شته. (مسروقؒ، شعبیؒ، ابو سلمه بن عبد الرحمنؒ) (۲) تحریم په زوجه کښے درے طلاقه دی۔ (حسنؒ، محمد بن عبد الرحمن بن ابی لیلیٰؒ)

(۳) کـه د طـلاقـو اراده ئے وه نـو طـلاق دی، بیا که د دریو نیت وی نو درے به وی او که ددے نـه کـم وی نو یو طلاق بائن دے۔ او که د قسم اراده ئے وه نو دا به قسم وی پدے کښے بـه کفاره وی۔ او که د هیڅ شی اراده ئے نهٔ وه نو دا ایلاء ده پدے کښے به حکم د ایلاء وی۔ کـه د دروغـو نیـت ئے وی نـو رشتیـنـی بـه گرځی او هیڅ به پرے نهٔ واقع کیږی لیکن په قضاء کښے به ایلاء وی۔ او دا مذهب د ابو حنیفهٔ دے۔

(٤) که د طلاقو نیت ئے وی نو طلاق به وی، او نیت به ئے واقع وی، که مطلق طلاق ئے اراده وه نـو یـو طـلاق به واقع کیږی او که د ظهار نیت ئے کړے وی نو ظهار به وی او که د قسم اراده ئے وی نو قسم به وی، او که د هغے ذات ئے حراملو بغیر د طلاق او ظهار نه نو کفاره د قسم به وی، او که د هیڅ شی نیت ئے نهٔ وی نو یو قول دا دے چه هیڅ پرے نهٔ دی لازم او دویم دا چه کفاره د قسم ده۔ (دا مذهب د شافعیؒ دے)

(۵) دا ظهار دے، برابره ده چه نيت ئے وي او که نۀ۔ البته که د طلاق يا د قسم نيت ئے وي بيا هغے ته اوړي۔ دا مذهب د احمدؒ دے۔

(٦) د امام احمدؒ بل مذهب دا دے چه دا مطلقاً قسم دے البته که طلاق يا ظهار ته ئے اړوي نو صحيح ده۔

(۷) بل قول د احمدؒ دا دے چه دا په هر حال کښے ظهار دے، اګرکه د بل شي نيت ئے کړے وي۔

(۸) بل قول د احمدؒ دا دے چه دا طلاق بائن دے۔

(۹) طلاق رجعي دے۔ (عمر فاروق ﷺ، زهريؒ، عبد العزيز بن ابي سلمهؒ، ابن ماجشونؒ) ليکن په دے ټولو اقوالو کښے ظاهر **قول** اولنے دے، هغه دا چه: څوك خپلے ښځے ته ووائي: تۀ په ما حرامه ئے، نو په دۀ د قسم کفاره لازمه ده۔ البته که په دے الفاظو سره د خاوند مقصد طلاق واقع کول وي نو په دے سره به بيا طلاق واقع کيږي، ځکه دا الفاظ د کنائي طلاقو الفاظ دي، او په کنائي طلاقو کښے قانون دا دے چه په دے کښے په نيت سره طلاق واقع کيږي۔ قرطبيؒ ددے ګڼړو اقوالو وجه دا بيان کړے چه پدے مسئله کښے د کتاب او سنت نه نص نشته نو ځکه داسے اختلاف واقع شوے۔ ددے اقوالو توضيح په البحر المحيط الثجاج: ۹۷/۲٦) کښے وګوره۔

مسئلة نادرة : د معلق طلاقو حکم : يو سړے خپله ښځه په معلق طلاق سره طلاقه کړي مثلًا ووائي چه که ما دا فلانے کار وکړو يا مے ونکړو۔ يا ښځے ته ووائي که تا دا فلانے کار وکړو نو تۀ به طلاقه ئے، يا ډِے ونکړو نو تۀ به طلاقه ئے، که فلاني سره ډِے خبرے وکړے تۀ به طلاقه ئے، که کور ته ننوتے تۀ به طلاقه ئے، وغيره وغيره نو پدے کښے درے صورتونه دي (۱) که سړي د طلاقو اراده کړي وي نو بيا طلاق واقع دي، نو هرکله چه دغه کار واقع شو طلاق به واقع کيږي۔ (۲) صورت : ددۀ مقصد تحضيض (تيزي ورکول) وي په يو کار باندے يا هغه منع کول وي ديو کار نه، او د طلاقو اراده ئے نۀ وي، ځکه چه ښځے سره ئے کور برابر دے او دا نۀ غواړي چه ښځه پريدي، نو پدے **صورت** کښے دوه قوله دي : (۱) جمهور علماء -چه د هغوی نه ائمه اربعهؒ هم دي- فرمائي چه دا طلاق واقع کيږي او دا فتوی د سعودي عرب د علماؤ مجلس اعلیٰ هم ورکړے۔

دلائل : د دوئ سره څه خاص دليل نشته سوی د عامو دلائلو نه لکه ۱- حديث کښے

دی : [اَلْمُسْلِمُوْنَ عِنْدَ شُرُوْطِهِمْ]۔ (مسلمانان به د خپلو شرطونو پابند وی) نو کوم طلاق چه د یو کار پورے معلق شی نو دا شرط او وعده شوه چه خاوند ددے التزام کړے (چه که تا دا کار وکړو نو زهٔ به دِے طلاقوم) نو دهٔ دپاره پدے باندے وفاداری لازمه ده۔

۲- دلیل : د بعض صحابه کرامو او تابعینو عمل : لکه امام بخاریؒ په خپل سند سره نافعؒ نه روایت راوړے چه یو سړی خپلے ښځے ته قطعی طلاق ورکړل پدے شرط که هغه بهر اُووته۔ نو عبد الله بن عمر ﷺ وفرمایل : که دا ښځه بهر اُووته دا به طلاقیږی۔ او که ونهٔ وته نو هیڅ پرے نشته۔

(ب) بیهقیؒ د ابراهیم نخعیؒ نه راوړی چه عبد الله بن مسعود ﷺ د هغه سړی په باره کښے وفرمایل چه هغهٔ خپلے ښځے ته داسے وویل چه که دے دا فلانے فلانے کار وکړو نو دا به طلاقه وی او هغه هغه کار وکړی؟ وے فرمایل : دا یو طلاق رجعی دے۔

(ج) ابو الزنادؒ د خپل پلار نه نقل کوی چه د مدینے فقهاءِ سبعهؤ وفرمایل : [اَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِامْرَأَتِهِ : أَنْتِ طَالِقٌ اِنْ خَرَجْتِ اِلَى اللَّيْلِ فَخَرَجَتْ، طُلِّقَتْ امْرَأَتُهُ]۔ (سنن کبریٰ للبیهقیؒ : ۳۵۶/۷)

کوم سړی چه خپلے ښځے ته وویل چه که تهٔ د شپے پورے بهر اُووتے نو تهٔ به طلاقه ئے، او هغه اُووته نو ددهٔ ښځه طلاقه شوه۔ مگر شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ او د هغهٔ شاگرد حافظ ابن القیمؒ د صحابه کرامو او تابعینو قول په هغه صورت حمل کړے چه د سړی پدے تعلیق سره د طلاقو اراده وی۔ او صرف قسم ئے مقصد نهٔ وی۔

ددے وجه نه حافظ ابن القیمؒ وئیلی چه د صحابه کرامو نه په صحیح سندونو ثابت دی چه هغوی په بعض صورتونو کښے د طلاق په واقع کیدو فتویٰ ورکړے او په بعض صورتونو کښے ئے په نهٔ واقع کیدو۔

(۲) قول ثانی : د محققینو علماؤ دے، او علی بن ابی طالب، ابن عمر رضی الله عنهم او طاووسؒ فرمائی چه پدے کښے کفاره د قسم ده او طلاق نهٔ واقع کیږی۔ او پدے باندے حافظ ابن تیمیةؒ رساله لیکلے، دارنگه علامه قاسمیؒ پرے یوه رساله لیکلے ((الاستیناس))۔ او دے قول ته ئے ترجیح ورکړے۔

دلائل : ۱- بخاری کښے د عبد الله بن عباس ﷺ وینا ده : [اَلطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ]۔ یعنی طلاق هله واقع کیږی چه د سړی د خپلے بی بی نه حاجت پوره شی او طلاقو ته محتاج

شي او په خپله رضا او خوښه سره طلاق ورکوي. **۲- دلیل** : مصنف عبد الرزاق کښې روایت دې چه یوې زنانه د غلامانو د آزادولو قسم کړې وو چه که ما دا فلانې کار وکړو نو زما غلامان دې آزاد وي نو هغه کار ترې وشو، عبد الله بن عمر ﷺ ته راغله، هغهٔ ورته حکم وکړو چهٔ کفاره د قسم ورکړه، بیا حفصې رضی الله عنها ته راغله هغې هم ورته دغه حکم اُوکړو نو دلته اُوګوره عتاق (آزادول د غلامانو) الله تعالیٰ ته محبوب دی او طلاق مبغوض دې نو هرکله چه په محبوب شي کښې دا حکم شو چه هغه نهٔ آزادیږي بغیر د نیت نه نو طلاق به بغیر د نیت نه نهٔ واقع کیږي. **۳- دلیل** : د جمهورو په نیز د طلاق په لفظ سره ایلاء هم جائز ده لکه سړے خپلې ښځې ته ووائي چه که زهٔ تا ته څلورو میاشتو کښې نزدې شوم نو تهٔ به طلاقه ئې نو د جمهورو په نیز که په څلورو میاشتو کښې دننه نزدې شو نو کفاره د قسم به ورکوي او طلاق به نهٔ واقع کیږي نو دارنګه دلته هم کفاره د قسم ده.

٤- دلیل : حافظ ابن تیمیهؒ د آیت [قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ] نه استدلال کړے چه دلته (اَیْمَانِکُمْ) کښې د اَیمان (قسمونو) اضافت (نسبت) کم (یعنی مخاطبینو) ته شوے او ددې نه مراد مسلمانان دی، او د مسلمانانو قسمونه خو په ډیرو طریقو سره وي، کله په والله او بالله الفاظو سره وي او کله د طلاق په الفاظو سره وي، لهذا پدې صورت کښې به کفاره د قسم وي.

صاحب د الفقه الاسلامی لیکي : [وَفِيْ تَقْدِيْرِيْ أَنَّ قَوْلَ الْجُمْهُوْرِ اَصَحُّ لٰكِنَّ الشُّبَّانَ فِيْ زَمَانِنَا يَسْتَخْدِمُوْنَ الطَّلَاقَ فِي الْيَمِيْنِ فَلَا يَقَعُ الطَّلَاقُ بِهٖ] . زما رائې دا ده چه د جمهورو قول ډیر صحیح دے لیکن زمونږ په زمانه کښې ځوانان طلاق د قسم په ځائې کښې استعمالوي لهذا پدې به طلاق نهٔ واقع کیږي بلکه کفاره د قسم به ورکوي.

۵- دلیل : [إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ] . هر عمل په نیت باندې بناء وي. او همدا قول راجح دے. او دا فتویٰ په قانون د لیبیا، مغرب عربي، او کویت کښې هم سرکاري طریقې سره نافذ العمل ده. او دا د عقل او د شریعت د سماحت سره مناسبه فتویٰ ده، وجه دا ده چه زنانه بغیر د څه جرم نه په غفلت کښې چه ښه نیکه او فرمانبرداره وي په یوه خبره سره چه د خاوند د هغې اراده د طلاقو هم نهٔ وي د خاوند نه جدا شيؒ. او بل طرفته شریعت کښې د اخبارو د تاکید دپاره قسم زیات استعمالیږي نو دا صورت به په قسم

باندے حمل وی۔
او په شریعت کښے دا قانون دے چه د کفر په کلمه وئیلو سره په حالت د اِکراه کښے مُؤاخذه نهٔ وی کله ئے چه د هغے نیت او قصد نهٔ وی کړے نو دغه شان طلاق، عتاق، وقف او نذر چه په حالت د اِکراه کښے وشي یا سخت غضب کښے وشي نو ددۀ مؤاخذه به نهٔ وی۔ دارنګه په شریعت کښے هغه طلاق معتبر وی چه په تنجیزی الفاظو سره وی، او کله چه یو تن د ښځے طلاق په یو شي پورے معلق کړی نو دے باندے دا نهٔ صادقیږی چه دۀ طلاق ورکړل۔ (الفتاوی للشیخ الشلتوت : ۳۰۰)
حافظ ابن تیمیهؒ وائی : انسان چه خپل طلاق د یو شي پورے زوړندہ وی، نو ددۀ طلاق مقصد نهٔ وی، دا مقصد ئے نهٔ وی چه د شرط په حاصلیدو سره دِے جزاء حاصله شی، ځکه چه کله دا مقصد ئے وی نو بیا خو دۀ ته په عرف د عربو او غیر عربو کښے حالف (قسم کونکے) نهٔ وائی، د قسم کونکی د قسم مقصد خو تیزی ورکول، یا د یو کار نه منع کول، یا تصدیق یا تکذیب وی) نو دا داخل دے پدے قول د رسول الله ﷺ کښے : [یَمِینُكَ عَلٰی مَا یُصَدِّقُكَ عَلَیْهِ صَاحِبُكَ] ۔ ستا قسم به هغه وی چه ستا ملګرے په هغے باندے ستا تصدیق کوی۔ (یعنی مخاطب چه کومه خبره فهم کوی نو قسم په هغے باندے حمل وی) نو دلته هم مخاطبین ددے معلق طلاق نه طلاق نهٔ فهم کوی بلکه قسم فهموی۔ [اعلام الموقعین ۵۳/۳ و ۷۹/۴]۔
(۳) صورت : د طلاق الفاظ د قسم په ځائے کښے استعمال کړی او خالی الذهن وی، نهٔ ئے د طلاقو اراده وی او نهٔ د نهٔ طلاقو۔ نو دا محل د نظر دے نو که طلاق واقع شی نو بعیده نهٔ ده۔

د نبی ﷺ د مغافیر شربت نه د قسم کولو مسئله

3278 (5) – وَعَنْ عَائِشَةَ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَشَرِبَ عِنْدَهَا عَسَلًا فَتَوَاصَيْتُ أَنَا وَحَفْصَةُ أَنَّ أَيَّتَنَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ : إِنِّي أَجِدُ مِنْكَ رِيحَ مَغَافِيرَ أَكَلْتَ مَغَافِيرَ؟ فَدَخَلَ عَلٰى إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ :" **لَا بَأْسَ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَنْ أَعُودَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِي بِذٰلِكِ أَحَدًا** " يَبْتَغِي مَرْضَاةَ أَزْوَاجِهِ فَنَزَلَتْ : (**يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِي**

مَرْضَاةَ أَزْوَاجِكَ) الآية۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چه نبي كريم ﷺ به د زينب بنت جحش رضي الله عنها سره وخت تيرولو او د هغے سره به ئے د گبين (شربت) څکلو، نو ما او حفصے رضي الله عنها يو بل سره مشوره وكړه چه په مونږ كښے هرے يوے خوا ته نبي كريم ﷺ راشي نو داسے به ورته وائي چه زۀ تا نه د مغافير بوئي مونده كوم۔ نو نبي كريم ﷺ ددے دواړو نه د يوے كره ورغلو نو هغے ورته دغه خبره وكړه نو نبي كريم ﷺ وفرمايل : هيڅ خبره نشته، ما د زينب په خوا كښے شهد څكلي دي نو زۀ به هيڅكله دوباره دا نۀ څښكم او ما قسم خوړلے دے، نو تۀ پدے سره هيچا ته خبر مۀ وركوه۔ نبي كريم ﷺ د خپلو بيبيانو رضامندي لټوله، نو دا آيت نازل شو : (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ الخ ترجمه : اے نبي ! ولے تۀ حراموے هغه شے چه تا له الله تعالىٰ حلال كړے، تۀ (پدے سره) د خپلو بيبيانو خوشحالي غواړے۔ آيت آخر پورے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : [تَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ] دا ايساريدل د هغے د نمبر په ورځ كښے نۀ ذكر كوي، بلكه مطلب دا دے چه نبي عليه السلام به د مازيگر په وخت كښے چه داد ټولو بيبيانو ترمينځ مشترك وخت وو، نو پدے وخت كښے دا واقعه راغله چه نبي ﷺ به كله د زينب خوا ته راغلو نو هغے به ورله د شاتو شربت وكړو دے دپاره چه نبي ځان سره ډير ايسار كړي۔ [مَغَافِير] دا د يو بوټي نوم دے چه د گوند (كهانډ) مشابه دے خوند ئے خوږ او بوئي ئے خراب وي، او د شاتو د بوئي سره مشابهت لري۔

ددے روايت حاصل دا دے چه رسول الله ﷺ نه شات ډير خوښ وو، نو كله چه به هغه د زينب خوا ته راغلو نو هغے به په رسول الله ﷺ باندے د شاتو شربت څښكولو، پدے وجه نبي عليه السلام د زينب سره ډير وخت ايساريدو نو عائشے رضي الله عنها ته دا كار گران پريوتو نو هغے د بلے سره - چه هغه حفصه رضي الله عنها وه، دا ورته ډيره نزدے وه او په اكثرو معاملاتو كښے به ئے ددے سره اتفاق كولو - دا مشوره وكړه چه كله نبي عليه السلام راشي نو هريو به ورته په خپل خپل نمبر كښے ووائي چه ستاسو د خولے نه د مغافير بوټي بوئي راځي (او نبي عليه السلام خو بد بوئي ډيره بده گنړي) نو پدے طريقه به هغه د زينب سره شات څښكل پريدي او وخت به ډير نۀ تيروي، نو همدغه شان وشوه، نبي عليه السلام هرے بي بي ته وويل چه زۀ به بيا شربت نۀ څښكم خو تۀ دا خبره چا ته مۀ كوه، (دے دپاره چه زينب خفه

نشی) او شربت ئے په ځان باندے حرام کړو، لیکن الله تعالیٰ ته دا خبره خوښه نشوه چه نبی ﷺ یو حلال شے په ځان باندے خالص د خپلو بیبیانو د خوشحالولو دپاره حرام کړی نو دا ذکر شوے آیت ئے نازل کړو۔

(او مطلب دا شو چه شات یو حلال شے دے، ته دا په ځان باندے مه حراموه) او که حرام دِے کړل نو د قسم کفاره ورکړه او بیرته دے کار ته واپس شه۔

[وَقَدْ حَلَفْتُ] ۔ بعض اهل علمو (لکه قرطبیؒ) وئیلی دی چه دا لفظ دلالت کوی چه آیت کښے (تَحِلَّةَ اَیْمَانِکُمْ) کښے کومه کفاره راغلے ده نو دا د قسم د وجه نه ده نۀ د تحریم د وجه نه، ځکه چه تحریم لغوه دے په هغے کښے کفاره نۀ وی، حافظ وائی: دا قوی استدلال دے۔ او چا چه (حَلَفْتُ) په تحریم باندے حمل کړے نو دا بعیده ده۔

الفصل الثانی

بلا ضرورته طلاق غوښتونکے ښځے دپاره سخت وعید

3279(6) – عَنْ ثَوْبَانَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا فِيْ غَيْرِ مَا بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ** ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : د ثوبان ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: هره یوه ښځه چه د خپل خاوند نه په غیر د څه تکلیف نه طلاق غواړی نو په هغے باندے د جنت خوشبوئی حرامه ده۔ (احمدؒ، ابوداوُدؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : [فِیْ غَیْرِ مَا بَأْسٍ] ۔ (ما) زائده ده۔ او بأس: سختئ او ضرر او ضرورت ته وائی۔ یعنی یوے زنانه ته سخت تکلیف او مشقت نشته او د خاوند نه طلاق غواړی، بل چا سره نکاح کول غواړی، نو دے باندے جنت حرام دے، او د ضرر او ضرورت نه مراد دا دے چه خاوند ئے بد اخلاقه وی، صحیح ژوند ورسره نۀ تیروی، یا فاسق وی، مونځ نۀ کوی، روژے نۀ نیسی۔ بیا طلاق غوښتل جائز دی۔

درجة الحدیث :[إسناده جید] أبوداود: ۲۲۲٦، ترمذی: ۱۱۸۷، ابن ماجه: ۲۰۵۵، وصححه الحاکم: ۲/۲۰۰) وانظر الارواء: (۲۰۳۵)

طلاق ورکول ښهٔ کار نهٔ دے

3280 (7) – عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : **أَبْغَضُ الْحَلَالِ إِلَى اللهِ الطَّلَاقُ.**
رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهُ.

ترجمه : ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : په حلالو شیانو کښے د الله تعالیٰ په نیز د ټولو نه زیات ناخوښه شے طلاق دے۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشریح : ددے روایت په صحت او ضعف کښے اختلاف دے، بعض وائی چه دا صحیح دے، لکه حاکمؒ ورته صحیح وئیلے۔ او ابو حاتم الرازیؒ وائی چه غوره دا ده چه دا حدیث مرسل دے، او مرسل د اقسامو د ضعیف نه دے۔ لیکن اصح دا ده چه دا قسم مرسل مقبول دے ځکه چه تائیدات ئے موجود دی روستو آیت نه تائید ملاویږی۔ او حدیث کښے دی چه ابلیس (نِعْمَ أَنْتَ) (ته ډیر ښهٔ (ځوی) ئے) هغه چا ته وائی چه سړی باندے ښځے ته طلاق ورکړی۔ [مسلم : ۷۲۸٤]

فوائد : (۱) ددے حدیث نه فقهاءِ کرام دا استدلال کوی چه طلاق الله تعالیٰ ته ناخوښه شے دے ځکه چه په دے کښے د ښځے، خاوند او اولاد ټولو دپاره مفاسد او اضرار دی، د کورنیو نفرتونه او بغضونه پیدا کیږی، صله رحمیٔ ته نقصان رسیږی۔ چه ددے نه معلومیږی چه څومره کیدے شی خاوند له ددے نه ځان بچ کول پکار دی۔ طلاقو ته حلال وئیل ددے د کراهت سره منافی نهٔ دی، بلکه حدیث نه معلومه ده چه طلاق مکروه دی خو الله تعالیٰ دا د ضرورت او حاجت په وجه جائز ګرځولی۔ علامه ابن الملقنؒ ذکر کړی چه طلاق هله مکروه دی چه کله په غیر د څهٔ عذر نه ورکړے شی، (لکه د خاوند ښځه فطری او طبعیٰ طور سره نهٔ وی خوښه)۔ اوکله چه د طلاقو سبب وی نو بیا مکروه نهٔ دی ځکه ابن عمر ﷺ چه خپلے ښځے له طلاق ورکړل نو نبی ﷺ په هغهٔ رد او انکار نهٔ دے فرمایلے، لکه مخکښے تیر شو۔ [الاعلام : ۳٤۱/۸]۔

❁ د ضرورت په وخت طلاق یو لوی نعمت دے ځکه په دے سره انسان د خراب ژوند نه خلاصیږی او د هغهٔ چانه جدائی اختیاروی چه هغے سره په پاتے کیدو کښے هیڅ خیر نهٔ وی، یا خو د ښځے د بد اخلاقیٔ په وجه، او یا د دینی کمزوریٔ او یا د بل داسے سبب په وجه چه د انسان آرام ختموی۔

(۳) **سوال** دا دے چه ابن کثیرؒ یو روایت راوړے چه د درے کسانو دعاء نهٔ قبلیږی یو په هغوئ کښے هغه کس دے: [مَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ امْرَأَةٌ نَاشِزَةٌ وَهُوَ لَا يُطَلِّقُهَا] - چه د هغهٔ سره بد اخلاقه ښځه وی او هغه ئے نهٔ طلاقوی۔ او دے حدیث کښے دی چه طلاق ورکول الله تعالیٰ ته مبغوض دی نو ددے دواړو څه تطبیق دے؟ **جواب**: د دواړو ترمینځ منافات نشته ځکه چه په دے حدیث کښے هغه ښځه مراد ده چه نیک عمله صالحه او فرمانبرداره وی او سړے ورله بغیر د څه وجے نه طلاق ورکوی لکه خوښه ئے نهٔ وی نو دا الله تعالیٰ ته مبغوض دی او هغه حدیث کښے بد اخلاقه ښځه مراد ده چه د انسان دین خرابوی نو په هغه صورت کښے بیا طلاق ورکول ضروری دی۔

(٤) بعض علماؤ ددے آیتِ کریمه نه د طلاقو کراهت او ناخوښی معلومه کړے: ﴿فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [البقرة: ۲۲٦، ۲۲۷] دلته الله تعالیٰ د طلاقو نه د خاوند د رجوع سره د خپل مغفرت او رحمت نومونه ذکر کړی، چه په دے کښے اشاره ده چه رجوع کول الله تعالیٰ ته د طلاقو نه محبوب دی، ځکه دے طلاقو سره ئے خپل دوه داسے نمونه ذکر کړی چه هغه په دهمکئ او ګواښ دلالت کوی، یعنی (سَمِيعٌ عَلِيمٌ)۔ دا هم ددے روایت د ثبوت تائید کوی۔

درجة الحديث: [إسناده معلول (شاذ)] ابو داود: ۲۱۷۸، ابن ماجه: ۲۰۱۸، رجاله ثقات لكن محمد بن خالد الوالبی قد خالفه ثلاثة من الثقات فرووه عن معرف بن واصل عن محارب بن دثار مرسلا لم يذكروا فيه عن ابن عمر. ومحمد بن خالد مضطرب في اسناده. انظر الارواء: (۲۰٤۰).

د نکاح نه مخکښے طلاق نهٔ واقع کیږی

3281 (8) - وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "**لَا طَلَاقَ قَبْلَ نِكَاحٍ وَلَا عِتَاقَ إِلَّا بَعْدَ مِلْكٍ وَلَا وِصَالَ فِي صِيَامٍ وَلَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ وَلَا رَضَاعَ بَعْدَ فِطَامٍ وَلَا صُمْتَ يَوْمٍ إِلَى اللَّيْلِ**". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه: علی ﷺ د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی، فرمائی: د نکاح نه مخکښے طلاق نشته، او آزادول نهٔ صحیح کیږی مګر پس د مالک جوړیدو نه، او په روژو کښے وصال (پرله پسے والے) نشته او د بلوغ نه روستو یتیم والے نشته، او د تیوو نه د پریکیدو نه روستو رضاعت نشته، (یعنی د پیوو ځښکلو مودے نه روستو د پیوو ځښکلو سره

رضاعت نۀ ثابتیږی) او تر شپے پورے تو له ورځ چپ والے جائز نۀ دے۔ (شرح السنه)

تشریح : [لَا طَلَاقَ قَبلَ النِّكَاحِ] ۔ **مسئله** : د نکاح کولو نه مخکښے طلاق واقع کیږی او که نۀ ؟ نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه نۀ واقع کیږی، که څوك نکاح کولو نه مخکښے ښځے له طلاق ورکړی نو دے طلاقو له هیڅ اعتبار نشته، د طلاق ورکولو دپاره مخکښے د نکاح موجودیدل ضروری دی۔ او طلاق دوه قسمه دی نو دا حدیث د خپل عموم په وجه د طلاقو دواړو قسمونو ته شامل دے: (أ) طلاق مُنجز (تنجیزی) (ب) طلاق مُعَلَّق (تعلیقی)۔ منجز (لاس په لاس، نقد طلاق) کښے خو اجماع د علماؤ ده چه دا د نکاح نه مخکښے نۀ واقع کیږی، مثلًا: یو تن د یوے ښځے سره نکاح نۀ ده کړے او د هغے په باره کښے ووائی : فلانئ طلاقه ده، نو دا طلاق لغوه دے ځکه د نکاح نه مخکښے طلاق نۀ واقع کیږی۔ او هر چه طلاقِ معلق دے (یعنی یو شئ پورے زوړند شوے طلاق) لکه یو تن ووائی: هر هغه ښځه چه زۀ ئے په نکاح اخلم، هغه به طلاقه وی۔ یا داسے ووائی: که ما فلانئ ښځه په نکاح واخسته نو هغه دِے طلاقه وی۔

او پدے مسئله کښے اختلاف د علماؤ داسے دے، درے قوله دی (۱) **قول** دا دے چه د جمهورو علماؤ په نیز دا طلاق نۀ واقع کیږی۔

امام بخاریؒ باب تړلے : [بَابُ لَاطَلَاقَ قَبلَ النِّكَاحِ] بیا ئے دا آیتِ کریمه ذکر کړے : ﴿يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا فَمَتِّعُوهُنَّ وَسَرِّحُوهُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا﴾ [احزاب: ۴۹]، او د ابن عباس ﷺ نه ئے نقل کړی دی چه الله تعالیٰ طلاق د نکاح نه روسته ذکر کړی دی۔

بیا امام بخاریؒ د علی ﷺ او د درویشت تابعینوؒ نومونه ذکر کړی په دے مسئله چه د نکاح نه مخکښے طلاق نشته۔ [فتح الباری: ۹/ ۳۸۱]

بله دا چه: څوك د نکاح نه مخکښے طلاق ورکړی نو دا پردئ ښځه طلاقوی، ځکه د طلاقو وئیلو په وخت دا ښځه پردئ ده، نو ددے داسے مثال دے لکه یو تن پردئ ښځے ته ووائی : که تۀ کور ته ننوتے نو تۀ به طلاقه ئے، او هغه په داسے حال کښے کور ته ننوته چه ددے خبرے وئیلو نه پس ئے ورسره نکاح کړے وه نو دا ښځه په اجماع د علماؤ سره نۀ طلاقیږی۔

(۲) **قول** دا دے چه طلاق قبل النکاح واقع کیږی۔ او دا د ابو حنیفهؒ قول دے۔

(۳ قول: دا دے چه دے کښے تفصیل دے: هغه دا چه څوك په يوه معلومه ښځه يا د يوے خاصے کورنئ په ښځه يا د يوے خاصے علاقے په ښځه طلاق واچوی، او داسے ووائی: که ما فلانئ په نکاح واخسته نو هغه دے طلاقه وی، نو په دے صورت کښے طلاق واقع کيږی۔ اوکه عامه خبره ئے وکړه او داسے ئے ووئیل: هره هغه ښځه چه زۀ ئے په نکاح اخلم هغه دِے طلاقه وی: نو هيڅ طلاق نۀ واقع کيږی۔ او دا د مالكؒ او د هغۀ د ملګرو قول دے۔ په دے درے واړو کښے **راجح قول** اولنے دے۔ هغه دا چه: د نکاح نه مخکښے نۀ منجز طلاق واقع کيږی او نۀ معلق، نۀ په يوے خاصے ښځے واقع کيږی او نۀ په عامو ښځو۔ د امام ابو حنيفۀؒ خبره ددے حديث خلاف دهٔ۔ ځکه حديث عام دے معلق او منجز دواړو ته شامل دے چه دا دواړه طلاقونه د نکاح نه مخکښے نشته۔ او د امام مالكؒ په تخصيص او تعميم باندے هم هيڅ دليل نشته۔ او نور دلائل په شرح السنه کښے او په الدين الخالص (۱۲) کښے وګوره۔

[وَلَا عِتَاقَ اِلَّا بَعْدَ مِلْكٍ]۔ د ((عتق)) هم دا حکم دے چه د غلام اخستو نه مخکښے که چا غلام آزاد کړو نو په دے سره به غلام نۀ آزاديږی مثلًا، يو تن ووائی: د فلانی سړی غلام دِے آزاد وی، يا فلانے غلام دِے آزاد وی، نو په دے سره دغه غلام نۀ آزاديږی۔ دغه شان که داسے ووائی: که چرے ما غلام واخستۀ نو هغه دِے آزاد وی۔ نو د اخستو نه پس هغه نۀ آزاديږی۔ او پدے کښے هم د مخکښے په شان اختلاف دے، د جمهورو په نيز ددے حديث مطابق خبره ده، چه تعليق هله صحيح کيږی چه اصل ملك خو موجود وی، او دلته اصل کښے ملك نشته نو تعليق لغوه دے۔ او د احنافو په نيز تعليق صحيح دے۔

[وَلَا وِصَالَ فِيْ صِيَامٍ] يعنی په نفلی روژو کښے وصال (پرله پسے / اُوږده روژه) نيول نشته چه ددے تفصيل په کتاب الصوم کښے ذکر شوے۔ د رسول الله ﷺ نه سویٰ د امت دپاره وصال کول صحيح نۀ دي، چه دوه ورځے متواتر روژه شی، ځکه چه په امت باندے دا کار مشقت جوړيږی۔ البته د يو پيشمنی نه بل پيشمنی پورے وصال جائز دے۔

[وَلَا يُتْمَ بَعْدَ احْتِلَامٍ]۔ يعنی يو تن بالغ شو نو اُوس به په هغۀ باندے د يتيم والی احکام نۀ جاری کيږی، يتيم والے د بلوغ نه مخکښے وی، او په بلوغ سره ختميږی۔ د

بلوغ نښه احتلام (خوب لیدل) دی پدې وجه ئې دا ذکر کړو. نو که ددۀ مال تا سره وی نو د بلوغ نه پس به هغه ورته حواله کولے شي.

[وَلَا رِضَاعَ بَعْدَ فِطَامٍ] رضاع: د راء په زور او زیر دواړو سره. تے رودل دئ. یعنی د ماشوم د تیوو نه د پریکولو نه روستو رضاعت نۀ وی. بلکه رضاعت د دوه کالو په موده کښے دننه ثابتیږی. یو ماشوم د تیوو نه پریکړے شو او بیائے د بلے زنانه نه تے وخوړلو نو د هغے رضاعی خوی نۀ ګرځی. دارنګه ددے صورت داسے هم جوړیږی چه یو هلك د تی نه پریکړے شي نو آیا دوباره د خپلے مورتے رودلے شي او که نۀ؟

نو ظاهر دا ده چه دوه کالو پورے خو د ماشوم حق دے لیکن که د دوه کالو نه روستو هم ماشوم کمزورے وو او د خپلے مور پئ خوری نو پدے کښے هیڅ مانع نشته ځکه چه دا د هغے د جزء نه فائده اخلی. دارنګه که د بلے زنانه پئ وڅکی هم جواز لری مګر پدے حالت کښے به ددے هلك ددے زنانه نه رضاعت نۀ ثابتیږی نو د فطام نه مراد شرعی فطام دے چه هغه د دوه کالو نه بعد وی نو د دوه کالو نه روستو به رضاعت نۀ ثابتیږی.

او که یوے زنانه یو کال کښے ماشوم د تیوو نه پریکړو او بلے زنانه ورله تے ورکولو نو دلته د اولے زنانه نه فطام (پریکیدل) راغلے دے لیکن دا شرعی فطام نۀ دے نو پدے حالت کښے به رضاعت ثابتیږی.

[ولا صُمُتَ يَوْمٍ اِلَى اللَّيْلِ]. یعنی د ټوله ورځ د خبرو نه ځان بندولو کښے هیڅ فضیلت نشته لکه پخوانو امتونو کښے دا کار د الله تعالیٰ د تقرب ذریعه شمارل کیده چه په روژه کښے به ئے د خبرو نه هم روژه نیوله. نو رسول الله ﷺ دا خبره واضحه کړه چه زمونږ په دین کښے دا څه عبادت نۀ دے، پدے سره ثواب نۀ حاصلیږی. آؤ خپله ژبه د لایعنی او فضول خبرو نه بندہ ساتل ډیر د فضیلت خبره ده، مګر دلته مقصد دا دے چه د جائز خبرو نه د عبادت په طریقه ژبه بندول او دا د الله تعالیٰ حکم ګڼړل، دا صحیح نۀ دی.

دے روایت کښے مقال دے لیکن شواهد ئے شته پدے وجه ترے احکام ثابت کړے شول.

درجة الحديث :[صحيح بشواهده] شرح السنة : ۲۳۵۰، ورواه ابن ماجه : ۲۰۴۹، منه ((لا طلاق)) وابو داود : ۲۸۷۳ منه ((لَايُتَمَ ولَا صُمَاتَ)) ورواه الطبراني وغيره وهذا اسناد ضعيف علي بن الحسين وهشام بن سعد مختلف فيهما وبيانه في الارواء : (۲۰۶۹).

3282 (9) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "لَانَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَايَمْلِكُ، وَلَا عِتْقَ فِيمَا لَايَمْلِكُ، وَلَا طَلَاقَ فِيمَا لَايَمْلِكُ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَزَادَ أَبُوْدَاوُدَ، "وَلَا بَيْعَ إِلَّا فِيمَا يَمْلِكُ".

ترجمه : عمرو بن شعيبؒ د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکۀ نه روايت کوى چه رسول الله ﷺ وفرمايل : انسان چه د څۀ شئ مالك نۀ وى په هغے کښے د هغۀ نذر پوره کول هيڅ حيثيت نۀ لرى، او نۀ د هغه غلام آزادولو څۀ حيثيت شته چه انسان د هغے مالك نۀ وى، او نۀ د هغه ښځے طلاقول صحيح دى چه د هغۀ په ملکيت کښے نۀ وى. (ترمذى) او ابوداود دا الفاظ زيات راوړى : (او نشته بيع مگر په هغه شى کښے چه په ملکيت کښے وى).

تشريح : دے حديث نه معلومه شوه چه د يو معين شئ د ملکيت نه مخکښے د هغے نذر اومنښتے له هم څۀ اعتبار نشته، مثلًا : يو تن ووائى : که چرے الله تعالىٰ زما بيمار ښۀ کړو نو زۀ به د فلانى سړى غلام آزادوم، او يا به د فلانى سړى گډه بزه خيرات کوم. يعنى د بل چا په مملوك شئ کښے به د هغۀ د اجازت نه بغير تصرف کوى. نو دا نذر او منښته لغوه ده. يا پردى شى ته اشاره وکړى چه په ما نذر دے چه دا به خيرات کوم.

خو که په خپله ذمه کښے ئے د يوے شئ التزام وکړو، هغه دا چه : که زما فلانے کار وشو نو زۀ به خپل غلام آزادوم او يا به د خپل مال نه دومره صدقه ورکوم، او دۀ سره په دے وخت کښے دغه شيان نۀ وى نو بيا چه کله دۀ مريض ښۀ شى نو دۀ نذر صحيح دے او دۀ په ذمه به دا ثابت وى. لکه ددے بيان به روستو په [کتاب الأيمان والنذور] کښے راشى، ان شاء الله تعالىٰ.

درجة الحديث : [حسن] أبوداود: ٢١٩٠، ترمذى: ١١٨١، ابن ماجه: ٢٠٤٧، أحمد: ١٨٩/٢، طيالسى: ٢٢٦٥، ابن الجارود: ٧٤٣، حاكم: ٢٠٤/٢، بيهقى: ٣١٨/٧ـ سأل الترمذى شيخه البخارى : اى حديث اصح فى الطلاق قبل النكاح فقال : حديث عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده۔ [العلل الكبير: ٤٦٥/١]

د طلاق بت مسئله

3283 (10) - وَعَنْ رُكَانَةَ بْنِ عَبْدِ يَزِيدَ أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ سُهَيْمَةَ الْبَتَّةَ فَأُخْبِرَ بِذَلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **"وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتَ إِلَّا وَاحِدَةً؟"** فَقَالَ رُكَانَةُ: وَاللّٰهِ مَا أَرَدْتُ إِلَّا وَاحِدَةً فَرَدَّهَا إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطَلَّقَهَا الثَّانِيَةَ فِي زَمَانِ عُمَرَ وَالثَّالِثَةَ فِي زَمَانِ عُثْمَانَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ إِلَّا أَنَّهُمْ لَمْ يَذْكُرُوا الثَّانِيَةَ وَالثَّالِثَةَ.

ترجمه: د رُکانه بن عبد یزید ﷺ په باره کښې روایت دے چه هغهٔ خپله بی بی سهیمه په بته (قطعي) طلاقو سره طلاقه کړه، بیا ئې ددے خبر نبی ﷺ ته ورکړو، او دا ئې وویل: قسم په الله زما صرف د یو طلاقو اراده وه، رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا دِ ے قسم وی تا صرف دیو طلاقو اراده کړے وه؟ نو رکانه وویل: قسم په الله زما د یو طلاق اراده وه۔ نو رسول الله ﷺ هغه بی بی هغهٔ ته واپس کړه۔ بیا رکانه هغې ته د عمر فاروق ﷺ په زمانه کښې دویم طلاق او د عثمان ﷺ په زمانه کښې دریم طلاق ورکړو۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ، البته دوئ دویم او دریم طلاق نهٔ دے ذکر کړے)

تعارف د رکانة ﷺ: نسب ئې دادے: رکانه بن عبد یزید بن هاشم بن مطلب بن عبد مناف مطلبی۔ د مکے د فتح په کال مسلمان شو۔ ویل کیږی چه دهٔ نبی کریم ﷺ سره کشتی (ځملول) کړی وو۔ او همدا کُشتی ددهٔ د اسلام سبب جوړ شو۔ مدینے ته راغلو او هلته د معاویه ﷺ د خلافت په شروع کښې وفات شو۔ ځینې وائی په (۴۱) هجری کښې وفات شو۔ ددهٔ ښځه سهیمه بنت عمیر مُزنیه ده۔

تشریح: د ابوداودؒ په یو روایت کښې (ابو رکانه) لفظ راغلے دے لیکن علامه ذهبیؒ فرمائی: معروفه داده چه صاحبِ قصه رکانه دے نهٔ ابو رکانه۔ [تلخیص المستدرك: ۲/۴۹۱] [اَلْبَتَّةَ] په همزه وصلیه سره دے، یعنی داسے ئې ورته وویل: أَنْتِ طَالِقٌ الْبَتَّةَ (تهٔ په قطعي طلاقو سره طلاقه ئې) دا د بت نه وتے دے، قطع او پریکړے ته وائی۔ یعنی تهٔ په داسے قطعي طلاقو سره طلاقه ئې چه هغې سره د رجوع حق نهٔ دے پاتے شوے۔ په دے الفاظو سره طلاق ورکونکے کله د درے طلاقو اراده لری او کله د یو طلاق بائن۔ فقهاؤ [اَلْبَتَّةَ] لفظ په ظاهرو کنایاتو کښې شمارلے۔ او کنایه: هر هغه لفظ دے چه د طلاق او غیر

طلاق دواړو احتمال لري. په دې خبره دليل چه د [الْبَتَّةَ] نه کلمه يو طلاق هم اخستل کيږي، [فَطَلَّقَهَا الثَّانِيَةَ فِيْ زَمَانِ عُمَرَ، وَالثَّالِثَةَ فِيْ زَمَانِ عُثْمَانَ] په بائن طلاق کښې نيت له اعتبار وي، که د طلاقو نيت ئې کړې وي نو طلاق واقع کيږي، او که د طلاقو نيت ئې نۀ وي کړې نو بيا نۀ واقع کيږي. په بل روايت د ابوداود کښې دي :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : طَلَّقَ أَبُو رُكَانَةَ أُمَّ رُكَانَةَ . فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ (رَاجِعِ امْرَأَتَكَ)، فَقَالَ : إِنِّيْ طَلَّقْتُهَا ثَلَاثًا . قَالَ : (**قَدْ عَلِمْتُ، رَاجِعْهَا**). رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ. يعنى رکانه ووېل : **ما** دا په درې طلاقو سره طلاقه کړې. نبى ﷺ ورته وفرمايل : ما ته معلومه ده، رجوع ورته وکړه. او د احمدؒ په يو روايت کښې داسې الفاظ دي : [طَلَّقَ رُكَانَةُ امْرَأَتَهُ فِيْ مَجْلِسٍ وَاحِدٍ ثَلَاثًا، فَحَزِنَ عَلَيْهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : (**فَإِنَّهَا وَاحِدَةٌ**)]. (رکانه خپله ښځه په يو مجلس کښې په درې طلاقو سره طلاقه کړه نو په هغې غمجن شو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا يو طلاق دې.

(حافظؒ په بلوغ المرام کښې فرمائي : ددې دواړو روايتونو په سند کښې محمد بن اسحاق دې او په هغۀ کښې مقال دې. بيائې دې حديث الباب ته احسن سند وئيلې دې.

[مَا أَرَدْتَ إِلَّا وَاحِدَةً ؟]. يعنى واقعي تا د يو طلاق اراده کړې ؟.

فوائد او مسائل : (۱) **د درې طلاقو مسئله** : يو تن خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي نو ددې دوه صورتونه دي : (۱) يو دا چه په بيل بيل طهر کښې يو يو طلاق ورکړي، يعنى په يو طهر کښې يو طلاق په بل طهر کښې بل طلاق او په بل طهر کښې بل طلاق نو په اجماع د علماؤ سره دا طلاق واقع شو او په دريم طلاق سره ښځه مغلظه شوه، نو په دۀ باندې بنده شوه تر دې چه دا ښځه په خپله خوښه سره بل خاوند سره نکاح وکړي او هغه ورسره زندگی تيره وي تر دې چه په ژوند کښې هغه ورله يوه ورځ طلاق ورکړي نو بيرته اول خاوند دپاره اُوس جائز شوه، که هغه ورسره دوباره نکاح کول غواړي نو کولې شي.

(ليکن شرط دا دې چه دويم خاوند به ئې د اول خاوند دپاره د حلالولو په نيت باندې نۀ وي طلاقه کړې) او ددې صورت دپاره دليل د قرآن کريم آيت : ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ﴾ دې، چه دلته دوه طلاقه ذکر دي چه يو بل نه روستو په بيل بيل طهر کښې ورکړې شي او دريم طلاق روستو ﴿أَوْ تَسْرِيْحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ سره ذکر دې. کما قال مجاهدؒ.

یا روستو ﴿فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ﴾ یعنی که دریم طلاق ئې ورکړو نو ددې نه روستو ورله ښځه جائز نۀ ده۔

(۲) دویم صورت: چه پدې حدیث کښې ذکر دې هغه دا چه چا خپلې ښځې ته په یو مجلس کښې درې ځل داسې وویل: (أ) (تۀ طلاقه ئې، تۀ طلاقه ئې، تۀ طلاقه ئې)، (ب) یا داسې ووائی (تۀ په درې کانړو طلاقه ئې)۔ (ج) یا یو طلاق نن ورکړی او بل طلاق صبا او بل طلاق بل صبا (یعنی په یو طهر کښې جدا جدا درې طلاقه ورکړی) نو ددې ټولو حکم یو دې، چه دا درې طلاقه په یو باندې حساب دی، او چا چه درې طلاقه ښځې له ورکړل نو هغۀ دپاره د رجوع حق شته دې۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی: دا حدیث په دې مسئله کښې داسې صریح دلیل دې چه هیڅ احتمال نۀ لری۔ [فتح الباری: ۹/۲۶۲]

او ددې حدیث روایتونه اګرکه د سند په لحاظ سره یو یو ضعیف دې، لیکن د شواهدو په وجه حسن درجې ته رسیږی۔ چه بعض شواهد روستو راځی۔

مګر پدې مسئله کښې **اختلاف** دې (۱) قول: جمهور علماء چه بعض د هغوی نه ائمه اربعهٔ دی وائی چه دا طلاق واقع دی، او ښځه مغلظه شوه، درې په درې واقع شول، او خاوند ښځې ته د رجوع کولو حق نۀ لری تردې چه بل خاوند ورسره نکاح وکړی بیا د جمهورو خپل مینځ کښې اختلاف دې (أ) ائمه ثلاثهٔ وائی چه ښځه ددۀ نه لاړه او نکاح التحلیل ددۀ دپاره حرامه ده۔ (نکاح التحلیل (حلاله) دې ته وائی چه یو تن ښځې له درې طلاقه ورکړی، بیا دا ښځه جومات له بوځی او د جومات امام یا د هغۀ ساتلې بل یو تن د یوې شپې دپاره د هغې سره نکاح (بلکه زنا) وکړی او عدت هم په کښې نۀ تیروی او سهار له ئې خپل خاوند ته (بې خونده کړې) راواپس کړی۔ **ددې د تحریم دلائل:** ۱- عمر فاروق رضی الله عنه به فرمایل: څوک چه ما ته نکاح التحلیل والا راولی نو زۀ ئې رجم کوم ځکه چه دا زنا کار دې۔ ۲- حدیث کښې دی: [لَعَنَ اللّٰهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ] [أبو داود: ۲۰۷۸، ابن ماجه: ۱۹۳۴ صحیح] الله تعالیٰ په حلاله کونکی او چا دپاره چه حلاله کولې شی (دواړو باندې) لعنت فرمائیلې دې۔

۳- په حدیث د عقبه بن عامر رضی الله عنه کښې دې ته [اَلتَّيْسُ الْمُسْتَعَار] وئیلې شویدې، [المستدرك للحاکم: ۲۸۰۵، ابن جریر، کنز العمال: ۲۸۰۶۶] یعنې هغه چیلې چه خلك ئې د خپلو بزو د مال کولو (جفتی کولو) دپاره په سوال باندې د چا نه راولی۔ لکه ددې

تشریح په اغاثة اللهفان ص (۲۶۹تا ۲۸۲) او اعلام الموقعین (۴۵/۳) کښې ذکر ده۔
لهٰذا درې طلاقه په درې بدلول او بیا ((حلاله)) کول، دا نهٔ د رسول الله ﷺ فیصله وه او
نهٔ د عمر فاروق رضی الله عنه فیصله وه۔
(۴) (ب) احناف وائي : د حلالې نکاح مکروه ده او درې طلاقه واقع دي۔
دویم قول دا دے : درې طلاقه بیخي نهٔ واقع کیږي۔ دا مذهب په شیعه ګانو کښې د
امامیه ډلې دے او دا باطل مذهب دے۔ **دریم قول** دا دے چه درې طلاقه ورکول مطلقاً
مباح دي۔ دا د امام شافعيؒ قول دے لیکن دا قول ضعیف دے د احادیثو مخالف دے لکه
روستو باب المطلقه ثلاثا کښې به راشي [أَيُلْعَبُ بِكِتَابِ اللّٰهِ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ]
رسول الله ﷺ درې طلاقه ورکولو ته د الله په کتاب پورې توقے کول وئیلي دي۔
څلورم قول دا دے چه دا درې طلاقه په یو باندې بدلیږي او د حلالې نکاح ته هیڅ
ضرورت نشته بلکه هغه زنا ده، او دا مذهب د صحابه کرامو او تابعینو د یوې ډلې دے،
د زبیر بن العوام رضی الله عنه او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه (کما حکاه عنهما ابن وضاحؒ) او دا یو
روایت د علی بن ابی طالب رضی الله عنه او یو روایت د ابن مسعود رضی الله عنه او یو روایت د ابن عباس رضی الله عنه
دے۔ دارنګه د عطاءؒ او طاووسؒ وغیره تابعینو مذهب دے۔ دارنګه د داود بن عليؒ او ابن
حزم ظاهريؒ قول دے، او دا د بعض مالکیه ؤ او بعض حنابله ؤ نه نقل دے۔ او د احنافو نه
د محمد بن مقاتلؒ فتویٰ ده۔ او په متأخرینو کښې شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قیمؒ،
شوکانيؒ، قاسميؒ او شیخ ابن بازؒ ددې پوره تائید او تفصیل کړے۔
ددې قول اته (۸) دلائل دي چه هغه **دلائل** دا دي : **۱- دلیل** : [عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ
عَبَّاسٍ رضی الله عنه قَالَ : كَانَ الطَّلَاقُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ وَأَبِي بَكْرٍ وَسَنَتَيْنِ مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ
طَلَاقُ الثَّلَاثِ وَاحِدَةً فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِنَّ النَّاسَ قَدِ اسْتَعْجَلُوا فِي أَمْرٍ قَدْ كَانَتْ لَهُمْ فِيهِ
أَنَاةٌ فَلَوْ أَمْضَيْنَاهُ عَلَيْهِمْ، فَأَمْضَاهُ عَلَيْهِمْ] [صحیح مسلم : ۱۸۳/۴ رقم : ۳۷۴۶] طاووسؒ دا بن
عباس رضی الله عنه نه روایت کوي چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه (په
زمانه کښې) او د عمر فاروق د خلافت په دوه کالو کښې درې طلاقه به یو حسابیدل۔ نو
عمر فاروق رضی الله عنه (د مشورې نه پس) وفرمایل : خلکو په یو داسې کار کښې جلتي وکړه چه
د هغوی دپاره په هغې کښې آرام وو، نو که مونږ په دوئ باندې دا نافذ کړو (دا به بنهٔ وی
دې دپاره چه خلك ددې کار نه منع شي) نو هغهٔ ئې پرې نافذ کړل۔

ددې حدیث نه ثابته شوه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او د ابو بکر صدیق رضی الله عنه او بیا د عمر فاروق رضی الله عنه ابتدائی زمانه کښې درې طلاقه به په یو باندې بدلیدل او د دوئ په هغه زمانه کښې هیڅوك مخالف نهٔ وو، نو دا د دوئ اجماع وه، او دا واضحه خبره ده او عمر فاروق رضی الله عنه چه کومه فیصله وکړه نو دا تعزیری فیصله وه چه بادشاهِ وخت له دا جائز وی، او اُوس به هم دغه شان فیصله کولے شی۔

شیخ عبد الله بسام فرمائی: په همدې مذهب باندې څهٔ دپاسه یو لاکهـ صحابه کرام رضی الله عنهم ولاړ وو، چه د دوئ په سر باندې د دوئ نبی ﷺ هم وو۔ د هغوئ ټولو دا مذهب وو چه درې طلاقه په یو باندې حساب دی۔ او نبی کریم ﷺ په همدې باندې وفات شوے۔ دا قول منسوخ شوے نهٔ دے۔تردې چه ددې نه پس د ابو بکر صدیق رضی الله عنه دور راغے او د هغوئ په زمانه کښې هم موجود صحابه کرام رضی الله عنهم د همدې قائل وو چه درې طلاقه په یو باندې حساب دی۔ بیا چه کله د عمر فاروق رضی الله عنه دور راغے نو د هغهٔ د خلافت د اولنو دوو- او په یو روایت کښې د اولنو دریو - کلونو پورې هم دا فیصله چلیده چه درې طلاقه په یو حساب دی۔ بیا ددې نه پس چه کله خلکو په طلاقو کښې د حد نه زیاتے شروع کړو او درې درې طلاقه ورکول ئے شروع کړل، نو عمر فاروق رضی الله عنه په دوئ باندې درې طلاقه درې حساب کړل او دا فیصله د دوئ سیاسی او اجتهادی فیصله وه۔ ځکه د دوئ ددې فیصلې نه مخکښې اجماع قدیم (زړه اجماع) موجوده وه، نو فاروق رضی الله عنه هیڅکله دا زړه اجماع نهٔ ده ختمه کړې بلکه یو اجتهادی فیصله ئے صادره کړے۔ چه ترڅو پورې خلك په طلاقو کښې جلتی کوی نو دا فیصله به نافذه وی او که جلتی ئے نهٔ کوله نو د زړې اجماع والا فیصله به وی۔ او دا بیخی واضحه خبره ده۔

په دې باندې دلیل د حسن بصریؒ دا حدیث دے: چه عمر فاروق رضی الله عنه ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه ته لیکلی وو: [لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَجْعَلَ - إِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فِيْ مَجْلِسٍ - أَنْ أَجْعَلَهَا وَاحِدَةً، وَلٰكِنَّ أَقْوَامًا جَعَلُوْا (حَمَلُوْا) عَلٰى أَنْفُسِهِمْ، فَأُلْزِمُ كُلَّ نَفْسٍ مَا أَلْزَمَ نَفْسَهُ] [سنن سعید بن منصور رقم: ۱۰۶۹، صحیح أبی داود: ۱۹۱۰] (یقیناً ما اراده کړے چه هرکله یو سړے خپله ښځه په یو مجلس کښې په درې طلاقو سره طلاقه کړی چه زهٔ دا یو طلاق شمارم لیکن څه خلکو په ځان خبره ګرانه کړه نو زهٔ په هر شخص باندې د هغهٔ خبره کلکوم کومه ئے چه په ځان باندې سخته کړه)۔

ددې نـه صـفا معلومه شوه چه دا تعزيري او اجتهادي فيصله وه. بله دا چه : كه د درې طلاقو فيصله مستقله فيصله وې، نو بيا عمر فاروق ﷛ پـه دې كښې د صحابه كرامو سره ولې مشوره كوي؟ په شرعي فيصلې نافذولو كښې خو ځوك مشورې نهٔ كوي، او نهٔ ئې بدلولې شي !! دې وجې نه مقلدينو ددې فيصلې صحيح تصوّر نهٔ دې كړې نو ځكه ضد او عناد كوي.

❁ او مخكښې وويل شول چه درې طلاقه په درې حسابول او بيا ((حلاله)) كول، دا نهٔ د رسول الله ﷺ فيصله وه او نهٔ د عمر فاروق ﷛ فيصله وه. مقلدينو دا د ځانه يو بدعت جوړ كړې. او د مسلمانانو د ښځو عصمت او شرم او حياء ئې تار په تار كړې. يو مقلد ښځې له درې طلاقه وركړي، نو بل مقلد دا ښځه جومات له بوځي او د جومات امام يا د هغهٔ ساتلې بل يو تن د يوې شپې دپاره د هغې سره نكاح (بلكه زنا) وكړي او عدت هم په كښې نهٔ تيروي او سهار له ئې خپل خاوند ته (بې خونده كړې) راواپس كړي.

او ددې نـه چه كوم بچې پيدا شي نو هغه هم په غُبار كښې لاړ شي، هيڅ پته ونهٔ لګي چه دا د چا شو؟ دا د مذهب په نوم په اسلامي دين پورې خندا، او د نكاح په نوم زنا ده. د كتاب او سُنت حق پرستو اهلِ علمو له پكار دي چه ددې بدعتيانو دا بدعت خلكو ته ښكاره كړي او خلك ددې ګمراهۍ نه وساتي، او د مسلمانانو ښځو شرم او حيا محفوظه كړي. والله المستعان.

نو ثابته شوه چه د عمر فاروق ﷛ مشوره كول او بيا درې طلاقه په دريو باندې بدلول د هغوي سياسي فيصله وه او دا شرعي حكم نهٔ وو لهذا مونږ وايو چه اُوس هم خليفه دغه فيصله باندې عمل كولې شي كله چه څوك په طلاق وركولو كښې بےباكه وي، د الله تعالىٰ د حكم لحاظ نهٔ ساتي او بار بار د هغهٔ نه دا كار كيږي، ليكن چونكه اُوس زمانه كښې مسلمانانو كښې د اسلامي احكامو نه جهالت او ناپوهي زياته ده پدې وجه كه هغوي په ناپوهۍ سره دا كار وكړي او بيا خپيمانه وي، آينده كښې توبه ګار كيږي نو دوئ ته به د رسول الله ﷺ او د ابو بكر صديق ﷛ او د عمر فاروق ﷛ ابتدائي فيصله وركولې شي او درې طلاقه به په يو باندې بدليږي. لهذا عمر فاروق ﷛ فيصله د عذر او ضرورت په وخت كښې ده چه هغه تعزير وركول دي، او اُوس خو تعزير صورت نهٔ جوړيږي لهذا نبوي فيصله باندې به عمل د مسلمانانو دپاره فائده من وي،

او بله دا چه مسلمان به د حلالے په نوم باندے د زنا نه هم خلاص شی۔ او دا د اسلامی غیرت تقاضا هم ده۔ نو کوم مقلدین چه د عمر فاروق ﷺ فیصله نیغه نیغه کوی او د رسول الله ﷺ فیصلے ته نۀ گوری، د ابوبکر صدیق ﷺ او د یو لاکهه نه زیاتو صحابه کرامو فیصلے له اعتبار نۀ ورکوی او هغه د عمر فاروق ﷺ د سیاسی فیصلے په وجه رد کوی او بیا پرے دپاسه حلاله هم کوی نو دا یے دینی ده او دین اسلام د غیر دینو خلکو په نظر کښے سپك ښکاره کول دی۔

نو ددے حدیث نه د استدلال طریقے دوه شوے یو دا چه د نبی علیه السلام او د ابوبکر صدیق ﷺ او دوه کاله د عمر فاروق ﷺ په زمانه کښے درے طلاقه په یو باندے بدلیدل

دویم : د عمر فاروق ﷺ د ملگرو سره مشوره کوی نو که په یو ځل باندے درے طلاقه واقع کیدے نو مشورے ته څه ضرورت وو۔ او د خلیفه دپاره سیاسی حکمونه کول جائز وی او دا په مصلحت باندے بناء وی، ددے مثال داسے دے لکه یو سرے فقیر وی او تجارت نۀ کوی نو خلیفه له جائز دی چه جیل ته ئے واچوی نو دلته تجارت جائز عمل دے او خلیفه ئے پرے جیل ته اچوی۔ دارنگه عمر فاروق ﷺ به د مصلحت په بناء د حج تمتع نه منع فرمائیله۔ دارنگه د مازیگر نه روستو به ئے د نفلو نه منع کوله دے دپاره چه خلك ئے ډیر ناوخته په مکروه وخت کښے ونکړی۔داسے نور مسائل واخله۔

۲- **دلیل** : دا حدیث د رکانه بن عبد یزید ﷺ دے چه دۀ خپله بی بی (سهیمه) په درے طلاقو طلاقه کړه او نبی ﷺ ورله په یو سره بدل کړل۔ دے روایت کښے اګرکه کلام دے په سند کښے ئے زبیر بن سعید دے، لیکن په ابوداود کښے په نورو الفاظو سره نقل دے چه هغه حسن درجه کښے دے، هغه الفاظ داسے دی : [دَاوُدُ بْنُ الْحُصَيْنِ عَنْ عِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : طَلَّقَ رُكَانَةُ بْنُ عَبْدِ يَزِيْدَ -أَخُوْ بَنِي الْمُطَّلِبِ - امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ فَحَزِنَ حُزْنًا شَدِيْدًا، قَالَ : فَسَأَلَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كَيْفَ طَلَّقْتَهَا؟ قَالَ : طَلَّقْتُهَا ثَلَاثًا قَالَ : فَقَالَ : فِيْ مَجْلِسٍ وَاحِدٍ؟ قَالَ : نَعَمْ، قَالَ : فَإِنَّمَا تِلْكَ وَاحِدَةٌ فَارْجِعْهَا إِنْ شِئْتَ، قَالَ فَرَجَعَهَا] شیخ الاسلامؒ دے روایت ته په مجموع الفتاوی (۱۸/۳) کښے جید وئیلے، ابن قیمؒ په زاد المعاد (۳۶۴/۵) کښے او احمد محمد شاکرؒ په تعلیق مسند احمد (۲۳۸۷) کښے صحیح، او شیخ البانیؒ په ارواء الغلیل (۱۴۴/۷-۱۴۵) کښے په دوارو سندونو سره حسن وئیلے دے۔

حافظ په فتح الباری (۹/۳۶۲-۳۶۳) کښې حدیث د ابوداودؒ راوړې بیا ئې فرمایلي: [وَأَخْرَجَهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْيَعْلَى وَصَحَّحَهُ مِنْ طَرِيْقِ مُحَمَّد بن اسحاق، وَهٰذَا الْحَدِيْثُ نَصٌّ فِي الْمَسْأَلَةِ: (اَىْ فِيْمَنْ طَلَّقَ ثَلَاثًا مَجْمُوْعَةً وَقَعَتْ وَاحِدَةً) لَايَقْبَلُ التَّأْوِيْلَ الَّذِىْ فِيْ غَيْرِهٖ مِنَ الرِّوَايَاتِ الْآتِيْ ذِكْرُهَا] دا حدیث په دې مسئله کښې صریح دې چه هیڅ تاویل نۀ قبلوی، کوم چه روستو راتلونکی روایات ئې قبلوی).

حافظ وائي: ددې حدیث نه خلکو (٤) جوابونه ورکړیدی، یو دا چه محمد بن اسحاقؒ او د هغۀ شیخ مختلف فیه دی، جواب دادې چه علماؤ په ډیرو احکامو کښې په داسې اسناد باندې استدلال کړې لکه په حدیث کښې دی: ((نبی ﷺ ابو العاص بن ربیع رضی الله عنه ته خپله لور زینب په اوله نکاح سره واپس کړه)). او هر مختلف فيهِ مردود نۀ وی.

دویم: دا معارض دې په فتویٰ د ابن عباس رضی الله عنه چه هغه درې طلاقه درې حساب کړی. لکه په روایت د مجاهدؒ وغیره کښې دی. نو ابن عباس رضی الله عنه چه د خپل روایت خلاف کوی نو ضرور هغۀ ته به یو مرجح ښکاره شوې وی.

جواب: صحیح خبره دا ده چه د راوی روایت له اعتبار وی نۀ د هغۀ رائې لره ځکه چه په رائې کښې احتمال د نسیان یا د تاویل وغیره کیدې شی. او مرجح هغه سره مرفوع حدیث نشته بلکه کیدې شی چه په تخصیص یا تقیید یا تاویل سره ئې تمسك کړې وی. او د یو مجتهد قول په بل مجتهد باندې حجت نۀ وی.

دریم: ابوداودؒ دې ته ترجیح ورکړې چه رکانه خپلې بی بی ته (بته) طلاق ورکړی وو، او احتمال شته چه راوی د (بته) تاویل په درې طلاقو سره کړې وی، ددې وجه نه د ابن عباس رضی الله عنه په حدیث سره استدلال کول موقوف دی.

څلورم دا چه دا مذهب شاذ دې او پدې باندې عمل نۀ دې شوې؟ **جواب**: دا مذهب د علی بن ابی طالب، ابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف، زبیر بن العوام رضی الله عنهم نه ثابت دې. دارنګه د عطاءؒ، طاووسؒ، عمرو بن دینارؒ نه ثابت دې چه دا د ابن عباس رضی الله عنهما نزدې شاګردان دی. بیا ئې ددې حدیث په تائید او تقویه کښې د ابن طاووسؒ عن ابیه عن ابن عباس رضی الله عنه روایت د مسلم ذکر کړې کوم چه په اول دلیل کښې ذکر شو. (فتح الباری)

۲- دلیل: فتوی د ابن عباس رضی الله عنه: [عَنْ حَمَّادٍ عَنْ أَيُّوْبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: إِذَا

قَالَ الرَّجُلُ بِفَمٍ وَاحِدٍ أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا فَهِيَ وَاحِدَةٌ] [ابوداود: ۲۱۹۹] (کله چه یو تن په یوے خوله سره ووائی: ته په درے طلاقو طلاقه ئے نو دا په یو طلاق سره طلاقه شوه. لهذا د ابن عباس ﷺ نه دوه فتوے نقل شوے. کله ئے درے په دریو حساب کړی او کله ئے درے په یو بدل کړی. (دے نه هم دا معلومه شوه چه د طلاق ورکونکی حالاتو ته کتل پکار دی) دارنګه د ابن عباس ﷺ په یو بل روایت کښے دی چه ابو الصبهاءَ او ابو الجوزاءَ په بیل بیل حدیث کښے د ابن عباس ﷺ نه تپوس وکړو: [اِبْنُ طَاوُوسَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ أَبَا الصَّهْبَاءِ قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ أَتَعْلَمُ إِنَّمَا كَانَتِ الثَّلَاثُ تُجْعَلُ وَاحِدَةً عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ وَأَبِي بَكْرٍ وَثَلَاثًا مِنْ إِمَارَةِ عُمَرَ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ﷺ: نَعَمْ]. [مسلم: ١٨٤/٤، رقم: ٣٧٤٧]

آیا تا ته معلومه ده چه درے طلاقه به د نبی کریم ﷺ او ابوبکر صدیق ﷺ او درے کاله د عمر فاروق ﷺ د خلافت په دور کښے یو حسابیدل؟ ابن عباس ﷺ وفرمایل: آؤ. دا هم واضح دلیل دے چه د ابن عباس ﷺ هم دا فتویٰ وه.

٤- دلیل: د لعان په مسئله کښے راځی: یو سړے څلور قسمه په یو ځل وکړی او داسے ووائی: [أَشْهَدُ بِاللّٰهِ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ أَنِّي رَأَيْتُهَا] زهٔ ګواهی کوم په څلورو ګواهیانو او قسمونو سره چه دے ښځے زنا کړے. نو په اتفاق سره دا یو قسم حسابیږی. دارنګه په اقرار بالزنا کښے څلور اقراره وی که یو سړے ووائی: [إِنِّي أَعْتَرِفُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ بِأَنِّي زَنَيْتُ] زهٔ څلور اقرارونه کوم چه ما زنا کړے. نو دا به یو اقرار حسابیږی.

دارنګه که یو تن داسے ووائی: [سُبْحَانَ اللّٰهِ مِائَةَ مَرَّةٍ، يا أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ مِائَةَ مَرَّةٍ] نو دا به سل سبحان الله او سل استغفاره نهٔ حسابیږی بلکه دا به یو ځل حسابیږی. نو دغه شان دلته هم څوك چه په یو ځل درے طلاقه ورکړی نو یو به حسابیږی.

٥- دلیل: آیت: [وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذٰلِكَ] دا آیت عام دے شامل دے هر قسم طلاقو ته، درے وی او که دوه او که یو. نو درے طلاقه چه څوك ورکړی نو د ښځے عدت باقی پاتے دے نو خاوند ئے په دے عدت کښے بیرته راواپس کولے شی نو درے به په یو حساب وی. **٦- دلیل**: آیت دے: [اَلطَّلَاقُ مَرَّتَانِ] پدے آیت کښے قرآنی طلاق ذکر دی، چه هغه طلاق رجعی دی او درے طلاقه خو قرآنی طلاق نهٔ دی نو که څوك په یو ځل درے طلاقه ورکړی نو یو به واقع وی ځکه چه قرآن کریم کښے رجعی طلاق ذکر دی.

۷- دلیل: د اصول الشرع نه معلومیږی: [وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ] الله

تعالیٰ په دین کښې حرج نۀ دے مقرر کړے نو په شریعت کښې د هر حکم دپاره گنجائش لاره هم شته نو که سړے درے طلاقه ورکړي په یو ځل، نو گنجائش پکښې دا شو چه په یو سره به بدل شي۔

د جمهورو دلائل: جمهورو په درے طلاقو واقع کیدو باندے دلائل دا دي:

۱- دلیل: حدیث د عائشه رضي الله عنها کښې د رفاعه القرظي د بي بي واقعه کښې راغلي دي: [إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي] زۀ د رفاعه په نکاح کښې اُوم هغه ما ته بته طلاق راکړل۔ جواب: د بَتَّ طَلَاقِي اصل معنیٰ ده طلاق پریکول یعنی داسے طلاق چه د نکاح عصمت او عقد پریکړي، نو دا دوه معانو ته شامل دے (أ) یو دا چه ما ته ئے په یو ځل درے طلاقه راکړل۔ (ب) دویم دا چه درے طلاقه ئے راکړیدي په درے طهرونو کښې۔ او دلته دا دویمه معنیٰ مراد ده، او اوله معنیٰ دلته صحیح نۀ ده د دوو وجو نه: (أ) یو دا چه درے طلاقه په یو ځل ورکول بدعت دے او د صحابي عمل په بدعت باندے حملول ټیك نۀ دي بلکه په جائز باندے به حملولے شي۔ دارنگه بیا خو جمهورو له پکار دي چه درے طلاقو غورزولو ته مباح ووائي لکه څنگه چه امام شافعيؒ ورته مباح وئیلي او سره ددے نه چه جمهور ورته بدعت وائي۔ لیکن که امام شافعيؒ د طرف نه ووئیلے شي چه دا د هغۀ د مسلك مطابق دے نو بیا (ب) دویمه وجه دا ده چه په بل روایت کښې ددے الفاظو تشریح راغلے ده هغه دا چه [إِنَّهَا قَالَتْ: طَلَّقَنِي آخِرَ ثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ] ما ته ئے درے طلاقو نه آخرنے طلاق (هم) راکړو۔ دے نه معلومیږي چه دا په بیلابیل طهرونو کښې مراد دے۔ [بخاري: ٦٠٨٤، مسلم: ٣٦٠٠] لهذا امام شافعيؒ ددے نه استدلال کول صحیح نۀ شو چه درے طلاقه په یو ځل ورکول مباح دي۔ ځکه چه دا په بیلابیل طهر کښې ورکړے شوي او هغه خو جائز دي۔

۲- دلیل: په باب اللعان کښې د عویمر عجلاني رضي الله عنه په حدیث کښې راغلي: [فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا] (هغۀ ورته د لعان نه روستو درے طلاقه ورکړل)۔ **جواب:** لعان کښې قانون دا دے چه د لعان په وجه ښځه مؤبده حرامیږي، د مور او خور په شان گرځي نو دلته په اجنبیه باندے واقع شویدي، او دا د نبي ﷺ په امر باندے هم نۀ وو شوي بلکه د خپل طرف نه ئے ورکړل، دا وجه ده چه نبي ﷺ پرے رد هم ونکړو ځکه چه دا یو ضائع الفاظ وو چه احکام پرے نۀ مرتب کیدل، لکه پردۍ ښځے ته سړے ووائي چه تۀ طلاقه ئې۔

۳- دليل : [عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا اَلْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ] ابو عمرو بن حفص فاطمه بنت قيس په حالت د غيبوبت كښې په (بَتّه) طلاقو سره طلاقه کړه. [مسلم : ۳۷۷۰] او نبي ﷺ د هغې دپاره نفقه او سكنىٰ ونۀ ئيله. ځکه چه بته درې طلاقو ته وئيلې شي نو درې په درې بدل شول. **جواب :** دا ستدلال په محل د نظر كښې دے، ځكه چه دلته د (بته) طلاق نه مراد دا دے چه په بيلابيل طهرونو كښې ئے ورله درې طلاقه وركړل لكه ددے حديث تفصيل د مسلم په روايت كښې روستو داسے راغلے دے : [أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصِ بْنِ الْمُغِيْرَةِ خَرَجَ مَعَ عَلِيٍّ إِلَى الْيَمَنِ فَأَرْسَلَ إِلَى امْرَأَتِهِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ بِتَطْلِيْقَةٍ كَانَتْ بَقِيَتْ مِنْ طَلَاقِهَا] [مسلم : ۳۷۷۷] يعنى ابو عمرو بن حفص د على بن ابى طالب ؓ سره يمن ته وتلے وو او خپله ښځه ئے مخكښې په دوه طلاقو طلاقه كړې وه) نو د هغې پسے ئے هغه (دريم) طلاق هم راوليږلو كوم چه ددے د طلاقونو نه پاتے وو. نو دلته مجمل روايت په دے مفسر روايت سره واضح شو. لهذا پدے باندے خو استدلال بيخى صحيح نۀ شو.

٤- دليل : دا حديث د ركانه بن عبد يزيد دے، چه دلته ئے (بته) طلاق وركړى او بته طلاق كله درے طلاقه وى او كله يو وى. او دلته ئے ووئيل چه ما د يو طلاق اراده كړے وه. دا دليل دے چه كه د درے طلاقو نيت ئے كړے وے نو دا به واقع كيدے ځكه ترے نبى عليه السلام تپوس كوى. **جواب :** دا روايت پدے الفاظو سره ضعيف جداً دے.

[أَخْرَجَهُ أَبُوْدَاوُدَ الطَّيَالَسِيُّ وَابْنُ عَدِيٍّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ وَقَالَ سَأَلْتُ مُحَمَّدًا أَيِ الْبُخَارِيَّ فَقَالَ فِيْهِ اضْطِرَابٌ وَهٰذَا إِسْنَادٌ ضَعِيْفٌ مُسَلْسَلٌ بِعِلَلٍ : ۱- جَهَالَةُ عَلِيِّ بْنِ يَزِيْدَ بْنِ رُكَانَةَ وَهُوَ مَجْهُوْلٌ قَالَ الْبُخَارِيُّ : لَمْ يَصِحَّ حَدِيْثُهُ قَالَ ابْنُ حَجَرٍ فِي التقريب : إِنَّهُ مَسْتُوْرٌ. ۲- فِيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَلِيِّ بن يزيد بن رُكَانَة ضعيف لا يُتَابَعُ حَدِيْثُهُ قال العقيليُّ فى الضعفاء مُضْطَرِبُ الاسناد وقال فى التقريب لَيِّنُ الحديث. ۳- فيه زبير بن سعيد قال ابن معين ليس بشيء لَيِّنُ الْحَدِيْثِ وقال ابن حجر ضعيف ، وَضَعَّفَ هٰذَا الْحَدِيْثَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ.

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائى : دا روايت ضعيف جدا او كذب دى، د رسول الله ﷺ نه په هيڅ صحيح حديث كښې دا نۀ دى ثابت چه يو تن ښځے ته درے طلاقه وركړى وى او نبى عليه السلام ورله درے په دريو حساب كړى وى. [بَلْ رُوِيَ فِيْ ذٰلِكَ أَحَادِيْثُ كُلُّهَا

کِذْبٌ بِاِتِّفَاقِ اَهْلِ الْعِلْمِ] بلکه دے باره کښے چه کوم روایتو نه راغلی دی هغه ټول دروغ دی په اتفاق د اهل علمو سره. او ددے په مقابل کښے چه کوم روایت راغلے (چه مخکښے مونږ په دویم دلیل د اول قول کښے ذکر کړو) د هغے راویان معروفون دی. چه د هغے تصحیح او تحسین مونږ د علماؤ نه لکه ابوداود، حاکم، وغیره نه نقل کړو. او شیخ الاسلامؒ ورته جید الاسناد وئیلے دے. [إقامة الدليل على إبطال التحليل ٣/ ٩٠ والفتاوى الكبرى : ٣/ ٢٢٥، زاد المعاد ٥٤/ ٢٥٥، حاشية ابن القيم على سنن أبي داود : ٦/ ١٩١]

۵-دلیل : مشوره د عمر فاروق رضی الله عنه په درے طلاقو باندے دلیل دے چه دا اجماع ده.

۱- جواب دا دے چه دا سیاسی حکم وو چه ددے تفصیل مخکښے ذکر شو. چه دا د یو خاص حالت پورے خاص وو، چه کله خلکو په طلاقو کښے بے باکي شروع کړه نو د زجر په طریقه ئے په هغوی باندے نافذ کړو لکه څنګه چه د ابن عباس رضی الله عنه نه دوه فتوے نقل دی، یو د عمر فاروق رضی الله عنه د فتوے مطابق او بل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ارشاد مطابق.

۲ جواب : عمر فاروق رضی الله عنه ددے خپلے فتوے نه رجوع هم ثابته ده لکه دا رجوع په مسند د ابوبکر اسماعیلیؒ کښے په مسند عمر کښے راغلے هغه فرمائی : [مَا نَدِمْتُ عَلٰی شَیْءٍ نَدَامَتِیْ عَلٰی ثَلَاثٍ : اَنْ لَّا اَکُوْنَ حَرَّمْتُ الطَّلَاقَ وَعَلٰی اَنْ لَا اَکُوْنَ اَنْکَحْتُ الْمَوَالِیَ وَعَلٰی اَنْ لَا اَکُوْنَ قَتَلْتُ النَّوَائِحَ] (زۀ په هیڅ شی دومره خپیمانه شوے نۀ یم څومره چه په درے څیزونو خپیمانه شوم، یو دا چه ما ولے طلاق حرام کړل (یعنی درے طلاقه مے په خلکو واقع کړل) او بل دا چه غلامانو ته مے د نکاح اجازت ولے نۀ ورکولو. او بل دا چه ویر کونکے ښځے مے ولے نۀ وژلے. [اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : ١/ ٣٣٦].

نو عمر فاروق رضی الله عنه ته هم په آخره کښے معلومه شوه چه پدے کار کښے فائده نۀ وه او مسلمانانو باندے د جواز لارے بندول وو نو پدے وجه خپیمانه شو.

دارنګه خلك سره ددے نه بیا هم کنټرول نشو او درے طلاقونه به ئے ورکول نو عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل : چه فساد په هغه خبره ختمیږی کوم باندے چه خلك په اوله زمانه کښے وو. څکه چه انسان پدے سره د حلالے د لعنت نه خلاصیږی او عزتونه محفوظ کیږی او د خاوند او ښځے افسوسونه ختمیږی. (قاله الحافظ ابن قیمؒ)

نو ددے نه ثابته شوه چه په ټولو زمانو کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واخله تر اُوس دور پورے ډیر اهل علم درے طلاقه په یو باندے بدلوی.

لهذا همدا مذهب په ټولو مذاهبو کښې د دلیل په لحاظ سره قوي او **راجح** دے۔

۲- مسئله : (فَرَدَّهَا اِلَيْهِ) (۱) د عامو علماؤ مذهب دا دے چه طلاق بائن پدے معنیٰ نشته چه لفظ کنائی استعمال کړی او ښځے ته رجوع صحیح نۀ وی مګر په تجدید د نکاح سره بلکه په الفاظ کنائی سره طلاق رجعي واقع کیږی چه بغیر د نکاح تازه کولو نه په عدت کښې رجوع کول صحیح وی۔ (۲) د امام ابوحنیفهؒ مذهب دا دے چه طلاق بائن په دغه معنیٰ باندے شته او رجوع به کوی په نوے نکاح سره نو د دوئ مذهب دد ے حدیث خلاف دے نو په اوله مسئله کښې ئے د حدیث په اول استدلال کړے او په دے مسئله کښې ئے د حدیث د آخری جملے مخالفت کړیدے او وائی چه (فَرَدَّهَا اِلَيْهِ) معنیٰ دا ده چه په نوے نکاح سره او مهر او ولي او خطبے سره ئے واپس کړه لیکن دا قیودات په هیڅ حدیث کښې نشته، لهذا ظاهر د حدیث (که ثابت شي) دا دے چه رجعي طلاق واقع دی، نۀ بائن په دغه مذکوره معنیٰ سره، پدے وجه حافظ ابن قیمؒ وئیلی دی چه د بائن دپاره دوه معانی دی : یوه دا چه د دخول (او نزدیکت) نه مخکښې طلاق ورکړی نو دا بائن طلاق شو، او دویم دا چه په بیلابیل درے طهرونو کښې درے طلاق ورکړی نو ښځه بائنه شوه یعنی د خاوند نه جدا شوه۔

درجة الحديث :[إسناده جيد] ابوداود : ۲۲۰۶، ابن ماجه : ۲۰۵۱، الترمذی : ۱۱۷۷۔

نکاح او طلاق په خندا کښې هم واقع کیږی

3284 (11) - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ : قَالَ : " **ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ، وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ : اَلنِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالرَّجْعَةُ**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : درے خبرے داسے دی : که هغه په سنجیدګئ (رشتیاؤ) سره وویل شی نو هم پخے دی او که په ټوقه کښې وویل شی نو هم پخے دی : یوه نکاح، دویم طلاق او دریم رجوع۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن غریب دے)

تشریح: [ثَلَاثٌ] درے شیان یا درے خویونه دی۔ په دے کښې غرض حصر نۀ دے ځکه روستو روایت کښې عتق هم راغلے چه د هغے سره دا څلور شیان جوړیږی۔ [وَهَزْلُهُنَّ

جِدٌّ] (هَزْلٌ) : ټوقو تـه وائـي، یعنـي داسـې ویـنا یا داسـې کار کول چه د لوبو ټوقو په توګه وي، د هغې حقیقت مراد نهٔ وي بلکه ګپ لګول مراد وي. او (جِدٌّ) ددې ضد دې یعنې په رشتیا سره یو کار یا یوه وینا کول. [وَالرِّجْعَةُ] د راء زور او زیر دواړه صحیح دي، د طلاق ورکولو نه پس خپلې ښځې ته رجوع کول، هغه بیرته خپله ښځه جوړول.

فوائد : (۱) ددې حدیث نه معلومه شوه چه نکاح، طلاق، رجعت او عتاق په ټوقو او ګپ کښې هـم ثابتیږي، دې وجـې نـه متـکلم له پکار دي چه په دې باره کښې خپله خُله کـنټرول کـړي او صـرف پـه قصد او نیت سره په دې باره کښې خبرې کوي، نهٔ په ټوقو او ګپ کښې. ځـکـه دا شیـان پـه ټـوقـو سره هم ثابتیږي. او دا ځکه چه دا شیان ډیر عظیم امور دي چه ددې تعلق د نورو خلکو سره دې. نو که څوك چاته ووائي: ما تاله خپله لور پـه نـکـاح درکـړه او هغه بل ووائي: ما قبوله کړه او د نکاح شرطونه پوره وي نو دا نکاح وشوه، اګرکه پلار وائي چه ما خو درسره ټوقې کولې او ګپ مې لګولو. دا خبره به صحیح نـهٔ وي. دارنـګـه کـه یـو تن خپلې ښځې ته ووائي : تهٔ طلاقه ئې نو په دې سره طلاق واقع شو اګرکه خاوند وائي چه ما ټوقې کولې.

او دا شان که طلاقې شوې ښځې ته ووائي: ما تاته رجوع وکړه، یا عملي رجوع وکړي نو دا رجـوع صـحیـح شـوه او طـلاق ختـم شـو، اګـرکـه خـاونـد وائي چه ما خو ټوقې کولې. دارنـګـه کـه یـو تـن خپـل مرئي ته ووائي : تهٔ آزاد ئې نو هغه آزاد شو، اګرکه مولیٰ وائي چـه مـا خـو ټـوقـې کـولـې. او دا د جـمهورو اهلِ علمو قول دې. علامه ابن قیمؒ فرمائي : همدا د صحابه کرامو او تابعینو ﷺ نه ثابت شوې خبره ده. [اعلام الموقعین: ۳/۱۳٦]

وجـه داده چـه ټـوقـې کـونـکـې د لفظ وئیلو قصد او اراده لرونکې دې او ددې په معنیٰ او نتیـجـه پـوهـیـدونـکـې دې، خـو ددې د حـکـم اراده نهٔ لري او نهٔ ددې الفاظو التزام کوي. لیـکـن پـه اسبابو باندې احکام مرتب کول دا د شارع کار دې نهٔ د عاقد (الفاظ ویونکي) نـو هر کله چه مکلف په سبب خُلهٔ وخوزوي نو په دهٔ باندې ددې الفاظو حکم لازم شو او اثـر ئـې مـرتـب شـو، برابره خبره ده که دهٔ خوښه وي اوکه نه، ځکه دا دهٔ په اختیار پورې تعلق نهٔ لري.

بـلـه دا چـه : ټـوقـې کـونـکـې پـه خپلو خبرو باندې زانیول انتهائي مناسبه خبره ده، ځکه چـه پـه دې سره بـه دې پـه شرعي احکامو کښې د ټوقو کولو نه ځان وساتي. بله دا چه :

طلاق ورکونکے چرے دا دعویٰ ونۀ کړی چه ما توقے کولے۔ [زاد المعاد: ۲۰۴/۵، اعلام الموقعین: ۱۳۶/۳]

علامه خطابیؒ فرمائی : د عامو اهلِ علمو په دے اتفاق دے چه کله د یو عاقل بالغ په ژبه د طلاقو صریح لفظ جاری شی نو دا به په دے رانیول کیږی او دۀ له دا خبره فائده نۀ ورکوی چه ما توقے کولے یا مے د طلاقو اراده نۀ لرله۔ بعضِ علماؤ په دے باره کښے ددے آیتِ کریمه نه استدلال کړے : ﴿وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللهِ هُزُوًا﴾ [البقرة: ۲۳۱] (د الله آیتونو نه توقه مۀ جوړوئ) ددے نه معلومه شوه که خلکو له ددے اجازت ورکړے شی نو شرعی احکام به معطل شی او طلاق ورکونکے یا نکاح کونکے یا آزادونکے به دا وائی چه ما توقے کولے، نو په دے سره به د الله تعالیٰ احکام باطل کړے شی حالانکه دا کار جائز نۀ دے۔ نو په دے حدیث کښے چه کوم شیان راغلی که په هغے څوك خُلهٔ وخوزوی نو هغه به په هغۀ باندے لازم وی او د هغۀ دا دعویٰ به قبوله نۀ وی چه ګنے ما توقے کولے، دے دپاره چه د شرمګاهونو په باره کښے د احتیاط نه کار واخستل شی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

[معالم السنن: ۱۱۹/۳]۔ دارنګه ددے په حکم کښے د کفر کلمات وئیل هم داخل دی چه که چا په توقو کښے د کفر کلمات ووئیل یا ئے د رسول الله ﷺ پسے استهزاء او ګستاخی وکړه نو دا به هم پدے باندے کافر کیږی اګرکه دے ډیر ووائی چه ما توقے کولے، او حقیقت مے اراده نۀ وو۔ په دین کښے به ډیر په احتیاط باندے چلیږے۔ البته ددے نه خطائی او اکراه صورت مستثنیٰ دے، یو تن خپلے ښځے ته د اُوبو راخستو حکم کوی او خولے نه ئے اُوځی چه تۀ طلاقه ئے نو دا به دیانةً په حقه وی، او ښځه به ئے نۀ طلاقیږی، نو د خطاء او د توقو ترمینځ فرق وی، توقو کښے اراده وی، او په خطاء کښے اراده نۀ وی۔ دغه شان دغه مذکوره نور احکام هم دغه شان دی۔

اختلاف : آیا د توقی کونکی شخص طلاق واقع کیږی ؟

(۱) قول د جمهورو اهل علمو دے چه د توقے کونکی شخص طلاق واقع کیږی۔

(۲) په دے کښے دویم قول دادے چه : د توقے کونکی طلاق نۀ واقع کیږی، او دا د مالكؒ او احمدؒ یو قول دے، او علامه شوکانیؒ بعضِ نورو علماؤ ته هم منسوب کړے۔ دوئ نقلی او عقلی دلیل پیش کوی۔ **نقلی** دلیل دا آیتِ کریمه دے : ﴿وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ

اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ [البقرة: ۲۲۷] نو دے نه معلومه شوه چه په طلاقو کښے عزم معتبر دے، او د تړوقے کونکی دپاره عزم نۀ وی۔ او **عقلی** دلیل دادے: چه تړوقے کونکی نۀ د طلاقو اراده کړے او نۀ ئے ددے د معنیٰ اراده کړے نو بیا څنګه ددے تقاضا په هغۀ مرتبه شی؟

او هر چه احادیث الباب دی: نو دوئ وائی چه په دے کښے ضعف دے، دا ددے پشان عظیمو مسائلو دپاره کافی نۀ دی، ځکه په دے باره کښے مضبوط او قوی دلائل پکار دی۔ [انظر: الشرح الکبیرمع الانصاف: ۲۲/ ۲۱۶، اغاثة اللهفان فی حکم طلاق الغضبان، ص: ٦۱، نیل الأوطار: ۷/ ۲٦٤]۔ مګر اول قول د دلیل په اعتبار سره زیات قوی دے، ځکه چه ددے احادیثو دپاره اصل شته۔

درجة الحدیث: [صحیح بشواهده] ابوداود: ۲۱۹٤، وابن ماجه: ۲۰٤٦،، دارقطنی: ۳٦۳۵، الحاکم: ۲۸۰۰، وحسنه الترمذی: ۱۱۸٤،: واسناده ضعیف فیه عبد الرحمن بن حبیب بن أردك وفیه لین (قاله الذهبی) وَلٰکِنْ لَهُ شَوَاهِدُ قَدْ يُتَقَوّىٰ بِهَا، وَحَسَّنَهُ الْأَلْبَانِیُّ فی الارواء: (۱۸۲٦).

په زوره سره ورکړے شوے طلاق واقع کیږی او که نۀ؟

3285 (12) — وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "**لَا طَلَاقَ وَلَا عِتَاقَ فِیْ إِغْلَاقٍ**". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَهْ قِيْلَ: مَعْنَى الْإِغْلَاقِ: اَلْإِكْرَاهُ.

ترجمه: عائشه رضی الله عنها فرمائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے: طلاق او مرئی آزادول په اغلاق (اکراه یا غصه) کښے نۀ صحیح کیږی۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ) وئیلے شویدی: چه د اغلاق معنیٰ ده اکراه۔

تشریح: [فِیْ إِغْلَاقٍ] ددے درے معانی دی: (۱) اغلاق کله اکراه ته وائی۔ یعنی چا باندے زور وکړے شی چه خامخا طلاق واچوه یا مرئے آزاد کړه ګنے وژنم دِے او دے وخت کښے دِے ښځه طلاقه کړی یا مرئے آزاد کړی نو دا نۀ طلاقیږی او نۀ آزادیږی۔ بیا اکراه دوه قسمه ده (أ) اِکراه مُلجیء: چه انسان مجبوره شی په قتل یا په اندامونو پریکولو یا جیل ته په اچولو۔ (ب) اکراه غیر ملجیء: چه پوره مجبوره شوے نۀ وی لکه ښځه ورته ګواښ وکړی یا داسے یو تن چه دۀ ته معلوم وی چه دا هسے دهمکی ده۔ نو په دویم صورت کښے تقریباً اتفاق دے چه دا حقیقی اکراه نۀ ده، په دے کښے طلاق او عتاق واقع کیږی۔ او په اکراه ملجیٔ کښے **اختلاف** دے: (۱) د احنافو قول دا دے چه د مُکْرَهْ طلاق

واقع کیږي، **دلیل** :۱- دویم د آیتونو د عموماتو نه استدلال کوي لکه (فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ) (چه ښځو ته طلاق ورکړئ د عدت په وخت) نو دلته امر مطلق دے، هر چا چه طلاق ورکړل هغه به واقع کیږي۔ **جواب** : دا استدلال صحیح نهٔ دے، وجه دا ده چه دلته امر سړي ته دے او په امر باندے هله عمل وي چه کله د انسان وسع وي، الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ (د الله تعالیٰ نه د خپل وس مطابق یره وکړئ)

۲- **دلیل عقلي** : هغه دا چه سړي لره په اکراه کښے هم اختیار باقي وي ځکه چه هغهٔ ته داسے وئیل شوي وي چه یا قتل غوره کړه یا طلاق ورکړه نو اختیار د قتل او د طلاقو ترمینځ راغلو او په حالت د اختیار کښے طلاق واقع کیږي۔ **جواب** : د قتل او د طلاق ترمینځ اختیار ورکول اختیار نهٔ دے، ځکه چه قتل فطرةً د هیچا خوښ نهٔ دے نو سړے به خامخا طلاق غوره کوي، نو گویا کښے سړي ته ووئیل شو چه طلاق واچوه نو دے په یو امر کښے مجبوره دے، او اختیار هله صحیح وي چه دواړو طرفونو کښے مجبورتیا نهٔ وي او دلته قتل کښے مجبوره دے، البته که دریے امور جمع کړي بیا به اختیار باقي وي لکه داسے ورته ووائي چه یا قتل غوره کړه یا طلاق واچوه یا مال راکړه او ددهٔ سره مال وي۔ نو که دے طلاق غوره کړي بیا به دهٔ په خپل اختیار طلاق ورکړي وي۔ بیا به پرے واقع کیږي لیکن د مرگ او د طلاقو ترمینځ اختیار نهٔ وي۔ او د مرگ او د طلاق ترمینځ فاسد او ضعیف اختیار دے، او ددهٔ نه هغه تام او صحیح اختیار نهٔ دے صادر شوے چه په هغے باندے شرعي احکام جاري کیږي۔ ځکه دهٔ د توري او توپك د ویرے دا الفاظ استعمال کړي۔

(۲) **قول** : جمهور علماء وائي چه د مُکرَه طلاق نهٔ واقع کیږي، او دا د عمر، علي، ابن عمر، ابن عباس، ابن الزبیراو نورو صحابه کرامو ﷺ نه نقل دي۔ او دا د ائمه ثلاثهٔ قول دے۔ او هم دا د امام بخاريؒ، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، ابن قدامهؒ، شوکانيؒ، ابن حزمؒ، او د سعودي د مستقلے فتوے کمیټۍ فتویٰ ده۔ **دلائل** :

۱- **دلیل** : قرآن کریم کښے دي : ﴿ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ ﴾ (النحل) که په چا باندے په کلمه د کفر سره اکراه وشوه نو د هغے اجازه ده، پدے سره هغه د اسلام نه نهٔ وځي چه اسلام لا اعلیٰ شے دے نو په طلاق کښے به په طریق اولیٰ سره نهٔ واقع کیږي چه دا ادنیٰ شے دے۔

۲- **دلیل** : چه په چا باندے په زوره طلاقه واچول شي نو هغهٔ د طلاق ورکولو اراده

نۀ ده کړے بلکه هغۀ د خپل ځان نه د ضرر لرے کولو دپاره په خُلۀ باندے د طلاق لفظ جاري کړے۔ او نبی کریم ﷺ فرمائی : [إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ] او دۀ د طلاقو نیت نۀ دے کړے۔ **۳- دلیل** : دا حدیث الباب دلیل دے چه (طلاق او آزادول په زبردستئ سره نۀ واقع کیږی) [أبوداود: ۲۱۹۳، ابن ماجه: ۲۰٤٦، أحمد: ٤٣/۳۷۸، وحسنه الألباني بمجموع طرقه: ارواء: ۷/۱۱۳] **٤- دلیل** : عبد الله بن عباس ﷺ روایت دے : [اَلطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ] طلاق د حاجت په وجه وی۔ او دا خبره ئے د قرآن کریم نه معلومه کړیده : ﴿إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا﴾ (الاحزاب: ۳۷) (کله چه دوئ د زنانو نه خاجت پوره کړی)۔ او پدے باره کښې نور آثار د صحابه کرامو ﷺ په مصنف عبد الرزاق او ابن ابی شیبه کښې د علی ﷺ وغیره نه راغلی دی چه د مُکره طلاق نۀ واقع کیږی۔

صحیح خبره د جمهورو علماؤ ده چه په زبردستئ سره طلاق نۀ واقع کیږی، د دلیل په اعتبار سره همدا قوی دے۔ علامه ابن قیمؒ فرمائی : ځوك چه د شریعت دلائل وګوری هغۀ ته به دا واضحه شی چه شارع هغه الفاظ لغوه ګرځولی چه متکلم د هغے د معنو اراده نۀ وی کړے بلکه غیر اختیاری طور سره د هغۀ د خُلے نه وتی وی، لکه اُودۀ، هیرے والا، بیخوده، ناپوهه، زبردستی کړے شوے او خطا شوے تن۔ [إعلام الموقعين: ۳/۱۰۷]

بیا د اِکراه دپاره جمهور علماء درے **شرطونه** ښائی : (أ) زبردستی کونکے چه کومه دهمکی ورکوی، د هغے په نافذولو به قادر وی۔ (ب) په چا چه زبردستی کیږی د هغۀ غالب ګمان به ددے دهمکئ د نافذولو وی۔ (ج) زبردستی به په وژلو، سخت وهلو یا بچی له په عذاب ورکولو یا په مال اخستلو سره وی۔

تنبیه : ددے نه هغه اکراه مستثنیٰ ده چه هغه په حق سره شوے وی، چه په دے سره طلاق واقع کیږی، لکه یو سړی د خپلے ښځے سره ایلاء کړے وی او څلور میاشتے تیرے شی او رجوع کولو نه انکار کوی نو حاکم به په دۀ باندے په زوره طلاق وغورزوی او کله چه هغۀ طلاق واچول نو دا طلاق واقع کیږی، ځکه دا په حق سره اکراه او زبردستی ده۔ والله تعالیٰ اعلم۔

(۲) دویمه معنیٰ د اغلاق : [إِرْسَالُ الطَّلَاقِ الثَّلَاثِ دَفْعَةً وَاحِدَةً]۔ یعنی درے طلاقه په یو ځل غورزول نشته۔ نو معنیٰ دا شوه چه درے طلاقه په یو ځل نۀ واقع کیږی نو بیا

سوال پیدا شو چه دا خو د شیعه ګانو مذهب ثابت شو، نو **جواب** دا دے چه نفی به په معنیٰ د نهي سره وی، او مطلب دا دے چه دریے طلاقه په یوځل مهٔ ورکوئ۔ لهذا پدے کښے د امام شافعیؒ په مذهب هم رد وشو چه هغه وائی دریے طلاقه په یوځل ورکول مباح دی۔

(۳) معنیٰ د اغلاق غضب دے،

آیا په غضب کښے طلاق واقع کیږی؟

نو بیا د غضب (غصے) په حالت کښے د طلاق په واقع کیدو کښے اختلاف دے، لیکن اول کښے غضب په دریے قسمه دے (۱) اول صورت: سړے غصه دے، خو هوش کښے دے نو په اتفاق علماؤ سره ددهٔ طلاق واقع کیږی۔ (۲) صورت: ددے برعکس دومره غصه دے چه عقل او هوش ئے د لاس نه ورکړے، د طلاق الفاظ ددهٔ د خولے نه وتلی دی او دهٔ ته یاد هم نهٔ دی نو پدے کښے حافظ ابن قیمؒ لیکی چه دا طلاق په اتفاق د علماؤ سره نهٔ واقع کیږی ځکه چه دا انسان مغلوب العقل دے چه روستو حدیث کښے ددهٔ حکم راځی۔ (۳) دریم صورت: دا غضب درمیانه درجه کښے دے چه نهٔ بالکل بیهوشئ حالت کښے دے او نهٔ بیخی بیدار دے، څه نا څه سوچ ئے برابر دے، پدے پوهیږی چه د خولے نه مے د طلاق الفاظ وتلی دی، نو پدے کښے اکثر علماء وائی چه دا طلاق واقع دی۔ مګر حافظ ابن قیمؒ وائی چه دا طلاق هم نهٔ واقع کیږی، هغهٔ سره عام دلائل دی:

دلیل: ۱-لکه آیت دے: ﴿وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُم بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ﴾ [یونس: ۱۱] (که الله تعالیٰ خلکو ته په جلتئ شر ورکولے ځنګه چه په جلتئ سره خیر ورکوی نو د دوئ نیته به پوره شوے وے)

امام مجاهدؒ وائی: دا د انسان خپلو بچو او مال ته خیرے دی چه کله هغوی ته غصه شی چه اے الله! پدے کښے برکت مهٔ اچوه، پدے لعنت وکړه نو که الله تعالیٰ دا زر قبلولے لکه ځنګه چه خیر زر قبلیږی نو دوئ به هلاك شوی وے۔ نو دلته غضب د دعاء د قبلیدو نه مانع جوړ شو پدے وجه چه غصه انسان په زړهٔ کښے قصد نشته ځکه چه یو عاقل انسان د خپل ځان او اهل او مال هلاکیدل نهٔ خوښوی کوم ته چه دے ښیرے کوی نو د الله تعالیٰ د رحمت تقاضا دا شوه چه الله تعالیٰ پدے باندے رانیول نهٔ کوی، او ددهٔ دعاء نهٔ قبلوی ځکه چه دا ددهٔ نه بغیر د قصد او ارادے نه راوتی دی بلکه دا غصے

راویستلی دی کوم چه د شیطان د طرف نه ده۔

۲- دلیل : موسیٰ علیه السلام د غصے په حالت کښې د تورات تختئ وغورزولے (لکه حدیث او آیت کښې همداسے الفاظ دی) او د غصے په وجه ئے د خپل پیغمبر ورور (هارون علیه السلام) سر او ګیره مبارکه ونیوله او رابنکله ئے، او سره ددے نه چه الله تعالیٰ په هغهٔ باندے پدے کار کښې ملامتیا ونهٔ وئیله ځکه چه هغه د غصے په حالت کښې وو بلکه الله تعالیٰ معذوره وګڼړلو، ځکه چه دا کار ددهٔ په اختیار کښې نهٔ وو۔

۳- دلیل : ارشاد دے : ﴿ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ﴾[الاعراف : ۲۰۰]
طریقه د استدلال دا ده چه د غصه انسان نه چه کوم رد بد یا کنځل یا طلاق وغیره الفاظ وځی نو دا د شیطان وسوسه او چونډاره او لمسه وی، هغه ئے دے وینا ته مجبوره کړی چه ددهٔ په اختیار کښې نهٔ وی۔ هرکله چه بنده د شیطان په وجه مجبوره شوے وی نو دا د بنده په اختیار سره نهٔ شو نو پدے باندے به حکم نهٔ مرتب کیږی۔

۴- دلیل : دا حدیث الباب دے۔ چه د اغلاق معنیٰ ده غضب۔ اغلاق په اصل کښې بندش ته وائی، ځکه چه دلته هم ددهٔ څه نا څه دماغ بند شویدی۔

۵- دلیل : روستو مسئله کښې راځی چه د سکران (نشائی) طلاق نهٔ واقع کیږی نو غضب والا کله د هغهٔ نه هم ډیر بد حاله وی، ځکه چه نشائی ځان نهٔ وژنی او نهٔ ځان کندے ته غورزوی او نهٔ خپل بچی وژنی او غضبناك کله دا کارونه هم کوی۔

۶- دلیل : د قسم په باره کښې الله فرمائی : ﴿ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ﴾ (البقرة : ۲۲۵) الله تعالیٰ تاسو په فضول قسمونو نهٔ رانیسی لیکن تاسو په هغه خبره رانیسی چه ستاسو زړونو د هغے کسب (اراده) کړے وی۔ او د غضبان طلاق د هغهٔ د زړهٔ نه نهٔ وی۔ باقی دلائلو دپاره د حافظ ابن قیمؒ کتاب اغاثة اللهفان ته رجوع پکار ده۔

درجة الحديث :[حسن بمجموع الطرق] ابوداود : ۲۱۹۳، ابن ماجه : ۲۰۴۶، اسناده ضعيف محمد بن عبيد ضعيف وذكره ابن حبان في الثقات (۲/۲۵۸) ولكنه ليس بالمشهور وللتفصيل راجع الى الارواء (۲۰۴۸).

یوم عید الفطر ۴/جون/۲۰۱۹ (۱۴۴۰ھ)

د ليونی طلاق نۀ واقع کيږی

3286 (13) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقُ الْمَعْتُوهِ وَالْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَعَطَاءُ بْنُ عَجْلَانَ الرَّاوِي ضَعِيفٌ ذَاهِبُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: هر طلاق واقع کيږی مګر د معتوه (ليونی) او مغلوب العقل طلاق نۀ واقع کيږی۔ (ترمذیؒ) او ترمذیؒ وئيلی دی چه دا حديث غريب دے او عطاء بن عجلان راوی ضعيف دے، د هغۀ حافظه په حديثو کښې محفوظه نۀ وه۔

تشريح: [كُلُّ طَلَاقٍ]۔ دا کل عرفی ده، نۀ کل استغراقی، يعنی عرف کښې چه کوم طلاق وی لکه سړے عاقل بالغ وی نو دا واقع دی۔ يا معنیٰ دا ده چه [كُلُّ طَلَاقٍ مَعْرُوفٍ فِي الشَّرْعِ]۔ په شريعت کښې هر طلاق معلوم دی، سویٰ ددے روستنو کسانو د طلاق نه چه شريعت دا نۀ پيژنی يعنی دا طلاق صحيح نۀ دی۔

[الْمَعْتُوهِ]۔ دا د عَتَه نه دے، د عقل نقصان ته وائی۔ چه پدے کښې ليونے، ماشوم، او نشائی تول داخليږی۔ قاموس کښې دی: [عُتِهَ كَعُنِيَ، عَتْهًا وَعُتْهًا وَعُتَاهًا فَهُوَ مَعْتُوهٌ نَقَصَ عَقْلُهُ أَوْ فُقِدَ أَوْ دُهِشَ]۔ عته او عُتاه د عقل نقصان يا ختميدل يا حيرانيدو ته وائی۔ پدے معنیٰ باندے عته ليونتوب ته هم شامل دے۔

[الْمَغْلُوبُ عَلَى عَقْلِهِ] هغه انسان چه د هغۀ په عقل باندے غلبه شوی وی۔ دا تفسير دے د معتوه۔ پدے وجه په بعض نسخو د مشکاة کښې دا بغير د واو نه راغلے دے۔

مسئله: آيا د سکران (نشائی) طلاق واقع کيږی او که نه؟

دا حديث او روستو راتلونکے حديث دليل دے چه د ماشوم، ليونی او اُودۀ شخص طلاق نۀ واقع کيږی۔ خو پدے کښې اختلاف دے (۱) جمهور علماء وائی چه د نشائی طلاق واقع کيږی او دا به د زجر او سزا په طريقه په دۀ باندے واقع کيږی۔

(۲) **قول** دادے: چه په دے صورت کښې هم طلاق نۀ واقع کيږی۔ او دا د عثمان ﷺ، عطاءؒ، طاووسؒ، عمر بن عبد العزيزؒ، امام بخاریؒ، بعض احنافو، او شوافعو کښې د مزنیؒ

قول دے، شيخ الاسلام ابن تيميةؒ، ابن قيمؒ او شيخ محمد بن ابراهيمؒ ديته ترجيح ورکړے۔ [مصنف عبد الرزاق: ٦/٨٣، ابن أبى شيبة: ٥/٣٩، المحلى: ١٠/٢١٠، فتح البارى: ٩/٣٩١، المهذب: ٢/٩٩، فتاوى ابن تيمية: ٣٣/١٠٢، زاد المعاد: ٥/٢١٠، الفتاوى: ١١/١١]

عثمان ﷺ فرمائى: [لَيْسَ لِمَجْنُوْنٍ وَلَالِسَكْرَانَ طَلَاقٌ] (د ليونى او د بيخوده شخص طلاق نهٔ واقع کيږى) [ابن أبى شيبة: ٥/٣٠، بيهقى: ٧/٣٥٩، صحيح: ارواء: ٧/١١٢، علقه البخارى: ٩/٣٨٨، فتح] د اُودهٔ هم دا حکم دے۔

دليل: ١- عبد الله بن عباس ﷺ فرمائى: [اَلطَّلَاقُ عَنْ وَطَرٍ] طلاق د حاجت په وجه وى۔ ٢- **دليل**: د اُودهٔ انسان طلاق نهٔ واقع کيږى نو نشائى هم د اُودهٔ په شان بندو دماغو والا وى۔ ٣- **دليل**: د معتوه (ليونى) طلاق نهٔ واقع کيږى نو دغه شان د نشائى هم دے۔ ٤- دليل: الله تعالىٰ د نشے په حالت کښے مونځ ته د نزدے کيدو نه منع فرمايلے: ﴿حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ﴾ [النساء: ٤٣] ځکه نشائى سړے چه څهٔ وائى په هغے نهٔ پوهيږى او څوك چه داسے وى نو هغه څنګه مکلف کړے شى او د هغهٔ ورکړى طلاق څنګه نافذ کړے شى؟!

پاتے شوه دا خبره د جمهورو چه دهٔ له په دے باندے سزا ورکول پکار دى، نو دا خبره د دوو وجو نه قابلِ غور ده: (يو) خو د نشائى سړى سزا شريعت مقرر کړے چه هغه دُرے وهل دى نو بلے غير شرعى سزا ورکولو ته حاجت نشته۔

شيخ شوکانىؒ فرمائى: شريعت د نشائى دپاره دا حد نهٔ دے مقرر کړے چه طلاق به ئے زجراً واقع وى بلکه شريعت ورله دُرے وهل حد مقرر کړے نو شريعت د طلاق نافذ کول د هغهٔ دپاره زجر مقرر نکړو نو مونږ به ئے هم نهٔ مقررو۔

(دويم): پکار داده چه عقوبت او سزا د مجرم نه غير مجرم ته تجاوز ونهٔ کړى، او دلته سزا ددهٔ ښځے او بچو ته هم تجاوز کوى، هغوئ ورسره هم غرقيږى۔ لهذا پکار ده چه ددهٔ طلاق واقع نشى۔ او همدا قول راجح دے۔ د دغه دلائلو په وجه سره، والله اعلم۔

درجة الحديث: [ضعيف جدا] الترمذى: ١١٩١، و قال: لا نعرفه مرفوعاً الا من حديث عطاء بن عجلان وعطاء بن عجلان ضعيف ذاهب الحديث، قلت: والصواب فيه انه موقوف كما فى الارواء (٢٠٤٢) وقال الحافظ: انه ضعيف جدًا۔ (فتح البارى) وقال فى الدراية: ٢/٦٩ وتغليق التعليق ٤/٤٥٨: اسناده موقوفا على على صحيح.

درے کسان مرفوع القلم دي

3287 (14) – وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ": **رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثَةٍ : عَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَبْلُغَ وَعَنِ الْمَعْتُوْهِ حَتّٰى يَعْقِلَ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ. 3288 (15) وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْهُمَا

ترجمه : علي ﷛ نه روایت دے چه نبي ﷺ وفرمایل : درے کسانو نه قلم پورته شوے (یعني د دوئ ګناه نهٔ لیکل کیږي) (یو) د اودهٔ نه تردے چه بیدار شي، (دویم) دِ ماشوم نه تردے چه بالغ شي او (دریم) د لیوني نه تردے چه عقلمن شي (ترمذيؒ، ابوداوُدؒ) او دارميؒ د عائشے ﷞ نه او ابن ماجهؒ د دواړو نه روایت کړے۔

تشریح : [رُفِعَ الْقَلَمُ] قلم دوه قِسمه دے : (أ) قَلَمُ الْقَدَر (ب) قَلَمُ التَّكْلِيْف۔ دلته دا دویم مراد دے ځکه قلم القدر د هیچا نه نهٔ پورته کیږي بلکه د هر چا عملونه او تصرفات لیکي او د رفع نه مراد دادے چه د سره جاري شوے نهٔ دے، او دا مطلب نهٔ دے چه ګنے اول په دے کسانو قلم کیښودل شو او بیا پورته شو۔ او قلم پورته کیدل کنایه ده دِ عدم تکلیف نه، یعني دا مذکوره کسان مکلف نهٔ دي۔ او بعضِ وائي : ددے نه مراد هغه حقیقي قلم دے چه هغه په دے حدیث کښے راغلے :

[أَوَّلُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ الْقَلَمُ] [أبوداود: ۴۷۰۰، ترمذی: ۲۱۵۵، صحیح بشواهده]

دارنګه قلم دوه قسمه دے (۱) قلم المواخذه۔ او دلته همدا مراد دے چه دا ددے درے کسانو نه پورته شوے یعني ددے کسانو اخروي نیوکه نهٔ کیږي (۲) قلم الثواب۔ نو دا د ماشوم په باره کښے نهٔ دے پورته شوے۔ وجه داده چه د ماشوم اسلام راوړل صحیح دي، لکه یو یهودي ماشوم ته نبي ﷺ د اسلام دعوت ورکړو او هغهٔ اسلام قبول کړو۔ [بخاری: ۱۳۵۶] دارنګه ماشوم چه کوم طاعات او عبادات : مونځ، روژه، حج کوي نو ثواب ئے کیږي، لکه د مونځ په باره کښے راځي : [مُرُوْا أَبْنَائَكُمْ بِالصَّلَاةِ لِسَبْعٍ ......] [ابوداود : ۴۹۵] (خپلو بچو ته په اووهٔ کلنئ کښے د مانځه حکم کوئ)۔ او یوے ښځے د خپل ماشوم د حج په باره کښے نبي کریم ﷺ نه پوښتنه وکړه چه : آیا ددهٔ حج کیږي؟ ورته ئے وفرمایل: ((هو ! او ستا دپاره به اجر وي))۔ (مسلم : ۳۳۱۷)

دارنګه پورته کیدل هم په دوه قسمه دی: (۱) رَفْعُ الْإِثْمِ۔ یعنی چه ګنا هګار نهٔ دے۔ (۲) رفع مطلق: یعنی د هیڅ حق پرے نهٔ مرتب کیږی، خو دلته به کله یوه معنیٰ مراد وی او کله بله، یعنی په بعضو کښے به احکام مرتب وی لیکن ګنا هګار به نهٔ وی لکه نائم (اُودهٔ انسان) چه کله مُحتلم شیٔ نو ګناه پرے نشته خو حکم پرے شته هغه دا چه غسل به کوی او مونځ پرے فرض شو۔ دارنګه که یو صبی (ماشوم) قتل وکړو نو مرفوع الاثم والقصاص دے، (ګناه او قصاص به پرے نهٔ وی) لیکن دیت پرے واجب دے چه ددهٔ عاقله (یعنی خپلوان) به ئے ورکوی۔ دارنګه په معتوه باندے هم دیت شته اګرکه ګناه او قصاص پرے نشته۔ او رفع مطلقا لکه ماشوم روژه نهٔ نیسی نو نهٔ پرے ګناه شته او نهٔ پرے کفاره۔ دارنګه یو سړے اُودهٔ دے په خوب حالت کښے ورته د مانځه حکم متوجه دے لیکن ساقط ترے نهٔ دے بلکه چه رابیدار شو نو مونځ به کوی او پدے شیانو کښے رفع الاثم (د ګناه پورته کیدل) ضروری دی۔ بل تعبیر دادے چه خطاب دوه قسمه دے (۱) خطاب التکلیف نو دا ترے اُوچت دے۔ او (۲) بل خطاب الوضع دے، هغه نهٔ دے اُوچت۔ او خطاب وضع دیته وائی چه یو شے د بل شی دپاره سبب یا مانع یا شرط وګرځی نو جنون مانع دے د تکلیف د مجنون نه، او ابوة (پلار کیدل) مانع دے د قتل د پلار نه کله چه خپل ځوی قتل کړی، دا څیزونه د مکلف په قدرت کښے نهٔ دی۔ او تفصیل ئے په الوجیز ص (۲۷) د عبد الکریم زیدان کښے وګوره۔

[عَنِ النَّائِمِ] د اودهٔ انسان په عقل باندے پرده وی، عقل ئے سالِم وی خو استعمالولے ئے نشی۔ او د بیخوده عقل هم داسے وی۔ او د نشائی عقل مغلوبه وی۔

[وَعَنِ الْمَعْتُوهِ حَتّٰی یَعْقِلَ] په بل روایت کښے [وَعَنِ الْمَجْنُوْنِ حَتّٰی یَعْقِلَ أَوْ یُفِیْقَ] الفاظ دی، بل روایت کښے: [وَعَنِ الْمُبْتَلٰی حَتّٰی یَبْرَأَ] دے، دا نزدے نزدے الفاظ دی او معنیٰ ئے یوه دهٔ۔ مجنون او معتوه دلته یوه معنیٰ لری، اګرکه معتوه د مجنون نه کم دے، ځکه معتوه په عقلی کمزورئ باندے اخته وی او مجنون د عقل نه خلاص وی۔ او (مبتلی) اګرکه د مجنون نه عام دے لیکن دلته ترے د باقی روایتونو د وجے مجنون مراد دے، ځکه د جنون نه سویٰ په بله بیماریٔ باندے اخته انسان نه د تکلیف قلم نهٔ دے پورته۔ بیا مجنون ته ئے مبتلیٰ (مصیبت زده) ځکه وئیلے چه د عقل د ختمیدو نه بل لوی مصیبت نشته۔ سویٰ د دینی مصیبت نه۔

اَوْ مَجْنُوْنٍ : هغه انسان دے چه د شروع نه ئے عقل دلاسه ورکړے وی او یا د څۀ آفت د وجے۔ او د جنون (لیونتوب) نښه داده چه د انسان قولی او فعلی تصرفات د عاقلانو په طریقه نۀ ترسره کیږی۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه ماشوم والے، خوب او لیونتوب داسے اسباب دی چه په دے سره د انسان نه اهلیت ختمیږی، یعنی انسان ددے لائق نۀ پاتے کیږی چه په هغۀ باندے د خلکو حقونه واجب شی او یا ددۀ حقونه په خلکو واجب شی۔ دے وجے نه دا کسان په شرعی اوامرو او نواهی باندے مکلف نۀ دی، شرعی احکام دوئ ته متوجه نۀ دی۔ او دا د الله رب العزت رحمت او فضل دے په خپلو بندګانو چه د دوئ نه ئے تکلیف پورته کړے ځکه دا کسان د تصرف کولو قابل نۀ دی، ځکه د ماشوم عقل لا پوره شوے نۀ دے چه د هغے د وجے نه سَم تصرف نشی کولے۔ او د لیونی عقل نشته او د اُودۀ شخص په عقل پرده راغلے هغه په خپله خبره پوهیږی نۀ۔ دے وجے نه دے کسانو ته د تکلیف خطاب متوجه نۀ دے۔ ماشوم له به د بالغ پشان مساوی تکلیف نشی ورکولے۔ البته د تمیز نه پس به ورته د عباداتو - لکه مونځ - امر ددے دپاره کولے شی چه دے سره آموخته شی او ددے مینه محبت ئے د شروع نه په زړۀ کښے واقع شی او په دے باندے رالوی شی۔ دارنګه د ګناهونو نه به منع کولے شی دے دپاره چه ددے نه د بچ کیدو سره عادت شی۔

❁ دارنګه لیونے هم په امر او نهی سره مکلف نۀ دے ځکه ددۀ قصد او اراده نۀ وی، البته د هغه شئ نه به منع کولے شی چه په هغے کښے د بل په حق باندے تیرے او زیاتے یا فساد وی، لکه څنګه چه ضرری ښاروے منع کولے شی۔ اوکه لیونی مونځ وغیره وکړو نو دا تړے نۀ صحیح کیږی ځکه په عبادت باندے د عمل کولو قصد ورسره نشته۔

دارنګه اودۀ شخص اهلیت دلاسه ورکړے۔ خو ددے اهلیت نه مراد اهلیة الأداء دے، نۀ اهلیة الوجوب، یعنی په اُودۀ شخص باندے عبادت واجب دے خو دے د هغے د اداء کولو نه عاجز دے ځکه د اداء کولو دپاره تمیز پکار دے او په دۀ کښے تمیز نشته۔ دا وجه ده، د اُودۀ شخص اقوالو له هیڅ اعتبار نشته لکه بیع، شراء، طلاق، عتاق او داسے نور۔ او هر چه اهلیة الوجوب دے : نو دا د اُودۀ شخص په حق کښے ثابت دے او وجوب ددۀ په ذمه کښے قائم دے، صرف دومره ده چه د خوب په وجه د رابیداریدو پورے ددۀ نه اداء

روستو کړے شوے۔ بیا که د اداء د وخت نه مخکښے رابیدار شو نو په واجب باندے عمل کول به اداء شمارلے شی، اوکه نۀ وی نو دابه قضاء وی۔ ددے دلیل دا حدیث دے:

[مَنْ نَامَ عَنْ صَلَاةٍ أَوْ نَسِيَهَا فَلْيُصَلِّهَا اِذَا ذَكَرَهَا، فَإِنَّ ذٰلِكَ وَقْتُهَا] [بخاری: ۵۹۷، مسلم: ۶۸۴]

بعضِ اهلِ علمو په دے حدیث کښے د ذکر شوی اودۀ شخص نه هغه تن اخستے چه د هغۀ په خوا کښے داسے څوك نۀ وی چه هغه رابیدار کړی او نۀ ورسره څۀ داسے شے وی چه په هغے سره رابیدار شی۔ پاتے شو هغه تن چه د هغۀ په خوا کښے بیدارونکے شخص وی او یا تیلیٔ وغیره ودرولو سره بیداریدلے شی او رابیدار نشو او عبادت ئے ونۀ کړو نو دا معذور نۀ دے۔ [فتاوی ابن عثیمین: ۱۲/۲۳]

ددے دلیل د ابو هریره ﷺ هغه حدیث دے چه په هغے کښے هغویٔ د خیبر د غزا نه د واپسیٔ په وخت د شپے په آخره برخه کښے پړاؤ واچولو، او نبی ﷺ بلال ﷺ ته وفرمایل: [اِحْفَظُوا لَنَا صَلَاتَنَا] (زمونږ دپاره د مانځه خیال ساتیٔ) [مسلم: ۶۸۱]

نو دلته نبی ﷺ د مانځه د وخت دپاره څوکیدار کینولے دے، خو ددے باوجود چه کله د څوکیدار سترګے هم پټے شوے او تول نمر ختۀ راپاسیدل نو د مونځ په قضاء کولو کښے دویٔ معذوره وو۔

(۲) **نادره مسئله**: که اُودۀ انسان چا لره قتل کړی یا مور د خوب په حالت کښے خپل بچے مړ کړی نو اتفاق دے چه ګناهګار نۀ دے خو آیا دیت او کفاره پرے شته او که نه؟ **دوه قوله دی**: (۱) بعض موجوده معاصرین علماء وائی چه هیڅ پرے نشته، نۀ کفاره، نۀ دیت او نۀ قصاص۔ او دلیل کښے دا حدیث پیش کوی چه (رفع القلم عن ثلاث) د اُودۀ انسان نه قلم پورته دے۔ نو هیڅ پرے نشته۔

(۲) **قول**: احناف، مالکیۃ، شافعیۃ، حنابلۃ، او اهل ظاهرؒ وائی چه ګناه نشته البته کفاره او دیت به ورکوی۔ (که د دیت مطالبه ترے چا نۀ کوله نو بیا پرے نشته) البته کفاره به علیٰ کل حال ورکوی ځکه چه کفاره د الله تعالیٰ حق دے۔ او دیت د مخلوق حق دے۔ **دلائل**: ۱- دلیل: حدیث کښے دی: [إِنَّ اللّٰهَ وَضَعَ عَنْ أُمَّتِيَ الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ] [ابن ماجه: ۲۰۷۳]۔ پدے حدیث او (رفع القلم) کښے فرق نشته چه نائم او صبی او معتوه مرفوع القلم دی او بیا هم الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ﴾ نو دلته د خطاء سره الله تعالیٰ دیت او کفاره واجبه کړیده، معلومیږی چه د رفع

القلم نه مراد رفع الاثم ده۔ (يعنى ګناه پرے نشته) دارنګه : ددے په شان استدلال داسے دے چه هركله دا آيت : ﴿ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ﴾ [البقرة: ۲۸۵]۔ نازل شو نو الله تعالىٰ وفرمايل : [قَدْ فَعَلْتُ] ما ستاسو دا دعاء قبوله كړه (او تاسو ته مے خطاء او نسيان معاف كړل) (حديث مسلم) نو دلته نه معلومه شوه چه خطاء او نسيان معاف شو او همدغه قرآن كښے د الله تعالىٰ ارشاد دے چه قتل خطاء كښے ديت او كفاره لازمه ده۔ نو مقصد دا شو چه خطاء او نسيان معاف دى په اعتبار د ګناه سره، نو مرفوع القلم دے په اعتبار د ګناه سره نۀ په اعتبار د حكم سره، بلكه احكام به پرے مرتب وى۔ دا قياس نۀ دے بلكه د دوه آيتونو ترمينځ تطبيق دے۔

۳- دليل : بداية المجتهد (۴۱۳/۲) كښے ابن رشد ليكى : پدے باندے اجماع ده چه ماشوم عمداً قتل وكړى نو په هغۀ باندے ديت راځى اګركه دا مرفوع القلم دے نو دغه شان دے حديث كښے نائم ذكر دے نو په دۀ باندے هم ديت راځى اګركه ددۀ نه هم قلم پورته شوے او د صبى او د نائم ترمينځ فرق باندے دليل نشته چه صبى راګيروى او نائم نۀ راګيروى، لهذا د نائم په نۀ راګيرولو مستقل دليل پكار دے او هغه نشته۔

۴- دليل : موطأ كښے دى : مروان بن الحكم معاويه ﷺ ته وليكل چه دۀ ته يو مجنون راوستے شو چه يو سړے ئے وژلے وو نو معاويه ﷺ ورته وليكل چه [أَنِ اعْقِلْهُ وَلَا تَقُدْ مِنْهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ عَلَى مَجْنُونٍ قَوَدٌ] [موطأ : ۱۵۴۹] ددۀ نه ديت واخله او قصاص ترے مۀ اخله

درجة الحديث : [صحيح] أبوداود: ۴۳۹۸، نسائي: ۱۵۶/۶، ابن ماجه: ۲۰۴۱، أحمد: ۱۰۰/۶، ۱۰۱، دارمي: ۲۲۹۶، ابن حبان: ۱۴۲، حاكم: ۵۹/۲، صحيح أبي داود.

د وينځے دپاره دوه طلاقونه دى

3289 (16) وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " **طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : عائشه ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : د وينځے طلاقونه دوه دى او ددے عدت دوه حيضه دى۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشريح : [طَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ] يعنى لكه څنګه چه حُرَه (اصيله) ښځه په درے

طلاقو سره په بینونتِ کبریٰ سره بائنه او مغلظه ګرځي، نو وینځه په دوه طلاقو سره بائنه او مغلظه ګرځي۔ [وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ] او لکه څنګه چه د اصیلې ښځې عدت په درې حیضونو سره تیریږي، نو د وینځې عدت به دې په نیمائی باندې وی، خو چونکه په حیض کښې نیمائی کیدل نهٔ راځي نو ددې عدت به د یو نیم حیض په ځائې دوه حیضه وي۔ البته که د وینځې حیض نهٔ راتلو او په میاشتو سره ئې عدت تیرولو نو بیا به ددې عدت یوه نیمه میاشت یعنی (٤٥) ورځې وي۔

فوائد : (۱) په دې باره کښې مرفوع حدیث ضعیف دې، او اثر ثابت دې۔ او په دې اثر باندې هغه علماؤ دلیل نیولې چه هغوئ وائي : د وینځې ټول طلاقونه دوه طلاقه دي، او عدت ئې هم دوه حیضونه دي۔ د دوه طلاقو نه پس مغلظه ګرځي او په دوه حیضونو سره ئې عدت تیریږي، برابره خبره ده که خاوند ئې آزاد وی او که غلام۔ د دوئ په نیز د طلاقو په شماره کښې اعتبار ښځې لره دې۔ او دا د امام ابوحنیفهٌ قول دې۔ او دوئ ددې روایت داسې تاویل کوی چه (اَلطَّلَاقُ بِالرِّجَالِ) معنیٰ دا ده چه طلاق سړو ته سپارلې شویدې، ښځه طلاق نشي ورکولې۔

(۲) مالكٌ، شافعيٌ او احمدٌ فرمائی : په طلاقو کښې سړو له اعتبار دې : نو د غلام طلاق به دوه وي، او د آزاد طلاق به درې وی۔ ښځې له اعتبار نشته که هر څنګه وی، آزاده وی که وینځه۔ ❁ او په عدت کښې اتفاق دې چه په دې کښې اعتبار ښځو لره دې، نو د وینځې عدت نیمائی موده د حُرې ښځې ده، خو په هغه شئ کښې چه په هغې کښې نیموالې راځي لکه میاشتې شوې۔ که عدت په میاشتو سره تیروی نو د وینځې د طلاقو عدت به یوه نیمه میاشت وی۔ لکه څنګه چه د حُرې ښځې عدت درې میاشتې دې۔ اوکه په حیضونو سره ئې تیروی نو چونکه حیضونه نهٔ نیمیږی، دې وجې نه ددې عدت به دوه حیضه وی۔ لکه څنګه چه د اصیلې ښځې عدت درې حیضه دې۔ که چرې حیضونه نیمیدلې نو د وینځې عدت به یو نیم حیض وې۔

دلائل : د اول قول والو دپاره **دلیل** : یودا حدیث دې، خو دا مرفوعًا ضعیف دې۔ او موقوفًا صحیح دې۔ او بل دلیل ئې دادې چه دوئ وائي: ښځه د طلاقو محل دې نو په دې کښې به دې له اعتبار وی لکه څنګه چه په عدت کښې اتفاقًا دې له اعتبار دې۔ دارنګه طلاق په حد باندې قیاس کوی۔ په حد کښې هم ښځې له اعتبار دې چه د وینځې

په حق کښې دا د اصيلې د حد نيمائی دے۔ او د **دويم قول والو** دپاره **دليل**:
(أ) دا حديث دے: [اَلطَّلَاقُ بِالرِّجَالِ وَالْعِدَّةُ بِالنِّسَاءِ] [دارقطني: ، بيهقي: ١٥٥٧٢: عن ابن مسعود، وشرح السنة: ٢٢٧٦، و أحمد عن علي] **او دا هم موقوف دے**۔
(ب) دارنګه ابن عمر ﷺ په فرمايل:
[إِذَا طَلَّقَ الْعَبْدُ امْرَأَةً تَطْلِيقَتَيْنِ فَقَدْ حَرُمَتْ عَلَيْهِ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ: حُرَّةً كَانَتْ أَوْ أَمَةً، وَعِدَّةُ الْحُرَّةِ ثَلَاثُ حِيَضٍ، وَعِدَّةُ الْأَمَةِ حَيْضَتَانِ] [موطأ مالك رقم: ١١٩٣]
(کله چه يو غلام ښځے ته دوه طلاقه ورکړی نو په دۀ حرامه شوه تردے ه بل خاوند سره نکاح وکړی، برابره ده چنې ښځه آزاده وی يا وينځه، او عدت د آزادے ښځے درے حيضه دی، او عدت دوينځے دوه حيضه دی)
ددے اثر نه هم په ډاګه معلومه شوه چه په طلاقو کښې د خاوند حالت له اعتبار دے نۀ د ښځے۔ او داسے قول د عثمان ﷺ او زيد بن ثابت ﷺ نه هم ثابت دے۔ [موطأ مالك، سنن كبرى بيهقي: ١٥٥٥٨]
بله داچه: په قرآن کريم کښې الله تعالیٰ د طلاقو نسبت سړو ته کړے لهذا په طلاق ورکولو کښې به د طلاقونکی حالت معتبر وی چه سړے دے، نۀ د ښځے حالت۔ نو دواړو طرفونو ته موقوف حديثونه دی۔
خو راجح قول دا دويم معلوميږی۔ ❁ او د ابن حزمؒ او داود ظاهریؒ په نيز د اصيلے او وينځے دواړو ښځو طلاق او عدت يو برابر دی۔ او هغه په عموماتو استدلال کوی۔ او مجموعی لحاظ سره په موقوفاتو استدلال نۀ کوی۔ ليکن راجح قول تا وپيژندۀ۔ او په عموماتو استدلال کول درست نۀ دی ځکه هغه د اصيلو ښځو په باره کښې راغلی او په دے باندے قرائن موجود دی۔ لکه د طلاقو سره د خلع مسئله ذکر کول شو چه دا صرف د اصيلو ښځو سره کيږی نۀ د وينځو سره۔ که د صحابه کرامو ﷺ نه مذکوره اقوال نۀ وے راغلی نو بيا د ظاهريه ؤ خبره قوی وه۔ والله تعالیٰ اعلم۔
درجة الحديث: [صَحِيحٌ مَوْقُوفًا] دارقطني: ٣٨/٤۔ [وأخرجه مرفوعًا وَضَعَّفَهُ]: ابن ماجه: ٢٠٧٩، دارقطني: ٣٨/٤، وهو ضعيف مرفوعاً: (أ) فيه عطية العوفي ضعيف، (ب) وعمر بن شبيب المسلي ضعيف فهو حديث منكر، وحديث عائشة متفق على ضعفه: أبو داود: ٢١٨٩، ترمذي: ١١٨٢، ابن ماجه: ٢٠٨٠، حاكم: ٢٠٥/٢، فيه مظاهر بن اسلم المخزومي المدني ضعيف باتفاق

المحدثين۔ [تهذيب التهذيب: ۱۰/۱٦٦]۔

الفصل الثالث

د خاوند نه طلاق يا خلع غوښتونکے ښځے دپاره وعيد

3290 (17) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "**أَلْمُنْتَزِعَاتُ وَالْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ**". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه: ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ وفرمايل: هغه ښځے چه د خاوندانو نه ځانونه راښكونكی وی او خلع غوښتونكی وی هم دوئ منافقانے دی۔ (نسائیؒ)

تشريح: [اَلْمُنْتَزِعَاتُ]۔ هغه زنانه چه د خاوندانو نه ځانونه راخكاړی او د هغوی نه جدائی غواړی۔ يا ددے نه مراد نافرمانه ښځی دی چه د خاوندانو د طاعت نه ځان راكاږی۔ [اَلْمُخْتَلِعَاتُ] يعنی هغه زنانه چه د خپلو خاوندانو نه بغير د ضرورت نه خلع او طلاق غواړی۔ [اَلْمُنَافِقَاتُ] دا زنانه په باطن كښے نافرمانے او په ظاهره كښے فرمانبردارے دی۔ يا دوئ د منافقانو سره مشابه دی چه جنت ته به اول كښے نۀ داخليږی۔

درجة الحديث: [إسناده صحيح] النسائی: ٦/١٦٩، وهو فی الصحيحة: ٦٣٢.

د ښځے د تمام مال په عوض كښے خلع كول بهتر نۀ دی

3291 (18) - وَعَنْ نَافِعٍ عَنْ مَوْلَاةٍ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ أَبِي عُبَيْدٍ أَنَّهَا اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا بِكُلِّ شَيْءٍ لَهَا فَلَمْ يُنْكِرْ ذٰلِكَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ. رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه: او نافع د صفيه بنت ابی عبيد د آزاد كړده وينځے نه روايت كوي چه هغے د خپل خاوند نه خلعه وغوښته په ټول هغه شی سره چه د هغے دپاره وو، نو دا كار عبد الله بن عمر ﷺ بد ونۀ ګڼړلو۔ (موطأ مالك)

تشريح: [بِكُلِّ شَيْءٍ]۔ **مسئله**: آيا په خلع كښے د مهر نه زيات اخستل جائز دی او كه نه؟ (۱) مالكؒ، شافعیؒ، او صاحبينؒ وائی چه په خلع كښے زيادت جائز دے، او دا قول د ابن عباس، ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دے۔ **دليل**: آيت كښے دی: [فَلَا جُنَاحَ

عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ] (البقره: ۲۲۹)۔ گناه نشته په هغه مال کښې چه ښځه ئې د خپلې آزادئ په بدله کښې ورکوی۔ نو دلته (ما) کلمه عامه ده، لږ او ډیر ټول ته شاملیږی، برابره ده چه د مهر نه زیات وی او که کم۔

(۲) امام احمدؒ وائی: سړی له دا مستحب نهٔ دی چه د مهر نه زیات واخلی بلکه که ښځه ئې فدیه ته مجبور کړے وه نو بیا ورله زیات اخستل حرام دی۔

(۳) احناف تفصیل کوی چه که نشوز (بد اخلاقي) د سړی د طرف نه وی نو بیا بالکل مال اخستل حرام دی لکه آیت کښې دی: ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا﴾ [النساء: ۲۰]۔ او که نشوز د ښځې د طرف نه وی نو بیا به خپل ورکړے مهر اخلی او زیادت به نهٔ اخلی۔ دلیل دا دے چه د ثابت بن قیس بن شماس ﷺ ښځې چه کله د ثابت سره خلع کوله نو نبی ﷺ ورته حکم وکړو: [أَنْ يَأْخُذَ مِنْهَا حَدِيقَتَهُ وَلَا يَزْدَادُ] [صحیح ابن ماجه: ۱۶۷۳، صحیح: إرواء الغلیل: ۲۰۳۶، صحیح ابی داود: ۱۹۲۹، قال الشوکانی: فیه أزهر بن مروان وهو صدوق مستقیم الحدیث وبقیة إسناده من رجال الصحیح- نیل الاوطار: ۳۴/۷ وقال فی فتح القدیر: ۳۵۷/۱: إسناده جید وفی الحدیث المرسل: أَمَّا الزِّيَادَةُ فَلَا] ۔ چه د خپل باغ نه زیات به نهٔ اخلی۔ او په صحیح مرسل حدیث کښې دی: (هر چه زیادت دے نو هغه جائز نهٔ دے) او همدا قول د دلیل په اعتبار سره قوی دے۔ شیخ ابن بازؒ فرمائی: بهتره دا ده او احتیاط پدے کښې دے چه سړے د خپل مهر نه زیات وانخلی دے دپاره چه د اختلاف نه وځی۔ وانظر (الموسوعة الفقهية: ۲۴۳/۱۹) نو ظاهر دا ده چه زیادت اخستل د استحباب خلاف دے۔

درجة الحديث: [صحیح] مالك: ۵۶۵/۲، ۳۲، إسناده صحیح الی المولاة لکنها لا تعرف.

په یو وخت کښې درے طلاقه ورکول حرام دی

3292 (19) – وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ قَالَ: أُخْبِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ جَمِيعًا فَقَامَ غَضْبَانَ ثُمَّ قَالَ: " **أَيُلْعَبُ بِكِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ** ؟ "حَتَّى قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا أَقْتُلُهُ ؟ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه: محمود بن لبید ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ته د هغه سړی په باره کښې خبر ورکړے شو چه هغهٔ خپله ښځه په درے طلاقو سره په یو ځائے باندے طلاقه کړے وه نو

نبی کریم ﷺ (خطبې ته) غصه راپاڅیدو بیا ئې وفرمایل: آیا د الله تعالیٰ عزوجل په کتاب پورې به توقې کیږي او زهٔ ستاسو ترمینځ موجود یم؟ تردې چه یو سړے راپاڅیدو او عرض ئې وکړو: اے د الله رسوله! آیا زهٔ ئې ونهٔ وژنم؟- (نسائیؒ)

تشریح :[محمود بن لبید]- امام بخاریؒ دهٔ ته صحابي وئیلے دے او مسلمؒ ورته تابعي وائي- اول قول ظاهر دے- [أَيُلْعَبُ]- دا حدیث دلیل دے چه په یو ځل درے طلاقه یا د درے نه زیات ورکول ناجائز دي- او پدے کښې رد دے په قول د امام شافعيؒ باندے چه هغه وائي درے طلاقه په یو ځل ورکول جائز دي- بیا پدے حدیث کښې دا نهٔ دي ذکر چه درے واړه په یو بدلیږي او که درے په درے واقع دي- نو د رکانه حدیث ددے سره ملګرے کړه نو معلومه به شي چه درے په یو بدلیږي- لکه چه ددے مسئلے تفصیل مخکښې ذکر شو-

درجة الحديث :[صحيح] النسائى: ٦/١٤٣، ورجاله ثقات لكنه من رواية مخرمة عن ابيه ولم يسمع منه، وصححه الالبانى فى غاية المرام فى احاديث الحلال والحرام: ٢٦١ وتعليق الروضة الندية: ٢/٤٧.

3293 (20) – وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ ﷺ: إِنِّي طَلَّقْتُ امْرَأَتِي مِائَةَ تَطْلِيقَةٍ فَمَاذَا تَرَى عَلَيَّ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: طُلِّقَتْ مِنْكَ ثَلَاثٌ وَسَبْعٌ وَتِسْعُونَ اتَّخَذْتَ بِهَا آيَاتِ اللّٰهِ هُزُوًا. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأِ

ترجمه : امام مالك نه روایت دے چه هغهٔ ته دا حدیث رسیدلے چه یو سړي عبد الله بن عباس ﷺ ته ووئیل: ما خپلے ښځے ته سل طلاقونه ورکړیدي نو ستا په ما باندے څه رایه ده (چه دا طلاقونه واقع دي یا نهٔ) نو ابن عباس ﷺ وفرمایل: ښځه ستا نه په درے طلاقو سره طلاقه شوه او اُوه نوي طلاقونو سره تا د الله تعالیٰ آیتونه په توقو سره نیولي دي- (او هغے پورے دے توقے کړیدي) (موطأ مالك)

تشریح :دا د ابن عباس ﷺ نه یو روایت دے چه درے طلاقه په یو ځل واقع کیږي، او دا فتویٰ ئې د عمر فاروق ﷺ په شان ورکړے لیکن ددهٔ نه بله فتویٰ هم صحیح ثابته ده- چه درے په یو بدلیږي لکه چه مخکښې بیان شو- او دا روایت د بلاغاتو د مالك نه دی او دا بے سنده روایتونه دي، کله به صحیح وي او کله ضعیف-

درجة الحديث :[إسناده صحيح] مالك : ۲/ ۵۵۰/ ۱) وصله ابو داود وغيره باسناد صحيح عن ابن عباس وقد خرجه الالباني في الارواء: ۲۰۵۶)

د الله تعالىٰ په نيز طلاق يو ناكاره شے دے

3294 (21) - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **يَا مُعَاذُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ شَيْئًا عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الْعِتَاقِ وَلَا خَلَقَ اللّٰهُ شَيْئًا عَلٰى وَجْهِ الْأَرْضِ أَبْغَضَ إِلَيْهِ مِنَ الطَّلَاقِ** ". رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ

ترجمه : معاذ بن جبل ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : اے معاذ ! الله تعالىٰ په مخ د زمكه هيڅ شے نۀ دے پيدا كړے چه هغۀ ته زيات محبوب وي د غلام آزادولو نه او الله تعالىٰ په مخ د زمكه هيڅ شے نۀ دے پيدا كړے چه هغۀ ته ډير مبغوض وي د طلاقو نه۔ (يعني په ټولو څيزونو الله تعالىٰ ته طلاق زيات مبغوض دے)۔ (دارقطنیؒ)

تشريح :عتاق الله تعالىٰ ته ځكه محبوب دے چه پدے كښے بنده د بنده د غلامئ او ذلت نه آزاديږي او د الله تعالىٰ غلامئ ته فارغيږي۔ او طلاق ورته ځكه مبغوض دے چه پدے كښے ازدواجي تعلق ختميږي چه هغه سبب د توالد او تناسل وو، دارنګه پدے سره بغض د قومونو پيدا كيږي۔ او دے روايت نه معلوميږي چه بغض او محبت د الله تعالىٰ حقيقي صفات دي، د مخلوق د صفاتو سره مشابه نۀ دي۔

درجة الحديث :[ضعيف ومنقطع] الدارقطني : ۴/ ۳۵، خرّجه الألباني في الضعيفة : ۶۲۹۰، مكحول عن معاذ بن جبل منقطع، وحميد بن ربيع الكوفي الخزاز ضعيف جدا)



١٢- باب المطلقة ثلاثا

د درې طلاقه ورکړې شوې ښځې بیان.

کومې ښځې ته چه درې طلاقه ورکړې شي ددې حکم پدې باب کښې بیانیږي، چه که یوې ښځې ته خاوند په بیلابیل طهر کښې درې طلاقونه ورکړي بیا خاوند غواړي چه بیرته ئې په نکاح کښې راولي نو ددې دپاره دا ضروري ده چه دا ښځه د بل خاوند سره نکاح وکړي او هغه ورله په خپله خوښه سره (هرکله چه غواړي) د نزدیکت نه روستو طلاق ورکړي او عدت تیر شي نو د اول خاوند دپاره روا کیږي، نو دا اول خاوند به ورسره نوې نکاح تړي، د ښځې په ولي باندې به جرګه کوي، بیا به مهر مقرروي لکه د عامې نکاح په شان مراحلو باندې به تیریږي نو بیا به اول خاوند دپاره حلالیږي.

پدې باب کښې ډیر مسائل دي، ایلاء، ظهار، نکاح التحلیل (حلاله) لیکن دا نور مسائل ئې تبعاً ذکر کړي ځکه چه په ایلاء او ظهار کښې هم ښځه د سړي نه جدا وي تر یو وقت پورې او نکاح التحلیل کښې هم ښځه جدا شوې وي.

درې طلاقونه پس اول خاوند له ښځه هله حلالیږي چه دویم خاوند ورسره نزدیکت وکړي

الفصل الأول

3295 (1) — عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : جَاءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ : إِنِّيْ كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِيْ فَبَتَّ طَلَاقِيْ فَتَزَوَّجْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الزَّبِيْرِ وَمَا مَعَهُ إِلَّا مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ فَقَالَ : " أَتُرِيْدِيْنَ أَنْ تَرْجِعِيْ إِلٰى رِفَاعَةَ ؟ " قَالَتْ : نَعَمْ قَالَ : " لَا حَتّٰى تَذُوْقِيْ عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوْقَ عُسَيْلَتَكِ " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي: د رفاعه قرظي بي بي رسول الله ﷺ ته راغله عرض ئې وکړو: زۀ د رفاعه په نکاح کښې وم نو هغۀ ما ته طلاق راکړو او زما طلاق ئې قطع کړل، نو ما د هغۀ نه روستو د عبد الرحمن بن زبیر سره نکاح وکړه لیکن د هغۀ سره (اندام)

نۀ وو مګر د جامې د زونډې په شان، نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: آيا ته غواړې چه رفاعه ته واپس کيږې؟ هغې ووېل: آؤ، وې فرمايل: نشې (واپس کيدې) ترديې چه ته د هغهٔ ګبين وڅکې او هغه ستا ګبين وڅکي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح :[اِمۡرَأَةٌ] ددې نوم تميمه بنت وهب ده۔ قتادهٔ نه نقل دی چه دا تميمه بنت ابی عبيد وه۔ [رِفَاعَة] دا رفاعه بن سموأل القرظي دې، [فَبَتَّ طَلَاقِيُ] يعنی ما ته ئې بته طلاق راکړې۔ يعني داسې ئې راته ووېيلی : [أَنۡتِ طَالِقٌ اَلۡبَتَّةَ]۔ يعنی ته په بته طلاقو سره طلاقه ئې، بته هغه طلاق دی چه په هغې سره نکاح پريکولې شي، او رجوع ختموي۔ نو دا به کله درې طلاقه وي او کله به آخري دريم طلاق وي۔ او دا دويم احتمال صحيح دې، وجه دا ده چه د بخاري په کتاب اللباس کښې روايت دې : [طَلَّقَنِيُ آخِرَ ثَلَاثِ تَطۡلِيُقَاتٍ]۔ چه دا ئې آخري دريم طلاق وو۔ نو دا په بيلابيل طهرونو کښې طلاقونه وو۔ نو پدې وجه د خاوند نه په بينونت کبرئ سره جدا شوه۔

[عَبۡدُ الرَّحۡمٰنِ بۡنِ الزَّبِيۡرِ]۔ زبير د زاء په زور او د باء زير دې۔ د کثير په وزن دې۔ دا عبد الرحمن صحابي دې، او ددهٔ پلار زبير بن باطا يهودي وو چه په غزا د بنو قريظه کښې ووژل شو۔ ددهٔ د قتل عجيبه قصه زمونږ په کتاب (سيرت رسول ﷺ) کښې وګورئ۔ [هُدۡبَةُ الثَّوۡبُ]۔ هدبه د جامې زونډې او پڅکې او طرف ته وائي۔ دارنګه د سترګو بڼرو (ويښتو) ته وائي۔ يعني زما د خاوند (عبد الرحمن) سره آله ددې جامې په شان کمزورې او سُسته او زوړنده ده۔ په بل روايت کښې دی : رسول الله ﷺ دا خبرې آوريدې نو مسکې شو۔ د مسکې کيدو يوه وجه دا وه چه زنانه ده او د حياء داسې کولاوې خبرې کوي۔ دويم دا چه د خاوند سره ئې داسې بغض او د اول خاوند سره ئې داسې محبت دې چه دې خبرو ته مجبوره شويده۔ نو پدې کښې عبد الرحمن د خپلو دواړو ځامنو سره راغلو (چه دا ئې د بلې ښځې نه وو) هغهٔ ووېل : اې د الله رسوله ! دا ښځه دروغ وائي، قسم په الله زهٔ دا ښځه داسې څنډم لکه څنګه چه څرمنه څنډلې شي (يعنی د جماع حرکت ورسره کوم) ليکن دا ناشزه (بد اخلاقه) ده، رفاعه (سره نکاح کول) غواړي۔ نو نبي ﷺ ورته وفرمايل : چه دا اول خاوند ته نشې واپس کيدې ترديې چه تا سره پوره جماع ونکړي۔ [عُسَيۡلَتَهُ]۔ دا تصغير د عسل دې، او عسل مذکر او مؤنث دواړه راځي۔ (از هريؒ) ګبين او شاتو ته وائي۔ ددې نه مراد د جماع لذت دې، (ترڅو چه تا د هغه مزه نهٔ

وی څکلی او هغه ستا مزه نهٔ وی څکلی نو تهٔ نشے واپس کیدے) دا په تشبیه باندے حمل دے۔ بعض وائی: د عسیله نه مراد نطفه ده۔ او دا قول د حسن بصریؒ دے، چه د تحلیل دپاره انزال شرط دے۔

لیکن ابن بطالؒ وئیلی دی چه دا قول د حسن بصریؒ د ټول امت نه شاذ او مخالف دے، چه هغوی وئیلی دی چه صرف جماع د تحلیل دپاره کافی ده۔

فوائد: ۱- ښځے دپاره جائز دی چه د اجنبی سړی نه استفتاء (مسئلے تپوس) وکړی کله چه د فتنے نه په امن کښے وی۔ ۲- کومه زنانه چه په مغلظو طلاقو سره طلاقه شوه نو هغه اول خاوند دپاره نهٔ جائز کیږی تردے چه دویم خاوند ورسره جماع نهٔ وی کړی او بیائے په خپله خوښه طلاق نهٔ وی ورکړی، او په نیت د حلالے سره به نهٔ وی۔

(۳) ښځه به اول خاوند دپاره هله حلالیږی چه دویم خاوند ورسره صحیح جماع وکړی، پدے شرط چه هغه به نامرده نهٔ وی، فالج به نهٔ وی وهلے، ماشوم به نهٔ وی۔

(٤) سوال دا دے چه پدے روایت کښے د هُدبه لفظ نه معلومه شوه چه ددے خاوند د جماع قدرت نهٔ لرلو نو بیا څنګه ئے د هغے دپاره ذوق العُسَیلَه شرط کړه؟

جواب: علامه کرمانیؒ وئیلی دی چه ددے خاوند د جماع طاقت لرلو لیکن ددهٔ ښځے چه د هغهٔ د آلے تشبیه د جامے د پڅکے سره ورکړه نو دا په نری والی او باریك والی کښے نهٔ په زورندوالی او عدم حرکت کښے، (ددے وجه نه خاوند ئے ووېل چه زهٔ دا څنډم، دارنګه ددهٔ خو دوه ځامن هم د بلے ښځے نه شوی وو، هرکله چه هغهٔ د جماع طاقت نهٔ لرلے بیائے د بلے ښځے نه بچی څنګه شوی وو)۔

(۵) دا حدیث دلیل دے چه کومه ښځه د خاوند نه د ضرورت په وجه خلع اخلی نو جائز ده، او هغه ضرورتونه یو څو قسمه دی چه شیخ عبد الله الجبرینؒ ذکر کړی، ❁ یو دا چه ښځه د خاوند بد اخلاقی، تیزی، اوبے ځایه ډیره غصه کول، په ادنیٰ کار باندے لمبه کیدل او په معمولی خبره ملامته کول بد وګنړی نو ښځے له خلع جائز ده، ❁ که ښځه د خاوند په شکل، یا عیب، یا د هغهٔ په حواسو کښے نقصان بد وګنړی نو خلع جائز ده۔ ❁ که ښځه د خاوند په دین کښے نقصان وینی لکه مونځ نهٔ کوی، بغیر د عذر نه روژے خوری، یا حرام کارونه کوی لکه زنا، شراب، ډمچوری، او لوپری نو د خلع مطالبه کولے شی۔ ❁ کله چه خاوند د ښځے حقوق نهٔ دا کوی لکه نفقه او جامے نهٔ ورکوی، یا

ضروري حاجات نهٔ پوره کوي او دے په هغے باندے قادر وي نو خلع کولے شي۔ ❁ که خاوند ښځے ته د عام عادت مطابق د جماع حق نهٔ ورکوي چه هغه پاکه کړي لکه هغه نامرده شي چه د جماع طاقت نهٔ لري، یا ښځے ته قصداً توجه نهٔ کوي، یا ئے بلے ښځے ته میلان وي، او دے سره په شپه تیرولو کښے عدل نهٔ کوي نو د خلعے مطالبه کولے شي۔

(٦) **مسئله : کله چه ښځه طلاقه شي او بل خاوند وکړي نو د اول خاوند دپاره په څه سره حلالیږي؟** پدے کښے دوه قوله دي : (۱) سعید بن المسیبؒ (اعلم التابعین) وائي چه صرف خلوتِ صحیحه هم د تحلیل دپاره کافي دے اګرکه دویم خاوند ورسره نزدیکت نهٔ وي کړے۔ استدلال کوي د آیت ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ نه چه دلته نکاح مطلق ده، په نفس نکاح سره هم د اول خاوند دپاره حلالیږي اګرکه جماع نهٔ وي (لیکن دے سره دا شرط وائي چه د دویم خاوند به دا اراده نهٔ وي چه زهٔ ئے اول خاوند دپاره حلالوم)۔

(۲) ائمه اربعهؒ وغیره وائي چه خلوت کافي نهٔ دے بلکه ذوق العُسیله شرط دے۔ دلیل دا وائي چه قرآن کریم کښے لفظ د نکاح ذکر دے او په دے حدیث کښے ورسره ذوق العسیله راغلے نو په دواړو باندے به عمل کولے شي۔ بیا دلته په احنافو باندے اعتراض راغلو چه تاسو په کتاب الله باندے د خبر واحد زیادت نا جائز ګڼړئ او دلته خو زیادت راغلو نو هغوي جواب کوي چه دا خبر مشهور دے او په دے سره زیادت جائز دے، لیکن دا خبره ضعیفه ده، ځکه چه دا خبر واحد دے۔

مونږ وایو چه زیادت د خبر واحد په کتاب الله باندے جائز دے، او دا نسخ د کتاب الله نهٔ وي بلکه بیان د کتاب الله وي، او دلته د نکاح لفظ دوه معنے دي، عقد او جماع نو سنت د یوے معنے تعیین او بیان وکړو لهذا دا نسخ نشوه بلکه بیان او تشریح شوه۔

او پاتے شوه د سعید بن المسیبؒ خبره نو هغه په هغه وخت کښے صحیح وه چه دلته حدیث موجود نهٔ وے او په حدیث کښے د نکاح تشریح په جماع سره وشوه، او هغوي ته دا صحیح حدیث نهٔ وو رسیدلے پدے وجه ئے داسے قول کړے۔ ابن المنذرؒ وائي : د سعیدؒ هیچا موافقت نهٔ دے کړے مګر یوے ډلے د خوارجو او شاید چه هغهٔ ته به دا حدیث نهٔ وي رسیدلے۔ [الاجماع، ص: ۱۰۲، أحكام القرآن للجصاص: ۸۹/۲] وبالله التوفیق۔

(۷) **خارجي مسئله** : د مهر په باب کښے د خلوت مسئله : (۱) احناف وائي چه

خلوتِ صحیحه په منزله د جماع دے، که یو تن د یوے ښځے سره خلوتِ صحیحه وکړو نو اګرکه جماع نۀ وی شوی نو سړے به ښځے ته پوره مهر ورکوی۔ کلهٔ چه په دغه وخت کښے طلاقه کړی۔ (۲) جمهور وائی چه خلوت لره اعتبار نشته بلکه د مهر دپاره جماع ضروری ده لکه ددے تفصیل په خپل ځائے کښے راځی۔ ان شاء الله۔

(۸) فائده: په دے کښے څۀ حکمت دے چه مطلقه ثلاثه د دویم وادۀ کولو نه بغیر د اولنی خاوند دپاره نۀ حلالیږی؟ دا ځکه چه خاوند په طلاقو کښے د جلتئ کولو نه ځان وساتی، ځکه یو غیرتی سړے دا کله برداشت کولے شی چه دۀ ته دِے دغه ښځه په داسے حال کښے واپس راشی چه بل چا ورسره نکاح کړے وی، خصوصًا کله چه دویم خاوند د اولنی خاوند دشمن یا تربور وی۔ [صفوة الآثار والمفاهيم: ۳/۱۰۵]

نو دا په اصل کښے خاوند ته د خپلے جلتئ سزا ملاویږی، که نۀ وی نو ددۀ دپاره یو طلاق کافی وو چه ښځے له ئے ورکړے وے بیاکه خوښه ئے وے نو په غیر د نکاح تازه کولو نه به ئے ورته رجوع کړے وے، اوکه رجوع ئے ورته نۀ کولے نو بله میاشت کښے به ئے ورته بل طلاق ورکړے وے، او دغسے به ئے پریښے وے تردے چه عدت ئے پوره شوے وے او ددۀ نه به جدا شوے وه۔ لیکن کلهٔ چه دۀ په دریمه میاشت کښے هم طلاق ورکړو، نو معلومیږی چه دے دا ښځه ساتل نۀ غواړی۔ نو ځکه په دے وخت کښے دویمے نکاح ته ضرورت شو۔ نو دۀ د شریعت د مزاج خلاف وکړو نو شریعت هم ددۀ د مزاج خلاف حکم راولیږلو۔ والله اعلم۔

(۹) دا حدیث دلیل دے چه ښځه خپل اولنی خاوند ته په دے (**شرط**) سره واپس کیدے شی چه دویم خاوند ورسره جماع وکړی او یو د بل نه خوند واخلی۔

په دے کښے (**دویم شرط**) دادے چه دے دویم خاوند به دے ښځے سره د رغبتی او دائمی نکاح اراده کړے وی، او اولنی خاوند دپاره ددے ښځے د حلالولو اراده به ئے نۀ وی کړے۔ که چرے دا ډرامه ئے جوړه کړے وی نو بیا د دویمے نکاح کولو باوجود د اولنی خاوند دپاره نۀ حلالیږی۔ ځکه چه دا لعنتی نکاح ده، شرعی نکاح نۀ ده۔ دارنګه په دے دویمے نکاح کښے (**دریم شرط**) دادے چه دا وطی او جماع به په صحیح نکاح کښے شوے وی۔ ځکه که په غیر صحیح کښے شوے وی لکه د شِغار نکاح ئے کړے وی او یا د ولی نه بغیر نکاح ئے کړے وی، نو په دے صورت کښے د اولنی خاوند دپاره نۀ حلالیږی،

او ددې شرطونو دلیل دادې چه الله تعالیٰ په: ﴿حَتّٰى تَنۡكِحَ﴾ کښې نکاح شرط کړې او د فاسدې نکاح وجود او عدم برابر وی. او شریعت په فاسدې یا باطلې نکاح پورې شرعي حکم نهٔ تړی.

په دې کښې يو (**خلورم شرط**) هم شته: او هغه دا چه د ښځې اوخاوند به دا امید وی چه آینده دپاره به د الله په احکامو عمل کوی او یو د بل حقونه به ادا کوی او ښائسته ژوند به تیروی، او بیا دپاره به دا قِسم غلطي نهٔ کوی چه ددې سر په درې طلاقو باندې تمام شو. د الله تعالیٰ ارشاد دې: ﴿فَاِنۡ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنۡۢ بَعۡدُ حَتّٰى تَنۡكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهٗ فَاِنۡ طَلَّقَهَا فَلَاجُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۤ اَنۡ يَّتَرَاجَعَاۤ اِنۡ ظَنَّاۤ اَنۡ يُّقِيۡمَا حُدُوۡدَ اللّٰهِ وَتِلۡكَ حُدُوۡدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ﴾ [البقرة: ۲۳۰]

الفصل الثاني

په حلالې والا باندې لعنت

3296 (2) – وَعَنِ ابۡنِ مَسۡعُوۡدٍ ﷺ قَالَ: لَعَنَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ الۡمُحَلِّلَ وَالۡمُحَلَّلَ لَهٗ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ. 3297(3) – وَرَوَاهُ ابۡنُ مَاجَهۡ عَنۡ عَلِيٍّ وَابۡنِ عَبَّاسٍ وَعُقۡبَةَ بۡنِ عَامِرٍ.

ترجمه: ابن مسعود ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ په حلاله کونکی او چا دپاره چه حلاله کولې شي، (دواړو باندې) لعنت فرمایلې. (دارميؒ) او دا ابن ماجهؒ د علي ﷺ او ابن عباس ﷺ او عقبه بن عامر ﷺ نه روایت کړې).

تشریح: [لَعَنَ اللّٰهُ] لعنت په لغت کښې د الله تعالیٰ د رحمت نه شړل او لرې کولو ته وائي. او ددې دوه مطلبه کیدې شي: (**یو**) دا چه دا ښیرې دي چه رسول الله ﷺ ئې دې دواړو ته کوی چه الله تعالیٰ دِې دا دواړه کسان د خپل رحمت نه لرې کړی. (**یا**) دا اخبار دې چه نبي کریم ﷺ د الله تعالیٰ له خوا اخبار ورکوی چه الله په دې دواړو باندې لعنت کړې دې. [الۡمُحَلِّلَ] د اسم فاعل په صیغه سره، هغه چاته وائي چه په درې طلاقو باندې طلاقه شوې ښځې سره په دې نیت نکاح کوی او جماع کوی چه د اول خاوند دپاره ئې حلاله وګرځي. [وَالۡمُحَلَّلَ لَهٗ] د اسم مفعول په صیغې سره، اولني طلاق ورکونکي ته وائي چه د هغهٔ دپاره ئې حلالوی. او دا ځکه چه څوك خپلې ښځې له په جدا جدا طهرونو کښې درې طلاقه ورکړی نو دا به د خپل اولني خاوند دپاره هله

حلالیږي چه بل چا سره نکاح وکړي، او هغه ورسره جماع وکړي، او بیا ئے طلاقه کړي، او عدت ئے تیر شي. نو که اولني خاوند ددے ښځے سره نکاح کوي نو دا ورله جائز دي.
لیکن په دے دویمه نکاح کښے دوه شرطه دي: (أ) چه دا به د رغبت او د همیشه دپاره نکاح کولو په نیت نکاح کوي، د اولني خاوند دپاره ددے ښځے د حلالولو په نیت به نکاح نۀ کوي، که چرے په دے نیت ئے ورسره نکاح وکړه. نو دا نکاح به باطله وي.
(ب) په دے نکاح کښے به جماع شوے وي. چه دا دواړه شرطونه موجود شي نو بیا د اول خاوند دپاره حلالیږي. په دے حدیث کښے په دے دواړو باندے لعنت ځکه ویل شوے چه دا ډیر رذیل، بے غیرته او پریوتے کار دے. اوکونکی هم داشان دي.
د [اَلْمُحَلَّلَ لَهٗ] یعنی اولني خاوند په حق کښے خو ځکه رذیل او پریوتے کار دے چه په دے کار سره دے د یوے شپے یا دوه شپو دپاره په خپله ښځه باندے بل څوك خیژوی. لکه څنګه چه څوك ګډه بزه یا غوا میښه د مال کولو دپاره نر ګډ یا سنډا له بوځي او هغه پرے وخیژي. او د (مُحَلِل) یعنی دویم خاوند په حق کښے ځکه پریوتے او قابلِ لعنت کار دے چه دے د اولني خاوند سره د هغۀ په دے بے غیرتئ کښے مدد کوي، او هغۀ دپاره دا ښځه برابروي.
فوائد: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه د «حلالے نکاح» حرامه او باطله ده، ځکه لعنت صرف په هغه کار باندے راځي چه هغه حرام وي، او نهي تقاضا د تحریم او د بطلان کوي. امام ذهبيؒ، حافظ ابن قیمؒ او نورو علماؤ دا کار په کبیره ګناهونو کښے شمارلے.
[الکبائر، ص: ۱۰۳، اعلام الموقعین: ٤/٤٠٢] د حلالے د نکاح په حرمت باندے بل دلیل دا آیتِ کریمه دے: ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ﴾ [النساء: ٢٤] ددے نه معلومه شوه چه د حلالے نکاح د مسافحے (زنا) سره مشابه ده، چه په دے کښے احصان (پاکدامنی) غرض نۀ دے بلکه یو ځل دوه ځل جماع کول غرض دے او بیا طلاق ورکول.
شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی: د حلالے نکاح حرام او باطل ده چه په دے سره د اولني خاوند دپاره نۀ حلالیږي. [اقامة الدلیل علی بطلان التحلیل ص: ۱۱، والفتاوی الکبری: ۳/۱۰۰] چونکه دا نکاح خپله باطله ده، لهذا د اولني خاوند دپاره دا ښځه په دے صورې نکاح سره نۀ حلالیږي. په حدیثونو کښے ددے کس ډیره بدی راغلے، لکه د عقبه بن

عامر ﷺ په حدیث کښې دے کس ته [اَلتَّيْسُ الْمُسْتَعَار] (سوالی چیلے) وئیلے شوے چه په محاوره کښې ورته د ((کرایه تهو)) وائی۔ رسول الله ﷺ فرمائی: ((آیا زهٔ تاسو ته د کرایه تهو (په سوال باندے غوښتل شوے نر ګډ یا سنډا) ونهٔ ښایم؟ خلکو عرض وکړو: ولے نه یا رسول الله! وے فرمایل: دا حلاله کونکے دے۔ الله تعالیٰ دے په حلالونکی او چا دپاره چه دا ښځه حلالولے شی، لعنت وکړی)۔

[ابن ماجه: ۱۹۳۶، دارقطنی: ۳۳۱۳، حاکم: ۲/۱۹۸، بیهقی: ۷/۲۰۸، حسن]

دیته د کرایه تهو ځکه ووئیل شو چه دا هم د ښځے د مال کولو او په هغے باندے د ختلو دپاره راغوښتل شوے، ځکه دا دویم کس چه ددے ښځے سره نکاح کوی نو دا دغه ښځه د همیشه دپاره نهٔ ساتی او نهٔ ئے د همیشه دپاره نکاح کول غرض دے، بلکه د یو ځل دوه ځل مال کولو دپاره ددے ښځے سره نکاح کوی۔ او بیا به ترے جدا کیږی۔ لکه څنګه چه غوئے په غوا باندے یو ځل دوه ځله وخیژی او بیا ترے راکوز شی۔ دے وجے نه دا دویم کس هغه ((زوج)) نهٔ دے کوم چه په قرآن کښې ذکر شوے: ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ زوج (خاوند) خو دیته وائی چه هغه د همیش والی په نیت نکاح کوی، یو ځل دوه ځلو مال کولو په نیت یا د یوے شپے دوه شپو په نیت نکاح کونکی ته خاوند نهٔ وائی۔ اګرکه په ظاهره کښې ئے د نکاح ((ډرامه)) جوړه کړے وی۔

(۲) د تحلیل نکاح باطله ده، برابره خبره ده که د نکاح تړلو په وخت د دویم خاوند سره دا شرط ولګوی چه زهٔ دا ښځه تاله یوه شپه یا دوه شپے د حلالولو دپاره په نکاح درکوم او بیا به ئے راله طلاقه وے۔ او یا ئے ددے شرط نه بغیر ورته په نکاح کړی خو د دویم خاوند مقصد د اولنی خاوند دپاره ددے ښځے حلالول وی، دا دواړه صورتونه د حلالے په نکاح کښې داخل دی۔ او دغه پورتنے حدیث دے دواړو ته شامل دے۔ بلکه داچه: دا نکاح وقتی طور سره نکاح ده، نو دا د شیعه ګانو د ((متعے)) سره مشابه ده۔

بلکه علامه ابن قیمؒ د خپل شیخ ابن تیمیہؒ نه نقل کړی دی چه د ((متعے)) نکاح د ((حلالے)) د نکاح نه په لسو وجو سره غوره ده۔ بیا ئے هغه ذکر کړی دی۔ ځینے دادی:

(أ) د متعے نکاح د اسلام په ابتداء کښې جائز وه، لیکن د حلالے نکاح په هیڅ وخت کښې نهٔ ده جائز شوے۔ (ب) د رسول الله ﷺ په زمانه کښې صحابه کرامو د متعے نکاح کړے۔ مګر هیڅ یو صحابی د ((حلالے)) نکاح نهٔ ده کړے۔ (ج) د حلالے په نکاح کښې

لعنت راغلې۔ مګر د متعې د نکاح په باره کښې يو حرف هم د لعنت نۀ دې راغلې۔ (د) د حلالې نکاح کونکې د منافقانو د جنس نه دې، ځکه منافق هم ښکاره يو شان ښائي او په باطن کښې بل شان وي۔ او محلل هم ښکاره خلکو ته ښائي چه زۀ شرعي نکاح کونکے يم، ځکه په دې کښې مهر، ګواهان او هر څۀ موجود وي۔ ليکن په باطن کښې دے د کرايه سنډا دے۔ ...... تر آخره پورې۔[اغاثة اللهفان: ۱/۲۷۷، المغني: ۱۰/۵۱]

(٥) دارنګه متعه په اسلام کښې په بعض اوقاتو کښې حلاله شوې وه او د تحليل نکاح په هيڅ حالت کښې نۀ ده حلاله شوې۔ [اقامة الدليل على بطلان التحليل : ١٤]۔

لنډه دا چه نکاح التحليل د الله تعالىٰ سره دهوکه ده۔ او څوک چه د الله تعالىٰ سره دهوکه کوي الله به د هغۀ سره دهوکه وکړي۔ او په نکاح کښې الفاظو له اعتبار نۀ وي بلکه مقصد له اعتبار وي، دې وجې نه که د دويمې نکاح په وخت هيڅ قيد هم ونۀ لګوي نو عرفًا دا نکاح نۀ حسابيږي بلکه د اولني خاوند دپاره د حلالولو يوه حيله ده۔

(۳) د حلالې په نکاح کښې د دويم خاوند نيت له اعتبار دے، که دے د تحليل نيت لري نو دے محلل دے او محلل لعنتي وي۔ او کله چه اولني خاوند ته دا ښځه په دې باطلې نکاح سره واپس شي نو هغه هم لعنتي شو، ځکه دا ښځه ددۀ دپاره حلاله نۀ ده۔ دا ښځه به د هغۀ دپاره هغه وخت حلاليږي چه دويم خاوند ورسره په شرعي محمدي نکاح سره نکاح وکړي۔ بلکه د سلفو يو جماعت فرمائي: کله چه په دې درې کسانو کښې يوتن د حلالې اراده وکړي – اولنے خاوند يا ښځه يا دويم خاوند – نو په دې ارادې سره دا دويمه نکاح باطله شوه۔ (حسن بصريؒ، ابراهيم نخعيؒ، قتادهؒ او نور)۔ امام احمدؒ فرمائي : حسنؒ، ابراهيمؒ او نورو تابعينوؒ به په دې باره کښې سختي کوله۔

[المغني: ۱۰/۵۳]۔

تنبيه ۱ : د نکاح التحليل درې صورتونه کيدې شي : **(اول)** دا چه دويم خاوند باندې دا شرط ولګوي چه د حلالولو نه پس به ستا نکاح ختمه وي۔نو دا د ((متعې)) نکاح شوه۔ چه حُرمت ئې مخکښې ذکر شو، او په دې حديث کښې هم داخله ده۔

(دويم) د حلالې نه پس به ورله طلاق ورکوې۔

(دريم) هيڅ شرط پرې ونۀ لګوي ليکن دواړه (اولنے او دويم خاوند) په دې تحليل باندې موافقت وکړي۔او د دواړو مقصد دائمي نکاح نۀ وي۔ [سبل السلام]۔

تنبيه ۲: ددې دومره سخت وعيد باوجود احنافو د ((حلالې)) نکاح ته جائز ويلي. د دوئ په نيز که چا دا کار وکړو نو نکاح صحيح ده او د اولنی خاوند دپاره دا ښځه حلاليږي. خو دا خبره مردوده ده. په سُنن ترمذیؒ کښې راځي، وکيع بن جراحؒ فرمائي : د اصحاب الرأی (ابوحنيفهؒ او د هغهٔ د ملګرو) خبره به غورزولې شي. ددې نه معلومه شوه چه د شاه انور شاه صاحب دا خبره غلطه ده چه وکيع بن جراحؒ د ابوحنيفهؒ مقلد وو. ځکه مقلد دا طاقت نهٔ لري چه د خپل امام په مقابله کښې حق ته حق ووائی.

په فقه حنفی کښې ئې ليکلي دي چه که په زړهٔ کښې ئې د ((حلالې)) اراده وه، نو دا جائز دي او د اولنی خاوند دپاره حلاليږي. او په بعضِ کتابونو کښې ئې ليکلي دي چه حلاله کول ثواب دې. او په بعضو کښې وائي : کيدې شي چه د لعنت نه مراد رحمت وي !! انا لله وانا اليه راجعون !! حالانکه عمر فاروق ﷛ فرمائي :

[وَلَا أُوْتَی بِمُحَلِّلٍ وَلَامُحَلَّلٍ لَهُ اِلَّا رَجَمْتُهُمَا] (که ماته حلاله کونکے او چاله چه حلاله کيږي، راوستل شي نو زهٔ به دواړه سنګسار کړم) [السنن الکبری للبيهقی : ۱۳۹۶۹، ابن ابی شيبة : ۳۷۳٤٤] دارنګه ابن عمر ﷛ نه نقل دي چه دوئ ته يو سړے راغے او پوښتنه ئې ترې وکړه چه يو سړی خپلې ښځې له درې طلاقه ورکړی دی، او بيا د هغهٔ ورور د هغهٔ د امر او مشورې نه بغير دغه ښځې سره ددې دپاره نکاح وکړه چه د خپل ورور دپاره ئې حلاله کړی نو آيا دا ښځه د اولنی خاوند دپاره حلاليږي اوکه نه؟ نو ابن عمر ﷛ ورته وفرمايل : [لَا ! إِلَّا نِكَاحَ رَغْبَةٍ، كُنَّا نَعُدُّ هٰذَا سَفَاحًا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

(نهٔ حلاليږي، مګر هله چه دا دويم خاوند د دغه ښځې سره د رغبت نکاح وکړي (نهٔ د حلالولو په نيت نکاح) ځکه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به مونږ دا کار زنا ګڼړله)

[صحيح: حاکم:۲/۱۹۹، بيهقی : ۷/۲۰۸، ارواء الغليل: ۱۸۹۸]

بل روايت کښې دي: [ذٰلِكَ السِّفَاحُ، لَوْ أَدْرَكَكُمْ عُمَرُ لَنَكَّلَكُمْ] (دا خو زنا ده. که عمر فاروق ﷛ تاسو په دې کار ليدلی وې نو سخته سزا به ئې درته درکړې وې) [حواله سابقه، وابن ابی شيبة : ۱۷۳٦٥، وإسناده صحيح].

او دا صحيح فقهي قاعده ده چه معروف د مشروط پشان وي، او عرفي شرط د لفظي شرط پشان وي. نو اګرکه په خُلهٔ باندې دا شرط ونهٔ لګوی خو همدا ئې مراد وي. نو د لعنت نه نشي خلاصيدې. په حنفي فقه کښې داسې بې غيرته مسئلې ډيرې زياتې دي.

او دا په اسلام باندې بدرنګ داغ لګول دي، حالانکه اسلام سره ددې هیڅ واسطه نشته ! دا صرف د يو مجتهدّ بې دلیله، بلکه د دلیل خلاف رائې ده. دادې د هغهٔ مقلدینو له مبارك وي.

سوال : بعضِ احناف وائي : په حدیث کښې ئې ورته محلل ویلی دی نو ددې نه معلومیږي چه د ((حلالې)) په نکاح سره دا ښځه د اولنی خاوند دپاره حلالیږي؟

جواب : دې سړي ته ئې ددهٔ د خپل ګمان په اعتبار سره محلل ویلی دی چه دې دا کار په دې خیال کوي چه ګنې دابه د اولني خاوند دپاره حلاله شي، حالانکه حلالیږي نهٔ بلکه دې خپله لعنتي ګرځي۔ واللّٰہ تعالیٰ اعلم۔

د فارسئ متل دې : عذرگناه بدتر ازگناه۔ دا څهٔ د تعجب خبره نهٔ ده، ځکه احنافو ته په همدې وجه ((اصحاب الرأی)) وائي، لکه ددې تاویلونو نه ئې ښهٔ معلومه ږئ !!

درجة الحدیث : [صحیح] ترمذی: ۱۱۲۰، نسائی: ۱۴۹/۶، أحمد: ۴۴۸/۱، دارمی: ۲۲۵۸، بیهقی: ۲۰۸/۷. وحدیث علی ایضا [صحیح] أبوداود: ۲۰۷۶، ترمذی: ۱۱۱۹، ابن ماجه: ۱۹۳۵، احمد: ۸۳/۱.

د ایلاء مسئله

3298 (4) – وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ : أَدْرَكْتُ بِضْعَةَ عَشَرَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَقُوْلُ : **يُوْقَفُ الْمُوْلِيْ**. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه : سلیمان بن یسارؒ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه څه دپاسه لس صحابه کرام وموندل چه ټولو به وئیل : ایلاء کونکے به (د قاضي مخامخ) ودرولے شي۔ (شرح السنه)

تشریح : پدې حدیث کښې د ایلاء مسئله ده۔ [يُوْقَفُ] : د قاضي مخې ته به ایلاء کونکے ودرولے شي ددې دپاره چه یا رجوع وکړي یا طلاق ورکړي۔ [الْمُوْلِيْ] : د ایلاء نه دے، اِيْلَاءٌ په لغت کښې : دِ آلَى يُوْلِيْ (باب افعال) نه مصدر دے۔ دا لفظ د أَلِيَّةٌ نه مشتق دے، قسَم خوړلو ته وائي۔ جمع ئې أَلَايَا ده، لکه عَطِيَّةٌ وَعَطَايَا۔ او (شرعًا) :

(۱) [حَلْفُ الزَّوْجِ عَلٰى جِمَاعِ زَوْجَتِهٖ] (خپلې ښځې سره د کوروالي نه قسَم خوړل)

(۲) یا : خاوند قسَم وخوري چه خپلې ښځې ته به د څلورو میاشتو نه زیاتې مودې

پورے نۀ نزدے کیږی۔ ایلاء په دوه قسمه ده: (۱) لغوی (۲) او شرعی۔ لغوی ایلاء دا ده چه د څلورو میاشتو نه کم قسم وکړی (مثلًا یوه میاشت یا دوه میاشتے یا درے) چه زۀ به ښځے ته نۀ نزدے کیږم۔ دارنګه که څلور میاشتو دپاره قسم وکړی هم دا ایلاء لغوی ده، نو ددے حکم د قسم دے که نزدے شو نو کفاره د قسم به ورکړی او که دغه موده نزدے نشو نو کفاره پرے نشته۔ او قتادۃ نه نقل دی چه دا هم شرعی ایلاء ده۔

او دا قِسم ایلاء جائز ده او دیته اصطلاحی ایلاء نۀ وئیل کیږی او دا هم د مصلحت په وخت جائز ده لکه ښځے یا وینځے ته ادب ورکولو دپاره داسے وکړے شی۔

لکه د انس ﷛ په حدیث کښے راغلی دی چه رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو نه یو یے میاشتے پورے ایلاء کړے وه بیا د میاشتے د پوره کیدو نه پس بیبیانو ته نزدے شو، او کفاره ئے ورنکړه او نه پرے طلاق واقع شو۔

عبد الله بن عباس ﷛ فرمائی: كَانَ إِيلَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ، فَوَقَّتَ اللَّهُ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ، فَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ، فَلَيْسَ بِإِيلَاءٍ. أَخْرَجَهُ الْبَيْهَقِيُّ: ۱۵۶۳۱]. (د جاهلیت په زمانه کښے به ایلاء کال دوه کالو پورے وه، بیا الله تعالیٰ څلور میاشتے (ددے موده) مقرر کړه، اوس که د څلورو میاشتو نه کمه وی نو دا به (شرعی) ایلاء نۀ شمارل کیږی۔ (بیهقیؒ)۔

ایلاء شرعی: شرعی ایلاء دا ده چه څلور میاشتو نه زیاتے مودے دپاره قسم وکړی یا تول عمر دپاره قسم وکړی چه ښځے ته به نۀ نزدے کیږی، که څلورو میاشتو کښے دننه نزدے شو نو کفاره به ورکړی او که څلور میاشتے تیرے شوے نو اختلاف دے چه روستو راځی۔ خو دا خبره یاده ساتل پکار دی چه د څلورو میاشتو نه زیات قسم کول یا همیشه دپاره د نۀ نزدے کیدو قسم کول نو دا قِسم ایلاء حرامه ده، ځکه په دے کښے ښځے ته ضرر ورکول او د هغے په حق ظلم کول دی۔

په شرعی ایلاء کښے که څلور میاشتے تیرے شوے نو آیا طلاق واقع کیږی او که نه؟، دوه قوله دی (۱) عبد الله بن مسعود ﷛، زید بن ثابت ﷛ او امام ابو حنیفۃؒ او د تابعینو یوه ډله فرمائی: د څلورو میاشتو تیریدو نه پس سمدستی یو طلاق بائن واقع شو، د دوئ په نیز به د څلورو میاشتو په موده کښے دننه مطالبه کولے شی چه رجوع وکړه که رجوع ئے وکړه صحیح ده او که وے نکړه او څلور میاشتے تیرے شوے نو طلاق واقع شو۔ او بائن طلاق پدے وجه واقع کیږی چه د ښځے حق برباد نشی ځکه چه کله ښځه

څلور میاشتې هم تیرې کړي او بیا د عدت درې میاشتې تیروي نو حق ئې بربادیږي نو ځکه بائن طلاق واقع کوي۔

پدې کښې سعید بن المسیبؒ، ابوبکر بن عبد الرحمنؒ، ربیعهؒ، مکحولؒ او اوزاعیؒ وائي چه یو طلاق رجعي پرې واقع شو۔ (فتح الباری)

دلیل: دوئ وائي چه د ایلاء آیت په درې طرقو سره پدې خبره دلالت کوي:

(۱) اول دا چه په قراءت د ابن مسعود ﷜ کښې دي: ﴿فَإِنْ فَاءُوا فِيهِنَّ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (که دوئ په څلورو میاشتو کښې دننه رجوع وکړه نو الله بخنه کونکې رحم کونکې دې) نو رجوع په مینځ د څلورو میاشتو کښې مراد ده او په تیریدو د څلورو میاشتو خود بخود طلاق واقع کیږي۔

❁ دارنګه الله تعالیٰ موده د ایلاء څلور میاشتې ذکر کړې نو که رجوع د څلورو میاشتو نه پس شي نو بیا به په نص باندې زیادت راشي او دا جائز نۀ ده۔

❁ دارنګه که چرته د څلورو میاشتو په موده کښې جماع وکړي نو دا رجوع به په خپل موقعه کښې واقع وي، نو دا دلیل دې چه دې په دې موده کښې د رجوع حق لري۔ فان فاؤوا یعنی که راواپس شول په موده د ایلاء کښې۔

دارنګه وائي چه څلور میاشتې یوه نیته ده چه د جدائي دپاره مقرر شوې ده، نو ددې په تیریدو به فرقت او جدائي واقع کیږي لکه د عدت په شان۔ یا د تعلیقي طلاقو په شان چه ورته ووائي: کله چه څلور میاشتې تیرې شوې نو تۀ به طلاقه ئې، نو ددې مودې په تیریدو خود بخود طلاقیږي۔

(۲) **جمهور** علماء لکه امام شافعيؒ، احمدؒ او عام صحابه کرامو رضی الله عنهم رائې دا ده (لکه دلته سلیمان بن یسار بضعة عشر صحابه کرام ذکر کوي) چه هرکله څلور میاشتې پوره شوې نو ایلاء کونکې به د قاضي مخې ته راوستې شي، قاضي به ورته وائي: [إِمَّا أَنْ تَفِيءَ وَإِمَّا أَنْ تُطَلِّقَ]۔ یا به ښځې ته رجوع کوې، یا به طلاق ورکوې نو که رجوع ئې وکړه نو صحیح ده، او په دۀ باندې طلاق نۀ واقع کیږي۔ او که قاضي نۀ وو نو جیل ته به واچولې شي تردې چه طلاق ورکړي۔

دلیل: دوئ استدلال کوي په آثار د صحابه کرامو ﷢ چه هغه دارقطني (٦١/٤)، مصنف عبد الرزاق، بیهقي، قرطبي، المجموع المهذب، نیل الاوطار کښې ذکر دي۔ او

په آیت کریمه باندې، اول د صحابه کرامو آثار وګوره:

۱- د ابن عمر ﷺ روایت دے: عَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ إِذَا مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وُقِفَ الْمُوْلِيْ حَتّٰى يُطَلِّقَ، وَلَا يَقَعُ عَلَيْهِ الطَّلَاقُ حَتّٰى يُطَلِّقَ. [بخاری: ٥٢٩١، مالك: ٢/٥٥٦].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه کله څلور میاشتے تیرے شی نو ایلاء کونکے به (د حاکمِ وخت مخامخ) ودرولے شی تردے چه طلاق ورکړی، او طلاق به تر هغه وخته پورے په دۀ نۀ واقع کیږی ترڅو پورے چه طلاق ورنۀ کړی۔ (بخاری)۔ یعنی په صرف څلورو میاشتو تیریدو سره ددۀ ښځه نۀ طلاقیږی۔ البته که ددے نه روستو طلاق ورکړی نو بیا به طلاق واقع کیږی۔

۲- اثر: دا حدیث د سلیمان بن یسارؔ دے چه فرمائی: ما اُولس سړی د صحابه کرامو موندلی چه هغوی به وئیل چه ایلاء کونکے به د قاضی مخے ته ودرولے شی۔ (رواه البغوی فی شرح السنه والشافعی)

۳- دلیل: آیت کریمه دے، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ فَاِنْ فَآءُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ [البقرة: ٢٢٦] په دے آیتِ کریمه کښے الله تعالیٰ د خاوند دپاره د څلورو میاشتو انتظار مقرر کړے، نو کله چه څلور میاشتے پوره شی نو دے به په دوه کارونو کښے یو کارته مجبورولے شی: یا به طلاق ورکوی او یا به جماع کوی۔ په دے شرط چه په جماع کولو قادر وی، لیکن که مسافر یا مریض یا قیدی وی، نو بیا په خُلۀ یا زړۀ سره د خپلے خبرے نه واپس کیدل کافی دی۔او په دے باره کښے یواځے د ښځے ښکلول کافی نۀ دی ځکه چه په دے سره د ښځے ضرر نۀ لرے کیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿فَاِنْ فَآءُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ﴾ [البقرة: ٢٢٦، ٢٢٧] (که چرے دوئ د څلورو میاشتو پوره کیدو نه پس خپلو ښځو ته په جماع کولو سره واپس شو، نو بیشکه الله ښنونکے مهربانه دے، اوکه د طلاق ورکولو اراده ئے وکړه نو بیشکه چه الله آوریدونکے او پوهه دے)۔

په دے آیتِ کریمه کښے الله تعالیٰ ښځے ته رجوع کول د طلاقو نه مخکښے ذکر کړی، او دے سره ئے خپل دوه صفتونه [غَفُوْرٌ، رَّحِيْمٌ] ذکر کړی، چه په دے کښے اشاره ده چه ښځو ته واپس کیدل د الله خوښ دی، ددے نه چه هغوئ ته طلاق ورکړے شی ځکه چه د طلاقو سره ئے خپل نور دوه صفتونه [سَمِيْعٌ، عَلِيْمٌ] ذکر کړی چه دا یو قِسم په زورنے

دلالت کوی۔ چه د دوئ د طلاقو الفاظ الله آوری او هغه پرے پوهه دے۔ [التفسیر و أصوله، لابن عثیمین: ۲/۱۷۵]

حافظ ابن القیمؒ په «بدائع التفسیر» کښے وئیلی دی چه ددے آیت نه په لسو طرقو سره استدلال کیږی چه بعض دا دی: ۱- لِلَّذِیْنَ یُؤْلُوْنَ : دلته الله تعالیٰ د ایلاء د مودے نسبت خاوندانو ته کړے چه دا دوئ دپاره ده۔ او په دوئ باندے ئے مقرر نکړه نو دا خبره ضروری شوه چه په مینځ د څلورو میاشتو کښے به ددۀ نه مطالبه نۀ کیږی بلکه ددے مودے د تیریدو نه پس به ترے مطالبه کیږی لکه د قرض د نیتے پوره کیدو نه پس مطالبه کیږی۔ که په مینځ کښے مطالبه لازمه شی نو بیا خو به د خاوندانو د فائدے دپاره نیته رانشی۔ او الله تعالیٰ خو د دوئ دپاره نیته مقرر کړه۔

۲- فَإِنْ فَاۤءُوْا : کښے فاء د تعقیب دپاره ده [اَیْ بَعْدَ مُضِیِّ الْمُدَّةِ اَیْ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ] که دوئ راواپس شول پس د تیریدو د څلورو میاشتو نه۔ معلومه شوه چه د څلورو میاشتو نه روستو هم واپسی کولے شی او طلاق واقع نۀ دی۔ ۳- وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ - اَلْعَزْمُ هُوَ الْإِرَادَةُ الْجَازِمَةُ عَلَى الْفِعْلِ] او که دوئ د طلاقو عزم کړے وو، او عزم د یو کار کولو مضبوطے ارادے ته وائی۔ معلومه شوه چه بغیر د ارادے د طلاقو نه خپله طلاق نۀ واقع کیږی۔ نو که خپله طلاق واقع شی نو بیا د عزم څه معنیٰ ده ؟!۔

٤- سمیع علیم : سمیع لفظ دلیل دے چه سړے به د طلاقو الفاظ وائی نو الله تعالیٰ به ئے واوری۔ ځکه سمع د الفاظو سره تعلق لری۔ ٥- الله تعالیٰ په آیت کښے د دوه څیزونو ترمینځ اختیار ورکړے، فیء (رجوع کول) یا طلاق ورکول۔ او اختیار په دوه حالتونو کښے نۀ وی بلکه په یو حالت کښے وی، که دا په دوه حالتونو کښے وے نو بیا به ترتیب وے، چه اول به فیء بیا به طلاق ورکول وو، نو که چرته فیء (رجوع) په نفس موده کښے (یعنی څلورو میاشتو کښے) واخستے شی او عزم د طلاق د مودے تیریدو نه پس نو بیا خو په یو حالت کښے تخییر رانغلو۔

٦- الله تعالیٰ په آیت کښے په ایلاء کونکی دوه شیان لازم کړی او یو ئے ددۀ دپاره لازم کړے، د ښځے څلورو میاشتو پورے انتظار ددۀ دپاره دے، او په دۀ باندے ئے یو فیء او بل طلاق لازم کړے چه یا به رجوع کوے او یا به طلاق ورکوے۔ او ستاسو په نیز په دۀ باندے صرف یو شے لازمیږی چه هغه رجوع کول دی ځکه چه تاسو خو د مودے د

تیریدو نه پس سمدست طلاق واقع گنړئ. او دا خو د ظاهری نص خلاف ده.
نو ر دلائل او قرائن دا دی: ایلاء په الله باندے قسم کول دی چه کفاره لازموی نو د نورو قسمونو په شان پدے باندے طلاق نۀ واقع کیږی. ❁ دارنگه ایلاء داسے یو لفظ دے چه پدے سره طلاق معجل نۀ واقع کیږی نو دغه شان پدے به طلاق مؤجل هم نۀ واقع کیږی لکه د ظهار په شان. ❁ دارنگه ایلاء په جاهلیت کښے طلاق وو نو په اسلام کښے هغه منسوخ شو لکه د ظهار په شان، نو جائز نۀ ده چه پدے باندے طلاق واقع شی ځکه چه پدے سره د جاهلیت حکم منسوخ کول مقصد دے.
❁ دارنگه طلاق یا په صریح لفظ سره یا په کنایه سره واقع کیږی او ایلاء پکښے یو قسم هم نۀ دے، ځکه چه که صریح لفظ شی نو بیا خو به په ایلاء سره فی الحال سمدستی طلاق واقع شی. او که کنایه شی نو بیا به نیت ته محتاج وی.
او دوئ د اول قول د دلائلو نه داسے جواب کوی چه د ابن مسعود ﷺ قراءت کښے دا خبره ده چه په موده د تربص کښے رجوع کول جائز دی. او دا مطلب نۀ دے چه پدے موده کښے د مطالبے مستحق دے. دویم: ستاسو دا خبره چه په موده د ایلاء کښے رجوع کولو جواز دلیل دے چه رجوع به صرف په موده کښے کوی. نو دا خبره باطله ده په دَین مؤجل باندے. ځکه چه مؤجل قرض کښے مطالبه مخکښے نه کولے شی او استحقاق ئے د نیتے پوره کیدو نه پس دے. او ستاسو دا خبره چه که رجوع د مودے نه پس شی بیا به زیادت په څلورو میاشتو راشی - صحیح نۀ ده ځکه چه څلور میاشتے موده د صبر ده چه پدے کښے د مطالبے مستحق نۀ دے. نو ددے په نفس تیریدو سره ددهٔ حق ثابتیږی نو بیا سمدستی مطالبه هم کولے شی او یا به ورته مهلت ورکړے شی.
نو ثابته شوه چه **راجح** مذهب د جمهور امت دے، ځکه آیت او حدیث د هغوئ سره دے. والله تعالیٰ اعلم.
١- **فائده**: که په ایلاء کښے قسم ونۀ خوړل شی بلکه هسے خپلے بی بی سره د څلورو میاشتو نه زیاتے مودے پورے جماع پریدی، نو دیته ایلاء نۀ ویل کیږی، ځکه الله تعالیٰ ایلاء په قسم پورے خاص کړے. د ایلاء د احکامو په باره کښے بنیادی دلیل دغه ذکر شوے آیتِ کریمه دے.
٢- **فائده**: د احنافو په نیز که څلور میاشتو دپاره قسم وکړی دا هم شرعی ایلاء ده،

چه ددے موده په ختميدو به يو طلاق بائن واقع كيږى او د جمهورو په نيز ځلور مياشتے كه پوره شى او رجوع وكړى نو دا ايلاء نۀ ده او احكام د ايلاء پرے نۀ مرتب كيږى، ځكه چه څو مره وخت ئے قسم كړے وو نو هغه ئے پوره كړو. نو ددے په پوره كيدو سره ايلاء ختمه شوه. حالانكه د ايلاء دپاره د ځلورو مياشتو موده مقرر شوے، نو ددے مودے مقررولو مطلب دادے چه ايلاء د ځلورو مياشتو نه زياته وى او د ځلورو مياشتو پوره كيدو نه پس به خاوند په دوه كارونو كښے يو كار ته مجبورولے شى.

۳- فائده: **اختلافى مسئله**: (۱) د على، ابن عباس رضى الله عنهما مذهب دا دے چه ايلاء صرف په حالت د غضب كښے وى ځكه چه ايلاء كښے د سړى د ښځے نه خفگان وى، نو رضا پكښے نۀ وى. **دليل** دا وائى چه نبى عليه السلام چه د خپلو بيبيانو نه ايلاء كړے وه نو هغه په حالت د غضب كښے وو.

(۲) ائمه اربعۃ او عام صحابه كرام ﷺ وائى چه ايلاء په رضاء او غضب دواړه حالتونو كښے صحيح ده، او دليل پدے باندے دآيت عموم دے، چه دلته ئے د غضب قيد نۀ دے لگولے او همدا خبره صحيح ده. والله اعلم وبالله التوفيق.

درجة الحديث: [إسناده حسن] الشافعى: ۱۳۹، والدارقطنى: ٤/٦٢، وابن ابى شيبة، وذكره الالبانى فى الارواء: ۷/۱۷۱، تحت رقم: ۲۰۸۵.

د ظِهار حكم

3299 (5) – وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ ﷺ: أَنَّ سَلْمَانَ بْنَ صَخْرٍ وَيُقَالُ لَهُ: سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ الْبَيَاضِيُّ جَعَلَ امْرَأَتَهُ عَلَيْهِ كَظَهْرِ أُمِّهِ حَتَّى يَمْضِيَ رَمَضَانُ فَلَمَّا مَضَى نِصْفٌ مِنْ رَمَضَانَ وَقَعَ عَلَيْهَا لَيْلًا فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ لَهُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**أَعْتِقْ رَقَبَةً**" قَالَ: لَا أَجِدُهَا قَالَ: "**فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ**" قَالَ: لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ: "**أَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا**" قَالَ: لَا أَجِدُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو: "**أَعْطِهِ ذَلِكَ الْعَرَقَ**" وَهُوَ مِكْتَلٌ يَأْخُذُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ صَاعًا "**لِيُطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا**". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

3300 (6) وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ

صَخْرٍ نَحْوَهُ قَالَ: كُنْتُ امْرَأً أُصِيبُ مِنَ النِّسَاءِ مَا لَا يُصِيبُ غَيْرِي وَفِي رِوَايَتِهِمَا أَعْنِي أَبَا دَاوُدَ وَالدَّارِمِيَّ: " فَأَطْعِمْ وَسْقًا مِنْ تَمْرٍ بَيْنَ سِتِّينَ مِسْكِينًا ".

ترجمه : ابو سلمهٔ نه روايت دے چه سليمان بن صخر ﷺ - او دهٔ ته سلمه بن صخر بياضي وئيلے شي- دهٔ خپله ښځه په خپل ځان باندے د خپلے مور د شا په شان وګرځوله تردے چه رمضان راشي، نو هركله چه نيمائي رمضان تير شو نو په هغے باندے د شپے واقع شو (نزديكت ئے وكړو) نو رسول الله ﷺ ته راغلو او دا خبره ئے ورته ذكر كړه نو رسول الله ﷺ دهٔ ته وفرمايل: يو مرئے آزاد كړه- وے وئيل: زهٔ ئے نهٔ مونده كوم- وے فرمايل: نو دوه مياشتے پرله پسے روژے ونيسه- وے وئيل: (ددے) طاقت نهٔ لرم- وے فرمايل: شپيتو مسكينانو ته خوراك وركړه- وے وئيل: نهٔ ئے مونده كوم- نو رسول الله ﷺ فروه بن عمرو ﷺ ته وفرمايل: دهٔ ته دغه پچئ (كهجورے) وركړه او دا يوه پچئ وه چه پنځلس صاعه يا شپاړس صاعه ئے نيول: (دا ئے ورته وويل) : دے دِے شپيتهٔ مسكينانو ته (ددے نه) خوراك وركړي- (ترمذیؒ)

او ابوداؤدؒ، ابن ماجهؒ او دارمیؒ د سليمان بن يسارؒ نه هغهٔ د سلمه بن صخر نه ددے په شان روايت نقل كړيدے، هغه وائي: زهٔ يو سړے وم چه ما به زنانو ته داسے نزديكت كولو چه زما نه علاوه به هغه شان رسيدل نهٔ كول- او په روايت د دواړو يعنى ابوداؤدؒ او دارمیؒ كښے دي: (وے فرمايل: يو وسق كهجورے د شپيته مسكينانو ترمينځ وركړه)-

تعارف د سلمة بن صخر ﷺ : د نسب سلسله ئے داسے ده: سلمه بن صخر بن سليمان بن صمه بياضي- بنو بياضه قبيلے طرفته منسوب دے چه دا د خزرج قبيلے يو شاخ دے- دا صحابي د هغه صحابو نه دے چه د الله تعالىٰ د ويرے به ئے ډير زيات ژړل- فروه بن عمرو ﷺ هم د انصارو د بنو بياضه نه دے، او بدر او د هغے نه روستو غزواتو ته حاضر شوے-

تشريح : په راتلونكو حديثونو كښے د ظهار متعلق احكام ذكر كيږي- [حَتَّى يَمْضِيَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ] - يعنى داسے ئے ورته وويل چه تهٔ په ما باندے زما د مور د شا په شان ئے تردے چه رمضان ختم شي، يعنى د رمضان د ختميدو پورے ئے خپله ښځه په ځان باندے حرامه كړه- [نِصْفٌ مِنْ رَمَضَانَ وَقَعَ عَلَيْهَا لَيْلًا] دهٔ په رمضان كښے ظهار وكړو ځكه چه يا خو په هغه وخت كښے جماع په شپو د رمضان كښے هم حرامه وه او يا ئے

نیت د عبادت کړے وو ځکه چه په جماع کولو کښې د انسان په بدن کښې فتور او سستي پیدا کیږي۔ [لَااَسْتَطِيْعُ] د ترمذيؒ نه علاوه نورو روایتونو کښې دي: دهٔ وویل: ما ته چه دا مصیبت رارسیدلے نو دا خو د روژو نه۔

[لَا أَجِدُ]: د ترمذيؒ نه علاوه نورو روایتونو کښې دي: دهٔ وویل: ((قسم په هغه ذات چه تهٔ ئے په حق رالیږلے ئے، یقیناً مونږ بیګاه شپه په تشه خیټه تیره کړه چه زمونږ مابنامے خوراك نهٔ وو))۔ [لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو] دا هم د بیاضه قبیلے نه انصاري بدري صحابي دے۔ [الْعَرَق]۔ د عین او راء په زور سره، دا لویه پچئ ده چه پنځلسو نه تر شلو صاعو پورے پکښې ځائیږي۔ چه دیته مِکتل او زنبیل او قُفه وائي۔

[مَا لَا يُصِيْبُ غَيْرِيْ] یعني زما شهوت او قوت زیات وو۔ نو زهٔ د جنسي هیجان د غلبے په وجه د خپلے بی بی سره د صحبت نه بند نشوم۔

فوائد او مسائل: (۱) **د ظهار تعریف**: [كَظَهْرِ اُمِّهٖ] **ظهار**: په لغت کښې: د ظهر نه ماخوذ دے، ملا ته وائي، او ملا ئے ځکه خاص کړے چه دا د سوریدو ځائے دے، او په ښځه هم سړے سورلي کوي، هر کله چه خاوند خپلے ښځے ته ووائي: [أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ] (تهٔ په ما داسے ئے لکه زما د مور د ملا په شان) نو ګویا ددهٔ مقصد دادے چه تهٔ په ما په نکاح کښې په سوریدو کښې داسے حرامه ئے لکه څنګه چه په مور باندے سوریدل په ما حرام دي۔ او (**شرعًا**): د خپلے ښځے تشبیه د هغه ښځو سره ورکول چه په دهٔ باندے همیشه دپاره حرامے وي، لکه مور، خور، لور وغیره۔ یا خپلے ښځے ته دا ویل چه: تهٔ په ما داسے حرامه ئے څنګه چه د مور ملا په ما حرامه ده۔

(۲) ظهار د جاهلیت په زمانه کښې هم وو او اسلام هم په خپل حالت باندے برقرار پریښودو، خو فرق دا دے چه جاهلیت کښې ظهار سره مؤبد حرمت راتللو او اسلام ورله کفاره مقرر کړه، د کفارے ورکولو نه روستو ښځے ته بیرته واپسي جائز شوه۔ او دے ته الله تعالیٰ ناروا کار وئیلے دے: ﴿مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا﴾ مګر بیا ئے هم د حل لاره راوویستله چه کفارے سره بیرته ښځے ته واپسي کولے شي۔

(۳) **د ظهار اقسام**: ظهار په دوه قسمه دے (۱) یو مؤقت ظهار: لکه داسے ووائي: [أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ إِلٰى رَمَضَانَ] تهٔ په ما باندے د مور د شا په شان ئے تر رمضان پورے نو ددے حکم دا دے چه که د رمضان نه مخکښې نزدے شو نو کفاره به ورکړي او که

رمضان پوره شو نو هيڅ کفاره پرے نشته. (۲) ظهار مؤبد : چه مطلقاً ووائی : تهٔ په ما باندے زما د مور د شا په شان ئے، نو کفاره به ورکوی هرکله چه د جماع کولو اراده ئے وی. (۱) پدے کښے اهل ظواهر (ابن حزمؒ) وائی چه دوباره به دا کلمات بیا وائی نو هله رجوع کولے شی، دلیل دا وائی چه آیت کښے دی : ﴿ثُمَّ يَعُوۡدُوۡنَ لِمَا قَالُوۡا﴾ بیا دوئ راواپس کیږی هغه وینا ته چه دوئ مخکښے وئیلے ده. لیکن صحیح دا ده چه الله تعالیٰ او د هغهٔ نبی دا شرط نهٔ دے لګولے چه دا کلمات به بیا وائی، بلکه الله تعالیٰ خو دے ته منکر او زور قول وئیلے دے. (۲) جمهور علماء وائی چه د عَوۡد معنیٰ دا ده چه د جماع اراده ئے وی، نو کفاره هله لازمه ده چه اراده د وطی ئے وی. نو آیت معنیٰ دا شوه : [ثُمَّ يَعُوۡدُوۡنَ -لِنَكۡثِ مَا قَالُوۡا] بیا دوئ راواپس کیږی ماتولو د هغه خبرے ته چه دوئ وئیلے ده. یعنی خپله زاړه خبره ماتوی، او ښځے ته رجوع کول غواړی نو بیا به کفاره ورکوی. او همدا خبره د دلیل په لحاظ قوی ده.

(٤) **د ظهار الفاظ** : ظهار په کومو الفاظو سره واقع کیږی ؟ (۱) بعض علماء وائی چه ظهار صرف په الفاظو د ظهار سره صحیح کیږی چه هغه لفظ د ظهر او لفظ د ام دے، لکه داسے ووائی : [أَنۡتِ عَلَيَّ كَظَهۡرِ أُمِّيۡ] تهٔ په ما باندے زما د مور د شا په شان ئے. یعنی ښځه د مور د شا سره مشابه کول. او دا قول د ابن حزمؒ او اهل ظواهرو دے. نو ددوئ په نیز په نورو الفاظو سره ظهار نهٔ راځی، لکه سینه، فرج، پتون، وغیره سره تشبیه ورکړی. دارنګه که ښځه د خور یا لور یا ترور یا وریرے یا خورزے د شا سره مشابه کړی نو دا هم ظهار نهٔ دے. **دلائل** : ۱- دلیل : وجه د تسمیه د ظهار نه معلومیږی چه پدے کښے ظهر لفظ ذکر دے. ۲- آیت کښے دی : ﴿مَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمۡ إِنۡ أُمَّهَاتُهُمۡ إِلَّا اللَّائِیۡ وَلَدۡنَهُمۡ﴾ نو دے کښے ام (مور) لفظ ذکر دے، دا دلیل دے چه ظهار صرف په لفظ د ام سره کیږی. (۲) ابوحنیفهؒ، اوزاعیؒ، ثوریؒ او حسن بن صالحؒ او په یو قول کښے امام شافعیؒ وائی چه ظهار په هر هغه لفظ سره کیږی چه په هغے کښے خپله ښځه د یوے محرمے سره او د هغے د یو اندام سره مشابه کړی چه هغے ته د سړی کتل حرام وی، بعضو پکښے د پلار شا سره مشابهت ورکول هم ظهار وئیلے دے. لکه دا یو قول احمدؒ دے او د امام مالك د شاګرد ابن القاسمؒ قول دے. (المغنی)

دلائل : ۱-دلیل : آیت کښے ظهار ته (مُنۡكَرًا مِنَ الۡقَوۡلِ) وئیلے شوے، او لکه څنګه چه

د مور سره خپله ښځه مشابه کول منکر دے نو دغه شان د نورو محرماتو سره مشابه کول هم منکر دے۔ دا استدلال په قیاس شو۔ جواب: اهل ظاهر وائي چه دا قیاس صحيح نۀ دے ځکه چه هر منکر من القول کښې کفاره نۀ وی، ځکه چه مور ته کنځل کول، یا بهتان تړل دا منکرات دی، او ظهار او کفاره پکښې نشته نو دا علت صحيح نۀ دے۔ د دلیل په اعتبار سره قول د ابن حزمؒ زیات **قوی** دے۔ [السيل الجرار: ۲/٤۱٥]

او د **ظهار** الفاظ په دوه قِسمه دی: (۱) یو صریحی: مثلًا: [أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ] یا داسے ووائی: [فَرْجُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ] یا داسے ووائی: [بَطْنُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ] وغیره. په دے الفاظو سره په اتفاق د علماؤ سره ظهار واقع کیږی۔ [نيل الأوطار: ٤/٣٥٦، فتح الباري: ١٠/٥٤٢، تفسير اللباب في علوم الكتاب: ١٨/٥١٩، تفسير القرطبي: ١٧/١٧٧]

(۲) کنایه: مثلًا: یوتن خپلے ښځے ته ووائی: [أَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّيْ] (ته په ما زما د مور پشان ئے) ددے الفاظو ویونکے که د ظهار نیت وکړی نو ظهار به وی او که د ظهار نیت ونۀ کړی نو ظهار به نۀ وی۔ [السيل الجرار: ٢/٤١٧]

(۵) اعتق رقبة: حدیث نه ثابته شوه چه د ظهار په کفاره کښې په مذکوره درے شیانو کښې د ترتیب لحاظ ساتل واجب دی. هغه دا چه: د تهولو نه اول به غلام آزادوی، که چرے غلام نۀ وو، یا وو خو ددۀ وس نۀ کیدۀ نو بیا به دوه میاشتے پرله پسے روژے نیسی۔ او که دا ئے هم نشوه نیولے، نو بیا به شپیتۀ مسکینانو له خوراك ورکوی۔

الله تعالىٰ ددے بیان داسے کوی: ﴿وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ○ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا﴾ [المجادلة: ٣، ٤] (او کوم خلق چه خپلو ښځو سره ظِهار کوی، بیا د خپلے کړے خبرے نه واپس کیدل غواړی نو مخکښې ددے نه چه دواړه یو بل سره لاس ولګوی، یو غلام به آزادول وی، اے مسلمانانو! تاسو ته ددے نصیحت کیږی، او الله ستاسو د عملونو نه ښۀ خبردار دے۔

○ او څوك چه غلام ونۀ مومی هغه دِے دوه میاشتے پرله پسے روژے ونیسی مخکښې ددے نه چه دواړه یو بل مسه کړی، او څوك چه ددے طاقت نۀ لری، هغه دِے شپیتو مسکینانو له خوراك ورکړی)۔

(٦) په آیتِ کریمه کښې د رقبے آزادولو یا د روژو نیولو سره دا شرط لګیدلے چه دا دواړه

به د جماع نه مخکښې وي. لیکن د اطعام سره دا شرط نۀ دے ذکر شوے. دے وجے نه په دے کښې د اهلِ علمو اختلاف دے، اکثر علماء فرمائي: اطعام به هم د جماع نه مخکښې ورکوي او د کفارے ورکولو نه مخکښې جماع کول جائز نۀ دي. او دلیل ئې د ابن عباس ﷺ روستو روایت دے: [أَمَرَهُ أَنْ لَّا يَقْرَبَهَا حَتَّى يُكَفِّرَ]. **دویم** قول دادے: چه د اطعام نه مخکښې جماع کول جائز دي. او دا د ابو ثورؒ او احمدؒ قول دے ځکه الله تعالیٰ د اطعام ورکولو نه مخکښې مسیس (جماع) نۀ ده منع کړے، څنګه ئې چه په عتق او صیام کښې منع کړے. خو په اولنی قول کښې احتیاط زیات دے، ځکه د اطعام معامله آسانه ده نو ددے ورکولو پورے د جماع نه صبر کول اولیٰ دي.

لیکن دویم قول والا وائي چه الله تعالیٰ په اولنو کښې قید ذکر کړے او روستو کښې ئې نۀ دے ذکر کړے، خبره ئې مطلق پریښې ده او دا قانون دے چه شارع په یو ځائے کښې قید لګوي په هغے کښې فائده وي او په بل ځائے کښې ئې نۀ لګوي په هغے کښې حکمت وي لهذا مطلق به په خپل اطلاق او مقید به په خپل تقیید جاري کیږي. او د دلیل په اعتبار سره همدا ظاهره ده. والله تعالیٰ اعلم.

(۷) [صُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ]: په روژو نیولو کښې دا شرط دے چه دوه میاشتے پرله پسے به وي، د عذر نه سوی به په دے کښې روژه نۀ ماتوي. او عذر دادے چه مینځ کښې رمضان راشي، یا لوئے اختر او ایامِ تشریق راشي، او یا د مرض یا سفر د وجے روژه ونۀ نیسي، نو په دے عذرونو سره پرله پسے والے نۀ ختمیږي، ځکه دا روژه ماتول ددۀ په اختیار سره نۀ دي. خو که بغیر د عذر نه ئې په مینځ کښې روژه ماته کړه نو بیا به ئې د سره کوي. ❁ او آیتِ کریمه دلیل دے چه روژے به د جماع کولو نه مخکښې پوره کوي. ارشاد دے: ﴿فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا﴾ نو که دوه میاشتو کښې ئې دننه د ورځے جماع وکړه نو روژے به بیا د سره کوي او په دے کښې اتفاق دے. **اوکه د شپے ئې ورسره جماع وکړه نو په دے کښې دوه قوله دي:**

یو قول دادے چه د شپے په جماع کولو سره هم پرله پسے والے ختمیږي، او دلیل ئې د آیتِ کریمه عموم دے: ﴿مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا﴾ چه دلته د دوه داسے میاشتو روژے نیولو حکم شوے چه هغه د جماع نه خالي وي. **دویم** قول دادے: چه د شپے په جماع کولو سره تتابع او پرله پسے والے نۀ ختمیږي، او دا د امام شافعيؒ، امام احمدؒ، ابن قدامهؒ او ابن

المنذرؒ قول دے۔ ځکه د شپے جماع کولو سره روژه نهٔ خرابیږی نو روژه د سره کول واجب نهٔ دی۔ بلـه دا چـه: پرلـه پسـے روژے دیتـه وائی چه د یوے ورځے پسے بله ورځ ونیسی، برابره خبره ده که په شپه کښے ئے په کښے جماع کړے وی او که نه۔ [تفسیر ابن کثیر: ٦٥٨]
مګر اول قول قوی دے۔ ځکـه چه ظاهره دا ده چه په ظهار کښے جماع د ورځے او د شپے دواړه ناروا ده، ځکه که د شپے جائز شی، نو د ورځے جماع به منع شی حال دا چه په روژه کښے خو د ورځے جماع ناروا ده۔ فتدبر۔ بله دا چه صخر ﷺ خو د شپے جماع کړے وه۔
(۸) [لَا أَسْتَطِيْعُ] دا حـدیث دلیـل دے چه کـله روژه نشـی نیولے، په دے وجه چه بوډا یا بیـمار دے چه روژے سره ئے بیـماری زیـاتیـږی یا اُوږدیږی، او یا په دے وجه روژے نشی نیولے چه شهوت ئے ډیر زیات دے، (لکه دے حدیث کښے دغه صحابی د روژو نیولو نه په خپـل دے قـول سره معـذرت وغوښتو چه: ما ته خو دا ټوله قصه د روژو نه راپیښه شـویده۔ او نبی کریم ﷺ د هغهٔ دا عذر قبول کړو)، نو بیا شپیتو مسکینانو له خوراك ورکـول واجب دی۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا﴾ آیت او حـدیث دواړو کښے ښـکاره راغلی چه د شپیتو شماره پوره کول ضروری دی۔ البته که شپیتـهٔ مسـکینـان نـهٔ مـلاویـدل نو بیابه هغوئ له د شپیـتو مسکینانو اندازه خوراك ورکړی۔ او خـوراك ورکـولـو کښـے هم عرف له اعتبار دے، کوم شے چه د خلکو خوراکه وی هغه به ورکوی لکه وریژے وغیره۔
(۹) [خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا] یـو صـاع څـلور مُده وی نو د طعام ورکولو اندازه یو مُد غنم دی چه دا څـلورمه برخه صاع دے۔ او په روایت د ابوداود کښے یو وسق طعام ورکول دی چه یـو وسق شپیتـه صاعـه وی، نـو د هـغے نه معلومیږی چه هر مسکین ته به یو یو صاع ورکـوی۔ لیـکـن هـغـه روایت ضعیف دے او دا روایت قوی دے۔ دویم دا چه وسق ورکـولـو حـکـم استحبابی دے او پنځلس صاعه کافی دی۔ دریم دا چه د وسق بله معنیٰ ده جِمل بعیر (د اُوښ یو بار) نو پنځلس صاعه هم د یو اُوښ بار دے۔
نو پنځلس صاعه شپیتهٔ مُده دی، لهذا هر مسکین ته به یو یو مُد ورکړی۔ که صبا او بیګاه ئے ورله خوراکه ورکړه نو دا هم کافی ده۔
او دا د احمدؒ او شیخ الاسلامؒ مختار قول دے۔ او دا د آیتِ کریمه د ظاهر سره موافق هم دے: ﴿فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا﴾ نو دا دلیل دے چه مِسکین به مروی په هر څومره خوراك

سره چه وی، یو صاع وی او که یو مُد وی۔

او سِتین مسکیناً نه دا هم معلومه شوه چه شپیتهٔ مسکینانو ته طعام ورکول ضروری دی، د هغوئ نه کمو ته طعام ورکول نهٔ کافی کیږی لکه دا د حدیث ظاهر دے او دا مذهب د شافعیؒ او مالكؒ دے، او امام ابوحنیفهؒ او د هغهٔ اصحاب وائی چه یو تن ته شپیتهٔ ورځے طعام ورکول هم کافی کیږی۔ (قاله الشوکانیؒ) طیبیؒ وائی: دا حدیث دلیل دے چه کفاره د ظهار به په ترتیب سره ادا کولے شی۔ (تحفة الاحوذی)

درجة الحديث: [صحیح بطرقه وشاهده الآتی فی الفصل الثالث عن ابن عباس] الترمذی: ۱۲۰۰، وقال هذا حدیث حسن، وصححه الحاکم علی شرط الشیخین ووافقه الذهبی (ارواء الغلیل ۲۰۹۱)۔

که ظهار کونکے د کفارے نه مخکښے جماع وکړی هم یوه کفاره به واجبیږی

3301 (7) - وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ قَالَ: " **كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ** ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: او سلیمان بن یسارؒ د سلمه بن صخر ﷺ هغه د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی په باره د ظهار کونکی کښے چه د کفارے ورکولو نه مخکښے نزدیکت وکړی (ددے څه حکم دے؟) نبی کریم ﷺ وفرمایل: یوه کفاره (لازمه) ده۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح: [كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ] - یعنی که ظهار کونکی د کفارے ورکولو نه مخکښے نزدیکت وکړو نو دا گناهگار دے، کله چه دے پدے حکم خبردار وی، توبه به وباسی، لکه نورو روایاتو کښے ورسره دا خبره راغلے ده۔ البته د دوباره نزدیکت نه مخکښے به کفاره ورکړی، نو صرف یوه کفاره کافی ده۔ او دا مذهب د اکثرو علماؤ دے۔

بعض وائی چه د کفارے ادا کولو نه مخکښے جماع کولو په صورت کښے به دوه کفارے واجبیږی۔ لیکن دا قول بے دلیله دے۔

که یو تن د یو نه زیات یا دوه یا څلورو ښځو نه ظهار وکړی یعنی ټولو ته دا ووائی چه تاسو ټولے په ما باندے زما د مور د شا په شان حرامے یئ نو پدے صورت کښے ټول علماء وائی چه دا شخص به ظهار کونکے وی، البته پدے باره کښے اقوال مختلف دی چه په دهٔ باندے به یوه کفاره واجبه وی او که ډیرے؟،

امام ابوحنیفهؒ او شافعیؒ په نیز به ډیرے کفارے واجبیږی یعنی که دهٔ د بیبیانو نه هرے یوے سره د جماع اراده وکړه نو اول به کفاره ورکوی۔ د حسنؒ، زهریؒ، او ثوریؒ وغیره هم دا مذهب دے۔ او امام مالكؒ او احمدؒ وائی چه په دهٔ باندے به یوه کفاره واجبیږی یعنی دے دِے اول یوه کفاره ورکړی نو بیا دهٔ دپاره د هرے یوے سره جماع کول جائز دی۔

درجة الحديث :[إسناده ضعيف] الترمذي : ١١٩٨، وقال حديث حسن غريب ، اهـ وفيه عنعنة ابن اسحاق وهو مدلس.

الفصل الثالث

3302(8) – عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ : أَنَّ رَجُلًا ظَاهَرَ مِنِ امْرَأَتِهٖ فَغَشِيَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ: "**مَا حَمَلَكَ عَلٰى ذٰلِكَ** ؟ " قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ رَأَيْتُ بَيَاضَ حَجْلَيْهَا فِي الْقَمَرِ فَلَمْ أَمْلِكْ نَفْسِيْ أَنْ وَقَعْتُ عَلَيْهَا فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَهُ أَنْ لَا يَقْرَبَهَا حَتّٰى يُكَفِّرَ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ . وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ

وَرَوَى أَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ مُسْنَدًا وَمُرْسَلًا وَقَالَ النَّسَائِيُّ : اَلْمُرْسَلُ أَوْلٰى بِالصَّوَابِ مِنَ الْمُسْنَدِ.

ترجمه : عکرمهٔ د ابن عباس ﷺ نه روایت کوی چه یوسړی د خپلے ښځے سره ظهار وکړو، بیا په هغے ورپریوانهٔ (کوروالے ئے وکړو) مخکښے د کفارے ورکولو نه، بیا نبی ﷺ ته راغے او دا خبره ئے ورته ذکر کړه نو هغهٔ ورته وفرمایل : تهٔ پدے کار باندے کومے خبرے راپورته کړے؟ عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! ما د ښځے د پانزیبونو سپینوالے د سپوږمئ په رنړا کښے ولیدو نو زهٔ د خپل ځان واکدار نهٔ شوم چه دے سره مے نزدیکت وکړو، نو رسول الله ﷺ وخندل او دهٔ ته ئے حکم وکړو چه دے ته دِے (بیا) نهٔ نزدے کیږی تردے چه کفاره ورکړی۔ (ابن ماجهٔ) او ترمذیؒ ددے په شان روایت نقل کړیدے او فرمایلی ئے دی : دا حدیث حسن صحیح غریب دے۔

او ابوداودؒ او نسائیؒ ددے په شان روایت مسند او مرسل دواړو طریقو سره نقل کړیدے او نسائیؒ وئیلی دی : مرسل د مسند په نسبت سره زیات صحیح دے۔

تشریح : [حَجْلَيْهَا] حجل پانزیب ته وائی۔ دیته خلخال هم وائی۔ [اَنْ لَّا يَقْرَبَهَا] ۔

يعني د دوباره نزديكت نه مخكښې مخكښې به كفاره وركړي. او په روايت د بزار كښې د ابن عباس ﷺ نه دا الفاظ زياتي نقل دي: [كَفِّرْ وَلَاتَعُدْ] يعني كفاره ادا كړه، او د كفارے ادا كولو نه مخكښې دوباره هغې ته مهٔ نزدے كيږه.

فوائد: (۱) مفسرينو ذكر كړي دي چه د سورتِ مجادلے دا اولنى آيتونه د اوس بن صامت خزرجي ﷺ په باره كښې نازل شوي وو، هر كله چه هغهٔ د خپلے ښځے خوله بنت مالك بن ثعلبه ﷺ سره ظهار كړے وو. [المحرر في أسباب نزول القرآن: ۲/۹۵۷]

(۲) دے حديث نه معلومه شوه چه څوك د خپلے ښځے سره ظهار وكړي (هغه د خپلے مور د ملا سره په حراموالي كښې مشابه كړي) او بيا هغې سره د جماع كولو اراده وكړي، نو په هغهٔ واجب دي چه د جماع نه مخكښې د خپل ظهار كفاره وركړي، ځكه نبي ﷺ دے سړي ته د نزديكت نه مخكښې د كفارے حكم وكړو.

او قرآن كريم هم په دے دلالت كوي، لكه ارشاد دے: ﴿وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآءِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا﴾ [المجادلة: ۳] (او كوم خلق چه خپلو ښځو سره ظِهار كوي، بيا د خپلے كړے خبرے نه واپس كيدل غواړي نو مخكښې ددے نه چه دواړه يو بل سره لاس ولګوي، يو غلام به آزادول وي).

(۳) او حديث نه ثابته شوه چه د كفارے وركولو نه مخكښې د خپلے ظهار كړے شوے ښځے سره جماع كول حرام دي. ليكن كه چا په غلطئ اوناپوهئ سره د كفارے وركولو نه مخكښې جماع وكړه نو په دے جماع كولو سره ددهٔ نه كفاره نهٔ ساقطيږي، بلكه توبه او استغفار به وكړي او دوباره جماع به هله كوي چه كفاره ادا كړي. ځكه نبي ﷺ فرمائي: [لَايَقْرُبَهَا] او په دهٔ صرف يوه كفاره ده. ځكه دلته نبي كريم ﷺ په دے سړي يوه كفاره واجبه كړے. نو كومو علماؤ چه ويلي دي چه دوه كفارے به وركوي، د هغوئ خبره ددے حديث او د مخكني حديث ښكاره خلاف ده.

(٤) [أَنْ لَّا يَقْرُبَهَا] د كفارے نه مخكښې د جماع كولو نه منع وشوه ليكن آيا د جماع نه علاوه بوس وكنار كول او د شرمګاه نه سوئ د نورو ځايونو نه فائده اخستل جائز دي؟ نو په دے كښې دوه قوله دي: **اول** قول دادے: چه دا حرام دے. (زهريؒ، اوزاعيؒ، مالكؒ، اصحاب الرأي، يو قول د شافعيؒ او يو قول د احمدؒ) ځكه چه دا شيان د جماع كولو دواعي او اسباب دي، او كله چه جماع حرامه شوه نو دواعي ئې هم حرام شو.

(دویم) قول دادے: چه دا کارونه مباح دی۔ (حسن بصریؒ، ثوریؒ، عطاءؒ، د شافعیؒ یو قول، د احمدؒ یو روایت) د دویٔ دلیل دادے: چه الله تعالیٰ په ﴿مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا﴾ آیت کښے تماس ذکر کړے او تماس د جماع نه کنایه ده۔ او د جماع د حراموالی نه ددے شیانو حراموالے نهٔ معلومیږی، لکه د حیض په زمانه کښے ښځے سره جماع حرامه ده خو مذکوره دواعی حرام نهٔ دی۔ [احکام القرآن للجصاص: ۳۰۹/۵، الاستذکار: ۱۲۳/۱۷، المغنی: ۶۷/۱۱، روضة الطالبین: ۲۹۶/۸] **او همدا قول قوی او راجح دے۔**

درجة الحدیث :[إسناده صحيح] الترمذی: ۱۱۹۹، ابوداود: ۲۲۲۱، النسائي: ۱٦۸/٦، (۳٤٥۸) مرفوعا وموقوفا وقال الترمذی: حسن صحیح وقال النسائی: المرسل أولی بالصواب، ولکن مدار المسند والمرسل کلیهما علی الحکم بن أبان وهو صدوق له أوهام کما فی التقریب وحسنه الالبانی فی صحیح ابن ماجه: ۱٦۸۰).



۱۳- باب فی کون الرقبة فی الکفارة مؤمنة

په کفاره کښې د مؤمنې رقبې کیدو بیان۔

په یوه نسخه کښې صرف د باب لفظ دے، یعنې د مخکنی باب د متعلقاتو بیان۔
د ظهار په کفاره کښې چه کوم غلام آزادوی آیا د هغې مؤمن کیدل ضروری دی یا نهٔ؟

الفصل الأول

3303(1) – عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ ﷺ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ جَارِيَةً كَانَتْ لِيْ تَرْعٰى غَنَمًا لِيْ فَجِئْتُهَا وَقَدْ فَقَدَتْ شَاةً مِنَ الْغَنَمِ فَسَأَلْتُهَا عَنْهَا فَقَالَتْ: أَكَلَهَا الذِّئْبُ فَأَسِفْتُ عَلَيْهَا وَكُنْتُ مِنْ بَنِيْ آدَمَ فَلَطَمْتُ وَجْهَهَا وَعَلَيَّ رَقَبَةٌ أَفَأُعْتِقُهَا؟ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**أَيْنَ اللّٰهُ**؟" فَقَالَتْ: فِي السَّمَاءِ فَقَالَ: "**مَنْ أَنَا**؟" فَقَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**أَعْتِقْهَا**". رَوَاهُ مَالِكٌ. وَفِيْ رِوَايَةِ مُسْلِمٍ قَالَ: كَانَتْ لِيْ جَارِيَةٌ تَرْعٰى غَنَمًا لِيْ قِبَلَ أُحُدٍ وَالْجَوَّانِيَّةِ فَاطَّلَعْتُ ذَاتَ يَوْمٍ فَإِذَا الذِّئْبُ قَدْ ذَهَبَ بِشَاةٍ مِنْ غَنَمِنَا وَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ آدَمَ آسِفُ كَمَا يَأْسَفُوْنَ لٰكِنْ صَكَكْتُهَا صَكَّةً فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَظَّمَ ذٰلِكَ عَلَيَّ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَلَا أُعْتِقُهَا؟ قَالَ: "**اِئْتِنِيْ بِهَا**؟" فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَقَالَ لَهَا: "**أَيْنَ اللّٰهُ**؟" قَالَتْ: فِي السَّمَاءِ قَالَ: "**مَنْ أَنَا**؟" قَالَتْ: أَنْتَ رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ: "**أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ**".

ترجمه: معاویه بن حکم ﷺ فرمائی: زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم ما عرض وکړو اے د الله رسوله! زما یوه وینځه وه چه زمونږ دپاره به ئے ګډے بزے څرولے (یوه ورځ) ورته زهٔ راغلم او هغې د ګډو بزو نه یوه ګډه ورکه کړے وه نو ما د هغې نه د ګډے په باره کښې پوښتنه وکړه نو هغې وویل: هغه شرمخ وخوړه نو زهٔ پدے باندے سخت خفه شوم (او غصه شوم) او زهٔ د بنیادمانو نه وم نو ما په مخ باندے په څپیړه سره ووهله او په ما باندے یو مرئے (آزادول) لازم دی، نو آیا زهٔ دا (په کفاره کښې) آزاده کړم؟ نو رسول الله

ﷺ هغې ته ووېل : الله چرته دے ؟ هغې ووېل : آسمان طرفته، رسول الله ﷺ وفرمايل : زۀ څوك يم ؟ وې وئيل : تۀ د الله رسوله ئې، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : دا آزاده کړه. (مالك) او په روايت د مسلم کښې دي : دۀ ووېل : زما يوه وينځه وه چه د اُحد او جوانيه په طرف ئې زما ګډے بزے څرولے نو زۀ پرے يوه ورځ ورښکاره شوم نو دغه وخت شرمخ زمونږ د ګډو بزو نه يوه ګډه وړے وه او زۀ د بنيادمانو نه يو تن يم، غصه کيږم لکه څنګه چه دوئ غصه کيږي نو ما هغه په سخته څپيړه سره ووهله نو زۀ رسول الله ﷺ خواته راغلم نو ما باندے ئے دا خبره ګرانه کړه نو ما ووېل : اے د الله رسوله ! آيا زۀ دا نۀ آزادوم؟ وې فرمايل : ما ته ئې راوله؟ نو ما ورته راوسته نو هغې ته ئې وفرمايل : الله چرته دے ؟ وې وئيل : په آسمان کښې، نبي ﷺ وفرمايل : زۀ څوك يم ؟ وې وئيل : تۀ د الله رسول ئې. نبي ﷺ وفرمايل : دا آزاده کړه څکه چه دا مؤمنه ده.

تشريح : [فَاَسِفْتُ] يعنې زۀ خفه شوم او غمجن شو د ګډے په هلاکيدو. [لَطَمْتُ وَجْهَهَا]. يعنې ما په څپيړه ووهله. [وَعَلَيَّ رَقَبَةٌ] يعنې په ما باندے کفاره کښې رقبه لازمه شويده. دا کفاره يا د نذر وه يا د قسم وغيره. يا دا چه هرکله دۀ په څپيړه ووهله نو نبي ﷺ دا خبره ډيره غټه وګڼله نو دۀ اراده وکړه چه ددے ګناه کفاره ورکړي په آزادولو ددے وينځے سره. نو تپوس ئے وکړو چه آيا دا وينځه ددۀ ددے ګناه په کفاره کښې کافي کيږي ؟. نو نبي ﷺ هغه راوغوښته او دغه تپوسونه ئے ترے وکړل. يا په دۀ باندے مؤمنه رقبه آزادول وو نو نبي ﷺ دے دپاره راوغوښته چه معلومه کړي چه دا مؤمنه ده او که نۀ . بيا دا خبره زده کړه چه د ظهار کفاره واجب ده او د وهلو په بدله کښې رقبه آزادول مستحب دي. دلته دواړه جمع شويدي. [فَعَظَّمَ ذٰلِكَ عَلَيَّ] يعنې ما باندے ئې دا کار ډيره لويه ګناه وګڼله. رسول الله ﷺ په حقوق العباد کښې ډيره سختي کوله او په حقوق الله کښې ئې فراخي کوله څکه د هغه رحمت فراخه دے او د بندګانو حق نۀ معاف کيږي ترڅو چه هغوی نۀ وی معاف کړے.

فوائد : (۱) **مسئله** : اختلاف دے چه کوم قسم رقبه به په کفاره د ظهار کښې آزادولے شي؟ (۱) احناف او ابن حزمؒ وائي چه مطلق رقبه آزادول کافي دي برابره ده چه مؤمن وي که کافر، فرق صرف دا دے چه احناف وائي چه رقبه به سالمه وي نۀ مَعِيبَه (عيبژنه). او ابن حزمؒ وائي : اګرکه عيبژنه وي هم جائز ده.

دوئ وائی چه ظاهر د آیتِ کریمه دادے چه د ظهار په کفاره کښے چه کومه وینځه یا غلام آزادوی نو په هغے کښے د ایمان شرط او قید نهٔ دے لګیدلے کوم چه په سورتِ نساء کښے د قتل په کفاره کښے راغلے، لکه هلته ارشاد دے: ﴿ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ [النساء: ۹۲]

او دا د امام ابو حنیفهؒ قول او د احمدؒ نه یو روایت دے۔ لهذا مطلق به په خپل اطلاق جاری کیږی۔ (۲) **قول** دادے: چه په دے وینځه یا غلام کښے ایمان شرط دے، د کافر په آزادولو سره کفاره نهٔ ادا کیږی۔ او دلته به مطلق په مقید حملولے شی ځکه چه دا یو حکم دے چه غلام آزادول دی۔ او دا د ائمه ثلاثوؒ قول دے نو د دوئ په نیز په نورو ځایونو کښے چه رقبه آزادول راغلل نو دا به په مؤمنه رقبه باندے حمل وی۔ ځکه چه یو ځائے کښے قید ولګیدلو نو دا د نورو مقاماتو دپاره هم قید ګرځی۔

۲- دویم دا چه کفاره د الله تعالی حق دے، کافر ته ئے ورکول صحیح نهٔ دی، او دلته آزادی خو رقبه ته ورکول کیږی نو پکار ده چه مؤمن آزاد کړے شی۔ خو **قوی** قول اولنے معلومیږی ځکه کفاره یو عقوبت دے چه د خپل علت د وجے مشروع شوے او د هر یو حکم خپل مناسب علت وی، کله هغه ظاهر وی او کله خفی۔ نو الله تعالی چه یو ځائے قید لګوی او بل ځائے نهٔ لګوی پدے کښے به حکمت وی۔

او ممکنه ده چه د قتل په کفاره کښے د تشدید او سختئ کولو دپاره د رَقَبَةٍ سره د ایمان قید لګیدلے وی کوم چه دلته مراد نهٔ وی۔ دے وجے نه په ظاهر د آیت باندے استدلال کول قوی دی۔ البته دومره ده چه مومن وینځه یا غلام آزادولو کښے احتیاط دے او په دے کښے ذمه ښهٔ فارغیږی، ځکه کافر غلام که آزاد کړے شی نو ممکنه ده چه هغه د اصیل ګرځیدو په وجه بیرته دار الحرب ته وتښتی۔

او ددے تائید ددے حدیث د معاویة بن الحکم السلمی ؓ سره هم کیدے شی، چه دلته نبی کریم ﷺ د هغه وینځے نه پوښتنه وکړه: [أَيْنَ اللّٰهُ ؟] (الله چرته دے؟) هغے ووئیل: [فِي السَّمَاءِ] (د آسمانونو دپاسه دے) بیا ئے ورته وفرمایل: زهٔ څوک یم؟ هغے ویل: تهٔ د الله رسول ئے۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: [أَعْتِقْهَا فَإِنَّهَا مُؤْمِنَةٌ] (دا آزاده کړه ځکه دا مومنه ده) [مسلم: ۵۳۷] نو دلته نبی ؑ ددهٔ نه دا تفصیل طلب نکړو چه په تا باندے د ظهار کفاره ده او که د قسم یا بله یوه کفاره، بلکه دهٔ ته ئے د مؤمنے رقبے په آزادولو حکم وکړو۔

ځکه چه دا قانون دے : [تَرْکُ الْإِسْتِفْصَالِ فِيْ مَقَامِ الْإِحْتِمَالِ يَنزِلُ مَنزِلَةَ الْعُمُوْمِ فِي الْمَقَالِ] د احتمال په ځائے کښے تفصیل نۀ طلب کول داسے ګرځی لکه خبره چه په ټولو ځایونو کښے عامه وی) کما قال الشوکانیؒ فی النیل۔ لیکن دے دلیل کښے لږ نظر شته، هغه دا چه ددے نه دا نۀ لازمیږی چه په کفاره د ظهار کښے دِے رقبه مؤمنه آزادول واجب وی، کیدے شی چه دا دلیل د استحباب وی، ددے نه شرطیت نۀ معلومیږی۔

(۲) [أَيْنَ اللّٰهُ] دا حدیث دلیل دے چه دا تپوس جائز دے چه بنده ئے کوی چه الله تعالیٰ چرته دے؟ او دلیل دے چه الله تعالیٰ د آسمانونو دپاسه په عرش باندے مستوی او پورته دے۔ او هغه په مخلوق باندے نشی قیاس کیدے، او د الله تعالیٰ دپاره د علو او پورته والی صفت حقیقةً ثابت دے، د الله تعالیٰ دپاره هره شپه په آخری حصه کښے آسمان د دنیا ته راکوزیدل ثابت دی، او په قیامت کښے راتلل، دا ټول د الله تعالیٰ حقیقی صفات دی، د مخلوق سره مشابه نۀ دی۔

او دا خبره کول چه که د الله تعالیٰ دپاره جهت او مکان راشی نو هغه به پرے احاطه وکړی نو الله به په مخلوق کښے محاط شی نو دا خبره خطاء ده، ځکه چه الله تعالیٰ د مخلوق سره مشابه نۀ دے او نۀ د هغۀ صفات د مخلوق سره مشابه دی۔

او دے کښے دا تاویل کول چه رسول الله ﷺ ددے جینۍ نه امتحان اخستو چه دا موحده ده او که نۀ ځکه چه مشرکان د زمکے د معبودانو عبادت کوی نو هرکله چه دے وویل چه الله بره دے، نو معلومه شوه چه دا الله تعالیٰ خپل خالق او مدبر ګڼړی او دا مطلب نۀ دے چه ګنے الله تعالیٰ واقعی بره دے، نو دا تاویل غلط دے، او د حقیقت خلاف دے، ځکه چه ګڼړ نصوص موجود دی چه دلالت کوی چه الله تعالیٰ پورته په عرش باندے مستوی دے، بلکه دلته رسول الله ﷺ ددے د ایمان ګواهی په همدے خبره وکړه چه دے الله تعالیٰ له دا صفت ثابت کړو چه الله تعالیٰ د کائناتو نه بهر په عرش باندے دے۔

درجة الحديث :[إسناده صحيح] مالك : ۸/۷۷٦/۲) والشافعي في الرسالة : ص : ۷۵، فقرة : ۲٤۲، رواية مسلم : ۲/ ۷۰-۷۱، رقم : ۵۳۷/۳۳]

۱٤- باب اللعان - د لِعان بیان

دلته هم یو څو بحثونه دي، مناسبت، د لعان لغوي او اصطلاحي تعریف او د لعان حکمت وغیره۔

مناسبت: من وجه د لعان نه روستو همیشه دپاره نکاح حرامیږي۔ او په مطلقه ثلاثًا کښې هم تر یوې مودې پورې نکاح نۀ کیږي۔

لِعَانٌ : د لَاعَنَ يُلَاعِنُ مُلَاعَنَةً وَلِعَانًا (باب افعال) نه مصدر دے، د دوه کسانو یو په بل لعنت ویلو ته وائي۔ دارنګه یو بل باندې بدنامه لګولو ته هم وائي۔ علامه فیوميؒ وائي: عرب وائي: [لَاعَنَ الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ- قَذَفَهَا بِالْفُجُورِ] سړي خپله ښځې سره لعان وکړو یعني هغې باندې ئې د بدکارئ بدنامه ولګوله۔ او لعن په اصل کښې طرد او ابعاد (یعني شړلو او وړاندې کولو) ته وائي۔ لکه روستو راځي۔

د لعان مطلب او حکمت: د لعان مطلب دا دے چه یو سړے خپله ښځه په زنا باندې ووینی، یا ئې په خپل پیدا شوي بچي باندې شك شي چه زما ښځې به زنا کړې وي، نو دا به څه کوي، (که یو تن پردئ ښځه په زنا باندې ووینی او غلے پاتے شي نو هیڅ نقصان ورته نۀ رسیږي) لیکن که خپله ښځه په زنا وګوري نو دے به څه کوي؟ که دے څلور ګواهان ګوري او هغه راولي نو ډیره به ګرانه شي، اول خو به هغه نۀ پیدا کیږي، بیا که پیدا شي نو دا د انسان د غیرت خلاف ده چه خپله ښځه باندې بل څوك ګواه کړي، نو که همداسې غلے پاتے کیږي او ښځې ته هیڅ نۀ وائي، بیا هم نقصان دے، د سړي غیرت ئې نۀ برداشت کوي، او که همداسې ئې وژني نو اسلامي حکومت ترې قصاص اخلي نو ټول کارونه مشکل شول، او ښځه پدې صورتونو کښې انکار کوي، پدې وجه شریعت د لعان قانون مشروع کړو چه ښځه او خاوند به خپل مینځ کښې په یو بل لعنتونه ووائي او قسمونه وکړي او ګواهیانې ورکړي چه ما زنا نۀ ده کړې، او سړے به وائي چه تا زنا کړیده۔ ددې لعان نه روستو به دواړه د یو بل نه همیشه دپاره جدا شي چه یو بل ته بیرته رجوع کول همیشه بند شول۔ دا وو د لعان حکمت او مطلب۔

د لعان په شرعي او اصطلاحي معنی کښې اختلاف دے: (۱) امام شافعیؒ وائی چه: [أَيمَانٌ مُؤَكَّدَاتٌ بِلَفْظِ الشَّهَادَةِ] دا قسمونه دی چه په لفظ د ګواهئ سره به ئے تاکیدات شوی وی۔ (یعنی اشهد بالله) کلمے نه به قسم مراد وی لیکن د شهادت په لفظ سره به وی۔ (۲) احناف او حنابلهٔ وائی: [شَهَادَاتٌ مُؤَكَّدَاتٌ بِأَيمَانٍ مِنَ الْجَانِبَيْنِ، مَقْرُونَةٌ بِلَعْنٍ مِنَ الزَّوْجِ أَوْ غَضَبٍ مِنَ الْمَرْأَةِ] (د ښځے او خاوند له طرفه په ګواهئ سره مضبوط شوی قسمونه دی چه هغے سره د خاوند له خوا لعنت او د ښځے له خوا غضب ملګرے شوے وی)۔ او دا د ښځے او خاوند دواړو دپاره څلور څلور قسمونه دی چه د ګواهئ په الفاظو سره به ئے ادا کوی۔ خاوند به د څلورم قسم نه روستو په خپل ځان لعنت وائی که چرے په خپله دے خبره کښې دروغژن وی۔ او ښځه به د څلورم قسم نه روستو په خپل ځان غضب وائی که چرے خاوند په خپله خبره کښې رشتینے وی۔ [الدر المختار: ۸۰۵/۲، اللباب: ۷٤/۳، کشاف القناع: ٤٥٠/۵، الفقه الاسلامی وادلته: ۵۲۲/۹]

ددے تعریفونو د اختلاف فائده دا ده چه د امام شافعیؒ په نیز باندے لعان د هغه چا نه صحیح کیږی چه هغهٔ کښے د قسم کولو اهلیت وی، نو د مسلمان او د کافرے ښځے او د کافر سړی او کافرے ښځے ترمینځ صحیح کیږی، دارنګه د غلام او د هغهٔ د ښځے ترمینځ هم صحیح کیږی۔ او دا قول د سعید بن المسیبؒ، حسنؒ، مالكؒ، اسحاقؒ او یو روایت د احمدؒ هم دے۔ او د احنافو په نیز: لعان د هغه چا نه صحیح کیږی چه هغهٔ کښے د شهادت (ګواهئ) اهلیت وی، لهذا لعان به صرف ددوه مسلمانانو، آزادو، عاقلانو او بالغانو نه صحیح کیږی چه هغوی ته به مخکښے حد قذف نهٔ وی ورکړے شوے۔ [عمدة القاری: ۳۲۹/۱۵، ۳۳۰]

د احنافو دلیل: آیت کښے (شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ) لفظ راغلے، دارنګه روستو حدیث راځی [أَرْبَعَةٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُمْ الْيَهُودِيَّةُ] الخ۔ **د امام شافعیؒ دلیل**: (وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ أَزْوَاجَهُمْ) دا لفظ عام دے، دارنګه لعان یمین دے خو په لفظ د شهادت سره دے، لکه په آیت (قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللهِ) کښے شهادت ته قسم وئیلے دے۔ او نبی ﷺ هم دے ته یمین وئیلے: [لَوْلَا الْأَيْمَانُ لَكَانَ لِيْ وَلَهَا شَأْنٌ]

دارنګه لعان ته لکه څنګه چه د مسلمان ضرورت راځی نو دغه شان د یهودیه نصرانیه هم راځی کله چه د مسلمان په نکاح کښے وی۔ او دغه روایت د (اربعة

ضعیف دے لکه په خپل ځائے کښے به ئے بیان راشي. دارنګه نبي ﷺ به په لعان کښے د حر او عبد تپوس نهٔ کولو. دا قول د دلیل په لحاظ سره قوي او **راجح** دے. اګرکه مذهب د احنافو د قرآن کریم د ظاهر موافق دے. والله اعلم.

د لعان طریقه : ۱- قاضي او حاکم له پکار دي چه د لعان نه مخکښے ښځه او خاوند دواړو ته نصیحت وکړي، د الله تعالیٰ نه ئے ویروي او دا ورته ووائي چه د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه ډیر سخت دے، تاسو دواړو کښے به یو خامخا دروغژن وي، نو که اقرار وکړئ، دنیا کښے به سزا درکړے شي چه سړي ته به حد قذف (اتیا درے) او ښځے ته به رجم ورکړے شي لیکن د آخرت په لحاظ سره به صفا شي.

او بهتره دا ده چه لعان په مسجد کښے وکړے شي چه ټول خلك حاضر وي او ښځه او خاوند به دا قسمونه په ولاړه باندے کوي. ۲- قاضي به اول قسمونه د سړي نه شروع کړي هغه به داسے ووائي : [أَشْهَدُ بِاللّٰهِ اِنِّیْ لَمِنَ الصَّادِقِیْنَ فِیْمَا رَمَیْتُ بِهٖ زَوْجَتِیْ هٰذِهٖ مِنَ الزِّنَا] زهٔ الله ګواه کوم چه زهٔ په هغه خبره کښے چه دا ښځه پرے بدناموم خامخا رشتینے یم. او ښځے طرف ته به اشاره کوي. او پدے مینځ کښے به قاضي صیب بیا ورته د آخرت یره ورکړي. او په پنځم کرت به داسے ووائي : [لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَیْهِ اِنْ کَانَ مِنَ الْکَاذِبِیْنَ] که زهٔ دروغجن یم نو په ما دِے د الله تعالیٰ لعنت وي.

۳- بیا به قاضي صیب ښځے ته حکم وکړي نو هغه به څلور کرته داسے ووائي : [أَشْهَدُ بِاللّٰهِ اَنَّهٗ مِنَ الْکَاذِبِیْنَ فِیْمَا رَمَانِیْ بِهٖ مِنَ الزِّنَا] زهٔ الله ګواه کوم او په هغهٔ قسم کوم چه دا خاوند په ما کومه بدنامه د زنا لګوي دا دروغ وائي. او په پنځم کرت به ووائي : [غَضَبُ اللّٰهِ عَلَیْهَا اِنْ کَانَ مِنَ الصَّادِقِیْنَ] پدے باندے دِے د الله تعالیٰ غضب وي که چرته سړے پدے باندے رشتیا وائي.

٤- ددے نه پس به قاضي صیب د دواړو ترمینځ جدائي. اولي نو ښځه به هیڅکله خاوند دپاره حلاله نشي اګرکه ډیر خاوندانو سره نکاح وکړي بیا ورله طلاق ورکړي. او ښځه به د لعان نه روستو یو حیض نه پس بل چا سره نکاح کولے شي. او که په ماشوم ئے بدنامه لګولے وه چه دا زما نه نهٔ دے نو هغه به د مور حساب شي.

سوال : لعان کښے د.ر غضب هم ذکر دے نو د لعان نوم ورته ولے کیخودے شو ؟

جواب : وجه دا ده چه په لعان کښے ابتداء د سړي نه کیږي او په آیت کښے هم ددهٔ نه

ابتداء شویده۔ او د سړي په کلماتو کښې (لعنت) لفظ استعمالیږي۔
بله دا چه سړے ددے لعان نه رجوع هم کولے شي چه ځان ملامته کړي بس حد قذف به پرے راشي۔ او د ښځې نه به خود بخود ساقط شي۔ دارنګه لِعان د لعنت نه ماخوذ دے لرے کولو ته وائي۔ او په دے کښې هم ښځه او خاوند د یو بل نه تهمت یا خپل ځان لرے کوي۔ [انظر: فتح الباري: ۱۰/ ٥٥١] یعني د لعان دا نوم دواړو ته شامل دے۔
سوال : لعان معنیٰ ده شړل او لرے کول او هر یو د ښځې او د خاوند نه یو بل لره تهمت او حد د ځان نه لرے کوي نو بیا د سړي دپاره لعنت او زنانه دپاره غضب لفظ ولے خاص کړے شو؟ ۱-**جواب :** زنانه چونکه په لعنتونو وئیلو اموخته ده پدے وجه د هغې دپاره لفظ بدل کړے شو چه اثر پرے وکړي او سړے خو په لعنت عادت نۀ دے پدے وجه لعنت لفظ د هغۀ په حق کښې مضبوط اثر والا دے۔ ۲- **جواب :** غضب کښې لوی والے دے پدے وجه چه د زنانه جرم ډیر لوی دے، ځکه که سړے پدے باندے دروغ وائي نو د هغۀ ګناه د قذف (بدنامے لګولو) نه زیاته نۀ ده، نو حد قذف به ورکړے شي او که زنانه دروغجنه وي نو ددے ګناه ډیره لویه ده، یو خو پدے کښې د سړي بستره ګنده کول دي، دویم د خاوند نه ئے بچے نۀ دے او دے ئے د خپل خاوند پورے پیوسته کول غواړي، نو پدے سره محرمیت او ولایت ثابتیږي او د غیر وارث دپاره میراث ثابتول دي۔ دریم : ښځه به رجم کیږي هم۔ (البحر المحیط) ۳- **جواب :** غضب سره د علم نه منکریدو ته وائي، دا وجه ده، یهود مغضوب عَلَیۡهِمۡ دي ځکه دوئ ته حق معلوم وو او ددے باوجود ئے ترے انکار کولو۔ نو دلته هم د ښځې په باره کښې دا ګمان کیدے شي چه دا سره د علم نه انکار کوي نو ځکه ددے دپاره د غضب لفظ ذکر شو۔
د لعان سبب او حالات: د لعان دوه سببونه دي: یو دا چه خاوند په خپله ښځه د زنا تهمت ولګوي چه تا فلانی معلوم یا نامعلوم سړي سره زنا کړے۔ دویم دا چه خپل بچي نه انکار وکړي چه دا زما نه نۀ دے پیدا شوے بلکه د بل چا نه دے۔ نو کله چه دا تهمت پرے ولګوي نو ددے درے **حالتونه** دي :
(اول حالت) : خاوند په خپله دعویٰ باندے څلور شرعي ګواهان قائم کړي، نو په دے صورت کښې به په ښځه باندے د زنا حد جاري کړے شي۔ ځکه د ابن عباس ﷺ په حدیث کښې دي چه (هلال بن امیه ﷺ خپله ښځه د نبي ﷺ په خوا کښې په شریك بن

سحماء نومے سړي باندے بدنامه کړه، نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: ګواهان راوړه او يا به ستا په ملا حد جاري کيږي)۔ [بخاري: ٤٧٤٧]

(**دويم حالت**) : خاوند سره ګواهان نهٔ وي، خو ښځه خپله ددے اقرار کوي، نو په دے صورت کښے به هم په ښځه باندے حدِ زنا قائم کړے شي۔ لکه روستو به حديث راشي (وَاغْدُ يَا أُنَيْسُ إِلَى امْرَأَةِ هٰذَا فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا) هغه پرے دليل دے۔

(**دريم حالت**) : نهٔ ګواهان وي او نهٔ ښځه اقرار کوي، نو په دے صورت کښے به په خاوند حدِ قذف (د تور لګولو حد اتيا دُرے) قائم کړے شي، ځکه آيتِ کريمه کښے راځي : ﴿وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً ...... ﴾ [النور: ٤] (کوم سړي چه په پاکدامنو ښځو تور ولګوي او بيا څلور کسه ګواهان رانهٔ ولي نو دوئ له اتيا دُرے ورکړئ) دا آيت عام دے خاوند او غير خاوند ټولو ته شامل دے چه کله په ښځه تور ولګوي او ګواهان ورسره نهٔ وي نو په دهٔ به حدِ قذف جاري کولے شي۔ دارنګه د ابن عباس رضی اللہ عنہ په حديث کښے راغلي دي۔

❁ البته که سړے غواړي نو په لِعان کولو سره خپل ځان د حدِ قذف نه خلاصولے شي۔ او دا د الله تعالىٰ فضل او مهرباني ده چه د خاوندانو دپاره ئے دا موقعه او مَخلص ورکړے چه دوئ له ئے لاره او خلاصے راوښکلے۔ که نهٔ وي نو د حدِ قذف دغه پورتنے آيتِ کريمه خاوندانو ته هم شامل دے، که دوئ په خپلو ښځو تور ولګوي او ګواهان ورسره نهٔ وي نو دوئ باندے به حدِ قذف جاري کولے شي۔ ليکن الله تعالىٰ په دوئ رحم وکړو او دوئ دپاره ئے يوه دريمَه لاره راوښکله چه په هغے کښے نهٔ څلور ګواهان حاضرولو ته ضرورت شته او نهٔ په دوئ حد قائميږي، او هغه د لِعان صورت دے۔ نو ځوك چه په خپله ښځه د زنا دعوىٰ وکړي او ګواهان ورسره نهٔ وي نو ددهٔ دپاره جائز دي چه په څلورو قَسمونو سره خپل ځان د حد نه بچ کړي۔

❁ نو په دے کار سره به خاوند د حدِ قذف نه او ښځه د حدِ زنا نه بچه شي۔ ديته لِعان ځکه وائي چه په دے کښے دواړه د دروغژن کيدو په صورت کښے خپل ځان د لعنت مستحق ګرځوي۔

❁ لِعان په کتاب، سنت او اجماعِ امت سره مشروع دے۔

د لعان آیت اول د چا په باره کښې نازل شوی دے ؟

ځینې علماء وائی چه لعان د تولو نه مخکښې هلال بن امیه ﷺ د خپلې ښځې سره کړے وو، ځکه چه دهٔ په خپله ښځه تور لګولے وو۔ او د هغهٔ په باره کښې دا آیتونه نازل شوی وو۔ او بعض وائی : دا د عُویمر عجلانی ﷺ په باره کښې نازل شوی چه دهٔ خپله ښځه په شریك بن سحماء نومے سړی باندې توره کړے وه، نو د هغې په باره کښې دا آیتونه نازل شول۔ دا دواړه واقعې په صحیح حدیثونو کښې راغلی۔

مګر بعض علماؤ لکه امام نوویؒ او د هغهٔ نه مخکښې خطیبؒ وئیلی دی چه اول کښې د هلال ﷺ سره دا واقعه راغله لیکن پدې دوران کښې.د عویمر قصه هم راغله نو د دواړو په باره کښې په یو وخت کښې دا آیتونه نازل شول۔

په دربارِ رسالت کښې د لعان یوه واقعه

الفصل الأول

3304 (1) – عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ عُوَيْمِرَ الْعَجْلَانِيَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهٖ رَجُلًا أَيَقْتُلُهُ فَيَقْتُلُوْنَهُ ؟ أَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **قَدْ أُنْزِلَ فِيكَ وَفِي صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَأْتِ بِهَا** " قَالَ سَهْلٌ : فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ وَأَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ: كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ أَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقْتُهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **اُنْظُرُوا فَإِنْ جَاءَتْ بِهٖ أَسْحَمَ أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيْمَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا وَإِنْ جَاءَتْ بِهٖ أُحَيْمِرَ كَأَنَّهٗ وَحَرَةٌ فَلَا أَحْسِبُ عُوَيْمِرًا إِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا**، فَجَاءَتْ بِهٖ عَلَى النَّعْتِ الَّذِي نَعَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ تَصْدِيقِ عُوَيْمِرٍ فَكَانَ بَعْدُ يُنْسَبُ إِلٰى أُمِّهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : سهل بن سعد ساعدی ﷺ فرمائی : عویمر عجلانی ﷺ عرض وکړو : اے د الله رسوله ﷺ خبر راکړه په باره د یو سړی کښې چه د خپلې ښځې سره یو سړے موندهٔ کړی آیا هغه به وژنی ؟ بیا خو خلك هغهٔ لره وژنی ؟ او که څه به کوی ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ستا او ستا د بی بی په باره کښې وحی نازله شوے، نو لاړ شه هغه راوله.

سهل وائي : نو دواړو په مسجد كښې لعان وكړو او زۀ د خلكو سره د رسول الله ﷺ خوا ته وم، هر كله چه دواړه د لِعان نه فارغ شول، عويمر ووئيل : اے د الله رسوله ! مابه په دے دروغ تړلي وي كه ما دا ځان سره وساتله، بيا هغۀ (د رسول الله ﷺ د امر كولو نه مخكښې) هغې له درے طلاقه وركړل. بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو وګورئ كه ښځې ماشوم تور، كولاؤ سترګو والا، غټو كناتو والا، ډكو پونډو والا راوړو، نو زۀ ګمان نۀ كوم مګر چه عويمر به په هغې باندے رښتيا وئيلي وي، او كه هغې هلك سور ګوتے راوړو ګويا كښې هغه چينجے دے، نو زۀ ګمان نۀ كوم مګر هغۀ به په هغې باندے دروغ وئيلي وي، نو ښځې ماشوم په هغه صفت سره راوړو څنګه چه رسول الله ﷺ بيان كړے وو چه هغه تصديق د عويمر وو، نو ددے نه روستو به هغه ماشوم مور ته منسوب كيدے شو. (بخاريؒ، مسلمؒ).

تشريح : ددے حديث ابتداء په روايت د صحيحينو كښې داسے راغلے ده : سهل بن سعد ﷺ فرمائي : عويمر عجلاني ﷺ عاصم بن عدي ﷺ ته راغلو ورته ئے ووئيل : اے عاصم ! خبر راكړه كه يو سړے خپلے ښځے سره بل سړے وموومي آيا هغه به وژني، نو بيا ئے تاسو قتلوئ كه نه څه به كوي ؟ اے عاصم ! زما دپاره د رسول الله ﷺ نه ددے په باره كښې تپوس وكړه. نو عاصم (لاړو) د رسول الله ﷺ نه ئے ددے په حقله تپوس وكړو، نبي عليه السلام (داسے) مسائل (تپوسونه) بد وګڼړل (هغۀ دا خيال وكړو چه دا فرضي مسائل دي) او دا ئے عيبژن وګڼړل تردے چه دا خبره په عاصم باندے ګرانه پريوته، هركله چه عاصم خپل كور لاړو نو عويمر ورته راغلو چه تا ته رسول الله ﷺ څه ووئيل ؟ نو عاصم عويمر ته ووئيل، تا ما ته خير نۀ دے راوړے، رسول الله ﷺ خو هغه مسئله چه ما ترے د هغې په حقله تپوس وكړو بده وګڼړله نو عويمر ووئيل : قسم په الله زۀ نۀ منع كيږم تردے چه زۀ (خپله) د هغۀ نه ددے په باره كښې تپوس وكړم نو عويمر راغلو او نبي ﷺ د خپلو ملګرو په مينځ كښې ناست وو او دا تپوس ئے وكړو چه يو تن د خپلے بي بي سره بل سړے وموومي الى آخر الحديث.

نو پدے وخت كښې رسول الله ﷺ باندے آيتونه نازل شوي وو نو هغۀ ته ئے وفرمايل : چه ستا او ستا د ښځے په باره كښې دا آيتونه د سورة النور نازل شويدي.

په بعض رواياتو كښې دي چه عاصم ووئيل : [مَا ابْتُلِيتُ بِهٰذَا إِلَّا بِقَوْلِيْ] يعني اول خو ما

هسې تپوس كولو اُوس په خپل تپوس سره پدې مصيبت كښې اخته شوم. عاصم ځان ته نسبت وكړو ځكه چه د عاصم لور يا وريره د عويمر عجلاني ﷺ په نكاح كښې وه. [البحر المحيط الثجاج]. او عاصم د عويمر د پلار د ترۀ ځوى دے. (فتح البارى)

سوال : دے حديث كښې دى چه آية اللعان د عويمر عجلانى ﷺ په باره كښې نازل شوے او په بل روايت كښې راځى چه آية د لعان د هلال بن اميه ﷺ په باره كښې نازل دے نو د دواړو تطبيق څه دے؟ **۱- جواب :** په يوه زمانه كښې د دواړو ښځو نزدے بدكارى كړے وه، اول د عويمر عجلانى ﷺ ښځے وكړه نو هغۀ عاصم بن عدى وليږلو چه د نبى ﷺ نه ددے مسئلے تپوس وكړى، نبى ﷺ د هغۀ نه دا تپوسونه بد وګڼړل نو پدے دوران كښې هلال راغلو، د هغۀ ښځے هم بدكارى كړے وه، پدے وخت كښې آيتونه نازل شول، بيا روستو عويمر دويم كرت راغلو او دا ئے ووېل : ما چه كوم تپوس كولو په هغے كښې زۀ واقع شوے يم (يعنى زما ښځے واقعى زنا كړے ده) نو دۀ آيت وموندلو چه د هلال په باره كښې نازل شوے وو نو نبى ﷺ ورته خبر وركړو چه دا آيت ستا په باره كښې هم نازل شوے. نو د دواړو په باره كښې په يو ځل نازل شوے وو.

لهذا دواړه قصے په نزدے نزدے زمانه كښې واقع شوے وے نو ځكه دواړو ته نسبت كيږى او دا قول حافظ ابن حجرؒ او ابن عاشورؒ غوره كړے او امام قرطبىؒ او نووىؒ په طريقه د احتمال سره ذكر كړے. او پدے قول سره ټول روايتونه جمع كيږى.

۲- جواب : د لعان آيت د هلال ﷺ په باره كښې نازل دے هغۀ اول تپوس كړے وو، ليكن په حكم كښې ئے عويمر هم داخل دے. يعنى دا آيت د هر هغه چا په باره كښې نازل دے چه داسے واقعه ورسره راغلى وى، ځكه چه دا خو د هلال پورے خاص نۀ دے. او صحابه كرام داسے كوى چه كله يوه واقعه د بلے په شان راشى نو هغوى داسے نسبت كوى چه دا آيت د هغۀ په باره كښې نازل دے حال دا چه آيت مخكښې نازل وى، خو مطلب دا وى چه ددے آيت په حكم كښې روستو واقعے والا هم داخل دے. (فتح البارى : ٩/ ٤٥٠) او په روستو روايت كښې ئے چه هلال ته وئيلى چه لا تر اُوسه د الله تعالىٰ حكم نۀ دے نازل، او هغه ئے واپس كولو، نو د هغے وجه دا ده چه كله عاصم ﷺ تپوس وكړو نو دے وخت كښې نبى ﷺ دعا شروع كړه چه اے الله ! ددے دپاره په باره كښې حكم نازل كړه نو دے وخت كښې هلال راغلو، حكم لا نۀ وو نازل نو هغۀ ته ئے ووېل چه ګواهان به

راولے ګنیے ستا شا به په دُرو وهلے کیږی، هغهٔ وویل چه الله به زما په باره کښے خامخا حکم نازلوی نو سمدست آیتونه نازل شول. بیا عویمر راغلو. فتدبر. او دے باندے دلیل دا دے چه په بخاری کښے د ابن عباس رضی الله عنه په روایت کښے دی: چه هلال اولنے هغه شخص دے چه په اسلام کښے ئے لعان وکړو.

[كَذَبْتُ عَلَيْهَا]. یعنی ما به پدے باندے دروغ وئیلی وی که زهٔ ئے اُوس هم په خپله نکاح کښے اُوساتم. دهٔ ته دا پته نهٔ وه چه په لعان سره ښځه بیرته د ساتلو نهٔ ده، پدے وجه ئے په خپل اجتهاد سره په جلتئ باندے طلاقونه هم ورکړل. لکه بل روایت د بخاری او مسلم کښے دی: [فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يَأْمُرَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]. درے طلاقه ئے ورکړل مخکښے ددے نه چه رسول الله ﷺ ورته امر وکړی. [أُنْظُرُوْا] (تاسو دغه ښځے ته ګورئ، یا انتظار کوئ) [فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ] په (بِهِ) کښے ضمیر هغه ماشوم ته راجع دے کوم چه د لِعان کولو په وخت د مور په خیټه وو. [أَسْحَمَ]. تك تور ته وائی. [أَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ]. د دَعَجْ نه دے، تك تورو سترګو ته وائی. دارنګه فراخه سترګو والا ته وائی. [الْأَلْيَتَيْنِ]. جمع د اَلْيَةُ ده، کناټے. [خَدَلَّجُ السَّاقَيْنِ]. ډکو پونډو والا. [أُحَيْمِر]. تصغیر د احمر دے. لږ شان سور. کم سوز والی والا. [وَحْرَةٌ]. دا ورو کے سور چینجے دے، چه زمکه پورے چیت وی، په مزل کښے تیز وی. ګویا کښے ددهٔ رنګ خړ والی ته مائل وی.

دا قِسم صفتونه د شریك بن سحماء وو، ددے وجه نه پدے روایت کښے د عویمر عجلانی رضی الله عنه په ښځه باندے بدنام کړے شوے شخص نهٔ دے ذکر چه دا څوك وو؟ او د هلال بن امیه په واقعه کښے شریك بن سحماء ذکر دے، او په مرسل د ابن ابی لیلیٰ کښے ابن مردویهٔ نقل کړی چه د عویمر ښځے سره هم شریك بن سحماء زنا کړے وه. او په مرسل د مقاتل بن حیان کښے ابوحاتمؒ نقل کړی چه عویمر عاصم ته وویل: اے د ترهٔ ځویه! په الله قسم کوم چه ما شریك بن سحماء د ښځے په خیټه ولیدو او هغه حامله ده او زهٔ ورته د څلورو میاشتو نه نهٔ یم نزدے شوے. نو پدے وجه بعض علماؤ وئیلی دی چه دا بعیده نهٔ ده چه د دواړو ښځو سره شریك بن سحماء بدنام شوے وی. [فتح الباری: ۱۲/۱۷۰ البحر المحیط الثجاج: ۲٦/۳٤۹]

فوائد: (۱) [أَرَأَيْتَ رَجُلًا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهٖ رَجُلًا أَيَقْتُلُهٗ فَيَقْتُلُوْنَهٗ ؟] (۱) **مسئله**: که یو تن په خپل کور کښے اجنبی سړے ولیدو نو دا به څه کوی آیا قتلوی به ئے که نه؟: (۱)

ائمه ثلاثهٔ او یو روایت د احمدؒ دا دے چه که بغیر ډ ګواهانو نه ئے دا سړے مړ کړو نو قصاص به ورکوی۔ دلیل : ئے دا حدیث دے۔ (فَيَقْتُلُوْنَهُ) (۲) د احمدؒ یو روایت او د بعض سلفوؒ رائے دا ده لکه چه امام نوویؒ او حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد (۵) کښے نقل کړے چه که سړے ئے په داسے ځائے کښے مړ کړو چه دوه ګواهان موجود وی نو دا وژل جائز دی :
دوه وجے دی : ۱- عقلي وجه دا ده چه که دا سړے څلور ګواهان پیدا کوی نو بدکار به تبنتیدلے وی او حاجت به ئے پوره کړے وی۔ ۲- نقلي وجه حدیث دے : [مَنْ قُتِلَ دُوْنَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُوْنَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيْدٌ] ۔ نو ددے بدکار مثال د حیوان صائل دے، یعني حمله کونکی حیوان دے چه د انسان په عزت باندے لوبے کوی نو دلته بیا څلورو ګواهانو ته ضرورت نشته۔ ۳- دلیل : په مصنف عبد الرزاق کښے د زبیر بن عوام رضي الله عنه په واقعه کښے راغلي چه دے په سفر باندے وتلے وو وینځے ورسره وے، دوه کسانو پرے حمله وکړه چه دا وینځے مونږ ته پریده نو هغهٔ دواړه قتل کړل۔
٤- دلیل : د عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کښے یو تن یوه ښځه او سړے وژلي وو، نو د مقتول وارثان عمر فاروق رضي الله عنه ته راغلل، عمر فاروق رضي الله عنه د قاتل نه تپوس وکړو نو هغهٔ وویل : ما د ښځے خپو مینځ کښے توره وهلے ده نو که دا هلته وی نو وژلے مے دے، نو عمر فاروق رضي الله عنه د هغهٔ وینه هدر کړه۔ (زاد المعاد)۔ ۵- روستو حدیث د مغیره رضي الله عنه او ابو هریره رضي الله عنه کښے دی : چه سعد رضي الله عنه کله دا خبره وکړه نو نبی عليه السلام پرے رد ونکړو چه تهٔ به ئے ولے وژنے بلکه د هغهٔ صفت ئے وکړو۔ نو راجح دا ده چه که دوه ګواهان صحیح ملاؤ شو نو ددے سړی وینه هدر ده او که ظلمًا ئے وژلے وو نو قصاص به ورکوی۔
(۲) [فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ] ۔ افضل دا ده چه لعان په مسجد کښے وشی چه خلق راجمع وی۔
(۳) [فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا] **سوال** : دلته رسول الله ﷺ ددے سړی په درے طلاقو غورزولو انکار نهٔ دے کړے، حالانکه مخکښے باب کښے د محمود بن لبید رضي الله عنه په حدیث نمبر (۱۹) کښے تیر شو چه یو سړی په یو ځل خپلے ښځے له درے طلاقه ورکړل، نو نبی کریم ﷺ په غصه لاړ او خلکو ته ئے خطبه ورکړه او وے فرمایل: [أَيُلْعَبُ بِكِتَابِ اللهِ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ] او دا ښکاره رد دے په درے طلاقو باندے ؟ او کله چه خلکو په یو ځل درے طلاقه ورکول زیات کړل نو عمر فاروق رضي الله عنه د زجر او رټنے په توګه په دوئ باندے سیاسةً

درې په درېنو حساب كړل. نو ددې نه هم معلومېږي چه درې طلاقه په يو ځل وركول حرام دي.

جواب: صحيح خبره داده چه درې طلاقه په يو ځل وركول حرام دي. او په دې حديث كښې چه نبي كريم ﷺ رد نۀ دې كړې نو د هغې وجه داده چه دا درې طلاقه هيڅ اثر نۀ لري، او ددې محل ختم شو. ځكه چه هر كله نكاح په لِعان سره فسخه او ختمه شوه نو د طلاقو دپاره هيڅ محل پاتې نشو، او طلاق وركول يو بيكاره عمل شو. نو ځكه په دې نبي كريم ﷺ سكوت فرمائيلې. دې وجې نه كومو علماؤ چه ددې حديث نه دا استدلال كړې چه درې طلاقه په يو ځل وركول جائز دي، نو د هغوئ خبره صحيح نۀ ده.

او ددې حديث نه ددې جواز نۀ معلومېږي، ولې چه بل طرفته د محمود بن لبيد ﷜ حديث ددې په حراموالي كښې صريح دليل دې.

(٤) [أُنْظُرُوا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَسْحَمَ]. د لعان كولو نه او د ښځې او خاوند ترمينځه د تفريق او جدائي راوستو نه پس رسول الله ﷺ صحابه كرامو ﷺ ته وفرمايل چه تاسو انتظار كوئ او دغه ښځې ته ګورئ چه دا كوم قِسم بچې راوړي. بيا ئې هغه علامات بيان كړل چه هغه دلالت كوي په دې چه دا بچې د خاوند نه دې او يا د زناكار نه دې. نو فرمائي: كه د اولنو صفاتو والا بچې ئې راوړو نو دابه حلالونې وي اوكه د روستنو صفاتو والا بچې ئې راوړونو دا به حرمونې وي. د بخاري په بل راتلونكي روايت كښې راځي چه: دغه ښځې چه بچې وشو نو زاني سره مشابه وو. نو نبي ﷺ وفرمايل:

[لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ لَكَانَ لِيْ وَلَهَا شَأْنٌ] [بخاري: ٤٧٤٧، عن ابن عباس]

(كه چرې د الله فيصله نۀ وې شوې (لِعان نۀ وې جاري شوې) نو زما او ددې ښځې به ناشنا حالت وې، (يعنې مابه دغه ښځې سره كتلې وې يعنې حد به مې پرې جاري كړې وې، خو ددې حد نه مانع، لِعان كول دي د كوم فيصله چه الله خپله فرمائيلې).

سوال: په مسلمان باندې پرده اچول ضروري دي نو دا خبره ولې نبي كريم ﷺ خپلو ملګروته وكړه چه تاسو دې ښځې پسې سوې رڼړا كوئ او هغې ته ګورئ؟

جواب: خبره صحيح ده، پرده اچول بهتر دي ليكن دلته بل طرفته د خاوند حق دې پورې متعلق دې، هغه دا چه دا خبره ښكاره كول پكار دي چه څوك په حق او څوك په باطل دې؟ كه اولني صفت والا بچې وو نو خاوند په حقه دې، ددۀ د حقانيت اظهار پكار

دے، اوکه دويم صفت والا بچے وو نو بيا د ښځے حقانيت ښکاره کول پکار دی۔ والله اعلم۔
(۵) [فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ] حديث نه معلومه شوه که د لِعان کونکے ښځے په خيټه حمل وی، نو د هغے د حمل زيګولو نه مخکښے هم هغے سره لِعان کول جائز دی، او د حمل زيګون پورے انتظار کول ضروری نهٔ دی۔ او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔ د احنافو او د احمدؒ يو يو قول دادے چه په لِعان کښے به د بچی پيدا کيدو پورے انتظار کولے شی، او د پيدا کيدو نه پس به بچے د خپل ځان نه منتفی کولے شی۔ اوکه د بچی پيدا کيدو نه مخکښے ئے نفی کړو چه دا مانه نهٔ دے پيدا، نو دا نهٔ نفی کيږی ځکه د حمل پته نهٔ لګی، ممکنه ده چه دا هواء وغيره وی نو بيا د لعان فائده نهٔ راوځی۔ [المغنی: ۱۱/۱٦۱]
ليکن اولنے قول **راجح** دے، ځکه دا حديث په دے باره کښے ښکاره دليل دے۔ بله دا چه : د حمل پيژندل په علاماتو سره ممکن دی خصوصًا زمونږ په دے زمانه کښے په الټراساؤنډ وغيره سره معلوميږی۔ ❁ اوکله چه خاوند د خپلے حاملے ښځے سره لِعان وکړی نو په محضِ لِعان کولو سره ماشوم د پلار نه نفی شو اګرکه پلار دا صراحةً نهٔ وی نفی کړے۔ او دا د احمدؒ او اهلِ ظاهرؒ قول دے۔ [المحلی : ۱۰/۱۱٤، المغنی: ۱۱/۱٦۱]
دليل ئے دادے چه د نبی کريم ﷺ مخامخ چه کوم لِعان شوے په هغے کښے د ولد نفی نهٔ ده ذکر، نهٔ د هلال په حديث کښے او نهٔ د عويمر په حديث کښے۔ بله دا چه : د خاوند د طرف نه لعان کول د ولد په نفی باندے مشتمل دی۔ بعضِ علماؤ صراحةً د ولد نفی شرط کړے، چه ولد به هله نفی کيږی چه په ډاګه ئے نفی کړے چه دا مانه نهٔ دے بلکه دے ښځے زنا کړے۔ **راجح** قول اولنے دے۔
❁ بيا کله چه ولد نفی شی، نو قاضی به دا بچے مور پورے پيوسته کړی، د مور نه به ئے نسب ثابت وی او د هغے نه به ميراث هم وړی۔ او د پلار نه به ئے نسب مطلقًا ختم شی، مګر که سړی خپل ځان دروغژن کړو۔ په دے باندے دليل د ابن عمر ﷺ حديث دے : چه ((نبی کريم ﷺ د ښځے او خاوند ترمينځه لعان وکړو او د هغے ولد ئے نفی کړو، نو نبی ﷺ د هغے دواړو ترمينځه جدائی راوسته او بچے ئے ښځے سره پيوسته کړو)) [بخاری: ۵۳۱۵، مسلم: ۱٤۹٤]
امام بخاریؒ فرمائی : [بَابٌ يُلْحَقُ الْوَلَدُ بِالْمُلَاعِنَةِ] حافظ ابن حجرؒ فرمائی: [أَیْ إِذَا انْتَفَی الزَّوْجُ مِنْهُ قَبْلَ الْوَضْعِ أَوْ بَعْدَهُ] [فتح الباری: ۹/٤٦۰]

(٦) [أُنْظُرُوْا] دے حدیث نه معلومه شوه چه په قیافه باندے فیصله کول معتبر دی، او د نسب په پیژندلو کښے مشابهت دپاره دخل شته دے۔ ترڅو پورے چه ددے نه مانع نهٔ وی موجود۔ او لِعان ددے مشابهت معتبرولو نه مانع دے۔ لکه که بچے د لِعان کونکی سړی سره مشابه وو، نو هغهٔ پورے به د مشابهت په وجه نهٔ پیوسته کیږی او د هغهٔ نه به ئے نسب نهٔ ثابتیږی ځکه چه دلته د مشابهت په مقابله کښے بل قوی دلیل موجود دے چه هغه لِعان دے، د لعان په وجه دغه ماشوم دِ لعان کونکی سړی بچے نهٔ جوړیږی اګرکه هغهٔ سره مشابه ولے نهٔ وی۔ نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه په قرائنو او علاماتو به هله عمل کولے شی، کله چه ددے په مقابله کښے ددے نه سویٰ بل قوی دلیل موجود نهٔ وی۔ او هر کله چه بل قوی دلیل موجود وی نو بیا قرینے او علامے له اعتبار نشته۔ ددے مثال دادے: که یو سړے مونږ ته په داسے حال کښے راشی چه په لاس کښے ئے د لوهارئ سامان وی او هغه خپله لوهار وی، او یو بل سړے ددے سامان په باره کښے دا دعویٰ لری چه دا زما سامان دے، او په دے ګواهان قائم کړی۔ نو اوس به مونږ قرینے له اعتبار ورکوو چه دا سړے لوهار دے او د لوهارئ سامان ئے په لاس کښے دے نو دا به ددهٔ وی، اوکه نه ګواهانو له به اعتبار ورکوو؟ نو مونږ به ګواهانو له اعتبار ورکوو ځکه چه دا د قرینے نه قوی دلیل دے۔ ددے نور ډیر مثالونه دی۔ البته که دلیل نهٔ وی نو بیا به په قرینه او شبهه باندے عمل کیدے شی۔

(٧) او حدیث نه معلومه شوه چه د پلار معنوی او ظاهری مشابهت بچی ته منتقل کیږی۔ او دا منتقل کیدل حقیقت دے۔ والله اعلم۔

(٨) [فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا] **مسئله** : ددے حدیث نه بعضِ شوافعو، لکه عثمان البتیؒ، دا دلیل نیولے چه د ښځے او خاوند ترمینځه د لعان کولو نه پس فُرقة نهٔ واقع کیږی مګر په طلاقو سره، بلکه طلاق به غورزوی ځکه په دے حدیث کښے [فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا] الفاظ راغلی، ځکه که په نفسِ لعان سره فُرقة واقع کیدے نو بیا به ددے سړی طلاق نهٔ نافذ کیدلے۔ علامه جصاصؒ وائی: دا ددهٔ ذاتی رائے ده، دهٔ سره هیچا په دے کښے موافقت نهٔ دے کړے۔ [أحكام القرآن: ٥/ ١٥٠، فتح الباری: ٩/ ٤٤٧]

جواب : مخکښے ذکر شو چه عویمر عجلانی ﷺ چه د لعان کولو نه پس طلاق وغورزول نو د هغهٔ دا خیال وو چه ګنے په لِعان سره حرمت نهٔ راځی نو ځکه ئے د طلاقو

په ذريعه ددې حرمت راوستو اراده وکړه. دارنګه ددۀ دا طلاق ورکول د هغه فُرقة تاکيد او تابيد دې کوم چه په لِعان سره راغلې دې. دا وجه ده، رسول الله ﷺ په دې درې طلاقو غورزولو رد هم نۀ دې کړې، ځکه ددې رد ته ضرورت نۀ وو، ځکه چه حرمت او فُرقة ددې طلاقو نه مخکښې په لعان سره ثابت شوې وو.

(۲) **قول** دادې: چه ددې دواړو ترمينځه فُرقة او جدائي د دواړو د لِعان کولو نه روستو خود بخود واقع کيږي، او د حاکم تفريق او جدائي راوستو ته ضرورت نشته. او دا د سلفوؒ د يو جماعت او د جمهورو علماؤ قول دې. [انظر: المحلى: ۱۰/۱٤۲، المغني: ۱۱/۱٤٤] او دا د مالكؒ او اهلِ ظاهرؒ قول او د احمدؒ نه يو روايت دې.

او په دې باندې د سهل بن سعد ﷺ حديث دليل دې، هغه فرمائي: [فَمَضَتِ السُّنَّةُ بَعْدُ فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَهُمَا، ثُمَّ لَايَجْتَمِعَانِ أَبَدًا] (د لِعان کونکو په باره کښې د دوئ نه روستو دا طريقه جاري شوه چه (د لِعان کولو نه پس) د دوئ ترمينځه جدائي واقع کيږي چه بيا دوئ دواړه هيڅ کله نۀ راجمع کيږي)

[أبوداود: ۲۲۵۰، بيهقي: ۷/٤۱۰، وصححه الألباني في الارواء: ۷/۱۸۵]

او دا قول **راجح** دې: وجه دا ده چه خاوند کله په ښځه خلور ځله د زنا ګواهي ورکړه نو ددې نه ښکاره شوه چه دا دواړه خپلو کښې نۀ جوړيږي، نو بيا د نکاح په باقي پاتې کيدو کښې هيڅ فائده نشته، دې وجې نه نکاح به دې سره فسخ کيږي لکه څنګه چه په ارتداد سره فسخ کيږي. بله دا چه: که تفريق قاضي ته وسپارل شي نو بيا خو د ښځې او خاوند د رضا کيدو په صورت کښې به دا تفريق پريښودل جائز وګرځول شي لکه څنګه چه د تفريق بالعيب حکم دې، حالانکه په دې هيچا قول نۀ دې کړې. يعنې مثلاً که قاضي ووائي چه زۀ تفريق نۀ راولم نو بيا به تفريق نۀ راځي، حال دا چه دا خبره خطاء ده.

(۳) **قول** دادې چه: فرقة په لِعان او په تفريق د حاکم سره واقع کيږي. لکه روستو دويم حديث د ابن عمر ﷺ کښې راځي: [فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا] دارنګه دې حديث کښې د سهل ﷺ کښې دي: د لِعان کولو نه پس هغه سړي دا الفاظ ووېل: [كَذَبْتُ عَلَيْهَا إِنْ أَمْسَكْتُهَا] نو په دې کښې هغۀ دا خبر ورکړو چه د لِعان نه پس هم هغه ددې ښځې ساتونکې دې. که چرې په لِعان سره فرقة واقع کيدې نو بيا به ددۀ دا خبره صحيح نۀ وه. او دا قول د ابو حنيفةؒ او يو روايت د احمدؒ دې.

جواب : [فَرَّقَ بَيْنَهُمَا] نـه استدلال كول صريح نۀ دى ځكه ددې دوه معنې كيدې شي : (**يو**) انشاء د فرقة چه مخكښې نۀ وو۔ او **بل** په عملي توګه تنفيذ د فرقة كوم چه په لِعان سره راغلې وو۔ نو فرقة په لعان سره راغلې وو او نبي كريم ﷺ دا فرقة په حسي او عملي توګه نافذ كړو۔ نو ددې نه د احنافو او احمدؒ استدلال صحيح نشو۔ او ددې قول والو په نيز ثمره دا راوځي چه تر څو پورې حاكم تفريق نۀ وي راوستې نو دا دواړه ښځه او خاوند دي، د خاوند طلاق په ښځه واقع كيږي، او د حاكم د تفريق نه مخكښې كه په دوئ كښې يو تن مړ شو نو يو د بل نه ميراث وړلې شي۔ او څوك چه د حاكم تفريق ته حاجت نۀ وائي د هغوئ په نيز په دې كښې يوه خبره هم ثابته نۀ ده او همدا خبره معقوله ده۔

(٤) - **قول** د شوافعو دې : هغه دا چه فرقة او جدائي صرف د خاوند په لِعان سره ثابتيږي اګركه ښځې لا لِعان نۀ وي كړې۔ علامه جصاصؒ وائي : امام شافعيؒ سره په دې خبره هيچا موافقت نۀ دې كړې۔ [أحكام القرآن: ٥/١٥٠]

ليكن دا قول هم صحيح نۀ دې، ځكه كه فرقة يوائې د خاوند په الفاظو سره راتلې نو بيا ددې مطلب خو دا شو چه ښځه د پردى سړى سره لِعان كوى۔ [انظر: الفرقة بين الزوجين، ص: ١٨١، أحكام القرآن للجصاص: ٥/١٥٢]

(٩) **مسئله :** د جمهورو علماؤ په نيز په لِعان سره راغلې فسخ او فرقة ابدى دې، نو د خاوند دپاره هيڅ كله جائز نۀ دى چه دې ښځې ته رجوع وكړى، ځكه نبى كريم ﷺ (په روستو راتلونكى حديث كښې) وفرمايل : [لَاسَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا] (ستا په هغې باندې د رجوع هيڅ طريقه پاتې نشوه)

بله دا چه : ددې دواړو ترمينځه هيڅ اعتماد باقي پاتې نشو۔

بل دليل مخكښې حديث د سهل تير شو : [اَلْمُتَلَاعِنَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ اَبَدًا]

[الدارقطني : ٤/٤١٦، رقم : ٣٧٠٦، البيهقي : ٧/٤٠٩، رقم : ١٥١٣١، الديلمي رقم : ٦٦١٧]

(لعان كونكى خپل مينځ كښې هيڅكله نۀ يو ځائې كيږي۔

(٢) **قول :** ابو حنيفةؒ او محمد بن الحسنؒ وائي : كه سړى خپل ځان دروغژن كړو نو بيا دغه ښځه ددۀ دپاره حلاله شوه او دا به ددۀ ښځه ګڼړل كيږي۔ ځكه د دوئ په نيز د لِعان په وجه راغلې فرقة طلاق حسابيږي، او دا د احمدؒ نه يو شاذ روايت هم دې۔ نو تجديد د نكاح به وكړي ځكه چه دا طلاق بائن دې۔ سعيد بن المسيبؒ فرمائي : كه سړى خپل

ځان دروغژن کړو نو دے ښځے ته د نکاح د پیغام لیږونکو نه یو پیغام لیږونکے دے۔ [المغنی: ۱۱/ ۱٤۹] البته د ښځے د طرف نه دا خبره نۀ صحیح کیږي ځکه چه که هغې ځان دروغژن کړو نو هغه به رجم کیږي او که مرتده شوه نو د هغے دپاره قتل دے۔ خو په دے کښے صحیح خبره د جمهورو ده۔ چه دا فرقة دائمي فرقة دے، او دواړه هیڅ کله نۀ جمع کیږي د وجه د مخکښو دلائلو نه۔ والله تعالیٰ اعلم۔

د لعان په صورت کښے د ښځے او خاوند ترمینځ د جدائی مسئله

3305 (2) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاعَنَ بَيْنَ رَجُلٍ وَامْرَأَتِهِ فَانْتَفٰى مِنْ وَلَدِهَا فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي حَدِيْثِهِ لَهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ ثُمَّ دَعَاهَا فَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ.

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د یو سړی او د هغهٔ د ښځے ترمینځ لعان وکړو، نو سړی د هغے بچے نفی کړو (انکار ئے ترے وکړو) نو دے د دواړو ترمینځ جدائی راوسته او ماشوم د ښځے پورے پیوست شو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او په حدیث د ابن عمر کښے د بخاري او مسلم په روایت کښے (داسے الفاظ دی) : رسول الله صلی الله علیه وسلم سړی ته نصیحت وکړو او د آخرت عذاب ئے ورته ذکر کړو (دے دپاره چه هغه دروغ ونۀ وائی او په ښځه باندے خپل الزام ناحقه ثابت نکړی) او هغهٔ ته ئے خبر ورکړو چه عذاب د دنیا د آخرت د عذاب نه آسان دے۔

تشریح : [فَانْتَفٰى مِنْ وَلَدِهَا] - یعنی سړی د ښځے بچے نفی کړو چه دا زما نه نۀ دے۔ فاء : سببیه ده، یعنی انتفاء الولد سبب د ملاعنے وو۔ لکه بل روایت د نافع کښے داسے دی : [أَنَّ رَجُلًا رَمَى امْرَأَتَهُ وَانْتَفٰى مِنْ وَلَدِهَا، فَأَمَرَهُمَا النَّبِيُّ صلی الله علیه وسلم فَتَلَاعَنَا] - دا دویم قسم د لعان دے چه په انتفاء د ولد سره کیږي۔ (۱) صاحبینؒ وائی چه انتفاء د ولد به په موده د نفاس کښے دننه کیږي یعنی څلویښتو ورځو کښے۔ (۲) امام شافعیؒ وائی : د پیدائش سره فوراً به انتفاء کوی۔ او دا قول د احمدؒ دے چه هرکله په بچی پوهه شو او عذر نۀ وو نو سمدستي به د هغے نفی کوی۔ (۳) ابو حنیفهؒ د دے په باره کښے څه موده نۀ ده مقرر کړے بلکه دا ئے د حاکمِ وقت رائے ته سپارلے ده، او مبسوط د سرخسیؒ ذکر کړی چه یوه

یا دوه ورځو پورې د فکر کولو موقعه ورکول مستحسن دي دې دپاره چه اټکلي فیصله ونکړي. او ابو اللیثؒ درې ورځې ذکر کړي، او حسن بن زیادؒ د ابو حنیفةؒ نه تر اُووه ورځو پورې نقل کړي، د ولادت د ورځې نه تر د عقیقې پورې، لیکن دا قول ضعیف دې، ځکه مقدار په رائې سره مقررول جائز نۀ دي.

[الهدایة شرح البدایة: ٦/٧٨، الجوهرة النیرة ٤/٢٧٥ المبسوط للسرخسي: ٨/٤٠٠].

هدایه ملا د مبارکۍ زمانه، یا د مبارکۍ په وخت کښې غلې کیدل، اقرار شمارلې دې، دارنګه د ماشوم د اصلاح دپاره سامان اخستل عادةً اقرار دې. او کله چه دلیل د قبول موجود شي نو د هغې نه روستو ددې نفي کول صحیح نۀ دي. **لیکن** ظاهر د احادیثو دا دې چه هر وقت انتفاء د ولد کولې شي، څه تعیین او تحدید د زمانې نشته.

[فَفَرَّقَ بَيْنَهُمَا] (یعني نبي ﷺ د دوئ ترمینځ جدائي راوسته په لعان کولو سره). یا فرق صیغه مجهول ده او مطلب دا دې چه په لعان سره جدائي واقع شوه، لیکن نبي علیه السلام هغوی ددې مسئلې نه خبر کړل او دا ئې ورته ووېل چه ستاسو همیشه جدائي راغله. د [وَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ] نه معلومه شوه چه قاضي او حاکم دپاره مستحب دي چه د لعان کولو نه مخکښې ښځې او خاوند دواړو ته نصیحت وکړي، کیدې شي چه خاوند رجوع وکړي که دروغژن وي او خپله خبره واپس واخلي، او حدِ قذف قبول کړي. او یا ښځه د انکار نه رجوع وکړي او اقرار وکړي او حد پرې جاري کړې شي.

[وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالْمَرْأَةِ] - یعني بچې ئې د ښځې دپاره وګرځولو او د خاوند نه ئې نفي کړو، نو د دواړو ترمینځ به میراث نۀ جاري کیږي، صرف مور به ترې میراث وړي.

[عَذَابَ الدُّنْيَا] ددې نه مراد په سړي باندې حدِ قذف دې چه اتیا دُرې دي. او په ښځه باندې حدِ زنا دې چه رجم دې. [مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ] چه هغه په پاك دامنو ښځو د تور لګولو په وجه عذاب عظیم دې. لکه ارشاد دې: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [النور: ٢٣]

[ثُمَّ دَعَاهَا] یعني اول ئې سړي ته وعظ او نصیحت وکړو بیا ئې ښځې ته.

د لعان کونکو محاسبه به په آخرت کښې وي

3306 (3) - وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ لِلْمُتَلَاعِنَيْنِ: "حِسَابُكُمَا عَلَى اللهِ، أَحَدُكُمَا

كَاذِبٌ، لَاسَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا". قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَالِيْ؟ قَالَ : "إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا، فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا، وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا، فَذَاكَ أَبْعَدُ وَاَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او د ابن عمر ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لِعان کونکے ښځے او خاوند ته وفرمایل : ستاسو حساب د الله په ذمه دے، په تاسو کښے یو تن دروغژن دے، اُوس ستا په دے ښځه هیڅ حق نشته. هغهٔ عرض وکړو : اے د الله رسوله ! زما د مال به څهٔ حال وی؟ نبی ﷺ وفرمایل : که چرے تهٔ په دے باندے په الزام لګولو کښے رښتینے ئے نو دا د هغه کوروالی عوض دے کوم چه تا د هغے د شرمګاه په حلالولو سره کړے، اوکه چرے تا په دے باندے د دروغو الزام لګولے وی نو بیا (تاته ستا) دا مال ددے نه (ملاویدل) زیات لرے او لرے دی. (بخاریؒ، مسلمؒ).

تشریح : [حِسَابُكُمَا] أَیْ یُحَاسَبُ مَنْ أَثِمَ مِنْكُمَا (په تاسو کښے د ګنهګار حساب په الله دے) [أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ] او دا خبره یقینی ده چه یا به سړے دروغژن وی د ښځے په بدنامولو کښے، او یا به ښځه دروغژنه وی په انکار کښے. [لَاسَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا] دا خاوند ته خطاب دے، یعنی ستا په دے ښځه باندے د رجوع هیڅ حق پاتے نشو ځکه د لعان په وجه ددے دواړو ترمینځه همیشه دپاره جدائی راغله. [مَالِيْ] زما مال څهٔ شو؟ مال نه مراد مهر دے چه ښځے ته ئے ورکړے. یعنی ښځه خو زما نه لاړه او ما ته ئے ضرر راورسولو چه زما مهرئے وخوړلو. [إِنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا ......] که چرے تا په دے رښتیا ویلی وی او هغے واقعی زنا کړے وی نو په دے صورت کښے تهٔ د هغے نه مهر واپس نشے اخستے ځکه چه تا د مهر په مقابله کښے د هغے نه نفع اخستے او د هغے شرمګاه دِے حلاله ګرځولے. او مخکښے تیر شو چه په دخول سره د ښځے دپاره پوره مهر لازمیږی. [وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَيْهَا ......] اوکه چرے تا پرے دروغ ویلی وی، تهمت دِے پرے لګولے وی. [فَذَاكَ أَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا] نو په دے صورت کښے ستا دپاره د هغے نه مهر اخستل ډیر لرے دی، یعنی تهٔ په هغے دروغ هم وائے او مهر ترے هم اخلے. دا ډیره لرے خبره ده. دا خو په هغے ظلم دے چه تور دے پرے هم وتاړهٔ او مهر ترے هم اخلے. بل روایت کښے دی : [لَامَالَ لَكَ] [بخاری: ۵۳۱۱، مسلم: ۱٤٩٣]. تا لره هیڅ مال نشته.

فوائد : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه شرعی احکام په ظاهری توګه نافذیږی، حاکم او قاضی ددے نه زیات په بل شئ مکلف نۀ دے۔ ځکه نبی کریم ﷺ وفرمایل : په تاسو دواړو کښے یو تن خامخا دروغژن دے لیکن تاسو دواړه چونکه په قسمونو خوړلو سره خپل ځان رشتینے ګڼړئ، دے وجے نه مونږ د همدے مطابق فیصله کوو، او دروغژن له به سزا صرف الله تعالیٰ ورکوی۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه لِعان کونکے سړے په هیڅ صورت کښے په هغه مهر کښے هیڅ حق نۀ لری چه هغه ئے ښځے ته ورکړے وو، برابره خبره ده که دے په خپله خبره کښے رشتینے وی او که دروغژن۔ ځکه په دواړو صورتونو کښے ښځے دپاره مهر ورکول واجب دی، که رشتینے وی نو د مهر په مقابله کښے ئے د هغے نه خوند او مزے اخستی، او که دروغژن وی نو ددے سره سره ئے په هغے ظلم هم وکړو۔ او په هغے ئے تور ولګولو۔ او په دے د علماؤ اجماع ده۔ [شرح مسلم: ۹/۳۸۰]

(۳) په [حِسَابُكُمَا عَلَى اللّٰهِ، أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ] کښے دوه احتماله دی : یو داچه : دا خبره رسول الله ﷺ دے دواړو ته د لِعان شروع کولو نه مخکښے وکړه، دے دپاره چه دا دواړه ویروی او ددے کار نه ئے منع کړی، ځکه دا خبره یقینی ده چه په دے دواړو کښے به یوتن په حقیقت کښے رشتینے او بل دروغژن وی۔ (دویم داچه) دا خبره ئے ورته د لِعان کولو نه روستو وکړه، او په دے کښے غرض دادے چه دا دواړه توبه وباسی۔ ځکه په دے دواړو کښے چه کوم یو دروغژن دے هغۀ دپاره توبه او استغفار کول واجب دی۔

(٤) د [لَا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا] نه معلومه شوه چه په نفسِ لعان کولو سره د ښځے اوخاوند تعلق ختم شو۔ د خاوند په ښځه هیڅ حق پاتے نشو ځکه په دے سره ئے نکاح فسخ شوه، او هغے ته د رجوع کولو حق ختم شو، ځکه په دے کار سره همیشه دپاره یو په بل حرام شو۔ اګرکه ښځه د بل خاوند سره نکاح هم وکړی۔

یو روایت کښے دی چه سهل ﷛ فرمائی : (ددے لعان نه پس د دوه لعان کونکو په حقله دا طریقه جاری شوه چه ددے دواړو ترمینځه جدائی واقع کولے شی او بیا هیڅ کله دوئ نشی جمع کیدے) [صحیح أبی داود: ۱۹۶۹، أبوداود: ۲۲۵۰]

(۵) د [أَحَدُكُمَا كَاذِبٌ] نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ ته د غیبو علم نۀ وو، بلکه څۀ به ئے چه واوریدل د هغے مطابق به ئے فیصله کوله۔ والله تعالیٰ اعلم۔

د لعان آیت شانِ نزول

3307(4) — وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ: أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**أَلْبَيِّنَةَ أَوْ حَدًّا فِي ظَهْرِكَ**" فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِذَا رَأَى أَحَدُنَا عَلَى امْرَأَتِهِ رَجُلًا يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ؟ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "**اَلْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ**" فَقَالَ هِلَالٌ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللّٰهُ مَا يُبَرِّءُ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ: (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ) فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ (إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ) فَجَاءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟ " ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَّفُوهَا وَقَالُوا: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ﷺ: فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَصَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ: لَا أُفْضِحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ فَمَضَتْ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **أَبْصِرُوهَا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ بْنِ سَحْمَاءَ** " فَجَاءَتْ بِهِ كَذٰلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**لَوْلَا مَا مَضٰى مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ لَكَانَ لِي وَلَهَا شَأْنٌ**". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه هلال به امیه ﷺ خپله ښځه باندے د نبی کریم ﷺ په مجلس کښے د شریك بن سحماء سره د زناکولو بدنامه ولګوله نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: ګواهان (راوله) یا به ستا په شا کښے حد (قائمو) نو هغهٔ وویل: اے د الله رسوله! هرکله چه یو تن زمونږ خپله ښځه باندے یو سړے ووینی نو هغه به ځی ګواهان به لټوی؟ (دا خو ډیر ګران کار دے) نو نبی کریم ﷺ به فرمایل: ګواهان به راوړے یا به ستا په شا کښے حد (قائمیږی) نو هلال ﷺ وویل: قسم په هغه ذات چه تهٔ ئے په حق سره رالیږلے ئے، زهٔ خامخا رشتینے یم نو ضرور به الله تعالیٰ هغه حکم نازلوی چه زما شا به د حد نه بیزاره کوی نو جبریل ﷺ راکوز شو او په نبی علیه السلام ئے دا آیتونه راوړل: (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ) نو دا ئے ولوستل تردے چه دے آیت ته ورسیدو (ان کان من الصادقین) نو هلال راغلو نو هغهٔ ګواهی وکړه (لعان ئے وکړو) او نبی ﷺ به فرمایل: یقیناً الله تعالیٰ پوهیږی چه یو ستاسو دروغجن دے نو آیا ستاسو دواړو نه

څوك توبه ويستونكے شته؟ بيا ښځه پاڅيده هغې هم گواهيانے وكړے هركله چه د پنځمې گواهئ سره شوه نو خلكو ودروله او دائے (ورته) وويل: دا (پنځمه گواهي په دنيا كښې جدائي لره او په آخرت كښې عذاب لره) ثابتونكے (لازمونكے) ده. نو ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: نو ښځه روستو شوه او شاته لاړه تردے چه مونږ گمان وكړو چه دا به (د خپلے خبرے نه) واپس كيږي. بيائے وويل: زهٔ ټول عمر خپل قوم نهٔ شرموم نو (مخكښې لاړه، (د لعان كولو نه روستو) نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: وگورئ كه ښځے ماشوم رنجينو سترگو والا كاملو (غټو) كناټو والا ډكو پونډو والا راوړو نو دا به د شريك بن سحماء (بچے) وي، نو ښځے ماشوم همغه شان راوړو. نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه چرے د الله تعالىٰ حكم مخكښې نهٔ وے تير شوے نو خامخا زما او ددے به يو ناشنا حالت وے. (يعني ما به ورته سخته سزا وركړے وے ليكن د الله تعالى حكم دے چه د لعان نه روستو د ښځے نه دنياوي سزا اوړي). (بخاريؒ)

[شريكُ بْنُ سَحْمَاء] دا شريك بن عبدة بن مغيث العجلاني البلوي دے، د مور نوم ئے سحماء وو، د خپل پلار سره اُحد غزا ته حاضر شوے دے، (ابن سعدؒ عن الواقديؒ) دا په رضاعت كښې د براء بن مالك رضي الله عنه مور شريك ورور دے، او دا د عاصم بن عدي او معن بن عدي د ترهٔ ځوی وو، د انصارو حليف وو. وئيلے شي چه هركله خالد بن وليد رضي الله عنه په يمامه كښې وو نو ابوبكر صديق رضي الله عنه شريك بن سحماء هغهٔ ته د استازي په حيثيت ورليږلے وو چه د يمامے نه عراق ته روان شي. او د ابوبكر صديق رضي الله عنه په دور خلافت كښې شريك بن سحماء په شام كښې د اميرانو نه يو امير وو. او عمر فاروق رضي الله عنه عمرو بن العاص رضي الله عنه ته دے استازے ليږلے وو هركله ئے چه عمرو رضي الله عنه ته حكم كولو چه د مصر فتح طرف ته متوجه شي. (ابن عساكرؒ) الاصابة في تمييز الصحابة)

تشريح: [اَلْبَيِّنَةَ اَوْ حَدًّا]. البينةَ منصوب بنزع الخافض دے، [اَیْ اِيتِ بِالْبَيِّنَةِ اَوْ اجْعَلْ حَدًّا فِيْ ظَهْرِكَ] يا به گواهان راولے يا به ستا په شا باندے حد قائميږي چه هغه حد قذف اتيا درے دي. يا منصوب دے په اَقِمْ سره يعني [اَقِمِ الْبَيِّنَةَ] يعني قائم كړه گواه.

[وَالنَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ]. يعني نبي عليه السلام دا خبره د گواهئ نه روستو وكړه دے دپاره چه دوئ ته د توبے ترغيب وركړي او بيائے ترغيب هم وركړو. [وَقِّفُوْهَا]. يعني خلكو ايساره كړه چه صبر شه، آخري چانس دے. [اِنَّهَا مُوْجِبَةٌ] دا گواهي او قسم په دنيا كښې هميشه

فراق لره او په آخرت کښې سخت عذاب لره ثابتونکے دے۔ په دے پنځمے گواهئ سره د سرې لعان پوره کیږی نو که دے دروغژن وی، د الله په لعنت به اخته شی۔ او دا د قولی منع نه پس اُوس فعلی منع ده۔ ځکه د لِعان شروع کولو نه مخکښې ئے ورته هم په قول سره نصیحت کړے وو۔ اُوس ئے په عملی توگه منع کړو۔ ددے حدیث نه ثابته شوه چه حاکم او قاضی دپاره پکار دی چه د پنځمے گواهئ په موقع د هغے د بندولو سخت کوشش وکړی، هغه داسے چه په ناستو کسانو کښې یو تن ته حکم وکړی چه ددے پنځمے گواهئ په وخت د سړی په خُلهٔ لاس کیدی، کیدے شی چه هغه په دے کار سره منع شی۔ نو کله چه څلور گواهئ او قسمونه وکړی نو قاضی به ئے ودروی او ورته به ووائی چه د الله نه ویریږه ځکه چه دا پنځم قسم ثابتونکے شے دے۔ او د دنیا عذاب د آخرت د عذاب نه آسان دے او د الله تعالیٰ لعنت ډیر گران شے دے۔

[فَتَلَكَّأَتْ] - [اَیْ تَبَطَّئَتْ عَنْ اِتْمَامِ اللِّعَانِ] - یعنی د لعان د پوره کولو نه سسته شوه۔ [وَنَكَصَتْ] - [اَیْ رَجَعَتْ إِلَى وَرَائِهَا] - او شا ته لاړه۔ ځکه چه ددے مقام د خطرے نه ویریدله لیکن بیا پرے د قوم غیرت غلبه وکړه او وے وئیل: [لَا أُفْضِحُ قَوْمِیْ] - دا د افضاح نه دے۔ یعنی خپل قوم نهٔ شرموم۔ [فَمَضَتْ]- نو د لعان په پوره کولو کښې روانه شوه۔ یا مخکښې راغله۔ [اَكْحَل]- یعنی رنجینے سترگو والا۔ [سَابِغ]- کامل او پوره او غټو کناتو والا۔ [خَدَلَّج]- یعنی غټو او ډکو پونډو والا۔ [لَوْلَا مَا مَضَى]- ددے نه مراد دا آیت دے: ﴿ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ] - یعنی ددے څلورو گواهیانو په کولو سره ددے نه عذاب دفع کیږی۔ یعنی د لعان په وجه ددے نه دنیاوی عذاب دفع شو چه رجم نشوه گنے ددے آثارو نه معلومه شوه چه دے واقعی زنا کړے وه۔ [لَهَا شَأْنٌ]- یعنی زما او ددے به یو عجیب حالت وے، هغه دا چه ما به سزا ورکړے وے چه دے ولے داسے دروغ وویل۔ دا هم دلیل دے چه نبی ﷺ د الله تعالیٰ د حکم تابع وو په داسے موقعه کښې به ئے په خپله رایه عمل نهٔ کولو۔

د زنا تهمت د څلورو گواهانو په ذریعه ثابتیږی

3308 (5) – وَعَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ ﷺ: لَوْ وَجَدْتُّ مَعَ أَهْلِى رَجُلًا لَمْ أَمَسَّهُ حَتَّى آتِىَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نَعَمْ" قَالَ:

كَلَّا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ كُنْتُ لَأُعَاجِلُهُ بِالسَّيْفِ قَبْلَ ذٰلِكَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اِسْمَعُوْا إِلٰى مَا يَقُوْلُ سَيِّدُكُمْ إِنَّهُ لَغَيُوْرٌ وَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللّٰهُ أَغْيَرُ مِنِّيْ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ابو هریره ﷺ فرمائی: سعد بن عباده ﷺ وفرمایل: که زهٔ د خپل اهل سره یو سړے موندهٔ کړم نو زهٔ به هغهٔ له ګوتے نهٔ وړم تردے چه زهٔ به څلور ګواهان راولم؟ (دا خو ډیره ګرانه خبره ده) رسول الله ﷺ وفرمایل: آؤ، (همداسے ده) سعد وفرمایل: هیچرے داسے نهٔ ده، قسم په هغه ذات چه تهٔ ئے په حق سره رالیږلے ئے، زهٔ به خامخا هغه په جلتئ سره په توره باندے وهم. مخکښے ددے (ګواهانو راوستو) نه، رسول الله ﷺ وفرمایل: (انصارو!) تاسو واورئ هغه خبره چه ستاسو سردار ئے وائی، دا خو ډیر غیرتی دے او زهٔ ددهٔ نه ډیر غیرتی یم او الله تعالیٰ زما نه ډیر غیرت والا دے. (مسلمؒ)

تشریح: امام احمدؒ د ابن عباس ﷺ په روایت د سعد بن عباده ﷺ دا قصه ذکر کړے ده چه خلاصه ئے دا ده چه هرکله د حد قذف آیت نازل شو ((چه هرڅوك چه پاکدامنے ښځے باندے بدنامه ولګوی بیا څلور ګواهان رانهٔ وړی نو هغوی له اتیا درے ورکړئ)) نو سعد بن عباده ﷺ باندے چه د انصارو د خزرج قبیلے سردار وو، دا خبره ډیره ګرانه پریوته چه که دا حکم خپلو ښځو ته هم شامل وی نو خبره خو ډیره ګرانه ده، نو نبی ﷺ ته ئے عرض وکړو چه که زهٔ د خپل اهل سره یو سړے مونده کړم بیا څلور ګواهانو پسے ګرځم نو زهٔ چه راځم هغه به فارغ شوے وی، بلکه داسے سړے خو عام خلك د غیرتَ د وجه نه په جلتئ سره په توره وژنی، نبی ﷺ وفرمایل: آؤ دغسے د الله تعالیٰ حکم دے، علامه خطابیؒ وائی چه د سعد ﷺ رسول الله ﷺ ته دا جواب ورکول د هغهٔ د خبرے ردَ کول نهٔ وو بلکه طمع ئے وه چه پدے باره کښے رخصت نازل شی، لیکن هرکله چه نبی ﷺ ددهٔ د خبرے نه انکار وکړو نو سعد غلے شو او تسلیم شو. لکه د روایت بعض الفاظ داسے دی: [يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ أَلَا تَسْمَعُوْنَ مَا يَقُوْلُ سَيِّدُكُمْ؟ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! لَا تَلُمْهُ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ غَيُوْرٌ، وَاللّٰهِ مَا تَزَوَّجَ امْرَأَةً قَطُّ إِلَّا عَذْرَاءَ، وَلَا طَلَّقَ امْرَأَةً فَاجْتَرَأَ رَجُلٌ مِنَّا أَنْ يَتَزَوَّجَهَا مِنْ شِدَّةِ غَيْرَتِهِ، فَقَالَ سَعْدٌ: وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَعْلَمُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّهَا لَحَقٌّ وَإِنَّهَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَلٰكِنِّيْ عَجِبْتُ] - اے د انصارو ډلے آیا تاسو د خپل سردار خبرے نهٔ آورئ؟ هغوی عرض وکړو اے د الله رسوله! دا مهٔ ملامته کوه څکه چه دا ډیر غیرتی سړے دے، قسم په الله دهٔ

همیشه پیغله جینئ وادهٔ کړې او دهٔ چه کومې ښځې ته طلاق ورکړې نو ددهٔ د سخت غیرت د وجه نه مونږ کښې چا په نکاح نهٔ ده اخستې، نو سعد وویل: قسم په الله اې د الله رسوله! ضرور زهٔ پوهیږم چه دا آیت حق دې او دا د الله تعالیٰ د طرف نه دې لیکن ما دا خبره ناشنا وګنړله). اه. نو لږ وخت لا تیر شوې نهٔ وو چه د هلال بن امیه واقعه راغله، او الله تعالیٰ د لعان آیتونه نازل کړل، او خاوندانو ته ئې پدې باره کښې رخصت ورکړو.

[مسند احمد: ٢١٣١، مسند ابی یعلی: ٢٧٤٠].

او ماوردیؒ وغیره وئیلي دي چه سعد ﷺ پدې قول سره د رسول الله ﷺ د امر مخالفت نهٔ کولو بلکه پدې سره ئې د انسان د حالت نه اخبار ورکولو کله چه داسې حالت وینی نو یو سړې د خپلې ښځې زنا نهٔ برداشت کوی او غضب او غصه پرې غلبه کوی نو په جلتئ سره تورې ته منډه وهی اګرکه پدې کار به ګناهګاریږی لیکن د خلکو عادت داسې دې. (شرح النوویؒ: ١٠/١٣١)

لَغَيُوْرٌ: دا د غیرة نه دې، په اصل کښې منع ته وائی، او غیرت کښې هم سړې خپل اهل د پردی سړی د تعلق نه په نظر یا خبرو وغیره سره منع کوی. (نوویؒ)

او د غیرت معنیٰ ده: [هَيَجَانٌ وَانْزِعَاجٌ يَجِدُهُ الْإِنْسَانُ مِنْ نَفْسِهِ]. دا هغه جوش او تنګی ده چه انسان ئې په خپل نفس کښې موندهٔ کوی. چه انسان لره خپل اهل د فحشاء او د هغې مقدماتو نه منع کوی.

او د الله تعالیٰ د غیرت معنیٰ دا ده چه منع کوی د اقدام کولو نه په فواحشو باندې. لکه په بل حدیث کښې دی: [وَغَيْرَةُ اللّٰهِ أَنْ لَّا يَأْتِيَ الْمَرْءُ مَا حَرَّمَهُ اللّٰهُ].

د الله تعالیٰ غیرت دا دې چه بنده هغه شی ته راتلل ونکړی کوم چه الله تعالیٰ حرام کړې) (قرطبیؒ) مګر صحیح هغه ده چه کوم د سلف صالحینو منهج دې چه د الله تعالیٰ نبی د الله تعالیٰ دپاره صفت د غیرت ثابت کړې نو دا په خپله حقیقی معنیٰ سره دې، او دا د الله تعالیٰ صفت دې څنګه چه د هغهٔ د شان سره لائق وی.

قاضی عیاضؒ وائی: غیرة د تغیّر القلب نه دې، د زړهٔ بدلون او د غضب جوش ته وائی په هغه کار باندې چه د یو تن پورې خاص وی او څوك پکښې شرکت کول غواړی. او دا زیاتره د ښځې او خاوند ترمینځ وی.

[إِسْمَعُوْا]. پدې خبره کښې د رسول الله ﷺ مقصد د سعد ﷺ صفت کول دی، چه

واورئ ستاسو سردار څه وائی؟ چه سعد غیرتی دے او غیرت یو ښکلے صفت دے، ځکه چه څوك غیرتی نهٔ وی هغهٔ ته دیوث وئیلے شی، یعنی هغه څوك چه په خپل اهل کښے بے حیائی وینی او هغوی نهٔ منع کوی۔ او پدے کښے اشاره ده چه په طبیعت او مزاج کښے دومره غیرت کیدل د سردارانو د صفاتو او عاداتو نه دی، اګرکه پدے معامله کښے د شریعت حکم بل دے چه په هغے باندے عمل کول د غیرتمندئ په تقاضا باندے د عمل کولو نه زیات ضروری دے۔ حاصل دا چه پدے ارشاد سره رسول الله ﷺ د سعد د خبرے تائید او توثیق ونکړو چه دا صحیح وائی بلکه د هغهٔ دپاره ئے عذر بیان کړو چه سعد چه کومه خبره وکړه او چه د هغے نه په ظاهره کښے زما د حکم مخالفت معلومیږی نو هغه په اصل کښے ددهٔ د زیات غیرت تقاضا وه چه ددهٔ د ژبے نه راوتے ده۔

[سَیِّدُکُم]۔ د سیّد په لفظ کښے اشاره ده چه غیرت د عزتمنو او شریفانو او سردارانو خلکو خوئی او عادت دے۔ سید هغه چا ته وائی چه په کمالاتو کښے د خپل قوم نه پورته وی، دارنګه سیّد حلیم (بردبار) ته هم وائی، دارنګه ښائسته اخلاقو والا ته، او سردار ته وائی۔

[أَغْیَرُ مِنِّی]۔ په بل روایت کښے دی: پدے وجه چه الله تعالیٰ ډیر غیرت والا دے نو هغهٔ فواحش (بے حیائیانے) حرام کړیدی۔ ځکه چه دا د غیرت خلاف دی۔

فائده: حافظ ابن عبد البرّ وائی: ددے مقصد دا وو چه غیرت د غیرتمن دپاره حرام څیزونه نهٔ مباح کوی، بلکه دهٔ باندے د غیرت سره سره لازم دی چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول حکم ته غاړه کیږدی، او د هغهٔ د حدودو نه تجاوز ونکړی ځکه چه الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول د هر چا نه ډیر غیرتمن دی، هغوی چه کوم حکم راوړی هغه به بعینهٖ د غیرت مطابق وی۔ (التمهید: ۲۱/۲۵۶)

د الله تعالیٰ نه هیڅوك زیات غیرتمند نشته

3309(6) – وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ ﷺ قَالَ: قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ: لَوْ رَأَيْتُ رَجُلًا مَعَ امْرَأَتِيْ لَضَرَبْتُهُ بِالسَّيْفِ غَيْرَ مُصْفِحٍ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " **أَتَعْجَبُوْنَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ؟ وَاللّٰهِ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللّٰهُ أَغْيَرُ مِنِّيْ وَمِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْعُذْرُ مِنَ اللّٰهِ، وَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ بَعَثَ الْمُنْذِرِيْنَ**

وَالْـمُبَشِّـرِيْـنَ وَلَا أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللهِ وَمِنْ أَجْلِ ذٰلِكَ وَعَدَ اللهُ الْجَنَّةَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او مغیره ﷺ وفرمایل : سعد بن عباده ﷺ وفرمایل : که زهٔ یو سړے د خپلې ښځې سره ووینم نو خامخا به ئے په توري سره وهم په داسے حال کښے چه د توري په پلن طرف به ئے نهٔ وهم (بلکه په تیرهٔ طرف به ئے وهم) نو رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسیده، نو هغهٔ وفرمایل : آیا تاسو د سعد د غیرت نه تعجب کوئ ؟ قسم په الله زهٔ ددهٔ نه زیات غیرتی یم او الله تعالیٰ زما نه زیات غیرت والا دے، او د الله تعالیٰ د غیرت د وجه نه الله تعالیٰ ښکاره او پټے بے حیائیانے حرامے کړیدی، او هیڅوك داسے نشته چه هغهٔ ته د الله تعالیٰ په نسبت عذر زائل کول ډیر محبوب وی، او ددے وجه نه الله تعالیٰ پیغمبران یره ورکونکی او زیرے ورکونکی رالیږلی دی۔ (چه د خلکو عذرونه زائل کړی) او هیڅوك داسے نشته چه هغه تهٔ د الله تعالیٰ په نسبت صفت کول زیات محبوب وی او ددے وجه نه الله تعالیٰ د جنت وعده کړیده۔ (چه څوك د هغهٔ صفتونه کوی جنت ته ئے داخلوی) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح :[غَيْرُ مُصْفِحٍ] - [اَیْ غَيْرَ ضَارِبٍ بِصَفْحَةِ السَّيْفِ بَلْ بِحَدِّهٖ ضَرْبَ قَتْلٍ] - یعنی په تیښ طرف د توره به ئے نهٔ وهم بلکه په تیرهٔ طرف به ئے وهم د وژلو په وهلو سره۔ یعنی د ادب وهل به نهٔ ورکوم بلکه وژنم ئے۔ مُصفح : د میم په پیش او د فاء زیر دے، صفت د وهونکے دے، یا د فاء زور دے، صفت د توره دے۔ یعنی چه نهٔ وی په اړخ کړے شوی۔

[أَتَعْجَبُوْنَ مِنْ غَيْرَةِ سَعْدٍ]۔دا استفهام انکاری دے د تعجیب نه۔ یعنی د سعد په غیرت چه تاسو تعجب کوئ نو دا مهٔ کوئ بلکه د الله تعالیٰ د حکم لحاظ وکړئ چه هغهٔ د مسلمان قتل بغیر د ګواهانو نه حرام کړے۔ لکه د عاصم ﷺ قول (فتقتلونه) پرے دلیل دے۔ [اَحَبَّ اِلَيْهِ الْعُذْرُ] ۔ یعنی الله تعالیٰ عذر زائل کول د هر چا نه زیات خوښوی، د چا عذر او بهانه په ځان نهٔ پریدی پدے وجه الله تعالیٰ بندګانو ته پیغمبران راولیږل دے دپاره چه بندګان په قیامت کښے عذر ونکړی چه مونږ خبر نهٔ وو۔

لکه دا خبره الله تعالیٰ په قرآن کریم کښے ذکر کړے : [رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ

لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ] (نساء: ١٦٥). دے دپاره چه د خلکو په الله تعالیٰ باندے د رسولانو د رالیږلو نه روستو حجت او بهانه رانشی۔
امام نوویؒ فرمائی: چه [الْعُذْر] نه مراد اِعْذار دے یعنی عذر زائله کول۔
[اَلْمِدْحَةُ مِنَ اللّٰهِ]۔ یعنی الله تعالیٰ چه په صفت او مدح باندے خومره خوشحالیږی نو بـل څوك داسے نۀ خوشحالیږی پدے وجه الله تعالیٰ د خپل ځان تعریف او مدح کړے او د خپلو محبوب بندګانو مدح ئے هم کړے او هغه خلکو سره ئے د جنت وعده کړے چه د هغۀ حمدونه وائی او د هغۀ صفتونه کوی او د هغۀ په احکامو عمل کوی۔ المدحة فاعل د احبّ دے۔

د الله تعالیٰ د غیرت څه تقاضا ده؟

3310 (7) – وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَغَارُ وَإِنَّ الْمُؤْمِنَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللهِ أَنْ لَا يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ اللهُ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: یقیناً الله تعالیٰ غیرت کوی او مؤمن (هم) غیرت کوی او د الله تعالیٰ غیرت دا دے (او د هغۀ د غیرت تقاضا دا ده) چه مؤمن هغه کار ته راتلل ونکړی چه الله تعالیٰ حرام کړے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: [یَغَارُ] د مؤمن غیرت خو معلوم شو چه په خپل اهل کښے بد کار وینی نو په هغے باندے خفګان وکړی او هغه منع کوی او د الله تعالیٰ غیرت حقیقی صفت دے، او الله تعالیٰ له غیرت په هغه وخت کښے ورځی چه مؤمن د الله تعالیٰ محرماتو ته ورشی، نو د الله تعالیٰ د غیرت تقاضا دا ده چه مؤمن به د محرماتو نه ځان ساتی۔ او هغه کار به نۀ کوی چه الله تعالیٰ حرام کړے وی۔

د معمولی علامو په وجه خپل بچی نه انکار مۀ کوه

3311 (8) – وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ وَإِنِّي نَكِرْتُهُ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ؟" قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: "فَمَا أَلْوَانُهَا؟" قَالَ: حُمْرٌ قَالَ: "هَلْ فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ؟" قَالَ: إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا قَالَ: "فَأَنّٰى تَرٰى ذٰلِكَ جَاءَهَا؟" قَالَ: عِرْقٌ نَزَعَهَا. قَالَ: "فَلَعَلَّ هٰذَا عِرْقٌ نَزَعَهُ"

وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ فِي الْانْتِفَاءِ مِنْهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه یو بانډه چے رسول الله ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو : (اے د الله رسوله) زما ښځے یو تور هلك زیګولے او ما هغه ناشنا ګڼړلے (یا زۀ د هغۀ انکار کوم) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : آیا تا سره اُوښان شته ؟ هغۀ وویل : آؤ، وے فرمایل : د هغے رنګونه څنګه دی ؟ هغۀ وویل : سرۀ۔ نبی ﷺ وفرمایل : آیا په هغے کښے خړ رنګی شته ؟ هغۀ وویل : آؤ خامخا په هغے کښے خړ رنګی شته، وے فرمایل : نو بیا دا رنګ هغوئ ته د کومه راغے؟ هغۀ وویل : یو رګ به راښکلے وی۔ نبی ﷺ وفرمایل : نو ممکنه ده چه دا (ستا د ځوی رنګ) به هم یو رګ راښکلے وی۔ (راوی وائی) هغۀ ته رسول الله ﷺ د بچی نه په انکار کولو کښے رخصت ورنکړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ] یعنی زما ښځے داسے هلك زیګولے چه ما سره مشابه نۀ دے ځکه زۀ او زما ښځه دواړه سپین رنګی یو او دا هلك تور رنګے دے۔ اُوس زما په زړۀ کښے شك دے چه دا به مانه وی اوکه نه ؟ [نَكِرْتُهُ] : یعنی ما ناشنا وګڼړلو۔ دا د نَكِرَ يَنْكَرُ نُكْرًا وَنَكَارَةً نه دے۔ [هَلْ لَّكَ مِنْ إِبِلٍ] ددے او د روستنو سوالونو نه غرض دادے چه ددۀ په مطلب نبی کریم ﷺ پوهه شۀ چه دا د خپل بچی د نفی کولو تعریض او اشاره کوی صرف په دے وجه چه د هغۀ او د هغۀ د مور او پلار رنګ جدا جدا دے۔ نو نبی کریم ﷺ اراده وکړه چه ددۀ له قناعت ورکړی او وسوسه ئے ختمه کړی، نو هغۀ دپاره ئے داسے مثال بیان کړو چه په هغے باندے هغه په ښه طریقه سره پوهه شو، ځکه چه هغه چوپان او د اوښانو ساتونکے سړے وو۔ [حُمْرٌ] د حاء په پیښ او د میم په سکون سره، جمع د اَحْمَر ده، سور ته وائی چه بل رنګ ورسره ګډ نۀ وی۔ او [حُمُرٌ] د میم په پیښ سره جمع د حِمار ده، خرۀ ته وائی۔ دے وجه نه خلك دا لفظ ډیر کرته غلط وائی۔ یو د بل په ځائے وائی۔ [مِنْ أَوْرَقٍ] د همزے په زور سره، هغه اُوښ چه تور والے ئے خالص نۀ وی بلکه خړوالی ته مائل وی۔ یعنی خړبخن اُوښ۔ ورقاء کونترے ته وائی۔ [فَأَنَّى ذٰلِكَ جَاءَ هَا] یعنی دا مخالف رنګ دے اُوښ ته د کومه راغے؟ آیا دا د هغه نر اُوښ د وجے راغلے چه هغه ددۀ د رنګ خلاف رنګ لری اوکه د بل سبب په وجه ؟ [عِرْقٌ نَزَعَهُ] دۀ لره یو رګ راښکلے وی۔ د عِرق نه مراد د نسب اصل او بنیاد دے چه دا د وُنے د رګ او

زیلے سره مشابه دے۔ یعنی ددۀ په پلرونو، میندو، نیکونو، او نیاګانو کښې به چرته یو تن دا قِسم رنګ لرلو نو دے هلك د هغۀ دا رګ راښکلے۔ یا دۀ لره یو رګ راښکلے دے۔

[فَلَعَلَّ هٰذَا عِرْقٌ نَزَعَهٗ] یعنی کیدے شي چه ددے هلك په پلرونو، نیکونو، نیاګانو کښې یو تن تور وو او دا هلك هغۀ ته شوے وی۔ او هغه رګ دۀ لره راښکلے وی۔

فوائد : (۱) حدیث نه ثابته شوه چه په اشارے سره په ښځه تور لګول قذف (تور) نۀ حسابیږی (نو په دے کښې حدِ قذف هم نشته) دارنګه دا غیبت هم نۀ حسابیږی هر کله چه ددے خاوند د مسئلے معلومولو دپاره پوښتنه کړے وی او تنقید او عیب لګول ئے مقصد نۀ وی۔ او دا د جمهورو علماؤ قول دے۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه د نسبونو په باره کښې د احتیاط نه کار اخستل پکار دی۔ یواځے په ګمان او احتمال سره بچے د خپل پلار نه نۀ نفی کیږی۔ دے وجے نه د بچی نسب به د خپل پلار نه ثابت وی اګرکه د هغۀ رنګ د مور پلار د رنګ نه بدل او جدا هم وی۔ دا وجه ده، نبی کریم ﷺ دا فیصله فرمایلے چه : [اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ] (ماشوم چه د چا په بستره پیدا شو، هغۀ نه به حسابیږی) او د رنګ مختلف کیدل ئے د نسب په ثابتولو کښې خنډ او رکاوټ نۀ دے ګرځولے۔ ځکه نبی کریم ﷺ دغه شکی سړی ته د اوښانو مثال ورکړو، چه توره اوښه به تور اوښ جُفتی کړے (مال کړے) وی خو بچے به تړے خړېخن پیدا شی، نو دا شان سپین رنګی سړی به د سپین رنګے ښځے سره وادۀ کړے وی، او بچے به تړے خړ رنګے یا تور رنګے پیدا شی، ځکه دا ماشوم به په نیکونو یا نیاګانو کښې یو تور یا خړېخن رګ راښکلے وی۔

(۳) او حدیث دلیل دے چه د پلار دپاره جائز نۀ دی چه صرف د رنګ د مختلف کیدو په وجه خپل بچے د ځانه نفی کړی کله چه دے سره قرینه د زنا نۀ وی ملګرے۔ اوکه په ښځه د زنا تهمت وو چه دے د یو سړی سره زنا کړے، او بیا ماشوم پیدا شو چه هغه سړی سره په رنګ کښې مشابه وو، نو په دے صورت کښې نفی کول جائز دی۔ ځکه په دے صورت کښې مشابهت او قرینه دواړه راجمع شو۔

(٤) او حدیث نه د نبی کریم ﷺ ښائسته تعلیم معلوم شو، هغه دا چه هغوئ به هر سړی ته د هغۀ د فهم مطابق خبره کوله، لکه دلته ئے دغه بانډه چی سړی ته یو داسے مثال بیان کۀ چه هغے سره هغه اشنا او بلد وو او هغه ئے په دے ناشنا مثال کښې پو هه

کړو۔ او د هغهٔ قناعت ئې وکړو او خاطر جمعه روان شو۔

(۵) دې حدیث نه علماء د قیاس دپاره دلیل نیسي چه په شریعت کښې نظیر د نظیر سره مشابه کول درست دي، لکه دلته نبي کریم ﷺ د انسانانو نسل د اوښانو په نسل قیاس کړو۔ او (علت) هغه پخوانې رګ راښکل دي چه هغه د څرمنې په رنګ کښې اثر کونکې دې، او (حکم) ثبوت د نسب دې سره د اختلاف د رنګ نه۔ [القیاس فی القرآن والسنة، ص: ۳۸۰] دارنګه اصولیان دا شرط ګنړي چه د قیاس دپاره به علت یو داسې وصف وي چه هغه د حکم سره مناسب دې، او هر هغه وصف به لغوه وي چه هغه په حکم کښې تاثیر نهٔ لري، څکه رسول الله ﷺ د ماشوم او د پلار د رنګ ترمینځه اختلاف لغوه ګرځولې، ولې چه دا په حکم کښې تاثیر نهٔ لري۔ [بدائع الفوائد : ٤/١٥٣٩] ۔ والله تعالیٰ اعلم۔ لیکن دا قیاس نهٔ دې کوم چه قرآن او سنتکښې ذکردې څکه چه قیاس اصطلاحي کښې مقیس غیر منصوصي وي او دلته مقیس او مقیس علیه دواړه منصوصي دي بلکه دیته (مَنْ شَبَّهَ أَصْلًا مَعْلُومًا بِأَصْلٍ مُبَيَّنٍ قَدْ بَيَّنَ اللّٰهُ حُكْمَهُمَا) وائي۔ (یعنی معلوم اصل د بل ښکاره بیان شوی اصل سره مشابه کول چه د دواړو حکم الله تعالیٰ بیان کړې وي دې دپاره چه سائل پو هه کړي)۔ لکه دا خبره امام بخاریؒ په کتاب الاعتصام د بخاری کښې په ترجمة الباب رقم (۱۳) کښې ذکر کړې۔ او دې خبره باندې ډیر خلك ناپو هه دي۔

د زنا په نتیجه کښې د پیدا کیدونکې بچي نسب د زاني نه نهٔ ثابتیږي

3312 (9) - وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ عُتْبَةُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَى أَخِيهِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ: أَنَّ ابْنَ وَلِيدَةِ زَمْعَةَ مِنِّي فَاقْبِضْهُ إِلَيْكَ فَلَمَّا كَانَ عَامُ الْفَتْحِ أَخَذَهُ سَعْدٌ فَقَالَ : إِنَّهُ ابْنُ أَخِي وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ : أَخِي فَتَسَاوَقَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سَعْدٌ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أَخِي كَانَ عَهِدَ إِلَيَّ فِيهِ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ : أَخِي وَابْنُ وَلِيدَةِ أَبِي وُلِدَ عَلَى فِرَاشِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "**هُوَ لَكَ يَا عَبْدَ بْنَ زَمْعَةَ اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ**" ثُمَّ قَالَ لِسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ : "**اِحْتَجِبِي مِنْهُ**" لِمَا رَأَى مِنْ شَبَهِهِ بِعُتْبَةَ فَمَا رَآهَا حَتَّى لَقِيَ اللّٰهَ وَفِي رِوَايَةٍ : قَالَ : "**هُوَ أَخُوكَ يَا عَبْدَ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ وُلِدَ عَلَى**

فِرَاشِ أَبِيهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : عتبه بن ابی وقاص خپل ورور سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته وصیت کړے وو چه د زمعه د وینځے ځوی زما نه (پیدا) دے، نو هغهٔ ځان سره قبض کړه، نو هرکله چه د مکے د فتح کال شو نو سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه هغه ماشوم راونیولو او وے وئیل : دا زما ورارهٔ دے، او عبد بن زمعه وویل : دا زما ورور دے، نو دواړو معامله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ور وړه، سعد وویل : اے د الله رسوله ! زما ورور ما ته ددهٔ په باره کښے وصیت کړے وو. او عبد بن زمعه وویل : (دا) زما ورور او زما د پلار د وینځے ځوی دے، د هغهٔ په بستره باندے پیدا شوے، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : دا ستا شو اے عبد بن زمعه ! (ځکه چه دا قانون دے) چه بچے د بسترے والا طرف ته منسوب کیږی او زنا کار دپاره (نسب او میراث نه) محرومتیا وی. بیا ئے (ام المؤمنین) سوده بنت زمعه رضی الله عنها ته وفرمایل : تهٔ ددے هلك نه پرده کوه، پدے وجه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ددے هلك مشابهت د عتبه سره لیدلو، نو دے هلك سوده رضی الله عنها (هیڅکله) ونهٔ لیده تردے چه د الله تعالیٰ سره ملاؤ شو (یعنی تر وفات پورے) او په یو بل روایت کښے دی : وے فرمایل : اے عبد بن زمعه ! دا ستا ورور دے، پدے وجه چه دے د هغهٔ د پلار په بستره باندے پیدا شوے وو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تعارف د [عتبة بن ابی وقاص] دا د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ورور دے، دا هغه شخص دے چه د اُحد په غزا کښے ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم غابنونه مبارك شهیدان کړل، حافظ ابن حجر وائی چه دا د کفر په حالت کښے مړ شوے، او حافظ ابن مردویهؒ وئیلی چه دا مسلمان مړ دے، لیکن د سیرت نه معلومیږی چه کافر مړ دے ځکه چه هغه درے کسانو کښے چه نبی علیه السلام ته ئے ضرر رسولے یو تن مسلمان شوے او دوه د کفر په حالت کښے مړهٔ دی. یو عبد الله بن شهاب الزهری او بل عبد الله بن قمئه. اول مسلمان شوے.

تشریح : [فَتَسَاوَقَا] دا د سَوق نه دے، چلول او یو بل راښکل. [اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ] د صحیح بخاری په روایت کښے د [اَلْوَلَدُ لِصَاحِبِ الْفِرَاشِ] الفاظ دی چه دا واضح دی. او عرب فراش د ښځے نه کنایه ګرځوی. او مطلب دا چه : ماشوم به د هغه چا رسیږی چه د هغهٔ د ښځے نه پیدا شوے او د هغهٔ په بستره پیدا شوے وی.

[وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ] ددے دوه معنے شوے دی : (أ) صحیح معنیٰ ذاده : د زناکار دپاره

محرومتیا او نا امیدی ده. نۀ ولد. لکه پښتو کښې مونږ وایو: فلانی دپاره خاورې دی. یعنی هیڅ شے ورلـه نشته. یعنی دے دبچی د اخستو نه محروم او منع شوے دے، (خطابیؒ) او دا ځکه منع کولے شی چه که بچے هم ورکړے شی نو دوه فائدے به حاصلے کړي زنا او ولد. او دا عقلًا او نقلًا باطله خبره ده. نو دۀ لره سزا ورکول پکار دی نۀ فوائد، دے دپاره چه زنا عامه نشی. (ب) د زنا کار دپاره کانړے دے یعنی رجم کول او سنگسارول دی. علامه نوویؒ او خطابیؒ وائی دا معنیٰ ضعیفه ده ځکه رجم د بعضِ زناکارو دپاره دے چه هغه وادۀ کړے وی، نۀ د ټولو زناکارو دپاره. نو د هر زنا کار دپاره څنګه رجم شی؟ . لیکن بعض علماؤ ددے نه دا جواب ورکړے چه د زنا کار دپاره رجم دے لیکن کله چه مانع نۀ وی او یو د موانعو نه هغه دا دے چه یے وادۀ وی لهذا دا معنیٰ هم صحیح شوه. (الکوکب الدری علی جامع الترمذی۲/۲۶۴)

فوائد الحدیث : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه د چا د منکوحے (نکاح بنُکلې) ښځے نه ولد پیدا شو او د هغۀ په بستره پیدا شو، نو ددے ولد فیصله به د دغه فراش والا په حق کښے کیږی، او دا به ددۀ بچے حسابیږی او زناکار به په دے ولد کښے هیڅ حق نۀ لری. دے دپاره چه د نسب په اثبات کښے احتیاط وکړے شی، د عزت او نسل حفاظت وکړے شی. نو کله چه د یو سړی ماشوم پیدا شی او د هغۀ نه ئے نسب ثابتیدل ممکن وی نو دا د هغۀ بچے شمارل کیږی.

البته که په لعان سره ئے د خپل ځان نه نفی کړی نو بیا به نفی کیږی. دا وجه ده، نبی کریم ﷺ د زمعه په حق کښے د ولد فیصله وکړه ځکه چه دا صاحبِ فراش وو.

علامه ابن دقیق العیدؒ فرمائی: دا حدیث د صاحبِ فراش نه د بچی د نسب په ثابتولو کښے اصل دے، اگرکه ددے دپاسه حرامه وطی هم راشی. [إحکام الأحکام: ۴/۲۶۹]

مثلًا: د یو سړی ښځه ده، هغے سره چا زنا وکړه او هغے نه ماشوم پیدا شو، او بیا په دے ماشوم کښے د ښځے د خاوند او د زناکار جګړه شوه، هر یو دعویٰ کوی چه دا ما نه پیدا دے. نو ماشوم به د چا بچے حسابیږی؟ ددے حدیث نه معلومه شوه چه دا بچے به ددے ښځے د خاوند حسابیږی او د هغۀ نه به ددۀ نسب ثابت وی، او د زناکار دپاره به د محرومتیا او نا امیدئ نه سِویٰ بل هیڅ شے نۀ وی، اگرکه زنا کار دا دعویٰ لری چه دا بچے ماسره مشابه دے. مګر دے مشابهت له هم اعتبار نشته. لکه څنګه چه د سعد بن

ابی وقاص او د عبد بن زمعه په جګړه کښې نبی کریم ﷺ فیصله د صاحبِ فراش (زمعه) په حق کښې وکړه او دا ماشوم ئې د عبد بن زمعه ورور وګرځولو۔

د نسب د ثبوت څلور طریقې

او په فِراش سره نسب ثابتیدل اجماعی مسئله ده، او دا د ثبوت د نسب د **څلورو طریقو** نه یوه طریقه ده چه هغه: (أ) فِراش (ب) استلحاق (پیوسته کول)۔ (ج) بیّنه (ګواهان)۔ (د) او قیافه دانی ده، چه په دې کښې په اولنو دریو اجماع ده۔ [زاد المعاد: ۵/ ٤١٠] (۲) او (فِراش) ښځه یا وینځه ده۔او ښځه یواځې په عقدِ نکاح سره فِراش نهٔ ګرځي اګرکه د عقدِ نکاح نه مقصد وطی وی، بلکه هغه په عقد او یقینی دخول سره فِراش ګرځی، چه یا خو خاوند اقرار وکړی چه دې ښځې سره ما جماع کړې، او یا په دې ګواهان موجود وی۔ او دا د احمدؒ یو قول دې چه شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ، ابن قیمؒ او صنعانیؒ ورته ترجیح ورکړې۔ (۲) **قول** دادې: چه ښځه صرف په عقد سره فِراش ګرځي اګرکه د خاوند په باره کښې دا یقینی معلومه وی چه هغهٔ ورسره جماع نهٔ ده کړې او نهٔ ورسره یوځائې شوې دې۔ او دا د ابو حنیفةؒ قول دې۔ خو دا قول درست نهٔ دې، ځکه یواځې عقد، چه جماع په کښې نهٔ وی شوی، په نسب ثابتولو کښې هیڅ تاثیر نلری، که تاثیرئې لرلې نو بیا خو به وړوکی ماشوم ته هم په عقد سره د بچی نسبت کول جائز وې۔ [آثار عقد الزواج، ص: ٣٦٦] (۳) **قول** دادې: چه ښځه یواځې په عقد سره فِراش ګرځی خو په دې شرط چه د جماع امکان وی۔ او دا د شافعیؒ او احمدؒ قول دې۔

په دې کښې **صحیح** قول اولنې دې، ځکه چه دا د لغت او د عقل تقاضا هم ده۔ د **لغت** تقاضا خو ځکه ده چه ښځې ته (فراش) په دې وجه وائی چه فراش غوړولو او خورولو ته وائی، او کله چه څوك د نکاح ترلو نه پس خپله ښځه په زمکه ونهٔ غوړوی او حقیقةً ورسره وطی ونهٔ کړی نو دا کله فِراش ګرځی ؟

او د **عقل** تقاضا ځکه ده چه هغه ښځه څنګه د یو سړی دپاره فِراش ګرځیدې شی چه هغه ئې کور ته نهٔ ده راوستې او نزدیکت ئې ورسره نهٔ دې کړې او نهٔ ورسره په ژوند کښې چرته یوځل ملاؤ شوې؟ او دا کله کیدې شی چه یو سړی د خپلې ښځې سره هډو نزدیکت کړې نهٔ دې او د هغې نه دِې بچې پیدا شی او هغه دِې شرعًا ددې سړی بچې حسابیږی ؟ دا هیڅ کله نشی کیدې۔

اُعجوبه : د احنافو په نيز كه چا ديوے ښځے سره نكاح وكړه او سړے په مشرق كښے وو، او ښځه په مغرب كښے۔ او هيڅ كله دواړه يوځائے شوے نهٔ وي، او د ښځے بچے وشي نو دا به ددے سړي بچے وي۔ دا خبره د علم، عقل او شريعت درے واړو خلاف ده۔ وګوره د عقل او قياس دعويدار څنګه د عقل او قياس خلاف كوي !!، دوئ دليل كرامت وائي چه كيدے شي چه كرامةً راغلے وي او جماع ئے كړي وي؟!۔

❁ او فِراش پورے به ولد هله پيوسته كيږي چه ددے خبرے امكان وي چه دا ولد به د دغه سړي نه وي، هغه دا چه د وادهٔ راسے د شپږو مياشتو نه د زياتے مودے وي، ځكه په دے اجماع ده چه د حمل كمه موده شپږ مياشتے ده۔ او په زياته موده كښے اختلاف دے، د عمر فاروق ﷛، سعيد بن المسيبؒ، حسن بصريؒ په نيز يو كال دے، او ددے خبرے تائيد د شرعي طب ماهرين هم كوي چه حمل د مور په خيټه كښے د كال نه زيات نهٔ پاتے كيږي۔ [الفرقة بين الزوجين، ص: ۲۳۰] نو كه د شپږو مياشتو نه په كمه موده كښے ماشوم پيدا شي نو خاوند پورے ددے پيوسته كول ممكن نهٔ دي۔

(۳) او حديث نه معلومه شوه چه په زنا سره نسب نهٔ ثابتيږي بلكه ((زناكار دپاره حَجَر دے))۔ دے وجے نه كله چه زاني دا دعوه وكړه چه دا ماشوم ددهٔ دے نو دا به دهٔ پورے نهٔ پيوسته كيږي او ددهٔ بچے به نهٔ ګڼړل كيږي۔

(٤) او حديث نه معلومه شوه چه د فِراش حكم د مشابهت نه مخكښے دے۔ او په مشابهت سره به هله نسب ثابتيږي چه كله ددے نه سِوئ بل قوي او مضبوط شے (فراش) نهٔ وي۔ ددے دليل دادے چه نبي كريم ﷺ د نسبت په ثبوت كښے دے خبرے له اعتبار ورنهٔ كړو چه دغه هلك د عُتبه سره مشابه دے، ځكه دلته د مشابهت نه قوي شے موجود دے چه هغه فراش دے۔

(۵) د [اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ] نه معلومه شوه چه كله فِراش موجود وي او ولد پيدا شي او خاوند دا نفي نهٔ كړي بلكه ددے دعوئ كوي چه دا زما ولد دے نو دا به دهٔ پورے پيوسته كيږي۔ اوكه زاني ئے دعوئ لري نو دعوئ به ئے باطله وي۔ ليكن كه يوه ښځه د چا فراش نهٔ وي او چا ورسره زنا وكړه او د هغے نه بچے پيدا شو او زاني دعوئ لري چه دا زما بچے دے۔ نو په دے صورت كښے به څهٔ حكم وي ؟ كه چرے دا بچے مونږ زاني ته منسوب نهٔ كړو نو دا به بے پلاره بے نسبه پاتے شي او ضائع به شي، نو ددے نه ښه داده

چه دغه زانی ته منسوب کړے شي. ځکه ددے حدیث نه معلومیږي چه فِراش ته به هله بچے منسوبولے شي چه فِراش موجود وي. [شرح ابن عثیمینؒ: ۵/۱۲۷]

(۶) [اِحْتَجِبِیْ مِنْهُ] نبی کریم ﷺ چه خپلے بی بی سودة بنت زمعه رضی الله عنها ته د دغه هلك نه د پردے کولو حکم وکړو (سره ددے چه دا د هغے ورور کیدۀ) دا ولے؟ نو خبره دا ده چه یو تقویٰ ده او بله فتویٰ، نو دا د احتیاط او وَرع او تقویٰ تقاضا دا ده چه کیدے شي چه دا په حقیقت کښے د زمعه ځوی نۀ وي، ځکه چه هر کله چه نبی کریم ﷺ ولیدل چه دا هلك عتبه بن ابی وقاص سره ښۀ کلك مشابه دے، نو نبی ﷺ سره خطره شوه چه هسے نۀ دا هلك د هغۀ د اوبو نه پیدا شوے وي، نو دا به د سودے نه اجنبی او پردے وي، نو ځکه ئے هغے ته د احتیاط په بنا د پردے کولو حکم وکړو. چه ددے نه دا مسئله معلومیږي چه کله یوه ښځه د خپلو محارمو نه د یو محرم په باره کښے شك لري نو د احتیاط او تقویٰ په بنا به د هغۀ نه پرده کوي او په یو مشتبه شئ کښے به د تساهل او چشم پوشئ نه کار نۀ اخلي. او ظاهري فتویٰ دا ده چه دا هلك په ظاهر د شریعت کښے د هغے ورور دے ځکه د هغے په پلار (زمعه) پورے پیوسته کړے شو. نو په ثبوت د نسب کښے ئے ورور وو لیکن د حجاب په باره کښے احتیاط باندے عمل وکړے شو.

د نسب په اثبات کښے د قیافه شناس قول معتبر دے

3313 (10) – وَعَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ مَسْرُوْرٌ فَقَالَ: " أَيْ عَائِشَةُ! أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ فَلَمَّا رَأَىٰ أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيْفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُؤُوْسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا فَقَالَ: إِنَّ هٰذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: اوعائشه رضی الله عنها فرمائی: یوه ورځ رسول الله ﷺ (کور ته) راننوتو او هغه خوشحاله وو، نو وے فرمایل: اے عائشے! آیا تۀ نۀ ګورے چه مجزز مدلجی (مسجد نبوی) ته راننوتو او هرکله چه هغۀ اسامه او زید ولیدل، چه په هغوئ دواړو باندے یوه شړئ (څادر) وو چه دواړو (په هغے کښے) سرونه پټ کړي وو او قدمونه ئے ښکاره کیدل، نو وے وئیل: دا قدمونه بعض د بعضو نه دی. (یعني یو د بل مشابه دی، یعني دا دواړه خپلو کښے پلار او ځوی دی) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح: [وَهُوَ مَسْرُوْرٌ] په بل روایت د صحیحینو کښې دی: [تَبْرُقُ اَسَارِيْرُ وَجْهِهٖ]- د هغهٔ د مخ کرخې پرقیدلې، زلیدلې- نبی علیه السلام ولې په خوشحالئ کورته راننوتو او عائشې ﷺ ته ئې دا اجمالی خبر ورکړو؟

نو ددې وجه دا وه چه مشرکانو او منافقانو دا خبره مشهوره کړې وه چه اسامه بن زید ﷺ د زید ځوی نهٔ دې، پدې وجه چه اسامه تور رنګې او اسامه سپین رنګې شخص وو، او پدې خبره به رسول الله ﷺ ډیر خفه کیدو (مشرکانو به رسول الله ﷺ خفه کولو) ځکه چه دا دواړه رسول الله ﷺ ته انتهائی محبوب وو،

نو یوه ورځ اسامه او زید دواړه (پلار او ځوی) په یوه شرئ کښې پراتهٔ وو او سرونه ئې پټ کړی وو نو پدې کښې یو قیافه دان شخص (چه عربو کښې مشهور وو او د هغهٔ خبره به ډیره منلې کیده) هغه په دوئ باندې راتیرشو، ددې دواړو قدمونه ئې ولیدل نو وې وئیل: چه دا قدمونه بعض د بعضو نه پیدا دی، یو بل سره ئې د پلار او د ځوی مشابهت دې، نو خلکو دا خبره واوریده چه دا ماهر قیافه دان هم اقرار کوی چه دا دواړه پلار او ځوی دی، نو پدې سره د اسامه او زید نه تهمت ختم شو نو پدې کار سره رسول الله ﷺ انتهائی درجه خوشحاله شو او په جلتئ سره عائشې ﷺ خوا ته ورغلو او د خپلې خوشحالئ اظهار ئې وکړو-

او عبد الرزاقؒ د محمد بن سیرینؒ نه نقل کړی چه د اسامه مور ام ایمن د رسول الله ﷺ حاضنه وه او هغه تور رنګې وه (د حبشو نه وه) پدې وجه اسامه ﷺ تور رنګې پیدا شوې وو- او دا خبره مسلم په کتاب الجهاد کښې د زهریؒ نه نقل کړې چه ام ایمن حبشیه وه،

مګر بعض علماؤ وئیلی دی چه که دا د حبشو نه وې نو بیا خو تور د تورې نه پیدا کیدل بعید او ناشنا نهٔ وو نو مشرکانو ځنګه دا بدنامه لګوله- نو وئیلی ئې دی چه زهریؒ کیدې شی دې ته حبشیه پدې وجه وئیلی وی چه دې حبشو ته هجرت کړې وو- (لکه ځنګه چه عمر فاروق ﷺ اسماء بنت عمیس ته (حبشیه) وئیلې وه ځکه چه هلته ئې هجرت کړې وو- علامه قرطبیؒ وائی: همدا خبره ډیره ظاهره ده-

[مُجَزِّزًا]- دا د میم په پیش او د اولې زاء په زیر سره دې، او همدا پکښې غوره دې، اګر که ابن جریجؒ پکښې د اولې زا زور هم نقل کړې، او دهٔ ته مجزز ځکه وئیلو چه (دا د جز نه دې

پریکولو) ته وئیلے شي او دهٔ عادت دا وو چه کله به دهٔ یو قیدي ونیولو نو د تندی ویښتهٔ به ئے ورله پریکړل او بیا به ئے پریخودو (المفهم : ٤/۱۹۹)

دهٔ سلسله د نسب داسے ده : مجزز بن الاعور بن جعدة بن معاذ بن عتوراة بن عمرو بن مدلج الکناني المدلجي دے۔ او دهٔ قوم او بنو اسد قیافه دان وو۔ او عربو به د دویٔ په قیافه باندے اقرار کولو او دے ته تسلیم وو۔ دا مجزز د عقلمه بن مجزز پلار وو۔ او دا ابن یونسؒ په هغه خلکو کښے ذکر کړے چه د مصر فتح ته حاضر شوے۔ او کیدے شي چه دا خبره ئے د اسلام راوړو نه مخکښے کړي وي۔

[قَطِيفَةٌ]۔ شړیٔ۔ [هٰذِهِ الْأَقْدَامُ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ] ۔ یعنی بعض د بعضو سره مشابه دی، یا بعض د بعضو نه پیدا دی۔

فوائد : (۱) په یوه شړیٔ او برستنه کښے د دوه کسانو ځملاستل جائز نهٔ دی کله چه لسو کالو ته رسیدلي وي مگر ددے نه ددے حدیث په بنیاد سره د پلار او ځوی اُودهٔ کیدل مستثنیٰ دی۔ (۲) کله چه په یو تن باندے تهمت نهٔ وي نو اګرکه د هغهٔ نه چا ګواهي غوښتې نهٔ وي بیا هم د هغهٔ ګواهي قبلول جائز دی۔

(۳) کله چه په دوه جګړه مارو کښے د یو تن دپاره حق ثابت شي نو حاکم له پکار دی چه په هغې باندے خوشحالي وکړي، کله چه د خواهش څه تابعداري پکښے نهٔ وي۔

(٤) قیافے له په اسلام کښے اعتبار شته پدے وجه رسول الله ﷺ ددے قائف په خبره خوشحاله شو۔ او دا د جمهورو اهل علمو قول دے، دویٔ وائي چه کله نور دلائل ختم شي او په یو ځائے کښے صرف قیافه او شباهت پاتے شي نو بیا دے له شریعت کښے اعتبار دے، او دا حدیث پرے دلیل دے چه نبي ﷺ ددے قائف خبرے له اعتبار ورکړو۔ او پدے ئے خوشحالي وکړه او نبي ﷺ په باطل باندے خوشحالي نهٔ کوي۔ او ددے په باره کښے نور هم ډیر دلائل دي لکه ۲- دلیل : د عویمر عجلاني ؓ د لعان په باره کښے مخکښے ذکر شو چه رسول الله ﷺ قیافه وکړه او وے فرمایل : [فَإِنْ جَاءَتْ بِهٖ أُحَيْمِرَ]۔

۳- دلیل : مخکښے حدیث د سعد بن ابي وقاص ؓ تیر شو چه رسول الله ﷺ د هغه ماشوم مشابهت د عتبه بن ابي وقاص سره ولیدو نو سودے ته ئے حکم وکړو چه تهٔ ددے هلك نه پرده کوه۔ که قیافه او مشابهت له اعتبار نهٔ وے نو د پردے کولو څه معنیٰ وه

٤- پدے باره کښے د عمر فاروق ؓ او علي بن ابي طالب ؓ او نورو صحابه کرامو نه

ډیر آثار موجود دی چه هغوی قیافه له اعتبار ورکړے۔ او دا خبره تقریباً اجماع د صحابه کرامو ده۔ (زاد المعاد)

(۲) او امام ابوحنیفهؒ د قیافے نه انکار کړے او دا ئے وئیلی دی چه قیافه په شریعت کښے هیڅ دلیل نهٔ دے۔ **دلیل** ئے دا وئیلے چه نبی ﷺ پدے موقعه کښے په کفارو الزام کولو۔ **جواب** دا دے چه په باطل سره په کفارو باندے الزام نهٔ کیږی بلکه قیافه صحیح وه پدے وجه الزام هم صحیح شو۔ **دارنګه** وائی چه نبی ﷺ په حدیث د لعان کښے د عتبه بن ابی وقاص ؓ سره د ماشوم مشابهت له اعتبار ورنکړو او ماشوم ئے د زمعه حساب کړو۔ **جواب** دا دے چه هلته بل قوی دلیل موجود وو چه هغه (الولد للفراش) دے، لهذا کله چه د قیافے معارض بل قوی دلیل موجود وی نو بیا به قیافه باندے عمل نشی کیدے۔ علاوه لا دا چه په همدغه حدیث کښے سوچ وکړه رسول الله ﷺ قیافه له اعتبار ورکړے چه سوده ؓ ته ئے د حجاب کولو حکم وفرمائیلو۔ فتدبر۔ لهذا د امام ابوحنیفهؒ وغیره علماؤ خبره ددے روایت خلاف ده، هغه به پریخودے شی سره د احترام د هغوی نه۔ او همدا صحیح منهج دے، دا فرق دے د حق پرست او باطل پرست ترمینځ۔

(۵) او دا حدیث دلیل دے چه قیافه د وینځے او آزادو دواړو په حق کښے صحیح ده۔ ځکه چه اسامه او د هغهٔ پلار زید ؓ دواړه آزاد وو۔ کوم علماء ئے چه د وینځو پورے خاص کوی د هغوی قول بے دلیله دے۔

د خپل پلار نه انکار کونکی ته سخت وعید

3314 (11) – وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ وَأَبِيْ بَكْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"**مَنِ ادَّعٰى إِلٰى غَيْرِ أَبِيْهِ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ غَيْرُ أَبِيْهِ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سعد بن ابی وقاص ؓ او ابوبکره ؓ دواړه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د خپل پلار نه علاوه بل چا ته نسبت وکړو او دے پو هیدو چه هغهٔ ئے پلار نهٔ دے نو جنت په دهٔ باندے حرام دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : [مَنِ ادَّعٰى اِلٰى غَيْرِ اَبِيْهِ] : عربو کښے دا عادت وو چه هغوی به د خپل پلار نه علاوه بل چا ته نسبت کولو۔ دارنګه په جاهلیت دور کښے به دا خبره عیب نهٔ ګڼړلے کیده چه یو تن به پردے بچے خپل متبنیٰ جوړ کړو او بیا به د دغه بچی نسبت همدهٔ ته

کيده، نۀ خپل حقيقي پلار ته ترديے چه الله تعالىٰ آيت نازل کړو: ﴿ أُدْعُوْهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ﴾ [احزاب: ٥]۔ او ﴿ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَ كُمْ أَبْنَاءَ كُمْ ﴾ [احزاب: ٤]۔

نو هريو تن خپل حقيقي پلار ته منسوب کړے شو۔ او خپل متبنىٰ پلار ته نسبت کول پريخودے شو، ليکن بعض کسان پدے باندے مشهور پاتے شول، دا د هغوی عرفي نوم وګرځيدو اګرکه حقيقي نسبي به نۀ حسابيدو لکه مقداد بن الاسود چه ددۀ پلار عمرو وو ليکن مقداد د اسود متبنىٰ څوی وو، پدے وجه به ورته مقداد بن الاسود وئيلے کيدو۔ نو دلته (اِدَّعٰی) نه مراد دا دے چه دے قصداً د بل چا د نسب دعوه کوی، او خپل پلار پريدی نو دا مجرم دے او پدے وعيد کښے داخل دے۔ [وَهُوَ يَعْلَمُ] پدے سره هغه څوك خارج شو چه هغۀ ته خپل حقيقي پلار معلوم نۀ وی، او په خپل ګمان سره يا د خلکو نه په آوريدو سره بل چا ته ځان منسوب کوی نو هغۀ ګناهګار نۀ دے۔

[فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ] امام نوویؒ وائي: ددے دوه تاويله دی، يو دا چه څوك دا کار حلال ګڼړی نو بيخي جنت ته نشي تللے۔ دويم دا چه ددے ګناه سزا دا ده چه انسان باندے جنت حراموی او په اولنو فائزينو کښے به نۀ شمارل کيږی، د اولنو داخليدونکو نه به بند کړے شي، بيا روستو به ورسره حساب وکړے شي نو کله به ئے الله تعالىٰ د سزا ورکولو نه پس جنت ته داخل کړی يا بغير د سزا نه به ئے معاف کړی او روستو به ئے جنت ته داخل کړی۔ شرح مسلم: ٥٢/٢)

3315 (12) - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَرْغَبُوْا عَنْ آبَائِكُمْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ أَبِيْهِ فَقَدْ كَفَرَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

وَذُكِرَ حَدِيْثُ عَائِشَةَ: "مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللّٰهِ" فِيْ "بَابِ صَلَاةِ الْخُسُوْفِ".

ترجمه: او ابو هريره ؓ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو د خپلو پلارانو نه اعراض مۀ کوئ (مخ مۀ اړوئ) څکه چا چه د خپل پلار نه اعراض وکړو نو هغۀ کفر وکړو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: [لَاتَرْغَبُوْا] يعني د خپلو پلارانو نه اعراض مۀ کوئ۔ [فَقَدْ كَفَرَ] د کفر نه مراد دلته کُفر دون کفر دے، يعني کبيره ګناه او د کافرانو عمل۔ او حقيقي کفر ترے مراد نۀ دے چه هغے سره بنده د اسلام د دائرے نه اُوځی۔ يا مخکښے بيان شو چه دا د

مستحل په باره كښې دے۔ د جاهليت په زمانه كښې دا بد عادت عام وو چه بعض خلكو به د خپل اصل پلار نه د نسب نه انكار كولو او بل قوم ته به ئے خپل نسبت كولو او بل څوك به ئے خپل پلار گڼرلو۔ نو رسول الله ﷺ ددے نه خلك منع كړل۔

د خپل بچي نه انكار كونكے به د الله تعالىٰ د ديدار نه محروميږي

الفصل الثاني

3316 (13) - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الْمُلَاعَنَةِ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَدْخَلَتْ عَلٰى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ، فَلَيْسَتْ مِنَ اللهِ فِي شَيْءٍ، وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللّٰهُ جَنَّتَهُ، وَأَيُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ - وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ - اِحْتَجَبَ اللّٰهُ عَنْهُ، وَفَضَحَهُ عَلٰى رُؤُوْسِ الْخَلَائِقِ فِي الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه هركله چه د لعان آيت نازل شو نو هغۀ د نبي كريم ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے: كومه ښځه چه په يو قوم باندے داسے بچے ورننباسي چه هغه د هغوئ نه نۀ وي، نو الله تعالىٰ سره ددے ښځے هيڅ تعلق نشته او الله تعالىٰ به دا هيڅ كله جنت ته داخله نۀ كړي، او كوم سړي چه د خپل بچي نه انكار وكړو په داسے حال كښې چه هغه ورته گوري، نو الله تعالىٰ به ددۀ نه پرده وكړي او دا به د مخكنو او روستنو امتونو مخامخ وشرموي۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ، دارميؒ)

تشريح: [أَدْخَلَتْ عَلٰى قَوْمٍ مَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ] يعني بل سړي سره ئے زنا وكړه او د هغے نه حامله شوه او د دغه بچي نسبت ئے خپل خاوند ته وكړو، حالانكه دا د هغۀ نه نۀ وي۔ [فَلَيْسَتْ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ] (ددے د الله سره هيڅ تعلق نشته يا الله تعالىٰ ورله هيڅ اعتبار نۀ وركوي) دا د وعيد د احاديثو نه يو حديث دے چه دا به دغسے ذكر كولے شي۔ بعض وائي: ددے معنىٰ داده چه دا ښځه د الله تعالىٰ د رحمت مستحقه نۀ ده۔

[وَلَنْ يُدْخِلَهَا اللّٰهُ جَنَّتَهُ] (الله به ئے جنت ته نۀ داخلوي)۔ مطلب دا دے چه د اولنو داخليدونكو خلكو سره به جنت ته داخله نشي بلكه روستو به داخليږي، او يا به ورله عذاب وركړے شي او آخر به جنت ته لاړه شي، البته كه دا كار حلال گڼړي نو بيا دا كافره او هميشه دوزخۍ ده۔ [وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ] په دے ضمائرو كښې دوه احتماله دي:

(يو) دا چه دا پلار دے بچي ته گوري، يعني دۀ ته ښه معلومه ده چه دا زما څوئے دے او

بيا ئے هم نفي كوي۔ نو نظر كنايه ده د علم نه۔ ددے نه معلومه شوه چه چاته دا معلومات نۀ وي چه دا به زما بچے وي اوكه نه؟ او بيا ئے نفي كړي نو دا عذاب به نۀ لري۔ (دويم) دا چه دا بچے دے پلار ته گوري، نو په دے كښے ددے سړي قساوت او سخت زړئ ته اشاره ده چه دا دومره سنگدله او بے رحمه انسان دے چه هغه ماشوم ورته گوري او ددۀ پرے رحم نۀ راځي بلكه هغه د ځانه جدا كوي۔ اول احتمال زيات ظاهر دے۔

[اِحْتَجَبَ اللّٰهُ عَنْهُ] الله به ددۀ نه پرده وكړي او د خپل ديدار نه به ئے محرومه كړي۔

فوائد : (۱) دا حديث ضعيف دے، اوكه ثابت شي نو دا بيا د باب د وعيد نه دے، او د وعيد د احاديثو په باره كښے د اهل سنت والجماعت دا قاعده ده چه دا به دغسے جاري كولے شي ځكه چه په دے كښے زجر او رټنه زياته ده او په دے سره خلك د حرامو نه زيات منع كيږي، او ددے خاوند د الله تعالىٰ د مشيت لاندے دے۔

(۲) او حديث كښے د هغه ښځے دپاره سخت عذاب ذكر دے چه هغه د خپل خاوند سره خيانت وكړي، بل سړي سره زنا وكړي او د هغۀ نه حمل واخلي او بيا خبره پټه كړي او دا ماشوم د خپل خاوند او د هغۀ د خاندان نه يو فرد وشماري، حالانكه په دے كار كښے بے شماره خرابئ او مفاسد دي، ځكه يو خو به دا ماشوم ددے كور والو په عورتونو باندے خبريږي، د هغوئ سره به په مالونو كښے شريك وي او ددۀ او د هغوئ ترمينځه به د ميراث مسئله جاري كيږي۔ او داسے نور۔ دا خو د ښځے له طرفه خبره شوه۔

(۳) او حديث كښے د هر هغه خاوند دپاره هم سخت عذاب بيان شو چه هغۀ ته معلومه وي چه فلانے ماشوم زما بچے دے او بيا سره د علم نه هغه د خپل ځان نه نفي كوي او د هغۀ نه بيزاره كيږي، د هغۀ نسب ختموي چه بيا به دا ماشوم په غير د اصل او نسب نه گرځي او په معاشره كښے به دے د رسوايئ په حالت كښے ژوند تيروي۔ نو دے قِسم پلار له ددۀ د عمل مطابق سزا وركړے شوه، ځكه هر كله چه دۀ خپل ماشوم رسوا كړو نو الله تعالىٰ به دے په قيامت كښے د خلكو مخامخ رسوا كړي۔ ځكه ثابت النسب ماشوم د خپل ځان نه نفي كول څۀ وړه خبره نۀ ده۔

اصل او نسب خو د الله رب العزت د طرف نه ډير لوي نعمت او دولت دے۔ ددے قدر هغه څوك پيژني چه اصل ئے كمزورے يا نۀ وي۔

درجة الحديث: [ضعيف] أبوداود: ۲۲۶۳، نسائي: ۱۷۹/۶، ابن ماجه: ۲۷٤۳، دارمي:

۲۲۳۸، ابن حبان: ۱۳۳۵، موارد، حاکم: ۲۰۲/۲، ضعیف أبی داود- فیه عبد الله بن یونس مجهول الحال اما الجزء الثانی من الحدیث: [وَأَیُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ ......الخ] فله شاهد فاسناده حسن [الموسوعة الحدیثیة، مسند الامام أحمد: ۴۷۹۵، ۴۱۳/۸، الحلیة: ۲۲۳/۹، ۲۲۴]

بدکارې ښځې ته طلاق ورکول بهتر عمل دے

3317 (14) - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: إِنَّ لِي امْرَأَةً لَا تَرُدُّ يَدَ لَامِسٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " **طَلِّقْهَا** " قَالَ: إِنِّي أُحِبُّهَا قَالَ: " **فَأَمْسِكْهَا إِذًا** ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ النَّسَائِيُّ: رَفَعَهُ أَحَدُ الرُّوَاةِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ وَأَحَدُهُمْ لَمْ يَرْفَعْهُ قَالَ: وَهٰذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ بِثَابِتٍ .

ترجمه: ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه یو سړے د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئے وکړو: زما ښځه د مسه کونکی لاس نۀ منع کوی، نو نبی ﷺ وفرمایل: د ځانه ئے جدا کړه. هغۀ ووېل: زۀ د هغې سره مینه کوم. وے فرمایل: نو بیا ئے د ځان سره وساته. (ابوداوُدؒ، نسائیؒ) او نسائیؒ وئیلی دی: یو د راویانو نه دا ابن عباس ته رسولے دے او یو تن پکښې هغۀ ته نۀ دے رسولے، او وئیلی ئے دی: دا حدیث نۀ دے ثابت.

تشریح: [إِنَّ لِي امْرَأَةً] د نسائیؒ په روایت کښې دی: [إِنَّ عِنْدِي امْرَأَةً هِيَ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ] (زما یوه داسې ښځه ده چه ماته ډېره ګرانه ده خو غم دادے چه هغه) [لَا تَرُدُّ يَدَ لَامِسٍ] (د مسه کونکی لاس نۀ واپس کوی) ددے په معنیٰ او تفسیر کښې درے قوله دی:

اول تفسیر: ددے نه مراد دادے چه څوک دے سره بدکاری کوی او د لاس نه ئے نیسی او زنا له ئے بوځی نو دا انکار نۀ کوی. سَتُ نۀ غواړی. او دا معنیٰ ابو عبیدؒ، خلالؒ، نسائیؒ، ابن الاعرابیؒ، خطابیؒ او نوویؒ کړے. او علامه شوکانیؒ ددے تائید کړے، دوئ وائی: عرب چه دا قِسم عبارت ذکر کوی نو ددے نه د دوئ مراد زنا او بے اعتمادی وی.

خو نور علماء دا معنیٰ ضعیفه ګرځوی ځکه دا څنګه کیدے شی چه نبی کریم ﷺ دے دا سړے په دیوث توب باندے برقرار وساتی او دا دِے ددا سے ښځې خاوند وی چه بدکاری کول د هغې عادت وی.

دارنګه که ددے دا معنیٰ وے چه دا ښځه خپل ځان پردو سړو سره د بدکارئ نه نۀ

ساتي نو بیا خو دا سړے ددے ښځے قاذف شو یعني په دے باندے تور لږونکے شو چه دا د حدِ قذف سبب گرځي۔ او دۀ سره گواهان نشته۔ یا به ورسره لعان کوي۔ لکه چه مخکښے ذکر شو۔

ددے نه دغه علماء دا جواب ورکوي چه روستو ئے تفصیل راځي چه دلته ضرورت د وجه نه ئے د هغے په نکاح کښے ساتلو باندے حکم وکړو۔ او حد قذف هله لازمیږي چه ښځه قاضي ته لاړه شي او دۀ ښځے ددے مطالبه نۀ کوله لهذا حد پرے نۀ راتللو۔

بله دا چه دا د صحابي تپوس دے او د هغے سره لعان کول او هغے باندے بدنامه لگول ئے مقصد نۀ دے بلکه مقصد ئے دا دے چه زما ښځه داسے کار وکړي یا ئے کوي نو ما له څه کول پکار دي؟۔

دویم تفسیر: ددے نه مراد دادے چه دا ښځه په خپل مال کښے اسراف کونکے ده یعني ډیر زیات طعام خرچ کوي او سَخیۍ ده۔ ابن قتیبهؒ فرمائي: مطلب دا چه: دا سخۍ ده او سائل نۀ واپس کوي۔ او دا قول د احمدؒ او اصمعيؒ دے، او ابن الاثیرؒ فرمائي: دا حق ته زیات نزدے دے۔ [النهایة: ٤/۲۷۰] لیکن دا تفسیر هم ضعیف دے، ځکه که دا معنیٰ مراد وے نو بیا خو داسے ویل پکار وو: [لَا تَرُدُّ یَدَ مُلْتَمِسٍ] نو لامس او ملتمس کښے فرق دے۔ لامس مسه کونکي ته وائي۔ او مُلتمس طلبگار او تالاش کونکي او غوښتونکي ته وائي۔ او دلته لامس راغلے، نۀ ملتمس۔

بله دا چه: که دا ښځه خپل مال یا د خاوند مال خرچ کوي نو ددے منع کول ممکن دي، طلاق ورکولو ته ضرورت نشته۔

دریم تفسیر: دا ښځه نرم خویه ده، پردو سړو سره د خبرو کولو او هغوۍ سره د مصافحے کولو نه نفرت نۀ کوي۔ نو دے سړي سره دا غم پیدا شو چه که څوك دے سره په آینده وخت کښے د بدکارۍ اراده وکړي نو کیدے شي چه دا ترے خپل ځان منع نۀ کړي او هغوۍ سره بدکاري وکړي۔ او دا مطلب نۀ دے چه دا بالفعل زناکاره ده۔ ډیرے ښځے داسے شته چه هغوۍ پردو سړو سره په خبرو اترو او مصافحه کولو کښے چشم پوشي او آزادي کوي او دا عیب نۀ گنړي۔ حالانکه دا په ښځه کښے عیب دے، په دے کښے د بے حیایۍ خطره وي۔ او دا معنیٰ علامه ابن کثیرؒ، صنعانيؒ او نورو علماؤ راجحه گرځولے۔او همدا حق ته زیاته نزدے معنیٰ ده۔ [ابن کثیر: ٦/۱۱]

يعنې بې باکه ده او بالفعل زانيه نۀ وه۔

فوائد : (۱) ډير مفسرين او فقهاء ددې حديث نه په دې خبره دليل نيسي چه کومې ښځې نه زنا ښکاره شي نو هغه په خپله نکاح کښې ساتل جائز دي، او په دې کار سره د هغۀ نکاح نۀ فسخ کيږي۔ او په دې خبره هم دليل نيسي چه زناکارې ښځې سره نکاح کول جائز دي۔ او دا د ابو حنيفۀ او شافعيؒ قول دے۔ او امام مالكؒ دا سره د کراهت نه جائز ګڼړلے۔ علامه ابن قدامۀ فرمائي : (کله چه د يو سړي ښځه زنا وکړي يا سړے خپله زنا وکړي نو په دې سره د دوئ نکاح نۀ فسخ کيږي برابره خبره ده که د دخول نه مخکښې وي او که روستو، او دا د عامو علماؤ قول دے۔ [المغني: ۹/۵٦۵]

او دا علماء آيتِ کريمه : ﴿اَلزَّانِيُ لَايَنۡكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوۡ مُشۡرِكَةً﴾ [النور: ۳] د نکاح په ابتداء باندې حمل کوي، او وائي چه زناکارې ښځې سره ابتداءً نکاح کول جائز نۀ دي، خو که د چا ښځه روسته زنا شروع کړي نو بيا هغه په نکاح کښې ساتل جائز دي۔ علامه جصاصؒ وائي: بعضِ خلك وائي : په زنا سره نکاح نۀ باطليږي او په دليل کښې دا حديث پيش کوي ..... بيائې دا حديث پيش کړے۔ [أحكام القرآن: ۵/۲۰۸]

ددې علماؤ په قول باندې دا نۀ لازميږي چه د کوم پاکدامن په نکاح کښې چه زنا کاره ښځه وي نو هغه دِې ديوث وي، ځکه دا خاوند به دا ښځه ساتي او ددې څوکئ به کوي او د بد چلنئ نه به ئې منع کوي۔ نو د (اِمۡسِكۡهَا اِذًا) مطلب به دا شي چه دا د زنا او بې حيائي نه ساته او نګراني ئې کوه چه آينده کښې درنه زنا ونکړي۔

امام نوويؒ فرمائي : دغه سړي ته نبي کريم ﷺ اول نصيحت وکړو چه د هغې نه جدا شه، خو کله چه سړي د هغې سره د سخت محبت او د هغې د فراق په وجه په فتنه کښې د غورزيدو خوف ښکاره کړو نو نبي کريم ﷺ مصلحت په دې کښې وګڼړلو چه دا په خپل حال برقراره وساتل شي، دې دپاره چه ددې د فراق په وجه په غټ فساد کښې واقع نشي، او په وړوکي ضرر باندې به غټ ضرر دفع کولے شي، او اميد دے چه روستو دغه ښځه نيك چلنه جوړه شي۔ والله اعلم۔ [تهذيب الأسماء واللغات : ٤/۱۳۰]

کيدے شي چه دا علماء په دې [لَا تَرُدُّ يَدَ لَامِسٍ] حديث کښې اولنئ معنیٰ اخلي۔

(**دويم**) قول دادے : چه نۀ زنا کارې ښځې سره نکاح کول جائز دي، او نۀ د زنا ښکاره کيدو نه پس هغه په نکاح کښې ساتل جائز دي۔ او دا د قتادةؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او ابو عبيدؒ

قول دے۔ او د علي، ابن مسعود، عائشے، او براء بن عازب ﷺ نه نقل دے۔ ځکه الله تعالیٰ د پاکدامنو او مومنو ښځو سره نکاح کول جائز کړی دی۔

بله دا چه: کله ښځه زنا کوی نو کیدے شی چه هغه د زنا د اوبو نه پیدا شوے بچے خپل خاوند ته منسوب کړی او د هغهٔ وارث ئے وګرځوی۔

علامه شنقیطیؒ فرمائی: ظاهر قول دادے: چه مسلمان دپاره صرف مناسب نهٔ دی چه د پاکدامنے ښځے نه سویٰ د نورو ښځو سره نکاح وکړی، د وجے د هغه آیتونو او حدیثونو نه کوم چه په دے باب کښے راغلي۔ لکه نبی کریم ﷺ فرمائی: [فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ] [أضواء البيان: ٦/٩٤]

علامه عبد الله بن الفوزانؒ فرمائی: هر چه حدیث الباب دے نو په دے باندے دا استدلال کول چه د زناکارے ښځے سره نکاح کول جائز دی: د درے وجو نه **صحیح** نهٔ دی: (**اول**): دا حدیث په استمرار د نکاح کښے راغلے نهٔ په ابتداء د نکاح کښے۔ یعنی اول نه به زناکاره ښځه نهٔ کوی۔ که روسته ئے زنا شروع کړه نو حدیث د هغے په باره کښے دے۔ (**دویم**) دغه استدلال به هله صحیح کیږی چه اوله معنیٰ صحیح وګنړل شی، حالانکه د هغے په باره کښے خبره تا وپیژنده۔

(**دریم**) ددے حدیث په صحت کښے د علماؤ کلام دے۔ (اګرکه راجحه داده چه حدیث صحیح دے)۔ [منحة العلام: ٨/٤٦]

(۲) د مخکنی تفصیل نه معلومه شوه چه د زناکارے ښځے دوه حالتونه دی:

(۱) **یو** د نکاح نه مخکښے زناکاره ده چه په زنا مشهوره وی نو د هغے سره نکاح کول حرام دی او دا قول د احمدؒ وغیره دے۔ دلائل ئے دا دی:

۱- **دلیل**: مخکښے آیت۔ (اَلزَّانِيْ لَا يَنْكِحُ اِلَّا زَانِيَةً) ۲- [مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ]۔

۳- **دلیل**: ابو مرثد غنوی ﷺ د عَنَاق نومے ښځے سره د اسلام نه مخکښے یاری وه، د اسلام نه روستو ئے د نبی ﷺ نه تپوس وکړم چه آیا زهٔ ددے سره نکاح کولے شم؟ نو هغهٔ منع کړو۔ او همدا قول حق دے ځکه چه دلیل ئے قوی دے۔

(۲) ائمه ثلاثهٔ وائی چه د زناکارے سره نکاح کول جائز دی۔

دویٔ دلیل دا وائی: ﴿وَأَنْكِحُوا الْأَيَامٰى مِنْكُمْ﴾ [النور: ٣٢]۔ (تاسو په نکاح ورکړئ بے وادهٔ لره) دلته ایامی د ایّم جمع ده، بی وادهٔ سړی او ښځے ته وائی، او دا مطلق دے، برابره

ده چه زناکاره وی او که پاکدامنه. جواب دا دے چه د سورت د اولنی آیت (اَلزَّانِیُ لَایَنۡکِحُ اِلَّا زَانِیَةً) په وجه دلته قید دے. [اِذَا لَمۡ تَکُنۡ زَانِیَاتٍ]. کله چه دا زنانه زناکارے نهٔ وی.

دویم حالت : هغه زنانه چه د نکاح نه پس زنا کوی، نو ددے حکم دا دے چه دا به طلاقولے شی لکه څنګه چه دلته نبی علیه السلام دے شخص ته وویل چه دا ښځه طلاقه کړه. خو که چرته په طلاقو کښے ئے ډیر فساد وو نو بیا به ئے د فحشاء او بے حیائی نه ساتی او د هغے نګرانی به کوی. لکه (اَمۡسِکۡهَا) نه معلومیږی.

(۳) **فائده** : او حدیث نه معلومه شوه چه مُتَحَقَّقۡ شے به د مُتَوَهَّمۡ شیٔ دپاره نشی ختمولے. لکه دلته ددے ښځے سره ددے سړی محبت متحقق او ثابت دے. او په فاحشه او زنا کښے ددے ښځے پریوتل متوهم او ګمانی دی. نو نقد ضرر د راتلونکی وهمی شیٔ دپاره پورته کول ضروری نهٔ دی. نو ځکه دغه سړی ته نبی کریم ﷺ ددے ښځے ساتلو اجازت ورکړو.

(٤) ددے حدیث نه د فتوے او قضاء (فیصلے) ترمینځه فرق معلوم شو، هغه دا چه په **فتویٰ** کښے به د مدعی په خبره فتویٰ جاری کولے شی لکه دلته دغه سړی د خپلے ښځے په باره کښے نبی کریم ﷺ نه دا مشوره او فتویٰ واخسته او دا دعویٰ ئے وکړه چه ددهٔ په ښځه کښے دا صفت دے، نو نبی کریم ﷺ هغهٔ ته دا ونهٔ فرمایل چه په دے خبره ګواهان راوړه. ځکه دلته فیصله مقصد نهٔ ده بلکه فتویٰ ورکول مقصد دی.

او په **قضاء** او فیصله کښے به د دواړو جګړه مارو حاضریدل ضروری وی، د یو تن په غیاب کښے به په هغهٔ فیصله نهٔ کیږی.

بل مثال : هندے رضی الله عنها نبی کریم ﷺ نه د خپل خاوند ابو سفیان په باره کښے دا فتویٰ وغوښته چه هغه بخیل دے، ماله دومره نفقه نهٔ راکوی چه زما او زما د بچو کافی شی. نبی ﷺ ورته وفرمایل: ((د عُرف مطابق د هغهٔ د مال نه دومره اخله چه تا او ستا بچو له کافی وی)) او داسے ئے ورته ونهٔ فرمایل: چه ګواهان راوړه. ځکه دا فتویٰ وه، قضاء او فیصله نهٔ وه. والله تعالیٰ اعلم.

درجة الحديث : [صحيح] : أبو داود: ٢٠٤٩، نسائي: ٣٢٣١، ٣٤٦٦، باسناد صحيح. صحيح أبي داود: وصححه محمد بن على الأثيوبي حفظه الله في ذخيرة العقبى شرح المجتبى : ١٠٤/٢٧]

د نسب د اثبات په حقله یو واضح هدایت او ضابطه

3318 (15) - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى **أَنَّ كُلَّ مُسْتَلْحَقٍ اُسْتُلْحِقَ بَعْدَ أَبِيهِ الَّذِي يُدَّعَى لَهُ** ادَّعَاهُ وَرَثَتُهُ فَقَضَى أَنَّ كُلَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ يَمْلِكُهَا يَوْمَ أَصَابَهَا فَقَدْ لَحِقَ بِمَنِ اسْتَلْحَقَهُ وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ قَبْلَهُ مِنَ الْمِيرَاثِ شَيْءٌ **وَمَا أَدْرَكَ مِنْ مِيرَاثٍ** لَمْ يُقْسَمْ فَلَهُ نَصِيبُهُ وَلَا يُلْحَقُ إِذَا كَانَ أَبُوهُ الَّذِي يُدَّعَى لَهُ أَنْكَرَهُ فَإِنْ كَانَ مِنْ أَمَةٍ لَمْ يَمْلِكْهَا أَوْ مِنْ حُرَّةٍ عَاهَرَ بِهَا فَإِنَّهُ لَا يُلْحَقُ بِهِ وَلَا يَرِثُ وَإِنْ كَانَ الَّذِي يُدَّعَى لَهُ هُوَ الَّذِي ادَّعَاهُ فَهُوَ وَلَدُ زِنْيَةٍ مِنْ حُرَّةٍ كَانَ أَوْ أَمَةٍ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: او عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار نه هغه د نیکهٔ نه روایت کوی چه بیشکه نبی کریم ﷺ (دا) فیصله کړے چه هر هغه هلك چه د هغهٔ د نسب پیوست والے کیدے شی پس د هغهٔ د پلار (د مرګ) نه هغه (پلار) چه د هغهٔ دپاره ئے د نسب دعوه کیدے شی، (او) د هغهٔ دعویٰ د هغهٔ د پلار وارثانو کړی وی (یعنی مثلًا د زید د مرګ نه روستو د هغه وارثانو د یو هلك (بکر) په باره کښے ووېل چه دا د زید خوی دے، لهذا دا هم زمونږ په شان د زید وارث دے) نو (پدے باره کښے) رسول الله ﷺ حکم صادر کړو چه هر هغه (هلك) چه د یوے وینځے نه وی چه د صحبت په ورځ د هغهٔ د پلار په ملکیت کښے وه (یعنی هغه وینځے سره ددهٔ پلار په جائز طریقه جماع کړی وی) نو د هغه شخص سره به په نسب کښے ملاوېږی د چا سره ئے چه دے ملاو کړیدے، او ددے هلك دپاره به هیڅ شے د هغه میراث نه نهٔ وی چه ددهٔ نه مخکښے تقسیم کړے شوے وی او کوم میراث چه دے وموموی چه (لا) تقسیم شوے نهٔ وی نو ددهٔ دپاره به ددهٔ برخه وی، او دے به نهٔ پیوسته کیږی هرکله چه ددهٔ پلار - کوم دپاره چه ددهٔ دعوه کولے شی هغه - انکار کړے وی. او که دا هلك د داسے وینځے نه وی چه پلار ئے مالك نهٔ وی (یعنی پردئ وینځے سره ئے زنا کړی وی او د هغے په نتیجه کښے دا هلك پیدا شوے وی) یا د آزادے ښځے نه وی چه ددهٔ ورسره زنا کړی وی نو هلك به د هغه (پلار) سره نهٔ پیوسته کیږی او نهٔ به میراث وړی، اګر که هغه شخص (یعنی پلار) چه د هغهٔ دپاره د بچی د نسب دعوه کیږی هم هغهٔ ئے دعوه کړی وی (دا جمله د مخکښے دپاره د تاکید په

طریقه وئیلے شویده) نو دا د زنا بچے دے (حرامی دے) برابره ده چه د آزادے ښځے نه وی یا د وینځے نه۔ (یعنی دا ولدِ زنا دے نو دے به ددے پلار یعنی زانی په وارثانو کښے نۀ شاملیږی، ځکه که زانی په ژوند کښے ددے ماشوم د خپل ځان دپاره ددۀ د نسب دعوه وکړی چه دا زما ځوی دے بیا هم د هغۀ سره ددے ځوی نسب نۀ ثابتیدو، پاتے لا دا چه پس د مرګ نه د هغۀ د هغۀ وارثان دا هلك د خپل پلار پورے پیوسته کړی) (ابوداوّد)

تشریح : دا حدیث د الفاظو په اعتبار سره ګران حدیث دے۔ [مُسْتَلْحَقٍ] د حاء په زور سره هغه شخص دے چه وارثانو دا طلب کړے وی چه دے دِے د هغوی سره په نسب کښے پیوسته شی۔ او د استلحاق معنیٰ ده، دیو چا دعوه کول چه دا زمونږ نه شمار دے۔ [اُسْتُلْحِقَ]۔ صیغه مجهول ده، دا د (مُسْتَلْحَق) صفت کاشفه دے۔ یعنی هغه مستلحق (هلك) چه د هغۀ دعوه د پیوست والی کړے شوی وی۔

[بَعْدَ اَبِیْهِ] یعنی پس د مرګ د پلار د هغۀ نه۔ دۀ ته د اب نسبت کول په اعتبار د دعوے سره دی۔ لکه چه وائی : [اَلَّذِیْ یُدَّعٰی لَهٗ]۔ هغه پلار چه د هغۀ دپاره ئے دعوه کولے شی۔ او هغۀ ته ئے نسبت کولے شی چه دا شخص د هغۀ بچے دے۔ څوك ئے دعوه کوی؟ نو فرمائی : [اِدَّعَاهُ وَرَثَتُهٗ]۔ د مړی وارثان د هغه شخص دعوه کوی چه دا زمونږ د پلار ځوی دے۔ او دا جمله په ترکیب کښے خبر د (اَنَّ کُلَّ مُسْتَلْحَقٍ) دے۔ یعنی هر مستلحق چه د مړی وارثان د هغے دعوه وکړی۔ بعض وائی چه پدے ترکیب سره پدے اخبار کښے بیا څه خاص فائده نۀ راوځی ځکه چه دا خبره خو د مبتداء د عنوان نه خپله معلومیږی۔ لهذا غوره دا ده چه دا د (مستلحق) دپاره دویم صفت دے۔ او پدے کښے مقصد تاکید او تفسیر دے د اول صفت په شان۔ او خبر د (ان) هغه دے چه د مضمون د (ان من کان......) نه معلومیږی۔

نو تقدیر د عبارت داسے شو : [اَنَّ کُلَّ مُسْتَلْحَقٍ حُکْمُهٗ اَنَّ مَنْ کَانَ مِنْ اَمَةٍ]۔ د هر مستلحق حکم دا دے چه هر هغه څوك چه د یوے وینځے نه پیدا شی...... الخ۔

[فَقَضٰی] نبی علیه السلام دا فیصله کړے۔ دا جمله ئے دوباره راوړه، دا تاکید د مخکښے قضیٰ دپاره دے، ځکه چه مینځ کښے اُوږده فاصله راغلے وه۔ یا تقدیر داسے دے : [أَرَادَ أَنْ یَّقْضِیَ فَقَضٰی]۔ یعنی نبی علیه السلام د هغه شخص په باره کښے د فیصلے اراده کړے وه نو داسے فیصله ئے وکړه۔ [مَنْ کَانَ مِنْ أَمَةٍ یَمْلِکُهَا یَوْمَ أَصَابَهَا]۔ یعنی هر هغه څوك چه د یوے

وينځې نه پيدا وي داسې وينځه چه دا ئې مالك وي په هغه ورځ چه دهٔ ورسره نزديکت کړے وي. يعنې ددهٔ خپله وينځه وي او د هغې نه يو بچے پيدا شي.

[فَقَدْ لَحِقَ بِمَنِ اسْتَلْحَقَهُ] - يعنې دا بچے به د هغه چا پورے پيوسته کولے شي چه د چا دپاره ئې وارثان پيوسته کول غواړي. [وَلَيْسَ لَهُ مِمَّا قُسِمَ] - او ددے بچي به هغه ميراث نهٔ کيږي کوم چه دده د پيوستنه کولو او دعوے کولو نه مخکښې تقسيم شوے وي.

[وَمَا اَدْرَكَ مِنْ مِيْرَاثٍ] - او کوم ميراث چه نهٔ وو تقسيم شوے او دهٔ لاندے کړو نو دهٔ له به پکښې برخه ورکولے شي ځکه چه دا هم د هغه پلار بچے حساب شو نو د نورو ورونو په شان برخه به ورکولے شي. [وَلَا يُلْحَقُ]- يعنې دا بچے چه کوم پلار ته منسوب کولے شي او هغهٔ دپاره ئې دعوه کولے شي هغه به ترے انکار نهٔ وي کړے، که چرته هغه ترے په ژوند کښې انکار کړے وو نو د هغهٔ د مرګ نه روستو به د وارثانو دے دعوے له هيڅ اعتبار نهٔ وي.

[فَإِنْ كَانَ مِنْ اَمَةٍ] - که دا بچے چه وارثان ئې د خپل پلار پورے پيوسته کول غواړي او خپل ورور ئې شمارل غواړي د هغه وينځې نه وي چه پلار ئې مالك نهٔ وو (پردئ وينځه وه) يا د آزادے ښځې بچے وو چه دهٔ ورسره زنا کړے وه نو دا بچے هم ددے پلار پورے نهٔ پيوستنه کيږي او نهٔ ددهٔ نه ميراث وړي. [وَإِنْ كَانَ الَّذِیْ] - دا (ان) وصلينه دے، يعنې اګر که هغه پلار - چه دهٔ دپاره ددے بچي دعوه کيږي- په ژوند کښې ددے بچي دعوه هم کړے وي بيا به هم دا ددے پلار پورے نهٔ پيوستنه کيږي بلکه دا د زنا بچے حسابيږي برابره ده چه د آزادے نه وي او که د وينځے نه.

فوائد : (١) دے حديث کښې مسئله د استلحاق ده، د استلحاق معنیٰ ده : [طَلَبُ اِلْحَاقِ الْوَارِثِ الْوَلَدَ بِاَبِيْهِ بَعْدَ مَوْتِهٖ] - يعنې چه يو وارث يو ماشوم د خپل پلار سره د هغهٔ د مرګ نه روستو د پيوستنه کولو دعوه کوي. (داسے وائي چه دا بچے زمونږ د پلار نه دے، او زمونږ ورور دے) (٢) مخکښې ذکر شوي چه کوم بچے په يو فراش باندے پيدا شو د هغهٔ نه به حسابيږي ليکن دلته نور صورتونه بيانيږي چه هغه نسب ثابتيدو او نهٔ ثابتيدو په باره کښې دي : اول کښې دوه صورتونه دي :

(١) **صورت** : وارثان دعوه وکړي چه دا ماشوم زمونږ د پلار ځوی دے ځکه چه دا وينځه د هغهٔ په ژوند کښې د هغهٔ مملوکه وه، او بيا ئې خرڅه کړے وه نو پدے کښې دوه

صورتونه دي: ١- پلار به په خپل ژوند کښې ددې بچې نه يا انکار کړے وي ٢- يا نۀ، که نۀ وي کړے نو بچے به د بچو په دعوه سره د دوئ د پلار نه حسابيږي ځکه چه وارثانو سره حجت شته چه دا وينځه د دوئ د پلار وه۔

پدے کښې بيا دوه صورتونه دي (أ) - يا به د پلار مال ددے دعوے نه مخکښې تقسيم شوے وي۔ (ب)- يا به نۀ وي تقسيم شوے، که تقسيم شوے وي نو دے بچي لره هيڅ ميراث نشته ځکه دا بچے د ميراث په وخت کښې معدوم وو، روستو پيدا شو۔ او که ميراث لا تقسيم شوے نۀ وي نو د نورو ورونو په شان ميراث به وړي۔

٢- صورت: او که پلار انکار کړے وي چه دا زما ځوی نۀ دے نو که د هغۀ د مرګ نه روستو وارثان ددے ماشوم دعوه هم وکړي چه دا زمونږ ورور دے، نو د دوئ نه به نۀ شمارل کيږي ځکه چه د پلار انکار قوي دے او د وارثانو دعوه ضعيفه ده، هغوی په پلار باندے نسب ثابتوي او پلار ئے نفي کوي، لهذا د قوي شخص خبرے لره به اعتبار وي۔

(٣) صورت: يو سړي د يوے پردئ وينځے سره يا يوے آزادے ښځے سره زنا کړي وي او د هغے نه بچے پيدا شي نو سړے اګرکه دعوه کوي چه دا زما بچے دے يا د هغۀ د مرګ نه روستو د هغۀ وارثان دعوه کوي چه دا زمونږ د پلار بچے دے، مګر دے دعوے له هيڅ اعتبار نشته، پدے دعوه سره به دا بچے ددے پلار پورے نشي پيوسته کولے، دا د زنا بچے دے، ځکه چه مخکښې حديث د سعد بن ابي وقاص ﷺ تير شو: [اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ]۔ بچے به د مور حسابيږي او زنا کار پلار به محروم وي۔

درجة الحديث:[إسناده حسن] ابو داود: ٢٢٦٥، ابن ماجه: ٢٧٤٦، أحمد: ٦٦٩٩، وحسنه شعيب والألباني۔

غيرت په بعض صورتونو کښې غوره او په بعض صورتونو کښې ناغوره دے

3319 (16) - وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ ﷺ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مِنَ الْغَيْرَةِ مَا يُحِبُّ اللّٰهُ وَمِنْهَا مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ فَأَمَّا الَّتِيْ يُحِبُّهَا اللّٰهُ فَالْغَيْرَةُ فِي الرِّيْبَةِ وَأَمَّا الَّتِيْ يُبْغِضُهَا اللّٰهُ فَالْغَيْرَةُ فِيْ غَيْرِ رِيْبَةٍ وَإِنَّ مِنَ الْخُيَلَاءِ مَا يُبْغِضُ اللّٰهُ وَمِنْهَا مَا يُحِبُّ اللّٰهُ فَأَمَّا الْخُيَلَاءُ الَّتِيْ يُحِبُّ اللّٰهُ فَاخْتِيَالُ الرَّجُلِ عِنْدَ الْقِتَالِ وَاخْتِيَالُهُ عِنْدَ الصَّدَقَةِ وَأَمَّا الَّتِيْ يُبْغِضُ اللّٰهُ فَاخْتِيَالُهُ فِي الْفَخْرِ "وَفِيْ رِوَايَةٍ:" فِي الْبَغْيِ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او جابر بن عتيك ﷺ فرمائي : د الله نبي ﷺ وفرمايل : بعض د غيرت نه هغه دي چه الله تعالىٰ ئے خوښوی، او بعض ددے نه هغه دي چه الله تعالىٰ ئے نهٔ خوښوی، هرچه هغه غيرت دے چه الله تعالىٰ ئے خوښوی، نو دا په شك او تهمت كښے غيرت دے، او هرچه هغه غيرت دے چه د الله تعالىٰ بدى شى نو هغه بغير د شك نه غيرت دے او بعض د تكبر نه هغه دے چه د الله تعالىٰ بدى شى، او بعض ددے نه هغه دے چه د الله تعالىٰ خوښ دے، هرچه هغه تكبر دے چه الله تعالىٰ ئے خوښوی نو د (كفارو سره د) جنگ په وخت د سړی تكبر كول دی، او د صدقے كولو په وخت تكبر كول دی، او هرچه هغه دے چه د الله تعالىٰ بدى شى نو په فخر كښے تكبر كول دی او په يو روايت كښے دی: په ظلم كښے تكبر. (احمدؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : [جابر بن عتيك] بن قيس بن الاسود الانصاری ﷺ، د فتح د مكے په كال ددهٔ سره د بنو معاويه جنډه وه. [مِنَ الْغَيْرَةِ]. يعنى بعض د غيرت نه هغه دے چه الله تعالىٰ د هغے سره مينه كوی. [يُحِبُّ اللّٰهُ] . مفعول ضمير پټ دے، هغه راجع دے (ما) ته. اى يُحِبُّهُ اللّٰهُ. [الرِّيْبَة]. د راء په زير سره شك او تهمت ته وائی. لكه ددهٔ ښځه يا وينځه پردی سړی باندے ورداخليږی يا پردے سړے ددهٔ په ښځه راننوزی او ددواړو ترمينځ مزاح او گپ شپ او آزادی وی، نو دا گمان د الله تعالىٰ خوښ دے، او كه ددے نه علاوه گمان وی نو هغه به بد گمان وی، هغه جائز نهٔ دے. هسے پاكدامنه ښځه په يو يا بل باندے تورول د بد عمله خلكو كار دے. [الْخُيَلَاء]. خُيَلَاء او مَخِيْلٌ او مَخِيْلَة او اِخْتِيَال په معنىٰ د تكبر سره. د جنگ په وخت تكبر داسے دے چه معركے ته په خوشحالئ او قوت او كلك والے ښكاره كولو سره ننوزی او پدے سره د دشمن سپكاوے كول وی، او د هغهٔ په زړهٔ كښے رعب غورزول وی. او د صدقے په وخت تكبر دا دے چه دا د زړهٔ په خوشحالئ سره وركوی او د مال پرواه نهٔ ساتی او د مسكين سره محبت ساتی. نو پدے سره دا سوال ختم شو چه د صدقے خرابونكی دوه څيزونه دی :

(۱) يو تحقير المسلمين (مسلمانان سپك گنړل)

(۲) او بل تكبر كول. نو دلته څنگه د صدقے په وخت تكبر الله تعالىٰ ته محبوب شو؟ نو جواب وشو چه دلته د خيلاء نه مراد دا دے چه په كولاؤ زړهٔ سره ئے وركړی او د مسكين سره ئے مينه وی او د مال پرواه نهٔ كوی.

فائده: د غیرت سره ئې د محبت خبره مخکښې ذکر کړه او د تکبر سره ئې د بُغض خبره مخکښې ذکر کړه ددې حکمت دا معلومېږي چه غیرت ټول ښه دې مګر لږ په کښې خراب دې او تکبر ټول بد دې مګر په بعض اوقاتو کښې ښه دې۔

درجة الحديث: [حسن] أبوداود ۲۶۵۹، والنسائي: ۵/۷۸، وهو حديث حسن كما في الارواء: (۱۹۹۹) وهذا اسناد ضعيف لجهالة ابن جابر بن عتيك لكن للحديث شاهد من حديث عقبة بن عامر وانظر صحيح أبي داود: ۲۳۸۸).

د ولد الزنا نسب د زاني نه نۀ ثابتیږي

الفصل الثالث

3320 (17) – عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ فُلَانًا ابْنِي، عَاهَرْتُ بِأُمِّهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "**لَا دِعْوَةَ فِي الْإِسْلَامِ ذَهَبَ أَمْرُ الْجَاهِلِيَّةِ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ**". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ

ترجمه: او عمرو بن شعیب د خپل پلار او هغه د خپل نیکۀ نه روایت کوي چه هغۀ وفرمایل: یو سړې راپاڅیدو عرض ئې وکړو: اې د الله رسوله! یقیناً فلانې زما ځوی دې ما د هغۀ د مور سره په جاهلیت زمانه کښې زنا کړې ده نو رسول الله ﷺ وفرمایل: په اسلام کښې د نسب دعوه نشته، د جاهلیت کارونه ختم شویدي۔ بچې به د بسترې وي (یعني په کومه بستره چه پیدا شي هغې ته به منسوب کیږي یعني مور ته) او د زناکار دپاره (د بچي او د هغۀ د نسب او میراث نه) محرومتیا ده۔ (ابوداودؔ)

تشریح: [عَاهَرْتُ]۔ یعني ما ددې هلك د مور سره د جاهلیت په زمانه کښې زنا کړې وه، لهذا دا زما ځوی کیدل پکار دي، نو دعوه د هلك ئې وکړه۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په اسلام کښې د جاهلیت دعوې نۀ چلیږي، د اسلام قانون دا دې چه په کومه بستره ماشوم پیدا شي د هغې نه به حسابیږي او زناکار به محروم وي۔

د بسترې نه مراد هغه شخص دې چه د ولد زنا د مور خاوند یا مالك وي۔ یعني کومه ښځه چه د چا په نکاح کښې وي یا د وینځې په صورت کښې د چا په ملکیت کښې وي او هغې سره زنا وشوه او د هغې نه بچې پیدا شو نو د هغې نسب به د هغې د خاوند یا مالك نه ثابتیږي، او که یوه ښځه د چا په نکاح یا ملکیت کښې نۀ وي نو بیا به بچې مور ته

منسوب کیږی، بهر صورت د زانی به ددے بچی سره هیڅ تعلق نهٔ وی۔

درجة الحديث : [إسناد حسن] ابوداود : ٢٢٧٤، واحمد : ١٧٩/٢-٢٠٧) واسناده حسن وانظر صحيح ابی داود : ١٩٦٧ فانه قال اسناده حسن صحيح).

د ځلورو ښځو سره لعان نهٔ کیږی

3321 (18) – وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " أَرْبَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لَا مُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ : اَلنَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْيَهُوْدِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ وَالْحُرَّةُ تَحْتَ الْمَمْلُوْكِ وَالْمَمْلُوْكَةُ تَحْتَ الْحُرِّ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ

ترجمه : او عمرو بن شعیبؒ د خپل پلار او هغه د خپل نیکهٔ نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : ځلور زنانه دی چه د هغوی ترمینځ لعان نشته۔ نصرانیه چه د مسلمان په نکاح کښے وی، یهودیه چه د مسلمان په نکاح کښے وی، او آزاده ښځه چه د غلام په نکاح کښے وی، او وینځه چه د آزاد په نکاح کښے وی۔ (ابن ماجهؒ)

تشریح : [لَامُلَاعَنَةَ بَيْنَهُنَّ] ۔ یعنی ددے ځلورو کسانو ترمینځ لعان نهٔ جاری کیږی۔ [اَلنَّصْرَانِيَّةُ تَحْتَ الْمُسْلِمِ] ۔ یعنی چه خاوند مسلمان وی او ښځه ئے نصرانیه وی او زنا وکړی نو خاوند ورسره لعان نشی کولے۔ دا حدیث د احنافو دلیل دے چه چا کښے اهلیت د شهادت نهٔ وی نو د هغوی ترمینځ لعان نهٔ وی لیکن دا روایت ضعیف دے۔ ابن عطاءؒ او عطاءؒ دواړه مجهول دی، او ابن عطاءؒ اختلط بآخره۔

درجة الحديث :[ضعيف] ابن ماجه : ٢٠٧١، فيه عثمان بن عطاء بن ابی مسلم الخراسانی عن ابيه – وهما ضعيفان– كما قال البيهقی : ٣٩٦/٧) ثُمَّ اَخْرَجَهُ مِنْ طَرِيْقٍ أُخْرٰى أَوْهٰى مِنْ هٰذِهٖ.

نبی ﷺ به حتی الوسع د لعان نه بچ کیدل غوښتل

3322 (19) – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ أَمَرَ رَجُلًا حِيْنَ أَمَرَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ أَنْ يَّتَلَاعَنَا أَنْ يَّضَعَ يَدَهُ عِنْدَ الْخَامِسَةِ عَلٰى فِيْهِ، وَقَالَ : "إِنَّهَا مُوْجِبَةٌ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه نبی ﷺ یو سړی ته حکم وکړو هرکله ئے چه دواړو لعان کونکو ته حکم کولو چه د پنځم قسَم خوړلو په وخت دِ قسَم خوړونکی په خُلهٔ لاس کیدی، او وے فرمایل : بیشکه چه دا قسَم ثابتونکے دے (فراق، او عذاب

لره) (يا د تباهئ سبب دے)۔ (نسائیؒ)

تشريح : [إِنَّهَا مُوجِبَةٌ] دا ګواهي او قسم په دنيا کښے هميشه فراق لره او په آخرت کښے سخت عذاب لره ثابتونکے دے۔ په دے پنځمے ګواهئ سره د سړی لعان پوره کيږی نو که دے دروغژن وی، د الله تعالیٰ په لعنت به اخته شی۔ او دا د قولی منع نه پس اوس فعلی منع ده۔ څکه د لِعان شروع کولو نه مخکښے ئے ورته هم په قول سره نصيحت کړے وو۔ اوس ئے په عملی توګه منع کړو۔

فوائد : (۱) حديث نه ثابته شوه چه حاکم او قاضی دپاره پکار دی چه د پنځمے ګواهئ په موقع د هغے د بندولو سخت کوشش وکړی، هغه داسے چه په ناستو کسانو کښے يو تن ته حکم وکړی چه ددے پنځمے ګواهئ په وخت د سړی په خُلهٔ لاس کيدی، کيدے شی چه هغه په دے کار سره منع شی۔

نو کله چه څلور ګواهئ او قسمونه وکړی نو قاضی به ئے ودروی او ورته به ووائی چه د الله نه ويريږه څکه چه دا پنځم قسم ثابتونکے شے دے۔ او د دنيا عذاب د آخرت د عذاب نه آسان دے او د الله لعنت ډير ګران شے دے۔

(۲) دا خو د سړی په حق کښے راغلی۔ د ښځے په حق کښے په خُلهٔ لاس کيښودل نهٔ دی راغلی۔

د ابن عباس ﷺ په حديث کښے د هلال بن اميه ﷺ په قِصه کښے تير شو: [ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ، فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ وَقَفُوهَا، وَقَالُوا: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ] (بيا هغه ښځه ودريده او ګواهی ئے ورکړه، او کله چه پنځمے ګواهئ ته ورسيده نو خلکو ايساره کړه، ورته ئے وويل: يقين وکړه چه دا ګواهی لازمونکے شے دے) نو ددے حديث نه معلومه شوه چه د ښځے په خُلے باندے کومے ښځے لاس نهٔ دے ايښے بلکه سرو هغے ته صرف نصيحت کړے او دا وينا ئے کړے چه دا پنځمه ګواهی لازمونکے شے دے۔

نو کومو حنبلی او شافعی وغيره فقهاؤ چه دا مستحبه ګڼړلے چه ښځے ته به ښځه ودريږی او په خُلهٔ به هغے له هم لاس ږدی، نو دا ئے قياس کړے، او دے ته حاجت نشته۔

والله تعالیٰ اعلم۔ [المغنی: ١١/١٧٧]

درجة الحديث: [صحيح] : أبوداود: ٢٢٥٥، نسائی: ٦/١٧٥، صحيح أبی داود.

شیطان، ښځه او خاوند یو بل ته د بد ظن کولو کوشش کوی

3323 (20) – وَعَنْ عَائِشَةَ : أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا لَيْلًا قَالَتْ : فَغِرْتُ عَلَيْهِ فَجَاءَ فَرَأَىٰ مَا أَصْنَعُ فَقَالَ :" **مَا لَكِ يَا عَائِشَةُ أَغِرْتِ ؟**" فَقُلْتُ : وَمَا لِيُ؟ لَا يَغَارُ مِثْلِيُ عَلٰى مِثْلِكَ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :" **لَقَدْ جَاءَكِ شَيْطَانُكِ** " قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَمَعِيَ شَيْطَانٌ؟ قَالَ :" **نَعَمْ** " قُلْتُ : وَمَعَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ :" **نَعَمْ وَلٰكِنْ أَعَانَنِيَ اللّٰهُ عَلَيْهِ حَتّٰى أَسْلَمَ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه (یو وخت کښے) رسول الله صلی الله علیه وسلم د دے لخوا نه د شپے ووتو۔ دا وائی : نو ما په هغهٔ باندے غیرت وکړو (ما وویل چه زما په نمبر کښے به نورو بیبیانو خوا له تلے وی) نو راغے وے لیدل چه زهٔ څه کوم نو وے فرمایل : تا له څه شویدی اے عائشے ! آیا تا له غیرت درغلو ؟ ما وویل : ما له څه وجه ده چه زما په شان بی بی به ستا په شان (خاوند) باندے غیرت نهٔ کوی ؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تا ته ستا شیطان راغلے۔ هغے وویل : اے د الله رسوله ! آیا ما سره شیطان شته ؟ وے فرمایل : آؤ، ما وویل : اے د الله رسوله ! آیا تا سره شته ؟ وے فرمایل: آؤ، لیکن الله تعالیٰ ما سره د هغهٔ په خلاف مدد کړے تردے چه هغهٔ اسلام قبول کړے۔ (مسلم)

تشریح :[خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا]۔ یوځل د شپے په یوه حصه کښے رسول الله صلی الله علیه وسلم د عائشے رضی الله عنها په نمبر کښے د هغے د خوا نه اُووتو، بعض وائی چه دا د شعبان پنځلسمه شپه وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم بقیع مقبرے ته اُووتو دے دپاره چه د هغوی مړو ته د مغفرت دعاء وکړی لیکن عائشه رضی الله عنها ته دا پته ونهٔ لګیده چه نبی علیه السلام دے د خوا نه پاڅیدلے چه رابیداره شوه هغے ګمان وکړو چه هغه به بلے کومے بی بی خوا ته ورغلے وی نو هغے له پدے خبره غیرت ورغلو چه ددے په نمبر کښے نبی علیه السلام یوے بلے بی بی خوا ته ولے ورشی، یا ګویا کښے د شیطان فریب وو چه هغه ئے پدے سره په شك کښے اچوله، نو د هغے د زړهٔ کیفیت بدل شو، هغه په ګبراهټ سره راپاڅیده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پسے روستو روستو روانه شوه چه هغه وګوری چه کوم خوا تلے دے، هغے معلومه کړه چه د کومے بی بی خوا ته خو نهٔ دے تلے بلکه جنت البقیع (د مدینے قبرستان) کښے دے چه هلته د

مسلمانانو مرو دپاره په دعاء او مغفرت کښې مشغول دے، نو دے شك او شبهے عائشه رضی الله عنها دومره په ګبراهټ کښې واچوله چه هغه بیرته د رسول الله ﷺ د واپس کیدو نه مخکښې مخکښې په منډه کور ته راواپس شوه، هرکله چه کور ته راواپس شوه نو د ساه ساه کیدو او خپیمانتیا په وجه ئے رنګ متغیر شوے وو پدے کښې رسول الله ﷺ کور ته راغلو او د عائشے رضی الله عنها دا کیفیت ئے ولیدو چه ساه ئے لنډه لنډه کیږی او ګبراهټ کښې ده نو وے فرمایل: دا دومره ګبراهټ کښې ولے ئے، آیا تا پدے وجه غیرت محسوس کړو چه زهٔ ستا د خوا نه ولے داسے لاړم،

ددے په جواب کښې عائشے رضی الله عنها د والهانه محبت نه ډك بنکلے جواب ورکړو وے فرمایل: چه دا ناممکن ده چه زما په شان ښځه ستا په شان خاوند باندے به ولے غیرت نهٔ کوی؟ یعنی یوه زنانه ده چه هغے سره د خاوند انتهائی محبت وی او د هغے بنے موجودے وی نو هغه به ستا په شان د جمال او کمال نه ډك نبی باندے ولے غیرت نکوی چه تاسو ترے په داسے وخت کښې بهر کیږئ۔ [لَا يَغَارُ مِثْلِي]۔ دا جمله حال دے د (لی) ضمیر مجرور نه او (مثل) لفظ د هغه ضمیر په ځائے راغلے دے چه هغه ذو الحال ته راجع دے او دا په شان د [مِثْلُكَ يَجُودُ] دے، چه معنیٰ ئے ده: [أَنْتَ تَجُودُ]۔ یعنی تهٔ سخاوت کوے، نو دلته دا په معنیٰ د [لَا أَغَارُ] سره دے، یعنی زهٔ به ولے غیرت نکوم۔ (طیبیؒ) [جَاءَكِ شَيْطَانُكِ]۔ یعنی تا ته ستا شیطان راغلو او تهٔ ئے په غیرت باندے راپورته کړے او تا ته ئے دا وسوسه واچوله چه زهٔ به بعضو بیبیانو خوا ته ورغلے یم۔

طیبیؒ وائی: پدے کښې اشاره ده هغه خبرے ته چه په حدیث د جابر بن عتیك رضی الله عنه کښې ذکر شوه چه (هغه غیرت چه الله تعالیٰ ئے نهٔ خوښوی هغه بے ځایه غیرت کول دی)۔ مطلب دا دے چه تهٔ په ما باندے غیرت کوے او دا خیال کوے چه زهٔ به په تا باندے ظلم وکړم، او ستا په نمبر کښې به بلے بی بی خوا ته ورشم۔ او په بل روایت د مسلم کښې دی: [أَظَنَنْتِ أَنْ يَحِيفَ اللَّهُ عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ] آیا ستا ګمان راغلو چه الله او د هغهٔ رسول به په تا باندے ظلم وکړی۔

د مسلم په یو بل روایت کښې داسے تفصیل راغلے دے: عائشه رضی الله عنها فرمائی: هرکله چه زما هغه شپه شوه چه نبی علیه السلام به په هغے کښې ما سره وو، نو هغه راغلو او خپل څادر ئے کیخوډو او پیزار ئے اُوویستل او د خپلو خپو خوا ته ئے کیخودل او د خپل لنګ یو

طرف ئے په بستره باندے خور کړو او ډېره ئے ولګوله نو وخت ئے تير نکړو مګر دومره اندازه چه د هغۀ خيال راغلو چه زۀ اُوده شوے يم نو خپل څادر ئے په آرام شان راواخستو او پيزار ئے په آرام واچولو او دروازه ئے کولاوه کړه او بهر اُووتو، بيا ئے دروازه په آرام سره بنده کړه نو ما خپل قميص په خپل بدن کښې راواچولو او لوپټه مے واغوستله او خپل لنګ مے راتاو کړو بيا زۀ د هغه د نقش قدم پسے روانه شوم، تردے چه هغه بقيع ته راغلو نو اُودريدو او ښه اُوږد اُودريدو بيا ئے درے کرته لاسونه پورته کړل بيا راواپس شو نو زۀ هم راواپس شوم نو هغه راتيز شو نو زۀ هم تيزه شوم، هغه رامنډه کړه نو ما هم رامنډه کړه، نو زۀ د هغۀ نه مخکښې راغلم، کور ته راننوتم، ما لا ډېره نۀ وه لګولے چه نبی عليه السلام راننوتو، نو ما ته ئے وفرمايل: اے عائشے! دا تا لۀ څه شوی چه ساه دِے پورته پورته کيږی؟ هغه وائی: ما وويل: هيڅ نشته، وے فرمايل: خامخا خبر به راکوے يا به لطيف او خبير ذات خبر راکړی))

(دا دليل دے چه نبی ﷺ په غيبو نۀ پوهيږی مګر الله تعالیٰ چه خبر ورکړی) هغه وائی: ما وويل: اے د الله رسوله! زما مور او پلار دِے تا نه قربان وی، بيا ما خبر ورکړو، نو وے فرمايل: تۀ هغه سورے وے چه زما نه مخکښې روان وو، ما وويل: آؤ، نو زۀ ئے په سينه کښې په سوك سره ديکه کړم، چه زۀ درمنه شوم، بيا ئے وفرمايل: آيا ستا ګمان دے چه الله تعالیٰ او د هغۀ رسول به په تا باندے ظلم وکړی. هغے وويل: خلك چه هر څومره خبره پټوی نو الله تعالیٰ ئے راښکاره کوی، آؤ.

نبی ﷺ وفرمايل: جبريل ﷺ ما ته راغلو کله چه تا وليدل نو ما ته ئے آواز وکړو او تا نه ئے آواز پټ کړو نو ما هغۀ ته جواب ورکړو نو ما تا نه پټ کړو، او هغه په تا باندے نه راداخليږی کله چه تا خپلے جامے ايخودی وی، او ما ګمان وکړو چه تۀ به اُوده شوے ئے. نو ما بده وګڼړله چه تا راپاڅوم، او ويريدم چه تۀ به په وحشت او ګبراهټ کښې شے،

جبريل ﷺ وفرمايل: ستا رب تا ته حکم کوی چه تۀ بقيع والو ته ورشه او هغوی دپاره بخښنه وغواړه. هغے عرض وکړو اے د الله رسوله! زۀ به څنګه وايم چه کله زۀ د هغوی خوا ته ورشم؟ وے فرمايل: داسے وايه: [اَلسَّلَامُ عَلٰى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ] [مسلم: ۲۳۰۱]. دا حديث دليل دے چه ښځانه هم مقبرے ته تللے شی.

[أَعَانَنِيْ عَلَيْهِ] - یعنی الله تعالیٰ ما سره د هغهٔ په مقابله کښې مدد کړے۔ [فَأَسْلَمَ]۔ دے کښې دوه قراء تونه مخکښې تیر شویدی۔ غوره دا ده چه [فَأَسْلَمَ]۔ ماضی غائب صیغه ده، یعنی زما شیطان اسلام قبول کړے۔ یا [فَأَسْلَمُ] واحد متکلم مضارع ده۔ یعنی زهٔ بچ یم د هغهٔ نه۔ اول مطلب زیات ظاهر دے۔

فوائد : (۱) زنانو کښې غیرت راتلل نقصان نهٔ دے مګر کله چه د حدودو نه تجاوز وکړی او ګناه کښې ئے واقع کوی بیا صحیح نهٔ دے۔

(۲) بے ځائے غیرت د شیطان په وسوسه او لمسه سره راپیدا کیږی او شیطان په زنانو باندے زیات مسلط کیږی چه په غیرت ئے راپورته کوی چه ددے په سبب د خپل خاوند یا بنے سره دشمنی کوی۔

(۳) نبی ﷺ الله تعالیٰ ته ډیر عزتمن او ګران وو چه د شیطان نه ئے محفوظ ساتلے وو۔

(٤) شیطانان په عامو بندګانو باندے زیات مسلط کیږی، نیکان وی که بدان، دے نه هغه خوك بچ کیږی چه الله تعالیٰ ته ځان وسپاری او قوی ایمان پکښے وی۔

(۵) رسول الله ﷺ به د خپلو بیبیانو تربیت کولو۔

(٦) د یوے بی بی نمبر کښے بلے بی بی خوا ته ورتلل، یا یوے ته نمبر ورکول او بلے ته نهٔ ورکول ظلم دے مګر اجازت وکړی۔

(۷) زنانه لره د خاوند سره خپلے کپړے لرے کول، او په بربنډه اُوده کیدل جائز بلکه د خاوند حق دے۔ وبالله التوفیق۔



۱۵- باب العدة

د عدت بيان۔

دلته هم څو بحثونه دي۔ (۱) مناسبت، (۲) د عدت لغوي او اصطلاحي معنی، (۳) د عدت د مشروعيت حکمتونه۔ (٤) د عدت اقسام او انواع۔

د عدت معنیٰ: [عِدَّةٌ] : د عِدَد مفرد دے، د عَدَد نه دے په لغت کښې شمارلو ته وائي۔ چونکه دا د حيضونو يا د مياشتو په شمارلو مشتمل وي نو ځکه ورته عِدت وائي۔

او په اصطلاح د شريعت کښې: [تَرَبُّصٌ يَلْزَمُ الْمَرْأَةَ عِنْدَ زَوَالِ النِّكَاحِ] دا هغه انتظار دے چه د نکاح د زائل کيدو په وخت کښې په زنانه باندے لازم وي۔ يعني کله چه يوے ښځے ته د هغے خاوند طلاق ورکړي يا د خلع يا د لعان په صورت کښې جدائي راشي او د دے ښځے سره مخکښې نزديکت شوے وي، يا خاوند مړ شي نو مقرره وخت پورے (چه د هغے تفصيل روستو راځي يعني په وضع د حمل يا په يو يا درے حيضو نو يا يوه يا درے مياشتو تيره ولو) هغه په کور کښې بنده پاتے وي نو ترڅو پورے چه موده ختمه شوی نۀ وي تر هغه وخته پورے به هيچرته نۀ ځي او نۀ به د بل کوم سړي سره نکاح کوي، او هرکله چه موده پوره شي نو بيا چرته چه غواړي تلے شي او چا سره چه غواړي نکاح کولے شي۔ [فتح الباري: ۱۰/۵۸۹]

عدت په کتاب، سنت او اجماع امت سره په ښځه تيرول واجب دي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ﴾ [البقرة: ۲۲۸] (او طلاقے شوے ښځے به په خپلو ځانونو باندے د درے حيضونو موده تيروی) او فرمائي: ﴿وَاللّٰٓـئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ﴾ [الطلاق: ٤] (اوستاسو کومے ښځے چه د حيض راتلو نه نا اميده وي، که ستاسو شك وي، نو د دوئ عدت درے مياشتے دے) او فرمائي: ﴿وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا﴾ [البقرة: ۲۲٤] (او کوم سړي چه ستاسو نه وفات شي او ښځے پريدي نو هغوئ به په خپلو ځانونو باندے د څلور مياشتو او لسو ورځو انتظار تيروی)۔ او احاديث په دے کښې روستو ذکر

کیږي. او مجموعي لحاظ سره د هغه ښځې د عدت تیرولو په ایجاب باندې د امت اجماع ده، چه د هغې نه خاوند جدا شوې وي. اګرکه ددې په بعضِ مسائلو کښې اختلاف دې.

❁ د عدت د مشروعیت **حکمت**: (۱) د رحم برائت او خالي والې پیژندل، دې دپاره چه نسبونه د ګډوډ کیدو نه محفوظ شي. (۲) خاوند له دومره موده ورکول چه په هغې کښې په سوچ او فکر سره خپلې ښځې ته رجوع کولې شي. هر کله چه هغې له رجعي طلاق ورکړې شوې وي. (۳) د (عقدِ زواج) شان لوئې ښکاره کول چه دا د هغه عقدونو پشان نۀ دې چه د هغې آثار صرف په فسخ کولو سره ختمیږي. [الفرقة بین الزوجین، ص: ۱۸۷، آثار عقد الزواج، : ۲۷۰]

(٤) دارنګه په خاوند باندې غم او خفګان او هغۀ سره وفاداري ښکاره کول، هر کله چه ښځې نه خاوند وفات شوې وي. او دا د جمهورو اهلِ علمو رائې ده.

ابن حزمؒ وغیره وائي: عدت د تعبدي امورو نه دې چه په دې به عمل کولې شي او ددې دپاره به هیڅ حکمت نشي طلب کولې، ځکه که چرې عدت د رَحِم پاکولو دپاره وې نو بیا د هغې دپاره د یو حیض موده تیرول کافي وو. خو دا خبره علامه ابن قیمؒ رد کړې، او دا ئې ثابته کړې چه عدت د عباداتِ محضه ؤ نه نۀ دې بلکه په دې کښې د زوجینو او د ولد ټولو دپاره داسې مصالح او ښیګړې دي چه هغه د سوچ او فکر کونکي دپاره واضحه کیږي. [المحلی : ۱۰/۲٥٦، زاد المعاد: ٥/٦٦٥].

د عدت اقسام: (۱) عدة الوفات. (۲) عدة الطلاق. دلته دواړه قسمه بیانیږي.

د عدة الوفات دوه صورتونه دي: (۱) یا به ښځه حامله وي. (۲) یا به غیر حامله وي.

که حامله وي نو عدت ئې د حمل په زیګیدو سره دې، هرکله چه پیدا کیږي هغې ته به زنانه انتظار کوي، اګرکه نهه میاشتې وي. لیکن د بعضِ صحابه کرامو – لکه علي او ابن عباس – رضي الله عنهم – په نیز د حاملې مُتَوَفّٰی عَنهَا زَوْجُهَا عدت اَبْعَدُ الْاَجَلَیْنِ دې. یعنی کومې ښځې نه چه خاوند فوت شي نو که څلورو میاشتو او لس ورځو تیریدو نه مخکښې ئې حمل وزیګاوۀ نو څلور میاشتې او لس ورځې به خامخا پوره کوي. اوکه څلور میاشتې او لس ورځې پوره شوې او بیا ئې هم حمل ونۀ زیګاوۀ نو بیا به حمل زیګولو پورې انتظار کوي. الغرض اُوږد عدت به تیروي.

(د علی رضی الله عنه نه دا قول په سنن د سعید بن منصور (۱/۳۵۲) کښې او د ابن عباس رضی الله عنه نه په صحیحینو کښې ثابت دے۔ [فتح الباری: ۸/۱۵۳]

او د دوئ مقصد په دواړو آیتونو باندے عمل کول او یقین سره عدت تیرول دی۔ لکه هغه آیتونه روستو راځی۔ مګر د دوئ پدے قول باندے دلیل نشته۔ او بل طرف ته د عامو صحابه کرامو رضی الله عنهم رائے دا ده چه د حمل زیږیدل ددے عدت دے، او همدا د قرآن کریم او د احادیثو موافق خبره ده، قرآن کریم فرمائی: ﴿وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ [الطلاق: ٤]۔ د حمل والو زنانو نیتهه د عدت دا ده چه حمل وزیګوی۔ دا آیت د وفات او طلاق دواړو عدتونو ته شامل دے۔ او د حدیث نه دلیل دا دے چه سُبُیعَه اَسْلَمِیه رضی الله عنها خاوند وفات شو نو شل یا څلویښت ورځے پس ئے حمل پیدا شو نو نبی علیه السلام ورله د تللو او بل واده کولو اجازه ورکړه۔ نو هر کله چه د سُبیعے رضی الله عنها حدیث ثابت شو نو په همدے باندے عمل کول واجب شو۔ او دا په دے مسئله کښې صریح نص دے۔ او دا حدیث د آخری دَور سره هم تعلق لری ځکه دا په حجة الوداع کښې راغلے۔

بله داچه: مقصود اصلی د عدت نه برائت د رَحِم دے، خصوصًا د حائضے ښځے نه، او دا په وضع د حمل سره حاصلیږی نو بیا د زیاتی میاشتو تیرولو فائده نشته۔ خو ظاهره داده چه ابن عباس رضی الله عنه د خپلے دے رائے نه رجوع فرمائیلے، ځکه د هغهٔ خصوصی ملګری: عطاءؒ، عکرمهؒ او جابر بن زیدؒ د جمهورو پشان رائے لری۔ والله تعالیٰ اعلم۔

سوال: دلته بل آیت دے: ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ [البقرة: ٢٣٤] دا آیت هم عام دے، حمل دارو او بے حمله دواړه قِسمه ښځو ته شامل دے چه ددے دواړو عدت څلور میاشتے او لس ورځے دے۔نو ددے به څه تطبیق کوو؟ **جواب**: د جمهورو صحابه کرامو رضی الله عنهم او نورو علماؤ قول دادے چه اولنے آیت ددے دویم آیت تخصیص کونکے دے۔ اولنے آیت په خپل عموم باندے دے، او دویم آیت اګرکه عام دے لیکن د اولنی آیتِ کریمه او د سُبیعے رضی الله عنها د حدیث په وجه په دے کښې تخصیص شوے، هغه داچه ددے نه مراد هغه ښځے دی چه په خیټه حمل نهٔ لری، نو د هغے عدت څلور میاشتے او لس ورځے دے۔ او کومے ښځے چه په خیټه حمل لری نو د اولنی آیت مطابق د هغوئ عدت وضع د حمل ده، برابره خبره ده که د خاوند د وفات په وجه عدت وی او که د طلاق په وجه۔ لکه د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل دی، هغه

فرمائي: ((وړوکې سورتِ نساء (يعني سورتِ طلاق) د اُوږد سُورتِ نساء نه روستو نازل شوې)) [بخاري: ۴۵۳۲، ۴۹۱۰] لهذا روستنۍ به په اول کښې تخصيص راولي. نو په دې **تطبيق** سره د دواړو آيتونو ترمينځه تعارض ختم شو.

❁ او که ښځه حامله نۀوه نو بيا به څلور مياشتې او لس ورځې عدت تيره وي، برابره ده چه خاوند ورسره نزديکت کړې وي يا د نزديکت او وادۀ نه مخکښې وفات شوې وي. او ددې قسم عدت حکم دا دې چه ښځه به په دې موده کښې خاوند باندې غم ښکاره کوي چه دې ته اِحداد (يعني ماتم) وائي، يعني ډول او سينګار به نۀ کوي، د خاوند د کور نه به بهر نۀ اُوځي. دا پرې د خاوند حق دې.

(۲) **عدة الطلاق** : (أ) کومې زنانه ته چه خاوند طلاق ورکړې وي او د هغې حيض راځي نو د هغې د عدت موده درې حيضونه دي، يعني هغه به تر درې حيضونو راتللو پورې د خاوند په کور کښې وي کوم ځائې چه طلاق ورکړې شوې وي، د هغه کور نه بهر نۀ اُوځي او نۀ به بل چا سره نکاح کوي. (ب) که ښځه ذوات الحيض نه نۀ وه، يعني د هغې حيض د کم عمرۍ، يا شنډ کيدو، يا بوډۍ والي په وجه حيض نۀ راځي نو د هغې عدت د درې حيضونو قائمقام درې مياشتې دې. بيا که داسې زنانه ته رجعي طلاق ورکړې شوې وي نو د هغې دپاره سکنی او نفقه دواړه شته، هغه به د خاوند په کور کښې وي او ډول او سينګار به هم کوي دې دپاره چه خاوند ورته بيرته رجوع وکړي.

(۳) **عِدَّةُ الاسْتِبْرَاء** : که يوه وينځه د کافرانو نه ونيولې شوه نو که هغه وادۀ شوې وه نو د هغې عدت يوه مياشت انتظار کول دي، دې دپاره چه د هغې د رَحِم صفائي معلومه شي چه چرته د بل چا په اولاد مشغول نۀ وي.

(٤) **عدة الطلاق المغلظ** : کله چه يوه ښځه په مغلظ طلاقو سره طلاقه شوه يعني آخري دريم طلاق هم ورکړې شو، او د احنافو په نيز طلاق بائن هم دې نو ددې حکم دا دې چه يو آخري حيض به تير کړي او پدې موده کښې به ډول وغيره نۀ کوي، او دا عدت ددې دپاره تيروي چه د رَحِم صفائي معلومه شي. آيا ددې ښځې دپاره نفقه او سکنیٰ شته که نه؟ پدې کښې اختلاف دې چه روستو حديث کښې ئې تفصيل راروان دې.

تنبيه : کومې زنانه سره چه نکاح وشوه او د وادۀ نه مخکښې طلاقه شوه نو د هغې هيڅ عدت نشته. لکه قرآن کريم کښې دي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ

طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَالَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ﴾ (الاحزاب: ۴۹)

دارنګه مخکښې تیر شو چه د ایلاء نه روستو عدت نشته کله چه ایلاء د څلورو میاشتو نه زیاته شوی وی.

د عدت په ورځو کښې په خاوند باندې نفقه او سکنیٰ واجب نهٔ ده

الفصل الأول

3324 (1) - عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ : أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ الشَّعِيرَ فَسَخِطَتْهُ فَقَالَ : وَاللَّهِ مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ فَجَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ : " **لَيْسَ لَكِ نَفَقَةٌ** " فَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ ثُمَّ قَالَ : " **تِلْكَ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي اِعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى تَضَعِينَ ثِيَابَكِ فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي** ". قَالَتْ : فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي فَقَالَ : " أَمَّا أَبُو الْجَهْمِ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ اِنْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ " فَكَرِهْتُهُ ثُمَّ قَالَ : " اِنْكِحِي أُسَامَةَ " فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا وَاغْتَبَطْتُ وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهَا : " **فَأَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَرَجُلٌ ضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ** ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِي رِوَايَةٍ : إِنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : " **لَا نَفَقَةَ لَكِ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا** ".

ترجمه : ابو سلمهٔ بن عبد الرحمنؒ د فاطمې بنت قیس رضی الله عنها نه روایت کوی چه (ددې خاوند) ابو عمرو بن حفص دې ته بته طلاق ورکړل او هغه ترې غائب وو، نو هغې ته د هغهٔ وکیل وربشې ولیږلې نو هغه پرې غصه شوه. (چه دا زهٔ نهٔ قبلوم زما زیات حق کیږی) نو هغه (وکیل) ورته ووئیل : قسم په الله ستا دپاره په مونږ باندې هیڅ حق نشته. نو هغه رسول الله ﷺ ته راغله او دا خبره ئې ورته ذکر کړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ستا دپاره نفقه نشته. بیا ئې هغې ته حکم وکړو چه د ام شریک رضی الله عنها په کور کښې عدت تیر کړی، بیا ئې ووئیل : (دلته عدت مهٔ تیره وه ځکه) دا یو ښځه ده چه دې کره زما ملګری راځی. (میلمه دوسته ده) تهٔ د ابن ام مکتوم په خوا کښې عدت تیر کړه ځکه چه دا یو ړوند سړې دې چه تهٔ به خپلې (زیاتی) جامې (د هغهٔ په خوا کښې) اړدې،

(نو هغه به تا نۀ وینی) بیا هرکله چه ستا عدت پوره شی نو ما ته خبر راکړه. هغه وائی : هرکله چه زۀ د عدت نه ووتلم. نو ما ورته دا خبره ذکر کړه چه معاویه بن ابی سفیان ﷺ او ابو جهم ﷺ په ما باندے جرګه کړیده نو هغۀ وفرمایل : هرچه ابو جهم دے نو هغه خپله امسا د اوګی نه ښکته نۀ اردی، او هرچه معاویه ﷺ دے نو هغه فقیر دے چه هیڅ مال ورسره نشته (نو ستا نفقه نشی برداشت کولے) تۀ د اسامه بن زید سره نکاح وکړه. (هغه وائی) نو ما هغه بد وګڼړلو (ځکه چه هغه د یو غلام ځوی وو) بیا نبی کریم ﷺ وفرمایل : د اسامه سره نکاح وکړه نو ما د هغۀ سره نکاح وکړه نو الله تعالیٰ پدے کښے ډیر خیر واچولو، او ما ته پسخیدل وکړے شول. (یعنی نورے زنانه به ما ته پسخیدلے، رشك به ئے کولو چه مونږ د اسامه سره نکاح کړے وے) او په یو روایت کښے د هغے نه نقل دی : (نبی ﷺ وفرمایل) هرچه ابو جهم دے نو داسے سړے دے چه د ښځو ډیر وهونکے دے. (مسلمؒ) او په یو روایت کښے دی : ددے خاوند دے ته درے طلاقه ورکړل نو هغه نبی کریم ﷺ ته راغله نو هغۀ ورته وفرمایل : ستا هیڅ نفقه نشته البته که تۀ حامله ئے (نو بیا تا لره نفقه شته).

تشریح : فاطمه بنت قیس بن خالد الفهریه ﷺ د ضحاك بن قیس ﷺ خور ده، د هغۀ نه مشره ده، او مشهوره صحابیه ده او د مهاجراتِ اوّل نه ده. ابن عبد البرّ وائی : دا د اولنو مهاجراتو نه وه او د ښائست او عقل خاونده وه. د عمر فاروق ﷺ د شهادت په وخت ددے په کور کښے شوریٰ والا راجمع شوی وو. دا اول کښے د ابوعمرو بن حفص بن مغیره په نکاح کښے وه بیا هغۀ ورته طلاق ورکړل نو د هغے نه روستو ئے د اسامه بن زید ﷺ سره نکاح وکړه.

[أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ] . جمهور وائی چه دا ابوعمرو بن حفص دے، او بعض وائی : ابو حفص بن عمرو دے. ددۀ په نوم کښے اختلاف دے، اکثر وائی چه عبد الحمید ئے نوم وو. نسائیؒ وائی : احمد وو. بعض وائی : دا کنیه ئے نوم هم وو. (قاله النوویؒ) قرطبیؒ اول قول ته محفوظ وئیلے دے. دا د خالد بن ولید ﷺ د ترۀ ځوی دے.

اصابه کښے دی : دا د علی بن ابی طالب ﷺ سره د نبی ﷺ په زمانه کښے یمن ته لاړو نو هلته وفات شو. او ځینی وائی چه راواپس شو بیا د شام فتوحاتو ته حاضر شوے وو. (اصابه : ۲۶۶/۱۱) لیکن د مسلم د آخر نه معلومیږی چه دا پدے سفر کښے وفات

شوې وو، پس د هغې نه چه دې خپلې بي بي ته طلاق رالیږلی وو. (فتح الباري: ۵۹۹/۱۰)

[طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ]۔ یعنې بته طلاق ئې ورکړی وو. امام نوويؒ فرمائي: پدې باره کښې مختلف الفاظ نقل دي: یو روایت کښې دي: [طَلَّقَهَا ثَلَاثًا]۔ په بل کښې دي: [طَلَّقَهَا آخِرَ ثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ]۔ په بل کښې دي: [طَلَّقَهَا طَلْقَةً كَانَتْ بَقِيَتْ مِنْ طَلَاقِهَا]۔ په بل کښې دي: [طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ]۔ په بل کښې: [طَلَّقَهَا]۔ مطلق ذکر دي، چه شمار وغیره ورسره نۀ دي ذکر شوې. نو ددې روایتونو جمع او تطبیق دا دې چه ابوعمرو بن حفص خپلې بي بي ته مخکښې دوه طلاقه ورکړي وو (په بیله بیله میاشت کښې) نو اُوس پدې دریم ځل ئې ورته دریم طلاق راولیږلو نو چا چه مطلقاً طلاق ذکر کړې، یا ئې یو طلاق ذکر کړې، یا ئې آخري دریم طلاق ذکر کړې نو دا خبره ظاهره ده. او چا چه (البته) ذکر کړی نو د هغې مقصد دا دې چه داسې طلاق ئې ورکړو چه پدې سره ئې د هغې نکاح قطع کړه ځکه چه په دریم طلاق سره درې طلاقه پوره شول. او چا چه درې طلاقه ذکر کړي نو د هغۀ مراد دا دې چه په دې دریم سره درې پوره شول. (قاله النوويؒ شرح مسلم: ۹۵/۱۰ والبحر المحیط الثجاج)

[فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ]۔ (وکیلُه فاعل د اَرْسَلَ دې) هرکله چه ښځه طلاقه شي نو سنت یا واجب (علی اختلاف القولین) دا دي چه هغې ته به متعه (یعنی یوه جوړه یا وریشې یا نور څه سامان) ورکولې شي، نو ابوعمرو خپل وکیل ته وویل چه تۀ فاطمې ته وریشې یوسه، چه دا په بل روایت کښې پنځه صاعه (یعنی تقریباً یولس کیلو) کهجورې او په پنځه صاعه وریشې ذکر دي.

او په بل روایت کښې دي چه دوه کسان ئې وکیلان جوړ کړل یو عیاش بن ابي ربیعه او بل حارث بن هشام. نو ظاهر دا ده چه اول ئې عیاش مقرر کړو او بیا ئې د تاکید دپاره د هغۀ سره حارث بن هشام ملګرې کړو. او دلته ئې وکیل لفظ ذکر کړې نو دا مفرد مضاف دې چه عموم معنیٰ ورکوي نو دواړو ته شاملیږي.

[فَسَخِطَتْهُ]۔ نو فاطمه ؓ پدې وریشو او کهجورو باندې غصه شوه او دا ئې بد وګڼړل. د هغې خیال دا وو چه ګنې دا زما نفقه ده، حال دا چه دا زما نۀ کافي کیږي، نو په بل روایت د مسلمؒ کښې دي: دې وویل: آیا زما صرف همدا نفقه ده؟ او زۀ به ستاسو په

کور کښې عدت نهٔ تیروم، نو وکیل ورته ووېل: نه۔ په روایت د ابوسلمهٔ کښې دی: دې ووېل: خامخا زهٔ به رسول الله ﷺ ته خبر ورکوم که چرته زما نفقه وی نو زهٔ به دومره اخلم چه زما کافي کیږی او که زما دپاره نفقه نهٔ وی نو هیڅ شے به ددهٔ نه نهٔ اخلم۔ [مَالَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ] - یعنی ستا په مونږ باندې هیڅ حق نشته نهٔ نفقه او نهٔ سکنیٰ (استوګنه) ځکه چه ستا درې طلاقه پوره شول اُوس تهٔ بائنه شوې، په بل روایت کښې دی: ستا په مونږ نفقه نشته مګر که تهٔ حامله ئې (نو بیا به نفقه درکوو)۔

هرکله چه دا رسول الله ﷺ ته راغله نو هغهٔ ورته وفرمایل: چه ستا درې طلاقه پوره شول لهذا ستا د نفقې حق نشته۔ په روایت د ابو سلمه بن عبد الرحمن کښې دی چه خالد بن ولید ﷛ د بنو مخزوم د څه کسانو سره لاړو او تپوس ئې وکړو۔ نو د دواړو روایتونو تطبیق دا دې چه فاطمه د خالد بن ولید د څه کسانو سره شریکه لاړه او خالد تپوس وکړو او فاطمې واوریدو نو ځکه دواړو ته نسبت کیږی۔

[أَنْ تَعْتَدَّ] یعنی په روایاتو کښې دا نهٔ دی راغلی چه مغلظه مطلقه به څومره عدت تیروی، پدې وجه پدې کښې د اهل علمو اختلاف دې،

(۱) جمهور علماء وائی چه پدې باندې هم درې حیضه یا ددې قائمقام درې میاشتې دی که چرته حیض ئې نهٔ وو۔

د دوئ دلیل عموم د آیت دې: ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ﴾ [البقرة :۲۲۸]۔ (طلاقې کړې شوې زنانه به په خپلو ځانونو انتظار کوی درې حیضونه) نو دلته طلاقې شوې ښځې عامې دی چه په رجعی طلاقو طلاقې شوی، یا په بینونتِ صغریٰ یا بینونتِ کبریٰ سره، ټولې به درې میاشتې تیرې وی۔ او همدا قول راجح دې۔

(۲) بعض علماء فرمائی: دږې طلاقه چه د کومې زنانه پوره شول نو په هغې باندې عدت صرف یو حیض یا یوه میاشت کافي دې۔ ځکه چه درې حیضونه عدت د خاوند د رجوع دپاره دی او دلته خو د خاوند رجوع ختمه شوه لهذا د استبراء الرحِم (د رَحِم د صفائی) دپاره به یو حیض عدت تیر کړی او بس۔ لیکن دا علت ذکر کول د ظاهر د آیت سره معارض دی۔ بله دا چه د کومې زنانه چه خاوند وفات شی نو د هغې عدت څلور میاشتې او لس ورځې دې، هلته هم خاوند رجوع نشی کولې او بیا هم شریعت دغه موده مقرر کړه، معلومیږی چه دا د خاوند حق او د الله تعالیٰ امر دې۔ انظر [زاد المسیر لابن

الجوزی : ۱ / ۱۶۰، احکام القرآن للجصاص : ۲ / ۶۲]۔

[أُمّ شَرِيْك] ـ ددے نوم غزيه يا غزيله بنت داود دے، دا قريشيه عامريه صحابيه ده، د مسلم په يو روايت كښے دى : [وَأُمُّ شَرِيْكٍ امْرَأَةٌ غَنِيَّةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ عَظِيْمَةُ النَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، يَنْزِلُ عَلَيْهَا الضِّيْفَانُ] ـ (ام شريك د انصارونه مالداره ښځه ده، د الله تعالىٰ په لاره كښے ډيرے نفقے كوى، هغے كره ډير ميلمانهٔ راځى) ميلمه دوسته ده۔

نو ظاهر دا ده چه دا د انصارو نه ده۔

[ثُمَّ قَالَ] نبى عليه السلام زر خپله خبره بدله كړه، دے نه معلوميږى چه دا د رسول الله ﷺ رائے وه او دا وحى نهٔ وه۔ په بل روايت كښے دى : نبى عليه السلام فاطمے رضي الله عنها ته وفرمايل : ام شريك كره ډير ميلمانهٔ راځى نو زهٔ بده ګنړم چه ستا لوپټه به پريوزى يا به ستا د پنډو نه جامه لرے شى نو خلك به ستا بعض هغه اندام ووينى چه تهٔ ئے بد ګنړے ليكن تهٔ د خپل ترهٔ ځوى عبد الله بن ام مكتوم كره عدت تير كړه۔

په بل روايت د مسلم كښے دى : بيا ئے فاطمے پسے استازے وليږلو چه ام شريك كره مهاجرين اولين راځى نو تهٔ ابن ام مكتوم كره لاړه شه))۔ [تَضَعِيْنَ ثِيَابَكِ] ـ تهٔ به خپلے (زياتى) جامے د ابن ام مكتوم كره لرے كوے نو هغه به تا نهٔ وينى۔ [ابْنِ أُمِّ مَكْتُوْمٍ] ـ ددهٔ په نوم كښے ډير اختلاف دے، مشهوره دا ده چه نوم ئے عبد الله بن قيس بن زائده بن الاصم العامرى رضي الله عنه دے۔ مګر اكثر علماء وائى چه ددهٔ نوم عمرو بن قيس بن زائدة دے، محمد بن سعدؒ كاتب الواقدىؒ وائى : اهلِ مدينه ورته عبد الله وائى او عراق والا ورته عمرو وائى۔ ابن حبانؒ وئيلى دى چه ددهٔ نوم حصين وو، رسول الله ﷺ ورته عبد الله نوم كيخودو۔ دا د خديجے رضى الله عنها د ماما ځوى دے۔

[فَإِذَا حَلَلْتِ] ـ يعنى كله چه ستا عدت تير شى۔ او تهٔ د نكاح دپاره حلاله شے۔ [فَآذِنِيْنِيْ] ـ يعنى ما ته خبر راكړه او په خپله خوښه وادهٔ مهٔ كوه۔ يعنى زهٔ به مشوره دركړم۔ ددے نه معلومه شوه چه بائنے ښځے ته د نكاح تعريض جائز دے۔ [معاوية بن ابى سفيان] ـ دا مشهور صحابى سيدنا امير معاويه رضي الله عنه دے۔ چا چه دا وئيلى چه دا بل معاويه دے نو دا غلط دے۔ (نووىؒ) [صُعْلُوْكٌ]۔ يعنى فقير دے۔ دومره مال ورسره نشته چه تا له ئے په مهر كښے دركړى او ستا نفقه برداشت كړى۔ [أَبَا جَهْمٍ] ـ دا هغه صحابى دے چه په حديث د انبجانيه كښے راغلے دے، يعنى دهٔ رسول الله ﷺ ته شړئ په هديه

کښې ورکړې وه بیا ورته نبی ﷺ واپس کړه، او د هغې په بدله کښې ئې ترې زیړه شړئ واخسته. دا ابو جهم بن حذیفه القرشی العدوی دے. (نوویؒ) [عَاتِقِهٖ]. دا د څټ او اُوګے ترمینځ ځائے دے. ددے دوه مطلبه دی (۱) یو دا چه دا [كَثِيْرُ الْأَسْفَارِ] دے، یعنی زیات سفرونه کوی. ځکه چه مسافر ځان سره امسا ګرځوی.

(۲) [كَثِيْرُ الضَّرْبِ لِلنِّسَاءِ]. ښځې ډیرے وهی. او دا تفسیر زیات صحیح دے ځکه چه د مسلم په بل روایت کښې دا راغلی دی: [ضَرَّابٌ لِلنِّسَاءِ] دا ښځې ډیرے وهی.

فوائد: ۱- دے نه دا فائده معلومه شوه چه څوك تا نه مشوره اخلی او خیر خواهی طلب کوی د یو چا په باره کښې نو د هغه انسان عیب ذکر کول جائز دی، او پدے کښې خیر خواهی ده. او دا په حرام غیبت کښې نهٔ داخلیږی بلکه دا واجبه خیرخواهی او امانت ادا کول دی. ځکه چه عیب ذکر کولو کښې لږ ضرر دے او بل طرفته دغه انسان ته ډیر ضرر دے. دارنګه دا عیب ذکر کول د هغهٔ د تنقیص او سپکاوی دپاره نهٔ دی بلکه اِخبار او خیرخواهی ده.

۲- او معلومه شوه چه د ادب دپاره د زنانو وهل جائز دی. لیکن ډیر او سخت وهل به نهٔ وی چه هغوی زخمی کړی یا ورله هډوکے مات کړی. او کومه زنانه چه د خاوند نه نشوز او نافرمانی کوی نو د هغے د وهلو په جواز کښې اتفاق دے. د خاوند د کور په خدمت باندے هم وهلے شی کله چه ددے نه انکار کوی. او دا د بعض علماؤ قول دے او راجح دے.

[اِنْكِحِيْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ] بن شراحیل الکلبی الامیر الصحابی ابن الصحابی حِبُّ رسول الله ﷺ وابن حِبه رضی الله عنهما. ابو محمد وابوزید.

د (۷۵) کالو په عمر په سنه (۵٤ هـ) کښې وفات شوے. دا حدیث دلیل دے چه د غلام نکاح د قریشیه زنانه سره کول جائز دی، ځکه چه اسامه ﷺ آزاد کړے شوے غلام وو او فاطمه قریشیه وه، معلومه شوه چه کفاءت صرف په دین کښې معتبر دے نهٔ په نسب او مال وغیره کښې. او عبد الرحمن بن عوف ﷺ خپله خور بلال حبشی ﷺ ته ورکړے وه. (دارقطنیؒ) [المفهم: ۱۳/۱۰۲].

[فَكَرِهْتُهٗ] دا په صیغه د متکلم سره یا په صیغه د غائب سره دے، یعنی ما اسامه بد وګڼړلو چه زهٔ قریشیه یم او دا یو آزاد کرده تور رنګے غلام دے. دا طبعی بد ګڼړل دی. د

مسلمان سپکاوے نۀ دے۔ [ثُمَّ قَالَ اِنكِحِيْ أُسَامَةَ]۔ نبي ﷺ ورته دوباره او بل روايت کښې دی چه درے کرته ووېل چه اسامه سره نکاح وکړه۔ په يو روايت کښې دی: هرکله چه زما عدت تېر شو نو عبد الرحمن بن عوف او د نبي ﷺ بعض نور ملګرو زما جرګه وکړه او رسول الله ﷺ زۀ د اسامه دپاره وغوښتم او ما ته مخکښې نه دا خبره بيان شوې وه چه رسول الله ﷺ فرمايلي وو: [مَنْ أَحَبَّنِيْ فَلْيُحِبَّ أُسَامَةَ]۔ څوك چه ما سره مينه لري نو هغه دِے د اسامه سره مينه وکړي۔ نو هرکله چه ما سره رسول الله ﷺ خبرے وکړے نو ما ورته ووېل: چه زما اختيار ستا په لاس کښې دے، تۀ چه څوك غواړے ما په نکاح ورکړه۔ په يو بل روايت کښې دی: هرکله چه رسول الله ﷺ ورته اسامه ذکر کړو نو دے په لاس سره اشاره وکړه چه: اسامه اسامه! (سره به زۀ نکاح کوم) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: [طَاعَةُ اللّٰهِ وَطَاعَةُ رَسُوْلِهٖ خَيْرٌ لَكِ]۔ د الله تعالىٰ او د هغۀ رسول طاعت ستا دپاره ډېر بهتر دے۔ هغه وائي: نو ما د اسامه سره نکاح وکړه۔

[وَاغْتُبِطْتُ بِهٖ]۔ او ما ته پسخېدل وکړے شول په اسامه باندے۔ نورو زنانو به وئيل چه ارمان مونږ د اسامه سره نکاح کړے وے۔ غبطه: ۱- پسخېدل، رشك ۲- او حُسن الحال او مسرت (خوشحالئ) ته وائي۔ نو معنىٰ به دا وی: چه زما حال ښۀ شو په سبب د نکاح زما د اسامه سره۔ او زۀ په اسامه باندے خوشحاله شوم۔ [المصباح المنير: ۲/۴۴۲، القاموس المحيط: ۲/۳۷۵]۔ رسول الله ﷺ فاطمے ته ولے د اسامه په نکاح باندے تيزي ورکړه؟ ددے وجه دا ده چه رسول الله ﷺ ته د اسامه دينداري، فضيلت، او ښائسته کارنامے، او ښکلے اخلاق او عادات معلوم وو نو دائے د فاطمے دپاره مناسب وګڼړلو، ځکه چه هغے ته په طلاقو باندے ضرر رسيدلے وو، کيدے شي چه بل خاوند ئے هم طلاقه کړي، نو داسے خوش اخلاقه خاوند سره به ددے ژوند ښائسته شي۔ پدے وجه فاطمه ﷺ وائي چه الله تعالىٰ په اسامه کښې ما دپاره ډېر خيرونه واچول۔

فوائد: د ذکر شوو نه علاوه نور فوائد دا دی: ۱- بته طلاق ورکول جائز دی، يعني چه په بيلابيل طهر کښې يو يو طلاق ورکړي نو په درے طهرونو کښې درے طلاقه شو چه پدے سره به ښځه مغلظه طلاقه شي۔ دلته رسول الله ﷺ په ابوعمرو بن حفص باندے رد ونکړو چه تا ولے دے له بته طلاق ورکړيدی۔ نو ديته جائز طلاق وائي۔ (۲)- [يَغْشَاهَا أَصْحَابِيْ]۔ (ام شريك کره زما صحابه راځي) دا دليل دے چه بو ډۍ ښځه چه

نيك عملـه وي دے كره د سړو راتلل جائز دي چه ددے په كور كښے خبرے اترے كوي، او دے دپاره هم جائز دي چه د سړو كورونو ته ورشي او دا هغوي ته وګوري او هغوي دے ته وګوري- ځکه چه په لغت كښے د غشيان معنىٰ ده : اِلمام (نزول) او ورود (ورتلل) او د هغے په خوا كښے خبرے اترے كول- قاله في [الاستذكار ۱۸/۷٦-۷۷]-

(۳) [تَضَعِينَ ثِيَابَكِ]- په بل روايت كښے دي : [وَلَا يَرَاكِ]- او هغه به تا نۀويني- دا دليل دے چه د سړي نظر پردئ ښځے ته جائز نۀ دے، ځکه چه پدے كښے فتنه زياته ده- او كه ښځه پردي سړي ته د عورت نه علاوه وګوري نو دے كښے دومره سختي نشته- او كوم روايت كښے ئے چه ميمونه او ام سلمه ته وئيلي وو چه [أَفَعَمْيَاوَانِ أَنْتُمَا أَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ] - (آيا تاسو ړندے يئ، آيا تاسو ابن ام مكتوم نۀ وينئ-

نو ددے يو جواب دا دے چه دا روايت ضعيف دے پدے كښے نبهان مولى ام سلمه ضعيف دے، دويم كه صحيح شي نو دا د ازواج مطهراتو په باره كښے پرده ده، او هغه سخته وه- او ام شريك خو د ازواج مطهرات نه نۀ وه- او دے خبرے ته ابوداود او د حديثونو نورو امامانو اشاره كړيده- [المفهم : ٤/٢٤٠، البحر المحيط الثجاج : ٢٦/٢٢٠]

او ددے وجه دا ده چه سړو دپاره په هيڅ حديث كښے دا نۀ دي نقل شوي چه دوئ كله بهر اُوځي نو مخونه به پټوي او د صحابه كرامو د زمانے نه زنانه په نقاب او حجاب كښے مساجدو او بازارونو ته راوځي- معلومه شوه چه د سړو مخونه د زنانو دپاره داسے دي لكه د اَمرَد (بے ګيرې) هلك مخ د سړو په نسبت چه كله ترے فتنه ولاړيده نو نۀ به ګوري او كه فتنه نۀ وه نو زنانو له د سړو مخونو ته كتل جائز دي- او دا مذهب د امام بخاريؒ، او امام غزاليؒ دے او حافظ ابن حجرؒ پدے اقرار كړيدے- [نفس المصدر]-

او وجه ئے مخكښے بيان شوه چه د ښځے شهوت په لمس سره پيدا كيږي او د سړي په نظر سره راپورته كيږي-

(٤) [خَطَبَانِي]- په حديث كښے خو د بل چا په جرګه باندے جرګه كولو نه منع راغلے نو دلته څنګه رسول الله ﷺ اسامه دپاره جرګه وكړه ؟ نو دا حديث دليل دے چه د هغه حديث مطلب دا دے چه كله د زنانه ميلان يو طرف ته وي نو د هغے دپاسه به څوك جرګه نۀ كوي- او كله چه د زنانه هيڅ طرف ته ميلان نۀ وي، هغه شكئ وي چه د چا سره نكاح وكړم نو بيا منع نشته، نو پدے وجه رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د اسامه

سره نکاح وکړه۔ (۵) دارنګه که یوے زنانه باندے جرګه وشوه او هغے لا چا ته جواب نهٔ دے ورکړے نو په هغے باندے جرګه کول جائز دی۔ او که هغوی سره خبره شروع وه نو بیا به جرګه نهٔ کوی۔

(٦) [صُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ] ۔ نه معلومه شوه چه د نکاح دپاره مال ضروری دے، او فقر د نکاح کونکی سړی عیب دے، که چرته د نکاح په وخت دا ښکاره شو یا ښځے ته پته وه چه زما دا خاوند فقیر دے او بیا هم په نکاح راضی شوه نو نکاح جائز ده۔

(۷) ښځه ډیره وهل عیب دے، چه دا سبب د منع د نکاح دے۔ البته که ښځه راضی وه نو بیا جائز ده۔ (۸) د غائب سړی طلاق هم جائز دے۔

(۹) په حقوقو او قبض او ورکړه کښے توکیل (وکیل جوړول) جائز دی۔

(۱۰) په استفتاء وغیره کښے د پردئ ښځے او پردی سړی خبرے آوریدل جائز دی۔

(۱۱) د عدت د کور نه بهر وتل د ضرورت په وخت جائز دی۔

(۱۲) د عربو محاورات استعمالول جائز دی لکه [لَا يَضَعُ الْعَصَا عَنْ عَاتِقِهِ]۔ دے ته بعض خلك مجاز وائی۔

(۱۳) د چا په خیر خواهئ کښے تکرار کول بهتر کار دے، کله چه یو تن ته په هغے کښے د بل دپاره فائده ښکاری۔ لکه فاطمے ته ئے بار بار وویل چه اسامه سره نکاح وکړه۔

(۱٤) د اهل فضل او عقلمنو مشوره منل او د هغوی اشارے ته تسلیمیدو انجام ښه وی۔ (۱۵) د تقویٰ او فضیلت والا خلکو په ملګرتیا باندے حرص کول پکار دی اګر که د هغوی نسب کمزورے وی۔

(۱٦) میلمه او زیارت له راغلی شخص اکرام کول او د هغوی میلمستیا کول ډیر بهترین صفت دے، او د هغوی په ښائسته طعام او څکاك سره اکرام کول برابره ده چه میلمه سړے وی یا ښځه۔ (البحر المحيط الثجاج)

3325 (2) — وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : إِنَّ فَاطِمَةَ كَانَتْ فِيْ مَكَانٍ وَحْشٍ فَخِيْفَ عَلٰى نَاحِيَتِهَا فَلِذٰلِكَ رَخَّصَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِي النُّقْلَةَ وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَتْ : مَا لِفَاطِمَةَ ؟ أَلَا تَتَّقِي اللّٰهَ ؟ تَعْنِيْ فِيْ قَوْلِهَا : لَا سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةَ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

3326 (3) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ : **إِنَّمَا نُقِلَتْ فَاطِمَةُ لِطُوْلِ** لِسَانِهَا عَلٰى

أَحْمَائِهَا. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : يقيناً فاطمه بنت قيس په يو شاړ ځائے كښے وه نو د هغے په اړخ باندے يره كيدے شوه نو پدے وجه نبي ﷺ هغے ته رخصت وركړو يعني په نقل كيدو كښے (ددے ځائے نه) او په يو روايت كښے دي : وے فرمايل : فاطمے له څه شويدى ؟ آيا هغه د الله تعالىٰ نه نۀ يريږي ؟ يعني پدے خبره خپله كښے چه وائي : (ددے دپاره) نۀ رهائش شته او نۀ نفقه۔ (بخاريؒ) او سعيد بن مسيبؒ فرمائي : فاطمه (د خاوند د كور نه) نقل شوه څكه چه ددے ژبه ددے په ليورونو باندے اُوږده وه۔ (شرح السنه)

تشريح : [مَكَانٍ وَحْشٍ]۔ يعني يواځے خالي مكان وو۔ [فَخِيفَ عَلَى نَاحِيَتِهَا] په هغے باندے د هغے د اړخ نه يره وه چه څوك به پرے راواوړي او عزت به ئے خراب شي۔ د ناحية نه مراد د فاطمے ناحيه ده، او د مكان والا ناحيه نۀ ده مراد۔ يعني د هغے په اړخ او سائيډ باندے يره وه۔

دا اثر د عائشے رضي الله عنها او قول د سعيد بن المسيبؒ جواب د سوال دے، **سوال** : فاطمے ته رسول الله ﷺ ولے حكم وكړو چه د ام شريك په كور كښے عدت تير كړي، او د خاوند د كور نه ولے لاړه؟ حال دا چه عدت خو د خاوند په كور كښے تيرول ضروري وي ؟

جواب : ددے درے وجوهات دي۔ يو دا چه په روايت د مسلم كښے دي چه فاطمے وويل : ما ته خاوند درے طلاقه راكړل : [وَأَخَافُ أَنْ يُقْتَحِمَ عَلَيَّ، قَالَ : فَأَمَرَهَا فَتَحَوَّلَتْ]۔

او زۀ يريږم چه هغه به په ما باندے راداخل شي.(نو زنا كښے به واقع شي) نو نبي عليه السلام ورته حكم وكړو چه بل ځائے ته لاړه شه نو هغه د خاوند د كور نه نقل شوه۔ دويم : پدے روايت كښے راغلل چه د خاوند دا كورئے په يواځے ځائے كښے وو، ددے عزت ته خطره وه، پدے وجه رسول الله ﷺ اجازه وركړه چه د ابن ام مكتوم كره عدت تير كړي۔ **دريم** : سعيد بن مسيبؒ وائي چه د فاطمے به د خاوند په كور كښے جګړے راتللے څكه چه ددے ژبه كښے اُوږد والے وو۔ ليكن دا وجه خطاء ده۔ يو خو فاطمه بنت قيس رضى الله عنها پخوانۍ مسلمانه او د اولنو مهاجراتو نه وه۔

دويم دا چه هركله داسے بد ژبانه وي نو بيا رسول الله ﷺ د خپل محبوب اسامه بن زيد دپاره ولے په نكاح غوښته۔

دريم دا چه كه داسے وے نو بيا نور وصحابه كرامو پدے باندے جرګے ولے كولے، او خپل

رغبتونه ئے ددے په نکاح کښے ولے ښکاره کول۔

څلورم دا چه کـه دا زبان درازه وے نو نبی علیه السلام به ورته وئیلی وے چه د عدت د زمانے پورے خوله بنده کړه دے دپاره چه د هغۀ د کور نه ونۀ وځی نو دے به خامخا خبره منلے۔ لهذا دا خبره خطاء شوه۔

پنځم دا چه دا قول د سعید بن المسیب نۀ د نبی ﷺ نه نقل دے او نۀ د یو صحابی نه بلکه ددۀ خپله رائے ده، پدے وجه میمون بن مهران ورسره مناظره وکړه چه تۀ دا خبره څنګه کوے حال دا چه فاطمه رضي الله عنها خو د متقیانو او مهاجراتو نه ده، هغے ته رسول الله ﷺ فتوه ورکړے چه تـۀ بهر شه او زمونږ دپاره په رسول الله ﷺ کښے ښائسته اقتداء ده۔ نو سعیدؒ ئے غلے کړو۔ لهذا که څوك دا وجه ذکر کوی نو دا به د فاطمے رضي الله عنها په غیبت او بهتان کښے داخلیږی۔

او ډیره عجیبه لا دا ده چه بعض مفسرینو وئیلی چه ﴿وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ﴾ (الطلاق:۱) د فاطمه بنت قیس په باره کښے نازل دے چه ددے ژبه کښے تیزی وه او خپلو لیورونو ته به ئے ضرر ورکولو۔ حال دا چه دا خبره نۀ په کوم صحیح حدیث سره ثابته ده او نۀ د عقل او نظر موافقه ده۔

[تَعْنِيْ فِيْ قَوْلِهَا] یعنی آیا نۀ ویریږی فاطمه یعنی پدے قول خپل کښے چه مطلقه بائنه او مغلظه دپاره نفقه او سکنیٰ نشته۔

مسئله : آیا بائنه یا مغلظه طلاقے شوے ښځے دپاره نفقه او سکنیٰ (استوګنه) شته؟ یعنی کومے ښځے له چه خاوند بائن طلاق ورکړے وی یعنی آخری دریم طلاق، نو هغے دپاره د عدت په زمانه کښے نفقه او استوګنے حق شته ؟ نو پدے کښے د علماؤ درے قوله دی : (۱) د احنافو رائے دا ده چه نفقه او سکنیٰ دواړه شته او دا رائے د عائشے رضي الله عنها او د عمر فاروق رضي الله عنه هم ده (صحیح مسلم : ۳۷۸۳)۔ او دا د ابن مسعود رضي الله عنه سفیان ثوریؒ او ابوحنیفۀ قول دے۔ او د بخاریؒ هم، (۲) امام شافعیؒ، او مالكؒ وائی او د امام احمدؒ نه یو روایت دے چه ددے ښځے دپاره سکنیٰ لازم ده لیکن نفقه ورله لازمه نۀ ده۔ او دا قول د مالکیه، شافعیه ؤدے، او ابن المنذرؒ دا غوره ګرځولے۔

(۳) قول دا دے چه ددے ښځے دپاره نۀ سکنیٰ شته او نۀ نفقه۔ او دا د علی، ابن عباس، جابر او فاطمه بنت قیس رضي الله عنهم قول دے۔ او په تابعینو کښے د عطاءؒ، طاووسؒ او حسن

بصریؒ قول او د امام احمدؒ، اسحق بن راهویهؒ، ابن حزمؒ، ابوثورؒ وغیره قول دے، او دیته علامه ابن عبد البرؒ، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، حافظ ابن قیمؒ او علامه شوکانیؒ ترجیح ورکړے۔ او همدا قول د دلیل په لحاظ **راجح** قول دے۔

د احنافو دلائل : دوئ په دے آیتِ کریمه استدلال کړے : ﴿لَاتُخۡرِجُوۡهُنَّ مِنۡ بُيُوۡتِهِنَّ وَلَايَخۡرُجۡنَ اِلَّا اَنۡ يَّاۡتِيۡنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ [الطلاق: ٤] نو دلته ئے د دوئ د ویستلو نه منع وفرمایله نو ددے نه معلومه شوه چه د دوئ دپاره نفقه او سکنیٰ واجبه ده۔

دارنګه فرمائی : ﴿اَسۡكِنُوۡهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ سَكَنۡتُمۡ﴾ [الطلاق: ٦] دلته ئے د سکنیٰ حکم کړے۔ او نفقه ورله ځکه لازمه ده چه دا د خاوند په سبب باندے د عدت په وجه بنده ده نو ددے نفقه به د خاوند په ذمه لازمه وی۔ [المغنی: ۱۱/۴۰۳]

او عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی : (مونږ د خپل رب کتاب او د خپل نبی سنت د یوے داسے ښځے دپاره نشو پریښودے چه مونږ ته معلومه نهٔ ده چه آیا هغے ته به دا حدیث یاد وی اوکه هیر، د هغے دپاره سکنیٰ او نفقه لازمه ده، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿لَا تُخۡرِجُوۡهُنَّ﴾ [مسلم: ۱۴۸۰]

نو د عمر رضی الله عنه ددے وینا نه ثابته شوه چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دے چه ددے دپاره نفقه شته دے۔ او د عمر فاروق رضی الله عنه چا مخالفت نهٔ دے کړے لهذا پدے باندے اجماع شوه۔

د احنافو په حدیث د فاطمه بنت قیس باندے اعتراضونه

احناف د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها په حدیث استدلال نکوی نو هغوی پدے باندے اعتراضونه کوی : (۱) یو دا چه دا د زنانه حدیث دے، او ددے روایت د سړو په مقابله کښے مقبول نهٔ وی، په دے باندے د خطاء او د نسیان احتمال شته۔

(۲) عمر بن الخطاب رضی الله عنه دا رد کړیدے په [لَانَدَعُ كِتَابَ رَبِّنَا] سره۔

(۳) دارنګه عائشے رضی الله عنها رد کړیدے پدے روایت د باب کښے : [اَلَّا تَتَّقِي اللّٰهَ تَعۡنِيۡ فِيۡ قَوۡلِهَا : لَا نَفَقَةَ لَهَا وَلَا سُكۡنٰى]

(۴) دا حدیث د قرآن کریم خلاف دے، ځکه چه په قرآن کریم کښے سکنیٰ ذکر ده لکه چه مخکښے بیان شو۔

(۵) بل دلیل قول د سعید بن المسیبؒ پیش کوی چه دا زنانه بد اخلاقه وه پدے وجه نبی علیه السلام ورله نفقه او سکنیٰ مقرر نکړه۔ لیکن حقیقت دا دے چه دا اعتراضونه

انتهائی درجه ضعیف دی۔ د اول نه **جواب** دا دے چه دا خبره خطاء ده چه د سړو حدیث د زنانـو پـه نسبت زیات قوی وی، دا قاعده په سلفو کښې د هیچا نه نقل نۀ ده، بلکه په باب د حدیثونو کښې د سړو او زنانو حدیث برابر وی، بلکه ډیرو ځایونو کښې د زنانو خبره صحیح وی د سړو د خبرے نه، لکه عمر فاروق رضی الله عنه بانـدے چه یو ے زنانه اعتراض وکړو په [أَلَا لَا تُغَالُوا فِي صَدُقَاتِ النِّسَاءِ] نو عمر فاروق رضی الله عنه وویل: زنانه ډیره پو هه شوه د سړی نه۔ او د خطاء او د نسیان نه خو امت کښې هیڅوك خالی نۀ دے۔

او فاطمه بنت قیس رضی الله عنها پـه حفظ او یادولو باندے مشهوره ده، هغې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دجال اُوږد حدیث واوریدۀ چه په منبر باندے ئے بیان کړو، او په یو ځل آوریدو سره ئے هغه حفظ کړے او امت ته ئے نقل کړے۔

بله دا چه: دا بی بی خپله د واقعے او استفتاء والا ده نو ددے نه څنګه خپله فتویٰ هیـره شی؟ دے وجے نـه دا صحیح حدیث دے چه په عذرونو سره ئے پریښودل جائز نۀ دی۔ د دویم نه **جواب** دا دے چه عمر فاروق رضی الله عنه کومه خبره کړے نو اول خو امام احمدؒ وئیلی دی چه دا د عمر فاروق رضی الله عنه نه بیخی نۀ ده ثابته،

ابو الحسن الدارقطنیؒ فرمائی: [بَلِ السُّنَّةُ بِيَدِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَطْعًا] د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت یقیناً د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها سره دے۔ او قول د عمر فاروق رضی الله عنه: [وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا] لـفظ اګرکه مسلم نقل کړے لیکن په دے باندے د حدیثو امامانو طعن کړے، لکه امام ابوداودؒ د امام احمدؒ نه پوښتنه وکړه: [تَذْهَبُ إِلَى حَدِيثِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا؟ قَالَ: نَعَمْ، فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ عُمَرَ رضي الله عنه: لَانَدَعُ كِتَابَ رَبِّنَا وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا. فَقَالَ: كِتَابُ رَبِّنَا أَيُّ شَيْءٍ هُوَ؟ قَالَ الرَّجُلُ: [أَسْكِنُوهُنَّ]، قَالَ: هٰذَا لِمَنْ يَّمْلِكُ الرَّجْعَةَ، قُلْتُ: يَصِحُّ هٰذَا عَنْ عُمَرَ؟ قَالَ: لَا] [المسائل، ص: ۱۸٤] دارقطنیؒ فرمائی: په دے کښې د [وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا] لـفظ محفوظ نـۀ دے ځکه دا حدیث د ثقاتو یو جماعت نقل کړے او په دے کښې ئے دا لـفظ نـۀ دے وئیلے۔ او همدا خبره حقه ده۔ [العلل: ۲/٤۱، العلل لابن أبی حاتم: ۱۳۱۷، فتح الباری: ۹/٤۸۱]

دا خو د دوئ استدلال وو۔ **دویم** دا چه کـه اُومنو چه ثابت دے نو دا د عمر فاروق رضی الله عنه خپـل اجتهاد دے، آیت او حدیث ورسره صراحةً نشته بلکه استدلال ئے کړے د آیت نه۔ او د عمر فاروق رضی الله عنه سره د نبی علیه السلام کوم سنت نـۀ وو، ګنـے هغه به ئے پیش کړے وے، او

کوم روایت چه هغهٔ ته منسوب دے چه هغهٔ وئیلی دی: [لَهَا السُّكْنٰى وَالنَّفَقَةُ] نو دا په اتفاق د امامانو ضعیف او باطل دے۔ عمر فاروق رضی الله عنه ددے نه بری دے۔
دارنګه یو طرف ته د فاطمه بنت قیس حدیث مرفوع دے چه نبی ﷺ ما ته ووئیل: [لَا نَفَقَةَ لَكِ وَلَا سُكْنٰى] نو د موقوف او مرفوع چه کله تعارض راشی نو په اتفاق د امت سره به مرفوع له ترجیح وی، دا وجه ده چه عبد الله بن عباس رضی الله عنه هم د عمر فاروق رضی الله عنه پدے مسئله کښے خلاف کړیدے نو د اجماع خبره هم خطاء شوه۔
د دریم نه جواب دا دے چه عائشے رضی الله عنها چه پدے روایت کښے تردید کړے (ألَا تَتَّقِي اللهَ) نو دا هم د هغے اجتهاد دے، د قرآن او حدیث نبوی نه ئے هیڅ دلیل نهٔ دے پیش کړے او بل طرفته مرفوع حدیث نبوی موجود دے۔
د څلورم نه جواب دا دے چه دا حدیث د قرآن کریم مخالف نهٔ دے ځکه چه آیتِ کریمه: ﴿لَا تُخْرِجُوْهُنَّ ......﴾ د مطلقے رجعیئے په باره کښے دے۔ او په دے باندے د قرآن سیاق دلالت کوی چه هغه دا قول دالله تعالیٰ دے: ﴿لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا﴾ [الطلاق: ۱] (دا نهٔ پوهیږی کیدے شی چه الله تعالیٰ دے نه پس یو نوے کار پیدا کړی) او د کوم کار د پیدا کیدو امید چه لرلے شی هغه په عدت کښے دننه رجوع کول دی۔ او دا صرف په رجعی کښے کیدے شی نهٔ په بائن کښے۔
او ددے تائید دادے چه د نسائیؒ په روایت کښے راځی: [إِنَّمَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنٰى لِلْمَرْأَةِ إِذَا كَانَ لِزَوْجِهَا عَلَيْهِ الرَّجْعَةُ] [نسائی: ٦/١٤٤، فتح الباری: ٩/٤٨٠]
او د بعض علماؤ په نیز ﴿اَسْكِنُوْهُنَّ﴾ آیت اګرکه عام دے، هرے مطلقے ته شامل دے۔ په رجعیه پورے خاص نهٔ دے۔ لیکن امام طبریؒ د سلفو د یو جماعت نه نقل کړی چه دا هم د مطلقه رجعیه پورے خاص دے، او دلیل ئے دا ذکر کړے چه ددے نه روستو ئے داسے فرمائیلی: ﴿وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ (که دا طلاقے شوے زنانه حاملے وی نو په دوئ باندے تر د حمل د زیګون پورے خرچه کوئ) نو دلته ئے انفاق صرف د حاملے زنانه دپاره وئیلے دے، برابره ده چه مطلقه مغلظه وی او که رجعیه۔ نو که چرته غیر حامله مطلقه رجعیه دپاره هم نفقه او سکنیٰ لازم وے نو بیا ئے د حاملو تخصیص ولے کولو؟ [تفسیر الطبری: ۲۳/٦٤، رقم: ۳٤٦٥٠]
دویم: که ومنل شی چه آیت عام دے نو بیا دا حدیث د هغے تخصیص کوی۔ لهذا د

فاطمې ﷺ په حديث عمل كول قرآن پرېښودل نۀ دي لكه څنګه چه عمر فاروق ﷺ فرمائي: [لَانَتْرُكُ كِتَابَ رَبِّنَا] څكه زمونږ د رب كتاب په رجعيه پورې خاص دې د هغې دپاره نفقه او سكنىٰ لازم ده.

دارنګه د عمر ﷺ په مقابله كښې دلته علي، ابن عباس او نور صحابه كرام ﷺ موجود دي او دليل د هغوئ سره دې. او صريح نص ورسره دې چه د هيچا دپاره ئې پرېښودل جائز نۀ دي. ﷺ او عمر فاروق ﷺ په دې باره كښې معذور وو، څكه چه هغوئ د فاطمې ﷺ د حديث په صحت كښې شك او تردد لرلو. دې وجې نه د هغوئ شك او تردد په امت باندې دليل نشي جوړيدې. او بيا د مرفوع حديث په مقابله كښې د هغوئ په شك او تردد باندې د روستنو خلكو استدلال كول عجيبه خبره ده!

لهذا ثابته شوه چه دا حنافو قول ضعيف دې. اُوس د دويم قول دلائل وګوره:

د دويم قول دلائل: په سكنىٰ باندې ئې دليل دا آيت دې: ﴿أَسۡكِنُوهُنَّ مِنۡ حَيۡثُ سَكَنتُم﴾ او په عدمِ وجوب د نفقه باندې دليل دا آيت دې: ﴿وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمۡلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيۡهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّ﴾ [الطلاق: ٦] (كه چرې دا ښځې اميد وارې وي نو بيا د حمل زيګون پورې پرې خرچه كوئ) نو ددې نه معلومه شوه چه كه دا مطلقې ښځې اميدوارې نۀ وي نو بيا د خرچې حق نۀ لري. ددې تائيد دادې چه د ابوداوٗد [۲۲۹۰] په روايت كښې دي: [لَا نَفَقَةَ لَكِ إِلَّا أَنۡ تَكُونِيۡ حَامِلًا] . (ستا دپاره نفقه نشته البته كه تۀ حامله ئې نو بيا به خرچه دركوو).

جواب: ليكن تا د مخكني بحث نه وپيژندل چه دا آيت هم د رجعي مطلقې په باره كښې دې. **دويم**: كه اُومنو چه دا د مطلقه مُغلظه او بائنه ته هم شامل دې نو بيا وايو چه ددې حديث مفهوم دا وائي چه د غير حاملې دپاره نفقه نشته برابره ده چه هره مطلقه وي، او د فاطمې ﷺ د حديث منطوق وائي چه د بائنه او مغلظه دپاره نفقه او سكنىٰ نشته لهذا منطوق په مفهوم باندې مقدم دې.

دلائل امام احمد او اسحٰق: ۱- دليل: دا حديث الباب د فاطمه بنت قيس ﷺ دې. [فَأَرۡسَلَ إِلَيۡهَا وَكِيۡلُهُ بِالشَّعِيرِ وَقَالَ لَا نَفَقَةَ لَكِ عَلَيۡنَا وَلَا سُكۡنٰى] او په دې باب كښې ښۀ صريح دې. او وكيلان ئې دوه كسان وو چه حارث بن هشام او عياش بن ابي ربيعه د دوئ هم دا مذهب وو چه د مُغلظه دپاره نفقه او سكنىٰ نشته. نو دا خبره د ډيرو صحابه

كرامو ﷺ شوه. د اجماع دعوه باطله شوه.

۲- دليل : د نسائیؒ په روايت کښې راځي : [إِنَّمَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنٰى لِلْمَرْأَةِ إِذَا كَانَ لِزَوْجِهَا عَلَيْهِ الرَّجْعَةُ] [نسائی: ٦/١٤٤، فتح الباری: ٩/٤٨٠]

(نفقه او سکنیٰ د هغه ښځې دپاره وي چه خاوند په هغې باندې د رجوع حق لري) دا هم صريح دليل دې. **۳- دليل** : دا حکم د قرآن کريم او عقل دواړو موافق دې ځکه چه مغلظه پردئ ښځه ده، خاوند ورته رجوع نشي کولے، بلکه هغې ته په استوګنه ورکولو سره د زنا واقع کيدو خطره ده.

٤- عقلي دليل : سکنیٰ او نفقه د استمتاع (فائدې اخستو) په مقابله کښې دي او مغلظه نه خاوند فائدې نشي اخستې نو داسې شوه لکه مُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا . (هغه زنانه چه خاوند ئې وفات شوې وي) د هغې دپاره هم په راجح قول سره نفقه او سکنیٰ نهٔ وي.

۵- فاطمه بنت قيس رضي الله عنها او عائشې رضي الله عنها به بحث کولو نو فاطمې به دوه دليله وئيل : يو به ئې آيت پيش کولو : ﴿لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ أَمْرًا﴾ [الطلاق : ۱] (دا نهٔ پوهيږې کيدې شي چه الله تعالىٰ دې نه پس يو نوې کار پيدا کړي) بيا به ئې فرمايل : [وَأَيُّ أَمْرٍ يَحْدُثُ بَعْدَ ذٰلِكَ] د درې طلاقونه روستو به کوم امر راپيدا شي. (يعنی د رجوع اميد خو نشته) او دويم به ئې خپل دا حديث پيش کولو چه ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل : [لَا نَفَقَةَ لَكِ وَلَا سُكْنٰى] (ستا دپاره نهٔ نفقه شته او نهٔ استوګنه). نو عائشه رضي الله عنها به ئې پدې باندې غلې کوله.

د عدت په زمانه کښې د زنانه د يو ضرورت دپاره بهر وتل جائز دي

3327 (4) — وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ : طُلِّقَتْ خَالَتِيْ، فَأَرَادَتْ أَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا . فَزَجَرَهَا رَجُلٌ أَنْ تَخْرُجَ، فَأَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : **بَلٰى فَجُدِّيْ نَخْلَكِ، فَإِنَّكِ عَسٰى أَنْ تَصَدَّقِيْ، أَوْ تَفْعَلِيْ مَعْرُوْفًا**. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه زما خاله (ترور) طلاقه شوه نو هغې (د عدت په زمانه کښې) اراده وکړه چه (بهر ووځي او) خپلې کهجورې وشوکوي، نو يو سړي د وتلو نه منع کړه، نو هغه نبي ﷺ ته راغله. نبي ﷺ ورته وفرمايل : ولې نه ! خپلې کهجورې وشوکوه ځکه نزدې ده چه تهٔ به صدقه يا د نيکۍ بل کوم کار وکړې.

(مسلم)۔

تشریح: [طُلِّقَتْ خَالَتِيْ ثَلَاثًا] یعنی په درې طلاقو سره طلاقه شوه او یا درېیمه طلاقه شوه۔ د مسلمؒ په روایت کښې (ثلاثا) نشته بلکه دا د ابوداودؒ او نسائیؒ روایت کښې دې، مصنفؒ نه سهوه شویده۔ [أَنْ تَجُدَّ] أَيْ تَقْطَعَ ثَمَرَ نَخْلِهَا (د خپل باغ د کهجورو نه میوه وشکوی) د جَد او جِداد نه ماخوذ دې، قطع کولو ته وائی۔

[أَنْ تَصَدَّقِيْ] په اصل کښې تَتَصَدَّقِيْ دې۔ [أَوْ تَفْعَلِيْ مَعْرُوْفًا] (أَوْ) د تنویع دپاره دې او د تصدق نه مراد فرضی صدقه ده، او د خیر نه مراد نفلی صدقه یا هدیه او یا ګاونډی سره احسان دې۔

فوائد: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه کومه ښځه طلاقه شي نو هغې له جائز دی چه د خپل حاجت او ضرورت دپاره د ورځې د کوره ووځی او د حاجت پوره کولو نه پس بیرته واپس راشي۔ او د ورځې قید د کهجورو شکولو نه معلومیږی ځکه چه دا غالبًا د ورځې شوکیږی۔ او د انصارو باغونه د دوئ کورونو ته نزدې وو۔ نو کله چه دا سهار ووځی نو خپل کور ته واپس کیدې شي۔ [معالم السنن: ۲۸۹/۳] مګر بعض علماؤ وئیلی دی چه رسول الله ﷺ ورسره د ورځې او شپې قید نهٔ دې لګولې بلکه (اُخْرُجِيْ فَجُدِّيْ) الفاظ مطلق دی، لهذا که د شپې کهجورو شوکولو ته ضرورت راغلو هم وتلې شي۔

او هرچه طلاق رجعی والا ده نو هغه مطلقاً نشي وتلې مګر هغه چه الله تعالیٰ د هغې استثناء کړې: ﴿لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ [الطلاق: ۱] دوئ د کورونو نه مهٔ وباسئ او نهٔ به خپله اُوځی مګر که ښکاره بی حیائی ته راتلل وکړی) [البحر المحیط الثجاج شرح صحیح مسلم بن الحجاج: ۲۷۵/۲۶]

لیکن صحیح دا ده چه د (لا تخرجو هن او لا یخرجن) معنیٰ داده چه دوئ د کور نه مهٔ شړئ، هسې د ورځې وتل جواز لري لکه د ښځو دا عام عادت دې چه وځی نو مطلقه رجعی هم عادةً وتلې شيَ۔ د صحابه کرامو په زمانه کښې مطلقات زنانه په کورونو کښې بندې نهٔ وې۔ بلکه هغوئ به ضرورتونو دپاره وتلې۔ لهذا وتو اونهٔ وتو کښې د طلاق رجعی او طلاق بائن فرق هم نشته۔ دواړو کښې د ضرورت په توګه وتلې شي۔

(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه د کهجورو شوکولو په وخت هغې نه صدقه ورکول مستحب دی۔ په یو مرسل حدیث کښې راغلي،

حسین بن علیؓ فرمائی: ((رسول الله ﷺ د شپې د کهجورو شوکولو او د شپې د لَو کولو نه منع کړې)۔ جعفر بن محمدؒ وائی: زما په خیال دا منع د مسکینانو د وجې راغلې۔ [معجم ابن الاعرابی: ۳/۶۵، ۹٦٦، بیهقی: ٤/۱۳۳، تاریخ الخطیب: ۱۲/۳۷۲]
نو په دې حدیث کښې په فقیرانو او مسکینانو صدقه کول مستحب وګرځول شو۔ او بعضِ علماء وائی: دا منع ځکه راغلې چه هسې نۀ په هغې کښې ئې ځۀ حشرات وچیچی۔ [فیض القدیر: ٦/٤٠٤]
(۳) کهجورو او فصل والو دپاره تنبیه ورکول مستحب دی چه تاسو د خیر ښیګړې کارونه کوئ، او غافله کیږئ مۀ۔ ډیر خلك ددې قِسم ښیګړو او صدقو نه ناخبره دی۔ هغوئ ته صَرف خپل بال بچ د الله تعالیٰ رضا ښکاری، غریب غُربه نۀ وینی۔
(٤) او حدیث نه معلومه شوه چه په داسې مسائلو کښې چه د هغې متعلق عوام الناس په غیر د دلیل نه فتوې ورکوی، د هغې په باره کښې د علم او تحقیق والو نه پوښتنه کول پکار دی۔ والله تعالیٰ اعلم۔

د حاملې عدت، وضع د حمل دې

3328 (5) – وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، أَنَّ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةَ نُفِسَتْ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ، فَجَاءَتِ النَّبِيَّ ﷺ، فَاسْتَأْذَنَتْهُ أَنْ تَنْكِحَ، فَأَذِنَ لَهَا، فَنَكَحَتْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: مسور بن مخرمه ﷛ نه روایت دې چه سُبیعه اسلمیه د خپل خاوند د وفات کیدو نه یو څو شپې روسته ماشوم وزیګاوۀ۔ نو هغه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او د هغوئ نه ئې د نکاح کولو اجازت وغوښتۀ، نو نبی ﷺ هغې ته اجازت ورکړو او هغې نکاح وکړه۔ (بخاریؒ)۔

تعارف د سُبیعة ﷝: سُبیعه په تصغیر سره، د حارث اسلمی لور ده۔ بنو اسلم ته د منسوب کیدو په وجه ورته اسلمیه ویل کیږی۔ مشهوره صحابیه ده۔ د ابن سعدؒ د قول مطابق دا د مهاجراتو صحابیاتو نه وه۔ دا د سعد بن خوله ﷛ په نکاح کښې وه، هغه د حجة الوداع په موقعه په مکه کښې وفات شو، بیا هغې د خپل قوم یو ځوان سره وادۀ وکړو۔ او ځینې وائی چه دې مشهور صحابی ابو السنابل ﷛ سره نکاح کړې وه۔

تشریح: ددې حدیث تشریح په بل روایت کښې داسې راغلې ده: عبد الله بن عتبه

فرمائي : چه ما ته سبيعه اسلميه خبر راکړے چه هغه د سعد بن خوله په نکاح کښے وه او هغه د بنو عامر بن لؤی قبيلے نه وو، او بدری صحابی وو، هغه تريے په حجة الوداع کښے وفات شو۔او هغه حامله وه، نو لږ وخت لا تير نهٔ وو چه د هغهٔ د وفات نه روستو ئے حمل وزيگولو، هرکله چه هغه د نفاس نه پاکه شوه نو جرگه کونکے دپاره ئے ځان ښائسته کړو نو هغے باندے ابو السنابل بن بعكك ﷺ چه د بنو عبد الدار نه يو صحابی دے، ورداخل شو او دا ئے ورته وويل :

[مَالِيْ أَرَاكِ تَجَمَّلْتِ لِلْخُطَّابِ لَعَلَّكِ تَرْجِيْنَ النِّكَاحَ وَاللهِ مَا أَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتّٰى تَمُرَّ عَلَيْكِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ] څه وجه ده چه زهٔ تا وينم چه تا جرگه مارو دپاره ځان ښائسته کړے، کيدے شی چه تهٔ به د نکاح اميد لرے، قسم په الله تهٔ نکاح نشے کولے تردے چه په تا باندے څلور مياشتے او لس ورځے تيرے شی،

سبيعه وائی : هرکله ئے چه ما ته دا خبره وکړه نو ما خپلے جامے ځان ته راغونډے کړے کله چه ماښام شو نو زهٔ رسول الله ﷺ خوا ته ورغلم ما تريے تپوس وکړو نو ما ته ئے فتویٰ راکړه چه زهٔ د حمل د زيگولو نه پس حلاله شوم او ما ته ئے حکم وکړو چه نکاح کولے شے که ستا خوښه وی۔ او دے باندے جرگه کونکو کښے خپله ابو السنابل بن بعكك ﷺ هم وو۔ [بخاری : ۳۹۹۰، و ۴۹۰۹، مسلم : ۳۷۹۵]

[نُفِسَتْ] د مشهور لغت مطابق د نون په پيښ او د فاء په زير سره، يعنی ماشوم ئے پيدا شهٔ۔ او د دويم لغت مطابق د دواړو زور دے : [نَفَسَتْ]۔ (نوویؒ)۔

او علامه هرویؒ فرمائی: کله چه دا د حيض په معنیٰ سره وی نو بيا به صرف په زور سره وی۔[بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا] ددے خاوند سعد بن خوله ﷺ وو، چه دا په حَجة الوداع کښے وفات شوے وی۔په يو روايت کښے دی چه دا قتل شوے وو، او په بل کښے راځی چه دا مړ شوے وو، نو په دے دواړو کښے منافات نشته ځکه قتل هم مرگ دے۔ او که په خپل مرگ مړ شوے وی نو بيا د قتل روايت شاذ دے۔ [فتح الباری: ۹/۴۷۲]

[بِلَيَالٍ] په بل روايت د بخاریؒ کښے څلويښت شپے ذکر دی۔ [فَاسْتَأْذَنَتْهُ] د اجازت غوښتلو نه مراد استفتاء او تپوس کول دی، لکه بل روايت کښے دی :

[فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَأَفْتَانِيْ بِأَنِّيْ حَلَلْتُ حِيْنَ وَضَعْتُ حَمْلِيْ]

[فِيْ دَمِهَا] د هغے د نفاس په وينه (زمانه) کښے۔ [أَنَّهُ] ضمير شان دے، يعنی صرف

دومره ده چه خاوند به ورته نهٔ نزدے کیږی۔ [لَا يَقْرَبُهَا] هسے نزدے کیدل نهٔ دی مراد بلکه خاص نزدے کیدل مراد دی چه جماع ده۔ ځکه نکاح او دخول کول ورسره جائز دی خو کوروالے جائز نهٔ دے۔ ځکه چه دا په نفاس کښے ده۔

فوائد : (۱) حدیث نه معلومه شوه چه د کومے ښځے نه خاوند مړ شی نو هغے دپاره عدت تیرول واجب دی، ځکه دے ښځے د ماشوم زیګولو نه پس د نبی کریم ﷺ نه فتویٰ وغوښته نو ددے نه معلومه شوه چه د حمل زیګون نه مخکښے دا په عدت کښے وه۔ (۲) او معلومه شوه چه د کومے ښځے خاوند مړ شی او هغه حامله وی نو د هغے عدت وضع د حمل ده (یعنی د حمل زیګول دی) اګرکه په هغے څلور میاشتے او لس ورځے نهٔ وی تیرے شوی۔ بلکه که د خاوند د مرګ نه فوراً روسته ئے ماشوم وزیګاوهٔ نو هم ددے عدت تیر شو۔ اوس بل سړی سره نکاح کولے شی۔ دلته د څلویښتو شپو نه پس دے بی بی حمل زیګولے او دیته د دویمے نکاح اجازت ملاؤ شوے۔

(۳) او معلومه شوه چه په حمل زیګولو سره د ښځے عدت تیریږی برابره خبره ده که روغ ماشوم ئے زیګولے وی او که نیمګړے، مړ وی یا ژوندے، په دے ټولو صورتونو کښے ددے عدت تیریږی۔ بعضِ علماؤ – لکه ابن دقیق العیدؒ – دا شرط لګولے چه عدت به هله تیریږی چه پوره اندامونو والا ماشوم پیدا شی، د ټکړے په پیدا کیدو سره عدت نهٔ تیریږی۔ لیکن دا خبره ضعیفه ده ځکه په آیت کریمه : [اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ] کښے حمل عام دے، هر هغه ماشوم ته شامل دے چه ښځے حمل او بار کړے وی۔

(٤) امام بخاریؒ ددے حدیث نه روستو د امام زهریؒ دا وینا نقل کړے۔

امام زهریؒ فرمائی : زهٔ په دے کښے څهٔ باك نهٔ ګنړم چه ښځه په داسے حال کښے وادهٔ وکړی چه هغه لا (د نفاس) په وینه کښے وی، البته ترڅو پورے چه پاکه شوے نهٔ وی نو خاوند به ورته نزدے نهٔ ورځی۔ آهـ،

او دلیل په دے باندے [حِيْنَ وَضَعْتُ حَمْلِىْ] الفاظ دی۔ حافظ ابن حجرؒ دا خبره جمهورو علماؤ ته منسوب کړے۔ او فرمائی : دا د قرآن کریم ظاهر هم دے : ﴿اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ [الطلاق: ٤] [فتح البارى: ٩/٤٧٥]۔

د عدت په ورځو کښې سُرمه (رانجهٔ) لګول صحیح نهٔ دي

3329 (6) – وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنُهَا أَفَنَكْحُلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " **لَا** " مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذٰلِكَ يَقُولُ :" لَا " قَالَ : " **إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاهُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلٰى رَأْسِ الْحَوْلِ**". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ام سلمے ﷞ نه روایت دے چه یوه ښځه نبی کریم ﷺ ته راغله عرض ئے وکړو: اے د الله رسوله ! زما د لور نه خاوند مړ شو او ددے سترګے خوګیږی نو آیا مونږ ورله په دے کښې رانجهٔ ولګوو ؟ نبی ﷺ وفرمایل : نه۔ دوه یا درے کرته ئے (داسے وویل) په ټولو کښې به نبی ﷺ فرمایل : نه، وے فرمایل : دا عدت صرف څلور میاشتے او لس ورځے دے،(په دے کښې هم تاسو صبر نشئ کولے) حالانکه د جاهلیت په زمانه کښې به یوه زنانه (پوره یو کال ماتم کولو او په یوه ګنده ګوټه کښې به څانله ناسته وه) او بیا چه کال به پوره شو) د کال په سر باندے به ئے (د کوټے نه راووتو سره) پچه وویشتله)۔ (یعنی په جاهلیت کښې مو په داسے ګران رواج باندے عمل کولو حال دا چه په هغے کښې هیڅ اجر هم نهٔ وو، او اُوس په اسلام کښې په آسان حکم کښې هم رخصتونه غواړئ) (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح : [اشْتَكَتْ عَيْنُهَا] عَيْنُهَا خو یا بنا بر فاعلیت مرفوع دے یعنی سترګه به ئے خوږیده، په دے معنیٰ سره شکایت کونکے سترګه شوه۔ او همدا راجحه معنیٰ ده، امام نوویؒ صرف همدا ذکر کړے۔ یا [عَيْنَهَا] بنا بر مفعولیت منصوب دے او شکایت کونکے هغه جینئ ده یعنی د خپلے سترګے شکایت به ئے کولو۔[أَفَنَكْحُلُهَا] په صحیح مسلم کښې په نون سره دے، او معنیٰ داده چه آیا مونږ د هغے په سترګه کښې رانجهٔ پورے کړو۔ او په صحیح بخاریؒ کښې [أَفَتَكْحُلُهَا] په تاء سره دے ۔ او معنیٰ داده : آیا دا ښځه په خپلو سترګو کښې رانجهٔ ولګوی؟۔[مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا] ۔ یعنی دا سوال اوجواب دوه یا درے کرته وشول په هر ځل به ورته رسول الله ﷺ فرمایل : چه رانجهٔ نشی لګولے۔[إِنَّمَا هِيَ]۔ دا ضمیر عدت ته راجع دے چه د سیاق نه معلومیږی۔

[تَرْمِیْ بِالْبَعْرَةِ عَلٰی رَأْسِ الْحَوْلِ] د جاهلیت په زمانه کښې د خلکو دا عادت وو چه کله به د ښځې خاوند مړ شۀ نو یوه ګنده کوټه ته به ننوته او بد ترینې جامې به ئې واغوستې، هیڅ قِسمه خوشبوئي به ئې نۀ لګوله، او کله به چه کال پوره شو نو یو حیوان - خر یا ګډ یا مارغۀ - به راوستې شو او هغې به ورپورې خپل ځان ومږۀ نو هغه به (ددې د بدن د ډیرو جراثیمو په وجه) ډیر کم د مرګه بچ کیدۀ. بیا به هغه راووته او هغې له به یوه پچه ورکړې شوه او هغې به هغه وارتوله. بس بیا به ئې ددې نه پس خوشبوئي وغیره لګوله. دا به د هغې عدت تیریدل وو. د شیطان دا طریقه ده چه د شریعت آسان حکم بنده ته ګران ښکاره کوی او د جاهلیت رسمونو او رواجونو ګران کارونه ورته آسانوی.

مسئله: دا حدیث دلیل دے چه د ماتم کونکے زنانه دپاره رانجۀ لګول په وخت د عدت کښې نارواه دی کله چه دا په غرض د زینت سره وی، او دا خبره اتفاقی ده، ځکه چه ماتم کونکے زنانه د زینت نه منع شوے، او دا د زنانه دپاره د غم رازئ مخالف کار دے.

البته اختلاف صرف په هغه رنجو لګولو کښې دے چه هغه د ضرورت او علاج دپاره وی، نو په دے کښې دوه قوله دی:

(۱) قول د جمهورو دے: چه د دوائی او علاج دپاره رانجۀ لګول جائز دی، د شپې به ئې لګوی او د ورځې به ئې وینځي. او دلیل ئې روستو (۱۰) حدیث د ام سلمے ﷺ دے. چه په هغې کښې دی: [فَلَا تَجْعَلِيْهِ اِلَّا بِاللَّيْلِ وَتَنْزِعِيْهِ بِالنَّهَارِ] او پدے حدیث کښې چه کومه منع راغلے نو ددے نه مراد هغه رانجۀ لګول دی چه په غیر د ضرورت او علاج نه وی او یا د سترګے خرابیدو خطره نۀ وی. [التمهید: ۱۷/۳۱۹، فتح الباری: ۹/٤٤٩].

مګر دغه روایت سنداً ضعیف دے چه روستو راځي. [مَخْرَمَةُ بن بُكَيْرٍ لَمْ يَسْمَعْ من ابيه وَالضَّحَّاكُ وَمَنْ فَوْقَهُ مَجَاهِيْلُ، وَاَيْضًا فِيْهِ نَكَارَةٌ لِمُخَالَفَتِهٖ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ الَّذِیْ نَحْنُ بِصَدَدِهٖ]

(۲) قول دادے: چه مطلقًا رانجۀ لګول منع دی، که په خپله سترګه ویریږی او که نۀ، ضرورت وی او که نۀ؟ او دا د ابن حزمؒ قول او د مالکیانو یو روایت دے. او دلیل ئې هغه حدیثونه دی چه په هغې کښې د رانجو نه مطلقًا منع راغلے.

لکه امام نوویؒ د ام عطیه ﷺ او ام سلمه ﷺ د حدیثونو په باره کښې فرمائی: (په دے کښې دلیل دے چه د ماتم کونکے ښځې دپاره رانجۀ لګول حرام دی، برابره خبره ده که هغه ورته محتاجه وی او که نه) [شرح النووی: ۹/۳٦۸]

راجح قول همدا دويم دے، خصوصًا زمونږ په دے زمانه کښے چه د سترګے د علاج دپاره د رانجو نه سوئ نور مرهمونه او دراپونه هم ملاوېږي.

البته که دا فرض کړے شي چه د رانجو نه سوئ د هغے د سترګو خوږ د علاج دپاره بله دوائي نۀ ملاوېده نو بيا به دا جائز وي، ځکه دا اصولي قاعده ده چه: [اَلضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ] (ضرورت حرام هم حلالوي). بله دا چه: کله رانجو ته ضرورت شي نو بيا دا د علاج شے ګنړل کيږي نۀ د زينت، او مُجِده ښځه د زينت نه منع شوے، نۀ د علاج نه. او نبي ﷺ د دے زنانه لور سره دومره سختي وکړه چه بيخي اجازت ئے ورنکړو وجه دا وه چه د دے دومره ضرورت نۀ وو، ورنه زمونږ په دين کښے د ضرورت په وخت کښے رخصتونه هم شته. وبالله التوفيق.

او روستو حديث د ام سلمے ؓ کښے چه د سترګو د تکليف باوجود د رانجو لګولو اجازت نۀ دے ورکړے شوے نو دا په دے وجه چه د دغه ښځے دپاره د دے نه بغير د مصبرو په تکور وغيره سره علاج کول هم ممکن وو. کما قال الحافظ [فتح الباري: ۹/ ٤٨٨].

د عدت په زمانه کښے د سوګ (ماتم) کولو حکم

3330 (7) — وَعَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ وَزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ تُحِدَّ عَلٰى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا عَلٰى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ام حبيبه او زينب بنت جحش ؓ د رسول الله ﷺ نه ارشاد نقل کوي چه هغۀ وفرمايل: نۀ دي حلال د يوے ښځے دپاره چه په الله تعالىٰ او په ورځ روستنۍ باندے ايمان لري چه هغه په مړي باندے د درے شپو نه زيات غم ښکاره کوي مګر (ښځه) په خاوند څلور مياشتے او لس ورځے (غم ښکاره کولے شي) (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح: دا حديث د اُورد حديث نه مختصر شوے چه هغه په بخاريؒ او ابوداودؒ کښے راغلے دے: زينب بنت ابي سلمةؓ وائي: زۀ په ام حبيبه ؓ داخله شوم هرکله چه د هغے پلار ابوسفيان بن حرب (ؓ) وفات شوے وو نو هغے خوشبوئي راوغوښته چه په هغے کښے زيړ والے وو، خلوق رنګ وو يا بل، نو هغے پرے يو جينۍ له سر غوړ کړو بيا ئے په خپلو دواړو ښنړو باندے لاس راښکلو، (په بل روايت کښے دواړه ليچے ذکر دي) بيائے

وویل : قسم په الله زما خوشبوئی ته هیڅ ضرورت نشته خو ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه دائے فرمایلی ...... او دا حدیث ئے ذکر کړو۔
زینبؓ وائی : او زۀ په زینب بنت جحش رضی الله عنها باندے ورداخله شوم کله چه د هغے ورور وفات شوے وو نو هغے خوشبوئی راوغوښته او هغه ئے ومورله بیائے وویل : قسم په الله زما خوشبوئی ته هیڅ ضرورت نشته مگر ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه په منبر باندے ئے داسے وفرمایل ...... او دغه حدیث ئے ذکر کړو۔ [بخاری : ۵۳۳٤ و ۵۳۳۵، ابوداود : ۲۳۰۱]
[أَنْ تُحِدَّ] دا د [إِحْدَادٌ] نه دے، په لغت کښے منع کولو ته وائی، د همدے مادے نه دروانچی ته هم (حَدَّادٌ) وائی ځکه دا هم په دروازه کښے ولاړ وی خلك منع کوی۔ په دے احداد (غم رازئ/ ماتم کولو) کښے هم ښځه د ډیرو مباحو څیزونو نه خپل ځان بندوی۔
دا د حَدَّ يَحُدُّ یا د اَحَدَّ يُحِدُّ دواړو بابونو نه راځي۔ عرب وائی : أَحَدَّتِ الْمَرْأَةُ عَلَى زَوْجِهَا وَحَدَّتْ : إِذَا حَزِنَتْ عَلَيْهِ وَتَرَكَتِ الزِّينَةَ (کله چه په خپل خاوند خفگان ښکاره کړی او ډول سینگار پریدی) ددے اسم فاعل د راجح قول مطابق په غیر د تاء نه [حَادٌّ] راځی د حَائِضٌ پشان ځکه دا صفتِ خاصه د مونث دے، او [حَادَّةٌ] ویل هم جائز دی۔
امام بخاریؒ دا په بعضِ تراجم الأبواب کښے استعمال کړے۔ او په اسم فاعل کښے [مُحِدٌّ] هم استعمالیږی۔ قاموس [۱/۶۰۱] کښے وائی : [اَلْحَادُّ وَالْمُحِدُّ : تَارِكَةُ الزِّينَةِ لِلْعِدَّةِ] (حاد او محد هغه ښځے ته وائی چه د عِدت تیرولو په وجه ډول سینگار نۀ کوی)۔ لکه څنگه چه مُحِدَّةٌ استعمالیږی۔

لَا تَنْكِحَنَّ مُحِدَّةً فِي عِدَّةٍ	❁	فَنِكَاحُهَا وَزِنَاءُهَا شِبْهَانِ

(القصيدة القحطانية)

او (شرعًا) : احداد دیته وائی چه د کومے ښځے نه خاوند وفات شوے وی، هغه د عدت په شپو ورځو کښے خپل ډول، ډال، زینت او هر هغه شے پریدی چه د هغے په وجه سړی په هغے کښے رغبت لری، لکه خوشبوئے، رانجهٔ، ډولی جامے او په غیر د حاجت نه د خپل کور نه وتل۔ ددے تعریف نه معلومه شوه چه (احداد) د عدت تابع دے۔ او دا د عِدت په زمانه کښے وی۔ گویا کښے احداد په خاوند باندے ماتم کولو او غم رازی کولو ته

وائي۔ د احداد د **مشروعیت حکمت** : (۱) د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) خبره عملي کول۔ (۲) په ښځه باندې د خاوند حق ښکاره کول او په هغهٔ باندې د غم او خفګان اظهار او د هغهٔ د ملګرتیا په ختمیدو باندې ماتم کول۔
(۳) د نکاح د نعمت په فوت کیدو باندې خفګان کول چه ددې په وجه به خاوند ددې ښځې حفاظت، ساتنه او پرورش کولو۔ (٤) ددې ښځې دپاره په سرو کښې اود سرو دپاره په دې ښځه کښې طمع لرل ختمول۔
فوائد : (۱) [فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ] دې نه معلومه شوه چه د درې ورځو نه زیات د خاوند نه سوئ په بل هیڅ یو مړي باندې غم او خفګان ښکاره کول جائز نهٔ دي، په دې حکم کښې پلار او ځوي وغیره ټول یو برابر دي۔ ځکه په دې حدیث کښې د حصر الفاظ راغلي۔ په صحیح بخاري کښې د محمد بن سیرینؒ نه نقل دي چه :
د ام عطیه ﵂ ځوي مړ شو نو کله چه دریمه ورځ شوه، هغې یو زیړ رنګ راوغوښتهٔ او په مخ ئې راښکهٔ او وې فرمایل: مونږ د خاوند نه سوئ د بل چا په مرګ باندې د درې ورځو نه زیات د غم او خفګان کولو نه منع شوي یو۔ [بخاري: ۱۲۷۹]
سوال : د عمرو بن شعیبؒ په حدیث کښې راځي چه : ((رسول الله ﷺ ښځې دپاره رخصت ورکړې چه په خپل پلار باندې اُووهٔ ورځې او په نورو باندې درې ورځې غم او خفګان وکړي)) [مراسیل أبي داود : ۳۹۹، تحفة الأشراف: ۱۳/۳۱٦] په دې حدیث کښې خو د دریو په ځائې اُووهٔ ورځې ذکر شوي؟
جواب۱ : دا حدیث ضعیف دې، ځکه دا مرسل یا معضل دې۔ عمرو بن شعیبؒ نهٔ صحابي دې او نهٔ تابعي۔ اوکه دا وړوکې تابعي ومنل شي نو بیا هم دا د مرسل کیدو په وجه د صحیح احادیثو مقابله نشي کولې۔ او که دا صحیح هم ومنل شي نو دا د صحیح احادیثو د خلاف کیدو په وجه شاذ دې۔
دویم : که صحیح او محفوظ ومنل شي نو بیا به دا د اُم عطیه ﵂ د حدیث مُخصص وي او د اُوو ورځو پورې غم کول به په پلار پورې خاص وي۔ [فتح الباري : ۹/٤۸٦]۔
(۲) او حدیث نه معلومه شوه چه د ښځې دپاره د خاوند په مرګ باندې اِحداد (او غم رازي) کول واجب دي۔ او دا د جمهورو سلفو او خلفو، صحابه کرامؓ، تابعینؒ او نورو اهلِ علمو مذهب دې۔ په دې کښې صرف حسن بصريؒ او شعبيؒ خلاف کړې۔ او

ظاهره داده چه دوئ ته دا حديث نهٔ دے رسيدلے، او کيدے شي چه د اسماء رضي الله عنها په راتلونکي حديث ئے استدلال کړے وي. خو علامه عينيؒ د ابن العربيؒ نه نقل کړي دي چه دا د حسنؒ نه ثابت نهٔ دے. [عمدة القاري: ۸/۶۷].

علامه ناصر السعديؒ فرمائي: په قرآن کريم کښے هم د عدت په زمانه کښے د اِحداد وجوب ته اشاره ده. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ ...... ﴾ الآية، او بيا فرمائي: ﴿ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْۤ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ [البقرة: ۲۳۴]

مطلب دا چه د کومو ښځو خاوندان مړهٔ شي او د هغوئ عدت تير شي نو دوئ چه د عُرف مطابق کوم ډول او سينګار کوي او سرو ته د نکاح کولو دپاره خپل ځان پيش کوي نو په دے کښے ګناه نشته. نو ددے سره دا خبره لازمه ده چه ددے نه مخکښے په دے کارونو کښے ګناه شته دے. [تفسير ابن سعدی، ص: ۱۰۴].

(۳) او حديث نه معلومه شوه چه د اِحداد کولو موده د عدت موده ده چه دا څلور مياشتے او لس ورځے دي. دا د خاوند د مرګ نه شروع کيږي، برابره خبره ده که ښځه هغهٔ د مرګ په وخت د هغهٔ نه خبره وي او که روستو خبره شوے وي عدت بهر حال د مرګ نه شروع کيږي. او که فرض کړه ښځه د خپل خاوند مرګ نه هډو خبره نشوه او په دے دوران کښے د عدت موده هم تيره شوه نو په ښځه باندے عدت او احداد نشته.

علامه ابن عبد البرؒ فرمائي: (د علماؤ په دے اجماع ده چه د طلاقيدو په وجه ښځه عدت تيروي يا د خاوند د مړينے په وجه، ددے عدت د طلاقو يا د مړينے نه شروع کيږي) [التمهيد: ۱۵/۹۹] **سوال**: د اسماء بنت عميس رضي الله عنها په حديث کښے راځي، دا وائي: څهٔ وخت چه (زما خاوند) جعفر رضي الله عنه شهيد شو، نو په دريمه ورځ ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم راننواتهٔ او وے فرمايل: [لَاتُحِدِّیْ بَعْدَ يَوْمِكِ هٰذَا] (د نن ورځے نه پس ماتم پريده) [احمد: ۴۵/۲۰، وغيره من طريق محمد بن طلحة، عن الحكم، عن عبد الله بن شداد، عن اسماء رضي الله عنها]

ددے حديث د ظاهر نه معلوميږي چه د کومے ښځے خاوند مړ شي نو په هغے باندے د دريے ورځو نه روستو احداد (او ماتم) واجب نهٔ دے؟

جواب: د حديث امامانو – لکه دارقطنيؒ او بيهقيؒ – دا حديث د مرسل کيدو په وجه معلول ګرځولے. او دا د صحيح احاديثو نه د خلاف کيدو په وجه شاذ دے، لکه دا او د ام عطيه رضي الله عنها روستو حديث. [انظر: العلل للدارقطني: ۱۵/۳۰۳، السنن الكبرى: ۷/۴۳۸]

امام احمدؒ او امام اسحقؒ هم دیته د صحیح احادیثو مخالف وئیلی دی. [مسائل الکوسج : ۹/۴۷۳۰]. امام ابو حاتمؒ فرمائی: دا حدیث د اسمله نه نهٔ دے روایت، په دے کښے محمد بن طلحه غلط شوے. او د نورو علماؤ نه ئے نقل کړی دی چه دا حکم په هغه وخت کښے وو چه کله لا عدتونه نهٔ وو مقرر شوی. [العلل: ۱۳۱۸].

(٤) او د [لِامْرَأَةٍ أَنْ تُحِدَّ] نه معلومه شوه چه اِحداد په ښځو پورے خاص دے، د سړو دپاره دا نشته. نو په دے زمانه کښے چه بعضِ مسلمانان د خپلو بعضِ لیډرانو او مشرانو په مرینے باندے ماتمونه کوی، فتوان الته کوی او د حالاتو مطابق نشریاتی پروګرامونه بدلوی، او د یو خاص وخته پورے چهټی او هړتالونه کوی: نو ددے د اسلام سره هیڅ واسطه نشته. ځکه چه ماتمونه کول خو د ښځو کار دے.

که د سړو دپاره ماتمونه کول جائز وے نو په ډیره لویه هستئ او اشرف المخلوقات محمد رسول الله ﷺ (ﷺ) باندے به صحابه کرامو ﷺ دا کار کړے وے.

دارنګه د هغوئ نه پس ابو بکر ﷺ وفات شو. بیا عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهما شهیدان شول.

په دے یوتن باندے هم صحابه کرامو ﷺ ماتم نهٔ دے کړے. او نهٔ تابعینوؒ او تبع تابعینوؒ او د اسلام امامانوؒ دا کار کړے او نهٔ د دوئ نه پس مسلمانانو دا کار کړے. دے وجے نه دا کار کول بدعت او د اسلام د دشمنانو سره مشابهت دے.

دارنګه په دے کار کښے ډیر مفاسد او ضررونه دی، بے ځایه مصالح خرابول او کارونه معطل کول دی. حالانکه احداد یو شرعی حکم دے، ددے دپاره شرعی دلیل ته ضرورت دے، او هغه دلته نشته. څوك چه دا کار کوی، یا په دے حکم کوی یا مشوره ورکوی نو دا بدعتی او سخت ګنهګار دے.

(٥) د [عَلٰی مَیِّتٍ ...... اِلَّا عَلٰی زَوْجٍ] نه معلومه شوه چه احداد او ماتم هغې ښځې پورے خاص دے چه د هغې خاوند مړ شوے وی. او دا الفاظ د حصر دی چه ددے مقصد دادے چه دا کار به صرف همدا ښځه کوی. نو ددے نه معلومه شوه چه په مطلقې ښځه باندے احداد نشته. هرچه مطلقه رجعیه ده، نو په دے باندے خو په اجماع د علماؤ سره احداد نشته، ځکه دا د زوجې په حکم کښے ده، ددے دپاره مستحب دی چه ډول سینګار وکړی چه خاوند په کښے رغبت ولری او بیرته ورته رجوع وکړی.

❁ او هرچه مطلقه بائنه ده : (أ) نو د جمهورو علماؤ په نيز په دے هم احداد نشته، ځکه نبی كريم ﷺ : [عَلٰى مَيِّتٍ] لفظ وئيلے چه په مړ خاوند به احداد كوی۔ بله دا چه : د احداد نه غرض دادے چه ښځه په خپل خاوند ماتم او خفګان ښكاره كړی چه د هغهٔ نه په مرګ سره جدا شوه، او دا كار په طلاقِ بائن كښے نشته۔ او دے كښے حكمت هم دا دے چه په مطلقه كښے سړی خپله ښځه خفه كړه (اَوْحَشَهَا بِالطَّلَاقِ) ښځه ئے د طلاقو په وجه وحشی او بيګانه او پريشانه كړه نو په ښځه هم دا لازم نهٔ ده چه د خاوند د حق ادا كولو دپاره خپل ډول او سينګار پريدی بلكه سړی خپل حق برباد كړو۔ لهذا په سنت كښے د مطلقے احداد نهٔ دے ثابت۔

(ب) او ابوحنيفهٌ، او په يو روايت كښے احمدٌ، او په قولِ قديم كښے شافعیٌ او بعض مالكيان وائی : په دے احداد واجب دے۔ [المنتقى للباجي: ٤/١٤٥ -مغني المحتاج: ٣/٣٩٨، المغني: ١١/٢٩٩، المبسوط: ٦/٥٨] دليل ئے دادے چه نبی كريم ﷺ معتده د نكريزو لګولو نه منع كړے ده۔ دوئ وائی : دا حديث عام دے، هرے معتدے ته شامل دے۔ او دوئ مطلقه بائنه په متوفىٰ عنها زوجها باندے قياس كړے ده۔ ځكه چه ددے دواړو فرقة بينونت دے۔ **ليكن حق** مذهب اولنے دے : ځكه چه د هغے دليل مضبوط دے، ځكه احداد په مړی كيږی لكه چه دا د صريح دلائلو نه معلومه ده۔

او دويم قول والو چه په كوم حديث استدلال كړے هغه ثابت نهٔ دے، دليل نشی جوړيدے۔ او نهٔ د حديثو په كتابونو كښے دا معروف دے۔ [انظر: الدراية : ٢/٧٩]

بله دا چه هلته د معتده نه مراد عدة الوفات دے، نهٔ مطلقه، او پاتے شو قياس : نو دا فاسد الاعتبار دے، ځكه چه دا د نص په مقابله كښے قياس كول دی، حالانكه نص په متوفىٰ عنها پورے خاص دے۔ مطلقه بائنه به په دے پورے نښی پيوسته كولے۔

(٦) [لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ] **اختلافي مسئله** : (١) امام شافعیٌ او بعض علماء وائی چه زنانه كافره وی او كه مسلمه، وره وی، كه غټه دا قسم عدت به تيروی۔

(٢) احناف وائی : دا قانون صرف د مسلمانے ښځے په باره كښے دے، نهٔ كتابيه باره كښے۔ دليل الجمهور : احاديثو كښے اطلاق راغلے۔ (امرأة) عامه ده، كافرے ته هم شامل دے۔

د احنافو دليل : ١- دلته [تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ] الفاظ راغلی دی چه ددے نه مراد

مؤمنه ده۔ ۲- دلیل: [وَالَّذِیْنَ یُتَوَفَّوْنَ مِنْکُمْ]۔ کښې خطاب مؤمنانو ته دے۔ او همدا قول راجح دے۔

د وفات د عدت په زمانه کښې به زنانه کوم کارونه نهٔ کوی

3331 (8) – وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رضی اللہ عنہا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: "لَاتُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلٰی مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ، إِلَّا عَلٰی زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوْغًا، إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ، وَلَا تَكْتَحِلُ، وَلَا تَمَسُّ طِيْبًا، إِلَّا إِذَا طَهُرَتْ، نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ، أَوْ أَظْفَارٍ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَزَادَ أَبُوْدَاوُدَ: (وَلَا تَخْتَضِبُ).

ترجمه: ام عطیه رضی اللہ عنہا نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ یوه ښځه به په هیڅ یو مړی باندے د درے ورځو نه زیات غم (ماتم) نهٔ کوی، مګر د خاوند په مرګ به څلور میاشتے او لس ورځے (غم کوی) او (په دے دوران کښې) به رنګداره جامه نهٔ اغوندی، البته هغه جامه اغوستلے شی چه د غښتلو نه مخکښې د هغے تارونه رنګ کړے شوی وی، او نهٔ به رانجهٔ لګوی او نهٔ به خوشبوئی لګوی مګر کله چه د حیض نه پاکه شی نو په دے وخت کښې معمولی شان عُودِ هندی (خوشبویه لرګے) یا اظفار (خوشبوئے) استعمالولے شی۔ (بخاریؒ، مسلمؒ) او ابوداوَدؒ دا الفاظ زیات ذکر کړی دی: او خِضاب (نکریزه) به نهٔ لګوی۔ (او په نسائیؒ کښې دی چه) سر به هم نهٔ ګومنزوی)۔

تشریح: [لَاتُحِدُّ] د تاء په پیښ او د حاء په زیر سره، د اَحَدَّ ماضی ده۔ او د تاء په زور او د حاء په زیر [تَحِدُّ] یا پیښ [تَحُدُّ] سره ئے لوستل هم جائز دی د حَدَّ یَحُدُّ نه۔

[امْرَأَةٌ] دا نکره په سیاق د نفی کښې ده، ددے نه مراد هره ښځه ده، وړه وی که غټه، مکلفه وی که غیر مکلفه، مدخول بها وی که غیر مدخول بها۔ [عَلٰی مَيِّتٍ] دا هم عام دے، پلار وی که ځوئے یا ورور وی، تره وی که ماما یا بل رشته دار وی۔ [ثَوْبَ عَصْبٍ] مصدر په معنیٰ د اسم مفعول (معصوب) سره دے۔ عصب په لغت کښې راتاوول او غښتلو ته وائی۔ دا هغه څادرونه دی چه د جوړولو په وخت ددے تارونه په سختئ سره راجمع او وغښتل شی او بیا رنګ کړے شی او خوارهٔ کړے شی او بیا د هغے نه جامه جوړه کړے شی نو د هغے د تارونو د سخت راتاوولو په وجه هغه برګ بروګ معلومیږی ځکه دننه ورته رنګ نهٔ وی رسیدلے نو ځینے تارونه په کښې سپین سپین معلومیږی۔

[النهایة: ۲٤٥/۳] او په دې کښې اضافت د موصوف دې صفت ته یعنی ثَوْبٌ مَعْصُوْبٌ (رنګ شوې جامه)۔ [طَهُرَتْ] د هاء په زور یا پیښ سره۔ یعنی کله چه ښځه د حیض نه پاکه شي نو بیا دا قِسم خوشبوئي استعمالول ورله جائز دی، خو دا به د دغه ځائې د بدبوئي لرې کولو دپاره استعمالوی، نهٔ د خوشبوئي حاصلولو دپاره۔

[نُبْذَةً] أَیْ أَخَذَتْ قِطْعَةً: یوه ټکړه او لږ شے به راواخلي۔ [مِنْ قُسْطٍ] یو خوشبویه لرګے دے چه لوګے کیږي، حائضه ښځه چه کله غسل وکړي نو د وینې د بدبوئي ختمولو دپاره ئے استعمالوی۔ نهٔ د خوشبوئي دپاره۔ [أَوْ أَظْفَارٍ] بل روایت کښې [مِنْ قُسْطٍ وَأَظْفَارٍ] په واؤ سره دے او دا زیات راجح دے ځکه دا دواړه بیلا بیل شیان دی۔ د بخاري په روایت کښې [مِنْ کُسْتِ اَظْفَارٍ] په کاف او په اضافت سره راغلے، اظفار د یمن یوه ساحلي علاقه ده چه دلته نه قسطِ هندي راوړے شي۔ اَظْفَارٍ: یو قِسم تور رنګے خوشبویه لرګے دے چه ددې ټکړې د نوک سره مشابه دی۔ ددې جمعې واحد نشته، او ځینې وائي: جمع د ظُفُر ده۔ [وَلَا تَخْتَضِبُ] خضاب وینښتهٔ یا اندامونه په نکریزه رنګول۔

فوائد: (۱) ددې حدیث نه معلومه شوه چه د رشته دار - لکه پلار، ورور، ځوی، ترهٔ وغیره - په مرګ باندې غم او خفګان او ماتم کول جائز دی۔ او ددې زیات نه زیاته موده درې ورځې ده۔ ځکه دا د نفسِ بشري تقاضا ده چه د دوئ په مرګ باندې انسان خفه کیږي۔ خو دا غم او خفګان ښکاره کول واجب نهٔ دی، ځکه په دې اتفاق دے چه د ښځې په دغه رشته دارو کښې که یو تن مړ وی او خاوند د ښځې نه د جماع طلب وکړي نو په دې حالت کښې ښځې دپاره خپل ځان منع کول جائز نهٔ دی۔ [فتح الباری: ۱٤٦/۳، شرح الزرقاني: ۲۳۲/۳]۔

(۲) [إِلَّا عَلٰی زَوْجٍ] دې نه معلومه شوه چه د درې ورځو نه زیات د خاوند نه سوئ په بل هیڅ یو مړي باندې غم او خفګان ښکاره کول جائز نهٔ دی، په دې حکم کښې پلار او ځوی وغیره ټول یو برابر دی۔ ځکه په دې حدیث کښې د حصر الفاظ راغلي دی۔ په صحیح بخاري کښې د محمد بن سیرینؒ نه نقل دی چه: د ام عطیه ﷺ ځوی مړ شو نو کله چه دریمه ورځ شوه، هغې یو زیړ رنګ راوغوښتهٔ او په مخ ئے راښکهٔ او وې فرمایل: مونږ د خاوند نه سوئ د بل چا په مرګ باندې د درې ورځو نه زیات د غم او خفګان کولو نه منع شوي یو۔ [بخاري: ۱۲۷۹]

(٣) [وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا] احداد او ماتم کونکې ښځه د يو څو څيزونو نه ځان ساتي : (**اول شے**) د زينت جامے : او دا هغه جامے دي چه د ښځو عادت په دے جاري وي چه دا د ډول ډال دپاره او په مناسباتو او پروګرامونو کښے آغوندي، که هغه هر رنګ لري، لکه په دے باندے دليل د [لَاتَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا] الفاظ دي۔ اوکومه جامه چه رنګ شوے وي خو د ډول دپاره نۀ آغوستل کيږي، نو د هغے آغوستل جائز دي۔ بس په دے کښے لنډه قاعده داده چه کومه جامه د ډول او زينت دپاره آغوستلے شي نو دا ښځه به هغه نۀ آغوندي۔ او ددے نه سوئ نورے تولے پاکيزه کپړے آغوستلے شي اګرکه رنګدارے ولے نۀ وي خو چه د زينت دپاره نۀ وي۔

(**دويم شے**) : رانجۀ : لکه پدے کښے اختلاف مخکښے ذکر شو۔ (**دريم شے**) : په جامه او بدن باندے هر قِسمه خوشبوئي لګول : برابره ده که هغه تيل وي، که بخور اوکه پوډر۔ ځکه چه دا شهوت راپاروي او مباشرت ته دعوت ورکوي۔ ددے نه صرف د هغه خوشبوئي استثناء راغلے چه ښځه ئے د حيض د غسل نه پس په خپل اندام باندے لګوي۔ په دے وخت کښے ددے په ځائے نور داسے پوډر وغيره استعماليږي چه هغے سره بدبوئي ختميږي۔ او معتده ښځه غسل کولے شي او خپل بدن او ويښتان په صابون او شيمپو سره وينځلے شي۔ ځکه په صابون او شيمپو کښے خوشبوئي نشته بلکه دا بدبوئي ختموي۔ [فتاوى ابن باز : ٢٢/١٨٧، الشرح الممتع: ١٣/٤٠٤]

او مُحِده ښځه به د هغه قهوے څښلو نه هم منع کولے شي چه په هغے کښے زعفران وي ځکه چه دا خوشبويه وي او دے حديث کښے دي : [وَلَاتَمَسُّ طِيْبًا] او د هر شئ مس کول د هغے مطابق وي۔ (**څلورم شے**) : نکريزه لګول : ځکه دا هم د ډول او زينت دپاره لګولے شي او په دے کښے په دے زمانه کښے هر هغه رنګ داخل دے چه د ډول او زينت دپاره ئے ښځے لګوي۔ (**پنځم شے**) : سرګومنزول۔ لکه د نسائيؒ په روايت کښے راغلي دي : [وَلَا تَمْتَشِطُ] يعنى سر به نۀ ګومنزوي، د سر د ويښتانو په رنګولو باندے هم ددے اطلاق کيږي، او کيدے شي چه دلته همدا مراد وي۔ هغه داسے چه نکريزه وغيره په اُوبو کښے حل کړي او ګومنزے سره ئے په سر کښے ووهي۔ جينکئ په دے سره تور ويښتۀ سوربخن جوړوي، او ښځے په دے سره سپين ويښتۀ ختموي۔

(**شپږم شے**) : ګانړه او کالے اچول : د سرو زرو وي او که د سپينو زرو يا ددے نه سِوئ د

بل شئ نه. ددې شیانو نه ښځه منع شوې. او ددې سره سره خپل کور نه د وتلو نه هم منع شوې. لکه روستو راځي.

او د معتدې دپاره د معمول او عادت مطابق چا سره ئې چه خبرې کولې هغۀ سره خبرې کولې شي، فون او موبائل استعمالولې شي، او هر هغه کارونه کولې شي چه په شریعت کښې د هغې نه منع نۀ وي راغلې. خپلې جامې وینځلې شي. د خپل کور دالان او غولي او د کور باغیچې ته وتلې شي. په بام ختلې شي. سپوږمۍ لیدلې شي. د ضرورت په وخت د ورځې بهر هم وتلې شي. او ددې نه چه څوك منع كوي، هغه په دین کښې غلو کوي، او د جاهلیت رسمونه تازه کوي. وبالله التوفيق.

معتدې له بغیر د ضرورت نه د یو مکان نه بل مکان ته منتقل کیدل جائز نۀ دي

الفصل الثاني

3332 (9) - عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبٍ :أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَتْهَا أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ فَإِنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ أَبَقُوا فَقَتَلُوهُ قَالَتْ : فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي فَإِنَّ زَوْجِي لَمْ يَتْرُكْنِي فِي مَنْزِلٍ يَمْلِكُهُ وَلَا نَفَقَةَ. فَقَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"**نَعَمْ**". فَانْصَرَفْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ أَوْ فِي الْمَسْجِدِ دَعَانِي فَقَالَ : **اُمْكُثِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ**. قَالَتْ : فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ .

ترجمه : زینب بنت کعب فرمائي : فریعه بنت مالك بن سنان رضي الله عنها چه دا د ابو سعید خدري خور ده، دې هغې ته خبر ورکړې چه دا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله د هغۀ نه ئې غوښتل چه خپل اهل ته په بنو خدره کښې واپس شي (او هلته عدت تیر کړي) ځکه چه ددې خاوند د هغۀ د څه غلامانو په طلب کښې وتلې وو چه هغوی تښتیدلي وو (نو هغوی چه دې وموندو) نو دې ئې قتل کړو، هغه وائي : نو ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وغوښتل چه زۀ خپل اهل ته واپس کیږم ؟ ځکه چه زۀ خپل خاوند په داسې کور کښې نۀ یم پریخودې چه هغه ئې مالك وي او نۀ نفقه (خرچه) شته. هغه وائي : رسول الله

ﷺ وفرمايل : آؤ (نۀ خپل كور ته تلے شے) نو زۀ واپس روانه شوم، تردے چه زۀ په حجره يا مسجد كښے شوم نو ما ته ئے آواز وكړو، وے فرمايل : په خپل كور كښے ايساره شه تردے چه (ستا) عدت خپلے نيتے ته ورسيږي، هغه وائي : نو ما په هغه كور كښے څلور مياشتے او لس ورځے عدت تير كړو۔ (مالكؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، ابن ماجهؒ، دارميؒ)

تعارف د زينب بنت كعب ﵂ : دا د كعب بن عجره ﵁ لور ده او د ابوسعيد خدري ﵁ بي بي ده۔

تعارف د فُريعة بنت مالك بن سنان خُدريه ﵂ : د مشهور صحابي ابو سعيد خدري ﵁ خور ده۔ بيعتِ رضوان ته حاضره شوے وه۔

تشريح : [أَعْبُدٍ] جمع د عبد ده، غلام۔ [إِلَى أَهْلِيْ] خپل پلار كالۀ ته لاړه شمه۔ [فَقَالَ: نَعَمْ] نو نبي كريم ﷺ راته اجازت راكړو چه په بني خُدره كښے خپل پلار يا ورونو كره لاړه شمه، لكه په بعضِ رواياتو كښے راغلي۔ [التمهيد : ٢١/٢٩، ٣٠]

[فِي الْحُجْرَةِ] د نبي كريم ﷺ د بيبيانو په يوه حُجره كښے۔ [اُمْكُثِيْ] درنګ تير كړه، ايساره شه۔ د نسائيؒ په روايت كښے دي : [اِعْتَدِّيْ حَيْثُ بَلَغَكِ الْخَبَرُ] (چرته چه تاته د خاوند د مرګ خبر رسيدلے، هلته ايساره شه) ظاهره داده چه دا الفاظ شاذ دي، ځكه اكثرو راويانو نۀ دي ذكر كړي او قيصه يوه ده۔ بله داچه : دا په عموم باندے حملول هم ممكن نۀ دي، ځكه كه دا ښځه په بازار يا لاره يا صحراء كښے وي او د خاوند د مرګ خبر ورته ورسي نو دلته خو نشي ايساريدلے۔ [المغني: ٢١/٢٩١، أحكام الاحداد، ص: ١٣١]

[حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ] د كتاب نه مراد ليكل شوے، مقرر شوے عدت دے، ځكه دا د الله تعالىٰ د طرفنه مقرر دے۔ يعني ترڅو چه مقرر عدت خپلے نيتے او آخر سرته ورسي۔ (اجل) مودے او آخر سرته وائي۔

اول نبي كريم ﷺ دے ښځے ته اجازت وركړو او بيا ئے منع كړه، نو دا خو يا د نبي كريم ﷺ په اجتهاد سره وو۔ چه هر كله ئے د هغے په پوښتنه كښے سوچ وكړو نو د هغے عذر ئے په انتقال كښے كافي ونۀ ګڼړلو نو اصل ته ئے واپس كړه۔ او يا ورته په اجازت نۀ كولو وحي راغله۔ [احكام الاحداد، ص: ١٢٩]

ددے حديث سره د ابوداودؒ په روايت كښے داسے زيادت راغلے دے : (فريعه وائي :) (كله چه د عثمان ﵁ دورِ خلافت شو نو ماته ئے پيغام راوليږۀ او مانه ئے ددے په حقله پوښتنه

وکړه نو ما هغهٔ ته خبر ورکړو، هغهٔ د هغې پیروي وکړه او په هغې ئې فیصله وکړه).
یعنې پدې فیصله باندې روستو زمانه کښې عثمان رضی الله عنه هم عمل کړې.

فوائد او مسائل : (۱) مسئله :

اختلاف : مُتَوَفّٰی عَنۡهَا زَوۡجُهَا به کوم ځائې عدت تیروي ؟ په دې کښې دوه قوله دي :

(اول) دا به په هغه کور کښې عدت تیروي په کوم کښې چه د خاوند د مرګ په وخت وسیده. او دا د عمر فاروق، عثمان، ابن عمر رضی الله عنه او ائمه اربعهؒ او د فقهاؤ د یوجماعت نه نقل دي. او دا قول د سفیان ثوريؒ او اسحاقؒ دې. او دلیل ئې دا حدیث الباب دې.

(دویم) قول : چرته ئې چه زړهٔ غواړي عدت تیرولې شي. او دا د علي، ابن عباس، جابر او عائشې رضی الله عنه نه نقل دي. [مصنف عبد الرزاق: ۷/۲۹، ۳۰، والمغني لابن قدامة : ۱۸/٤٤ رقم : ٦۳۹۲ وابوداود] او دا د طاووسؒ، عطاءؒ، حسنؒ، داودؒ او ابن حزمؒ قول دې. او دلیل ئې دادې چه په قرآن کښې استوګنه د مطلقاتو دپاره ذکر شوې. هر چه مُتَوَفّٰی عَنۡهَا زَوۡجُهَا ده نو هغې ته الله صرف د څلور میاشتو او لسو ورځو عدت تیرولو حکم کړې. په دې کښې ئې ورته مکان نهٔ دې مقرر کړې نو معلومه شوه چه دا شرط نهٔ دې.

راجح قول اولنې دې، ځکه د هغوئ سره په دې موضوع باندې د فریعې رضی الله عنها حدیث موجود دې، او دا په دې مسئله کښې ښکاره دلیل دې. او ددې په مقابله کښې بل داسې دلیل نهٔ دې قائم شوې چه ددې معارض واقع شي. امام ترمذيؒ وائي : اول قول اصح دې.

حافظ ابن قیمؒ فرمائي : دې صحابه کرامو رضی الله عنه ته کیدې شي چه د فریعه رضی الله عنها روایت نهٔ وي رسیدلې نو دوئ معذور دي. او په بعض اکابرو صحابه کرامو رضی الله عنه باندې بعض مشهور سنن پټ پاتې شویدي.

(۲) مسئله : ددې حدیث نه بعض علماؤ استدلال کړې چه د مُتَوَفّٰی عَنۡهَا زَوۡجُهَا معتدې دپاره سُکنیٰ (استوګنه) ورکول لازم دي. او دا مذهب د مالکیهؒ، په یو قول کښې د شوافعوؒ او د حنابلوؒ نه یو روایت دې لیکن د هغوي په نیز صرف حاملې دپاره استوګنه ده)، او **دلیل** دا وائي چه نبي کریم ﷺ فُریعې ته د خپل خاوند په کور کښې د وسیدو حکم وکړو او په دې باره کښې ئې د مړي د وارثانو نه اجازت نهٔ دې غوښتلې. که چرې سکنیٰ واجب نهٔ وې نو د هغوئ نه به ئې اجازت غوښتلې وې. لکه څنګه چه دا

ښځه د خپل خاوند په مال کښې د وارثانو د اجازت نه بغیر تصرف نشي کولے۔
(**دویم**) قول دادے چه ددے قِسم ښځے دپاره مطلقًا استوګنه ورکول واجب نهٔ دی، حامله وي اوکه غیر حامله۔ او دا مذهب د حنفیه، یو قول د شوافعوؒ، او د حنابلوؒ قول دے په غیر حامله کښې۔
او **دلیل** ئے دادے چه الله تعالیٰ د مړي تَرکه (پریښې مال) د هغهٔ د وارثانو ترمینځه تقسیم کړے او د هغے نه ئے څهٔ زیاتی شے د چا دپاره نهٔ دے ساتلے، دے وجے نه په هغوئ واجب نهٔ دی چه د خپل مُورِث ښځے له استوګنه ورکړي۔
او دا قول **قوي** دے۔ او د دلائلو نه دا معلومه ده چه په مُتَوَفّٰی عَنهَا زَوجُهَا باندے وسیدل واجب دی، هغے له سُکنیٰ ورکول واجب نهٔ دی۔ لکه دلته [اُمکُثِي فِي بَیتِكِ] اضافت د سکنیٰ دے نهٔ د تملیك۔ یعنی د خپل وسیدو په کور کښې ایساره شه۔ او د فُریعے حدیث په عدمِ خروج دلالت کوی، نهٔ په لزوم د سکنیٰ باندے۔ څکه فریعے رضی الله عنها صفا وویل چه دا کور د خاوند نهٔ دے۔ نو د حدیث د سیاق نه ښکاره معلومیږي چه په خاوند باندے هیڅ استوګنه ورکول واجب نهٔ دی، البته ښځه مکلفه ده چه د کوره به نهٔ وځي۔
(۳) **مسئله** : آیا مُتَوَفّٰی عَنهَا زَوجُهَا د کور نه وتلے شي ؟ :
(۱) نو دے حدیث نه معلومه شوه چه اِحداد کونکے ښځه د یو وقتي کار دپاره د ورځے د کوره وتلے شي هر کله چه ضرورت او حاجت وي، څکه فریعه رضی الله عنها د خپله کوره ووته او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د فتوے پوښتلو دپاره راغله چه ما دپاره منتقل کیدل جائز دي اوکه نه ؟ او رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغے رد ونهٔ کړو چه ته ولے د کوره راوتلے ئے؟
(۲) جمهور علماء (احناف، حنابله، مالکیه) وائي چه نشي وتلے۔
دلائل : ۱- **دلیل** : دا حدیث دلیل دے چه نبی علیه السلام فریعے ته وویل : [اُمکُثِي فِي بَیتِكِ] په خپل کور کښې ایساره شه۔ (یعنی بهر مهٔ اُوځه) ۲- دلیل : قرآن کریم نه معلومیږي : ﴿ یَتَرَبَّصنَ بِأَنفُسِهِنَّ ﴾ [بقره : ۲۳٤] په ځانونو باندے انتظار کول دے ته وائي چه بهر نهٔ اُوځي۔ (لیکن دا آیتونه د مطلقاتو په باره کښې دی)۔
۳-**دلیل** : په مصنف عبد الرزاق کښې را غلي دی، مجاهدؒ وائي چه څه زنانه وے چه خاوندان ئے وفات شوي وو، حج او عمرے ته روانے شوے وے نو عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهما د ذو الحُلیفے او جُحفے نه راواپس کړے۔ [مصنف عبد الرزاق : ۱۲۰۷۱]

سعید بن المسیبؒ وائی : حج یا عمرے له روانے شوے ښځے چه خاوندان ئے وفات شوی وو عمر فاروق ﷛ د کوفے د لارے نه راواپس کړے۔ [مصنف عبد الرزاق : ۱۲۰۷۲]

(۲) بعض صحابه کرامو ﷛ نه نقل دی چه د ورځے د ضرورت دپاره وتلے شی او شپے له به بیرته ورته راواپس کیږی۔ (ام سلمه، ابن مسعود ﷛) [مصنف عبد الرزاق : ۱۲۰٦۸]

(۳) عمر فاروق ﷛ فرمائیلی دی چه که د یوے زنانه پلار د مرض الوفات بیمار وی نو یوے شپے دپاره هغۀ سره ایساریدلے شی مگر ددے نه زیات وخت به نۀ تیروی۔ [مصنف عبد الرزاق : ۱۲۰٦٦]

ددے وجه نه فقهاءِ کرامو د اِحداد کونکے ښځے خروج دوه قِسمه گرځولے :

(أ) **جائز خروج** : او هغه دا چه وتلو ته حاجت یا ضرورت وی۔ حاجت لکه ځان دپاره څۀ اخلی یا مدرسے ته ځی۔ او ضرورت لکه د کور غورزیدو خطره وی، یا دشمن نه یریږی، او یا غیر محفوظ کور وی د پردو سړو راتلو خطره وی، او یا په کرایه کوړ کښے وسیږی او نیته ئے پوره شوے وی او یائے مالك خرڅوی، نو په دے صورتونو کښے ښځے له جائز دی چه هر ځائے ته منتقل کیدل غواړی، نقل کیدلے شی۔ دارنګه د علاج وغیره دپاره هم وتلے شی۔ (ب) **ممنوع خروج** : چه هغے ته حاجت او ضرورت نۀ وی، لکه چکر له وتل او یا وادۀ ته حاضریدل او یا عُمرے له تلل۔

(٤) **مسئله** : بعضِ اهلِ علمو په دے خبره اجماع نقل کړے چه که مُتَوَفّٰی عَنهَا زَوْجُهَا غیر حامله وی نو هغے دپاره د عدت په زمانه کښے نفقه نشته۔ دارنګه که حامله وی نو هم د راجح قول مطابق ورله نفقه نشته، ځکه که نفقه حمل دپاره وی، نو د مړی د خپلوانو نفقه د هغۀ په مرګ سره ساقطیږی، اوکه ښځے دپاره وی نو بیا خو به د غیر حمل په صورت کښے ورله هم وی۔ [أحکام الاحداد، ص: ۱۳٤] او چا چه د نفقے د وجوب دپاره د [وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ] (الطلاق: ٤) آیت نه استدلال کړے نو دا صحیح نۀ دے ځکه چه دا آیت د مطلقاتو په باره کښے دے۔ او ددے معتدے قیاس ئے په مطلقه حاملے باندے کړے نو دا قیاس هم صحیح نۀ دے، لکه چه تا وپیژندل۔

(۵) **فائده** : د حدیث نه معلومه شوه چه خبرِ واحد قبلول او په هغے عمل کول جائز دی، ځکه عثمان ﷛ د فُریعے نه ددے حکم په حقله پوښتنه وکړه او د صحابه کرامو ﷛ په حضور کښے ئے په دے عمل وکړو، او هیچا پرے رد او انکار ونۀ کړو۔ والله تعالیٰ اعلم۔

درجة الحديث : [صحيح] : أبوداود: ۲۳۰۰، ترمذی: ۱۲۰۴، نسائی: ۶/۱۹۹، ابن ماجه: ۲۰۳۱، دارمی: ۲۲۸۷، ابن الجارود: ۷۵۹، ابن حبان: ۴۲۹۲، حاکم: ۲/۲۰۸، بیهقی: ۷/۴۳۴. صحيح أبی داود.

د عدت په ورځو کښې به د ډول او سينګار هيڅ شے نۀ استعمالوی

3333 (10) - وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تُوُفِّيَ أَبُوسَلَمَةَ وَقَدْ جَعَلْتُ عَلَى عَيْنِيْ صَبِرًا فَقَالَ : " **مَا هٰذَا يَا أُمَّ سَلَمَةَ ؟** ". قُلْتُ : إِنَّمَا هُوَ صَبِرٌ لَيْسَ فِيْهِ طِيْبٌ فَقَالَ :" **إِنَّهٗ يَشُبُّ الْوَجْهَ فَلَا تَجْعَلِيْهِ إِلَّا بِاللَّيْلِ وَتَنْزِعِيْهِ بِالنَّهَارِ وَلَا تَمْتَشِطِيْ بِالطِّيْبِ وَلَا بِالْحِنَاءِ فَإِنَّهٗ خِضَابٌ**، قَالَتْ : قُلْتُ : بِأَيِّ شَيْءٍ أَمْتَشِطُ؟ قَالَ : (**بِالسِّدْرِ**). **تَغَلَّفِيْنَ بِهٖ رَأْسَكِ**". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه : ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : هرکله چه د ابو سلمه رضی الله عنه وفات شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ما کره رانننوتو په داسے حال کښې چه ما په خپلو سترګو مُصبر (يو قِسم ترخه دوائی) لګولے وه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : اے ام سلمه دا څه دی ؟ ما وویل : دا خو مصبر دے چه پدے کښې خوشبوئی نشته، وے فرمایل : دا مخ تازه کوی، دے وجے نه تۀ دا صرف د شپے لګوه او د ورځے ئے لرے کوه. او په خوشبویه ګومنزه سر مۀ ګومنزوه، او مۀ په نکریزه سر ګومنزه وه ځکه دا خِضاب (رنګول) دی. ما عرض وکړو : زۀ به په کومه ګومنزه سر ګومنزوم ؟ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : بیرے (په اُوبو کښې اچولو) سره. پدے سره به خپل سر (د غلاف په شان) پټ کړے. (ابوداودؒ او نسائیؒ)

تشريح : [دَخَلَ عَلَيَّ] رسول الله صلی الله علیه وسلم ددے بی بی مخ لیدلے نو دا دلیل دے چه د مخ ښکاره کول جائز دی. [حِيْنَ تُوُفِّيَ أَبُوْسَلَمَةَ] دا عبد الله بن عبد الاسد المخزومی دے چه په کنیه سره مشهور دے، په اسلام کښې د سابقینو نه دے، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم رضاعی ورور وو، په څلورم هجری کښې وفات شوے. [صَبِرًا] د صاد زور او د باء زیر دے او سکون ئے هم جائز دے، یعنی [صَبْرًا]. د مصبر وُنے د نچوړ کولو نه راوتے اُوبۀ چه دا ډیرے ترخے وی، دا د دوائی دپاره د سترګو په طرفونو رابنکلے شی. خو که په سترګه کښې دننه لاړے شی نو د هغې نظر ختموی. [يَشُبُّ الْوَجْهَ] د یاء په زور او د شین په زیر یا پیښ سره د (ضَرَبَ) او (نَصَرَ) دواړو نه دے. شَبَّ يَشِبُّ او شَبَّ يَشُبُّ : أَيْ يُلَوِّنُ الْوَجْهَ وَيُحَسِّنُهٗ (په

مخ باندے رونق، جمال او ښائست داسے راښکاره کوی لکه څنګه چه د ځوانے جینۍ مخ حسین او جمیل او ډولی وی۔ د ماتمی ښځے دپاره دا شیان مناسب نهٔ دی۔
[فَلَا تَجْعَلِيهِ إِلَّا بِاللَّيْلِ] دے نه دلیل نیولے شوے چه د مُحده زنانه دپاره د شپے ډولی څیز استعمالول جائز دی او د ورځے به ئے لرے کوی۔ [وَتَنْزِعِيهِ]۔ دا خبر دے په معنیٰ د امر سره۔ نون د تخفیف دپاره حذف شوے، په اصل کښے تَنْزِعِيْنَ دے۔ [بِالطِّيبِ]۔ دا حال دے، (اى مُتَطَيِّبًا) یعنی په داسے حال کښے مهٔ ګومنز کوه چه دا ګومنزه خوشبویه وی۔
[وَلَا بِالْحِنَّاءِ] یعنے چه ګومنزه کښے نکریزے راواخستے شی او سر پرے ګومنز کړے شی۔ [بِالسِّدْرِ] د بیرے پانړو ته وائی، دا وړهٔ کړے شی او بیا په اُوبو کښے واچول شی او غسل پرے کیږی۔ [تَغْلِفِينَ] دا په اصل کښے تَتَغَلَّفِيْنَ دے، دا د غلف او غلاف نه دے، تغلف تَلَطُّخ (ککړ کولو) ته وائی۔ معنیٰ ئے ده: [تُكْثِرِيْنَ مِنْهُ عَلَى شَعْرِكِ حَتَّى يَصِيرَ غِلَافًا لَهُ فَتُغَطِّيهِ كَتَغْطِيَةِ الْغِلَافِ الْمَغْلُوفِ] یعنی ډیرے بیرو پانړے به په سر کښے واچوے (او سر به ډک کړے) داسے به پرے پټ شی لکه په غلاف سره چه یو شے پټیږی۔
یا دا [تُغَلِّفِيْنَ] په تشدید سره دے، د تغلیف نه۔ یو شی نه غلاف جوړولو ته وئیلے شی۔ نو بیا به باء زائده وی۔

درجة الحديث: [ضعيف سندا، منكر متنًا]: أبو داود: ۲۳۰۵، نسائی: ۲۰۴/٦، ۲۰۵. ضعيف أبي داود، سنده ضعيف لثلاثة اوجه (أ) مخرمة بن بكير لم يسمع من ابيه، معه كتب ابيه۔ (ب) مغيرة بن ضحاك مجهول، لم يوثقه غير ابن حبان۔ (ج) أم حكيم بنت أسيد وامها مجهولتان۔ ومتنه منكر مخالف للحديث المذكور الصحيح لان فيه نهيا عن اكتحال المحدة مطلقا.

3334 (11) - وَعَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " **أَلْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا لَا تَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ مِنَ الثِّيَابِ وَلَا الْمُمَشَّقَةَ وَلَا الْحُلِيَّ وَلَا تَخْتَضِبُ وَلَا تَكْتَحِلُ** ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: او ام سلمه رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغهٔ وفرمایل: هغه زنانه چه د هغے نه خاوند وفات شی هغه به مُعَصفر ګل باندے رګ کړے شوے کپړے نهٔ اغوندی او نهٔ به په خټه سره رنګ کړے شوے او نهٔ زیورات، او رنګ /نکریزے به نهٔ لګوی او رانجهٔ به نهٔ پورے کوی۔ (ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشريح : [الْمُعَصْفَرَ]۔ يعنى په ګل معصفر (زير رنګ) باندې رنګ شوې جامې۔ [الْمُمَشَّقَة] دا د مِشْق نه دې، سرۀ خټه چه په هغې سره رنګ کولې شي۔ يعنى هغه جامه چه په سره خاوره، خټه باندې رنګ شوې وي۔ [الْحُلِىَّ]۔ کالي، زيورات، ګانړه۔ [وَلَا تَخْتَضِبُ] رنګ، نکريزې به نۀ لګوي۔ [وَلَا تَكْتَحِلُ] رانجۀ به نۀ لګوي، تور رانجۀ۔ دې حديث نه ثابته شوه چه د مُحده زنانه د ډول او سينګار والا ښائسته کپړې نۀ اغوندي بلکه عادي ساده کپړې به اغوندي اګرکه رنګارنګ وي، او نور د ډول سينګار کالي به هم نۀ آغوندي او نۀ به نکريزې او تور رانجۀ لګوي۔

درجة الحديث: [إسناده صحيح على شرط مسلم] ابوداود : ۲۳۰۴، نسائی : ۲۰۳/۶-۲۰۴، صححه الالبانی فی الارواء : ۲۱۲۹]۔

د مطلقې د عدت په باره کښې يو بحث

الفصل الثالث

3335 (12) - عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ : أَنَّ الْأَحْوَصَ هَلَكَ بِالشَّامِ حِينَ دَخَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ وَقَدْ كَانَ طَلَّقَهَا فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ إِلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ يَسْأَلُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ زَيْدٌ: **إِنَّهَا إِذَا دَخَلَتْ فِي الدَّمِ مِنَ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ وَبَرِءَ مِنْهَا لَا يَرِثُهَا وَلَا تَرِثُهُ.** رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه : او سليمان بن يسارؒ نه روايت دې چه احوص په شام کښې وفات شو په هغه وخت کښې چه د هغۀ ښځه د دريم حيض په وينه کښې داخله شوه او هغۀ دې له طلاق ورکړې وو، نو معاويه بن ابی سفيان ﷺ زيد بن ثابت ﷺ ته وليکل چه د هغۀ نه ئې پدې باره کښې پوښتنه کوله، نو هغۀ ته زيد ﷺ (جواب کښې) وليکل چه ښځه هرکله د دريم حيض په وينه کښې داخله شوه نو دا د خاوند نه بيزاره (جدا) شوه او سړې د هغې نه جدا شو، نۀ به سړې د هغې نه ميراث وړي او نۀ به هغه د سړي نه ميراث وړي۔ (مالك)

تشريح :[احوص]۔ دا احوص بن عبد بن امية بن عبد شمس بن عبد مناف دې۔ ابن الکلبیؒ او بلاذریؒ ليکلي دي چه دا د معاويه ﷺ د طرف نه په بحرين باندې والي وو، او د مروان الحکم د طرف نه د زکاة راټولونکې مقرر شوې وو۔ ددې نه معلوميږي چه دا صحابي وو۔ ځکه چه ددۀ پلار کافر مړ دې۔ ددۀ په اولاد کښې منصور بن عبد الله بن

الاحوص راغلے دے۔ او عبد الله بن الاحوص د معاویه ﷺ د طرف نه د شام په څه حصه باندے ګورنر پاتے شویدے۔ [كَانَ طَلَّقَهَا] په روایت د ابن ابی شیبۃ کښے دی: [طَلْقَةً أَوْ طَلْقَتَيْنِ]۔ یعنی یو طلاق یا دوه طلاقه ئے ورکړی وو۔ [فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ]۔ د ابن ابی شیبۃ په روایت کښے دی: معاویه ﷺ هلته موجود بعض صحابه کرامو نه لکه فضاله بن عبید ﷺ نه ددے مسئلے پوښتنه وکړه لیکن د هغوی سره ئے علم موندۀ نکړو نو یو تن ئے سور کړو او زید بن ثابت ﷺ پسے ئے راولیږلو۔ [بَرِئَتْ مِنْهُ] یعنی دواړه د یو نه جدا شو او د دواړو ترمینځ علاقه او تعلق د نکاح ختم شو۔

مسئله: آیا عدت په اطهارو سره دے او که په حیضونو سره؟

ددے روایت نه بعض اهل علمو دا دلیل نیولے دے چه په قرآن کریم کښے ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ﴾ [البقرة: ۲۲۸] کښے چه [ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ]۔ راغلی نو د هغې نه مراد طهرونه دی۔ او طهر هغه زمانه ده چه هغه د دوه حیضونو ترمینځه وی۔ او دا د عائشے رضی الله عنها رائے هم ده چه د قروء نه مراد طهرونه دی۔ لکه امام مالكؒ د هغې نه په موطأ رقم [۱۱۹۷] کښے او دارقطنیؒ (۸۳۲) او البیهقی (۱۷۰۶) کښے نقل کړیدی۔ او دا قول د مالكؒ او شافعیؒ هم دے۔ (فتح الباری لابن رجب ۱/۵۱۲) او دا مذهب د مالکیۃ، شافعیۃ، داودؒ، ابو ثورؒ، ابن حزمؒ، او د احمدؒ یو روایت دے، علامه شنقیطیؒ او قرطبیؒ وغیره دیته راجح وئیلی دی۔ [أضواء البيان: ۱/۲۱۱]

عروۃ فرمائی: ((عائشے ﷺ (خپله وریره) حفصه بنت عبد الرحمن بن ابی بکر الصدیق ﷺ (د خپل کور نه) نقل کړه هر کله چه هغه په دریم حیض کښے داخله شوه (په دے وجه چه د اَقراء نه ئے اطهار مراد اخستل)۔ ابن شهابؒ فرمائی: نو دا خبره عمرة بنت عبد الرحمن ته چا ذکر کړه (ځکه چه دے به د عائشے ﷺ نه ډیر حدیثونه نقل کول) نو هغې ووئیل: عروۃ رشتیا ویلی۔ او عائشے ﷺ سره په دے باره کښے خلکو بحث کړے، هغوئ ورته ووئیل: الله تعالیٰ خو په خپل کتابؒ کښے فرمائی: ﴿ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ﴾ نو عائشے ﷺ وفرمایل: تاسو رشتیا وویل خو تاسو ته پته شته چه د اقراء نه مراد څۀ دے؟ دے نه مراد اطهار دی۔ [موطأ امام مالك] او ددے سند صحیح دے۔

(۲) **قول** دا دے چه د قروء نه مراد حیضونه دی۔ او دا د لسو صحابو قول دے چه په

دوئ کښې عمر، علي او عثمان ﷺ هم داخل دي. او دا د تابعينوؒ د يو جماعت لکه د ابن مسعود ﷺ ملګري : علقمهؒ، اسودؒ، ابراهيم، او دا د شعبيؒ، حسنؒ، قتادهؒ، او د ابن عباس ﷺ د ملګرو : سعيد بن جبيرؒ، طاووسؒ قول دے. او دا د سعيد بن المسيبؒ قول دے. دارنګه دا د احنافوؒ، اسحاق بن راهويهؒ، امام احمدؒ قول دے.

ددے اختلاف وجه داده چه په عربئ ژبه کښې د ((قَرء)) لفظ د حيض او د طهر دواړو معنو ترمينځه مشترك دے. کله ئے په حيض باندے اطلاق کيږي او کله په طهر. نو د علماؤ ترمينځه اختلاف دے چه په دے آيتِ کريمه کښې د ((قروء)) يا د ((اقراء)) نه مراد طهر دے او که حيض ؟.

د اول قول دلائل : ۱- دليل : دوئ ددے آيتِ کريمه نه استدلال کړے : ﴿يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ﴾ [الطلاق: ۱]

طريقه د استدلال داده : چه دلته په [لِعِدَّتِهِنَّ] کښې لام د وقت دپاره دے، أَیْ : فَطَلِّقُوْهُنَّ فِیْ عِدَّتِهِنَّ. او لام د وقت دپاره راځي لکه : ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ [الأنبياء: ۴۷] أَیْ فِیْ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. نو کله چه ورته په طهر کښې طلاق ورکړي نو هغه ئے په عدت کښې طلاقه کړه. او که ((اقراء)) نه مراد حيضونه وي نو بيا خو ئے د عدت نه مخکښې طلاقه کړه. **۲- دليل** : د کتاب الطلاق په ابتداء کښې حديث تير شو : [ثُمَّ تَطْهُرَ ثُمَّ إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ بَعْدُ، وَإِنْ شَاءَ طَلَّقَ قَبْلَ أَنْ يَمَسَّ، فَتِلْكَ الْعِدَّةُ الَّتِیْ أَمَرَ اللّٰهُ أَنْ تُطَلَّقَ لَهَا النِّسَاءُ]

طريقه د استدلال داده : چه دلته نبي کريم ﷺ دا وضاحت وکړو چه په کوم عدت کښې الله تعالىٰ ښځے له د طلاق ورکولو حکم کړے، دا هغه طهر دے چه د حيض نه روستو راځي. نو که چرے قرء نه مراد حيض شي نو بيا خو دے سړي خپلے ښځے له د عدت نه مخکښې طلاق ورکړے، نۀ په عدت کښې دننه. او دا خو په ښځه باندے عدت اُوږدول دي او دا جائز نۀ دي لکه څنګه چه هغے له په حيض کښې طلاق ورکول جائز نۀ دي.

دوئ وائي : دا د نبي کريم ﷺ د طرف نه د پورتني آيتِ کريمه تفسير دے.

علامه شنقيطيؒ فرمائي: دا يو داسے دليل دے چه صحيح هم دے او صريح هم او ددے سره بل دليل مقاومت نشي کولے. [أضواء البيان : ۱/۲۱۳]

۳- دليل : دا اثر هم دليل دے چه دلته ئے په دريم حيض کښې شروع کيدو سره د ښځے عدت ختم وئيلے دے. معلومه شوه چه عدت په اطهارو سره دے، نۀ په حيضونو سره.

د قول ثاني دلائل : ۱- دليل : ددې قول دپاره دليل همدغه پورتنۍ آيتِ كريمه دې، او طريقه د استدلال ئې داده چه كه د قرء نه مُراد طهر واخستې شي نو بيا خو درې طهرونه نۀ پوره كيږي بلكه دوه طهره پوره او د دريم طهر ځينې برخه راځي. ځكه په كوم طهر كښې چه ښځې له طلاق وركړې شوې نو د هغې ځينې برخه تيره شوې، نو كه د همدې طهر نه عدت حساب شي نو دا پوره طهر نشو بلكه ددې ځينې برخه شوه. ددې په مقابله كښې كه د ((قرء)) نه مراد حيض واخستې شي نو دا پوره درې حيضونه راځي. ځكه د طهر نه پس چه كوم حيض راځي نو ددې نه به عدت شروع شي.او كامل درې حيضونه به تير شي.ددې نه اول قول والا دا جواب وركوي چه كله جمع د دوه او د بعض دريم دپاره هم په شريعت كښې استعماليږي لكه آيت كښې دي :

﴿ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَعْلُوْمَاتٌ﴾ (بقره: ۱۹۷) دلته ئې حج دپاره اشهر لفظ استعمال كړې چه دا جمع ده حالانكه د حج دپاره احرام په دوه مياشتو او لسو ورځو كښې تړلې شي.

۲- دليل : بل آيت دادې : ﴿ وَالّٰٓـئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ﴾ [الطلاق : ٤] طريقه د استدلال داده : چه الله تعالىٰ مياشتې د اَقراء نه بدل ګرځولي هر كله چه ښځه د حيض نه نا اميده وي، نو په دې كښې (حيض) مبدل شو. او (اشهر) بدل شو. نو مطلب دا شو چه كله د ښځې حيض نۀ راځي نو عدت به ئې درې مياشتې وي، اوكه حيض ئې راځي نو عدت به ئې درې حيضونه وي. ځكه درې مياشتې د درې حيضونو نه بدل دې. نو معلومه شوه چه د ((قرء)) نه مراد حيض دې.

۳- دليل : د قرء لفظ د شارع په كلام كښې د حيض نه سوئ په بل شئ كښې نۀ دې استعمال شوې، د طهر دپاره نۀ دې استعمال شوې. نو په دې آيتِ كريمه كښې به هم په معهود كښې استعماليږي. نبي كريم ﷺ د مستحاضې په باره كښې فرمائي : [تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا] [صحيح: أبوداود: ۲۸۵، نسائي: ۳۶۱، ابن ماجه: ۶۲۵، أحمد: ۲۶۵۹۳، دارمی: ۸۱۵، وصححه الألبانی فی صحیح السنن، والشیخ حسین سلیم اسد فی تعلیق الدارمی، والارناؤوط فی تعلیق المسند]

دا حديث په دې موضوع كښې صريح نص دې چه د ((قرء)) نه مراد حيض دې.

دې وجې نه **راجح** قول دا دويم دې. كوم چه د لسو صحابه كرامو ﷺ په قول سره مؤيد دې. امام احمدؒ فرمائي : دا د رسول الله ﷺ د مشرانو صحابو قول دې. [المغني:

۱۱/ ۲۰۰]. او نظر هم ددې تائید کوي ځکه د عدت نه مقصد د رحم برائت او حالت معلومول دي چه په دې کښې ولد شته دې او که نه ؟ او دا برائت په حیض سره معلومیږي نۀ په طهر سره. او د دواړو قولونو د اختلاف **نتيجه** دا ده چه : څوك د اقراء نه طهرونه اخلي هغوئ وائي: کله چه مطلقه رجعیه په دریم حیض کښې داخله شي نو دیته رجوع کول ختم شو. او دا ښځه د بل سړي سره نکاح کولې شي. او څوك چه وائي: ددې نه مراد حیضونه دي، نو هغوئ وائي: ترڅو پورې چه دریم حیض تیر شوې نۀ وي نو د بل سړي سره نکاح نشي کولې. پاتې شو د عائشې رضي الله عنها مذکوره اثر نو ددې په مقابله کښې ددې نه د لويو لويو علماؤ خلفائے راشدینو رضي الله عنهم خبرې له ترجيح ده. او په کومه مسئله کښې چه د نارینه او زنانو ترمینځه اختلاف شي، نو په هغې کښې غالبًا د نارینه ؤ خبره غوره وي. او عائشې رضي الله عنها سره مرفوع روایت هم نشته، ددې مسئلې بهترین تفصیل ابن القيمؒ په [زاد المعاد: ۵/ ۶۰۰] کښې کړیدې. والله تعالىٰ اعلم

درجة الحديث :[صحيح] مالك : ۲/ ۵۷۷/ ۵۶ واسناده موقوف صحيح، رجاله كلهم ثقات.

د مطلقې د عدت په باره کښې یوه مسئله

3336 (13) – وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ : قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ **أَيُّمَا امْرَأَةٍ طُلِّقَتْ فَحَاضَتْ حَيْضَةً** أَوْ حَيْضَتَيْنِ ثُمَّ رُفِعَتْهَا حَيْضَتُهَا فَإِنَّهَا تَنْتَظِرُ تِسْعَةَ أَشْهُرٍ فَإِنْ بَانَ لَهَا حَمْلٌ فَذٰلِكَ وَإِلَّا اِعْتَدَّتْ بَعْدَ التِّسْعَةِ الْأَشْهُرِ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ ثُمَّ حَلَّتْ . رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه : او سعيد بن مسيبؒ فرمائي : عمر بن خطاب رضي الله عنه وفرمایل : هره یوه ښځه چه طلاقه شوه او د هغې یو حیض یا دوه حیضونه راغلل بیا د هغې نه د هغې حیض (د حمل په وجه یا بل څه سبب په وجه) پورته شو نو هغه به نهه میاشتې انتظار کوي. (ځکه چه کیدې شي چه ددې حمل وي، او د حمل موده نهه میاشتې ده) بیا که دې ته حمل ښکاره شو نو همدغه (نهه میاشتې به عدت) وي او که داسې نۀ وي نو بیا به د نهه میاشتو نه روستو درې میاشتې عدت تیر کړي بیا به حلاله شي (یعنی د عدت نه به بهر شي) (مالك)

تشریح :[رُفِعَتْهَا]. دا په لفظ د مجهول سره دې او (هَا) منصوب بنزع الخافض دې او [حَيْضَتُهَا] . ددې نائب فاعل دې. [اَىْ رُفِعَتْ حَيْضَتُهَا عَنْهَا] . یعنی د هغې نه د هغې

حیض پورته کړے شي۔ او د حیض دا پورته کیدل به با د زیات عمر په وجه وي نو ددے عدت به میاشتو سره حسابیږي او یا به د حیض دا پورته کیدل د حمل په وجه وي نو بیا به نهه میاشتے انتظار کوي چه دا موده د حمل د ښکاره کیدو او زیګیدو ده۔

صورت د مسئلے دا شو چه د کومے زنانه حیض راځي نو د هغوي عدت په درے حیضونو سره دے، او د حمل والا زنانو عدت د حمل په زیګون سره دے، نو هرکله چه د ذوه حیضونو نه روستو ددے وینه منقطع شوه، ددے نه معلومه شوه چه دا زنانه د حیضونو والو نه نۀ ده، (نو نهه میاشتو ته به انتظار وکړي چه کیدے شي دا د حمل والا وي) او هرکله چه پدے باندے د حمل د زیګون موده تیره شوه او حمل ونشو نو پته ولګیده چه دا د حمل والو نه هم نۀ ده، نو ددے نه په ډاګه شوه چه دا د هغه زنانونه ده چه د حیض نه نا امیده شوي وي نو پدے وجه په درے میاشتو سره به عدت تیر کړي۔

[التِّسْعَةِ الْأَشْهُرِ] په مضاف باندے ئے لام تعریفي داخل کړو دا د کوفیینو د مذهب موافق دے لکه هغوي [اَلثَّلَاثَةِ الْأَثْوَابِ] په شان ترکیب جائز کړیدے۔

درجة الحديث :[صحيح] مالك : ٢/٥٨٢/٧٠) ورجاله ثقات لكن في سماع سعيد من عمر خلاف مشهور، والراجح سماعه منه.

إنتهى المجلد الحادى عشر من **"الحق الصريح"** ويليه المجلد الثانى عشر وأوله **باب الاستبراء**، وتم الفراغ من إخراجه الى عالم المطبوعات سنة ١٤٤٢ ربيع الثانى ٣هـ الموافق: ٢٠/١١/٢٠٢٠ء وكتبه بيده ابو زهير سيف الله البشاوري وذلك حين قرب انتهاء وباء كرونا من العالم.



فهرست مضامین الحق الصریح جلد (۱۱)